۱۰۱ قانون

یا

د حقوقو مبادي

[هر هغه څه چې تاسو غواړئ د امریکا د قانوني نظام په هکله په وپوهېږئ]

لیکوال

جې ام. فاینمن

ژباړونکی

محمد هاشم مهمند

د کتاب مشخصات:

د کتاب نوم: ۱۰۱ قانون یا د حقوقو مبادي
لیکوال: جې ام. فاینمن- JAY M.FEINMAN
ژباړونکی: محمد هاشم مهمند

مندرجات

د ژباړونکي سریزه
دلیکونکي سریزه
۱ سري او د پټ راز کتابونه نشته :
تاسوپه قانون پوهیدلای شی
۲ اساسي قانون او قانوني سیاست :
د اساسي قانون تفسیر او تطبیق
اساسي قانون څه شی دی؟
ولي مونږ اساسي قانون ته اړتیا لرو؟
ستره محکمه د اساسي قانون د معني او مفهوم په هکله څنګه پریکړه کوي؟
د اساسي قانون د تفسیر د پاره د ستري محکمې د صلاحیت منبع کومه ده؟
ستره محکمه څه وخت د اساسي قانون پر مسلو غور کولای شي؟
اساسي قانون د فدرالي دولت نورو څانګو ته کوم صلاحیتونه ورکوي؟
ایالتونه د اساسي قانون له مخې کوم صلاحیتونه لري؟

۳ لمړی آزادی : اساسي حقوق
اساسي قانون د کومو حقوقو ساتنه کوي؟
منصفانه دعوې یا صحیح قانوني تشریفات څه ته وایي؟
آیا د اساسي قانون غوښتنه داده چې د هر چا سره یو شان او برابر چلند وشي؟
اساسي قانون څنګه د بیان د آزادی ساتنه کوي؟
لمړی ضمیمه د کومې وینا یا څرګندونې ساتنه کوي؟
په اساسي قانون کې ددین د آزادی څنګه ساتنه شویده؟
په اساسي قانون کې د کومو نورو حقوقو ساتنه شویده؟

٤ ستا ورځ په محکمه کې: د قانوني دعوې بهیر
د مدني محاکماتواصول یا مدني طرزالعمل څه ته وایي؟
ولي مونږ مدني دعوې او مدني طرزالعمل ته اړتیا لرو؟
محکمې ته قضیې له کومه ځایه راځي؟
قانوني دعوې په کوم ځای کې اقامه کیدلای شي؟
تاسو څه وخت خپله دعوې په یوه فدرالي قضیه بدلولای شی؟
که تاسو په بیلا بیلو ځایونو کې دعوې وکړی، په هر یو ددې ځایونو کې به کوم قانون تطبیق شي؟
په محکمه کې دعوې څنګه پیل کېږي؟
د محکمې په ځواب کې مدعي علیه څه کولای شي؟
څه کېږي که په دعوې کې تر دوو ډیرې خواوې وجود ولري؟
څه پیښېږي که په یوه دعوې کې ډیرې خواوې وي؟

څرنګه دعوې کوونکي د خپلې قضيې په هکله حقايق تر لاسه کوي؟
تر محاکمې دمخه نور څه پيښېږي؟
په Trial يا محاکمه کې څه پيښېږي؟
په محاکمه کې کوم اسناد وړاندې کيدای شي؟
او منصفه هيئت څه کوي؟
تر محاکمې وروسته څه پيښېږي؟

۵ د موټرانو ټکر، په سرې قهوې سوځيدل اوغلطه طبي معالجه : فردي زيانونه او د تاوان قانون.

د تاوان قانون څه شي دی؟
ولې مونږ د تاوان قانون ته اړتيا لرو؟
که تاسو يو څوک ووهی آيا دا جرم ته ورته (شبه جرم) عمل دی؟
آيا دا جرم ته ورته عمل دی که تاسو د بې احتياطی له کبله يو څوک ژوبل کړی؟
د معقول احتياط يا پاملرنې څخه د قانون مطلب څه دی؟
يو عارض يا مدعي څنګه ثابتوي چې مدعي عليه غفلت يا بې احتياطي کړيده؟
او دا به څنګه وي که قرباني پخپله په ټکر کې قسما" ګناه ولري؟
آيا د يو محصول جوړونکی د هغه زيان له کبله چې دده محصول يې يو چاته رسوي جدي مسوول دی؟
د تاوان په قضيه کې يو عارض د کومو تاوانونو غوښتنه کولای شي؟
د مدعي عليه د مجازات د پاره څه وخت د زيان تلافي يا جبران خساره ټاکل کېږي؟

٦ معامله څه وخت منځ ته راځي؟ شرکتونه، استهلاک کوونکي او د قرارداد قانون

د قرارداد قانون څه شی دی؟
ولې مونږ د قرارداد قانون ته اړتيا لرو؟
قرارداد څه شی دی؟
قرارداد څنګه منځ ته راځي؟
ددې د پاره چې يو قرارداد اجرايي قوت ولري آيا هغه بايد حتما" په ليکلي توګه وي؟
آيا هر څوک کولای شي قرارداد وکړي؟
کله چې دوه کسان موافقه کوي، آيا دا تل د اجرا وړ وي؟
که يوقرارداد غير منصفانه وي، آيا محکمه د هغه د نافذيدو څخه مخنيوی کولای شي؟
کله چې تاسو يو قرارداد وکړی، آيا د هغه څخه بيرته وتلای شی؟
څه پيښېږي که د قرارداد ديو طرف د وعدې اجرا د يوې پيښې په وقوع پوري اړه ولري، او هغه پيښه ونه شي؟
آيا محکمه به يو چاته د قرارداد د اجرا کولو امر وکړي؟
يو څوک بايد د خپلې وعدې د نه پرځای کولو د پاره څومره تاوان ورکړي؟

۷ ته هغه څه يې چې لرې يې

د مالکیت قانون

د مالکیت حق څه ته وایي؟

ولې مونږ د ملکیت قانون ته اړتیا لرو؟

څه ډول ملکیتونه شته؟

څنګه خلک په ګډه ملکیت درلودلی شي؟

ملکیت د وخت په اوږدوکې څنګه ویشل کېږي؟

پر ملکیتونو باندې مالکیت نور څنګه شریک کیدای شي؟

یو څوک څنګه ملکیت تر لاسه کولای شي؟

د مړینې په وخت کې ملکیت څنګه انتقال مومي؟

امانت یا trust څه شی دی؟

ملکیت څنګه پلورل کېږي؟

په ملکیت کې د څښتن او کرایه اخیستونکي حقوق کوم دي؟

دولت څه وخت کولای شي ستاسو ملکیت واخلي؟

د سیمو ویشل یا zoning څه ته وایي؟

۸ د لیونتوب څخه تر سړې وینې یا خونسردۍ پورې :

جنایي مسوولیت او جنایي قانون (د جزا قانون)

جنایي قانون څه شی دی؟

ولي مونږ جنایي قانون ته اړتیا لرو؟

جنایي عمل څه ته وایي؟

آیا یو څوک باید حقیقتا" د جنایت کولو نیت او قصد ولري تر څو مسوول وبلل شي؟

څه وخت د ځان څخه دفاع بر حق ده؟

په کومو نورو حالاتو کې د یو چا جرم تبرئه کیدلای شي؟

ولي مجرمینو ته اجازه ورکول کېږي په محکمه کې د لیوونتوب څخه د دفاع په توګه استفاده وکړي؟

نورځه ډول دفاع وجود لري؟

آیا یو څوک د یو جرم د پاره چې بشپړ شوی نه وي محکومیدلای شي؟

قتل یا انسان وژنه څه شی دی؟

ولې د جنسي تجاوز قانون ډیر د بحث وړ دی؟

۹ د بیګناه ساتنه، د مجرم آزادول :

جنایي طرزالعمل

جنایي طرزالعمل څه شی دی؟

ولې مونږ جنايي طرزالعمل ته اړتيا لرو؟
په جنايي دعوې کې کوم ګامونه اخيستل کېږي؟
څه وخت پوليس کولای شي تلاشي وکړي او شيان ضبط کړي؟
پر ځان باندې د اتهام د لګولو معافيت په څه کې دی؟
څه پيښېږي که پوليس د مدعي عليه پر حقوقو تيری وکړي؟
د مدعي عليه د استدعا معامله څه شي ده؟
ولې مونږ منصفه هيئتونه لرو؟
متخاصمه دعوې څه شي ده؟
مجرم څنګه محکومېږي؟
د مرګ سزا څنګه ټاکل کېږي؟
ولې داسې ښکاري چې جنايي مرافعه غوښتنه زيات وخت غواړي؟

د ژباړونکي سريزه

د امريکا د متحده ايالاتو د پوهنتونونو د ټولو پوهنځيوپه لمړي کال کې هغه کتاب چې د يو علم اصلي او اساسي مقدمات تشريح کوي او د هر محصل د پاره د هغه مطالعه او زده کړه حتمي ده د ۱۰۱ کتاب په نامه يادېږي. د حقوقو مبادی يا ۱۰۱ قانون د امريکا د حقوقو د پوهنځيو لمړی کتاب دې چې د حقوقو زده کوونکي يې تر ټولو لمړی په ويلو پيل کوي او په هغه کې د امريکا د اساسي قانون څخه نيولي تر مدني او جزائي قانون پوري ټولې برخې د محاکماتي اصولو او طرزالعملونو سره يو ځای تشريح شوي دي چې زده کوونکی د قانون د ژبې او ټولوعلمي او قانوني اصطلاحاتواو مفاهيمو سره آشنا کوي.

د امريکا ديموکراسي د نړۍ تر ټولو ستره ديموکراسي ده، پدی معني چې ددې هيواد په سياسي، اقتصادي او ټولنيز ژوند کې قانون په بشپړه توګه حاکميت لري او د ژوند ټولې چارې د قانون په بنياد تنظيم شوي دي. نوپداسې يوه ټولنه کې هر څوک نه يواځې د قانون د پوهيدلو ليوال دی، بلکه بايد چې پرې وپوهېږي، ځکه دا حقوقي مقوله ده چې وايي " د قانون څخه بيخبري د تبرئې سبب نه ګرځي" په دې وجه نو دا کتاب يواځې د حقوقو د پوهنځيود محصيلينو د پاره نه دی، بلکه هرڅوک چې د حق او قانون سره مينه لري او غواړي په يو قانوني ټولنه کې ځان په خپلو حقوقواو وجايبو خبر کړي، ضروري ده چې خپله پوهه پدې برخه کې پراخه کړي.

که څه هم پدې کتاب کې يواځې د امريکا د متحده ايالاتو قانوني نظام تشريح شوي دی، خود آزادو اوپرمختللوهيوادونو په ديموکراتيکونظامونوکې حقوقي بنسټونه ، قانوني طرزالعملونه او ديموکراتيک ارزښتونه يو شان دي.

اوس چې نوی افغانستان د دموکراسی په درشل کي دي او نوی اساسي قانون په هيواد کې د يو قانوني نظام او د قانون د حاکميت د ټينګولو هيله زياته کړې او جوخت ورسره د يو خپلواک او پرمختللي افغانستان د منځ ته راتلو لاره هواره شويده، دا کتاب به د لوستونکي سره مرسته وکړي چې وپوهېږي چې د يوه قانوني نظام او د قانون د حاکميت معني څه ده او پداسې يو نظام کې د فرد حقوق او وجايب کوم دي.

کله چې زه د کابل پوهنتون د حقوقو په پوهنځي کې محصل وم، هغه وخت زمونږ په ملي ژبو کې د علمي آثارو نشتوالی يوه لويه ستونزه وه. بله ستونزه داوه چې زمونږ په ژبوکې علمي اصطلاحات ډير لږ وه

او استادانو به اکثره د علمي مفاهيمو د تشريح کولو د پاره له ثقيلو عربي يا لاتيني اصطلاحاتو څخه استفاده کوله، چې په هغه پوهيدل بيا په خاصه توګه د هغو شاګردانو د پاره چې د هيواد د ولایاتو څخه راتلل او په دري ژبه يې پوره تسلط نه درلود، نورهم ګران وو.

دا ستونزې تر نن ورځې پوري ندي ليري شوي او حتې ددې کتاب په ژباړه کې هم دا ستونزه ډيره محسوسه وه. هيله ده چې د نوي افغانستان د جوړيدو په درشل کې به د هيواد پوهان او د لوړو تحصيلاتو خاوندان چې شمير يې په تيرو کلنو کې له ښه مرغه ډير شوی او يوشمير يې د امريکا او اروپا په پوهنتونونو او علمي مرکزونو کې په علمي څيړنو بوخت دی او د علمي آثارو د ليکلو يا لږ تر لږه ژباړې پراخ امکانات ورپه برخه دي، بالاخره خپل دا رسالت ترسره کړي اوعلمي آثارو ته به د افغانستان د ځوان نسل اړتيا تر ډيره حده ليري کاندي.

ما ددې کتاب په ژباړه کې د هغو لوستونکو د پاره چې په انګريزي ژبه پوهېږي ټول حقوقي او قانوني اصطلاحات په انګريزي هم ليکلي دي. دا اصطلاحات د نړی په سطح منل شوي او زده کړه يې د هر لوستونکي د پاره ګټه لري.

په پای کې هيله من يم چې که د کتاب په ژباړه کې موکومه نيمګړتيا يا د افادې ستونزه تر سترګو شوه، هغه په بزرګواری راته وبخښی او ژباړونکي ته خپل نظر ورسوئ.

په مينه

محمد هاشم مهمند

د ژباړونکي لنډه معرفي

محمد هاشم مهمند خپلې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې په کندهار ولایت کې کړې دي.
یوولسم ټولګی یې د کندهار په احمدشاه بابا لېسه کې لوستی، خو دولسم ټولګی یې د کابل په حبیبیه لېسه کې لوستلی دی.

لوړې زده کړې:

ښاغلي هاشم مهمند خپلې لوړې زده کړې په بېلابېلو پوهنتونونوکې کړې دي.
د کابل پوهنتون د حقوقو پوهنځی یې لوستلی دی.
د جرمني د بن او برلین په پوهنتونونو کې یې د سیاسي علومو زده کړې کړې دي.
د امریکا د انډیانا په پوهنتون کې یې د منځنۍ اسیا د ولسونو د قومي جوړښتو او مهاجرتونو په اړه لوړې زده کړې کړې دي.

کاري تجربه:

محمد هاشم مهمند له ۱۹۸۷م کال راهیسې د ازادې اروپا/ ازادۍ راډیو په بېلابېلو څانګو کې کار دی دی، چې د ازادۍ راډیو د افغانستان د څانګې له موسسینو ګڼل کېږي. نوموړی د افغانستان د سرویس ریس و، چې په ۲۰۱۹م کال کې تقاعد شو.
واده یې کړی، دوې لونې لري او اوس په اروپا کې ژوند کوي.

د لیکوال سریزه

په هر ځای کې قانون شته. که تاسو ماښام د تلویزیون خبرونو ته غوږ ونیسئ، تاسو به د یوې مشهورې جنایي محاکمې، د یوې لویې حقوقي دعوې او یا د اساسي قانون په اړه د یوې نوي ادعا په هکله رپورت واورئ. او دا ټول ډیرستونزمن او پیچلي ښکاري. آیا داسې قانوني او فني رموز شته چې د پولیس د هلوځلو مخنیوی کوي او جنایت کارانو ته د تښتې لاره هواروي؟ ولې په محکمه کې دعوي ډیر وخت نیسي او ولې یې مصرف دومره ډیر دی؟ محکمې څنګه پوهېږي چې باید داساسي قانون الفاظ او کلمات پداسې حالاتو اومسایلو کې چې د اساسي قانون د لیکونکو او مسوده کوونکوپه فکر کې هم نه وو کرځیدلي تطبیق کاندي؟

حقوق پوهان دداسې مسایلو د پوهیدلو د پاره روزل شوي دي او ددوی سره د مرستې د پاره ډیر منابع او سرچینې شته. زما د حقوقي روزنې د مرکز law school په کتابتون کې ٤٠٠، ٠٠٠ عنوانه کتابونه شته چې حقوق پوهان کولاي شي په هغه کې قانوني حکمونه، قضایي او حقوقي نظریات اود قانون څخه علمي تعبیرات او حقوقي تبصرې تر لاسه کړي. دا موجوده کتاب د هر چا د پاره دی. د حقوقو مبادی یا ۱۰۱ قانون هغو کسانو ته چې حقوق پوهان ندي هغه اصول او مقررات تشریح کوي چې حقوق پوهان او قاضیان ورڅخه استفاده کوي. په دې کتاب کې د قضیو صغرا او کبرې په ساده او صریحو الفاظو شویده : پر قانوني مسایلو فیصله کول آسانه کارندی، خو هرڅوک کولاي شي ددې مسایلو په هکله اساسي پوهه تر لاسه کړي.

د کتاب په هر فصل کې هغه اساسي موضوعات څیړل شوي دي چې هر حقوق پوه یې د پوهنتون په لمړي کال کې زده کوي : اساسي قانون. مدني حقوق، د مدني دعوي طرزالعمل او د دعوي بهیر، جرم یا نورو ته تاوان رسول، قراردادونه، ملکیت، جنایي قانون او د جنایي دعوي طرزالعمل. په هر فصل کې به تاسې د هرې ځانګړې موضوع د اساسي اصولو او حقوقي اصطلاحاتو سره آشنا شی او وبه وینی چې قوانین څنګه په عادي او غیر عادي مسایلو کې تطبیق کېږي. دا کتاب تاسو ته نه یواځې د قانون په باره کې معلومات درکوي، بلکه تر ټولو مهمه داده چې تاسو د قانون جوړولو بهیر ته رابولي او تاسې هڅوي چې د پیچلو پوښتنو او هغو سختو مسایلو په باره کې چې حقوق پوهان او قاضیان ورسره مخامخ دي فکر وکړی. ددې کتاب ویل د خوند څخه هم خالي ندی، ځکه هغه مسایل او حالات چې د قانون د تطبیق په ساحه کې راځي کله خوشحاله کوونکي او کله بیا بدغونی کوونکي دي خوتل ډیر جالب او دلچسپ دي.

ددې کتاب تر مطالعې وروسته که تاسو د جنجالي قانوني مسایلو په باره کې څه واورى، تاسو به دداسې مسایلو د سابقې او پس منظر او دمسایلو د پیچلتوب په هکله د تشخیص د ښه حس او شعور خاوند و اوسئ او تاسې به په ښه توګه و کولاي شی پدې هکله چې قانون باید څنګه وي، قضاوت وکړی. تاسو به همدا شان چمتو و اوسی چې د هغو حقوقي او قانوني مسایلو په هکله چې په ورځني ژوند کې ورسره مخامخ کېږی، لکه د کوراخیستل یا د خپلو اساسي حقوقو څخه په استفاده سره غواړی پر یو چا دعوه وکړی، ښه او هر اړخیز فکر وکړی. او که تاسو کوم وخت پدې فکرکې واست چې د حقوقو په پو هنځي یا law school کې زده کړه وکړی، نود قانون د ۱۰۱ کتاب مطالعه به تاسو ته وښیي چې قانون او حقوق څه ډول زده کېږي. او که تاسو د حقوقو او یا کومې بلې رشتې محصل یاست، دا کتاب به تاسو د قانوني مسایلو د هغو اساساتو سره آشنا کړي چې په بل ځای کې په سختی سره موندل کیداي شي.

که څه هم چې زه یو قانون پوه او د حقوقو استاد یم، خو ما هم ددې کتاب په لیکلو کې ډیرځه زده کړل او زه هیله مند یم چې لوستونکي هم ور څخه زده کړه وکړي. زه مجبوره وم چې پر ډیرو موضوعاتو چې زما د تخصص ساحه نه وه له سره فکر وکړم او ما پر داسې برخو چې پخوا مې لوستي او مطالعه کړي وه، له سره څیړنه وکړه. زه د ټولو هغو کسانو څخه مننه کوم چې زما سره یې پدې کار کې مرسته کړیده. کارل بوګوس، ایډ چیز، توماس لي بین، ایرل مالتس، ستانیسلاف پومورسکي، مایک سیپانیک، ریک سینګر او الان ستاین ماته ډیرې ښې څرګندونې وکړې. الیزابت بوید، شیریل فې، نیکول شروت، امي نیونام او بیت پاسکال په څیړنه کې زما سره مرستې کړیدي. کریس کار او بیل لوتس په خپل ملاتړ سره زما ملا وترله. د روتګرز د حقوقو پوهنځی او کامدین او ددې پوهنځیو ریسانو ماته د کار داسې چاپیریال برابر کړ چې دا کاریې زما د پاره ممکن کړ. خو تر ټولو زیات د جان رایت څخه مننه کوم چې دا کاریې عملي کړ.

قانون ۱۰۱

سري او د پټ راز کتابونه نشته

تاسو په قانون پوهیدلای شی

امریکاییان د قانون ډیر لیوال دي. او ولي نه؟ قانون ډیر اهمیت لري، انسان فکر کولو ته رابولي، او کله بیا ډیر بدغونۍ کوونکي او تیرۍ کوونکۍ وي. دغه موضوعاتو ته پاملرنه وکړئ چې خبر یې د ورځپاڼو په لمړي مخونو کې چاپ شوي دي:

- ۷۹ کلنې ستیلا لیبیک یوه ورځ خپل موټر د نوي مکسیکو د ایالت د البوکرکو د ښار د مک دونالد Mc Donald's د غرفې مخې ته ودراوه او په ٤۹ سنتو یې یوه پیاله قهوه وپیرودە. کله چې دې د قهوې پیاله د خپلو ورنو په منځ کې ټینګه کړه تر څو بوره او شیدې ورسره ګډې کړي، قهوه ورځخه تویه شوه او وسوځیده. میرمن لیبیک ددغه سون په خاطر اوه ورځې په شفاخانه کې معالجه شوه او نوی پوټکی ورته پیوند کړل شو. لهذا دې پر مک دونالد دعوي وکړه او ادعا یې وکړه چې د مک دونالد د قهوې د حرارت اندازه په خطرناکه توګه زیاته ده. منصفه هیت دې ته ددې د زخمونو په خاطرد تاوان د جبرانولو په مقصد د ١٦٠ زرو ډالرو د ورکولو حکم وکړ او مک دونالډ دوه میلیونه او اوه سوه زره ډالره جریمه شو. د منصفه هییت په محاسبه دا مبلغ د مک دونالد د هغه عاید معادل وو چې په دوو ورځو کې یې د قهوې د خرڅلاو له درکه تر لاسه کول. (د محکمې قاضي وروسته دغه جریمه ٤٨٠، ۰۰۰ ډالرو ته را کښته کړه) آیا دا د مدني دعوې د سیستم یو افراطي او بدغونۍ کوونکۍ مثال وو او که دا د مجرم په مقابل کې د یوې زخمي شوي قربانۍ د پاره یو عادلانه قضاوت وو؟

پنځم فصل وګورئ.

- د پنز آیلPennsoil په نامه د تیلو یو شرکت غوښتل د ګیتي آیل Getty Oil د شرکت اسهام رانیسي. وروسته له څو هفتو خبرواترو څخه چې د پنزآیل او ګیتي آیل د

مديره هييتونو تر منځ وشوې، د ګيتي آيل مديره هييت د پنزآيل د پلان سره چې غوښتل يې د ګيتي شرکت د اسهامو ۳ پر اوه برخې اسهام هر سهم په ۱۱۲ ډالرو رانيسي موافقه وکړه. د پنز آيل وکيلانو او د ګيتي شرکت د مديره هييت غړو يوبل ته لاسونه ورکړل او په خپلو ورته مطبوعاتي اعلاميو کې يې دا معامله اعلان کړه. په بله ورځ د تکساکو Texaco د تيلو شرکت د ګيتي شرکت د مديره هييت سره تماس ونيو او وړانديز يې وکړ چې ددې شرکت ټول اسهام به هر سهم په ۱۲۵ ډالرو رانيسي. د ګيتي شرکت مديره هييت د پنزآيل سره د خپلې معاملې او قرارداد څخه سروغړاوه او د تکساکو شرکت وړانديز يې ومانه. پنز آيل د قرار داد د نقضولو په تور پر ګيتي شرکت او پر تکساکو شرکت باندې پدې خاطر چې ګيتي شرکت يې د قرارداد نقضولو ته هڅولې وو، دعوې وکړه. په وروستني محکمه کې منصفه هييت پنزآيل شرکت ته د هغه حقيقي تاوان پخاطر چې وررسيدلی وو د ۷، ۵۳ بيليونو ډالرو د ورکولو رايه ورکړه، درې بيليونه ډاله جزايي خساره (د تميزيا استيناف د محکمې لخوا کمه شوه) او ۵۹۰ ميليونه ډاله هم د پيسو ګټه ورکړل شوه. دا حکم د تکساکو شرکت د فوري افلاس باعث وګرځيد. آيا دا دقرارداد نقض دلسو بيليونو ډالرو وو؟ شپږم فصل وګورئ.

- لورينا بوبيت د ډيرو کلنو د پاره د خپل ميړه، جان د فشار او بدرفتارۍ سره مخامخ وه. يوه شپه جان هڅه وکړه په زوره ددې سره مجامعت وکړي او وروسته له ډيرې نشې څخه بيحاله شو. لورينا د آشپز خاني په يوه چاړه دده تناسلي آله غوڅه کړه. ميرمن لورينا بوبيت د خپل ميړه د زخمي کولو په خاطر چې د بدنيتۍ په انګيزه يې کړی وو محاکمه شوه، خو ددې وکيلانو په محکمه کې په بريالیتوب سره ادعا وکړه چې دا د ډيرو وهلو څخه روحي ناروغه شوې او د ليونتوب سرحد ته رسيدلې وه. منصفه هييت هم پدې دليل چې دې د ليونتوب په حالت کې دا کار کړيدي دا بيګناه وبلله او برائت يې ورکړ. آيا دا د لورينا بوبيت په شان مسلو کې د بدرفتاري د عذر څخه د ډيرې پراخې استفادې معني لري او که دا د جنايي مسوولیت د محدود ولوپه لاره کې يو مناسب قضاوت وو: اتم فصل وګورئ.

- د تقريبا" شلو کلونو په فاصله کې د سترې محکمې Supreme Court دوو خپرو شوو فيصلو په مدرن سياسي چاپيريال کې بدلون راووست. په ۱۹۵٤ کال کې محکمې د پوهنې د رياست په مقابل کې د براون په دعوې کې.فيصله وکړه چې په ښوونځيو کې په نژادي دليل د شاګردانو بيلول او تبعيض په اساسي قانون کې د مساوات د ساتلو د حق څخه سرغړونه ده. په ۱۹۷۳ کال کې د روRoe په مقابل کې د واد Wade په دعوې کې محکمې د ايالتونو صلاحيت چې د سقط جنين مسايل تنظيم او يا هغه منع کړي محدود کړ ځکه په اساسي قانون کې د هر انسان

دځانګړي او خصوصي ژوند حق تضمين شويدی دواړو فيصلو دقانوني اقداماتو او ټولنيزو اعتراضونو يو لوي موج راوپاراوه چې فکر نه کېږي په نژدې راتلونکی کې به حل شي. د ستري محکمې قاضيان څنګه فيصلې کوي او اساسي قانون د لويو او عامه مسايلو لکه د نژادونو تر منځ د اړيکو او يا د سقط جنين په هکله څه وايي؟ دوهم فصل وګورئ.

اکثره قوانين د رو او واد او يا د لورينا بابيت د تخنونکو مسايلو په باره کې ندي. قانون په بيلا بيلو لارو زمونږ په ورځني ژوند کې نفوذ کوي. تنقيد کوونکي تور لګوي چې په تيرو کلونو کې په هيواد کې تر حد ډير قوانين او د دعوي وکيلان منځ ته راغلي دي. خو زمونږ په ټولنه کې د لمړي سر څخه قانون خپور وو. حتي مخکې لدې چې مهاجر ماساچوست ته راشي، دوی د مي فلاور کومپکت Mayflower compact په نامه په نوي نړۍ کې د ځای پر ځای کيدو د ښه تنظيم په مقصد يو قانوني سند منځ ته راوړ. د استعمارپه کلونو کې د اقتصاد د پاره قانوني مقررات، د عام معاشرت او کړنلارې او ټولنيزو اخلاقو اصول د نن ورځې په شان په هر اړخيزه او پراخه توګه جاري وه. د انسانانو عامو نميګړتياوو او عيبونو ته لکه زنا کول، نشه کول او يا ټنبلۍ ته اکثرا" د قانون له مخې سزا ورکوله کيده او دا قوانين وو چې اقتصادي چاري يې تنظيمولې او د ډوډۍ وزن او اندازه او دمالونو او محصولاتو د خرڅلاو ځاي او وخت به يې ټاکه. عادي دعوې به د خلکو د غونډيدو د پاره يو مناسبت وو او د دعوي وکيلانو به اوږدې ويناوې او خلکو به خپلې تبصرې کولې. نن مونږ هر يو په خپل انفرادي ژوند کې که وغواړو يو اپارتمان کرايه کړو يا شخصي کور واخلو، واده وکړو، موټر وچلوو، پيسې په پور واخلو، شيان په بيه واخلو، د سازمانونو غړي شو، ښوونځي او يا کارته ولاړ شو، او يا د صحي خدماتو څخه استفاده وکړو، د قوانينو تر نفوذ او تاثير لاندې راځو. همدا شان په ډله ايزه توګه کله چې حکومت پر مونږ مالیه وضع کوي، پر هوايي ليکو، فضا، جنايت او يا د چاپيريال پر زهري کيدو څارنه کوي، مونږ په ډله ايزه توګه د قانون تر واک او تاثير لاندې راځو.

سره لدې چې مونږ د قانون سره ډيره دلچسپي او علاقه لرو، د اکثرو خلکو د پاره ګرانه ده چې د قانون په ماهيت پوه شي. قانون دومره پيچلی او دومره پنډ، متراکم او مفصل دئ چې هيڅوک، که هرڅومره لوئ حقوق پوه هم وي نشي کولای په ټولو وپوهېږي. سره لدې حقوق پوهانو او د قانون عالمانو ډيره هڅه کړيده چې د هر عادي سړي لاس قانون ته ورسېږي. برعکس د قانون ځيني متخصيصين لکه د ځينو مذاهبو ملايان او روحانيون اکثره کوشش کوي قانون د پټ راز په توګه د خلکو د پوهې او دسترسۍ څخه ليري وساتي. خو هر څوک کولای شي د قانون په هکله يوځه زده کړي. قانون ۱۰۱ کتاب د همدې هدف د پاره دی. دا کتاب د قانون اساسات، قانوني مقررات او اصول او هغه دلايل چې حقوق پوهان او قاضيان ورڅخه ګټه اخلي تشريح کوي.

پدې کتاب کې ټول قوانين ندي تشريح شوي. قوانين دومره ډير دي چې هيڅوک نشي کولای ټول مطالعه او زده کړي. همدا وجه ده چې اکثره حقوق پوهان او وکيلان په يوه خاصه برخه او رشته کې تخصص اخلي. دوی له دې لارې کولای شي د مثال په توګه په نيو جرسي کې د طب څخه د ناوړه

استفادې، د ملکیت اخیستلو په ارتباط د مالیې د فدرالي قانون او یا د نورو برخو په هکله ژوره پوهه تر لاسه کړي، خو ټول حقوق پوهان په یوه سویه د قانون په اساسي موضوعاتو او اساسي مفاهیمو پوهېږي، ځکه دوی ټولو د حقوق په پوهنځیو کې زده کړه کړیده.

داسې ښکاري چې عام خلک د قانون سره هغسې ناسالمه دلچسپي لري چې د حقوقو د پوهنځي سره یې لري.داسې کتابونه او فلمونه لکه One L and the Paper Chase د حقوقو د پوهنځي د لمړي کال د فلکلور اود محصیلینو د بحث لویه موضوع ده چې ددوي په وینا انسان تفکر ته رابولي خو په عین زمان کې ډیر تنبیه کوونکې او د انساني احساساتو په ضد یوه تجربه ده. ځرنګه چې د حقوقو د پوهنځي لمړۍ کال د حقوق د ټولو محصیلینو د پاره یوعام روزنیز کال دی، پدې کتاب کې هم هغو اساساتو او قواعدوته چې د حقوقو محصیلین یې په لمړي کال کې زده کوي پلملرنه شویده، ځکه دا اساسات او قواعد د نوروهغو کسانو د پاره چې د حقوقو زده کړه نه کوي هم په رړه پوري دی.

په امریکا کې د حقوقو دهرپوهنځي د لمړي کال تعلیمي نصاب یو بل ته ورته دی. یو څو مضمونونه اساسي دي او پردې اساسي مسایلو باندې په دې کتاب کې هم بحث کېږي. په اساسي قانون کې د حکومت جوړښت شرح شویدی.(دوهم فصل). په دریم فصل کې به پر دې مسله بحث وشي چې فردي آزادۍ څنګه د حکومت د اقداماتو په مقابل کې ساتل کېږي. د مدني محاکماتو د اصولو په برخه کې به د دعوي کولو پر بهیر بحث وشي (څلورم فصل). د شبهه جرم یا جرم ته ورته مسایلو قانون د فردي تاوان او ټپي کولو په هکله دی (پنځم فصل). د قرارداد یا مقاولې قانون د شخصي موافقو قانون دی (شپږم فصل). د ملکیت قانون هغه روابط او اړیکي تنظیموي چې د انسانانو تر منځ د شیانو د مالکیت په برخه کې منځ ته راځي (اووم فصل). جنایي قانون له ګناهه ډک او غلط عمل تعریفوي چې د هغه د پاره دولت مجرم د ژوند یا آزادۍ څخه بې برخې کوي (اتم فصل). د جنایي محاکماتو په اصولو کې د جنایي قضاوت بهیر او د متهم یا دفاع کوونکو حقوق شرح شوي دي (نهم فصل).

د حقوقو په تقریبا" هر پوهنځي کې د اساسي قانون، د قرار داد د قانون او د حقوقو په نورو برخو کې کورسونه شته او دا د بیلا بیلو پوهنځیوکورسونه یو بل ته ډیر ورته دي او ټول کورسونه له عین موادو او کتابونو څخه استفاده کوي. د نیوجرسي، آیووا او کلیفورنیا ایالتونو د حقوقو په ټولو پوهنځیو کې د ملي قانون د اساسي اصولو لوست کېږي او دا پوهنځي ټول د عین قضایي عقایدو، نظریاتو او اسنادو څخه استفاده کوي.

که تاسو ددې کتاب تر مطالعې وروسته د حقوقو په پوهنځي کې شامل شی، تاسو به وګورۍ چې په لمړي کال کې د ډیرو شیانو سره آشنا یاست. لاکن په هر کورس کې یو بیل استاد درس ورکوي او هر استاد خپل جلا لید او نظر لري. په لید کې اختلافات یا توپیرونه کله ډیر جزیي او بې ارزښته وي، خو ځیني توپیرونه بیا ډیر مهم وي. یو استاد یا پروفیسربه ښایي په سیاسي لحاظ یو لیبرال سړی وي، بل به محافظه کاره وي. یو استاد ښایي د قانون د پوهیدلو د پاره اقتصادي تحلیل مهم وګڼي او بل ښایي د طبعي قانون لاره غوره کړي. په لید کې هر فرق او اختلاف او یا نور توپیرونه چې منځ ته راځي ددې

سبب ګرځي چې د قانون د پوهې په برخه کې توپير راشي. لهذا پداسې حال کې چې اصولا" د حقوقو محصلين او حقوق پوهان ټول د عين قانون په اساساتو پوهېږي، خو ددوی دا پوهه بيلا بيل اړخونه لري.

دا کتاب هم خپل ليد لري، بل ډول کيدای هم نشي. خو ددې کتاب د ليد زاويه په تيرو شلو کلونو کې د مشهورو قانون پوهانو د نظرياتو او تحقيقاتو له برکته ډيره غني ده.د کتاب د ليد ځيني برخې په پراخه توګه منل شوي خوځيني نوريې جنجالي دي. ددې کتاب د ليد زاويه په لاندنيومعلوماتو روښانه کيدلاي شي.

قانون د قانون په کتابونو کې ندی. کله چې مونږ د قانون په باره کې فکر کوو، لمړنی شی چې زمونږ فکر ته راځي هغه کتابونه دي. يعني غوټ متنونه چې پورته کول يې اسانه نه وي. لوي لوي کتابونه چې پوښونه يې د څرمنې دي او دوړې ورباندې پرتې وي. د حقوقو کتابتونونه د دغسې کتابونو، اساسنامو او قضايي نظرياتو په قطارونو ډک دي. پداسي حال کې چې کتاب مونږ ته دقانون په باره کې معلومات را کوي، پخپله قانون ندی. قانون د انسان په کړنه او سلوک کې دی نه د چاپ شوي کاغذ پر مخ. قانون د قاضيانو، وکيلانو او عادي خلکو تر منځ په متقابل عمل کې دئ.

د مثال په توګه تاسو د يو قانون په باره کې چې اکثره مونږ او تاسو ورسره مخامخ کېږو فکر وکړئ. دا د موټرونو د سرعت حد دی. د ايالتونو تر منځ پر لويو لارو د سرعت قانوني حد څومره دی؟ يو څوک چې تل د قانون کتابونه لولي ښايي فکر وکړي چې ددې پوښتنې ځواب په ساعت کې ٦٥ ميله سرعت دی. خو مونږ ښه پوهېږو چې که تاسي د نيوجرسي پر تيزه لاره په ٦٥ ميله سرعت کې خپل موټر وچلوی، نو ښايي ډير ژر يو لاري موټر تاسو ته ډير نژدې شي او تاسو د څراغونو په لګولو سره وپوهوي چې د کښته سرعت ليکې ته واوړی. د سرعت حد د موټروانانو د چلند له مخې تر ٦٥ ميلو زيات دی او قانوني مقامات هم عين چلند کوي. که د موټروانانو سرعت تر قانوني حد ٣ تر ٥ ميله پوري لوړ وي پوليس سترګې پر پټوي او هيڅکله چاته چې په ٦٦ ميله سرعت کې روان وي د جريمې ټکټ نه ورکوي. او که دا کار وکړي قاضي به وخاندي او دی به له محکمې څخه وباسي. د يوې عملي مسلې په توګه محکمه نه غواړي خپل وخت پداسې يو چلوونکي چې د سرعت تر قانوني حد يو يا دوه ميله تيز تللي دی ضايع کړي او د يوې مسلې په توګه د پوليس رادار هم دومره دقيق ندی چې د سرعت اندازه په ډيره دقيقه توګه اندازه کړي. لهذا دې پوښتنې ته چې د موټر چلوونکو د پاره د سرعت حد څومره دی، د کتابونو ځواب بل ډول دی.

ددې د پاره چې په قانون و پوهېږو، بايد هغه پيښې چې په نړۍ کې پيښېږي و څيړو. ددې پيښو څخه عامي نظريې او مفکورې منځ ته راځي او زمونږ پوهه د قانون څخه نوره هم زياتوي، خو د آزمايښت معيار تل نړۍ ده او نه نظريه. يوه لاره چې د حقوقو په پوهنځيو کې ورځخه استفاده کېږي داده چې د هر فرد حقيقي وضعيت ته، چې د دعوی د پيل باعث ګرځي، او قضايي نظرياتو ته ، چه ددې وضعيت د پاي ته رسيدو باعث ګرځي، پاملرنه کېږي. د فرد همدا وضعيت ته مونږ مسله وايو لکه د پنز آيل او ګيتی د شرکتونو د لس بيليونو ډالرو تعهد او يا د رو او واد مسله. دا دوې مسلې هر يو د حقيقي نړۍ د يوې

پېښې په توګه پيل شوې.همدا مسلې باعث کېږي چې مونږ د ډيرو اړوند مسايلو په هکله فکر وکړو. دا مونږ ته ددې امکان راکوي چې د يو خاص حقيقي وضعيت او د قانون د عامو اصولو تر منځ اړيکې ټينګې کړو. دا کتاب هم پر همدې متود ليکل شوی او د قانوني اصولو د تشريح کولو د پاره يې د ډيرو جالبو مسلو څخه استفاده کړيده.

قانون يو پټ راز ندی. دا فکر چې قانون په کتابونو کې دی يوه اشتباه ده او دا هم اشتباه ده که ووايو چې قانون يو پټ راز دی او عادي خلک په هغه نه پوهېږي. په هغه اندازه چې د حقوقو وکيلان د قانون د پوهې او په پرمخ تللي سويه او تخنيک د قانون د تطبيق د پاره مسلکي زده کړو ته اړتيا لري، دقانون د اصلي ماهيت پوهيدل مسلکي زده کړو ته اړتيا نلري. قانون د ژوند هينداره ده. هغو اصولو او مسايلو چې په قانون کې ځای موندلی دی د هغه څه سره چې مونږ يې د خپل ژوند په نورو برخو کې تجربه کوو توپير نلري. د قرارداد قانون د مثال په توګه د هغو وعدو او تعهداتو د کولو، ساتنې يا ماتولو حقوقي تفسير دئ چې خلک يې په تجارتي او غير تجارتي معاملاتو کې يو د بل سره کوي. ډير لږ خلک چې د حقوقو زده کړه يې نه وي کړي کولای شي په آفاقي توګه د قرارداد د منځ ته راتلو نظريه او يا د ټګی او چلبازيو اساس تشريح کاندي (خو تاسو به وروسته له هغه چې شپږم فصل مطالعه کړی دا کار و کولای شئ). خو دې خلکو د قراردادونو او تعهداتو په هکله دير فکر کړيدی. که تاسو د يوې وعدې د ورکولو په وخت کې خپلې ګوتې د صليب په شکل ونيولې آيا دا پدې معني ده چې ستاسو د پاره دا وعده درسته نده؟ که تاسو د خپلو ماشومانو سره وعده وکړه چې دوي به سينما ته بوزی آيا بيا تاسو نشی کولای يوې مهمې تجارتي غونډې ته چې که په عين وخت کې جوړه شي ولاړ شی؟ او بيا به څنګه وي چې که سينما ته ستاسو زړه نه غوښته؟ که تاسو په يوې مغازې کې يو نوی تلويزيون اخيستی وي او هغه کار و نه کړي، آيا کولای شی هغه بيرته مغازې ته يوسی؟ او داسې نور.

دا هغه مسايل دي چې مونږ ټول په خپل ورځنی ژوند کې ورسره مخامخ کېږو. قانون ددې مسايلو د څيړلو د پاره يو جلا قانوني چوکات وړاندې کوي او د اصولو څيړل او کوم هغه نظريې چې ددې د پاره شته د هرغير حقوق پوه په بشپړ اختيار او واک کې دي.

ساده ځوابونه نشته، قانون د ژوند هينداره ده او ژوند ډير پيچلی دی، لهذا د قانوني ستونزو او پرابلمونو د پاره د حل ساده لارې نشته.

ژوند له دوو اړخونو پيچلی دی. لمړی، شيان ډير ګډوډ او بې نظمه دي او دا ډير ګران کار دی چې قانوني مسايل تعريف شي او د هغه د پاره د حل مناسبې لارې جوړې شي. آيا مونږ د ليکل شوي قرار داد غوښتنه وکړو؟ که مونږ پدې ارتباط يو روښانه مقرره منځ ته راوړو او ووايو چې هر قرار داد بايد په ليکلي توګه وي، مونږ به هرومرو د يو زيات شمير استثناآتو سره مخامخ شو لکه داسې ويل " که روښانه شي چې دوو خواوو يو قرارداد کړی او يوې خوا د خپل تعهد په پرځای کولو پيل کړی، نو دا به غير عادلانه وي چې د بلې خوا څخه د قرارداد د اجرا غوښتنه ونه شي، دا قرار داد بيله دې چې ليکل شوي وي تر اجرا

لاندې نیول شویدی. او که مونږ داسې یوه غیر روښانه مقرره منځ ته راوړو چې یو قرار داد حتي بې له دې چې ولیکل شي هم تر اجرا لاندې نیول کیدلای شي پدې شرط چې دواړه خواوي د قرارداد د کولو اراده ولري، نو پدې توګه به مونږ په ټولو مسلو کې د قانون د تطبیق د څرنګوالي په هکله ټول دلایل د خطر سره مخامخ کړو. (ګیتي، تکساکو، او پنز آیل)

دوهم، ژوند ډیر پیچلی دی ځکه مونږ تل د مسایلو په هکله دوه فکره لرو. مونږ هیله لرو چې روښانه قانوني مقررات ولرو تر څو ثبات، د انصاف اصل او د پیشبیني کولو امکان وساتو. اما مونږ غواړو ځانګړو مسلو ته د مساوات حق ورکړو چې په هغه کې ددې د پاره چې یو طرف د قانون د سختی څخه وژغورل شي د قانون تطبیق ښایي غیر منصفانه نتیجه منځ ته راوړي.

سیاستمداران زمونږ څخه غواړي چې پیچلو قانوني پوښتنو ته ساده ځوابونه ورکړو. په تیرو کلنو کې مونږ دداسې سیاستونو چې په هوا کې دي او د ساده لوحو ایدیولوژیګانو سره عادت شوي یو دوی وایي چې که د خلکو د اوږو څخه د حکومت بار او فشار لرې کړل شي، د جنایت مخنیوي به په ټینګه وشي او خلک به د خپلو اعمالو مسوول وګڼل شي او د یو بل د شعار پیروي به وشي، ، ټول پرابلمونه به حل شي. خو ددې کتاب د لید له نقطهء نظره مسله داسې نده.

قانون د سیاسي اختلاف د مبارزې میدان دی : هغه پیچلي پوښتنې چې قانون ورسره سروکار لري او دې پوښتنو ته زمونږمختلف ځوابونه د سیاسي اختلاف او جنجال موضوع جوړوي، دا د جمهوري غوښتونکو او یا د دموکراتانود انتخاباتي مبارزې په معني سیاست ندی بلکه د ټولنیزو منابعو او ټولنیزو ارزښتونو پر سر مبارزه او جنجال دی. په قانوني فیصلو کې ډیر مهم او اساسي مسایل مطرح دي چې دهرې ټولنې مخ ته پراته وي. څوک څه لاس ته راوړي؟ څوک ژوندي دي او څوک مري؟ څه شي صحیح او څه شی غلط دئ؟ هر څوک کولاي شي دا د اساسي قانون په مهمو مسلو لکه د سقط جنین پر سر جنجال کې ووینې، اما دا په ټولو نورو قانوني مسایلو کې هم همدا شان ده. د شبه جرم په قانون کې چې د کارخانو خاوندان باید د هغو زخمونو او ټپونو تاوان ورکړي چې ددوی محصول یې سبب ګرځیدلی وي، که څه هم دوی د محصولاتود تولید په کار کې ډیر احتیاط کړي وي. داخبره ددې باعث وګرځید چې د مستهلکینو د ساتني د پاره د بازار په معیارونو کې نوې چال چلند غوره شي او د کارخانو پر مالکانو او تولیدونکو نوي بارونه تحمیل شول. مونږ باید ددې فیصلې په شان ټولو قانوني فیصلو ته په پراخ مفهوم سره د سیاسي فیصلو په سترګه وګورو.

خلک قانون جوړوي : قانون اکثره د شیانو د طبعي نظم یوه برخه ښکاري. قانون او قانوني پریکړو ته د اجتناب ناپذیره اصل په سترګه چې د عدالت پرنه بدلیدونکو اصولو ولاړ دي کتل کېږي، نه د انسانانو د عمل د نتیجې په توګه. د حقوقو وکیلان او قاضیان داسې خبرې کوي لکه قانون چې پرته ددوی د مداخلې پخپله عمل کوي. دوی وایي " د قانون غوښتنه داده " او یا

" دود او تعامل نتیجه ټاکي..." دا درسته نده. خلک قانون جوړوي او قانون یا تعامل هیڅکله پر هیڅ شي څارنه نه کوي بلکه دا څارنه مونږ کوو. ددې نظریې معني بیا داده چې د خلکو یوې کوچنۍ ډلې ته

يعني د امتياز خاوندانو او په سياسي لحاظ د قدرت خاوندانو او د قانون کارپوهانو ته اجازه ورکول کېږي چې قانوني سيستم کنټرول کړي، بيله دې چې دا خلګ د خپل عمل مسوولیت هم په غاړه واخلي. څه د سقط جنين مسله وي، د کارخانو د خاوندانو د مسوولیت مسله وي او يا د شفاهي موافقو د اجرا مسله وي، نه يواځې حقوق پوهان او قاضيان بلکه مونږ ټول بايد داسې پريکړه وکړو چې زمونږ په فکر يې نتيجه ګټوره او منصفانه وي.

دا کتاب قانون د پټ راز څخه راباسي اود هغو کسانو سره چې قانون پوهان ندي مرسته کوي د قانون په اصولو او مقرراتو او د هغه سره په ټرلو جنجالونو پوه شي. دا کتاب تاسو ته نه وايي چې تاسي څنګه د خپل ځان د دفاع وکيل واوسی. دا کتاب تاسو ته نه ښيي چې څنګه د طلاق دپاره په محکمه کې دعوي ترتيب شي او يا د کوچنيو شيانو د پاره په محکمه کې دعوي وشي او يا هم تاسو څنګه خپله اراده مطرح کړی، نور کتابونه دا ډول مشورې ورکوي. خو داکتاب هغه مسايل مطرح کوي چې ډير مهم دي که څه هم فوري نه وي. دلته اساسي او مهم مسايل چې د قانون د پاره بنيادي دي مطرح شوي دي، نه د لويو راکړو ورکړو خاص مکانيزم.

وروسته که تاسو په يوه قانوني مسله کې پخپله د يوې نظامنامي او يا د قانون د لارښود د کتاب څخه استفاده کوی او يا د دفاع د وکيل مرسته لټوی، تاسو به د مقرراتو او کړنلارې په هکله د ښه او کافي پوهې خاوند واوسی.

ددې کتاب او د قانوني لارښود د کتابونو تر منځ يو بل توپير هم شته. ددې کتاب لوستل ډير په زړه پوري دی. هيڅوک د کور د ترميمولو لارښود پدې خاطر نه لولي چې هغه ډير په زړه پوري دی، اما قانون ۱۰۱ د قانون په شان د معمې او کيسې او عالي او په زړه پوي مفاهيمو څخه ډک دی چې انسان ژور تفکر ته رابولي.

هر فصل د پوښتنې او ځواب په شکل تنظيم شويدی.. پوښتنې د هر فصل د پرمختګ لارښود دی او هر لووستونکی کولای شي د خپلې خوښې خاص مسايل په يو فصل کې ولولي. د کتاب په ډيرو ځايونو کې تر ځوابونو پوښتنې ډيرې دي. او ځيني مسال لاينحل پاته دي. د قانون زده کوونکي چې اوس تاسو هم يو له هغو کسانو څخه ياست اکثره د لاينحلو مسايلو سره مخامخ کېږي او دا مايوس کوونکی دی. اما دا همداسې ده. قانون ځينو پوښتنو ته روښانه ځواب نه وايي او ځيني مسايل ښايي هيڅکله خپل وروستی حل و نه مومي. محکمې هم نشي کولای پر هرشي فيصله وکړي. ستونزمنو مسايلو ته د حل د عادلانه لارې لټول د هر آګاه او با خبره انسان حق او مکلفيت دی. وروسته له هغه چې تاسې دا کتاب ولولی تاسو به پدې بهير کې د برخې اخيستنې د پاره په ښه موقعيت کې راشی.

2

اساسي قانون او قانوني سياست
د اساسي قانون تفسير او تطبيق

هغه کسان چې د مدني محاکماتو د طرزالعمل او يا د ملکيت د قانون څخه بې خبره دي کولاي شي د اساسي قانون اساسات چې په اتمه ټولګۍ کې يې لوستي دي په ياد راوړي يعني د قواوو تفکيک، څارنه او انډولول، قضايي تجديد نظر، ددعوي صحيح جريان، د قانون مساوي حفاظت او ساتنه، او د بيان، دين او مطبوعاتو آزادي. او که دهغوی هغه څه چې په اتمه ټولګۍ کې يې زده کړي وه په ياد نه وي، ورځپاڼې او د تلويزيون خبرونه به دوی ته د اساسي قانون دوامداره اهميت ور په ياد کړي. آيا سقط جنين د اساسي قانون مطابق کار دی؟ او هغه اعمال چې ددې کار په ملاتړ کېږي؟ يا د امريکا د بيرغ سوځول؟

د حکومت هرکار په اساسي قانون پوري تړلی دی. اساسي قانون د جمهور ريس او کانګرس او د فدرالي حکومت او ايالتونو تر منځ اړيکې تعريفوي او همدا شان د حکومت توان او قابليت د سقط جنين، د مالیې او ټکسونو په ارزيابۍ، د لويو لارو په جوړولو، د ښوونځيو د پاره د داسې ځايونو د ټاکلو چې په هغه کې د مخدره موادو څخه استفاده منع وي، او د پوستې تکټونو د چاپولو په برخه کې تنظيموي. برعلاوه، داسې ښکاري چې هره مهمه مسله د اساسي قانون په مسله بدلېږي. يو وخت د غلامۍ يا مرييتوب قانوني توب او يا هغه قوانين د اساسي قانون موضوع وه چې د کارګرانو د حد اقل او حد اکثر کار او معاش اندازه به يې ټاکل. نن بيا د سقط جنين، د مرګ سزا، د ډاکټر په مرسته د ځان وژنې حق او يا په انترنت کې د بربنډو عکسونو او فلمونو ښکاره کول د اساسي قانون په مسايلو بدل شوي دي. خو

مونږ د امریکا د قانون څیړنه د اساسي قانون څخه او له دې ځایه څخه چې زمونږ حکومت څنګه جوړ شوی او څه کولای او څه نشي کولای پیل کوو.

اساسي قانون څه شی دی؟

داساسي قانون موضوع عبارت دی د متحده ایالاتو د اساسي قانون د تفسیر او تطبیق څخه. دا اساسي قانون په کال ۱۷۸۷ کال کې تسوید شوی او مجموعا" د څه کم ٤٤۰۰ لغاتو او اوو مادو څخه جوړ شویدی.

د حقوقو اعلامیه یا bill of rights د اساسي قانون د لمړیو لسو ضمیمو څخه ده چې په ۱۷۹۷ کال کې د اساسي قانون سره یوځای شوه او وروسته له هغه په تیرو دوو پیړیو کې یواځې ۱۷ نوري ضمیمې ورسره یوځای شوي دي. د ټول اساسي قانون له سره تر پایه مطالعه به ستاسو زیات وخت و نه نیسي خو لږ امریکاییان دا کار کوي.

داسې ښکاري چې د اساسي قانون پوهیدل ډیر آسانه دی، خو د اساسي قانون د ساده ګې سربیره _او ښایي په همدې وجه _ دا پوښتنه چې اساسي قانون څه معني لري او څنګه باید تطبیق شي د قانون د ډیرو تودو بحثونو موضوع ده. د نورو قانوني ارګانونو په پرتله چې پدې کتاب کې به وربانديې بحث وشي اساسي قانون بې ساری او بې جوړې دی، او ددې دپاره څلور دلایل شته.

لمړی، د قانون نورې برخې یو له بل سره همکاري لري. د مالکیت قانون د یو فرد حق پرمځکې یا یخچال باندې تثبیتوي، د قرار داد قانون ټاکي چې څرنګه دا حقوق یو بل چاته انتقال ومومي، د تاوان یا زخمي کولو قانون د یو زخمي شوي فرد حق تعریفوي چې وشي کولاي د مجرم څخه د تاوان غوښتنه وکړي، او د مدني محاکماتو طرزالعمل د دعوې جریان څرګندوي تر څو قرباني وشي کولاي خپل حق په محکمه کې د دعوې له لارې تر لاسه کړي. اما اساسي قانون یوه جلا موضوع لري او وضع یې د قانون د نورو برخو سره توپیر لري. هغسې چې د مالکیت، قرار داد یا د تاوان قانون د انسانانو تر منځ د اړیکو په هکله دي، اساسي قانون د افرادو تر منځ د اړیکو په باره کې ندی. پر ځای یې اساسي قانون د حکومت جوړښت او وظایف او د حکومت او ځانګړو اتباعو تر منځ اړیکې تعریفوي. اساسي قانون همدا شان د ملي حکومت او ایالتي حکومتونو نسبي واک او صلاحیتونه تعریفوي او حکومت ته اجازه نه ورکوي پداسې اقداماتو لاس پوري کړي چې د هغه له کبله د مثال په توګه د دین آزداي محدوده شي. د حکومت د صلاحیتونو په تعریفولو او محدودولو کې اساسي قانون تر ټولو نورو قوانینو اوچت دی. په اساسي قانون کې ویل کېږي چې دا د هیواد تر ټولوستراو عالي قانون دی. هر ایالتي یا فدرالي قانون که د قرار داد، جنایي مجازات، د انتخاباتو، عامه ښوونځیو او یا په نورو برخو کې وي او د اساسي قانون سره په تضاد کې وي اعتبار نلري.

دوهم، د قانون نور ارګانونه د اساسنامو او قضایي پریکړو پر اساس منځ ته راغلي او د اصولو، مقرراتو او دلایلو یوه پراخه منبع ګڼل کېږي. د مثال په توګه د قرار داد قانون چې د عامه حقوقو یوه برخه ده د رویهء قضایي څخه په استفاده د قاضیانو لخوا وربانديې فیصله کېږي. او د هغه د پاره ډیرې نظامنامې

وجود لري. که قاضي وغواړي د قرارداد په يوه دعوې کې پريکړه وکړي دده د پاره ډيرې زياتې منابع وجود لري او کولاي شي د انګلستان د ډير پخواني قضايي دود څخه نيولي د مدرن او نوي دولت د نظامنانو څخه استفاده وکړي. خو اساسي قانون بيا پدې برخه کې توپير لري. د اساسي قانون په هکله ټولې پريکړې د يوې واحدې منبع څخه کېږي او هغه د اساسي قانون متن او د هغه ضميمې دي.

د اساسي قانون د يو واحد متن څخه استفاده کول انسان د ستونزو سره مخامخ کوي.، ځکه د همدې يو متن څخه د بيلا بيلو حالاتو د پاره استفاده کېږي. که د اساسي قانون متن د يوې خاصې ځانګړې موضوع په برخه کې وي، د تطبيق د څرنګوالي په باره کې يې د مشکلاتو سره نه مخامخ کېږو، خو د اساسي قانون متن ډير ناڅرګنډ او مبهم وي او هغه مسلې چې د هغه په برخه کې همدا ماده يا متن تطبيق کېږي ډيرې زياتې او مختلفې دي. لهذا نو بايد مونږ پريکړه وکړو چې د متن معنې څه ده او په يوه خاصه مسله کې ددې مادې د تطبيق څخه کوم نتايج لاس ته راځي. کله کله په نړيوالو موافقو کې د کلماتو معني د هغو د ظاهري معني سره توپير لري. د اساسي قانون په لمړۍ ضميمه کې راغلي دي چې کانګرس نه بايد داسې يو قانون تصويب کړي چې د هغه پر اساس د يوې ديني موسسې احترام وشي او يا د هغه پر اساس په آزاده توګه د ديني مراسمو پرځايول منع کړل شي. خو حتې د اساسي قانون يو ډيراحتياط کاره تفسير کوونکی هم دا مني چې دا ضميمه د جمهور ريس او محاکمو په حصه کې هم صدق کوي. په نورو ځايونو کې کلمات پراخ تفسير ته اړتيا لري. آيا د اساسي قانون دا دستور چې هيڅ دولت نه بايد د خپل حاکميت په ساحه کې يو څوک د قوانينو د مساويانه ساتني او ژغورنې د حق څخه بې برخې کړي پدې معنې ده چې يو ايالتي پوهنتون ددې د پاره چې محصلين يې ډير رنګارنګ او د بيلا بيلو ځايونو څخه وي ونشي کولای تور پوستو محصيلينو ته په پوهنتون کې د تحصيل په برخه کې غوره توب ورکړی؟

دريم، اساسي قانون د قانون د نورو برخو په پرتله په څرګنډه توګه مهم سياسي مسايل او د ارزښتونو د انتخاب مسله مطرح کوي. ددې کتاب د موضوعاتو څخه يوه داده چې د قانون هره برخه او هره قانوني فيصله په خپل متن کې مهم ارزښتونه لري. د مثال په توګه د شبه جرم يا د تاوان په قانون کې مونږ مجبوره يو پدې اړه چې خلک بايد څومره د نورو خلکو ګټې په پام کې وساتي ژور فکر او انتخاب وکړو. اما په اساسي قانون کې ارزښي پوښتنې ډيرې واضح او څرګنډې دي او همدا وجه ده چې د جنجاله ډک دي. که ټول قوانين تر يوه حده د سياست سره سروکار لري، اساسي قانون تر ټولو نورو قوانينو په روښانه توګه سياسي دی. د اساسي قانون په تعبير او يا تطبيق کې ډيرې لږې مادې دي چې ساده او بې جنجاله دي.

څلورم، د قانون په نورو برخو کې د قانون د جوړولو او تطبيقولو بهير ډير څرګنډ اود مقتضې او شرايطو سره متناسب ښکاري، مقننه قوه يا پارلمان او محاکم قانوني اصول منځ ته راوړي او محکمې د ځانګړو مسلو په حلولو کې دا اصول تطبيقوي. په اساسي قانون کې هم د تصميم نيولو بهير روښانه او څرګنډ دی اما پر دې مسلې چې آيا دا تصاميم د مقتضي او شرايطو سره برابر او متناسب دي او که نه ډير جنجال

منځ ته راځي. د قانون په نورو برخو کې د محکمو صلاحیت روښانه او ثابت دی که څه هم هغه نتیجې چې دوی یې لاس ته راوړی ښایي صحیح نه وي، اما په اساسي قانون کې برعکس اساسي او مرکزي مسله داده چې ولې قاضیان د اساسي قانون په مسله کې دا صلاحیت لري چې وروستۍ حکمیت وکړي او د اساسي قانون په تفسیر او تطبیق کې باید د اساسي قانون د تفسیر د کومو نظریو څخه استفاده وکړي.

کله چې د اساسي قانون متن تفسیر ته احتیاج پیدا کړي، محکمې دا کار کوي، مخصوصا" په فدرالي سویه دا کار تل کېږي. که لازمه شي مسله د متحده ایالاتو د سترې محکمې نهو قاضیانو ته د غور د پاره وړاندې کېږي.اما د سترې محکمې قاضیان نه انتخابېږي بلکه انتصاب کېږي، او کله چې انتصاب شو د ژوند تر پایه په همدې وظیفه کې پاته کېږي او بیا څوک دده پر ټاکنې بحث نه کوي. نوکه په اساسي قانون کې ډیر بنیادي او مهم سیاسي مسایل مطرح دي، نو بیا ولې په یوه دموکراتیکه ټولنه کې پر دغسې مسلو دیوې غیر دموکراتیکې موسسې لخوا پریکړې کېږي؟

سربیره پردې، د دولت ډیرې پیاوړي سیاسي موسسې لکه کانګرس د سیاسي مسلو د حل د پاره د انتخاباتي حوزو سره مشوره کوي او هلته د ګډو ګټو د ډلو یا interest Groups سره تفاهم کوي، د عامو خلکو نظریاتو ته پاملرنه کوي او د پلویانو او مخالفینو تر منځ په ښکاره بحثونه کېږي. لهذا نو ستره محکمه پداسې حال کې چې د سیاسي جریان څخه جلا شویدی څنګه د ډیرو مهمو او تودو سیاسي مسلو په هکله فیصله کوي؟

د اساسي قانون دغه څلور مشخصې څیرې هغه اساسي موضوع ده چې پدې فصل کې به وروباندې بحث وشي. ډیره اساسي مسله د فدرالي دولت جوړښت او صلاحیت دی. د اساسي قانون په تصویب کیدو سره ملي دولت منځ ته راغی او د هغه سازماني جوړښت او صلاحیتونه یې و ټاکل. اساسي قانون لمړی په مشخصه توګه تشریح کوي چې فدرالي دولت د درو برخو څخه جوړ شویدی، چې اجراییه قوه، مقننه قوه او قضاییه قوه ګڼل کېږي. اساسي قانون ښیي چې ددې درو هره برخه او فدرالي دولت په مجموع کې څه کولای شي. لږتر لږه د مفکورې په لحاظ فدرالي دولت یو دولت دی چې هم محدود او هم ډیر پراخ او عالي صلاحیتونه لري. پدې معني چې د فدرالي دولت واک او صلاحیت په هغه څه چې اساسي قانون ورکړی محدود دی اما د خپل حاکمیت په ساحه کې بیا ډیر پراخ واک او صلاحیت لري. په دې ډول د ملي حکومت د صلاحیتونو تعریف په حقیقت کې د فدرالیزم د اصولو یا د ملي حکومت او ایالتونو تر منځ د اړیکو تعریف دی.

(د ملي او ایالتي حکومتونو صلاحیت د هغو ضمانتونو له کبله هم محدود دي چې اساسي قانون د فردي آزادۍ په برخه کې او په خاصه توګه د حقوقو په اعلامیه او د اساسي قانون په هغو ضمیمو کې چې د کورني جګړې وروسته منځ ته راغلي کړیدي. پر دې مسلو به په دریم فصل کې بحث وشي)

ددې مسلو د بحث په بهیر کې د اساسي قانون د تعبیر مسله هم راځي. فدرالي محکمې او په خاصه توګه ستره محکمه د اساسي قانون د تعبیر با صلاحیته مرجع ده. دوی څنګه ټاکي چې د اساسي قانون د یو متن څخه په یوه خاصه مسله کې استفاده څه معني لري؟

یوه کوچنۍ تبصره : پدې فصل کې د متحده ایالاتو پر قانون بحث کېږي، خو هر ایالت بیا خپل اساسي قانون هم لري. د اساسي قانون طرح کوونکو په خپل وخت کې د ځینو ایالتي اساسي قوانینو څخه الهام واخیست او وروسته بیا ایالتي اساسي قوانینو د فدرالي اساسي قانون څخه د الهام د یوې منبع په توګه استفاده وکړه. د ایالتونو اساسي قوانین هم د فدرالي اساسي قانون په شان د حکومت د جوړښت، د هغه د صلاحیتونو اود فردي آزادی مسایل مطرح کوي، خو په هغو کې ډیر نور خاص مسایل لکه د پوهنې او روزنې، د بودجې او د ژوند د چاپیریال مسایل هم مطرح شوي دي. دایالتونو اساسي قوانینو ته په وروستیو کلنو کې په مخ په زیاتیدو توګه پاملرنه کېږي. دا مخصوصا" پدې خاطر چې د متحده ایالاتو ستره محکمه حاضره نده د فدرالي اساسي قانون حفاظت او ساتنه پراخه کړي، خو د ایالتونو اساسي قوانینو ته هغه لازمه پاملرنه نده شوې. څرنګه چې ځای تنګ دی، پدې فصل کې به یواځې د فدرالي اساسي قانون موضوعات په عمومي او بنیادي توګه و څېړل شي.

ولې مونږ اساسي قانون ته اړتیا لرو؟

دا یوه عجیبه پوښتنه ښکاري. مونږ د اساسي قانون سره دومره عادت یو چې ټولو ته څرګنده ده چې ولې مونږ اساسي قانون ته اړتیا لرو : یعني چې د حکومت چارې تنظیم کړواود مدني آزادیوساتنه وکړو او داچه مونږ اړتیا ورته لرو او که یې نلرو، مونږ اساسي قانون لرو او دا زمونږ د سیاسي سیستم یو اساسي سند دی.

اما په قانون کې هیڅ شی هرو مرو او یا لازمي نه دی. نور ملتونه هم بیله دې چې په شکلي توګه زمونږ د اساسي قانون د حاکمیت د سیستم څخه پیروي وکړي، هڅه کوي یو دیموکراتیک سیاسي سیستم منځ ته راوړي او ډیرې مدني آزادۍ ولري. د مثال په توګه انګلستان نه یو لیکل شوی اساسي قانون لري او نه پر مقننه قوې د قضایي څارنې یا تجدید نظر سیستم لري. کله چې مونږ د اساسي قانون د اړتیا په هکله فکر کوو، حقیقي پوښتنه داده چې زمونږ اساسي قانون زمونږ د پاره څه کوي؟

ددې د پاره چې هغه کارونه چې مونږ یې په یواځې توګه نشو کولاي په ګډه تر سره کړو، مونږ یا یو حکومت ټاکو او یا ددې حکومت څخه چې زمونږ دپاره یا زمونږ په ګټه کارکوي ملاتړ کوو. حکومت د ګډ اقدام د پاره آسانتیاوې برابروي. د مثال په توګه حکومت مونږ ته ددې زمینه برابروي چې مونږ خپل منابع را غونډ کړو ښوونځي جوړ کړو، معلمان استخدام کړو او د هر چا د پاره د پوهنې او روزنې یو عامه سیستم منځ ته راوړو. حکومت همدا شان امنیت ټینګوي، د جنایت کارانو، د نارښتوني او درغلو تاجرانو، صنعت ګرانو، د خطرناکه مخدره موادو او بهرني تروریستانو په مقابل کې زمونږ ساتنه کوي.

ددې د پاره چې حکومت دا ټول کارونه وکړي باید پیاوړی وي. حکومت باید ددې واک ولري چې زمونږ څخه مالیه یا ټکس واخلي تر څو د ښوونځیو خرڅ ورکړي، د دارو جوړولو د کمپنیو فعالیت تنظیم کړي، بې انصافه تاجران جریمه کړي، غله بندیخانو ته وسپاري او اردو او بحری ځوک ولري. دغسې یو پیاوړی حکومت پخپله یو پرابلم هم دی. څنګه به مونږ ډاډه واوسو چې حکومت به زمونږ څخه تر حد او توان زیاته مالیه یا ټکس وانخلي، د کوچنیو تجارتونو او بیزنسونو د پاره به سخت او درانه مقررات وضع

نه کړي، يا به بيګناه خلک بنديان نه کړي اود اردو څخه به د مخالفينو د ټکولو د وسيلې په توګه استفاده و نه کړي؟

يوه لاره چې مورږ وشو کولاي د حکومت پر قدرت څارنه وکړو دادی چې حکومت دموکراتيک کړو.پر يو دموکراتيک حکومت خلک څارنه کوي. يعني يو دموکراتيک حکومت داسې يو کار چې خلک يې نه غواړي او يا د خلکو حقوق محدودوي نشي کولاي. اما که دموکراسي يو اغيزمن سيستم دی او خلک په هغه کې د حکومت پر کارونو حقيقي څارنه کوي (په نوي امريکا کې ښايي ځيني دا و نه مني)، بيا هم يو بالقوه پرابلم وجود لري. د اساسي قانون يو مهم عنصر د اکثريت د تيريو په مقابل کې د اقليتونو (لږکيو) او افرادو ساتنه ده. اساسي قانون نه يواځې د دموکراتيک بهير تماميت ساتي بلکه ددموکراتيک بهير په وړاندې د اقليتونو، اعتراض کوونکو، مخالفينو، او ګوښه ګيرو خلکو ساتنه هم کوي.

اساسي قانون حکومت ته د واک ورکولو او د حکومت د واک د محدودولو د جنجال سره لاس او ګريوان دی. اساسي قانون دا سې پوښتنو ته لکه : حکومت څنګه تنظيم شويدی؟ څومره واک او صلاحيت لري؟ ، د قدرت په استعمال کې پر کوم بهير روان دی؟ د خلکو د ژوند کومې برخې د حکومت د مداخلو څخه په امان کې دي؟ ځواب وايي. اساسي قانون ددې مسلو په څيړلو کې يواځې ندی او هيڅکله يې د تل د پاره نه حلوي، خو ددې مسلو د حل د هلو ځلود پاره يو پروسس يا بهير وړاندې کوي.

دا کار څنګه کوي؟ دا به زمونږ سره مرسته وکړي که اساسي قانون ته د يو پروسس يا بهير په سترګه وګورو. اساسي قانون د مهمو مسلو د بحث د پاره يو خاصه ژبه لري او يو خاص فوروم يا جرګه ځاي وړاندې کوي. د اساسي قانون ژبه د اساسي قانون متن او هغه تعاملات دي چې د اساسي قانون تعبير پرې کېږي او هغه اصول دي چې د هغه څخه استخراجېږي. مهم ټولنېز او سياسي مسايل عادتا" په همدې ژبه شکل مومي : د قواوو تفکيک، فدراليزم، آزاد بيان او د دعوي رښتنې بهير. حقوق پوهان داسې فکر کوي چې دا د قانون خاصه ژبه ده چې يواځې مسلکي او ماهر کسان په پوهېږي، اما په حقيقت کې د اساسي قانون بحثونه نه يواځې په محکمو او دحقوق پوهانو تر منځ کېږي، بلکه د حکومت مامورين، د ګډو ګټو ډلې يا Interest Groups او په عامه توګه د خلکو ترمنځ هم کېږي.

د اساسي قانون بحثونه په همدغه ژبه په ډيرو ځايونو کې کېږي، اما زمونږ د اساسي قانون د دود او عنعنې له مخې دا بحثونه يواځې په محاکمو او په خاصه توګه د امريکا د متحده ايالاتو په ستره محکمه کې کېږي، ځکه ستره محکمه داسې يو ځاي دی چې په بشپړه واکمنې سره دا بحثونه د حل لوري ته بيولاي شي.

ستره محکمه غير سياسي نده خو د دولت د نورو څانګو په پرتله د مستقيم سياسي اغيز څخه ځان ليرې ساتي، ځکه ددې محکمې قاضيان يوه محدوده وظيفه لري او خپل ټول عمر په همدې وظيفه کې پاته کېږي. دا محکمه ټول مسايل د تل د پاره نه حلوي، اما هغه دلايل چې پدې محکمه کې وړاندې کېږي او هغه پريکړې چې دا محکمه يې د اساسي قانون د مسلو په هکله کوي د لويو جنجالونو په تحليل

او حلولو کې ډير مهم رول لوبوي. راشئ په امريکا کې د نژادي توپير په هکله د اساسي قانون د څرګندو او ناڅرګندو برخوردونو يو مثال ته پاملرنه وکړو. د غلامۍ په هکله د هغو تودو بحثونو په لړ کې چې په امريکا کې د کورنۍ جګړې د پيل سبب وګرځيد، يو مريي يا غلام چې درید سکات نومیده فدرالي محکمې ته مراجعه وکړه او ادعا يې وکړه چې مخکې لدې چې د په ميسوريmissouri کې د خپل خاوند کور ته ستون شي، د خپل خاوند سره په ايلينويسIllinois او د ويسکانسنWisconsin په سيمه کې اوسيده او دی نورمريي نه بلکه آزاد دی. ايلينويس هغه وخت يو آزاد ايالت وو او غلامي د لوزيانا louisiana په سيمه کې چې د ٣٦ درجې او ٣٠ درجې عرض البلد په شمال کې پرته ده په ١٨٢٠ عيسوي کال کې د ميسوري د موافقې له مخې منع وه. سکات محکمې ته وويل کله چې ده خپله پښه د يو ايالت يا سيمې پر خاوره کښيښوده چې په هغه کې دی په قانوني توګه آزاد وو، نو دی ميسوري ته د بيرته ستنيدو په وخت چې غلامي په کښې قانوني وه بيرته د مريي يا غلام په توګه نشي ساتل کيدلای. د غلامۍ مسله په امريکا کې يوه ډيره مهمه مسله وه چې ډير پراخ سياسي، اخلاقي او اقتصادي ابعاد يې درلودل، اما د سيند فورد په مقابل کې د سکات دعوې چې سترې محکمې ته وړاندې شوه، د هغه سره د اساسي قانون په چوکات کې برخورد وشو.

په کال ١٨٥٧ کې د سترې محکمې قاضي روجر تېنې پدې هکله داسې نظر څرګند کړ چې ستره محکمه د سکات په شان تورپوستو ته د اساسي قانون د دريمې مادې له مخې د امريکا د اتباعو په سترګه نه ګوري او سکات نشي کولای خپله دعوي سترې محکمې ته وړاندې کړي. هغه څه چې نور هم د پاملرنې وړ وو دادی چې سترې محکمې د ميسوري موافقه هم د اساسي قانون ضد و بلله.

تينۍ دا هم وويل، هغه وخت چې د اساسي قانون د تسويد کار پيل شو تورپوستو ته د لاس لاندې او د کښتې طبقې د موجوداتو په سترګه کتل کيدل. ده زياته کړه، تور پوستي د خپلواکۍ په اعلاميه کې چې وايي، ټول انسانان مساوي خلق شوي دي شامل ندي او څرنګه چې دوی د هغو افرادو په ډله کې ندي شامل چې اتباع بلل کېږي، نو نشي کولاي په ستره محکمه کې هم دعوې وکړي. او که څه هم کانګرس په ډير احتياط او پام سره د ميسوري موافقه د يو لړ سياسي قضاوتونو پر بنا منځ ته راوړې چې د شمال او جنوب ګټې په ښه ډول انډولوي، اما کانګرس پدې کار کې د هغه صلاحيت څخه چې اساسي قانون ورکړيدی پښه وړاندې ايښې ده. کله چې د يوې سيمې اوسيدونکي خپل دولت منځ ته راوړی، کانګرس بيا حق نلري د هغه سيمې د پاره قوانين وضع کړي.

د درید سکات مسله د اساسي قانون طبعت او حدود څرګندوي. د غلامۍ مسله د امريکا د دولت د جوړيدو راهيسې يوه ډيره حساسه مسله ده چې د اساسي قانون په هغو مادو کې چې د مصالحې له مخې منل شوي نغشتې او په کانګرس، محاکمو او په عامه توګه په ټول هيواد کې د بحث موضوع ده. هغسې چې مو د درید سکات په مسله کې وليدل پدې بحث کې د اساسي قانون ډير عمده مسايل مطرح شول او د اساسي قانون په ژبه وشول او په هغه کې اخلاقي، سياسي او اقتصادي شرايط په نظر کې ونيول شول. کانګرس کوم صلاحيت درلود چې د غلامۍ يا د آزادو سيمو او نوي منځ ته راغلو دولتونو د پاره قانون

وضع کړي؟ یو ایالت تر کومه حده کولای شواي چې د خپل حاکمیت په ساحه کې غلامي منع کړي او یا په اغیزمنه توګه د خپلو پولو څخه د غلامانو او ددوی د خاوندانو د تیریدو او سفر کولو مخنیوی وکړي؟ آیا تور پوستي د اساسي قانون د ټولنې غړي وه او کولای یې شوای چې په فدرالي محکمه کې دعوې وکړي؟ آیا یو دولت کولاي شواي یو مالک پر غلام باندې د مالکیت له حق څخه بې برخې کړي؟

د اساسي قانون په چوکات کې دا بحث د محکمې تر سالون دباندې ووت. په ۱۸۵۸ کال کې آبراهام لینکلن Abraham Lincoln او ستیفن داګلس Stephen Douglas د درید سکات په مسله کې د اساسي قانون د صلاحیت د طبیعت پر موضوع په خپلو مشهورو بحثونو کې چې د سنا د انتخاباتو د مبارزې په ترڅ کې وشول یو د بل په مقابل کې ودریدل. ډاګلس د محکمې د فیصلې پر قطعي توب او نهایي توب ټینګار وکړ: " کله چې حکم صادر شي، زما شخصي نظر، ستاسو نظر، او د ټولو نورو نظر باید د باصلاحیته قضاوت د برم او جلال په وړاندې تسلیم شي. " لینکلن په مقابل کې وویل چې د دولت نورې څانګې کولاي شي د اساسي قانون څخه خپل ځانګړی تعبیر وړاندې کړي او زیاته یې کړه " د درید سکات د مسلې په هکله د فیصلې سربیره که زه په کانګرس کې واوسم او پر دې مسله راي ګیري وشي چې آیا په نوو سیمو کې دې غلامي منع شي او که نه زه به د غلامۍ د منع کیدو په طرفداری رایه ورکړم "

دا جنجال په امریکا کې د اساسي قانون د حاکمیت د مرکزي عنصر په توګه تبدیل شو او دا پوښتنه منځ ته راغله چې آیا ستره محکمه د اساسي قانون په تعبیرولو کې آخري او وروستۍ مرجع او مقام دی؟ د درید سکات تر مسلې نیمه پیړۍ مخکې ستره محکمې ځان د اساسي قانون د تفسیر آخري مرجع باله او سیاسي سیستم دا منلې وه. اما د درید سکات د مسلې په مقابل کې سیاسي عکس العمل د ستره محکمې د رول حدود څرګند کړل. د ستره محکمې قاضي تیني هیله مند وو چې د درید سکات پر مسلې باندې د محکمې حکم به هغه ملي جنجال چې د غلامۍ د موضوع پر سر رامنځ ته شوی وو د تل د پاره حل کړي. خو هغه څه چې سیاسي څانګو د میسوري د موافقې او د ۱۸۵۰ کال د مصالحې یا کومپرومایز په هکله ونشو کولاي، قضایي څانګې هم نشواي کولای هغه د خپلو فیصلو له لارې لاس ته راوړي اود حل د یوې لارې د منځ ته راتلو په عوض د درید سکات مسلې یواځي احساسات راوپارول چې لږ وروسته د کورني جګړې د پیل سبب وګرځید.

سره لدې چې ستره محکمې ونشو کولای چې د غلامۍ مسله د اساسي قانون پر بنا د فیصلې له لارې حل کړي، نژادي مسلې ته تر کورني جګړې وروسته هم د اساسي قانون د یوې مسلې په سترګه کتل کیده. فکر کیده چې د اساسي قانون نوي ضمیمې یعني دیارلسمه، څوارلسمه او پنځلسمه ضمیمه به د غلامۍ مسلې ته د پاي ټکی کښېږدي، د نژادي تبعیض مخنیوی به وکړي او تور پوستو ته به په سیاسي ژوند کې د برخې اخیستنې زمینه برابره کړي. څوارلسمه ضمیمه په خاصه توګه مهمه بلل کیده، ځکه د هغو مفکورو پر بنا ولاړه وه چې په اصلې اساسي قانون او د حقوقو په اعلامیه کې موجودې وې او هدف داوو چې د نوو آزاد شوو غلامانو د تابعیت ضمانت وکړي (یعنې د درید سکات فیصله ماته کړي) د اتباعو امتیازات او مصونیت خوندي وساتي، په محکمو کې دعوې د قانون له مخې وشي او د قانون په

وړاندې د مساوي حفاظت او ساتنې بهير تضمين کړي. دا د بيا رغونې ضميمې حکومت ته ددې واک ورکړ چې د غلامۍ وروستني بقايا له منځه يوسي اما په عين زمان کې يې د حکومت د پاره حدود وټاکل تر څوو نشي کولای د خلکو په مقابل کې د تبعيض څخه کار واخلي او يا د اتباعو په ژوند کې مداخله او لاس وهنه وکړي.

د راتلونکو پيړيو په اوږدو کې ددغه مقرراتوتفسير نه د اصولو او نه هم د نتيجې له مخې يو شان وو. د مثال په توګه په دوو مشهورو مسلو کې، محکمې لمړی په ريل ګاډيو کې نژادي بيلوالي ته اجازه ورکړه (په ۱۸۹٦ کال کې د فرګوسن په مقابل کې د پلیسي دعوې). او وروسته يې په شوونځيو کې نژادي بيلوالۍ منع کړ (په ۱۹٥٤ کال کې د پوهنې او روزنې د رياست په مقابل کې د براون دعوې). بيله دې چې دا اوږده او پيچلې قصه تکرار شي په پام کې ولرئ چې د درېد سکات د مسلې په شان د نژادي توپير په هکله بحثونه هم په محکمه او هم د عامو خلکو تر منځ د اساسي قانون ددغو اصولو په چوکات کې صورت ومونډ. د څوارلسمې ضميمې پر اساس د قوانينو په وړاندې د مساوي حفاظت او ساتني تعريفول يعني ددې مسلې تثبيتول چې مساوات څه معنې لري او دا چې حکومت بايد څه وکړي چې مساوات منځ ته راشي او يا د عدم مساوات مخنيوی وکړي، دا د نژادي توپير په بحث کې ډيره اساسي او مرکزي پوښتنه وه.

آيا يو کارفرما کولای شي د نوي کارګرانو په استخدام کې ددې د پاره چې د تورپوستو شميرنسبت سپين پوستو ته محدود کړي د نوي کارګرانو څخه امتحان واخلي؟ آيا د حقوقو يو پوهنځی کولای شي پوهنځي ته د شاملیدو د پاره تور پوستو ته غوره توب يا رجحان ورکړي او پدې توګه د پوهنځي د محصيلينو ترکيب متنوع کړي؟ په داسې پوښتنو کې، بحث قسما" پر اساسي قانون باندي د خبرو اترو له لارې کېږي او د ځوابونو يوه برخه د محکمو د فيصلو څخه راځي اما دابحثونه د محکمې څخه دباندې سرايت کوي او د اساسي قانون د چوکات څخه دباندې د قانون جوړونکو، د انتخاباتو د بهير، دمطبوعاتو اود عامه احساساتو تر اغيز لاندې راځي.

همدا وجه ده چې اساسي قانون د مهمو مسايلو سره د برخورد د پاره خپل کلمات او بهير لري.لاکن، دا د اساسي قانون يواځې کلمات او يواځې بهير چې خلک ورسره ډير آشنا دي او د دوو پيړيو په اوږدو کې تل په کې بدلون راغلی دی، هم ندی.

ستره محکمه د اساسي قانون د معني او مفهوم په هکله څنګه پريکړه کوي؟

د اساسي قانون په تطبيق کې ستره محکمه د حکومت صلاحيت تعريفوي او حدود يې ټاکي. اما د سترې محکمې د پاره کوم حدود وجود لري؟ فرضا" محکمې پريکړه وکړه چې سر له نن څخه به کانګرس ته ووايي چې د لويو لارو د جوړولو دپاره بايد دومره پيسې مصرف کړي. او يا فرضا" اعلان وکړي چې هر امريکايي بايد هره د يکشنبې ورځ د رومن کاتوليک کليسا ته ولاړ شي. نو څه شی محکمه لدې څخه منع کوي چې د دولت د نورو څانګو يا ايالتونو قانوني صلاحيتونه غصب نکړي او يا د تيري کوونکو پريکړو له لارې د خلکو حقوق تر پښو لاندې نه کړي؟

هغسې چې پورتني فرضي پوښتنې يې څرګندوي په نهايت کې ستره محکمه د سياسي واقعيتونو تر فشار لاندې دی. يعني سياسي واقعيتونه د سترې محکمې د زياده روی مخنيوی کوي. که ستره محکمه کانګرس ته هدايت ورکړي چې پيسې د لويو لارو پر جوړولو خرڅې کړي يا خلک د کليسا تګ ته مجبوره کړي، دا به د خلکو د آواز او غوغا د پورته کيدو سبب وګرځي او دا به د محکمې د پريکړې قوت له منځه يوسي. ځکه محکمه نشي کولاي خلک د خپلو پريکړو رعايه کولو ته مجبوره کړي. د سترې محکمې د صلاحيت څخه ملاتړ زمونږ په فرهنګي عنعناتو کې ريښه لري يعني د قضا صلاحيت او د قانون حاکميت ته احترام کوو. مونږ قضا ته احترام کوو ځکه په دې باور يو چې د اساسي قانون په تطبيق کې د سترې محکمې قاضيان يواځې خپل فکر او نظر پدې هکله چې قانون بايد څنګه وي نه څرګندوي، بلکه پريکړې د اساسي قانون په رڼا کې کښړي. د اساسي قانون متن يا د هغه د تفسير يا تعبير معنې د مسلو د حل په لاره کې د محکمې پر چال چلند څارنه کوي او د محکمې د پاره حدود ټاکي.. نو هغسې چې اساسي قانون د سترې محکمې لخوا تفسير شوي او د دولت د نورو څانګو صلاحيت ټاکي، اساسي قانون پخپله د سترې محکمې د صلاحيت د پاره هم حدود ټاکي.

که څه هم د اساسي قانون متن ډير لنډ او مبهم دی، اما محکمه بايد د هغه څخه د ډيرو مسايلو د حل د پاره استفاده وکړي. د مثال په توګه د اساسي قانون په لمړي ماده، اتم بند او دريم جز کې کانګرس ته صلاحيت ورکړل شوي دي " د بهرني هيوادونو، د بيلابيلو ايالتونو او د هندي نژاده قبيلو Indian Tribes سره د تجارت مسايل تنظيم کړي. " ستره محکمه څنګه پو هېږي چې ددې معني به داوي چې کانګرس د مدني حقوقو قانون پر اوليز باربيکو Ollie's Barbequeهم تطبيق کړي. اوليز باربيکو د

آلاباماAlabama د برمنګهم په ښار کې د يوې کورنی شخصي رستورانت وو چې د يو ميل په فاصله لويې لارې ته نژدې جوړ شوی وو.(سترې محکمې فيصله وکړه چې کانګرس دا کار کولای شي ځکه د اوليز رستورانت خپل د رستورانت د پاره غوښه د داسي يو تاجر څخه اخيستې ده چې هغه بيا دا غوښه ددې ايالت څخه دباندې د يو تاجر څخه تر لاسه کوي). يا د وادWade پر ضد د روRoe د سقط جنين دعوې ته پاملرنه وکړئ. ستره محکمه څنګه دې نتيجې ته ورسيده چې يوه ښځه اساسا" بې له کوم قيده کولاي شي د خپلې حامله دارې په لمړيو درې مياشتو کې سقط جنين وکړي. اما آيا ستره محکمه په عين زمان کې حکومت ته هم اجازه ورکوي چې دا مسله تنظيم کړي يا پرې نه ږدي چې يوه ښځه تر درې مياشتو حامله دارې وروسته هم په سقط جنين لاس پوري کړي؟ يا د پوهنې او روزنې د رياست پر ضد د براون پر دعوې فکر وکړئ. په ١٩٥٤ کال کې سترې محکمې حکم وکړ چې نور بايد په عامه ښوونځيو کې نژادي توپير نه وي. نن تقريبا" هر څوک ددې پريکړې سره موافقه لري او هغه صحيح بولي. دا پريکړه په امريکا کې د اجتماعي عدالت د رعايه کيدو په لاره کې يو مهم ګام وبلل شو. اما ستره محکمه څنګه دې نتيجې ته ورسيده چې د سپين پوستو او تور پوستو د پاره د جلا ښوونځيو موجوديت د اساسي قانون ضد دی، خصوصا" هغه وخت چې د اساسي قانون مواد تسويديدل دتور پوستو او سپين پوستو د پاره جلا جلا ښوونځي ډير وه اما ډير عام هم نه وه او آيا سترې محکمې د خپلې پريکړې د پاره په همدغو موادو تکيه وکړه؟

د اساسي قانون په هيڅ ځای کې د باربيکو د رستورانت، سقط جنين، نژادي توپير او يا د ښوونځيو نومونو ته اشاره نده شوې، اما ستره محکمه مجبوره ده پدې اړه او د زرګونو نورو مسلو په باره کې پريکړې وکړي. د اساسي قانون د تفسير يوه نظريه د اساسي قانون د پاره ډيره مهمه ده، اما اساسي قانون د ځان د تفسير د پاره کوم لارښود يا رهنما نه معرفي کوي. همدا وجه ده چې دداسې يوې نظريې منځ ته راوړل د ډيرو قاضيانو او حقوق پوهانو فکر ځانته رااړولی دی.

د اساسي قانون تفسير به ډير آسان وي که د اساسي قانون متن روښانه وي. خو له بده مرغه داسې نده. د اساسي قانون ډيرې مادې لکه د تجارت په برخه کې، مبهمې دي. اساسي قانون وايي کانګرس کولاي شي د بيلا بيلو ايالتونو تر منځ تجارتي چاري تنظيم کړي اما مونږ ته نه وايي چې آيا د باربيکو خرڅلاو په يوه سيمه کې د کانګرس د هغه صلاحيت يوه برخه ده چې د ايالتونو تر منځ د تجارتي اړيکو د تنظيم په برخه کې يې لري. سربيره پردې کله بيا مونږ داسې پوهېږو چې د اساسي قانون يو متن هغسې معني نه ورکوي لکه په متن کې چې لوستل کېږي. د اساسي قانون په لمړی ضميمه کې ويل کېږي " کانګرس بايد داسې قانون منځ ته رانه وړي چې د بيان آزادي محدودوي " خو د اساسي قانون پوهان پدې موافقه لري چې د اساسي قانون دا محدوديت د جمهور ريس او محکمو په حصه کې هم صدق کوي. که څه هم ددوی نومونه په ځانګړي توګه ندي ذکر شوي. څرنګه چې کلمات پخپله کومه معني نلري، مونږ مجبوره يود هغه د تعبيردپاره يوه لاره ومومو.

د اساسي قانون د تعبير د پاره د نظرياتو پر سر جنجال د هغو قاضيانو او علماو ترمنځ دی چې ځينې يې وايي اساسي قانون بايد د هغه د مسوده کوونکو د ارادې پر معيار تعبير شي او نور بيا پدې عقيده دي چې مونږ بايد د اساسي قانون د ليکولانو د ارادې شاته وګورو. لمړۍ نظريې ته د اصلي ارادې يا Original Intent يا اصليت Originalism يا Interpretivism وايي. دغه نظريه د عنعنه خوښونکو ده چې په وروستيو کې يعنې د جمهور ريس رونالد ريګن په دوره کې د ايدوين ميز د هلو ځلو په نتيجه کې چې د رونالد ريګن په حکومت کې لوي څارنوال وو او د سترې محکمې د قاضي په توګه د رابرت بورک د ټاکل کيدو په مسله کې ډيره بدنامه شوه.

د اصلي ارادې د نظريې پلويانو لکه بورک، ميز او ددوي د فکري مکتب د معاصرو روشنفکرانو د پاره د اساسي قانون د مسوده کوونکو د ارادې څخه پيروي کول د اساسي قانون په جوړښت کې نغښتې دی او نه پرېږدي چې قاضيان له خپلو حدودو څخه ګام وړاندې کښېږدي. د اساسي قانون مسوده کوونکو د خلکو په نمايندګۍ او د خلکو له نامه عمل کړيدی او صلاحيتونه يې فدرالي دولت ته ورکړيدي. او د قضايي تجديد واک يو له هغو صلاحيتونو څخه دی. اما د دولت هيڅ څانګه د محکمو په شمول نه بايد د هغو صلاحيتونو د چوکات څخه چې دوی ته ورکول شوي دي ګام وړاندې کښېږدي، لهذا ستره محکمه هم بايد تل د پريکړو په کولو کې د اساسي قانون د مسوده کوونکو اراده په پام کې ونيسي.

اصلي ارادې ته رجوع کول يواځې يو قانوني ضرورت ندی چې د اساسي قانون په جوړښت کې نغښتې دی، دا يو عملي ضرورت هم دی. اصلي اراده د اساسي قانون د پريکړو د پاره يو ټينګ اساس منځ ته راوړي. کله چې محکمه ددې اساس څخه ګام وړاندې کښېږدي، مجبوره دی د اساسي قانون د مسوده کوونکو د ارادې ماسيوا پر بل شي يعني پر يوې سياسي، اقتصادي يا فلسفي نظريې استناد وکړي تر څو په يوه مسله کې عادلانه حکم وکړي. اما داسې نظريې لکه ليبرال، محافظه کاره يا نورې نظريې ډيرې دي او يو قاضي ددې نظريو د انتخاب د پاره، غير لدې چې خپلو ترجيحاتو ته رجوع وکړي، کوم بل اساس نلري. همدغه د نظريو د انتخاب توان د قضايي غصب، د قاضيانو لخوا په خپله خوښه د کانګرس يا د حکومت د فيصلو څخه د ګام اړولو زمينه برابروي.

دغه د مسوده کوونکو تاريخي اراده د اساسي قانون د پاره يوه ډيره په زړه پوري مفکوره ده، اما دا هم د يو ساده، معني لرونکي متن د منځ ته راوړلو د فکر په شان خيالي ده. لمړي، زمونږ په توان کې چې وشو کولای يو تاريخي قضاوت وکړو ستونزې شته.د مسوده کوونکو ارادې ته رجوع کول پدې معنې ده چې هغه وخت يو مشخصه ډله د مسوده کوونکو وه او مونږ کولای شو په ډير اطمينان سره ددوی ارادې تثبيت کړو اما دا مسوده کوونکي څوک وه.؟ داصلي اساسي قانون تسويد، پدې هکله مذاکرات او وروسته هغه ته د رايې ورکول په يوه لويه غونډه کې چې د بيلا بيلو ايالتونو پلاوي په کې ګډون درلود او دوی د بيلا بيلو نظرياتو خاوندان وه منځ ته راغی او وروسته د ۱۳ ايالتونو د پارلمانونو او غونډو لخوا تصويب شو. په لمړي کانګرس کې د حقوقو د اعلاميې مسوده جوړه شوه او وروسته ايالتونو ته د تصويب

د پاره وړاندې شوه. وروستني تغيرات او بدلونونه د وروستنی کانګرسونو لخوا تسويد او د ايالتي پا رلمانونو لخوا چې شمير يې ډير شوي وو تصويب شول.

اوس نو مونږ د چا ارادې ته پا ملرنه کوو، د مادو د مسوده کوونکو، يا د هغو کسانو چې د غونډو يا کانګرس په بحثونو کې يې ګډون درلود او يا د هغو پارلمانونود غړو ارادې ته چې دا مسودې يې تصويب کړيدي؟ او څنګه مونږ د هغو په اراده پوه شو، د رسمي بيانيو له مخې، د کميټو د رپورتونو، ياد هغه بحثونو له مخې چې وکيلانو به په غير رسمي توګه د پارلمان په دهليزونو کې کول، د لويو فصيحو ويناوو، د خبري رپورتونو، شخصي ليکونو يا نورو تاريخي منابعو له مخې؟ . دا ستونزه پدې دليل هم لويه ده چې د يوې خاصي مادې يا بند د معني په هکله کافي شواهد وجود نلري او يا داسې شواهد وجود ولري چې ضد او نقيض وي. سربيره پردې مونږ پوهېږو چې د قانون جوړولو بهير څنګه دی. د قانون جوړولو په بهير کې بيلابيلې نظريې، سيالې اَجندا ګانې، بيلا بيلې ګټې مطرح کېږي، اوږدې ويناوې کېږي او بيا سازش او کومپرومايس کېږي. اوس نو د اساسي قانون د يوې مادې د وضع کيدو د پاره کومه اراده وجود لري؟

دوهم، که مونږ داسې فکر وکړو چې د يو چا په اراده پوهېږو او غواړو هغه څرګنده کړو نو دا به څه ډول اراده وي چې مونږ يې د څرګندولو هڅه کوو؟ که د سترې محکمې وظيفه داوي چې اساسي قانون د هغه د مسوده کوونکو د ارادې پر بنا تفسير کړي، نو بايد په لمړي ګام کې وګوري چې د اساسي قانون د تفسير د څرنګوالي په هکله د مسوده کوونکو اراده څنګه وه. پدې باره کې تاريخي شواهد او مدارک روښانه خو ضد او نقيض دي. د لمړي يا اصلي اساسي قانون مسوده کوونکو پردې فکر نه وو کړی هغه محکمه چې د اساسي قانون ماده تعبيروي بايد په لمړي سر کې د مسوده کوونکو ارادې ته پاملرنه وکړي. د اتلسمې پيړۍ په پای کې حقوق پوهان او سياستمداران پدې فکر نه وه چې د اساسي حقوقو څخه مقصد په مثبته معنې د يو قانون ګذار ارګان تاييدول دی چې د هغه د قانون جوړولو اراده بيا د قانون د تعبير لار ښود وي. ددوی د پاره قانون په عام مفهوم سره د ټولنې قواعدواو قانوني اصولو ته انعکاس ورکاوه او د قانوني متنونو معني هم په کافي اندازه روښانه وه اوبيله دې چې د هغه د تفسير د پاره يو پيچلي سيستم ته چې هغه د تاريخي ارادې پر اصل ولاړ وي ضرورت وليدل شي، خلک په آسانه پرې پوهيدل. څرنګه چې نن زمونږ پوهه د قانون څخه ډيره پراخه او هر اړخيزه ده او د بيلا بيلو تفسيرونو د امکان سره آشنا يو، نو دا زمونږ د پاره ناممکنه ده چې د اساسي قانون د مسوده کوونکو اراده پر ځای کړو.

دا پخپله د Originalism يا اصليت سره يو دريم پرابلم منځ ته راوړي او هغه د زمان د تيريدو پرابلم دی. د اصلي ارادې څېړنه پدې معنې ده چې مونږ کولای شو د اساسي قانون د مسوده کوونکو په زمانه و پوهېږواو غواړو ددوې د هغه زمان پوهه چې د نړي څخه يې درلود، پر خپلې نړۍ يعني په خپلو اوسني شرايطو تطبيق کړو. خو مونږ دا دواړه نشو کولای. د اوريجنالیزم يا اصليت د نظريې پر اساس تاريخي اراده يو فکټ يا واقعيت دی، لکه يو فيزيکي شی چې تر خاورو لاندې پټ وي او بايد راوايستل شي. اما

د تاریخ پوهان پوهېږي چې په تیرې زمانې پوهیدل تل زمونږ د خپلو نظریاتو او لید محصول دی او دا هم ناممکنه ده چې مونږ د حال زماني په پیژندنې سره د تیرې زمانې په هکله سچه پوهه تر لاسه کړو. څنګه کولای شو د هغه څه د پوهې څخه چې مونږ یې د تیرو دوو پیړیو د پیښو په هکله لرو انکار وکړو؟

سربیره پردې هره تاریخي پوهه چې مونږیې لرو باید د هغه څخه په خپلو شرایطو کې چې د پخوا سره ډیر توپیر لري ګټه واخلو. کله چې د اساسي قانون د لمړي ضمیمې تسوید کوونکو او تصویب کوونکو د بیان او د مطبوعاتو د آزادۍ په هکله فکر کاوه، دوی صرفا" کولای شوای د بیان او د مطبوعاتو د آزادۍ په هکله یو فکر ولري، ځکه هغه وخت خبرې او نشرات د تفاهم یواځني موجود شکلونه وه، نو څنګه کولای شو د هغه زمان د پوهې څخه د نن ورځې د مقرراتو د پاره یعني د مثال په توګه د هغو پورنوګرافي نمایشونو په هکله چې ځینې ښځې او نارینه خپل بربنډ بدنونه د انترنت په صفحه کې ښیي او یا د هغه څخه په تلویزیون کې د تجارتي اعلانونو د پاره استفاده وکړو؟

ددې لوبو ټولنیزو بدلونونو په نظر کې نیولو سره محکمه نشي کولای د اساسي قانون د مسوده کوونکو ارادې ته مراجعه وکړي او یا هغه تطبیق کړي ځکه د اساسي قانون مسوده کوونکو نشوای کولای دداسې مسایلو په هکله چې دوی ورسره نه وه مخامخ او یا یې وربانديې هیڅ فکر نه وو کړی کومه اراده ولري. پر ځای یې باید محکمه په پراخ نظر هغو اصولو ته چې د اساسي قانون د یوې اصطلاح یا مادواو یا هم په مجموع کې د ټول اساسي قانون د رامنځ ته کیدو سبب ګرځیدلی دی پاملرنه وکړي. په سخت ګیرانه توګه د اصلیت یا اوریجنلیزم د نظریې څخه پلوي کول دا ستونزه هم لري چې دهرې مادې د پاره د مسوده کوونکو ارادې ته په ډیر تنګ او محدود نظر کتل کېږي. پر ځای یې ځیني اوریجنالستان او غیر اوریجنالستان چې د جوړونکو یا Constructivists په نامه یادېږي وایي، دا ممکن دی چې محکمه د اساسي قانون تفسیر د هغو اصولو له مخې وکړي چې د اساسي قانون د متن څخه منځ ته راغلي وي. د اساسي قانون پنځم او څورلسم تعدیل یا اصلاح ته د قانون د صحیحو تشریفاتو په برخه کې پاملرنه وکړئ چې وایي، د قانون د صحیح حکم نه پرته هیڅوک د ژوند، آزادی او یا مالکیت له حق څخه نشي محرومیدلای. داسي به تصور وکړو چې چه ددې مادې مسوده کوونکو او تصویب کوونکو ددې مادې د معني په هکله خپل خاص نظریات درلودل. ددې مادې د محتوې د پوهیدلو د پاره مونږ حتې د حقوقو د اعلامیې نورو موادو ته مراجعه کولای شو. د آزادی په مفهوم کې فیزیکي آزادي شامله ده او حکومت باید د یو چا آزادي پرته د منصفه هیئت د حکم څخه پداسې شرایطو کې چې مجرم په محکمه کې خپل د دفاع وکیل ولري او د شاهدانو په وړاندې د ځان دفاع وکړي او داسې نور، صلب نکړي. اما د صحیح قانوني جریان ماده به زایده او غیر ضروري وي که محکمه د ساتني په هکله یواځې د څلورم، پنځم او شپږم تعدیل یا اصلاح مادې له سره تکرار کړي. دا مواد د حکومت د مداخلو په مقابل کې د امریکاییانو د حقوقو د ساتنې د پاره عمومي اصول بیانوي. نو آزادي په دې عام مفهوم د خلکو هغه حق دی چې پرته له کومې مداخلې وشي کولای خپل د ورځني او شخصي ژوند چاري پر مخ بوزي او حکومت یواځې هغه وخت کولای شي دا آزادي صلب کړي چې د هغه د پاره یو مهم اساس او دلیل وجود ولري. لهذا د

صحيح قانوني بهيرد مفهوم په ټاکلو او تطبيقولو کې ستره محکمه کولاي شي هم د آزادی د محدودې معني څخه يعني د منصفه هييت لخوا د قضاوت کول، او هم د پراخې معني يعني د حکومت د مداخلو څخه آزاد اوسيدل، څخه استفاده وکړي. پراخه معنې ښايي په خاصه توګه ګټوره وي ځکه محکمه د داسې مسلو سره مخامخ ده چې د اساسي قانون مسوده کوونکو يې حتې فکر هم نشواي کولاي. علت يې دادی چې هغه تکنالوژي او هغه ټولنيز شرايط چې دا مسلې په کې منځ ته راغلي دي هغه وخت هيڅ نه وه.

پدې روش کې دوې ستونزې دي، لمړی هغه اصول لکه د نورو د مداخلې پرته د ژوند کولو حق نسبت هغو هلو ځلو ته چې د اصلي ارادې د ثبيت دپاره کېږي، کمزوره او ضعيف تاريخي اشتقاق لري. ټول هغه پرابلمونه چې د تاريخي ارادې د ثبيت په لاره کې شته هغه وخت زياتېږي که محکمه هڅه وکړي د اساسي قانون د موادو په هکله عمومي تفاهم منځ ته راوړي. دا پدې معني ده که محکمه وغواړي د اساسي قانون د ټولو مسوده کوونکو او تصويب کوونکو څخه پوښتنه وکړی چې تاسو د محاکمې د صحيح قانوني بهير مادې ته د راي ورکولو په وخت کې څنګه فکر کاوه؟ او بيا ددوي سره بحث ته ادامه ورکړي او پوښتنه وکړي چې ستاسو ددې فکر شاته کومې داسې پراخې طرحې او مفکورې چې تاسو هيڅکله ندي توضيح کړي موجودې وې؟ دغسې پوښتني د تاريخي ارادې د اصل څخه را جلا شوي او محکمې ته ددې امکان ورکوي چې د اساسي قانون د موادو معني بيله دې چې د اصلي ارادې په احاطه کې پاته شي، پخپله ولټوي.

کله چې محکمه پر دې لارې ګام کښېږدي، دوهم پرابلم سر راپورته کوي. د اساسي قانون د هرې مقررې د پاره دا ممکن دی چې اصول په بيلا بيلو سويو د کلي اصل په توګه چې په مقرره کې نغښتي دی وټاکو. په يوه خاصه مسله کې پريکړه يا فيصله به د کلي اصل په سويه پوري چې محکمه يې د يو څارونکي اصل په توګه معرفي کوي ترلې وي.ستونزه البته پدې کې ده چې هر اصل، که په تنګ يا پراخ مفهوم وي، د محکمې لخوا د هغه نظر پر اساس چې په يوه مسله کې د مقررې يو روښانه مفهوم څرګندوي، منځ ته راوړل کېږي. محکمه په خپل نظر کې د قانون د متن، تاريخ، د هغه د تفسير او معاصرو سياسي او ټولنيزو واقعيتونو څخه الهام اخلي. خطر البته پدې کې دی چې پر محکمه باندې د اساسي قانون په تفسير او د خپل نظر په ټاکلو کې غير له خپل سالم قضاوت او داچه بايد سياسي واقعيتونه په نظر کې ولري، بل هيڅ ډول څارنه وجود نلري.

آيا دا پدې معنې ده چې د اساسي قانون په تفسيرکې يواځې د قاضيانو نظر رول لري او دا چې دوی د اساسي قانون په تفسير کې يواځې خپل سياسي نظريات او خپل شخصي ترجيحات لټوي؟ ددې پوښتنې ځواب هو او نه دی. هو پدې معنې چې د دوی پريکړې او فيصلې د ساده او آسانه متنونو، تاريخي شواهدو او واقع بينانه يا آبژکتيف اصولو پر اساس نه کېږي. د اساسي قانون تفسير هرومرو د سترې محکمې په يو قاضي پورې اړه لري چې د څو بيلا بيلو بديلونو يا الترناتيفونو څخه يو انتخابوي او هغسې چې د ژوند په نور شيانو کې انتخاب کېږي، د قاضي انتخاب هم دده په احساس پوري چې د يوه صحيح

ځواب دپاره يې لري ترلې دی. او نه، پدې معني چې د سترې محکمې قاضي د فيصلې په کولو کې هغه بشپړه آزادي يا داسې يو اساس چې دی يې غواړي نلري. د سترې محکمې قاضيان مکلف دي د اساسي قانون متن په هغه شان چې په تاريخي لحاظ خلک په پوهيدلي دي او د هيواد سياسي او قانوني فرهنګ ايجاب کوي، په نظر کې ولري.

دلته مورږ بيا هغه ټکي ته رسېږو چې اساسي قانون په هماغه اندازه چې يوه خاصه ژبه او يو قانوني بهير دی د مقرراتو او حقوقو يوه مجموعه هم ده. د اساسي قانون کلمات او هغه ډول چې خلک په پوهيدلي دي، د اساسي قانون تفسير او داچه خلکو د محکمو په دننه او دباندې کي د هغه په هکله دلايل وړاندې کړيدي، دا ټول يوه ژبه جوړوي چې د سترې محکمې قاضيان بايد دهغه څخه د اساسي قانون په تفسير او تطبيق کې استفاده وکړي. دا ممکنه ده چې ډير مختلف شيان ووايو خو بيا هم د اساسي قانون په عنعنه کې پاته شو، اما د طبعي ژبو په شان بعضې شيان نشي افاده کيدلای ځکه د هغه دپاره کلمات نه وي او يا داچه غير لازم او نادرسته ښکاري.

د درېد سکات په دعوې کې محکمې د اساسي قانون د اصطلاحاتو اود اساسي قانون د تاريخي تعامل څخه استفاده وکړه تر څو تورپوستي د انسانيت څخه محروم او په اساسي قانون کې ددوی ځاي او موقعيت تور او بدنامه کړي، اما نن يوه محکمه دا کار نشي کولای.

يوه محکمه نن کولاي شي د يو مثبت عمل په طرفداری او يا پر ضد حکم وکړي ځکه په دواړو حالاتو کې به نتيجه د اساسي قانون د منل شوي بحث او استدلال په چوکات کې وي. حتي که مونږ ددې حکم سره موافق هم و نه اوسو او هغه غلط وبولو، مونږ به هغه لږ ترلږه د يود بحث وړ حکم په حيث و منو او دا به د نن ورځې يا د مدرنې زمانې د درېد سکات فيصله نه وي.

د اساسي قانون د تفسير کار که په جدي توګه او په ښه ايمان او باور تعقيب شي دا به د مهمو ټولنيزو مسايلو د پاره د اصولي بحث يوه نمونه وګرځي. دا بحث بايد په يوه مرحله کې د روانو او جدي سياسي اختلافاتو او جنجالونو څخه ليري وشي، پدې توګه به پر نتايجو باندي غور کول، د اصولو رامنځ ته کول او دنورو حالاتو په هکله د قياس څخه استفاده کول ډير آسانه کړي. دا هغه کارونه دي چې د قانون پروسه په کې ډيره ښه ده. د نورو د څارنې سربيره د اساسي قانون د تحليلولو له لارې انسان خپل شخصي تصورات او عقايد آزمايېلی شي، خو بايد وويل شي چې د اساسي قانون په هکله بحث پدې سويه پر مخ نه ځي بلکه ددې بحثونو څخه د خپلو تصوراتود بيان د پاره د وسيلې په توګه استفاده کېږي. څرنګه چې د اساسي قانون څخه بيلا بيل تعبيرونه کيدلاي شي، د سترې محکمې قاضيان او نورهم هغه تعبيرونه انتخابوي چې ددوی د حل د لارې سره چې دوی يې غواړي موافقت ولري بيله دې چې د تفسير کولو د جدي بهير سره مخامخ شي.

د اساسي قانون د تفسير د پاره د سترې محکمې د صلاحیت منبع کومه ده؟

دا مسله چې ستره محکمه څنګه اساسي قانون تفسیروي ځکه ډیره مهمه ده چې ستره محکمه د قضایي تجدید نظر صلاحیت لري. د اساسي قانون د معني او په یوه خاصه مسله کې د اساسي قانون د تطبیق د څرنګوالي په هکله وروستۍ خبره د سترې محکمې ده. (هره محکمه که فدرالي یا ایالتي وي دا صلاحیت او مسوولیت لري چې د اساسي قانون د مسَلو په هکله پریکړې وکړي. خو ستره محکمه کولاي شي پر ټولو دغو فیصلو او پریکړو تجدید نظر وکړي). مونږ د قضایي تجدید نظر د مسَلې سره دومره عادت شوي یو چې دا مونږ ته زمونږ د حکومتي جوړښت یوه طبعي، اجتناب ناپذیره او لازمي برخه ښکاري. اما پام وکړئ چې د سترې محکمې صلاحیت ډیر پراخ دی. جمهور ریس، کانګرس، ایالتي پارلمانونه، ګورنران (والیان) ایالتي محکمې، فدرالي او ایالتي اداري موسسې، عامه مامورین او ټول عادي وګړي د اساسي قانون په مسایلو کې د سترې محکمې د نهو قاضیانو تر حکم او فرمان لاندې دي. د اساسي قانون د تسوید په وخت کې په دومره اندازه پراخ صلاحیت په بل هیڅ ځای کې نه وواو حتي نن هم د نړۍ د هیوادونو په قضایي سیستمونو کې بې ساری دی.

جالبه داده چې سترې محکمې ته د قضایي تجدید نظر صلاحیت پخپله اساسي قانون ندی ورکړی. د اساسي قانون دریمه ماده وایي " د متحده ایالاتو قضایي قدرت باید یوې سترې محکمې او هغو کښتو محکمو ته محول شي چې کله کله د کانګرس په فرمان منځ ته راځي." دا واک او قدرت د قانون او مساوات په ټولو مسَلو او نوروبرخو کې چې د اساسي قانون په چوکات کې مطرح کېږي ورکړل شویدی. اما دا مقررات د سازمان او قضایي حوزې په برخه کې دي، چې ستره محکمه یا Supreme Court منځ ته راوړي، او Supreme د عالیترین او ستر په معنې ده، یعني په سلسلهء مراتب کې یو ځای ټاکي نه دا چې د محکمې صلاحیت وټاکي.

د اساسي قانون په چوکات کې مسَلو ته د غوږ نیولو او رسیدګۍ صلاحیت په حقیقت کې د قانوني قضاوت یو امتیاز دی چې ستره محکمه کولای شي بعضو مسَلو ته غوږ ونیسي، اما دا د صلاحیت د اعطا یا بخښش معني نلري چې ستره محکمه وشي کولاي د اساسي قانون په چوکات کې پر هغه له سره غور یا تجدید نظر وکړی. پنځمه ماده وایي " دا اساسي قانون او د متحده ایالاتو قوانین چې ترهغه وروسته منځ ته راځي باید د هیواد ستر قانون وي. " دا ماده مونږ ته نه وایي چې اساسي قانون د متحده ایالاتو د نورو

قوانینو په پرتله خاص امتیاز یا تقدم لري. په بل عبارت، اساسي قانون ترهغو قوانینو چې کانګرس یې تصویبوي لوړ دی، نو دا نه ستره محکمه، بلکه کانګرس، جمهور ریس او یا ایلتونه دي چې په قطعي توګه ددې صلاحیت لري د اساسي قانون معني او مفهوم وټاکي.

د قضایي تجدید نظر صلاحیت په ۱۸۰۳ کال کې د سترې محکمې د پریکړې پراساس د مادیسن Madisonپه مقابل کې د ماربري Marbury په قضیه کې منځ ته راغی. د اساسي قانون ټول پوهان پدې نظر دي چې د ماربري مسًله تر ټولو مهمه مسله ده چې سترې محکمې فیصله پرې کړیده اوپه ارزي چې دا قضیه دلته وځیړو. زمونږ په زمانه کې هم ډیرې مهمې قانوني پیښې شوي دي، خو د ماربري په مسله کې ډیرو مهمو شخصیتونو، د ګوندونو سیاستونو او د قانون په وړاندې دسیسو هم رول درلود.

د جورج واشنګټن د جمهوري ریاست د دورې په پای کې ملي سیاستونه د دوو ډلو تر نفوذ لاندې راغلل، یعني د فدرالست ګوند چې جان آدمز John Adams یې جمهور ریس وټاکه او د۱۷۹٦ څخه تر ۱۸۰۰ پورې یې پر کانګرس څارنه کوله، او د دموکراتیک جمهوري غوښتونکي ګوند چې نن د دموکرات ګوند په نامه یادېږي. دموکراتیک جمهوري غوښتونکي ګوند په کال ۱۸۰۰ کې په کانګرس کې لوی اکثریت وګاټه او توماس جفرسن Thomas Jefferson جمهوري ریاست ته انتخاب شو. کله چې د فدرالست ګوند ته روښانه شوه چې په اجراییه او مقننه قوه کې خپل کنټرول له لاسه ورکوي، هڅه یې وکړه خپل قدرت په قضاییه قوه کې ټینګ وساتي. جمهور ریس آدمز خپل د بهرنیو چارو وزیر جان مارشال John Marshal د سترې محکمې د ریاست مقام ته نامزد کړ. په کانګرس کې فدرالستانو یو نوی قانون تصویب کړ چې د هغه پر اساس د کښته فدرالي قاضیانو شمیرډیر او د سترې محکمې د قاضیانو شمیر لږ کړل شو (تر څو راتلونکي دموکرات جمهوري غوښتونکي ونشي کولاي کوم پاته خالي ځاي ډک کړي.) ددې نوي قانون پر اساس همدا شان د کلومبیا په ایالت کې د ٤٢ محکمو ریسان چې د سولې قاضیان بلل کیده نوي وټاکل شول.

جمهور ریس آدمز د خپل جمهوري ریاست په وروستیو ورځو کې خپل د ګوند وفاداره کسان په نوو کارونو وګمارل او سنا یا مشرانو جرګې هم دا ټاکنې تصویب کړې. یوه شپه مخکې لدې چې توماس جفرسن جمهور ریس شي، جان مارشال چې د جان آدمز د حکومت په آخره میاشت کې لا د بهرنیو چارو د وزیر په توګه په کار بوخت وو، د بهرنیو چارو د وزیر په توګه یې خپله عنعنوي وظیفه پر ځاي کړه او د متحده ایالاتو مهر یې د نوي قاضیانو پر ځګرونو ومښلول. د سهوې یا غفلت له کبله ځیني قاضیان په هغه شپه جان مارشال ته ور ونه پیژندل شول او په سبا یې نوی جمهور ریس جفرسن خپل د بهرنیو چارو وزیر جیمز مادیسن ته دستور ورکړ چې د نوو قاضیانو هییت ته اجازه ورنکړي. پدې ډله کې یو قاضي ویلیم ماربري وو چې د سولې د قاضي په توګه ټاکل شوي وو او لږ وروسته ډیر مشهور شو. ماربري د خپل نوي کار د پاره په ستره محکمه کې دعوې وکړه او هغه څه یې چې د Writ Mandamus په نامه یادېږي سترې محکمې ته وړاندې کړ. ریت ماندامس (د محکمې لخوا مهر شوی لیک) د محکمې هغه فرمان دی چې په هغه کې مامور ته د یو کار یا وظیفې د کولو امر ورکول کېږي. که څه هم ماربري خپله

دعوې په ۱۸۰۱ کال کې محکمې ته وړاندې کړه، خو کانګرس چې د دموکرات جمهوري غوښتونکو په لاس کې وو د سترې محکمې د کار دوره په ۱۸۰۱ او ۱۸۰۲ کال کې لغوه کړه او پدې دلیل پردې مسلې باندې فیصله تر ۱۸۰۳ کال پورې وځنډیده. بالاخره د سترې محکمې ریس جان مارشال چې د خپل عصر اخلاقي حساسیتونو ته یې ډیره پاملرنه درلوده پر دې مسَلې فیصله وکړه او په دعوې کې یې د خپل رول او دا چې ده بیا د قاضي په توګه د همدې دعوي په حلولو کې هم رول و لوباوه تر منځ کوم تضاد و نه موند.

د ماربري د دعوې په فیصله کې، مارشال او دده سترې محکمه د یوه پیچلي او غامضې مسلې سره مخامخ شول. که مارشال د ماربري د مقرری په هکله حکم نه واي کړی، دا پدې معنې وه چې دی د اجراییه قوې قدرت ته تسلیم شویدی. دا هم دده د فدرالستي اصولو او هم دده ددې عقیدې سره چې دی باید د قضاییه قوې قدرت هم څرګند کړي په تضاد کې وو. اما د سترې محکمې صلاحیت لا په ښه توګه نه وو ټینګ شوی، نو که ده حکم کړی وای چې ماربري ته باید وظیفه وسپارل شي، جیفرسن او میدیسن ښایي دده ددې حکم د منلو څخه انکار کړی وای او په دې توګه به د اساسي قانون بحران منځ ته راغلی وای. د مارشال ابتکاري فکر پدې کې وو چې ددې بحث څخه یې پښه وویستله او د سترې محکمې د پاره یې د قضایي تجدید نظر صلاحیت وغوښت او ددې صلاحیت څخه یې پداسې توګه استفاده وکړه چې ماربري ته یې منل شوې وظیفه ورنه کړه.

مارشال لمړی په محکمه کې داسې استدلال وکړ چې د ماربري د ټاکنې بهیر وروسته له هغه چې جمهور ریس دده د ټاکنې اسناد لاس لیک کړل تکمیل شو. پدې مرحله کې د بهرنیو چارو د وزیر په وظایفو کې دا شامل وو چې مهرونه د نوو قاضیانو پر ځګرونو ومښلوي او که مار شال دا کار د ماربري په برخه کې نه وو کړی، دا د ماربري پر حالت او موقف کوم اغیز نه درلود. وروسته څرنګه چې ماربري حق درلود خپله نوې وظیفه اشغال کړي، د قانون په چوکات کې مناسب علاج دا وو چې مانداموس مستقیما" د بهرنیو چارو وزیر ته لېږل شوی وای. مسله په دریم ګام کې رامنځ ته شوه او هغه دا چې آیا ستره محکمه ددې علاج د لټولو د پاره مناسب ځای وو؟

د اساسي قانون دریمه ماده سترې محکمې ته په لمړي ګام کې په هغو دعوو کې چې یو طرف یې خارجي دپلوماټ یا یو ایالت وي د قضاوت کولو صلاحیت ورکوي (یعنې چې په لمړي مرحله کې پر یوې دعوې غور وکړي). په ټولو نورو دعوو کې سترې محکمه هغه وخت صلاحیت لري چې د کښتو محکمو د حکم په هکله د استیناف غوښتنه شوې وي. د ۱۷۸۹ کال قضایي حکم د سترې محکمې د قضاوت ساحه پراخه کړه او صلاحیت ورکړل شو د فدرالي مقاماتواو مامورینو پر ضد د محکمې په امضا او مهریادداشتونه یا مانداموس صادر کړي. ماربري وویل چې د مادیسن په مقابل کې دده د دعوې په برخه کې د قضایي حکم پر اساس سترې محکمه د قضاوت کولو صلاحیت لري. د سترې محکمې ریس جان مارشال وروسته لدې چې د ډیرو خلکو نظریات یې واوریدل حکم وکړ چې په قضایي قانون کې په لمړي سر کې د محکمې د قضاوت کولو صلاحیت په غیر مجازه توګه ډیر پراخ شوی او د هغه صلاحیت د حدودو څخه چې دریمې مادې ورکړیدي وړاندې دی او همدا وجه ده چې محکمه نشي کولای د

ماربري غوښتنې ته ځواب ووايي، ځکه پدې مسًله کې د غور کولو صلاحيت نلري. دې پريکړې د جمهوري غوښتونکو انديښنې ليرې کړلې خو ددې موضوع اهميت پدې کې وو چې محکمې ځان ته ددې صلاحيت قايل شو چې د اساسي قانون سره د قضايي قانون يا د کانګرس دهر بل قانون د موافقت په مسله کې ستره محکمه نهايي مرجع ده. پدې توګه د نظرياتو وړاندې کول پاي ته ورسيد او د محکمې صلاحيت په بشپړه توګه و منل شو.

د مارشال د پاره د محکمې دا صلاحيت چې د اساسي قانون سره د نورو قوانينو د موافقت مسله وځيړي يوه آسانه مسله وه. خلکو اساسي قانون درداسې يو سند په توګه منځ ته راوړ چې بنيادي وي، ستراوعالي وي، او تل پاتې قانون وي. د اساسي قانون د طرحې يوه برخه داده چې فدرالي دولت دمحدودو صلاحيتونو يو دولت دی. د دولت څانګې يواځې هغه صلاحيتونه اجرا کولای شي چې اولس په اساسي قانون کې دوی ته ورکړيدي. لهذا يو قانون چې د اساسي قانون پر خلاف وي يا د هغه قدرت څخه وړاندې وي چې په اساسي قانون کې پيشبيني شويدی، بي اعتباره دی.په دريمه ماده کې د محدود قصايي صلاحيت ورکول هر اړخيز وو او کانګرس د اساسي قانون له مخې ددې صلاحيت نه درلود چې د سترې محکمې د قضاوت ساحه پراخه کړي او د مانداموس عمليه په کې شامله کړي.

تر اوسه هر شی ښه وو، مهمه مسله په راتلونکي مرحله کې د نووو دلايلو په وړاندې کيدو سره څرګندېږي. اساسي قانون يو بنيادي قانون دی، يعني يو قانون دی او د قانون تفسير او تطبيق د محاکمو عنعنوي وظيفه او د کار ساحه ده.

په تاکيد سره وييلی شو چې د قضايي څانګې وظيفه داده چې ووايي قانون څه شی دی. هغه کسان چې په يوه خاصه مسله کې يو قانون تطبيقوي بايد د ضرورت له مخې هغه قانون تفسير کړي. که دوه قانونه يو دبل سره په تضاد کې وي، محکمه بايد د هر قانون د استفادې په برخه کې پريکړه وکړي. همدا شان که يو قانون د اساسي قانون سره په اختلاف کې وي، او يا هم قانون او هم اساسي قانون دواړه په يوه مسله کې د تطبيق وړ وي، نو محکمه بايد يا يواځې د قانون پر اساس په موضوع کې حکم وکړي او اساسي قانون پرېږدي او يا هم د اساسي قانون پر بنا قضاوت وکړي او قانون پرېږدي. لهذا محکمه بايد پريکړه وکړي چې په يوه خاصه مسله کې د کوم قانون څخه استفاده درسته او مناسبه ده. دا د قضايي وظايفو ډير مهم اساس دی.

پدې توګه مارشال په ښه توګه دا منطقي استدلال وکړ چې اساسي قانون يو قانون دی، محکمې قانون تفسيروي، لهذا محکمې د اساسي قانون تفسير هم کوي. خو هغه څه چې مارشال ته څرګند وو نورو ته څرګند نه وو. هغه قانون چې محاکم يې په عنعنوي توګه تفسيروي او هغه قوانين چې د اساسي قانون په بطن کې دي ښايې په بشپړه توګه يو له بل سره توپير ولري. که اساسي قانون يو بنيادي قانون دی، نو بايد دهغه سره د يو عادي قانون يا يوې اساسنامې په توګه چلند ونشي. او څرنګه چې اساسي قانون يو بنيادي قانون دی، نو د هغه تفسير هم نه بايد د دولت نورو څانګو ته پرېښودل شي. کانګرس هغسې چې د قضايي قانون په هکله چلند وکړ، کولای شي د اساسي قانون سره د يو قانون د مطابقت په هکله چې

پخپله يې منځ ته راوړی دی، قضاوت وکړي او دا د محاکمو د پاره د اساسي قانون ددې تدبير سره چې هر قضاوت نهايي قضاوت وبولي هيڅ تناقض نلري.

سره لدې چې د ماديسن پر ضد د ماربري په دعوې کې منطقي دقت لږ وو، دا لمړۍ ځل وو چې د قضايي تجديد نظر اصل په رسمي توګه او په ډير قوت سره اعلان شو. که څه هم ستري محکمې د ماربري تر مسلې ډير کلونه وروسته هم د خپل دې صلاحيت څخه چې د کانګرس لخوا تصويب شوي قوانين د اساسي قانون ضد وبولي ډيره لږ استفاده وکړه يعنې تر ۱۸۵۷ کال پوري يې چې د درید سکات مسله منځ ته راغله کوم فدرالي قانون بې اعتباره اعلان نکړ، د ستري محکمې دا صلاحيت د نورو څانګو لخوا تاييد او ومنل شوه. يا يې ښايي علت دا وو چې ددې صلاحيت څخه ډير لږ استفاده کيده او پدې توګه يې ريښه ژوره شوه، ځکه د نولسمې پيړۍ په سر کې دا محکمه تر سخت فشار او حملو لاندې وه.

ستري محکمې پر قضايي مسَلو باندې د تجديد نظر صلاحيت هغه وخت پياوړی کړ چې همدا واک يې د ايالتي قوانينو په برخه کې هم تر لاسه کړ. ستري محکمې په کال ۱۸۱۰ کې د پيک په مقابل کې د فليچر په دعوې کې د لمړي ځل د پاره يو ايالتي قانون پدې دليل بې اعتباره وباله چې دا قانون پرهغو مځکو چې په چلبازی او د ټګۍ له لارې لاس ته راغلې وه د مالکيت استحقاق فسخ کاوه او دا يې د قرارداد د فقرې پر ضد وباله. وروسته په ۱۸۱٦ کې د هنتر پر ضد د مارتين په دعوي کې چې د اجارې پر موضوع وه يعني بيا د مځکې دعوې وه د ويرجينيا د ايالت د مرافعې محکمې د يوه طرف په ګټه فيصله وکړه، اما کله چې دعوې د استيناف د پاره ستري محکمې ته وړاندې شوه، ستري محکمې بل ډول فيصله وکړه. دويرجينيا محکمې پدې قضيه کې د ستري محکمې دصلاحيت د منلو څخه ډډه وکړه او وې ويل چې پدې قضيه کې پخپله فيصله کولای شي او فدرالي قضايي قانون چې ستري محکمې ته يې د فيصلو د ماتولو قضايي صلاحيت ورکړيدی، د اساسي قانون ضد دی. کله چې دا مسلًه بيرته ستري محکمې ته راجع شوه د ستري محکمې ريس جوزف ستوري د اساسي قانون پر دې صلاحيت بيا ټينګار وکړ. د اساسي قانون په تصويبولو او منلو ايالتونو د خپل حاکميت د ځينو برخو څخه د فدرالي حکومت په ګټه صرف نظر وکړ. په فدرالي قضايي صلاحيت کې ټول هغه مسايل چې د اساسي قانون د تفسير او د تفوق او لوړوالي د برخې سره اړيکې لري فدرالي قانون تر ټولو اوچت کوي. بالاخره په کال ۱۸۲۱ کې د ويرجينيا په مقابل کې د کوهن په دعوي کې ستري محکمې خپل دا صلاحيت نور هم پراخ کړ او د ايالتونو د جنايي تعقيب پر مسايلو څارنه يې هم د خپل صلاحيت په ساحه کې داخله کړه. تر هغه چې د ايالاتو قانوني اجراات به په فدرالي محکمه کې تر غور لاندې نه نيول کيده، ايالتونو کولای شواي فدرالي قانون ته پاملرنه ونه کړي اوهر هغه چا ته هم چې په اساسي قانون کې پر شاملو حقوقو به يې ټينګار کاوه سزا ورکړي.

د۱۸۳٤ کال په پای کې چې د جان مارشال د کار دوره د ستري محکمې د ريس په توګه پاې ته ورسيده، د ستري محکمې د پاره اساس ايښودل شوي وو چې وشي کولای څارنه وکړي چې آيا د ايالتونو او د فدرالي اورګانونو لخوا رامنځ ته شوي قوانين او د اجرايي قوي د مربوطو کسانو اعمال او اجراات د

اساسي قانون سره مطابقت لري او که نه. د دولت نورې څانګې په بيلا بيلو سويو ددې څخه نه وه خوشحاله چې ستړې محکمې دا صلاحيتونه خپل کړيدي، اما دا اصل نن په بشپړه توګه منل شويدی.

اوس پام وکړي د بالقوه او بالفعل مقاومت دوو څرګندو مثالونو او د هغه عبث والي ته. د پوهنې د رياست پر ضد د براون په دعوې کې د ستړې محکمې دا فيصله چې په عامه ښوونځيو کې بايد نژادي توپير او جلاوالی نه وي په ځينو جنوبي ايالتونو کې درسمي او غير رسمي مقاومت سره مخامخ شو. د مثال په توګه د ځينو جنوبي ايالتونو پارلمانونوفيصلې وکړې او د ستړې محکمې دا فيصله يې بې اعتباره وبلله او ددې د پاره چې ددې کار د اغير څخه مخنيوی وکړي داسې پريکړه يې وکړه چې هغو ښوونځيو ته چې په هغه کې نژادي جلا والی نه وو د مالي مرستو د ورکولو څخه ډډه وکړي. خو فدرالي محکمو بيا هم په هر ايالت کې د خپلې فيصلې د اجرا او تطبيق غوښتنه کوله او دا مسله يې تعقيبوله. په ۱۹۵۸ کال کې د آروون پر ضد د کوپر په دعوې کې محکمې نورې ټولې هلي ځلي رد کړې او بيا يې د ماربري پر اصل ټينګار وکړ چې وايي " فدرالي قضايي صلاحيت د اساسي قانون په شرح او سپړنه کې تر ټولو اوچت دی او دغه اصل ته تل هم ستړې محکمې او هم ټول هيواد زمونږ د قانوني سيستم د يو حتمي او دايمي ځيرې په توګه احترام کړيدی " د ستړې محکمې د فيصلې په مقابل کې د جنوبي ايالاتو مقاومت د امريکا د قانوني نظام دپاره دومره لوي يو ګواښ وو چې د ستړې محکمې ټولو نهو قاضيانو هر يوپه فوق العاده توګه سره خپل نومونه د قضايي حکم لاندې وليکل.

د واټر ګيټ په وخت کې محکمې د يو لړ مسايلو سره مخامخ شول چې د جمهور ريس نيکسن او دده د نژدې کسانو د غير قانوني کارونو د تحقيقاتو په جريان کې منځ ته راغلل. په ۱۹۷٤ کال کې د نيکسن په مقابل کې د متحده ايالاتو په دعوې کې د مثال په توګه محکمې فيصله وکړه چې دا د محکمې صلاحيت دی او نه د جمهور ريس چې د هغو اسنادو او شواهدو د اعتبار په هکله پريکړه وکړي کوم چې خاص څارنوال يې د واټر ګيټ په قضيه کې په لټه کې دی، او دا د جمهور ريس، هغسې چې ادعا کېږي، کوم اجراييوي امتياز ندی. پر داسې اسنادو او شواهدو باندې ځيرنه يوه قضايي وظيفه ده چې د اساسي قانون دريمې مادې محکمو ته محول کړيده او جمهور ريس پدې مسله کې مجبوره وو د محکمې حکم او قضاوت ته غاړه کښېږدي. خو هغه څه چې د محکمې تر اعلاميې يا رسمي څرګندونو ډير د پاملرنې وړ وګرځيد دا وو چې جمهور ريس نيکسن د محکمې دا حکم ومانه. که څه هم د پيښو لړې ددې باعث وګرځيد چې جمهور ريس په ډيره بد نامۍ د جمهوري رياست څخه استعفې وکړي، اما جمهور ريس نشوای کولای د قضا لخوا د حکومت پراعمالو باندې د څارنې او قضاوت مخنيوی وکړي.

سټره محکمه څه وخت د اساسي قانون پر مسلّو غور کولای شي؟

پر حکومتي اعمالو باندې د ستړې محکمې د څارنې صلاحيت ډير پراخ دی. هغسې چې مو په مخکني فصل کې وليدل، دا محکمه کولای شي د کانګرس يا د ايالتي پارلمان قانون بي اعتباره وبولي، د يو ايالت پر جنايي تعقيب څارنه وکړي او يا د جمهور ريس څخه وغواړی قضايي بهير ته تسليم شي. اما سټره

محکمه څه وخت ددې صلاحیت څخه استفاده کولای شي؟ د مثال په توګه فرض کړئ چې د یو ایالت پارلمان یو قانون تصویب کړي او د سقط جنین د یو کلینیک فعالیت غیر قانوني و بولي. آیا د کلینیک مالک کولاي شي مخکې لدې چې ایالت دا قانون تر اجرا لاندې ونیسي ادعا وکړي چې دا قانون د اساسي قانون سره په تضاد کې دی؟ آیا یوه امیدواره یا حامله ښځه کولاي شي ددې قانون پر ضد دعوې وکړي؟ یا یوه ښځه چې ښایي امیدواره یا حامله شي دا ډول دعوي وکړي؟ او یا هم یو بل څوک چې ددې قانون سره موافق ندی، دعوې وکړي؟

دلته دوې مسلې مطرح دي : څوک د اساسي قانون سره د یو قانون د نه مطابقت ادعا کولای شي او کله دا دعوې مطرح کولاي شي. دې پوښتنو ته د اصولو یوه مجموعه چې Justiciability ورته وایي ځواب ورکولای شي.(یعنې یوه موضوع چې پدې وارزي چې محکمه غور پرې وکړي.)

د justiciability د پاره لازمه ده چې یوه موضوع مخکې لدې چې فدرالې محکمې ته وړاندې شي باید د داسې یو حقیقي جنجال په باره کې وي چې معمولا" محکمې رسیدګي ورته کوي او د حل امکانات یې لري. اما ددې جنجال حلول باید ددې باعث ونه ګرځي چې محکمه د دولت د نورو څانګو د صلاحیت په ساحه کې ننوځي.

مونږ ویلاي شو چې هر سړی کولاي شي د محکمې نظر د اساسي قانون سره د یو قانون د مطابقت په هکله وپوښتي او محکمه به هم ځواب ورکړي. د جمهوریت په لمړیو کلنو کې به جمهور ریس جورج واشنګټن بعضا" د سترې محکمې د قاضیانو څخه د اساسي قانون سره د یو قانون او یا د اجراییه قوې د ځینو اقداماتو د مطابقت په هکله پوښتنې کولې او قاضیانو به ځواب ورکاوه.

نن ډیر ایالتي محکمې د ایالت د اساسي قانون له مخې صلاحیت لري خپل رسمي مشورې یا Advisory Opnion خپرې کړي. (Advisory Opinion د یو قاضي نظر دی چې په رسمي توګه یې د یو حقوقي موضوع په هکله څرګندوي، ولي کوم مکلفیت منځ ته نه راوړي)

دا ډول مشورتې نظریات ښایي اغیزمن وي، که یو قانون د اساسي قانون سره مطابق و نه ګڼل شي نو تر دې چې قانون تصویب شي، د دعوې د ترتیب بهیر پیل شي او مسله د دعوې په شکل محکمې ته وړاندې شي، والي یا ګورنر په ډیره آسانۍ سره کولاي شي د ایالتي سترې محکمې څخه وغواړي مخکې له مخکې د اساسي قانون سره ددغه قانون د مطابقت پر عمومي پوښتنې حکم وکړي.

اما فدرالي محکمې یواځې کولای شي حقیقي جنجالونه او دعوې حل و فصل کړي. په ۱۷۹۳ کال کې سترې محکمې قیصله وکړه، پداسې حال کې چې یو حقیقي نزاع یا جنجال موجود نه وي دا محکمه د اساسي قانون له مخې ددې صلاحیت نلري مشورتي نظریې ورکړي. په تاریخي لحاظ محکمې تل ددې د پاره وې چې د سیالو او متخاصمو خواوو جنجال او دعوې ته غوږ ونیسي، اودوی هغه وخت د مسلې د حل په هکله حکم کوي چې د دعوې ټول اړخونه و څیړي او د خاصو حقایقو پر بنا قانوني اجراأت وکړي. محکمې ددې د پاره ندي چې د قانون مجردو پوښتنو ته ځواب ووایي. که یوه محکمه مشورتي نظر

ورکړي، نشي کولاي په يوه مسلۀ کې ټول حقايق او دلايل تر لاسه کړي او په خاصه توګه د اساسي قانون په مسًلو کې هره پريکړه چې وشي هغه به تر هغه چې لازمه وي ډير پراخ او عمومي وي.

که څه هم فدرالي محکمې مشورتي نظريات نشي ورکولای، اما اظهاري يا اخباري قضاوتونه يا declarative judgments کولای شي. که يوه حقيقي دعوې وجود ولري، يوه محکمه ښايي يو اخباري يا اظهاري قضاوت وکړي او په هغه کې به څرګنده کړي چې د سيالو خواوو حقوق څه دي بيله دې چې د سيالو خواوو څخه د پيسو د ورکولو غوښتنه وشي او يا کوم بل حکم وشي. اما که حقيقي دعوې او جنجال نه وي، محکمه نشي کولاي د سيالو خواوو حقوق وټاکي.

په فدرالي محکمو کې د justiciability نظريه يا (د دعوې ارزښت درلودل) د اساسي قانون په دريمه ماده کې يو خاص قانوني اساس لري، يعني فدرالي محکمو ته دا قانوني صلاحيت ورکوي چې دعواوو او شخړو ته غوږ ونيسي اودا پدې معنې ده چې محکمې ښايي يواځې حقيقي حقوقي شخړو او جنجالونو ته رسيدګي وکړي. سترې محکمې د اساسي قانون په خپل جوړښت کې چې مختلف صلاحيتونه د دولت درو څانګو ته ورکوي يو بل محدوديت هم تشخيص کړيدی.. ستره محکمه همدا شان دې نتيجې ته هم رسيدلې ده او دا عاقلانه بولي چې د ځينو مسلو د اوريدو څخه ډډه وکړي او پدې توګه يې هغه حدود چې په قانوني سيستم کې د محکمې پر واک او رول وضع شويدی په نظر کې نيولی دی.

د شخړې د نظريې يا controversy doctrine پر اساس بايد په يوه حقوقي ادعا کې يو حقيقي شخړه او جنجال موجود وي چې په ډيره روښانه او غير مبهمه توګه د حقوقو په برخه کې فتوې يا حکم ته اړتيا ولري. ددې لپاره بايد څو شرطونه په ځاي شي : دا شخړه يا جنجال بايد حقيقي وي او د دعوې د پاره بايد سيالې خواوې وجود ولري. هغه لوری چې ادعا کوي بايد ددې کار د پاره دريځ standing ولري، پر دې مسلې بايد په سم وخت کې فيصله وشي، يعني نه تروخت دمخه (چې د پوخوالي يا بشپړواليripeness په نظريه کې نغشتې ده) او نه هم ډير ناوخته فيصله وشي (يعنې د ناوخته يا ځنډيدلي حکم نظريه يا mootness)

کله چې د مثال په توګه يو لوری دسيسه يا ساخت و بافت و کړي او محکمې ته جعلي دعوې وړاندې کړي، نو په هغه صورت کې کومه مسله يا شخړه نشته. د جانسن په مقابل که د متحده ايالاتو دعوې چې په ۱۹۴۳ کال کې وشوه، يو زميندار وغوښتل چې د کرايې د کنټرول مطابقت د اساسي قانون سره چې د دوهمې نړيوالې جګړې په اضطراري حالت کې تحميل شوی وو تر پوښتنې لاندې راولي. دې زميندار دعوې ترتيب کړه، د عرض کوونکي د پاره يې وکيل ونيو او عارض يې په بل نامه په محکمه کې ثبت کړ او د دعوې خرڅ او خطرونه يې په غاړه ونيول. عارض تر هغه چې د دعوې جريان يې په ورځپاڼه کې ولوست، په حقيقت کې ددې دعوې څخه په بشپړه توګه بيخبره وو. څرنګه چې دا يوه دسيسه او د يوه نفر ساخت و بافت وو او کومه حقوقي مسله يا شخړه په منځ کې نه وه، سترې محکمې دا دعوې رد کړه.

دريځ ياstanding داسې يوه مفکوره ده چې د دعوي د يو لوري څخه غواړي په محکمه کې ودرېږي او خپله ادعا او غوښتنه څرګنده کړي. په بل عبارت که يوه دعوې او شخړه وجود ولري آيا عارض د دعوې

د کولو د پاره مناسب سړی دی؟ دریځ په ځینو مسایلو کې مهمه نده لکه د شخصي لورو تر منځ په دعوې کې (د موټر د ټکرد قرباني یقینا" په ګټه ده چې د بل موټر پر چلوونکي دعوي وکړي) یا د اساسي قانون په مسلو کې چې د جنایي تعقیب په نتیجه کې منځ ته راځي (متهم باید وشي کولای د پولیس په مقابل کې چې ده ته یې لازم حقوقي خبرداری یا میراندا وارننګ ندی ورکړی ودرېږي) (میراندا وارننګ Miranda warning د اساسي حقوقو هغه څرګندونې دي چې د پولیسو مامور یې باید د یو شخص د نیولو یا توقیفولو په وخت کې ورته ولولي او هغه دا چې تورن نفر باید چپ پاته شي ځکه دده دهرې خبرې څخه په محکمه کې دده پر ضد استفاده کیدلاي شي او دی د دفاع وکیل د درلودلو حق لري او داسې نور...ژ) یا کله چې یو څوک وغواړي د حکومت د یو سیاست او یا د یو بل حکومت د اقدام پر ضد دعوې وکړي، فدرالي محکمې به د داسې کسانو د دریځ ملاتړ وکړي او دوی به دې کار ته وهڅوي. د دریځ د موضوع تعریف محکمې ته ددې امکان ورکوي چې فدرالي محکمو ته د خلکو د مراجعه کولو توان چې غواړي د حکومت د هغو اقداماتو پر ضد چې ښایي د اساسي قانون او یا د نورو قوانینوسره تناقض و لري دعوي وکړي، زیات او یا محدود کړي.

د دریځ په مسله کې د اساسي قانون د غوښتني هسته پدې کې ده چې که عارض ژوبل شوي وي او یا د ژوبل کیدو د تهدید سره مخامخ شوي وي. که یو څوک د جزا د قانون له مخي تر محاکمې لاندې وي، محکمه دریځ ته اړتیا لري. د حکومتي اقدام په نتیجه کې د یو چا اقتصادي ګټو ته تاوان یا د تاوان تهدید هم دریځ ته اړتیا لري. که د یو کارفرما څخه د مثال په توګه وغوښتل شي چې د یوې نوي مقررې له مخې د ځینو کارکوونکو یا مستخدمینو لاس د کار څخه واخلي، مستخدمین او کارفرما د نوي مقرري پر ضد د دعوې د پاره دریځ ته اړتیا لري. زیات ستونزمنې مسلې هغه وخت منځ ته راځي چې د حکومت د یو اقدام پر ضد دعوي وشي او د عارض ژوبله مشخصه او څرګنده نه وي.، یا یو څوک چې د حکومت اقدام د اساسي قانون پر ضد بولي، یا یو مالیه ورکوونکی چه د حکومت لخوا د پیسو د مصرف څخه شکایت کوي او یا د چاپیریال ساتني یو پلوی د چاپیریال ساتني د یوې مقررې پر ضد دعوي وکړي. پداسې حالاتو کې محکمه د عارض څخه غواړي چې خپله ځانګړې ژوبله یا رسیدلی تاوان چې د عامو خلکو سره توپیر ولري وښیي. که هر څوک یا هر مالیه ورکوونکی وشي کولای د اساسي قانون سره د هربل قانون د مطابقت مسله او یا د حکومت د هر مصرف په هکله محکمې ته مراجعه وکړي، نو د محکمو ټول وقت به دمجردو پوښتنو په ځواب ویلو تیر شي. لهذا نو، که څه هم مونږ ټول دا دلچسپي لرو چې حکومت د اساسي قانون اطاعت وکړي، خو په محکمه کې پدې هکله یواځي هغه څوک عارض کیدلاي شي چې خپل ضرر او ژوبله چې د ټولو نورو خلکو او مالیه ورکوونکو څخه ځانګړي وي څرګنده کړي.

پوخوالي با بشپړوالي یا ripeness او یا د حکم ځنډ mootness په محکمه کې د دعوې هغه ضمانتي اجزا ده تر څو یوه دعوي په محکمه کې مخکې له دې چې خپل بهیر په بشپړه توګه طی کړي ډیر ژر فیصله نشي او یا هم په کې ډیر ځنډ رانشي. د پوخوالي یا بشپړوالي اصل محکمې ته ددې امکان ورکوي

چې ددعوې پر ټول بشپړبهير غور وکړي او د خاصو حقايقو پر بنا د قانون د تطبيق په هکله پريکړه وکړي. په ۱۹٤۷ کال کې د ميچل پر ضد د عامه متحدو کارګرانو په دعوې کې د مثال په توګه فدرالي مامورينو ونشواي کولای د يو قانون د تطبيق مخنيوی وکړي کوم چې دوی ته يي په سياسي ادارو يا سياسي مبارزو کې د برخې اخيستنې اجازه نه ورکوله، ځکه محکمه نه پوهيدله چې دوی به په څه ډول سياسي فعاليت کې برخه واخلي. څرنګه چې مکمل حقايق نه وه ټول شوي او بايد شوي وای، محکمه مجبوره وه د داسې يو موضوع په هکله چې بايد قانوني فيصله پر شوې وای، مشورتي نظريه وړاندې کړي.

د حکم د ځنډ يا mootness موضوع برعکس ده او هغه دا چې محکمې ته د فيصلې د پاره يوه دعوې ډيره وروسته وړاندې شوي وي. محکمې پر داسې مسًلو چې يو حقيقي جنجال نه وي حکم نه کوي، که څه هم يو وخت د يو حقيقي جنجال په توګه محکمې ته وړاندې شوي وي. که يو بندي د توقيف څخه خوشې شوی وي، يا يو حکومتي ادارې د يوې مقررې د تطبيقولو څخه لاس اخيستی وي او يا يو عارض وفات شوي وي، هغه قانوني هلي ځلي چې د حکومت د اقداماتو پر ضد شوي وي نورد عدم امکان تر ساحې لاندې راځي، يعنې نور يوه دعوې يا جنجال وجود نه لري. اما د حکم ځنډ يا mootness د اساسي قانون پر ضد د حکومت پر ځينو اقداماتو باندې د اغيزمن غور مخنيوی کوي پدې دليل چې يا ډير وخت پرې تير شوی وي او يا د حکومت د لاس وهنې په نتيجه کې شاته لويدلی وي. همدا وجه ده چې سترې محکمې ددې کار د مخنيوي دپاره څو استثناوې ايښې دي. که يوه اميدواره يا حامله داره ښځه د ايالت د يو قانون پر ضد چې د سقط جنين مخنيوی کوي دعوي وکړي او هغه د اساسي قانون ضد وبولي، د ماشوم زېږيدنه سترې محکمې ته ددې د دعوې وړاندې کول ځنډوي. د حامله داری وخت يواځې نهه مياشتې دی او په ستره محکمه کې دعوې کول ډير وخت په بر کې نيسي. ددې بې نظمۍ د مخنيوي د پاره سترې محکمې پداسې مسًلو کې د حکم د ځنډ د اصل د پاره چې د تکرار په صورت کې هم د غور او وارسۍ څخه پاته کېږي، يوه استثناً منلې ده. د سقط جنين مربوط دعواوې د حامله داری د وخت د محدود والي له کبله تل له غور او بررسې څخه پاته کېږي، اما د ايالت اقدام چې د سقط جنين د کلينيکونو پر فعاليت بنديزونه لګوي او يا يې تر تعقيب لاندې نيسي تل تکرارېږي، لهذا د حکم د ځنډ اصل د قانوني دعوي لاره نه بندوي.

د دعوي د ارزښت يا د justiciability د نظريې اغيز د قضايي څانګې او د دولت د نورو څانګو تر منځ د قواوو تفکيک د سياسي مسلې په نظريه کې تر ټولو ډيره ښکاره ليدل کېږي. (د سياسي مسلې يا political question څخه مطلب دادی چې يوه قانوني مسله په طبعت کې دومره سياسي وي چې محکمه پر هغې مسلې باندې د حکم کولو څخه ډډه کوي او حل يې مقننه او يا اجراييه قوې ته محلولوي. ژ) څرنګه چې اساسي قانون د دولتي چارو ټولې برخې تنظيموي، کولای شو تصور وکړو چې د دولت پر چارو باندې قضايي څارنه يا judicial review هم د دولت د فعاليت پر ټولو برخو نظارت کوي. آيا داسې مسايل هم شته چې محکمه يې بايد د فيصلې د پاره کانګرس او يا جمهور ريس ته محول کړي؟ د مادیس پر ضد د

ماربري د دعوي منطق څرګندوي چې ستره محکمه بايد د اساسي قانون سره د مطابقت پر هرې مسلې غور وکړي، مګر داچه پخپله پريکړه وکړي اود فيصلې صلاحيت يوې بلې څانګې ته محول کړي. د بلې خوا محکمه په خپل عمل کې د عملي نظره د يو قضايي ارګان په حيث او د سياسي مسلې په توګه د خپلو مسوولیتونو په ارزیابۍ کې نسبت نورو څانګو ته محدود دی. لهذا نو ښايي محکمه پر بعضو مسلو د فيصلې د کولو څخه ډډه وکړي که څه هم د اساسي قانون له مخې پر هغو مسلو د حکم کولو صلاحيت لري.

ددې د پاره چې دا موضوع په يو مثال روښانه کړو، د ويتنام د جګړې په وخت کې ډيرو خلکو محکمې ته مراجعه وکړه او غوښتل يې چې دا جګړه غير قانوني وګڼل شي.، ځکه کانګرس هيڅکله په رسمي توګه د جګړې اعلان نه وو کړی او يا حکومت پرې نه ښودل شي چې د محاربې ځينې برخې لکه د کمبوديا بمباردول تعقيب کړي. آيا دا دعواوې بي ارزښته وې ځکه چې د سياسي مسلو په هکله وې؟ د ماربري مسلې ته په پاملرنه ښايي يو څوک دا د اساسي قانون د تفسير يوه رښتونې مسله وبولي. آيا اساسي قانون د کانګرس څخه غواړي مخکې لدې چې جمهور ريس عسکر جګړې ته ولېږي بايد جګړه اعلان کړي، او يا داچه جمهور ريس تصميم ونيسي او کانګرس د يو نه اعلان شوي جګړې د پاره بودجه وټاکي.؟ اما آيا پر دې مسلې باندې پريکړه به محکمه د سياست ميدان ته راوبولي او بهتره داده چې دا مسلې د دولت نورو څانګو ته پرېږدي؟ که داسې وي نو دا يوه سياسي مسله ده او د دعوې ارزښت نلري او محکمې پر هغه فيصله نشي کولای.

اساسي قانون د فدرالي دولت نورو څانګو ته کوم صلاحیتونه ورکوي

ستره محکمه دا صلاحیت لري چې د اساسي قانون سره د فدرالي او ایالتي قوانینو پر مطابقت څارنه وکړي. د فدرالي محکمې سیستم همدا شان په ډیرو نور مسایلو کې چې په اساسي قانون اړه نلري هم د قضاوت کولو صلاحیت لري. پدې ډله کې د فدرالي قانون په ساحه کې عادي مدني دعواوي، یا داسې مسایل چې د بیلا بیلو ایالتونو اتباع په کې ښکیل وي، جنایي مسایل لکه د بانک غلا، د مخدره موادو مربوط جنایات او د فدرالي قانون څخه نورې سرغړونې شاملې دي. اساسي قانون د فدرالي دولت د نورو څانګو لکه د مقننه قوې یا کانګرس او یا د اجراییه قوې د صلاحیتونو په هکله چې په راس کې یې جمهور ریس دی څه وایي؟

هغه اساسي پوښتنه در په یاد کړئ چې اساسي قانون ورسره مخامخ ده. څنګه یو حکومت ته واک ورکړو چې زمونږ د پاره هغه څه وکړي چې مونږ یې د ځان د پاره نشو کولای، پداسې توګه چې دا حکومت دومره هم پیاوړی نشي چې زمونږ آزادی د ګواښ سره مخامخ کړي.؟ د اساسي قانون ځواب دې پوښتنې ته په یو خاص تاریخي وضعیت کې منځ ته راغی.

د اساسي قانون مسوده کوونکو یوه عمومي ذهنیت ته چې منځ ته راغلی وو او د کانفدریشن د موادو پر اساس منځ ته راغلی حکومت یې ډیر ضعیف اوبي واکه باله ځواب ووایه. د کنفدریش د موادو پر اساس، کانګرس د مالیې د ټاکلو صلاحیت نه درلود او نه یې د ملي پیسې د خپرولو او یا پر تجارت د څارنې صلاحیت درلود. اجراییه قوه هم پیاوړې نه وه. هغه وخت جمهور ریس د کانګرس غړی وو او صلاحیت یې ډیر محدود وو. فدرالي قضایي سیستم هیڅ نه وو. د ایالتونو تر منځ ډیرې شخړې او جنجالونه وه. ایالتونو به پر هغو مالونو چې د بل ایالت څخه به واردیدل لوړې تعرفي اومحصول وضع کول. ملي حکومت ددې توان نه درلود چې د لویې انقلابي جګړې د پاره اخیستل شوي پورونه ادا کړي او د مالي بحران سره مخامخ وو. همدا وجه وه چې د کنفدریشن د موادو پر اساس منځ ته راغلی دولت په عمومي توګه یو ناکامه دولت ګڼل کیده.

ستونزه پدې کې وه چې فدرالي حکومت ددې وضع سره د مقابلې کفایت نه درلود، لهذا ځواب هم څرګند وو اودا ځواب په ۱۷۸۷ کال کې د اساسي قانون په مجلس یا constitutional convention کې ومنل

شو. ملي حکومت ته پراخ صلاحيت ورکړی، دومره صلاحيت چې د ايالتونو تر منځ د شخړو د حل و فصل، د اولس د مالي چارو د تنظيم، د يو اردو د جوړولو او ساتلو اود بهرني اړيکو د ساتلو د پاره کفايت وکړي. اما دا د اساسي پوښتنې يوې برخې ته ځواب ووايه. د اساسي قانون مسوده کوونکو ژوره انديښنه درلوده چې ملي حکومت ښايي خپل واک د ايالتي حکومتونو ساحې ته پراخ کړي اويا د خلکو اساسي حقوق تهديد کړي.لهذا داسې فکر منځ ته راغی چې فدرالي حکومت ته پراخ اما محدود صلاحيتونه ورکړل شي، او يواځې به هغه صلاحيتونه ولري چې په اساسي قانون کې درج شوي دي. هغه څه چې د اساسي قانون په جوړښت کې په ضمني ډول او په لسم تعديل کې په روښانه توګه څرګند شوی دادی چې په اساسي قانون کې د صلاحيتونو په هکله ويل شوي " هغه صلاحيتونه چې اساسي قانون متحده ايالاتو ته ندي ورکړي او ايالتونو ته يې ندي تحريم کړي، په ايالتونواوپه اولس پوري اړه لري "او نوی حکومت يواځې کولای شي ددې صلاحيتونو څخه د يو سيستم په چوکات کې چې موږورته د څارنې اوتوازن سيستم Cheks and Balances يا د قواوو تفکيک وايواستفاده وکړي. يو اکثريت نشي کولای د ايالتونو د ګټو او يا د خلکو د حقوقو پر ضد تيری وکړي، ځکه قوانين د دوو مقننه څانګو يعني ولسي جرګې او مشرانو جرګې لخوا تصويب او د جمهور ريس لخوا توشيح کېږي. ددې دپاره چې خلک ديوه قدرتمنده ملي حکومت د زياده روی نه وساتل شي د لمړي کانګرس لخوا د حقوقو د اعلاميې خاص ضمانتونه منځ ته راغلل چې په کال ۱۷۹۱ کې تصويب شول.

حکومت د اساسي قانون په چوکات خپل د واکمنی لمړني کلونه تير کړل. نوي حکومت د خپل عصر ډيرو مهمو مسايلو ته پاملرنه وکړه او د اولس ډيرو اساسي غوښتنو ته يې ځواب ووايه. لمړي کانګرس د دولت اساسي څانګې لکه د حکومت، جګړې، خزانې، د پوست اداره او د لوي څارنوال ادارې او د فدرالي محکمو يو سيستم منځ ته راوړل. همدا شان مهمو اقتصادي مسايلو لکه د مالیې وضع کول، د ملي بانک تاسيس، د نفوسو د شمير معلومول، د پولي سيستم منځ ته راوړل او د اختراعاتو د ثبت او امتياز حق او د چاپولو د حقوقو مسايلو ته پاملرنه وشوه. تر کورني جګړې پوري د حکومت جسامت لا هم ډير کوچنی وو.

اما وګورئ چې دغه د محدود او شميرل شوي واک حکومت ته څه ورپيښ شو. تاسې نن د يو چا څخه پوښتنه وکړئ چې حکومت څه شی دی او هغه به لمړی پر ملي حکومت فکر وکړي. په مطبوعاتو کې جمهور ريس د نړی قدرتمند ترين انسان بلل کېږي. تقريبا" ټول قوانين د کانګرس لخوا جوړېږي، دا قوانين د هغو حيواناتوڅخه نيولې چې نسل يې د ورکيدو په حال کې دی، پر وارداتی موادو باندې د مالیې تر ټاکنې پورې رسېږي.. په فدرالي بيروکراسی کې يعني په فدرالي ادارو کې درې ميليونه نفره کار کوي. پدې ډله کې هغه يو نيم ميليون فدرالي مستخدمين چې په مسلحو ځواکونو کې خدمت کوي ندي شامل. نن دولت مالیه ټولوي، د لويو شرکتونو پر يو ځای کيدو څارنه کوي، تلويزيوني ستيشنونو ته د خپروني اجازه ورکوي، پر څه زيات نيم بيليون هکتاره دولتي مځکه څارنه کوي او په کال کې يو نيم

تریلیون ډالره خرڅوي. ایالتونه بیا په عین زمان کې نور مهم کارونه هم کوي لکه پر عامه ښوونځیو او سړکونو څارنه کوي، خو بیا هم د ایالتونو فعالیت د فدرالي حکومت په موجودیت کې ډیر کم ښکاري.

د حکومت د محدود او شمیرلې واک د تغیر هر ګام چې د یو محدود حالت څخه یې داسې مرحلې ته ارتقا وکړه چې د نن ورځې د ژوند په ټولو برخو کې مداخله کوي، د اساسي قانون د تفسیر له لارې ممکن او تایید شوي دي. په هغه توګه چې دا کار وشو څرګندوي چې اساسي قانون څنګه تفسیرېږي او څنګه تطبیق کېږي. د اساسي قانون مبهم متن په داسې حالاتو کې تطبیق کېږي چې مسوده کوونکو نه وو پیشبیني کړی او ستره محکمه کله چې د حکومت د پاره د واک پر مناسب چوکات غور کوي، باید دواړو یعني هم د اساسي قانون متن او هم د تغیر په حال کې سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو ارزښتونو ته پاملرنه وکړي. اساسي مسله البته داده چې د فدرالي دولت د واک ډیر پراخیدل د اساسي قانون په متن کې د ټاکلو صلاحیتونو پر پراخ تفسیر ولاړ دی. حکومت ته د واک ورکولو اساسي صلاحیت د اساسي قانون د لمړۍ مادي، اتم فصل، اوولسو خاصو فقرو او یوې عمومې فقرې له مخې کانګرس ته ورکړل شویدی. اما خاص د محدود معادل ندی. په اتم فصل کې د فدرالي حکومت په صلاحیتونو کې د مالیې د وضع کولو او ټولولو، د پور اخیستنې، د بهرني ملکونو سره اود ایالتونو تر منځ د تجارتي اړیکو د تنظیم، د جګړې اعلان، او د اردو ګانو تشکیلول او سمبالول شامل دي. او د صلاحیت په اړه په اتلسمه فقره کې راغلي چې فدرالي دولت ټول هغه قوانین جوړوي چې د دولت د صلاحیتونو د اجرا لپاره لازم اومناسب ګڼل کېږي او ټول نور هغه صلاحیتونه لري چې د اساسي قانون لخوا د متحده ایالاتو حکومت ته ورکړل شوي دي.

د اساسي قانون په چوکات کې د جمهور ریس صلاحیتونه په پراخه توګه ندي تشریح شوي. جمهور ریس د وسله والو ځواکونو عمومي قوماندان دی او د سنا یا مشرانو جرګې په مشوره، سفیران، قاضیان او لوړ رتبه اجراییوي مامورین ټاکي. غیر لدې نه جمهور ریس باید پاملرنه وکړي چې قوانین په صداقت او صحیحه توګه تطبیق شي. پداسې حال کې چې کانګرس یواځې مقننه واک په لاس کې لري، اساسي قانون وایي چې اجراییه قوه باید د جمهور ریس په لاس کې وي. دا پدې معني ده او ستره محکمه هم همدا شان فکر کوي چې جمهور ریس ټول هغه صلاحیتونه لري چې د اجراییه قوې یو مشر یې معمولا" لري، که څه هم دا صلاحیتونه په خاصه توګه په اساسي قانون کې ندي شمیرل شوي.

د مثال په توګه د تجارت په فقره کې د فدرالي حکومت د صلاحیت پراخیدو ته پاملرنه وکړئ. مقننه یا اجراییه قوه غواړي دځینو نوو صلاحیتونو څخه استفاده وکړي او ستره محکمه هغه وخت مثبت ځواب وایي چې و ګوري نوي صلاحیتونه د اساسي قانون مطابق دي.

د اساسي قانون لمړۍ ماده، اتم فصل، دریمه فقره کانګرس ته ددې صلاحیت ورکوي چې د بهرنیو هیوادونو، د ایالتونو تر منځ او هندي قبایلوIndians سره تجارتي اړیکې تنظیم کړي. د کانفدریشن په موادو کې د فدرالي حکومت صلاحیت د سوداګرۍ د تنظیم په برخه کې هم د ایالتونو تر منځ او هم د بهرنیو هیوادونو سره ډیر محدود وو او نه یې شوای کولای د ځانګړو هیوادونو د مداخلو مخنیوی وکړي.

ددې حالت د اصلاح د پاره د سوداګرۍ فقره منځ ته راغله چې فدرالي حکومت ته يې هم په داخل او هم په بهر کې پر ملي اقتصاد باندې د څارنې صلاحيت ورکړ.

ددې صلاحيت پراخوالی د ايالتونو تر منځ د تجارت يا سوداګرۍ د اصطلاح د تفسير سره تړاو لري. دا د ايالتونو تر منځ د جنجالونو د مخنيوي په معنې هم تعبيريدلاي شواي. هغه وخت د کنفدريش د مادو له مخې د ډيرو ايالتونو تر منځ جنجالونه منځ ته راغلي وه چې د مثال په توګه به يو ايالت د بل ايالت څخه پر وارد شوو محصولاتو ګمرکي محصول وضع کاوه. خو کانګرس د تجارت د فقرې څخه د صلاحيت ورکولو په مفهوم استفاده وکړه او د اقتصاد د تنظيم په برخه کې يې د فدرالي حکومت صلاحيت پراخ کړ او په عين اندازه يې د ايالت صلاحيت محدود کړ. د ځينو استثنا ګانو پرته سترې محکمې هم د صلاحيت د ورکولو سره خپله موافقه ښودلې ده.

د اساسي قانون د ډيرو نور اصولو په شان د تجارت د فقرې غايه او مقصد د لمړي ځل د پاره د سترې محکمې د ريس جان مارشال لخوا په پراخه توګه تعريف شو. د اوګدينOgden په مقابل کې د ګيبنزGibbons په دعوې کې (۱۸۲٤) د نيويارک پارلمان رابرت فولټنRobert Fulton ته چې د بخار د کښتۍ مخترع وو او دده يو شريک ته ځانګړی يا انحصاري حق ورکړچه د نيويارک په اوبو کې خپل د بخارکښتۍ وچلوي. خو فولټن ددې انحصاري حق يوه برخه پر اوګدين خرڅه کړه. ګيبنز په سيالۍ کې د يوې فدرالي مقررې له مخې د نيوجرسي او نيويارک تر منځ د بخار د کښتيو د تګ راتګ فعاليت پيل کړ، او اوګدين دعوه وکړه چې ګيبنز پرې نړدي د کښتيوپر تګ راتګ دده انحصار مات کړي. سترې محکمې حکم وکړ چې د نيويارک د پارلمان لخوا يو چاته د انحصار حق ورکول، د کانګرس لخوا کښتيو ته د اجازې ورکولو د قانون سره په تضاد کې دی او بنا" د نيويارک د پارلمان پريکړه د تفوق د فقرې له مخې بې اعتباره دی. سره لدې مارشال ددې مناسبت څخه په استفادې سره د تجارت د فقرې له مخې د ملي حکومت صلاحيت معنې او تشريح کړ.

د ايالتونو تر منځ د تجارتي اړيکو په ارتباط ښاغلي مارشال د کانګرس د صلاحيت درې عنصره تشخيص او د هغه هر يو يې په وسيع توګه تعريف کړل. لمړي د تجارت عنصر وو. د اوګدين حقوقي مشاور داسې استدلال کاوه چې تجارت يواځې د حمل او نقل معني لري، يعني چې مال له يوه ايالت څخه بل ايالت ته وړل کېږي اود کښتيو چلول يا دريانوردي په بر کې نه نيسي. اما د مارشال د پاره د مالونو حمل او نقل د سوداګرۍ يوه برخه وه. ده وويل : سوداګري، بيله شکه حمل او نقل او تر هغه لا يو څه زيات دی، سوداګري يوه معامله ده. دا د اولسونو يا د اولسونو د ځينو برخو سره د هغه په ټولو څانګو کې تجارتي اړيکې او معاملې به بر کې نيسي.

دوهم شی چې بايد تعريف شوی وای د بيلابيلو ايالتونو سره اصطلاح وه. د مارشال په عقيده، سره د ترمنځ معني نه درلوده، " يو شی چې د نورو سره وي د هغو سره ګډېږي. د نورو ايالتونو سره تجارت يا سوداګري د هر ايالت په سرحداتو کې نه درېږي، بلکه د ايالتونو دننه ته ورداخلېږي " کانګرس ددې صلاحيت نه درلود هغه تجارتي اړيکې او مناسبات چې د يو ايالت په دننه کې منځ ته راځي تنظيم کړي،

اما داچه یو فعالیت په بشپړه توګه د یو ایالت په دننه کې تر سره شویدی، یواځې د هغه د اغیز له مخې اندازه کیدلای شي او نه د هغه د فزیکي موجودیت له مخې. حتې که یو تجارتي فعالیت په بشپړه توګه د یو ایالت د سرحداتو په دننه کې هم شوی وي او د هغه ایالت د سرحداتو دباندې یې اغیز کړي وي، دا د ایالتونو تر منځ تجارت ګډل کیدای شي.

دریم ټکی د تنظیم د اصطلاح تعریف وو. مارشال پریکړه وکړه چې " دا صلاحیت د نورو صلاحیتونو په شان چې د کانګرس په اختیار کي دي، په خپل ځان کې مکمل دی او تر آخره حده استفاده ځینې کیدلای شي. دا صلاحیت هیڅ کوم حدود نلري، مګر دا چې په اساسي قانون کې ذکر شوي وي. " پدې توګه سترې محکمې فیصله وکړه چې کانګرس د اساسي قانون له مخې دا صلاحیت لري ټول هغه تجارتي فعالیتونه تنظیم کړي چې اغېز او تاثیرات یې د یو واحد ایالت تر سرحداتو دباندې حس شي. اما د سترې محکمې لخوا ددې صلاحیت تعریف یواځې د کانګرس لخوا ددغه صلاحیت د غوښتنې او تاکید او د هغو ستونزو له مخې چې ورسره مخامخ وو وشو او د ګیبنز او اوګدین ددعوې نیمه پیړۍ وروسته هم یې ددې فرصت تر لاسه نکړ چې پر دې تعریف غور وکړي. نیمه پیړۍ وروسته _ یعني د ۱۸۸۷ څخه ۱۹۳۷ پورې _ پداسې حال کې چې کانګرس هڅه کوله د تجارت په چارو کې د خپل صلاحیت څخه لا پراخه استفاده وکړي، سترې محکمې هڅه وکړه دا صلاحیت یو څه محدود کړي. دا د پرمختګ او لویوالي عصر وو او امریکایي لوی شرکتونه لکه U.S. Steel، standard Oil او د سرمایې او اقتصادي قدرت نور مرکزونه منځ ته راغلل. کانګرس او ایالتي پارلمانونو کوښښ وکړ دا نوي اقتصادي قدرتونه کنترول کړي، خو څرنګه چې ستره محکمه محافظه کاره شوه (یعني د محافظه کارانو لاس ته ولویده)، نه یې غوښتل پر تجارت باندې د مقننه قوې صلاحیت ومني. د تجارت د فقرې د غایې او مقصد په تعریف کې، سترې محکمې د مارشال نظریه چې د تجارت اغیز ته یې پاملرنه درلوده پرېښوده او یوه رسمي تشریحي لاره یې غوره کړه. مارشال د ګیبنز او اوګدین په دعوې کې فیصله کړیوه چې تجارت یواځې د مالونو حمل او نقل نه بلکه تر هغه وړاندې دی، اما په ۱۸۹۵ کال کې په یوه بله دعوي کې محکمې تقریبا" داسې وویل چې تجارت یواځې د مالونو حمل او نقل دی. کانګرس ددې د پاره چې د نوي لویو صنایعو انحصاري شرکتونه کنترول کړي د شیرمن د امانت ضد قانون یا

Sherman Antitrust act تصویب کړی او تر اجرا لاندې نیولی وو. د متحده ایالاتو په مقابل کې د ای. سي. نایت E.C. Knight په دعوې کې، سترې محکمې د شیرمن قانون د خپل ډیر تنګ او محدود تفسیر له لارې محدود کړ او د کانګرس د صلاحیت غایه او مقصد یې د تجارت د فقرې له مخې محدود وباله. د امریکا د بورې د تصفیې کمپنۍ The American Sugar Refining Company

د بورې پر صنعت خپل انحصار ټینګ کړی وو او په هیواد کې یې د بورې د تولید پر ۹۰ په سلو باندې کنټرول درلود. اما محکمې وویل چې فدرالي حکومت د اساسي قانون له مخې نشي کولای ددې انحصار د پاره مقررات وضع کړي، ځکه دا د تولید د کارخانې انحصار دی او نه د تجارت.

تجارت د جوړونې یا تولید وارث کیدلای شي، اما د هغه یوه برخه نده.. دا حقیقت چې یو محصول یو بل ایالت ته د صادراتو د پاره په کارخانه کې جوړېږي، ددې محصول څخه یو تجارتي مال نه جوړوي.

د تجارت د فقرې څخه د سترې محکمې دغه محافظه کارانه تفسیر هغه وخت خپل اوج ته ورسید چې محکمې د نوي معاملې د قانون ځینې مهمې برخې له منځه یووړې. د نوې معاملې قانون یا New Deal Legislation په هیواد کې د کساد یا Depression د لوی اقتصادي بحران د پای ته رسیدو په مقصد منځ ته راغلی وو.په ۱۹۳۵ کال کې د مثال په توګه د متحده ایالاتو پر ضد د شیشتر د چرګانود شرکت په دعوې کې چې د ناروغو چرګانو په دعوه مشهوره ده، سترې محکمې د اقتصادي شفا میندلو د پلان مرکزي عنصر چې د ملي صنعت د شفا میندلو د قانون یا National، Industrial Recovery Act په نامه یادیده له منځه یووړ. د نورو شیانو سربیره، دې قانون جمهور ریس ته صلاحیت ورکاوه د رقابت د پاره هغه قوانین تر اجرا لاندې ونیسي چې د سیمه ایزو کارګري اتحادیو لخوا تصویب شوي وه. د شیشتر د چرګانو شرکت له هغه اغیز څخه چې د رقابت قانون د نیویارک په ښار کې د چرګانو پر صنعت درلود اندیښنه درلوده. چرګان بیله شکه چې په ډیره پیمانه تولیدیدل او د ایالتونو تر منځ د تجارت د پاره په کښتیو کې لېږل کیدل. دا تجارت پر ملي اقتصاد لوی اغیز درلود. اما د ملي اقتصاد د شفا میندلو د قانون له مخې هڅه کیده د چرګانو خرڅلاو او تجارت تنظیم شي او دا د تجارت د فقرې د اهدافو څخه یو وړاندې ګام وو. پر دې مسلې باندې د محکمې پریکړې د ژبې او کلماتو له مخې د اي. سي. نایت د مسلې سره شباهت درلود، یعني محکمې تجارت محدود تفسیر کړ. د محکمې په پریکړه کې وویل شول : " تر کومه ځایه چې ددغه چرګانو په مسلې پوري اړه لري د ایالتونو تر منځ د تجارت جریان پاي ته رسیدلی دی. دا چرګان به د تل د پاره په خپل ایالت کې پاته شي. "

د محکمې لخوا د نوي معاملې د قانون بې اعتباره کیدل د حکومت نورې څانګې هم د ګواښ سره مخامخ کړل او وروسته له هغه چې په کال ۱۹۳٦ کې فرانکلین روزولت F.Roosevelt د دوهمې دورې د پاره په لوې اکثریت د امریکا جمهور ریس وټاکل شو، ده دا چیلینج ومانه. روزولت د محکمې د لارو د بندولو د پاره د خپل مشهور پلان وړاندیز وکړ. ددې پلان پر اساس ده ددې صلاحیت تر لاسه کاوه چې د سترې محکمې د هر موجود قاضي پر ځای کوم چې اویا کلن شوي وه او په ستره محکمه کې یې تر لسو کلونو زیات خدمت کړي وو، یو نوی قاضي وټاکي. ددې پلان د تصویبیدو په صورت کې به ده ددې امکان موندلی وای چې د سترې محکمې د پاره شپږ نوي قاضیان وټاکي اوپه ستره محکمه کې د لیبرالانو یو اکثریت منځ ته راوړي چې هغوي به بیا د نوي معاملې قانون تایید کړي.

پر سترې محکمې باندې د لارو د ټرلو پر پلان باندې ډیرجدي بحثونه وشول، او څرګنده شوه چې د اساسي قانون په تفسیر کې د سترې محکمې رول څومره مبهم او پیچلی دی. مترقي ډله ددې څخه ډیر په غصه وه چې ستره محکمه کولای شي د خلکو د یو لوی اکثریت اراده شنډه کړي او دې پلان ته یې په یوه غیر دیموکراتیکه موسسه کې د تصفیې او اصلاحاتو د راوستلو د وسیلې په سترګه کتل. اما سترې

محکمې هم ډیر پلویان لرل او دا پلویان حتې د هغو کسانو په منځ کې وه چې د سترې محکمې د پریکړو سره موافق نه وو. که د اساسي قانون په ارتباط سیاست رول نه وای لوبولای، محکمه به هم په خپلو پریکړو کې د دا ډول مستقیمو سیاسي مداخلاتو څخه په امان کې وای. په پای کې پر محکمې باندې د لارو د تړلو پلان په کانګرس کې د ناکامۍ سره مخامخ شو اما بیا یې هم پر سترې محکمې اغیز وکړ. د ۱۹۳۷ کال په نیمایي کې د سترې محکمې منځ لاری یا میانه روه قاضي اوون رابرتس د تنظیمي مقرراتو سخت ملاتړ پیل کړ او په راتلونکي څو کلونو کې هغه څلور ډیر محافظه کاره قاضیان چې د څلورو اَس ځغلوونکو په نامه یادیدل یعني جیمز مک رینولدس، ویلیس وان دیوانتر، پییرس بتلر او جورج سدرلیند تقاعد شول او پر ځای یې د روزه ولت لخوا داسي نوي قاضیان وټاکل شول چې دده د قانون د پروګرامونوڅخه یې ملاتړکاوه، نتیجه یې د تجارت په فقره کې د تفسیر لوي توپیر وو، تردې حده چې د کانګرس د قدرت سره چې د مارشال تاکید یې پر اغیر راپه یاداوه تقریبا" بشپړ توپیر درلود او تراوسه په همدغه حال پاتې دی.

د مثال په توګه، د جونز او لافلین د فولادو د شرکت پر ضد د کارګري اړیکو د ملي ریاست په دعوې کې(۱۹۳۷) _ دا یو د هغو مسلو څخه وه چې سترې محکمې په کې یو ډیر لیبرال موقف غوره کړ _ محکمې د کارګري اړیکو ملي قانون د اساسي قانون مطابق وبالله اود هغه څخه یې ملاتړ وکړچه دا د نوي معاملې د پروګرام یوه اساسي برخه وه. د کارګري اړیکو ملي قانون شرکتونو ته اجازه نه ورکوله د کار په برخه کې په داسي غیر منصفانه فعالیتونو لاس پوري کړي چې پر تجارت اغیز کوي. جونز او لافلین د فولادو یو ډیر لوي شرکت وو چې په څو ایالتونو کې یې څانګې درلودې، اما محکمې فیصله وکړه چې د تجارت قدرت یواځي په داسې شرکتونو ندۍ محدود. په فیصله کې وویل شول، " که په جلا توګه دې مسلې ته وګورو، ددې شرکت فعالیت ښایي په خپل خصوصیت کې د څو ایالتونو تر منځ وي، که دوی د ایالتونو ترمنځ په تجارت کې ډیر نژدې او پراخې اړیکې ولري او د ستونزو او موانعو په مقابل کې د تجارت د ساتنې د پاره ددوۍ کنترول لازم او مناسب وي، کانګرس ته پر دوی باندې د کنترول د صلاحیت د ورکولو څخه انکار نشي کیدلاي. د اي سي. نایت پرخلاف، دا حقیقت چې تنظیم شوی فعالیت دلته صرفا" تولیدي وو، ددې باعث وګرځید چې دا فعالیت د تجارت د فقرې د ساحې څخه دباندې و نه ګڼل شي.

دا بدلون په کال ۱۹۴۲ کې د فیلبورن پر ضد د ویکارد په دعوې کې بشپړ شو. په هغه کې سترې محکمې په خاصه توګه د جان مارشال هغه تحلیل ته اشاره وکړه چې د اوګدین پر ضد د ګیبنز په دعوې کې یې د تجارت د قدرت څخه کړي وو. د کرهنې وزیر یو بزګر چې فیلبرن نومیده ۱۱۷، ۱۱ ډاله جریمه کړ، ځکه ده پر خپلې مځکې ۲۳۹ پیمانې غنم کرلي وه. که څه هم فیلبرن تصمیم درلود د دغه غنمو څخه یواځې په خپله کرونده کې استفاده وکړي او پر هغه تجارت و نکړي یا یې یو بل ایالت ته و نه لېږي. دلته بیا دا مسله مهمه نه وه چې آیا دده دا کار تولیدي وو که صنعتي او یا دا د بازار او توزیع د

پاره وو او یا د کوم بل مقصد د پاره. د محکمې د پاره دا مسله مطرح وه چې ددې کار اغیز پر تجارت څومره دی او نه د فیلبرن د فعالیت خصوصیت.

د تجارت د فقري پر اساس هغه څه چې د کانګرس د صلاحیت په ټاکلو کې مهم رول درلود دا وو چې آیا دغه عمل د ایالتونو تر منځ پر تجارت اغیر درلود او که نه، که څه هم دا پخپله د ایالتونو تر منځ تجارت نه وو. که فیلبرن خپل غنم پخپله مصرف کړي، نو دی به د بازار څخه غنم وانخلي. که ډیر نور کوچني بزګران هم همدا کار وکړي، د دوي دا تصمیم به په مجموعي توګه د غنمو پر ملي بازار اغیز ولري او پدې توګه به د ایالتونو تر منځ د غنمو پر تجارت هم اغیز ولري، نو لهذا دا د کانګرس د اقدام د پاره یوه خاصه موضوع وه.

د نوي معاملې د بدلون راهیسې، سترې محکمې د کانګرس هره غوښتنه چې د تجارت د صلاحیت په برخه کې وه منلې ده. پدې ډله کې د حد اقل اجورې او د کار د حد اکثر ساعتونو د ټاکلو قانون، د تجارت په ځایونو کې د نژادي توپیر منع، د خوراکي موادو او دارو د خرڅلاو تنظیمول، او د لوړ سود اخیستل او نور شامل دي. کانګرس په څرګنډه توګه کولای شي د ایالتونو تر منځ د تجارتي مالونو او اشخاصو تګ راتګ تنظیم کړي، اما هغه فعالیتونه هم کنترولولای شي چې یواځې په یوه ایالت کې کېږي، پدې شرط چې دا فعالیتونه د ایالتونو تر منځ د تجارت سره اړیکي پیدا کړي، یا داسې اړیکي ولري چې د ایالتونو تر منځ پر تجارت ستر اغیز ولري، او که کنترول ته اړتیا وي ددې فعالیتونو د پاره داسې مقررات وضع کړي چې هغه د ایالتونو تر منځ په اړیکو کي هم وي. تر ۱۹۵۵ کال پورې سترې محکمې پدې برخه کې د کانګرس نا محدوده صلاحیت په بشپړه توګه ومانه او د کانګرس هره نوې غوښتنه یې تایید کړه. په ۱۹۵۵ کال کې د لوپز پر ضد د متحده ایالاتو په دعوې کې کانګرس یوه مقرره تصویب کړه چې د هغه پر اساس هر هغه څوک چې د یوه ښوونځي په زر فټه فاصله کې ټوپک په لاس کې ولري، دغه عمل یې فدرالي جنایت ګڼل کېږي. څرنګه چې فدرالي حکومت د شمیرل شوو صلاحیتونو حکومت دی، د قانون په شکل د یوې مقررې تطبیقول باید دداسې مقام لخوا وشي چې په اساسي قانون کې مشخص شوي وي. کله چې لوپیز ددغه مقررې له مخې محکوم شو، ددې مقررې صلاحیت یې و نه مانه. حکومت د تجارت د صلاحیت څخه په ګټه اخیستلو ددې مقررې څخه دفاع وکړه او استدلال یې وکړ چې ټوپک په کارخانه کې جوړېږي او د ایالتونو تر منځ په تجارت کې خرڅېږي. سترې محکمې داسې نظر څرګنډ کړ چې ګانګرس ښایي په یوه محلي پیښه کې پر تجارت باندې د اغیزد مسلې په مطرح کولو سره ډیر لیري تللي وي. اما د محکمې دا اندیښنه قسما" د کړنلارې په برخه کې وه. کیدای شي چې د ټوپک څخه استفاده د تجارت د صلاحیت په حدودو کې یو جنایي عمل وګنل شي، اما ګانګرس په روښانه توګه نه وو ویيلي چې ددې مقررې هدف په ټینګه د جنایت مخنیوی دي، بلکه ویيلي یې وه چې هدف د ایالتونو تر منځ د تجارت تنظیمول دی. که کانګرس هغسې کړي وای، امکان یې وو چې ددې مقررې څخه ملاتړ وشي.

ایالتونه د اساسي قانون له مخې کوم صلاحیتونه لري؟

تر اوسه مو د ملي حکومت پر جوړيدو او پياوړي کيدو چې وشي کولاي د هغه حکومت ضعفونه او نيمګړتياوي له منځه يوسي کوم چې د کانفدريشن د موادو پر اساس منځ ته راغلي وو، او د هغه حکومت پر واک چې د شميرل شوي صلاحيتونو د نظريې پر اساس محدود شوي وه او وروسته د هغه د صلاحيتونو پر پراخولو د هغه پراخ تفسير له مخې چې د تجارت د فقرې څخه وشول، خبري وکړې. اما د ايالتونو وضع څنګه وه؟ ايالتونه مخکې لدې چې ملي حکومت جوړ شي، وجود درلود او د اساسي قانون مسوده د ايالتونو استازو وليکله او تصويب يې کړه. نو پداسې حال کې چې د فدرالي حکومت صلاحيتونه پراخ شوي، ايالتونه د اساسي قانون په چوکات کې کوم ځاي لري.؟

لکه د اساسي قانون ټول نور مسايل، دې پوښتنې ته هم ځواب ورکول آسانه کار ندی. د اساسي قانون په متن کې د ايالتونو د صلاحيت په برخه کې لږ څه ويل شوي دي. په روښانه توګه ځيني صلاحيتونه ايالتي حکومتونو ته ورکړل شوي او په روښانه توګه د ايالتونو په مقابل کې د فدرالي دولت د پاره ځيني محدوديتونه ټاکل شوي دي. خو د عصر په بدليدو سره فدرالي او ايالتي حکومتونو يو د بل صلاحيتونه د بيلا بيلو لارو تاييد کړيدي. سترې محکمې هڅه کړيده ددوی د هر يو د فعاليت ځانګړي ساحې تعريف کړي.

که څه هم په اساسي قانون کې داسې ندي ويل شوي، فدراليزم چې په هغه کې دولتي قدرت د فدرالي او ايالتي حکومتونو تر منځ ويشل کېږي، زمونږ د قانوني سيستم يو منل شوی اصل دی. فدرالي حکومت د ويشل شوو صلاحيتونو حکومت دی او د خپلو صلاحيتونو څخه چې په خاصه توګه اساسي قانون ورکړيدي استفاده کوي. که د فدرالي صلاحيت په پراخيدو کې د سترې محکمې غاړه ايښودلو ته پام وکړو، څرګندېږي چې محدوديت نسبت واقعيت ته زيادتره په نظريه کې دی.

بلې خواته عمومي نظر دادي چې ايالتونه د پوليس عمومي واک په لاس کې لري يعني دا قدرت لري هر هغه څه وکړي چې حکومتونه يې معمولا" کوي. محکمو د فدرالي حکومت د ويشل شوو صلاحيتونو د معنې په برخه کې د قوانينو يوه لويه مجموعه منځ ته راوړې ده (لکه د تجارت صلاحيت)، اما د ايالتي حکومتونو د صلاحيت په برخه کې د قوانينو ورته مجموعه نشته، ځکه د ايالتونو صلاحيت ډير عمومي دی او نه شميرل شوي او نه هم په خاصه توګه ذکر شوي دي. اساسي قانون د ايالتي حکومتونو عمومي صلاحيت ندی مشخص کړی، ځکه دې ته اړتيا نلري. د اساسي قانون د تسويد په وخت هر څوک ددې مفکورې په مفهوم پوهيده، لکه مونږ چې نن په روانو سياسي حالاتو او د اساسي قانون پر جوړښت د هغه پر اغيز باندې پوهېږو.

د ايالتي او فدرالي صلاحيتونو پخلا کول بايد آسانه کار وي. ايالتونه عمومي صلاحيت لري، پداسې حال کې چې د ملي حکومت صلاحيت محدود او په خاصه توګه په اساسي قانون کې ذکر شويدی. لسم تعديل روښانه کوي چې د ايالتونو صلاحيت د ملي دولت تر صلاحيتونو پراخ دی گ

په لسم تعديل کې راغلي " هغه صلاحيتونه چې اساسي قانون د امريکا متحده ايالاتو ته ندي ورکړي او نه يې ايالتونو ته ددې صلاحيتونو ورکول منع کړيدي، ايالتونو او يا اولس ته ساتل کېږي." اما په اساسي قانون کې د تفوق فقره شته. د اساسي قانون د شپږمې مادې په دوهم فصل کې ويل کېږي : " دا اساسي قانون او د متحده ايالاتو قوانين چې د اساسي قانون سره مطابق منځ ته راځي بايد د هيواد تر ټولو ستر قانون وي او قاضيان په هر ايالت کې بايد د هغه څخه پيروي وکړي. د ايالتونو په اساسي قوانينو او يا نورو قوانينو کې هرشی چې د اساسي قانون سره په تناقض کې وي، بې اعتباره دی " لهذا ايالتونه عمومي صلاحيت لري او فدرالي دولت محدود صلاحيت لري، خو فدرالي دولت د خپل واک په چوکات کې تر ټولو ستر دی. لهذا، محکمې فدرالي او ايالتي صلاحيتونه څنګه يو له بله جلا کوي.؟

د يوې اوږدې مدې د پاره، يعني تر کورني جګړې وروسته د نوي معاملې تر پيل پوري د سترې محکمې تمايل داوو چې د ايالتونو په ګټه د فدرالي حکومت صلاحيت محدود کړي. دا په حقيقت کې د سترې محکمې د محافظه کاره دريځ نتيجه وه. مخکې مو اشاره وکړه چې محکمې د تجارت د فقرې او نورو موادو په تفسير سره د فدرالي حکومت صلاحيتونه محدود کړل. دغه مفکوره د دوه ګون حاکميت يا dual sovreignty په نامه يادېده. هم ملي او هم ايالتي حکومتونو خپل د واک او صلاحيت ځانګړې ساحې درلودې او يوه هم نشوای کولای د بل د واکمنۍ ساحې ته ننوزي. اکثره به سترې محکمې د کانګرس لخوا تصويب شوي قوانين د فدرالي حکومت د شميرل شوو صلاحيتونوڅخه يو ګام وړاندې او د ايالتونو پر صلاحيت يو تجاوز باله او دا قوانين به يې بې اعتباره وګڼل.په ۱۹۱۸ کال کې د مثال په توګه د داګن هارت پر ضد د هامر په دعوې کې سترې محکمې فيصله وکړه، هغه فدرالي قانون چې د ايالتونو ترمنځ په تجارت کې د هغو مالونو لېږدول منع کوي کوم چې د ماشومانو د کار په نتيجه کې جوړ شوي وي د تجارت د صلاحيت د حدودو څخه تجاوز کوي. او په ۱۹۰۹ کال کې يې د متحده ايالاتو پر ضد د کيلر په دعوې کې فيصله کړيوه چې د فدرالي حکومت لخوا د فحشاء د کورونو منع کول د ايالتي پوليس پر صلاخيت تجاوز دی.

د دوه ګون حاکميت مفکوره او د هغه پر اساس د ايالتونو د صلاحيت پراخه ساحه اوس مړاوې شويده. د حاکميت د ساحو جلا کول اساسا" د نولسمې پيړۍ د ذهنيت نتيجه وه او نه د شلمې پيړۍ د قانون پوهانو ، او وروسته له فرانکلين روزه ويلت، ستر اقتصادي بحران او د نوي معاملې د قانون څخه، سترې محکمې ليوالتيا وښودله چې د فدرالي صلاحيت پراختيا ته غاړه کښېږدي. نن د ملي او ايالتي حکومتونو تر منځ د واک او صلاحيت پر ټاکلو باندې د پيشقدمۍ يا له نورو نه مخکې يا Preemption د نظريې پر اساس څارنه کېږي، پدې ډله کې د فدرالۍ ساکتوdormant صلاحيتونو اسرار آميزه اغيز هم شامل دی. (دpreemption د نظريې له مخې که په يوه مسله کې فدرالي او ايالتي دواړه قانونه د تطبيق وړ وي، فدرالي قانون تر ايالتي قانون سترتوب لري).

په هغه ځاي کې چې فدرالي حکومت عمل کوي دا عمل تر ايالتي قانون چې په بالقوه او يا بالفعله

توګه د قدرالي قانون سره په تضاد کې راځي، مقدم او ستر دی. په یو ځای کې چې فدرالي حکومت عمل کولای شي اما عمل یې ندی کړی او په هغو حالاتو کې چې د فدرالي حکومت صلاحیت ساکت دی، ایالتي قانون هم د عمل اجازه نلري.

د ایالتي قانون پیشقدمي چې د فدرالي قانون سره تناقض ولري د پوهې وړ دی او دا اساسا" د تفوق یا سترواليي په ماده کې راغلی دی. د حکمیت فدرالي قانون وایي چې که د قرارداد خواوي موافقه وکړي خپله مسله حکمیت ته وړاندې کړي، دا کار کولای شي، سره لدې چې دا د ایالتي قانون د مادې سره تناقض ولري. ددې په مقابل کې د کلیفورنیا ایالت د یو قانون له مخې هڅه وشوه دا ډول موافقه بې اعتباره و ګڼل شي او دا قانون پیشقدم وګڼل شو. (په ۱۹۸٤ کال کې د کیټینګ پر ضد د سوتلیند شرکت دعوې).

سخته پوښتنه پدې کې ده چې ایالتي او فدرالي قوانین چې په ظاهره یو دبل سره تناقض نلري تر کومه حده بیا هم په تضاد کې راځي، یعني تر دې حده چې ایالتي قانون باید ولوېږي. ستره محکمه کله د فدرالیزم اندیښنو ته زیاته پاملرنه کوي او قانون داسې تفسیروي چې د جنجال څخه مخنیوی وشي، کله بیا ستره محکمه ملي ګټو ته زیاته پاملرنه کوي مخصوصا" که د ملي سازش او برابرۍ د ضرورت احساس وکړي. په ۱۹۸٤ کال کې د Kerr-MCGee Corp پر ضد د سیلک وود په مشهوره دعوې کې چې کارن سیلک وود ددې اتومي بریښنا د شرکت کارکوونکی وو او راپور یې ورکړ چې پدې شرکت کې امنیتي مقررات تر پښو لاندې کېږي. وروسته لدې راپور څخه کارن سیلک وود په یوه اسرار آمیزه پیښه کې ووژل شو. محکمې فیصله وکړه چې پدې قضیه کې دې د اوکلا هوما د ایالت د شبه جرم یا جرم ته ورته قانون تطبیق شي او شرکت یې د حفاظت او امنیت د نواقصو له کبله د تاوان ورکولو ته مجبور کړ. دا پداسې حال کې وو چې د امنیت د فدرالي معیارونو له مخې دې شرکت ټول لازم امنیتي مقررات پر ځای کړي وه. اما په کال ۱۹۹۲ کې د Liggett Group INC پر ضد د Cipollone سیپولون په دعوې کې سترې محکمې فیصله وکړه چې د سګرټو پر قطیو باندې د نښې یا لیبل فدرالي قانون پر ایالتي قانون تفوق لري کوم چې وایي که د سګرټو پر قطیو د سګرټ څکولو د خطرونو په هکله خبرداری ورنکړل شي جرم ګڼل کېږي.

فدرالي قانون هغه وخت هم د ایالتي قانون مافوق ګڼل کېږي چې د دواړو قوانینو تر منځ کوم فرق او اختلاف هم نه وي، پداسې حالاتو کې کانګرس په هره خاصه موضوع کې مقررات وضع کوي. دا د ګانګرس په تفسیر پوري اړه لري چې په داسې حالاتو کې څومره وړاندې ځي. که د هندي قبایلو Indians د چارو، مهاجرت، یا د مرغانو د مهاجرت د موضوع په شان مسایل د ملي ګټو مسایل وي او ملي یو شان توب ته اړتیا ولري په هغه صورت کې محکمه فدرالي قانون ته پدې برخو کې تفوق یا سترتوب ورکول کېږي.

ښایي د سترتوب یا د تفوق د نظریې ستونزمنه ساحه په هغو مسًلو کې وي چې د کانګرس د صلاحیت په حدودو کې دي اما کانګرس لا ورته قانون ندی وضع کړی. آیا ساکت صلاحیت یا

dormant power چې ندی تطبیق شوی ددې مخنیوی نه کوي چې ایالتونه په عین زمان کې اقدام وکړي؟ د پیاوړی ملي حکومت لمړني پلویانو(یعني هغه حکومت چې د کانفدریش د موادو پر اساس منځ ته راغلی وو) استدلال کاوه د ایالتونو دا توان او قابلیت چې دداسې مسلو د پاره قانون وضع کړي چې اغیز یې د یو ایالت تر پولو وړاندې وي په حقیقت کې د حکومت دډیر کمزورتیا او ضعف معني لري او د تجارت او د سترتوب یا تفوق فقري هم د همدغه ضعف د علاج د پاره منځ ته راغلې وې.د همدغه فقرو په مطابق ایالتونو نشو کولای په هغو ساحو کې چې د تجارت په برخه کې د فدرالي صلاحیت ساحه وه کوم قانون وضع وکړي، که څه هم ښایي ایالتونو په نورو برخو کې چې په تصادفي توګه یې د تجارت سره ټکر کاوه قوانین وضع کړي وي. نورو بیا فدرالي صلاحیت ته په تنګ نظر کتل او استدلال یې کاوه، په هغه صورت کې چې ایالتي قانون د فدرالي قانون سره ټکر وکړي باید ایالتي قانون ته لمړیتوب او تفوق ورکړل شي.

ددې مسلې د نوي حل کار د اتلسمې پیړۍ په پنځوسمه لسیزه کې پیل شو او د نوي معاملې نه وروسته په یو لړ مسًلو کې په قطعي توګه افاده شول. پدې نوي آزمایښت کې د فدرالیزم اصل او دهغه د ستونزو د حلولو د پاره خاصه پاملرنه وشوه. لدې نه وروسته ایالتونو اجازه درلوده د خپلو محلي اړتیاو او ضرورتونو د پاره قانون وضع کړي، اما دوی به اجازه ونه لري د ایالتونو تر منځ د تجارتي اړیکو په کار او بهیر کې مداخله وکړي. محکمه د ایالت محلي ګټې د هغه بار یا تبیعیض په مقابل کې چې د ایالت لخوا د ایالتونو تر منځ پر تجارت وضع شوي وي د هغه د قوانینو د تطبیق لاري اندولوي. پدې توګه یو ایالت ښایي په با امنه لویو لارو کې د لاریو د اعظمي لوړوالي او وزن د حد د ټاکلو په برخه کې خپلې ګټې وساتي، که څه هم ښایي ډیرې لږې لارې دا حد وشي ساتلای، ځکه دا حدود یواځې په یوه ایالت کې پر ټولو هغو لاریو چې ددې ایالت پر لارو تګ راتګ کوي تطبیق کېږي ، (د مثال په توګه د بارنویل بروس پر ضد د جنوبي کارولینا د لویو لارو د ریاست دعوې په ۱۹۳۸ کال کې) اما دا ښایي د تراکتورونو په شا پورې ترلي اوږده تریلرونه منع نکړي ځکه د همدغه منع څخه ډیر د لاریو موټروانان چې خپلې لارې د ایالت په دننه کې چلوي معاف شوي دي.(لکه د Consolidated Freightways Corp پر ضد د کاسل دعوي په ۱۹۸۱ کال کې)

ملي دولت او ایالتونو ته د اساسي قانون لخوا د صلاحیت ورکولو یوه بلې جنبې ته هم باید اشاره وشي. ایالتونه په اساسي قانون کې یوخپلواک موقف لري او د پراخ او عمومي واک خاوندان دي، پداسې حال کې چې د فدرالي حکومت صلاحیتونه شمیرلي دي. پدې توګه داسې مسایل شته چې فدرالي حکومت یو ایالت ته د هغه د کولو یا اجراً دستور نشي ورکولای. د مثال په توګه فدرالي حکومت نشي کولای یو ایالت ته ووایي چې خپل پایتخت چیري وټاکي. هغه وخت چې د اوکلا هوما ایالت د متحده ایالاتو غړی شو همدا شان غوښتنه ورنه شوې وه.(د سمیت په مقابل کې د سویل دعوي ۱۹۱۱). اما د فدرالي حکومت او د فدرالي بودجې په پراخیدو سره کانګرس داسې یو طرزالعمل یا کړنلاره غوره کړیده چې د ایالتونو موافقه د یو کار کولو ته تر لاسه کوي بیله دې چې په مستقیمه توګه دستور ورکړي. کانګرس د

فدرالي لګښتونو پرګروامونه طرح کوي چې د ایالتونو لخوا وربانديي ځارنه کېږي، اما ددې ځارنې د پاره یو ایالت مجبوره دی ځینې خاص شرطونه په ځاي کړي. د مثال په توګه په یوویشتم تعدیل کې د الکهولیکو مشروباتو پر خرڅلاو منع لغوه شوه او ایالتونو ته ددې مشروباتو د خرڅلاو په برخه کې تقریبا" بشپړ صلاحیت ورکړل شو. د ایالتونو د همدغه صلاحیت پر اساس د اساسي قانون تعدیل کانګرس ته دا صلاحیت نه ورکوي چې د الکهل د چښلو د پاره په ملي سویه د سن یو حد وټاکي. اما په ۱۹۸۸ کال کې کانګرس یو قانون تصویب کړ چې د هغه پر اساس کانګرس یو ایالت ته د لویو لارو د بودجې یوه برخه راوګرځوله او هغه ایالت یې مجبوره کړ چې د الکهلو د چښلو سن حد اقل ۲۱ کاله وټاکي. د یوې عملي مسلې په توګه، دا په حقیقت کې د ملي غوښتنې معادل یو کار وو، ځکه هر ایالت د خپلو لویو لارو او نورو سړکونو د جوړولو د پاره فدرالي بودجې ته اړتیا لري. که کانګرس د اساسي قانون له مخې مستقیما" ونشي کولاي یو کار وکړي، آیا په غیر مسقیمه توګه یې کولاي شي؟ هو، د سترې محکمې قاضي ویلیم ریهن کویست William Rehnquist د محکمې د قاضیانو د اکثریت لخوا وویل، ځکه چې د لویو لارو د بودجې لګښت د کانګرس په واک او صلاحیت کې دی او د الکهلي مشروباتو د پاره د سن ټاکل د ایالتونو تر منځ پر لویو لارو د امن سفر سره تړاو لري.

۳

لمړنۍ آزادۍ

اساسي حقوق

د اساسي حقوقو اساسي مسله داده چې څنګه یو پیاوړی حکومت منځ ته راوړو چې هغه وکړي چې مونږ یې غواړو او بیا ددې حکومت قدرت داسې محدود وي چې هغه څه ونشي کولای چې مونږ یې نه غواړو. یو شی چې مونږ نه غواړو حکومت تجاوز پرې وکړي، هغه زمونږ حقوق دي. دا څه مفهوم لري چې وایي، حقوق د وخت په تیریدو سره تغیر مومي، خو مونږ ددې فکر سره عادت شوي یو چې حکومت ځیني کارونه زمونږ سره نشي کولای.

د متحده ایالاتو د اساسي قانون په لمړي یو سل او پنځوس کلن تاریخ کې داساسي قانون تر ټولو مهمه موضوع د حکومتي جوړښتونو منځ ته راوړل وو چې مونږ په تیر فصل کې وروباندې بحث وکړ: یعني اساسي قانون کوم صلاحیتونه فدرالي محکمو، کانګرس او جمهور ریس ته ورکوي او فدرالي صلاحیت څرنګه د ایالتي حکومتونو واک او صلاحیت محدودوي. د دوهمې نړیوالې جګړې راهیسې د اساسي قانون اقدامات د فردي آزادیو تعریفولو ته وقف شوي دي چې پر همدغه موضوع مونږ پدې برخه کې بحث کوو

اساسي قانون د کومو حقوقو ساتنه کوي.؟

په اساسي قانون کې هر حق ددې قانون د متن په یو یا ډیرو مادو کې ذکر شویدی. ددې د پاره چې پدې حقوقو وپوهېږو، یوه لاره داده چې هرې مادې ته په ځانګړي توګه مراجعه وکړو. لمړی ضمیمه د

بیان آزادي تضمینوي، څورلسم تعدیل د محکمې د عادلانه جریان حق تضمینوي او داسې نور. تصور وکړئ چې کوم حقوق له هغو څخه راوځي. خو د حقوقو د پوهیدلو د پاره به دا آسانه وي که مونږ دا حقوق پر دوو برخو وویشو :

د حقوقو لمړی برخه د دعوې حقوق یا Process rights دي. دا حقوق د هغې کړنلارې یا طرزالعمل په هکله دي چې حکومت یې باید پیروي وکړي، یعني حکومت باید د یو فرد او یا د یوې ډلې سره څنګه چال چلند وکړي.

د حقوقو دوهمه برخه اساسي حقوق دي. دا حقوق د فردي آزادۍ هغې ساحې تعریفوي چې حکومت پرته له هغه طرزالعمل څخه چې تعقیبوي یې، نشي کولاي پر هغو تیرۍ وکړي. که څه هم د دعوې د حقوقو او اساسي حقوقو تر منځ پوله په خاصه توګه روښانه نده، خو دغه توپیر به زمونږ سره د حقوقو په پیژندنه کې مرسته وکړي.

یو څو مثاله به د دعوې او د اساسي حقوقو تر منځ توپیر روښانه کړي. که تاسو د تقاعد معاش اخلی، حکومت پدې دلیل چې یو بیروکرات تاسي د تقاعد د معاش د اخیستلو مستحق نه بولي، نشي کولای ستاسو دا معاش قطع کړي. مخکې لدې چې ستاسو معاش قطع شي، ستاسو اساسي حق تاسو ته د یو منصفانه دعوې حق تضمینوي، پدې معنې چې حکومت باید د خپلې دې ادعا د پاره تاسو ته رسمي خبر درکړي او تاسو ته باید ددې امکان او فرصت درکړل شي پدې هکله خپل دلایل محکمې ته وړاندې کړی. دا د دعوې حق دی. د بلې خوا که حکومت وغواړي تاسو په زوره مجبوره کړي د کاتولیکي کلیسا د دعا ویلو په غونډه کې برخه واخلی، دا د اساسي قانون له مخې د اساسي حق یوه مسله ده او نه د دعوې حق. حتې که حکومت تاسو ته رسمي خبر هم درکړي او په محکمه کې هم د دلایلو د وړاندې کولو حق ولری، حکومت نشي کولاي ستاسو پردې اساسي حق چې اساسي قانون تضمین کړیدی او هغه د دین د انتخاب آزادي ده، تیرۍ وکړي.

د دعوې په حقوقو کې په محکمه کې د منصفانه او منظمې دعوې یاد صحیح قانوني تشریفاتو قانون چې په پنځم او څورلسم تعدیل کې را منځ ته شو، او د قوانینو په وړاندې د څورلسم تعدیل له مخې د هر چا مساوي ساتنه او حفاظت شامل دي. منصفانه د عوې یا په بل عبارت صحیح قانوني تشریفات پدې معنې دی چې حکومت باید هغه وخت چې د یو فرد په مقابل کې اقدام کوي باید یوه منصفانه رویه غوره کړي. مشکل سوال پدې کې دی چې څنګه وپوهېږو چې په یوه خاصه مسله کې کوم د دعوي طرز منصفانه دی. که یو څوک دداسې جرم په کولو متهم وي چې د هغه دپاره باید اعدام شي، نو دا موضوع دداسې یوې مسلّې په پرتله چې د یو چا د تقاعد معاش د قطع کیدو سره مخامخ وي، ډیره جدي ده. لهذا نو پداسې مسلو کې اساسي قانون د کړنلارې یا طرزالعمل پر مسلې ډیر اصرار کوي. اما اکثرا" دا مسله چې یو څوک څه وخت د منصفانه دعوې مستحق دی او کوم طرزالعمل ته اړتیا لیدل کېږي، یوه پیچلې مسّله ده.

د اساسي قانون په وړاندې د مساوي ساتنې او حفاظت مسله په تیرو پنځوسو کلنو کې ډیره پراخه شویده. په لمړي ګام کې دا د مدني حقوقو د غورځنګ یا نهضت د رامنځ ته کیدو نتیجه وه او وروسته بیا لدې کبله چې د ډیرو ډلو غړو لکه د نژادي اقلیتونو، ښځو، قومي ډلو او هوموسیکسولانو homosexuals (هم جنس بازه سړي) او نورو د قانون د مساوي چال چلند غوښتنه کوله، د مساوي ساتني مسله ډیره پراخه کړه. د مساوي ساتنې د اصل له مخې باید حکومت د ټولو هغو کسانو سره چې په ورته حالت کې وي، یو راز چال چلند وکړي. د مثال په توګه ستړي محکمې د پوهنې د ریاست په مقابل کې د براون په دعوې کې فیصله وکړه چې یو ایالت نشي کولای په نا اندولە او نابرابره توګه د تور پوستو ماشومانو سره چال چلند وکړي او هغوی د سپن پوستو ماشومانو څخه جلا بل ښوونځي ته ولېږي. دا مونږ ته اوس روښانه ښکاري، خو د برابر او مساوي حفاظت او ساتنې غوښتنې اکثرا" ډیر پیچلي او جنجالي وي. ځوک د مساوي ساتنې مستحق دی : هسپانویان؟ هوموسیکسولان؟ چاغ کسان؟ احمق کسان؟ او دا څه معنې لري چې د بیلا بیلو خلکو او بیلا بیلو ډلو سره مساوي او برابر چال چلند یا برخورد وشي؟

اساسي حقوق نسبت د دعوې حقوقو ته ډیر مختلف دي، خو په عمومي توګه دا د یو یا دوو اهدافو دپاره دي. یو هدف دادی چې خلکو ته اجازه ورکړل شي د ټولنې په ټولو چارواو د هغې ډلې څخه د ټولنې په سیاسي ژوند کې برخه واخلي. د مثال په توګه د بیان آزادي او د مطبوعاتو آزادي، سیاسي بحثونواود دموکراتیک حکومت د منځ ته راتلو د پاره لاره هواروي. بل هدف دادي چې خلکو ته اجازه ورکوي چې خپل خیر او هوساینه او خپل شخصي سپیځلتوب او صداقت وساتي او خپل فردیت ته وده ورکړي او هغه څرګند کړي. د بیان آزادي د مثال په توګه انسان ته د شخصي څرګندونې امکان ورکوي او دا حق چې انسان ځانته یو دین انتخابوي او دهغه پیروي کوي د انسان د فردي شخصیت د ودې باعث ګرځي.

مخکې لدې د خاصو حقوقو جزییاتو ته ور داخل شو په اساسي قانون کې دتضمین شوو حقوقو په هکله په عمومي توګه دا څرګندونه هم لازمه ده. د حقوقو اعلامیه _ لمړني لس ضمیمې _ لږ وروسته له هغه چې اساسي قانون تصویب شو ورسره علاوه شول او دا یوه وسیله وه چې د افرادو حقوق د یو نوي منځ ته راغلي او مقتدر فدرالي دولت د تهدید په مقابل کې خوندي او وساتل شي. د حقوقو اعلامیې د خپلو اصطلاحاتواو دهغه زمان د عامه ذهنیت له مخې یواځي خلک د فدرالي حکومت د اعمالو په مقابل کې ساتل او نه د ایالاتو په مقابل کې ګګ تر کورني جګړې وروسته دیارلسمه، څورلسمه، او پنځلسمه ضمیمه د اساسي قانون سره یو ځاي شول. دې ضمیمو غلامي له منځه یووړه، د راي ورکولو حقوق یې تضمین کړه، د برابر او مساوي ساتنې ضمانت یې وکړ او د منصفانه دعوې یا صحیح قانوني تشریفاتو مسله یې ایالاتو ته هم پراخه کړه.

که څه هم د ضمیمې پخپله د خپلو مادو او هغو آزادیو تر منځ د اړیکو په هکله چې د حقوقو په اعلامیه کې راغلي څه نه وایي، اما ستړي محکمې یوه رویه غوره کړه چې د انتخابي یووالي یا selective incorporation په نامه یادېږي. څورلسمه ضمیمه ټولې هغه ساتنې چې د حقوقو په اعلامیه کې د ایالت د عمومي اعمالو په برخه کې راغلي دي نه عملي کوي، په عوض کې محکمه هر مقرره په

جلا توګه پلټي او په انتخابي توګه تر ټولو مهمې مقرري په څورلسمه ضميمه کې يو ځای کوي. محکمه داسې يو معيار غوره کړ چې د عدالت ټول هغه اصول يې ومنل چې زمونږ د اولس په عنعناتو او وجدان کې ژوره ريښه لري او اساسي او بنيادي اصول ګڼل کېږي او په ضمني توګه د منظمې خپلواکۍ د مفکورې اساس جوړوي. ددې معيار په تطبيق سره سترې محکمې بالاخره د حقوقو د اعلاميې تقريبا" ټول مقررات د څورلسمې ضميمې سره يو ځای کړل او ايالتونه يې د هغه په رعايه کولو مکلف وګنل.

منصفانه دعوې يا صحيح قانوني تشريفات څه شی دئ؟

پنځمه ضميمه چې د فدرالي حکومت په هکله دی وايي چې " هيڅوک بيله منصفانه دعوې چې په هغه کې صحيح قانوني تشريفات په ځای شوي نه وي د ژوند، آزادۍ او يا ملکيت د حق څخه نشي بې برخې کيدلای." څورلسمه ضميمه زياتوي " او نه هم بايد يو ايالت يو څوک بيله منصفانه قانوني دعوې څخه د ژوند، آزادۍ او يا ملکيت څخه محروم کړي." پدې دوو مادو کې مهم اصطلاحات لکه آزادي، ملکيت او منصفانه قانوني دعوې ټول مبهم دي. ددې مفاهيمو د پوهيدلو د پاره د تاريخ، فرهنګ ، او قضايي صلاحيت پوهې او زمونږ د ټولنې په ارزښتونو مفصل بحث ته اړتيا شته، تر څو مونږ ته ددې مفاهيمو معنې روښانه کړي. اما پخپله د متن په لوستلو سره به مونږ د منصفانه دعوې د مادو په معنې پوه شو.

د منصفانه دعوې مادې څرګندوي چې هر څوک د ځينو شيانو چې مونږ ورته ژوند، آزادي او ملکيت وايو حق لري او حکومت نشي کولای بيله دې چې د منصفانه دعوې قانون په نظر کې ونيسي دا حقوق غصب کړي. دا مفکوره هم د حکومت عمل منع کوي او هم د حکومت څخه غواړي د خپل عمل د پاره قانوني صلاحيت تر لاسه کړي. دا مادې که مبهم هم دي روښانه کوي چې حکومت کوم څه نشي کولای يعني څوک پرته له يو منصفانه قانوني جريان څخه د ژوند، آزادي او ملکيت د حق څخه نشي بې برخې کولای. دا مادې په عين زمان کې څرګندوي چې حکومت څه کولای شي، يعني د قانوني منصفانه جريان څخه په ګټه اخيستنې سره کولای شي يو څوک د ژوند، آزادي او ملکيت څخه بې برخې کړي.

دا څرګنده دی، خو په عين زمان کې مهم هم دی. مونږ پوهېږو چې حکومت کولای شي يو څوک د ژوند، آزادي او ملکيت څخه بې برخې کړي. يو ايالت کولای شي يو جنايت کاره بندي کړي، ددې ټوپک او موټر ضبط او دی پخپله حتې اعدام کړي. اساسي قانون حکومت ته ډير زيات قدرت او صلاحيت ورکړي تر دې حده چې کولای شي د خلکو د ژوند او مرګ په برخه کې پريکړه وکړي. اما دا صلاحيت د منصفانه دعوې د مادو له مخې محدود دی. دمخه تردې چې حکومت يو څوک بندي کړي حکومت بايد منصفانه دعوې او صحيحو قانوني تشريفاتو ته اجازه ورکړي، او د مجرم د مرافعه غوښتنې حق، د متهم د مدافع وکيل د درلودلو حق په پام کې ونيسي. منصفانه قانوني دعوې ددې دپاره ده چې د حکومت

سیاست او د قانون حاکمیت په صحیح او منصفانه توګه تطبیق شي. (په جنایي مسایلو کې د منصفانه دعوې د مادو پر غوښتنو په نهم فصل کې بحث کېږي)

د قانون د موادو لمړنۍ مطالعه مونږ ته څرګندوي چې که د منصفانه دعوې د حق څخه استفاده وشي، دوې مسلې منځ ته راځي. لمړی داچه آیا رامنځ ته شوې موضوع د ژوند، آزادۍ او د ملکیت د حق سره چې په پنځمه او یا څورلسمه ضمیمه کې یې ساتنه کېږي اړیکې لري؟ او دوهم، که یو حق د ساتنې وړ وي، د هغه څومره ساتنه کېږي، پدې معني چې دعوې څومره منصفانه ده؟ د منصفانه دعوې د مادو په تفسیر کې د ژوند د حق په هکله ډیر څه نشته خو د آزادۍ او ملکیت حق ته پاملرنه ډیره ده. د ژوند حق اکثرا" د مرګ د سزا په مسلو کې را سربیره کېږي. همدا شان د سقط جنین په مسله هم د ژوند د حق مسله راسربیره کېږي. د مثال په توګه د وادWade پر ضد د رو Roe په دعوې کې سترې محکمې فیصله وکړه چې د منصفانه د عوې په مربوطو موادو کې جنین د ژوندي انسان په معنې ندی، ځکه جنین ته د فرد یا شخص د اصطلاح اطلاق چې په اساسي قانون کې راغلی دی، نه شي کیدای. لهذا جنین د منصفانه دعوې حق نلري.

د اساسي قانون له مخې د آزادۍ په مفهوم کې فیزیکي آزادي هم شامله ده، لهذا دا د حکومت توان چې یو فرد د جرم دکولو په خاطر بندي کړي محدودوي. آزادي سربیره پردې که یو څوک په بند کې هم وي د حرکت محدودیتونه په بر کې نیسي. که حکومت هڅه وکړي یو ماشوم د مور او پلار څخه واخلي او د خپل قیمومیت لاندې یې ونیسي، او یا روحي ناروغه د روحي ناروغانو کلینیک ته ولېږي او یا د یو بندي سره د آزادیدو وعده فسخ کړي، په حقیقت کې آزادي محدودوي. او د منصفانه دعوې مادې ددې غوښتنه لري چې حکومت باید ددې کارونو په کولو کې منصفانه چال چلند وکړي.

په اساسي قانون کې د آزادي کلمه سربیره پر فیزیکي آزادۍ په فعالیتونو کې د برخې اخیستنې د آزادۍ په معني هم ده. سترې محکمې وییلي دي چې د منصفانه دعوي د اهدافو د پاره آزادي یوائې د جسمي محدودیتونو څخه د آزادۍ په معنې نده بلکه د افرادو دا حق چې قرارداد وترې، په ژوند کې د ځان د پاره شغل انتخاب کړي، د علم زده کړه وکړي، واده وکړي، کورنۍ تشکیله کړي او د ماشومانو خاوند شي، خپل دیني فرایض پر ځاي او د خدای عبادت وکړي او په عمومي توګه ددغو پیژندل شوو امتیازاتو څخه د یو آزاد انسان په توګه د خوشبختۍ او سوکالي په لټه کې ګټه واخلي هم په بر کې نیسي. دا اصول (Meyer v. Nebraska 1923 ، 1972 ،Board of Regents. v. Roth) د روت پر ضد بورد او ریجنتس او د نبراسکا پر ضد د مایر په دعواوو کې توضیح شوي دي. لهذا که دولت وغواړي چې یو ماشوم د مور او پلار څخه واخلي، دا ماشوم د ګټو آزادي لري، ځکه ماشوم به د ماشومانو د ساتنې او یا په یو دولتي کور کې وساتل شي، او د ماشوم مور او پلار هم د ګټو آزادي لري چې هغه د دوی دکورنۍ خپلواکي ده. په همدې توګه که دولت وغواړي د یو ډاکټر یا یو حقوق پوه د کار کولو اجازه فسخ کړي او یا د یو موټروان څخه لاسینس واخلي، دولت مجبوره دی د منصفانه دعوې اصول په پام کې ولري. په بعضي حالاتو کې ستره محکمه د آزادی ګټو ته چې حکومت ښایي د هغه څخه د ګټې اخیستلو د پاره د لوړ نرخ غوښتنه

وکړي، پاملرنه کوي. د کونکتیکت پر ضد د بودی په دعوې کې (۱۹۷۱) د مثال په توګه محکمې حکم وکړ چې آزادي په کورني مناسباتو کې دومره بنیادي ده چې دولت باید د طلاق اخیستلو د پاره د درخواست محصول لغوه کړي. څرنګه چې د ښځې او میړه تر منځ د قانوني جلا کیدو دپاره باید د محکمې حکم موجود وي، دولت نشي کولاي پدې خاطر چې یو څوک د خرڅ یا محصول د ورکولو توان نلري، د طلاق مخنیوی وکړي.

د ملکیت تر نامه لاندې ټول محسوس او حقیقي ملکیتونه شامل دي. حکومت نشي کولای بیله یو منصفانه کړنلارې څخه ستاسو د ملکیت څخه استفاده وکړي او یا هغه ضبط کړي. د ملکیت د حقوقو څخه هم په پنځمه ضمیمه کې ساتنه کېږي او وایي چې حکومت حق نلري د یو چا ملکیت واخلي بیله دې چې منصفانه تاوان ورکړي. د ستر نفوذ د ساحې یا قلمرو یا eminent domain د صلاحیت څخه په استفاده سره حکومت کولای شي ستاسو ملکیت د یو عامه هدف د پاره لکه د لویې لارې د جوړولو د پاره ضبط کړي. اما په محکمه کې باید د مالک فریاد ته غوږ ونیول شي او دولت باید ددغه مځکې قیمت ورکړي. (eminent domain د دولت هغه لوړ صلاحیت ته وایي چې د یو چا ملکیت یا پخپله ونیسي او یا بل چاته ددې صلاحیت ورکړي چې د عامې ګټې په مقصد یوه مځکه یا جایداد ضبط کړي، اما باید د هغه تاوان مالک ته ورکړي).

په عادي توګه ملکیت هغه شیانو ته ویل کېږي چې د درلودلو د پاره مهم وي، پدې جمله کې محسوس یعني منقول اوغیر منقول ملکیت شامل دي. آیا په اساسي قانون کې د محسوسو ګټو تعریف هم شویدی؟ آیا د دولت یو مامور د مثال په توګه پر خپل کار د ملکیت حق لري او یا یو چاته چې خیریه مرسته ورکول کېږي کولاي شي دا د ملکیت د ګټې په توګه وپیژني او د منصفانه دعوې غوښتنه وکړي؟

اساسا" محکمې د ملکیت په منصفانه دعوې کې د حق او امتیاز تر منځ توپیر کړیدی. اساسي قانون د حقوقو ساتنه کوي، اما د امتیاز په هکله دا ډول ساتنه نشته. او ډیرې داسې ګټې چې حکومت رامنځ ته کړیدي د امتیاز په ډله کې شمیرل کېږي. هغسې چې په کال ۱۸۹۲ کې د سترې محکمې قاضي اولیفر ویندل هولمز د نیوبیدفورد د ښار په مقابل کې د مک آولیف په دعوې کې وویل " دا ښایي د عارض قانوني حق وي چې په سیاست کې ورغېږي، اما دا دده قانوني حق ندی چې پولیس وي. " د حق او امتیاز ترمنځ توپیریو وخت غیر منطقي او د منصفانه دعوي د اصل سره متناقض وګڼل شو. که یو څوک یواځي په هغه صورت یو قانوني حق ولري چې حکومت یې تایید کړي، نو د منصفانه دعوې رول به څه وي؟

د شلمې پیړۍ په شپیتمې او اویایمې لسیزې کې څرګنده شوه چې په ټولنه کې ډیر مهم شیان نور فیزیکي جوړښت نه لري بلکه محسوسې ګټې دي چې د حکومت لخوا رامنځ ته شوې دي لکه اجازه نامې او لایسنسونه، خیریه او د اجتماعي مرستو پروګرامونه، ، عامه قراردادونه، حکومتي کارونه او داسې نور. آیا دا د ملکیت موضوع کیدای شي چې د هغه د ساتنې د پاره د منصفانه دعوې څخه استفاده وشي؟ په

یوه ماده کې چې سترې محکمې په کال ۱۹٦٤ کې ورته اشاره وکړه، د ییل Yaleپه پوهنتون کې د حقوقو پروفیسر چارلز رایش د دولت لخوا رامنځ ته شوي ګټې نوي ملکیتونه وبلل. ده زیاته کړه :

ټولنه نن د استحقاق پر شاوخوا جوړه شویده...ددې اسحقاقونو یوه مهمه برخه د دولت لخوا راځي، بزګرانو او تجارو ته د تقوي په شکل مالي مرستې، د الوتکو د الوتنې د پاره د لارو او د تلویزیوني ستیشنونو د پاره د چینلونو ټاکل، د دفاع، فضا، او ښوونې او روزنې د پاره د اوږدې مدې قراردادونه کول او افرادو ته د تقاعد معاش ورکول او نور. د امنیت د پاره دا منابع که خصوصي وي او که عامه نور لوکس شیان یا انعام او پاداش نه ګڼل کېږي. هغه کسان چې دا تر لاسه کوي دا ددوی د پاره ډیر اساسي او ضروري دي او دوی ځانونه د هغه مستحق بولي او په هیڅ توګه د مرستې یا خیرات په سترګه ورته نه کتل کېږي.

ښاغلي رایش پدې توګه د استحقاق کلمه په یوه سکه بدله کړه او نن په عامه توګه د ملکیت نوو شکلونو ته ویل کېږي.

د کیلي په مقابل کې د ګولد برګ په مشهوره دعوې کې (۱۹۷۰)، سترې محکمې د رایش د تحلیل څخه په استفاده حکم وکړ چې نیویارک نشي کولای یو مسخق څوک تر هغه د دولتي مرستو د اخیستلو څخه بې برخې کړي، چې هغه ته په محکمه کې د اوریدو او د دلایلو د وړاندې کولو حق نه وي ورکړل شوی. په نورو مسلو کې هم لکه یو بندي ته په خاصو شرایطو کې د عفوې، د یو دولتي پوهنتون د یو استاد په دعوې کې چې غوښتل یې خپل کار ته دوام ورکړي، د مشتریانو په دعوې کې چې د یوې عامه هوسایني د یوې موسسې څخه یې د دوامداره خدماتو د لاس ته راوړلو غوښتنه درلوده، محکمې حکم وکړ چې دا ټول د ملکیت ګټې دي چې باید په منصفانه دعوې کې یې ساتنه وشي.

په وروستیو دعواوو کې چې په اویایمه لسیزه کې پیل شوې محکمې ددې تحلیل د پراخیدو امکان محدود کړ. محکمې د استحقاق مفهوم د رایش د مقالي او د کیلي پر ضد د ګولدبرګ د دعوې څخه واخیست او د هغه څخه یې د وسیلې په توګه د ملکیت د نوو ګټو د تعریف د پاره استفاده وکړه. ګد منصفانه د عوي د اصل څخه هغه وخت استفاده کیداي شي چې یو څوک د یو استحقاق مستحق وي، اما استحقاق هغه شی تعریف شوی چې تاسې یې همدا اوس څښتن یاست. پدې توګه دا د راتلونکي ګټې د انتظار یا هیله درلودلو سره توپیر لري. لهذا یو بندي د منصفانه دعوې حق نلري چې هغه بیا وټاکي چې آیا دی د عفوې وړ دی او که نه. که څه هم ښایي دی د منصفانه دعوې حق ولري که دولت هڅه وکړي یوه عفوه چې بندي ته شویده بیرته فسخ کړي. ددې د پاره چې معلومه شي چې آیا یو شی استحقاق دي او که انتظاراو توقع، محکمه د دولت قانون ته ګوري چې دغه ګټې یې په لمړي سر کې رامنځ ته کریدي. لهذا د دولت لخوا رامنځ ته شوې منفعت یواځي په هغه صورت کې یو ملکیت دی چې دولت یو استحقاق ورکړي وي او د دولت قانون د هغه د دوام اساس پداسې توګه تعریف کړی وي چې لاس ته راوړونکی یې دوام ته صرفا" هیله او توقع ونلري.(دلته د حق او امتیاز مسله له منځه ځي). پدې

توګه، پداسې حال کې چې یو محصل دمخه تر دې چې د پوهنتون څخه اخراج شي، ددې حق لري خپل شکایت محکمې ته وړاندې کړي، ځکه د دولت د قانون له مخې محصلین باید خپل تحصیل ته دوام ورکړي، اما د دولت مامور ښایي مخکې لدې چې د کاره ګوښه شي، د منصفانه دعوې او محکمې ته د شکایت حق و نه لري که د دولت قانون دده د کار د دوام حق د یوې هیلې یا انتظار په توګه تعریف کړی وي.

فرضا" یو څوک د ژوند، آزادي یا ملکیت په برخه کې کومه ګټه لري، دوهمه مسله چې د منصفانه د عوې په تحلیل کې منځ ته راځي دادی چې مخکې لدې چې حکومت هغه ګټه فسخ کړي، کومه دعوې منصفانه ده. د انګلیسانو او امریکاییانو په عنعنه کې، لمړنۍ شی چې د منصفانه دعوي په اړه د قانون پوهانو فکر ته راځي محاکمه ده. پدې توګه ددې مثال چې یو چاته د منصفانه دعوې حق ورکړل شي داسې ښکاري لکه یوه محاکمه، یعني یو چاته هم خبرتیا ورکول کېږي او هم ددې چانس چې خپل اسناد او دلایل وړاندې کړي، شاهدان واوریدل شي او د حکومت اسناد او شواهد غلط وبولي. همدا شان دا حق هم ورکول کېږي چې یو وکیل په محکمه کې دده نمایندګي وکړي او منصفه بې طرفه هییت د خپل حکم د پاره خپل دلایل وړاندې کړي.

آیا په اساسي قانون کې دا غوښتل شوي دي چې د منصفانه د عوې د مادو په پیروي کې باید هره پلا د محاکمې جریان ته ورته کړنلاره غوره شي؟ آیا د تقاعد د معاش په فسخ کولو، یا د پوهنتون څخه د یو محصل د اخراج یا د قتل په مسله کې د منصفانه دعوې ارزښتونه په یو شان اهمیت لري او په هره مسله کې زیانمن شوی فرد د بشپړې محاکمې د دایرولو، د دفاع وکیل او د مرافعې د غوښتنې مستحق دی؟ دلته د اغیزمنتوب په هکله هم اندیښنه وجود لري، که حکومت هره پلا آزادی او ملکیت ته د ضرر رسیدو په صورت کې بشپړه محاکمه دایره کړي، دا به ټول سیستم د رکود سره مخامخ کړي.

د ۱۹۷٦ کال په یوه دعوې کې چې ایلدریج د ماتیو په مقابل کې وکړه، ستریې محکمې د درې عواملو یا فکتورونو د انډول آزموینه تعریف کړه تر څو وټاکي چې په یو خاص حالت کې څومره اقداماتو ته اړتیا لیدل کېږي. لمړی، د هغه فرد ګټه چې د حکومت د اقدام په نتیجه کې متضرره شویدی کومه ده؟ هر څومره چې دا ګټه ډیره وي په هماغه اندازه زیات قانوني تعقیب ته اړتیا لري. یو روحي ناروغ چې په زوره د دماغي ناروغیو کلینیک ته د نامعلومې مدې د پاره لېږل کېږي، نسبت هغه موټروان ته چې د موټر چلولو لایسنس یې د درې میاشتو د پاره له لاسه ورکړي وي د ډیر قانوني تعقیب مستحق دی. همدا شان موټر چلوونکی بیا نسبت هغه محصل ته چې د درې ورځو د پاره د زده کړې څخه محروم شوی وي د ډیر قانوني تعقیب مستحق دی.

دوهم، د غلطو پریکړو د کولو خطر څومره دی او که د قانوني تعقیب بهیر پراخ کړل شي دا خطر څومره کمېږي؟ پداسې مسایلو کې چې د څېړنې د پاره نور حقایق نه وي پاته، د مثال په توګه د یو موټر چلوونکي څخه چې درې واري محکوم شوی وي لایسنس واخیستل شي، نو اضافي اقدامات به ډیره مرسته و نکړي، اما که په یوه دعوې کې لا ډیر حقایق او قانوني مسایل وجود ولري، د مثال په توګه ایا

موټر چلوونکي ته نشه اي مواد ورکړل شوي وو، زياته ځيړنه او تحقيق به د خطا او اشتباه احتمال ډير لږ کړي.

دريم، د حکومت د دلچسپۍ اهميت د اقداماتو په کولو کې څومره دی يعني داچه حکومت په يوه مسله کې د پراخو تحقيقاتو او اجراتو په کولو کې ولي لوی اداري او مالي بار پر غاړه اخلي.؟ که هر چاته د تقاعد په معاش کې د هر بدلون پخاطر د بشپړې محاکمې چانس ورکړل شي دا به پر فدرالي دولت يو ډير لوي مصرف تحميل کړي.

پاملرنه وکړئ چې دغه آزمايښت د هغو ښوونځيو په مسله کې چې غواړي خپلو شاګردانو ته سزا ورکړي څنګه تطبيقېږي. فرضا" د اوهايو په ايالت کې د کولومبوس د ليسې سرښوونکی غواړي يو متعلم پدې دليل چې د يو چاسره يې د طعام په خونه کې حملې وهلي او د ليسې ملکيت ته يې تاوان رسولی دی د لسو ورځو د پاره د زده کړې څخه محروم کړي. څرنګه چې په اوهايو کې د اجباري او آزادو عامه زده کړو يو سيستم منځ ته راغلی دی، دلته د ملکيت مسله چې اساسي قانون يې ساتنه کوي مطرح ده او هغه منصفانه دعوې ته اړتيا لري. اما څومره دعوې منصفانه ده؟ آيا سرښوونکی اجازه لري چې يو متعلم د يو ښوونکي د راپور له مخې چې د پيښې عيني شاهد وو د زده کړې څخه محروم کړي او که بايد د متعلم سره هم خبرې وکړي او د هغه د نظره د پيښې په جريان پوه شي. او که متعلم ددې مستحق دی چې محکمه دده شکايت ته غوږ ونيسي او په محکمه کې د دفاع وکيل دده نمايندګۍ وکړي؟ آيا دا کار بايد مخکې لدې چې متعلم د زده کړې څخه محروم شي وشي او که کافي دی چې پر مسلې وروسته له پريکړې غور وشي؟

سترې محکمې په ۱۹۷۵ کال کې د لوپز پر ضد د ګاس په دعوې کې داسې مسلو ته پاملرنه وکړه.

څرنګه چې په ښوونځي کې د متعلم حضور ډير مهم دی او د زده کړې څخه محرومیدل د متعلم د پاره يو بد نوم لري، متعلم پدې کې ډيره دلچسپي او ګټه لري چې بيله کوم معقول دليل او داچه د انصاف اصل په پام کې نيول شوی وي د زده کړې څخه محروم نشي. حتې د ښوونځيو سرښوونکي چې په ښه صداقت هم عمل کوي، که يواځي د يوې خوا د خبرو په استناد پريکړه وکړي بيله دې چې متعلم ته ددې امکان ورکړي چې د لګول شوي تور په هکله خپل نظر ووايي يا د خپل چلند علت تشريح کړي، ښايي خطا وکړي. دا به د سرښوونکي پريکړه نه ډيره و ځنډوي او نه به کوم خرڅ ولري که دی مخکې لدې چې د زده کړې څخه د محرومولو په هکله پريکړه وکړي متعلم راوغواړي او دده خبرو او تشريحاتو ته غوږ ونيسي. اما په محکمه کې د شکايت اوريدل به د ښوونځي پر اداره کوونکو لوړ مصرف او بار تحميل کړي.

اما په بعضي مسًلو کې حتې همدومره قانوني تعقيب هم منصفانه ندی. که يوه ښوونکې وغواړي يو شاګرد پدې دليل چې په صنف کې يې مناقشه کړيده، د زده کړې محروم کړي، آيا دا بايد لمړۍ شاګرد ته د خپل نظر د ويلو اجازه ورکړي؟ البته چې نه، اما ځيني وخت بيا زيات قانوني تعقيب منصفانه دی. که ښوونځۍ وغواړي يو متعلم د ټول کال د پاره ښوونځي ته د راتګ څخه منع کړي، د متعلم دا ګټه

چې په ښوونځي کې زده کړه وکړي او د يوې غلطې پريکړې څخه مخنيوی وشي، ډيره لويه ده او پدې صورت کې يو بشپړ قانوني تعقيب ته اړتيا ليدل کېږي، يعني د محاکمې په شکل په محکمه کې دده دعوې واوريدل شي او ده ته د دفاع وکيل د درلودلو اجازه ورکړل شي او د عيني شاهدانو څرګندونې هم واوريدل شي.

آيا د اساسي قانون غوښتنه داده چې د هر چا سره يوشان او برابر چلند وشي؟

نه، داسې نده. اما اساسي قانون هر چا ته د قانون په وړاندې د برابرې ساتنې او حفاظت ضمانت کوي. دا څه فرق لري؟

څورلسمه ضميمه چې اساسا" د بيارغونې په دوره کې تصويب شو په جنوب کې د غلامۍ د پاتو بقاياوو د له منځه وړلو د پاره منځ ته راغله. دا ضميمه يو ايالت ته اجازه نه ورکوي چې په خپل قضايي قلمرواو ساحه کې يو څوک د قوانينود برابراو مساوي ساتنې څخه محروم کړي. (وروسته له هغه چې دا ضميمه تصويب شوه د مساوي ساتني اصل د ملي حکومت په اړه هم د منصفانه دعوې د فقرې سره په پنځمه ضميمه کې يو ځای شوه.) د مساوي ساتنې فقره په تير نيم قرن کې د حقوقو د پراخيدو په يوه ډيره لويه منبع بدله شوه. د مدني حقوقو نهضت چې د نژادي تبعيض پر ضد مبارزې يې پراخې کړې ټول په لمړي ګام کې د مساوي ساتنې د فقرې پر اساس تر قانوني تعقيب لاندې ونيول شوې.

په درې مواردو کې د مساوي ساتنې فقره دا نه تضمينوي چې د هر چا سره بايد په مطلقه توګه مساوي چال چلند وشي. لمړی د اساسي قانون د نورو مادو په شان، د مساوي ساتني فقره د حکومت لخوا تبعيض محدودوي، اما نه خصوصي تبعيض.اساسي قانون يو ايالت ته اجازه نه ورکوي د تورپوستانو په مقابل کې د تبعيض څخه کارواخلي، اما د خصوصي افرادو پر چال چلند باندې د کنترول کوم صلاحيت نلري. د اساسي قانون له مخې د کو کلوکس کلانKu Klux Klan

مجبوره ندی په خپل سازمان کې تورپوستو ته غړيتوب ورکړي. اما، د مساوي ساتنې فقره په غير مستقيمه توګه خصوصي چال چلند تنظيموي. که يو خصوصي فرد د يو حق څخه استفاده کوي چې حکومت منځ ته راوړی، محکمه دغه عمل ته پدې سترګه ګوري لکه پخپله يو ايالت چې يې کوي. په ۱۹٤۸ کال کې د کريمر پر ضد د شيلي په دعوې کې د مثال په ډول يود مځکې خاوند ددې د پاره دعوې وکړه چې يو مخه نيوونکی ټرون پر خپل ګاونډي ومني چې د هغه پر اساس دده ګاونډی و نه شي کولاي خپل کور پر يو تور پوستي خرڅ کړي. د کور خاوند په اغيزمنه توګه پرې نه ښودل شو چې پداسي تبعيضي چلند کې ګډون وکړي، ځکه ددې ټرون د منلو او تطبيقولو په هکله د محکمې هره پريکړه به د دولت د يو تبعيضي عمل په توګه څرګند شوی وای او دا به د مساوي ساتنې د فقرې څخه يوه سرغړونه وای. همدا شان ايالت او د مدني حقوقو فدرالي قوانين د خصوصي افرادو او تجارتونو پر ډيرو اعمالو

کنترول لري. د څورلسمې ضمیمې د مساوي ساتني او حفاظت د فقرې د نښه تطبیق په خاطر ایالتي پارلمانونواو کانګرس داسې قوانین تصویب کړيدي چې د نژاد، جنس، اصلي میلیت یا نورو پر بنا تبعیض د استخدام، یا عامه ځایونو ته لکه رستورانتونو ته د تګ په برخه کې منع کوي.

دوهم، د قوانینو مساوي ساتنه دا معني لري، کله چې حکومت یو قانون تصویب کړي، یو پروګرام منځ ته راوړي، یا په فعالیتونو کې برخه واخلي، باید د خلکو سره د قانون له مخې مساوي او برابر چلند وکړي. اما حکومت مجبوره ندی داسې پروګرامونه طرح کړي او هغه بې عدالتی اصلاح کړي چې خلک ورسره مخامخ شوي دي. د مثال په توګه حکومت باید د نژاد پر بنا د تبعیض څخه کاروانخلي، اما اساسي قانون د حکومت څخه ندي غوښتي داسې قانون منځ ته راوړي چې د خصوصي تبعیض علاج پرې وشي.(که څه هم کانګرس دا کار په هر حال کړيدي).

دریم، چې دا تر ټولو مهم دی، حکومت کولاي شي د تبعیض څخه کار واخلي پدې توګه چې خلک په ډلو وویشي او ددې ډلو سره بیلا بیل چلند وکړي، پدې شرط چې د خپل دې چلند د پاره قانوني دلیل ولري. که تاسو په پنځه شپیته کلنۍ تقاعد وکړی تاسو د تقاعد معاش اخیستلای شی، اما که په پنځه څلویښت کلنی تقاعد وکړی ددې معاش مستحق نه یاست. د یو ایالت پوهنتون د خپل ایالت د اوسیدونکو څخه نسبت هغو ته چې له بهر څخه راغلي وي لږ د زده کړې فیس اخلي. فدرالي او ایالتي حکومتونه دا ډول توپیرونه د خپل هر فعالیت په کولو کې کوي او د خلکو یا ډلو سره بیلا بیل چلند کوي. د مساوي حفاظت او ساتني فقره د حکومت څخه نه غواړي چې د هر چا سره ورته او عین چلند وکړي، اما دا غوښتنه لري د هر چا سره چې په عین شرایطو کې وي برابر چلند وکړي. د مساوي ساتنې د مقصد د پاره دا پدې معني ده چې خلک یا ډلې باید د حکومت د سیاست په وړاندې په ورته موقف کې قرار ولري.

په یاد راوړئ چې د اساسي قانون بنیادي هدف حکومت ته د یوې خوا د کافي صلاحیت ورکول او له بلې خوا ددې قدرت څخه پر استفادې باندې د محدودیتونو ټاکل دی. د مساوي ساتنې فقره د یو خاص ډول محدودیت تجویز کوي. مونږ غواړو چې حکومت وشي کولاي عامه ګټې پر مخ بوزي، ددې د پاره لازمه ده چې خلک طبقه بندي شي چې دا پخپله ځینو ته امتیاز ورکوي او ځینې نورو ته یې نه ورکوي.، اما مونږ نه غواړو چې دغسې امتیاز ورکول یا د امتیاز څخه محرومیدل د داسې خصوصیاتو پر بنا وشي چې د خلکو په ګټه نه وي او یا د اخلاقي اصولو سره تناقض ولري.

د حکومت پراعمالو باندې د داسې محدودیتونو د وضع کولو ضرورت په خاصه توګه هغه وخت څرګندېږي چې د حکومت سیاست د یو اقلیت په مقابل کې تبعیضي وي. زمونږ د سیستم پر اساس چې اکثریت واکمني لري، اما ډیر زیات هم ندی، انتخاب شوي اکثریتونه خپله اراده پر اقلیتونو تحمیلولاي شي، اما نه په داسې ډول چې دا اراده په خاصه توګه د نورو په ضرر وي، د نورو اختیار او قدرت لږ کړي او یا منفي اغیز ولري. د مثال په توګه پر نژادي تبعیض بنا د تور پوستو او سپین پوستو د پاره د جلا جلا ښوونځیو منځ ته راوړل د ټولو ماشومانو د پاره د نښه عامه زده کړې د سیستم د منځ ته راوړلو د مقصد

په ضرر وو. پدې توګه اصلي هدف له منځه ولاړ، ځکه د تورپوستو ښوونځيو ته د سپين پوستو د اکثريت لخوا ډير لږ منابع او مرستې ورکول کيدې او نژادي توپير پخپله يو بد نوم او نښان درلود. جلا ښوونځيو برعلاوه زمونږ د انصاف او مساوات دعقيدې پر ضد هم وو. اکادميک ارزښت يا ثروت او سرمايه کولاي شي وټاکي چې يو ماشوم په څه ډول ښوونځي کې زده کړه وکړي، اما نژاد بايد په هيڅ توګه پدې کې رول و نه لري.

دا تصوير نور هم پيچلی دی، ځکه محکمې دولتي موسسې دي چې د مساوي ساتنې د فقرې د تطبيق صلاحيت لري. که محکمې د مساوي ساتنې د پاره د قوانينو په تطبيق کې د ډير جديت څخه کار واخلي، دوی به ډير پياوړي او قدرتمنده شي او د مقننه قوې پر حوزې او ساحې به تيری وشي. په نتيجه کې به محکمې قضاوت کوي چې کومه طبقه بندي د عامه اړتياوو ډيره په ګټه ده. که محکمې د قانون په هکله په خپلو قضاوتونو کې په ډير حرمت او احتياط چلند وکړي، دوی به په خپله وظيفه کې چې اساسي قانون ورته ټاکلې او هغه د مساوي ساتنې تامينول دي شاته پاته کېږي او دا به بيا د نورو ځانګو د ډير پياوړتيا او قدرتمنده کيدو باعث وګرځي.

ستره محکمه داسې انديښنو ته په ځواب کې ځينو قانوني پريکړو ته زيات او ځينو نورو ته لږه پاملرنه او حرمت څرګندوي.، دا پدې اړه لري چې د چا سره څنګه تبعيضي چلند شويدی. (او البته دا د سترې محکمې د قاضيانو په ايديولوژيک جهت او په هر وخت کې په حاکمې سياسي فضا پوري هم اړه لري.)

د هغه طبقه بندی په هکله په خاصه توګه بدګماني نه را منځ ته کېږي چې په اقتصادي چارو کې د حکومت په عادي مقرراتو کې کېږي. دا تر هغه وخته داسې ده چې دا طبقه بندي د حکومت د ګټو د پر مخ بيولو د پاره معقول و بلل شي. پداسې حالاتو کې محکمه په مختصره توګه پر هغه غور کوي اوهڅه کوي د طبقه بندی او د حکومت د ګټو تر منځ عقلي او معقول تړاو ومومي او بيا ښايي دا پروګرام تاييد کړي. اما د ځينو طبقه بنديو په مقابل کې په خاصه توګه بد ګمان کېږي، مخصوصا" هغه طبقه بندی چې د نژادي توپير، اصلي ميليت او يا ځينو نورو پر بنا شوی وي، او يا پداسې مواردو کې وي چې د بيان پر آزادی چې په اساسي قانون کې يو اساسي حق ګڼل شويدی محدوديت لګول شوی وي. پداسې حالاتو کې محکمه پر قانوني توپيرونو جدي غور کوي چې جدي تدقيق يا Strict Scrutiny ورته ويل کېږي او په ډير احتمال سره دا ډول طبقه بندی بي اعتباره بولي. او که مسله د دې دوو حالاتو په منځ کې وي، د محکمې غور او بررسی ته مصلحانه يا د منځګړيتوب بررسي يا Intermediate Review وايي. د معقوليت د اړيکې موجوديت په ټولو اقتصادي مقرراتو کې ځيړل کېږي.

د حکومت يوه وظيفه داده چې هر ډول اقتصادي چارې تنظيم کړي. پدې ډله کې د اعلاناتو د څارنې څخه نيولې د تقاعد تر معاش پورې ټولې برخې شاملې دي. ددې مقرراتو په رامنځ ته کولو کې پارلمان (او اجراييه څانګه چې دا مقررات تطبيقوي) بايد د ډلو تر منځ طبقه بندي وکړي. (لکه د تقاعد د معاش د پاره چې د ٦٥ کالو عمر ټاکل شويدی). که پداسې مسَلو کې محکمې د پارلمان يا اجراييه څانګې د قضاوتونو څخه جلا کوم بل فکر ولري، قضاييه قوه به په عمل کې د دولت تر ټولو قدرتمنده او پياوړې

څانګه شي. پر ځای يې سترې محکمې فيصله کړيده چې د مساوي ساتنې د فقرې په شان د عادي قوانينو په بررسی کې دمحکمې وظيفه يواځې د دوو پوښتنو کولو ته محدوده ده. آيا دا قانون د حکومت د قانوني اهدافو د رسيدو د پاره ضرور دی؟ آيا دا هدف ته د رسيدو د هلوځلو سره معقول تړاوو لري.؟ که دواړو پوښتنو ته ځواب مثبت وو دا قانون د مساوي ساتنې د فقرې سره مطابقت لري.

په عمل کې کله چې محکمه د معقولې اړيکې مسله څيړي، معمولا" د حکومت اقدام تاييدوي. د محکمې په نظر مقننه قوه يا پارلمان پدې هکله چې کومې طبقه بندۍ د يو عادي قانون په تصويب کې مناسبې دي لوي صلاحيت لري او ټول ملاحظات په نظر کې نيسي. ددې مطابق محکمه مقرره مني او د هغه د معقول هدف په هکله استنباط کوي او په حقيقت کې صرفا" غواړي د هدف او طبقه بندۍ تر منځ د حد اقل اړيکې شته والی ورته څرګنده شي.

د معقولې اړيکي د څيړنې برعکس جدي تدقيق يا Strict Scrutiny دی. په څورلسمه ضميمه کې د مساوات د پرنسيپ د تطبيق د پاره دوې اساسي ساحې وجود لري. که د حکومت د يو اقدام هدف يوه شک منه طبقه وي لکه تور پوستي امريکاييان چې د څورلسمې ضميمې د رامنځ ته کيدو اصلي هدف ددوی ساتنه او حفاظت وو، او يا که حکومت په خپل عمل سره په تبعيضي ډول پر يو اساسي حق تيرۍ وکړي، محکمه به ددې اقداماتو په څيړنه کې د جدي تدقيق د طريقې يا متودې څخه کار واخلي او ددې اقداماتو مطابقت به د مساوي ساتنې د فقرې سره وڅيړي. ددې پر ځای چې د دولت د نورو څانګو قضاوت ته حرمت څرګنده کړي، محکمه به په خپله پدې هکله پريکړه وکړي چې آيا دا طبقه بندي د مهمو هدفونو د رسيدو په لاره کې د حکومت د پاره ضروري ده او که نه؟ اکثره وخت چې محکمې د جدي تدقيق د متودې څخه کار اخيستی دی، د حکومت اقدام يې بي اعتباره بللی دی.

هغه شک منې طبقه بندۍ چې اوږد تاريخ لري البته د نژاد او ځينو نورو ورته مسًلو په برخه کې دي لکه د ملي اصليت مسًله. کله چې د حکومت په يو اقدام کې د خلکو تر منځ د نژاد پر بنا توپير شوی وي، دغسې يو اقدام اساسا" د غلامۍ او نژاد پرستۍ د تاريخ په رڼا کې يو شک من عمل دی. پدې اساس به محکمه پر دې اقدام له نژدې غور وکړي چې وګوري آيا دا نژادي طبقه بندي د حکومت د اهدافو د پاره حقيقتا" ضروري ده، او لکه تل به دا ډول طبقه بندي بي اعتباره او باطل وبولي.

په حقيقت کې يواځي د جاپانيانو د ډير رسوا او بدنامه توقيف په مسًله کې سترې محکمې د اقليت نژاد پر ضد د يو څرګند تبعيضي اقدام تاييد وکړ او حکومت ته يې اجازه ورکړه د دوهمې نړيوالې جګړې په وخت کې د آرام سمندر پر غاړه د پرتو ايالتونو څخه جاپاني امريکاييان وباسي او دوی ټول په لاګرونو کې توقيف کړي. (په اتيايمه لسيزه کې، يعنې د جګړې تر پای ته رسيدو څو لسيزې وروسته د هغه جاپاني امريکاييانو محکوميت چې د توقيف د مقرراتو څخه د سرغړونې په تور محکوم شوي وه، باطل وګڼل شو او ګانګرس د جاپاني امريکاييانو څخه د هغه وخت د اقدام په خاطر په رسمي توګه بخښنه او معذرت وغوښت).

د جدي تدقيق څخه هغه وخت هم استفاده کېږي چې د حکومت يو طبقه بندي د اساسي حقوقو د ګټوپه برخه کې تبعيضي وي. په اساسي قانون کې ځيني بنيادي حقوق شته لکه د آزاد بيان حق. نور حقوق د محکمې لخوا چې په اساسي قانون کې په ضمني توګه درج دي، تشريح شوي دي، لکه د يو ايالت څخه بل ايالت ته د سفر کولو حق. که د حکومت طبقه بندي ځينو خلکو ته د خپلو بنيادي حقوقو څخه د استفاده کولو په بهير کې ستونزې رامنځ ته کړي، محکمه به ددې طبقه بندۍ په هکله جدي تدقيق وکړي تر څو څرګنده شي چې آيا دا د حکومت د اهدافو د پاره ضروري ده او که نه؟ که دا د حکومت د اهدافو د پاره ضروري و نه ګڼل شي (چې اکثره هم ضروري نه وي) دا طبقه بندي د مساوي ساتنې د فقرې څخه سرغړونه ګڼل کېږي. د مثال په توګه په ۱۹۷۲ کال کې د بلوم ستاين Blumstein پر ضد د دون Dunn په دعوې کې محکمې فيصله وکړه چې د راي ورکولو د پاره په يوه سيمه کې د يو کلن اقامت غوښتنه د سفر کولو پر حق يو بې ځايه بار ايښودل دي. همدا شان په ۱۹۶۹ کال کې د تامپسن Tompson پر ضد د شاپيرو Shapiro په دعوې کې چې د خيريه مرستو د لاس ته راوړلو په برخه کې وه همدا شان پريکړه وشوه.

او بالاخره داسې طبقه بندۍ هم شته چې د شک منو طبقه بنديو په شان تبعيضي او ناوړه نه وي، اما د هغه په هکله هم لږ تر لږه پوښتنې رامنځ ته کېږي. او داسې ګټې هم شته چې د بنيادي ګټو په شان قانوني منشأ نلري خو بيا هم مهمې ګڼل کېږي. دا متوسطې يا منځنۍ طبقه بندۍ او ګټې په طبعي توګه د منځني سويې غور او څيړنې ته اړتيا لري. پداسې مواردو کې محکمه د حکومت د ګټو او د شک منې طبقه بندۍ تر منځ اړيکې د بنيادي ګټې يا د شک منې طبقې په شان له نژدې نه څيړي، او نه هم هغه ته د عادي اقتصادي مقرراتو په شان اهميت ورکوي. هغه طبقه بندۍ چې د جنس پر اساس شوي وي د متوسط يا منځني طبقې ډير ښه مثال دی. د محکمې په عقيده، جنسي تبعيض هغسې ننګينه او رسوا مسله نده لکه نژادي توپير چې په تاريخ کې دی، اما دا مسله هم په کافي اندازه د پوښتنې وړ ده چې د عادي قانوني طبقه بنديو په پرتله نژدې څيړنې ته اړتيا لري. څرنګه چې جنسي تبعيض د منځني کټګورۍ په ډله کې راځي، د پريکړو په هکله يې هم پيشبيني يا وړاندوينه نشي کيدلای. د مثال په توګه محکمې د يوتا Utah د ايالت يو قانون فسخ کړ. پدې قانون کې ويل شوي وه چې ښځې په اتلس کلنۍ او نارينه په يوويشت کلنۍ د رشد او پوخوالي سن ته رسېږي. پدې معنې چې مور او پلار بايد د انجونو په پرتله د زامنو څخه ډيره مده ملاتړ وکړي او دا اوږد مدت ددې د پاره وه چې نارينه خپل تعليم او زده کړې پای ته ورسوي تر څو بيا وروسته له خپلې کورنۍ سره مرسته وکړي. (۱۹۷۵ کال، د سانتن پر ضد د سانتن دعوې). اما محکمې د کليفورنيا ايالت يو قانون تصويب کړ چې په هغه کې د يوې نابالغې انجلۍ سره د يوه نارينه جنسي معامله جنسي تجاوز ګڼل شوی وو، که څه هم پدې قانون کې د يو نابالغه هلک سره د يوې ښځې لخوا جنسي معامله نه وه منع شوې، ځکه ددې ايالت هدف دا وو چې ښځو ته د زيان رسيدو څخه مخنيوۍ وکړي کوم چې د غير قانوني حمل له لارې ورته رسېږي. (د لويې محکمې پر ضد د مايکل ام د عوې په ۱۹۸۱ کال کې).

د مساوي ساتنې په تحليل کې دا درې اړخيزه طرح ددې مفکورې د پوهيدلو د پاره يو ښه پيل دی، اما جنجالي مسايل بيا هم پاته دي. د مثال په توګه پر دې پوښتنې فکر وکړئ : محکمه بايد د حکومت هغو اعمالو ته څنګه ځواب ورکړي چې په مستقيمه توګه تبعيضي ندي اما هدف يا اغيز يې تبعيضي دئ؟ داسې مسلې پيښې شوي دي چې د دوو ډلو سره يو شان چلند شويدی، اما دټولنيز تبعيضي اساس پر ضد درول شوي دي. دا روښانه ده چې قانوني طبقه بندي په نابرابره توګه يو د بدنامۍ اغيز لري. همدا پرنسيپ يا اصل د هغو پريکړو اساس وو چې د ښوونځيو د جلا والي په هکله وشول لکه د براون په دعوې کې، او يا هغه پريکړې چې ځيني نور قوانين يې چې د نژادي توپير پر اساس منځ ته راغلي وه له منځه يووړل، لکه په ۱۹۷٦ کال کې د ويرجينياVirginia پر ضد د Loving دعوې چې په هغه کې محکمې د ويرجينيا ايالت يو قانون چې د بيلا بيلو نژادونو تر منځ واده کول يې منع کول، بي اعتباره وبالله.

لا هم ډير قوانين په خپل اصل او ماهيت کې بيطرفه دي اما په يو تبعيضي شکل تطبيقېږي. که تبعيض د قانون په تطبيق کې روښانه وي، دا د مساوي ساتنې د فقرې څخه سرغړونه ده. په ۱۸۸٦ کال کې د هاپکينز Hopkins پر ضد د ييک وو Yick Woپه مشهوره دعوې کې، د سان فرانسيسکو د فرمان له مخې د لرګو په کورونو کې د کالو مينځلو فعاليت منع وګڼل شو. که څه هم قانون پخپله متوازن او انډول وو، د هغه تطبيق متوازن نه وو، ځکه د سان فرانسيسکو د ښار چارواکو دا منع يواځې پر چينايي دوبيانو يا کالي ميځونکو تطبيق کړه.

ډير ستونزمن مسايل هغه وخت منځ ته راځي چې پر يو قانون يا د حکومت پر پاليسۍ باندې دعوې وشي او دهغه هدف يا اغيز تبعيضي وګڼل شي. فرضا" د پوليس اداره د درخواست کوونکو څخه وغواړي په يوه معياري آزموينه کې برخه واخلي او په هغه کې د ناکامه شوو تورپوستو درخواست کوونکو شمير نسبت سپين پوستو ته څلور واره ډير وي. آيا دا تبعيضي اغيز څرګندوي چې پدې کار کې د نژادي تبعيض څخه کار اخيستل شويدی او محکمه بايد د جدي تدقيق د رويې څخه کار واخلي چې نتيجه به يې په غالب ګمان ددې آزموينې بي اعتباره کيدل وي؟

په ۱۹۷٦ کال کې د ديويس Davis پر ضد د واشنګټن Washingtonپه دعوې کې محکمې دې ته منفي ځواب ورکړ او وې ويل چې د تبعيض مقصد بايد څرګند وي. تبعيضي اغيز په يواځې سر نشي کولاي ددې باعث وګرځي چې په محکمه کې د نژادي طبقه بنديو په مسله کې د جدي تدقيق د اصل څخه استفاده وشي او دا يواځې په هغه صورت کې مجاز او د توجيه وړ دی چې ډير درانه ملاحظات وجود ولري. په نتيجه کې دا آزموينه دداسې تبعيض په برخه کې ده چې د يو مقصد او هدف د پاره وي. او که په يوه موضوع کې د آګاهانه تبعيض نښانه نه وي، په هغه صورت کې د مساوي ساتنې د فقرې څخه سرغړونه نده شوې که څه هم اغيز يې تبعيضي وي.

يو دعوې کوونکی څنګه کولای شي د تبعيضي ارادې شته والی ثابت کړي؟ که د حکومت د عمل د تشريح کولو د پاره د نژادي طبقه بندۍ څخه د استفادې پرته کوم بل اساس وجود ونلري، دا عمل به په قوي احتمال بي اعتباره وګڼل شي.

کله چې د شمالي کارولینا North Carolina ایالت یو د غونډې یا کانګرس د سیمې یا Congressional District په نامه یو ځای جوړ کړ چې عجیب شکل یې درلود، یعني دا سیمه ۱۵۰ میله اوږده وه اما پسور یې په ځینو ځایونو کې د یوې لویې لارې په اندازه وو، دا محکمې ته څرګنده وه چې ددې کار اصلي انګیزه جیري ماندر gerrymander یعني د سیاسي مقصدونو د پاره د یوې ولسوالی احاطه او محاصره کول دی چې اکثریت اوسیدونکي یې تور پوستې وه. پدې مسله کې محکمې د جدي تدقیق د متوډ څخه کارواخیست. یواځې په هغه صورت کې چې د شمالي کارولینا ایالت ددې کار د پاره نه خالصو نژادي دلایلو بلکه یو ډیر ضروري ګټې ته اشاره کړې وای، ښایي محکمې هغه تایید کړی او د اساسي قانون مطابق ګڼلی وای (لکه په ۱۹۹۳ کال کې د رینو Reno پر ضد د شا Shaw په دعوې کې).

پداسې ورته قضیو کې، محکمه د اغیز په برخه کې احصایوي نابرابریو، د مسلې تاریخ (د مثال په توګه د استخدام، کور او یا د رای ورکولو حقوقو) او د قانون د تطبیق خپل پس منظر ته پاملرنه کوي. د مثال په توګه، فرض کړئ چې یوه ښاروالي د ځان د پاره د کمیسیونونو حکومتي سیستم وټاکي چې د هغه پر اساس د کمیسیونونو دریې واړه مشران په ښار کې د خلکو لخوا انتخاب شوي وي. تورپوستې رایه ورکوونکي شکایت کوي چې ددې سیستم د منځ ته راوړلو انګیزه نژادي ده، ځکه د سپین پوستو اکثریت کولای شي سپین پوستو کمیشنرانو ته رایه ورکړي او پدې توګه به د تورپوستو اقلیت په سیاسي ډګر کې کوم اغیزمن رول ونلري. که د تبعیضي ارادې یواځنۍ سند احصایوي اغیزوي، د نژادي تبعیض د ادعا څخه دفاع نشي کیدلای (لکه په ۱۹۸۰ کال کې د بولدن پر ضد د موبایل په دعوې کې). اما فرض کړئ چې دعوې کوونکي ثابته کړي چې هیڅکله یو تورپوستي په انتخاباتو کې کمشنر ندی ټاکل شوی او انتخابات پداسې توګه تر سره شوي دي چې د لوړو ادارو سپین پوستو خاوندانو د تورپوستو د اقلیت رایه ورکوونکو پر اندیښنو سترګې پټې کړیدې.په داسې یوه قضیه کې غیر له احصایوي لوی توپیر څخه نورې داسې نښې هم شته چې د تبعیضي ارادې پر شته والي دلالت کوي او پدې صورت کې به د رایه ورکولو پر سیستم باندې د غور د پاره د جدي تدقیق د متوډ څخه کارواخیستل شي او ښایي هغه باطل وبلل شي لکه (په ۱۹۸۲ کال کې د لاج Lodge پر ضد د راجرز Rogers په دعوې کې).

د رینو پر ضد د شا دعوې د مساوي ساتنې د دکتورین د وروستیو وختونو یوه ډیره مهمه مسله مطرح کوي چې پلویان یې هغه د مثبت او تاییدي اقدام یا Affirmative action په نامه یادوي او مخالفین یې چپه یا مخ پر شا تبعیض یا reverse discrimination بولي.

(Affirmative action هغه اقدام ته وایي چې د یوې وضع د اصلاح او علاج د پاره مخصوصا" د اقلیتونو، ښځو او یا معیوبو خلکو پر ضد د تبعیضي اعمالو د علاج دپاره صورت مومي. ژ) او

(reverse discrimination هر هغه وضعیت چې په هغه کې د اولس نژادي اکثریت یعنې سپین پوستان د کار د پیداکولو په هلو ځلو کې د لازم لیاقت خاوند ونه بلل شي او یا د خپل نژاد له مخې د ځینو ګټو څخه بې برخې شي ژ.)

د مسلّو مطرح کول آسانه اما حلول يې ګران دی : آيا د مساوات پرنسيپ چې په څورلسمه ضميمه کې راغلی د رسمي مساوات غوښتنه کوي، تر څو حکومت هيڅکله ونشي کولاي د نژادي توپيرونو يا امتياز څخه استفاده وکړي؟ او که حکومت ته اجازه ورکوي چې تاريخ او شرايطو ته په پاملرنه سره د نژادونو ترمنځ توپير وکړي تر څو د نژادي نابرابرۍ د اصلاح د پاره هلي ځلي وکړي؟ د مساوي ساتني فقره اساسا" د اقليت د ګټو د ساتني د پاره منځ ته راغله. د تاييدي اقدام پلويان استدلال کوي چې دداسې اصلاحي اقداماتو پلي کيدل چې د اقليتونو په ګټه وي، ځکه ددوی پر ضد په عنعنوي توګه د تبعيض څخه کار اخيستل شوی اودوی په سياسي لحاظ ډير کم واک درلودلی دی، په حقيقت کې ددې فقرې د اصلي هدف سره مطابقت لري. او دا د تبعيض د تاثيراتو او اغيز د له منځه وړلو د پاره ضروري دي. د تاييدي اقدام مخالف کسان بيا استدلال کوي چې د مساوي ساتنې د فقرې خاص تطبيق ددې دپاره دی چې د تبعيض له هر شکل څخه چې شک منې طبقې د نژاد يا جنس په نامه يو د بل پر ضد استعمالوي مخنيوی و شي، څه داکار د يوې خاصې ډلې په ګټه يا په ضرر وي.

د عادت له مخې به په ځينو نسبتا" آسانو قضيو پيل وکړو. په ښوونځي کې د شاګردانو د جلا والي په قضيو کې، ثابته شوه چې په ښوونځيو کې په قصدي توګه د شاګردانو سره د نژاد له مخې تبعيض کيده. د جلا ښوونځيو د تاثيراتو او اغيز د علاج دپاره ښايي لازمه وي د نژادي واقعيتونو په رڼا کې اقدامات وشي يعني ښوونکي او شاګردان ښوونځيو ته ددوی د نژادي ارتباط له مخې تقسيمات او ولېږل شي. دا ډول تاييدي اقدام يا affirmative action د اصلاح او علاج د پاره دی، او يواځنۍ لاره ده چې د ثابت شوې قصدي تبعيض د له منځه وړلو د پاره د نژاد څخه د کټګورۍ په توګه استفاده وشي.

اما فرضا" حکومت بيله دې چې د تبعيض د پاره يو تاريخي ثبوت وجود ولري په خپله خوښه تاييدي اقدامات پلي کړي. په ۱۹۷۸ کال کې د کليفورنيا پوهنتون د ريسه هييت په مقابل کې د باک Bakke په دعوې کې محکمې دا اصل تصديق کړ چې يو عامه پوهنتون بايد د محصيلينو د شاملیدو داسې يو پروګرام ولري چې په پوهنتون کې د اقليت ډلو د محصيلينو د شاميليدو ملاتړ وکړي. اما په ۱۹۸۹ کال کې د کروسون کمپنۍ .Crosson COپه مقابل کې د ريچموند ښار په دعوې کې محکمې پريکړه وکړه چې د تاييدي اقداماتو د پروګرامونو په هکله به د جدي تدقيق د متوډ څخه استفاده وکړي چې دا په اکثره مواردو کې د فسخ کولو معنې لري.

وروسته له هغه چې څرګنډه شوه چې اقليتونه په ټول تاريخ کې په ساختماني يا د ودانولو په صنعت کې ډير لږ رول درلوده، د ريچموند ښار يو فرمان خپور کړ او د ښار جوړولو د پروژو د لويو قراردادیانو څخه يې وغوښتل چې لږترلږه ديرش په سلو کې ساختماني قراردادونه د اقليتونو د شرکتونو سره وکړي. قاضي ساندرا دې او کانر په محکمه کې فيصله وکړه پر هغه طبقه بنديو باندي چې د اقليتونو سره د مرستې پخاطر کېږي بايد هماغسې غور وشي لکه پر هغو طبقه بنديو باندې چې ددوی په ضرر کېږي. د مساوات د پرنسيپ غوښتنه داده چې د ټولو افرادو او ډلو سره بايد بيله دې چې د هغو نژادي طبقه بندي په نظر کې ونيول شي، يوشان چلند وشي، لهذا د ريچموند ښار بايد څرګنډه کړي چې د ښارجوړولو

په محلي صناعت کې د اقليتونو لږ رول د پخوا وختونو د تبعيضي چلند نتيجه ده او د هغه علاج پدې کې دی چې هغه تبعيض اصلاح کړل شي.

اساسي قانون څنګه د بيان د آزادی ساتنه کوي؟

د حقوقو اعلاميه ددې دپاره تصويب شوه چې روښانه کړي چې نوی ملي حکومت ددې صلاحيت نلري د خلکو حقوق غصب کړي. د اساسي قانون په لمړی ضميمه کې ښايي تر ټولو مهم او بنيادي حقوق شامل وي : کانګرس بايد داسې قانون تصويب نکړي چې د بيان او يا د مطبوعاتو آزادي محدوده او نيمګړي کړي. د بيان آزادي د نورو حقوقو د پاره د ضامن حيثيت لري او څرګندې سياسي بحثونو او د حکومت واک ته د چيلينج ورکولو اجازه ورکوي.

د تعجب خبره داده چې په تاريخي اسنادو کې روښانه نده چې د حقوقو د اعلاميې مسوده کوونکو د لمړي ضميمې د تطبيق څخه څه غوښتل. ځيني پوهان استدلال کوي چې ددوی اراده يواځې داوه چې حکومت پرې نږدي په مستقيمه توګه خلګ د خپل فکر او نظرياتو د څرګندولو څخه منع کړي، که څه هم حکومت کولاي شي وروسته له هغه چې خلک خپل نظر څرګند کړي دوي ته د همدغو څرګندونو په خاطر سزا ورکړي. نور بيا وايي چې د مسوده کوونکو اراده داوه چې د بيان د آزادی د پاره يو پراخ اساس او بنسټ منځ ته راوړي تر څو خلګ ددې آزادي ولري چې پر حکومت بيله بيرې انتقاد وکړي. دا چې اصلي معنې به يې څه وي، د بيان د آزادی فقره تر سل کلونو لا زيات بيکاره پرته وه، تر څو چې د لمړی نړيوالې جګړې په کلنو کې د حکومت د فشار د زياتيدو په نتيجه کې د بيان د آزادی لمړني مسلې مطرح شوې. يواځې له هغه وخته راهيسې سترې محکمې د لمړي ضميمې څخه د قانوني اصولو يوه مجموعه منځ ته راوړه چې په پراخه توګه د بيان د آزادی ساتنه کوي، اما د فشار په کلنو کې لکه په پنځوسمه لسيزه کې چې د ميکارتي دوره وه، دا ساتنه مړاوې او ضعيفه شوه.

حقوق پوهانو او قاضيانو د بيان د آزادی د تشريح کولو او د قانوني انکشافاتو د لارښوونې د پاره څو نظريې منځ ته راوړي دي. ددې نظريو اهميت پدې کې دی چې د بيان د آزادی ساتنه ښايي ددې آزادی د ساتنې څرنګوالی وټاکي. کلاسيکه نظريه پدې هکله داده چې د بيان آزادي په اصطلاح د نظرياتو د يو بازار منځ ته راتلو ته اجازه ورکوي چې په هغه کې د پلويانو د پاره د حقيقت بيلا بيل اړخونه او د ښه نيت مظاهر وړاندې کېږي. دا نظريه د سترې محکمې د قاضي اوليفر ويندل هولمز په هغه مخالفت کې چې په ۱۹۱۹ کال کې يې د متحده ايالاتو پر ضد د آبرامز د دعوې سره وکړه، ښه څرګنده شويده. پدې دعوې کې انارشيستان پدې خاطر تر تعقيب لاندې وه چې شب نامې يې خپرې کړې وې او په هغه کې يې د نړی د کارکوونکو څخه غوښتي وه د متحده ايالاتو د هغو مداخلو پر ضد چې د روسيې د انقلاب په وخت کې يې د بلشويکانو په چارو کې وکړې خپل مخالفت د اعتصاب په کولو څرګند کړي. په ستره محکمه کې د قاضيانو اکثريت د انارشيستانو محکوميت چې په شل کاله بند محکوم شوي وه، تاييد کړ،

اما هولمز د سترې محکمې د بل قاضي لویس براندایس سره یوځای ددې حکم پر ضد ودریدل او استدلال یې وکړ، هغه نهایي ښه والی چې زمونږ د ټولو هیله ده یواځې د نظریاتو د آزادې راکړې ورکړې له لارې موندل کیدای شي. او د حقیقت تر ټولو ښه آزمایښت د هغه فکر قوت او پیاوړی توب دی چې د بازار په رقابت کې د نورو لخوا ومنل شي. ځرنګه چې د یوې عقیدې آزمایښت یواځې د خلکو لخوا د هغه په منل کیدو کې پروت دی، مونږ مخکې له مخکې نشو پوهیدلای چې کومې عقیدې او فکرونه تر نورو ښه دي. لهذا حکومت باید دې ټولو ته د آزاد رقابت او سیالۍ اجازه ورکړي.

په وروستیو کلنو کې د بیان د آزادۍ یوه بله نظریه ډیره مشهوره شویده. ددې نظریې پلویان د نظریاتو د بازار مفکوره ډیره محدوده بولي ځکه دا د ښه سیاسي پریکړو د پاره د بیان د آزادۍ ګټور اغیز instrumental effect ته ډیره پاملرنه کوي. ددې نظریې پراساس د بیان آزادي د افرادو د بشري کرامت په تاییدولو اود شخصیت په وده او انکشاف کې یو خپلواک ارزښت لري.

دا چې مورږ د یوې نظریې پلوي کوو او یا د بلې او یا د دواړو د ترکیب ځخه، مونږ د لمړي ضمیمې د محتوې په تعریفولو کې چې د بیان آزادي تضمینوي د لویو ستونزو سره مخامخ کېږو. بیان ډیر بیلا بیل شکلونه لري : د مثال په توګه، د سیاسي عقیدې بیان، د نژاد ستاینه، په یو د خلکو ځخه ډک تیاتر کې د اور اور ناري وهل، د سینما د یو اکټر په باره کې په پوچو کلماتو یوه کیسه خپرول، او یا په یو اعلان کې غلطې وعدې ورکول او داسې نور.

په بیان کې هغسې چې په لمړي ضمیمې کې راغلي دي ځیني غیرلفظي ځرګندونې او کړه وړه هم شاملې دي : د یو چا د کارد سوځول، د امریکا بیرغ سوځول، د صلیب سوځول، ځارنه کول، د اعتصاب په توګه د یو ځای مخې ته په ډله ایزه توګه کښینستل، یا یو چاته یو شکمن چم کول. اوس نو د حکومت د مداخلې په مقابل کې لمړی ضمیمه د بیان ددې شکلونو د کومو ځخه ساتنه کوي او دا ساتنه تر کومه ځایه پوري ده؟

د اساسي قانون یو د ډیرو مهمو اصولو ځخه په حیرانوونکي توګه د سترې محکمې د یو حکم په لمن لیک یا فوټ نوټ کې ځرګند شوي دي.په ۱۹۳۸ کال کې د کارولین د محصولاتو د شرکت پر ضد د متحده ایالاتو په دعوې کې د سترې محکمې د ستر قاضي هارلان ستون په حکم کې دغه لمن لیک شته چې نن د مشهور ځلورم فوټ نوټ په نامه یادېږي. پدې لمن لیک کې ځینو حقوقو ته د اساسي قانون غوره موقف ورکړل شوي دي. په لمن لیک کې راغلي دي چې د اساسي قانون سره د نورو قوانینو د مطابقت مسله چې محکمه یې په عادي توګه فیصله کوي ښایي د محدودیت سره مخامخ شي که محکمې ته داسې یو قانون وړاندې شي چې هغه په خاصه توګه په اساسي قانون کې منع ګڼل شوي وي لکه هغه مواد چې په لمړیو لسو ضمیمو کې راغلي دي. همدا وجه ده چې په اساسي قانون کې درج حقوق لکه د حقوقو اعلامیه او په هغه کې شامل د بیان آزادی ته د نورو حقوقو په پرتله غوره او ترجیحي موقف ورکړل شویدی. دغه غوره موقف باید د قضایي ژور تدقیق له لارې چې د بیان د کنټرول په برخه

کې يې د حکومت پر هلو ځلو کوي نور هم اغيزمن شي، او دا په دقيقه توګه هغه څه دي چې د بيان د ساتنې په برخه کې شوي دي.

د بيان د آزادۍ غوره موقف د ايالتي او فدرال حکومتونو صلاحيت محدودوي تر څو و نشي کولای د بيلا بيلو لارو څخه د بيان آزادي چې اساسي قانون يې ساتنه کوي منع کړي يا حدود ورته وټاکي. لمړی، حکومت ښايي په عمومي توګه د بيان د پاره مخکښ محدوديتونه وضع نه کړي، يعني مخکې له مخکې بايد د بيان آزادي منع نه کړي، که څه هم د اساسي قانون له مخې کولای شي يو چاته د هغه د څرګندونو په خاطر سزا ورکړي. دوهم، بايد د بيان د محتوې د پاره محدوديت و نه ټاکي. دريم، حکومت کولای شي د بيان د وخت، ځای، او شکل د پاره محدوديت وټاکي، اما يواځې په هغه صورت کې چې په دې کار کې يوه څرګنده ګټه او منفعت ولري. پدې کار کې هم بايد د بيان د پاره تر ټولو لږ محدوديت و ټاکي او دا کار د هغه مقرراتو له مخې کوي چې نه ډير مبهم دي او نه ډير پراخ او هر اړخيز.

په لمړي ضميمه کې د بيان پر آزادۍ باندې د مخکې له مخکې بنديزونو د لګولو منع تر ټولو ډيره قوي ده. فرضا" د جګړې په وخت کې د حکومت يو پخوانۍ مامور غواړي د پټو معلوماتو د خپرولو له لارې چې د حکومت د سياست د پاره ډير مهم ګڼل کېږي، د جګړې په چارو کې مداخله وکړي (لکه د دانيل ايلسبرګ په مسله کې چې د ملي امنيت پخوانۍ مامور وو او د ويتنام د جګړې په هکله د پنتاګون د مهمو کاغذونو مسله). که دا معلومات د جګړې د پاره د خلکو ملاتړ له منځه يوسي او پدې توګه د دښمن سره مرسته وکړي، حکومت ښايي داسې اقدام وکړي تر څو مخکې لدې چې ضرر ورسېږي، د هغه مخنيوی وکړي. سربيره پر دې ددې حکم د پاره لازمه ده چې د قاضي په حضور کې يوه بيړنۍ استماعيه غونډه وشي، او که مامور ددې حکم څخه سرغړونه وکړي، دی به پدې خاطر سزا ووينې. لهذا دغه ډول حکم يا فرمان د حکومت د پاره يوه ښه د حل لاره ده چې وايي که يو څوک دا ډول معلومات خپاره کړي جنايي سزا به ورکړل شي.

اما د بيان د آزادۍ فقره ددې د پاره منځ ته راغله چې حکومت د هغه څه څخه چې ډير ورته مهم دی بې برخې کړي. په پيل کې د بيان د آزادۍ څخه پوهه په انګليسي او امريکايي قانون کې دا وه چې پر دې آزادۍ دې مخکې له مخکې محدوديت نه وضع کېږي. حکومت کولای شوای يوچاته پدې خاطر چې په خپلو څرګندونو کې يې خلک بغاوت ته رابللي، يا يې کفر آميزه څرګندونې کړيدي يا يې يو بل منع شوی کار کړيدی، سزا ورکړي، اما دا حق يې نه درلود چې د يو چا څرګندونې مخکې له مخکې سانسور کړي يا يې د خپريدو څخه مخنيوی وکړي. دا اصل د لمړي ضميمې د حقوقي سيستم په اوږدو کې تر معاصر وخت پوري د همدغه عقيدې پر اساس چې مخکې له مخکې محدوديت منع دی عملي شويدی. حکومت په عمومي توګه نشي کولای بيان او د نظر څرګندول د نظرياتو د بازار څخه ليرې وساتي، که څه هم وروسته کولای شي د نظر څرګندونکي ته سزا ورکړي.

اما سترې محکمې په دوو ساحو کې د مخکې له مخکې محدودیتونو ټاکلو ته اجازه ورکړیده او هغه د وقاحت او ناولتوب او د تجارتي اعلانونو په برخه کې دی. ددې د توپیر په برخه کې د محکمې نظر هم روښانه ندی او علت یې ښایي د اهمیت لرړوالی وي چې دداسې خپرونې ځنډیدل یې لري او یا په دغو ساحو کې د بیان کښته موقف وي. د سیاسي بحث پر یوه موضوع مخکې له مخکې محدودیت وضع کول ښایي یوه مهمه عقیده یا حقیقت په یو حساس وخت کې دنظریاتو د تبادلې له بازار څخه لیري وساتي، اما د ناوړو او وقیحو موادو یا اعلان د توزیع او خپریدو د پاره د وخت فشار ډیر ندی.

د بیان د آزادۍ د پاره دوهمه ساتنه د بیان پر محتوې باندې د حکومت د مقرراتو منع ده. د ډیر استثنایي حالاتو پرته د بیان د آزادۍ په هکله د حکومت مقررات باید په بشپړه توګه بیطرفانه وي، پدې معنې چې حکومت باید د یو نظر څخه د بل نظرپه پرتله ملاتړ ونکړي. هفسې چې د سترې محکمې قاضي تور ګوډ مارشال Thurgood Marshall لیکلي دي : " سر بیره پر ټولو د لمړي ضمیمې معنې داده چې حکومت دا صلاحیت نلري یو بیان د هغه د پیغام، د هغه د نظریاتو، د هغه د مضمون او یا محتوې له کبله محدود کړي. "

پدې اړه د بیرغ د سوځولو موضوع ته چې ډیره جنجالي موضوع ده پاملرنه وکړئ. په ۱۹۸٤ کال کې د جمهوري غوښتونکو د ګوند د ملې غونډې په ترڅ کې ګریګوري لي جانسن Gregory Lee Johnson چې غوښتل یې د رونالد ریګن د حکومت د سیاستونو پر ضد احتجاج وکړي د امریکا بیرغ راوغورځاوه، تیل یې پر توی کړل او اور یې ورته کړ. پداسې حال کې چې بیرغ سوځیده، جانسن او نورو احتجاج کوونکو شعارونه ورکول چې " امریکا، سور، سپین او آبي، مونږ پر تا ناړې توکو " جانسن د تکساس د یو قانون له مخې چې په قصدي توګه بیرغ ته بې احترامي منع کوي، په یو کال بند او دوه زره ډالره نقدي جریمه محکوم شو.

جانسن نه یواځې بیرغ ته اور واچاوه بلکه پدې کار سره یې په ملي سویه شخړه رامنځ ته کړه. په ۱۹۸۹ کال کې د جانسن پر ضد د تکساس ایالت دعوې سترې محکمې ته وړاندې شوه. په ستره محکمه کې د څلورو قاضیانو په مقابل کې د پنځو قاضیانو اکثریت د جانسن محکومیت بې اعتباره وباله او هغه یې فسخ کړ ځکه د تکساس قانون د بیان د محتوې په هکله یوه مقرره وه چې د لمړي ضمیمې پر ضد وه. هغسې چې څارنوالانو اعتراف وکړ د جانسن دا کار د یو بیان د پاره شوي وو یعنې غوښتل یې پدې توګه یوه نظریه وړاندې کړي او دی ددغسې یو کار د کولو په خاطر تر تعقیب لاندې نیول شوی وو. اما د تکساس ایالت استدلال وکړ چې " د سولې د اخلالیدو په مخنیوي کې یې منفعت درلود او ټولنیزه سوله ډیره ممکنه وه له منځه ولاړه شي ځکه خلک د بیرغ د سوځیدو څخه په هیجان راځي او ښایي د بیرغ د ساتنې هڅه وکړي، ځکه بیرغ د ټول اولس او د ملي یووالي یو سمبول دی." دا لمړی استدلال ونه منل شو ځکه داسې شواهد نه وه چې د بیرغ سوځیدل به ډیر ژر لویه بې قانوني منځ ته راوړي، او که داسې شوی هم وای د جانسن تعقیب د یو احتمالي خطر د رامنځ ته کیدو په خاطر ښایې د هیکلر ویټو " heckler's veto " چې د اساسي قانون ضد دی، منځ ته راوړی وای چې په هغه کې د بیان د قانوني ساتني

په مقابل کې د پیشبیني وړ عکس العمل څخه د اساس په توګه پر بیان باندي د فشار راوړلو په مقصد استفاده کېږي.

دوهم دلیل هم و نه منل شو ځکه دا هم په مستقیمه توګه د محتوې په اړه یوه مقرره وه. هغسې چې په ستره محکمه کې د قاضیانو اکثریت ولیکل " که د لمړي ضمیمې د پاره یو بنیادي اصل وجود ولري، هغه دادی چې حکومت نه باید د یوې نظریې بیان پدې خاطر منع کړي چې ټولنه دا نظریه تیرې کوونکې بولي او یا یې د منلو وړ نه بولي. مونږ ددې اصل د پاره حتې پداسې حالت کې چې زمونږ د بیرغ موضوع مطرح وه، هم استثنې نده منلې.

پداسې حال کې چې حکومت نشي کولای د بیان د محتوې د پاره حدود وټاکي، اما د بیان د وخت، ځای او شکل د پاره مقررات ټاکلای شي. آیا د مثال په توګه د بیان د آزادی معنې داده چې یو څوک ددې آزادي لري چې خپل نظر په نیمه شپه کې د هستوګنې په یوه محله کې د لاوډ سپیکرانو له لارې خپور کړي او یا یوه ډله پداسې وخت کې چې د موټرانو تګ راتګ ډیر زیات دی د سړک په منځ کې لاریون وکړي او پدې توګه د ترافیکي مقرراتو پر ضد اعتراض وکړي.؟ البته چې نه. حکومت کولای شي د نظرد څرګندولو د پاره معقول محدودیتونه وټاکي بیله دې چې د هغه محتوې سانسور کړي.

اما دلته هم یوه ستونزه شته. د وخت، ځای او شکل د مقرراتو څخه د پلمې په توګه د محتوې د کنترول د پاره استفاده کیدای شي. که د ښاروالی په یو فرمان کې ویل شوي وي، هر څوک چې غواړي د لاوډ سپیکر څخه استفاده وکړي باید د پولیس د مشر څخه اجازه تر لاسه کړي. پدې حالت کې د پولیس مشر پریکړه کوي چې چاته چیرې او کله د لاوډ سپیکر د استفاده کولو اجازه ورکړي او پدې توګه کیدای شي چې د ځینو محتوې ګانو سره تبعیضي چلند وشي. ددې پرابلم د مخنیوي د پاره محکمې د وخت، ځای او شکل د مقرراتو د پاره معیارونه ټاکلي دي او دا د هغه ترجیحي موقف څخه منتج شوي دي چې د آزاد بیان حق ته ورکړل شویدی.

لمړی، هغسې چې محکمې په ۱۹٦۸ کال کې د اوبراین پر ضد د متحده ایالاتو په دعوې کې وویل " په لمړۍ ضمیمه کې پر درج شوو آزادیو باندې تصادفي محدودیتونه نه باید تر هغه اندازې چې د حکومت د ګټو د پاره لازمي ګڼل کېږي زیات وي. دې ته اکثره د لږ ترین محدودیت د لارې آزمایښت وایي. د بیان د وخت، ځاي یا شکل په تنظیمولو کې، حکومت باید د لږترین محدودیت له آلترناتیف څخه استفاده وکړي او دا پدې معنې ده چې حکومت خپل منفعت تر لاسه کوي او د بیان پر آزادۍ باندې د غیرضروري او بیځایه محدودیت څخه ځان ژغوري. یو ښار دا ګټه لري چې د ښار د چټل کیدو مخنیوی وکړي، اما دا پدې معنې نده چې پدې ښار کې باید ټول چاپي کاغذونه او اعلانات منع کړل شي. یوه لږ محدودونکې لاره به داوي هرهغه څوک دې تر قانوني تعقیب لاندې ونیول شي چې کاغذونه د سړک پر مخ اچوي.

دوهم، مقررات نه باید تر حد زیات پراخ وي. که د مقرراتو تسوید په پراخه توګه وي، کولای شي د بیان ساتل شوی حق منع کړي او یا یې محتوې تر ډیره حده محدوده کړي. په ۱۹۷۸ کال کې د هیل پر

ضد د هیوستن په دعوې کې محکمې یو فرمان بې اعتباره وباله چې ویل یې د کار د اجرا په وخت کې د یو پولیس اخلالول غیر قانوني کار دی. حکومت کولای شي د پولیس د افسرانو د کار د اخلالولو مخنیوی وکړي، اما نشي کولای د یوې منع له لارې چې ښایي د هغه پواسطه د بیان آزادي هم محدوده شي، استفاده وکړي.

دریم، مقررات نه باید چې مبهم او ناڅرګنډ وي. په یوه مبهمه مقرره خلک نه پوهېږي چې څه کولای او څه نشي کولای او ښایي د قانوني تعقیب له بیرې خپل هغه فعالیتونه محدود کړي چې په لمړي ضمیمه کې یې د کولو اجازه لري. یوه مبهمه مقرره حکومتي چارواکو ته ددې واک ورکوي چې یو کار ته اجازه ورکړي، یا هغه محدود کړي.دلته ددې امکان شته چې حکومتي چارواکي ددې واک څخه پداسې توګه استفاده وکړي چې د اساسي قانون سره موافقت ونلري.

د بیان آزادي ګټه نلري که تاسو یواځي د خپل کور په سالون کې د خبرې کولو آزادي ولرى. د نظریاتو بازار ته ننوتل به هغه وخت اغیزمن وي چې یو نظر په عام محضر کې بیان شي. اما تاسو یقینا" ددې حق نلرى د خپل بیان د آزادى د حق څخه د خپل ګاونديي په کور کې چې هغه و نه غواړي استفاده وکړى. محکمه څرنګه د هغو عامو ځایونو چې د آزادو نظریو د څرګندولو د پاره دي او دهغه خصوصي ځایونو تر منځ چې په هغه کې د آزادو ویناوو کول منع دي توپیر کوي؟

ځیني ساحې په څرګنډه توګه عامه ځایونه دي لکه سړکونه او پارکونه چې معمولا" د لمړي ضمیمې د حقوقو څخه په استفاده سره مظاهرې، اعتراضي ناستې او ویناوې په کې کېږي. ځینې نورې ساحې هم شته چې د حکومت لخوا د عامه غونډو او تماسونو د پاره پرانیستل شوي دي. کله چې د مثال په توګه یو دولتي پوهنتون خپل د غونډو د سالونونو دروازې د محصیلینو د ډلو پر مخ پرانیځي، هر محدودیت چې ددې سالونونو د استفادې د پاره ټاکل کېږي باید د لمړي ضمیمې د معیارونو سره برابر وي. په وروستیو کې سترې محکمې دا نظر غوره کړیدي چې ټول نور عامه ملکیتونه د عامه غونډو د پاره ندي او حکومت کولاي شي په داسې ځایونو کې د ویناوو په کولو بندیز ولګوي، مګر پداسې توګه چې دا محدودیت معقول وي او هدف یې د کوم خاص نظر د څرګندیدو مخنیوی نه وي.

عامه هوایي ډګرونه څنګه دي؟ د فعالیت له نظره دا د شخصي هوایي ډګرونو په شان دي چې د عامو خلکو د غونډیدو او ټولیدو ځای ندی. اما دا هوایي ډګرونه هم د ښار د سړکونو په شان دي چې پر هغه خلک په آزاده توګه تګ او راتګ کوي او د هغه څخه تجارتي او غیر تجارتي استفاده کېږي او په غیر داوطلبانه توګه د خلکو تر منځ تماس منځ ته را ځي. په ۱۹۹۲ کې د لي Lee او د کریشنا یي شعور یا د نړیوالې ټولنې په دعوې کې International Society of Krishna

Consciousnee Inc. v. Lee محکمې فیصله وکړه چې عامه هوایي ډګر د خلکو د غونډیدو او ټولیدو ځای ندی. د محکمې په نظر عامه هوایي ډګرونه اساسا" تجارتي شرکتونه دي چې د ګټې د لاس ته راوړلو د پاره فعالیت کوي او د ښار د څلور لارو برعکس هیڅکله د هوایي ډګرونو څخه د خلکو د

غونډيدو او وينا کولو او د نظرياتو د څرګندولو د پاره استفاده نده شوې، او حکومت هم هوايي ډګرونه د لمړي ضميمې مطابق د بيان او څرګندونو د هدف د پاره ندي پرانيستلي.

د خريداری د لويو مرکزونو يا Shopping Malls مسلًه څنګه ده چې د ښار د ځلور لارو په شان خلک ورته نه يواځې د خريد بلکه د غونډيدو د پاره راځي او غواړي هلته خپل وخت تيرکړي، اويا د ټولنې په پيښو او موضوعاتو کې کډون وکړي؟ وروسته له ځينو پريکړو او څيړنو څخه چې د لويو او کوچنيو خريداری د مرکزونو د ګډ عامه او خصوصي طبعت په هکله وشوې، محکمه بالاخره دې نتيجې ته ورسيده چې د خريداری يو خصوصي مرکز د هدف له نظره د ښار د ځلور لارې معادل ندی او خصوصي مالک کولای شي بيله دې چې لمړی ضميمې ته پاملرنه وکړي د خريداری په مرکز کې وينا او څرګندونې محدود کړي. اما محکمې فيصله وکړه چې د ايالت د قانون مطابق د خريداری مرکزونه د عامه څرګندونو د پاره پرا نيستي دي.

لمړی ضميمه د کومې وينا يا څرګندونې ساتنه کوي؟

فرض کړئ يو باج اخيستونکی تاسو ته ګواښ کوي چې که تاسو ورته پيسې ورنکړی، هغه به ستاسو يو مهم پټ راز افشا کړي. يا فرض کړئ يو ناشر غواړي داسې يوه مجله خپره او توزيع کړي چې د بربنډو ماشومانو د عکسونو يا Pornography څخه ډک وي. آيا دی کولای شي بيله دې چې سزا ووينې د لمړي ضميمې د ساتنې ادعا وکړي.؟ اکثره خلک دا مني چې اساسي قانون د ځينو ويناوو او څرګندونو ساتنه کوي او د ځينيو نورو دا نه کوي. بايد روښانه شي چې ددې توپير په کوم ځای کې دی.

ددې د پاره چې ساتل شوي او نه ساتل شوي ويناوې او څرګندونې تعريف شي، محکمه د لمړي ضميمې د نظرياتو په څيړلو پيل کوي. د نظرياتو د بازار د مفکورې له نظره وينا يا د خلکو تر منځ د تماس نيولو او مفاهمې طرز يو ارزش لري، ځکه دا د عامه بحث يوه برخه ده. هغه ويناوې او څرګندونې چې د عامه بحث د پاره ندي، نه بايد يې په هغه شان ساتنه وشي. د مقرراتو د وضع کولو پلويان د مثال په توګه استدلال کوي چې ناوړه او وقيح عکسونه عامه بحثونه نه بډايوي او کوم څه نه وربانديې زياتوي. ځينې ويناوې او څرګندونې بيله دې چې د عامه بحث د پاره نوی شی وړاندې کړي ضرر هم لري. مسله د ځان د افاده کولو يا self expression له نظره هم همدا شان ده، که څه هم د وينا او څرګندونو ډير شکلونه د ځان د افاده کولو مهمې وسيلې دي، خو ځينې يې (د باج اخيستنې) په شان ندي. او په نورو کې لکه د ماشومانو د برنډو عکسونو په خپرولو کې يې ضرر تر هغه ارزش چې د بيان يا څرګندولو مسلې ته ورکول کېږي ډير دی. ددې نظريو په پام کې نيولو سره محکمې فيصله وکړه چې غولول يا تقلب، ګواښونه يا د بيان او څرګندونو نور مضر شکلونه، همدا شان تهمت او افتراً، وقاحت او غير قانوني کارونو ته تحريکول د بيان هغه اساسي کټګوری دي چې لمړی ضميمه يې د نورو ويناوو او څرګندونو په شان ساتنه نه کوي.

د نه ساتل شوي بيان يا څرګندونو لمړی شکل چې په څرګنده توګه د اساسي قانون د ساتنې څخه ندی برخورداره او ډير لږ په دعواوو کې ليدل کېږي، دا د بيان يا عمل هغه برخې دي چې قانون هغه ته په عنعنوي توګه د جنايي عمل په سترګه ګوري. کله چې يو غل وايي : يا دې پيسې راکړه يا ژوند، يا يوشرکت د غولولو او تقلب په مقصد د اسهامو د خرڅولو په اړه د اعلان ورقې خپروي، پداسې حالاتو کې په وينا يا بيان کې داسې څه نه ويل کېږي چې د عامو خلکو د پاره اهميت ولري بلکه دا دهغه غله عمل ته ورته دی چې لاس ستاسو په جيب ننه باسي او ستاسو پيسې غلا کوي.

په عين شکل که يو څوک په يو تياتر کې چې د خلکو ډک وي په غلطه د اور د لګيدو چغه پورته کړي او په خلکو کې لويه وارخطايي او هيجان منځ ته راوړي، يا د هولمز د کلاسيکې فرضيې پر اساس د يو چا د اختطاف د پاره پلان جوړول، يا يو چاته د جزيې د اخيستلو په مقصد ليک استول، دا ټول د بيان او څرګندونو شکلونه دي خود هغو د ساتنې د پاره هيڅ دليل نشته.

د بيان يو دوهم شکل چې اساسي قانون يې په هيڅ توګه ساتنه نه کوي افترا يا تهمت دی. افترا يو جرم دی چې يو سړی پر بل چا باندې په غلطه تهمت کوي او د هغه شهرت او اعتبار ته زيان رسوي. لهذا، که يو څوک په غلطه ووايي چې يو سناتور د يو شرکت څخه اعانه تر لاسه کړيده او د شرکت تر اغيز لاندې يې په غير مناسبه توګه د يو قانون د تصويب د پاره رايه ورکړيده، او يوه ورځپاڼه هم په غلطه پدې اړه يوه مقاله خپره کړي، سناتور ښايي د هغه ضرر په سبب چې دده شهرت او اعتبار ته رسيدلی دی محکمې ته مراجعه وکړي. (په لمړی ضميمې کې د مطبوعاتو د آزادی سره په اکثرو مواردو کې د عين معيارونو له مخې چلند کېږي لکه د بيان د آزادی سره چې کېږي) اما دلته يوه ستونزه شته.

لمړی ضميمه پر عامو مسلو باندې بحث او تبصرې تشويقوي. پدې کې پر حکومت او د هغه پر مامورينو تنقيد کول شامل دی. که قانون د تهمت او افتراً په موضوع کې د عامه مامورينو د ساتنې او نجات په برخه کې ډير سخاوت وکړي، خلک به د خپلو تنقيدونو په څرګندولو کې دډير احتياط څخه کار واخلي او د نظرياتو بازار به له منځه ولاړ شي. اما په عين زمان کې د يو فرد د شهرت او اعتبار ساتنه هم لازمه ده. اوس نو دا دواړې خواوې څنګه اندولولای شو؟

پر دې جنجال او مناقشې سترې محکمې په ١٩٦٤ کال کې د سوليوان Sullivan په دعوې کې چې د نيويارک ټايمز ورځپاڼې پر ضد يې وکړه غور وکړ. دا دعوې د مدني حقوقو د نهضت څخه راپورته شوه. د آلاباما Alabama د ايالت د مونټګومري د ښار د پوليس قوماندان د نيويارک ټايمز ورځپاڼې پر ضد دعوې وکړه چې په يو اعلان کې يې د مونټګومري د پوليسو بې رحمۍ ته ګوته نيولې او پدې توګه يې خلک د مدني حقوقو د نهضت ملاتړ ته رابللي دي. که څه هم دا اعلان په يو څو ډيرو کوچنيو شيانو کې غلط وو، خو د آلاباما د قانون له مخې هغه يوه افتراً بلل کيده او نيويارک ټايمز د خپرونکي په توګه په هغه کې مسوول ګڼل کيده. په هر حال ورځپاڼې بيله دې چې په اعلان کې غلطو خبرو ته متوجه شي هغه يې خپور کړي وو. اما سترې محکمې دا قضاوت رد کړ. د سترې محکمې قاضي ويليم برينان په خپله فيصله کې وليکل : " لمړی ضميمه يوه مرکزي معنې لري او په هغه کې دې اصل ته يوه ژوره ملي ژمنه او تعهد

شته او هغه دا چې پر عامو مسلّو بحث کول باید نهي کوونکی نه وي. جدي، په پراخ نظر او څرګنډ وي، او کیدای شي چې په تنده لهجه او په لوړ آواز وي او کله کله ښایي پر حکومت او د هغه پر مامورینو باندي ښه و نه لګېږي" ددغه مرکزي معنې د ساتنې د پاره محکمې د بیان ځینې شکلونه چې د عامه قانون په چوکات کې افتراً بلل کېږي، د اساسي قانون لخوا د حفاظت او ساتنې وړ وبلل. غیر لدې، د افتراً څخه د عقیدې د بیان د محدودولو د یوې وسیلې په توګه استفاده کیدای شي. هغه کسان به چې د هغو د څرګنډونو څخه خلک ملاتړ نه کوي، ددې څخه وبیرېږي چې د خقایقو په نا سم څرګنډولو سره به د مجازات سره مخامخ شي، او یا یو منصفه هیئت به ددوی د نظریاتو په خلاف رایه ورکړي او یا داچه د قانوني دعوې د لوړ خرڅ په خاطر به ونه غواړي خپله عقیده څرګنده کړي، چې دا محکمې د ځان سانسورول وبلل.

د یو حکومتي مامور په باره کې څرګنډونې تر هغه پوري د اساسي قانون تر ساتنې لاندې دي چې مامور وشي کولای د څرګنډونو غلط والی او دا چې دا څرګنډوني حقیقتا" د بدخواهۍ او بدنیتۍ له کبله شوي دي ثابته کړي. محکمې د بدخواهۍ یا malice تعریف داسې کړیدی : " ددا‌سې معلوماتو ورکول چې غلط وي او یا په ډیره بې پروایی بیله دې چې د هغه صحیح والي یا غلط والي ته پاملرنه وشي ورکړل شي. " ددې معیار پر اساس ټولې عامې تبصرې او ټول د ښه نیت ژورنالستي قضاوتونه په نیویارک ټایمز کې د اعلان د خپریدو په شمول د اساسي قانون د ساتنې او حفاظت څخه برخورداره دي. یواځې هغه افتراً چې د بدخواهۍ او بد نیت له امله شوي وي، د اساسي قانون د ساتنې وړ ندی.

د ناساتل شوي بیان دریم شکل وقاحت او بې حیایي ده. ناسزا او وقیحې څرګنډونې (په لیکل شوي توګه، بربنډ عکسونه، فلمونه او یا هم په لایف یا ژوندي شکل بې حیا اعمال) د لمړي ضمیمې د ساتنې تر ساحې دباندې دي، او که حکومت دا ډول څرګنډونې محدود یا منع کړي د هغه ډول جدي تدقیق سره به چې د بیان د نورو شکلونو د ساتنې د پاره کېږي، مخامخ نشي (که څه هم پدې هکله هم د منصفانه محکمې معیارونه د تطبیق وړ دي.). ستره محکمه اکثره دې نتیجې ته رسیدلې ده چې وقیح کارونه او بې حیایي د ساتنې وړ ندي.

اما د لویانو د تیاترونو د محدودیت په مسله کې، محکمې یو لړ دلایل وړاندې کړل :

څرنګه چې هلته ښایي د وقیحو او بې شرمو کارونو او جنایت تر منځ اړیکې وي، دولت باید د لمړي د تنظیم د پاره اقدام وکړي تر څو د وروستي مخنیوی وکړي. علاوه پردې په ټولنه کې د زشتو او وقیحو شیانو موجودیت په مجموع کې ټولنې ته زیان رسوي او عامه چاپیریال ناولی کوي او د هغو کسانو مزاحمت کېږي چې دا نه غواړي.

د هغو نظریاتو او تیوریو له مخې چې په عامه توګه د بیان د آزادۍ د ساتنې ملاتړ کوي، داسې مواد او شیان چې په حقیقي معنې د بې شرمۍ او بې حیایي ډک وي، نه پر مهمو مسلّو باندې عامه بحث ته ګټه رسوي او نه هم (د منځني طبقې د قاضیانو د حساسیتونو له مخې) د انسان د شخصیت د ودې او د ځان تثبیتولو د پاره مفید او ګټور دي.

په داسې حال کې چې محکمې د اوږدې مدې د پاره دا نظر څرګندې کړیدی چې وقیحې او د بې حیایي ډکې ویناوي یا اعمال د قانوني حفاظت وړ ندي، خو د ناساتل شوي د شرمه ډکې وینا او د ساتل شوي او د حیا ډکې وینا ترمنځ د لیکې د کښلو په برخه کې د ستونزې سره مخامخ ده.

د هستلر Hustler مجله ښایي د یو چا د پاره د اغیزمن ټولنیز طنز او د بې ضرره ساعت تیرۍ یوه مجموعه وي، اما پر بل چا باندې د حیوانې غږېږي یو د کرکې وړ اغیز ولري. ښایي پدې اړه د قانوني مفاهیمو تر ټولو مشهور تعریف د قاضي پوټر ستیوارټ وي. ده ویلي دي : زه نشم کولای د وقیح عمل یا بې حیایي تعریف وکړم، خو زه هغه وخت په پوهېږم چې وې وینم. (١٩٦٤، د اوهایو پر ضد د یاتکوبیلیس دعوې). اما سربیره پر شخصي تمایلاتو او ترجیحاتو، قاضیانو د آزمایښتونو یوه سلسله د قاعدې په توګه رامنځ ته کړیده تر څو وټاکي چې کوم کار یا عمل وقیح او بې شرمه دی. پدې هکله د قاضیانو په خپل منځ کې هم د نظر اختلاف شته. وروستنۍ آزمایښت چې د محکمې لخوا پدې هکله وړاندې شویدی په ١٩٧٣ کال کې د کلیفورنیا پر ضد د میلر په دعوې کې وو. د وقاحت آزمایښت درې برخې لري :

الف : آیا یو عادي سړی به چې د معاصرې ټولنې معیارونو ته پاملرنه لري یو عمل داسې وبولي چې هغه په مجموع کې په انسان کې شهواني احساسات راپاروي.؟

ب : آیا پدې کې جنسي عمل چې د ایالت په قانون کې تعریف شویدی، په ډیره ناوړه او توهین آمیزه توګه څرګندې شوئیا شرح شویدی؟

ج : آیا دا عمل په مجموع کې د جدي ادبي، هنري، سیاسي یا علمي ارزښت څخه بې برخې دی؟

هغسې چې محکمې په یوې وروستني دعوې کې وویل، ددې آزمایښت لمړۍ برخه په جنسي مسلًو کې د ناوړه او شرم آوره ګټو (خالص شهواني فکر) او د عادي او طبعي جنسي خواهشاتو تر منځ توپیر کوي. دلته د اساسي قانون تفسیر د متن، تاریخ او د هر بل اساس څخه وتلې دی. دلته د تصمیم نیولو طرزالعمل تعریف شویدی. ایالات د تعبیر او تفسیر پراخه آزادي لري چې وشي کولای په یو فرمان یا یوه مقرره کې د ټولنې د معاصرو معیارونو له مخې تعریف کړي چې کوم اعمال شرم آوره او وقیح دي او د اساسي قانون د حفاظت وړ ندي او بیا دا مسله منصفه هیئت ته پرېږدي چې د مثال په توګه فیصله وکړي کوم کتاب یا فلم ددې معیارونو پر ضد دي. ایالت کولاي شي خپله ټولنه تعریف کړي. اساسي قانون دا غوښتنه نده کړې چې د یوې ملي ټولنې څخه دې استفاده وشي یا داچه یوه خاصه ټولنه دې مخکې له مخکې د منصفه هیئت د پاره تعریف شي. پدې توګه د یو فلم جوړونکۍ یا د کتاب خپرونکۍ ښایي د بیلا بیلو معیارونو سره مخامخ شي. یعنې د لاس انجلس د ټولنې څخه نیولې تر یو کلي پورې چې د انجیل په کمربند یا Bible Belt کې پروت دی.

دوهم عنصر هم په ورته توګه مبهم او ناڅرګندې دی. اما محکمې د میلر په مسله کې د اهانت آمیزه جنسي چال چلند د پاره څو ګټور او څرګندې مثالونه وړاندې کړل :

الف : د جنسي عملیې ډیر څرګندې او اهانت آمیزه تمثیل یا تشریح کول، څه په عادي او یا انحرافي، حقیقي یل تقلیدي توګه.

ب : د موټ يا جلق وهلو ډير څرګند او اهانت آميزه تمثيل يا تشريح کول، د انزال ښودل او د تناسلي آلاتو ښودل. البته چې دا مثالونه د ابهام څخه ډک دي. د جلق وهلو د معقول او څرګند تشريح، د يو مزخرف داستان د پاره د جلق وهلو د مشخصاتو د څرګندولو او دجلق وهلو د څرګند او اهانت آميزه تشريح ترمنځ د جدايي ليکه چيرې ده؟

او بالاخره دريم عنصر په روښانه توګه د يو کار ارزش ته ګوري. که يو کتاب ډير ښه ادبي، هنري، سياسي يا علمي ارزش ولري، هغه وقيح يا شرم آوره ندی. دا قضاوت د پورتنيو قضاوتونو بر عکس، د محلي ټولنې د معيارونو له مخې نه کېږي. د مثال په توګه که د ادبي منقيدونو يوه ډله يو کتاب د ارزشه ډک وبولي، که د يوې محلي ټولنې ټول غړي هم ددې قضاوت سره موافقه ونلري، دا مهم نه ګڼل کېږي.

د ميلر په آزمايښت کې هڅه شويده چې د پورنوګرافۍ (د بربنډو بدنونو څرګندول) او نورو شيانو تر منځ چې د جنسي غوښتنو په اړه دي، توپير وشي. څرنګه چې د پورنوګرافۍ د اجزاوو په برخه کې موافقه وجود نلري، نو دا آزمايښت هم مبهم دی. همدا وجه ده چې دا يو د تصميم نيولو بهير او د مهم معيار ټاکل تعريفوي. اما د تصميم نيولو بهير هم ډير ستونزمن دی.په لمړي مرحله کې بايد پارلمان تعريف کړي چې وقاحت او بې حيايي د ميلر په قضيه کې په څه شي کې وو او بيا ددغه قانوني تعريف پر اساس به يو حکومتي مامور قانوني اقدامات وکړي. وروسته به يو منصفه هيئت حکم وکړي چې آيا اجرا شوی عمل د تعريف سره مطابقت لري او که نه؟ او څرګنده ده چې پدې کار کې بايد د ډير بصيرت او انصاف څخه کار واخيستل شي.

اما څرنګه چې غير وقيح اعمال د هغه بيان او څرګندونو څخه عبارت دي چې اساسي قانون يې ساتنه کوي، مرافعه محکمې مجبوره دي پدې برخه کې د منصفه هيئت پر حکم تر عادي حالت زياته دقيقه څارنه وکړي. دا موقعيت په عمل کې د مرافعه محکمې څخه غواړي چې د هغه کار يا عمل پر قانوني توب چې اعتراض پرې شويدی له سره خپلواک غور وکړي. همدا وجه ده چې د ميلر آزمايښت د يوغير عادي او د قاعدې مخالف وضعيت غوښتنه کوي چې په هغه کې فدرالي قاضيان د اساسي حقوقو د ساتونکو په توګه بايد ټول ناوړه کتابونه ولولي او ټول هغه فلمونه وګوري کوم چې حکومت غواړي هغه تر څارنې لاندې ونيسي.

د بيان او څرګندونې يو بل اړوند شکل چې قانون يې ساتنه نه کوي هغه د جنسي مسايلو خپرونې دي چې د ماشومانو عکسونه لري اما د ميلر د آزمايښت له مخې وقيح يا د بې حيايي ډک ندي. څرنګه چې دولت ډيره علاقه لري چې ماشومان د جنسي استثمارڅخه وژغوري په ۱۹۸۲ کال کې د فيربر Ferberپر ضد د نيويارک په دعوې کې، د قاضيانو د رايو په اکثريت پريکړه وشوه چې حکومت کولای شي دداسې موادو توزيع او تقسيم جنايي عمل وبولي چې په هغه کې تر ١٦ کالو لږ د ماشومانو لخوا جنسي عمليه شوي وي. دداسې موادو د توزيع مخنيوی په حقيقت کې په غير مستقيمه توګه د حکومت هدف تر

سره کوي او په خلکو کې داسې یوه لویه بیره منځ ته راوړي چې ونشي کولای د کوچنیانو او ماشومانوځخه دداسې مقصد د پاره استفاده وکړي.

څلورم ډول بیان یا څرګندونې چې قانون یې حفاظت او ساتنه نه کوي، هغه ویناوې او څرګندونې دي چې خلک خشونت او زورزیاتیو ته رابولي. ددې بیان یو شکل لفظي جګړه او یا داسې یوه تحریک آمیزه ژبه ده چې بیله فکره په فوري توګه یو د خشونت څخه ډک ځواب رامنځ ته کوي.

په ۱۹٤۲ کال کې د نیو هیمپ شایر New Hampshire په دعوې کې د چاپلنسکي سره محکمې د یو سړي محکومیت تایید کړ. دې سړي ددې ښار یو مامورته د خدای وهلي باج اخیستونکي او لعنتي فاشیست خطاب کړی وو.

د مدعي علیه د نظریاتو پرته، ددې احتمال ډیر وو چې داسې ناوړه کلمات په هغه ډول چې وویل شول یو فوري ځواب راوپاروي او نه داچه یو عام بحث ته د منطق او معقولیت لاره پرانیځي.

نن د چاپلنسکي زمانه تیره شویده او د جنګي الفاظو نظریه هم له منځه تللې ده، خو که داسې یو بیان بې حفاظته پاته شي، بیا د هیکلر د ویتو امکان منځ ته راځي چې په هغه کې به د حاضرینو عکس العمل د ویونکي د آزادۍ د پاره لازم حدود وټاکي. علاوه پردې مونږ د ناوړه او تیري کوونکي ژبې څخه دومره خسته شوي یو چې نور ښایي هیڅ داسې کلمات نه وي چې د یو چا فوري او خشونت آمیزه ځواب راوپاروي.

د تحریک آمیزو خبرو یا بیان په ډله کې چې د ډیر اهمیت وړ دی د بیان هغه شکل دی چې د یو شمیر خلکو پر ضد کېږي او د هغوي خشونت او زور زیاتۍ پاروي. دلته د هولمز دا تبصره د پاملرنې وړ ده چې وایي : " د آزاد بیان ډیره جدي ساتنه به هم ددې مخه ونه نیسي چې یو سړی په یو د خلکو څخه ډک تیاتر کې په غلطه د اور د بلیدو چغه پورته کړي او لوی اضطراب او ګډوډي منځ ته راوړي. " پداسې حالاتو کلمات په خپل ټول قوت سره اغیز لري. پدې اړه په هره خاصه موضوع کې پوښتنه پدې کې وي چې کلمات څرنګه یو روښانه او څرګند خطر را منځ ته کوي. پدې ځای کې د خلکو څخه ډک تیاتر یوه پیاوړې استعاره ده، اما دا نظریه اکثرا" په هغو مسلو کې تطبیق شویده چې په هغه کې یو ویونکی خلک د حکومت پر ضد د خشونت آمیزه عمل کولو ته رابللي دي. اول د لمړي نړیوالې جګړې په اوږدو کې، بیا د سړي بیرې (۱۹۱۹تر ۱۹۲۰ د کمونیزم د بیرې) په کلنو کې او وروسته په پنځوسمه لسیزه کې د مکارتي په دوره کې حکومتونو خپل مخالفین د داسې خطرناکو ویناوو له کبله تر تعقیب لاندې نیول. د هولمز د محدودیت سربیره چې په قانوني توګه ناساتل شوي ویناوې او څرګندونې یې هغو ویناوو ته محدودې کړې وې چې په روښانه توګه یې خطر منځ ته راوړل، سترې محکمې ډیر غوښتل د سیاسي ویناوو زیاتې برخې او ډولونه د لمړي ضمیمې د ساتنې څخه وباسي.

د لمړي نړیوالې جګړې په دوره کې حکومت هغه کسان چې د جګړې مخالف وه، یا هغه تندروه کسان چې د روسیې د انقلابیونو څخه یې ملاتړ کاوه او نور سیاسي مخالفین تر تعقیب او څارنې لاندې نیول.

هغه وخت چې هولمز د روښانه او څرګند خطر په هکله وليکل، حاکمه نظريه د بد تمايل آزمايښت وو چې هولمز هم په غالب ګمان پر هغه استناد کړيدی. ددې نظريې پر اساس هغه کلمات چې کولای شي بده نتيجه منځ ته راوړي، د قانون د ساتنې څخه بي برخې دي، که څه هم د موضوع په ارتباط د بدې نتيجې منځ ته راتلل تر ډيره حده غير محتمل و بريښي.

په ۱۹۱۹ کال کې د متحده ايالاتو او آبرامز په دعوې کې، د مثال په توګه، آبرامز او دده پلويانو د نيويارک ښار په کوڅو کې تبليغاتي ورقې خپرې کړې او د روسيې د انقلاب سره په مخالفت کې يې د متحده ايالاتو رول وغانده او خلک يې عمومي اعتصاب ته راوبلل. آبرامز او دده پلويان د جګړې د وخت د يو قانون له مخې چې د جګړې سره د مخالفت هلې ځلې يې ناروا بلل محکوم شول او که څه هم دا محال او ناممکنه وه چې ددوی تبليغاتي پاڼې به د پراخو ناکراريو، مقاومت او يا د جګړې د وخت په اقتصادي توليد کې د اخلال باعث وګرځي، محکمې ددوی محکوميت تاييد کړ. هولمز ددې حکم سره مخالفت وکړ او وې ليکل :

" مونږ بايد د تل د پاره د ټولو هغو هلوځلو په مقابل کې هوښيار او بيداره پاته شو چې غواړي د عقيدې پر څرګندولو څارنه او کنټرول وکړي. مونږ ددې کار څخه کرکه لرو او پدې عقيده يو چې دا مونږ د مرګ پر لور بيايي، مګر داچه د قانون د اهدافو پرضد داسې فوري او څرګند ګواښونه او مداخلې وجود ولري چې د هيواد د ساتنې د پاره د فوري مخنيوي او کنترول ايجاب وکړي. "

په پنځوسمه لسيزه کې محکمې د څرګند او موجود خطر د سنجش د يو متوازن او اندول ډول څخه کار واخيست چې په هغه کې د شوي ګواښ د ضرر اندازه او شدت د هغه د عملي کيدو د احتمال سره په نظر کې نيول کيده. په ۱۹۵۱ کال کې د دينيس Dennes پر ضد د متحده ايالاتو په دعوې کې تورن کسان په متحده ايالاتو کې د کمونست ګوند د جوړولو د توطيې په جرم چې هدف يې د زور او خشونت له لارې د دولت له منځه وړل وو محکوم شول. څرنګه چې د ګواښ ضرر (يعني د زور او خشونت له لارې د دولت له منځه وړل) ډير زيات وو، که څه هم متهم کسان ددې هدف د ترسره کولو د احتمال څخه ډير ليرې وو، ددوی وينا او څرګندونې د لمړي ضميمې له مخې يو تحريک وو او د قانون د ساتنې د ساحې څخه دباندې وو. خو د بلې خوا په ۱۹۵۷ کال کې د يتس Yates په مقابل کې د متحده ايالاتو په دعوې کې، د کمونست ګوند چارواکي صرف پدې خاطر محکوم شول چې دوی يواځې د زور او خشونت له لارې د دولت د راپرزولو پر ضرورت ټينګار کاوه او ددې هدف د پاره يې تبليغات کول. د دينيس د مسلې برعکس، د دوی چال چلند يواځې د خپلو نظرياتو د پاره تبليغ کول وو نه داچه دوی د خپلو اهدافو د پاره کوم عمليات تنظيم کړي وي، لهذا د اساسي قانون له مخې نشوای محکوميدلای.

او بالاخره په ۱۹٦۹ کال کې د اوهايو Ohioد ايالت او براندنبورګ Brandenburg په دعوې کې محکمې د بد تمايل او د متوازن برخورد کړنلاره پريښوده او يو معيار يې غوره کړ چې په هغه کې قانونا" ناساتل شوي ويناوې او څرګندونې هغه څرګندونو ته محدود وګڼل شول چې په فوري توګه د بې قانونۍ او ګډوډۍ ګواښ رامنځ ته کوي. محکمې فيصله وکړه چې دا به د اساسي قانون مطابق نه وي که صرفا" د

زور څخه د استفادې یا د قانون د نقض څخه ملاتړ او حمایت منع یا نهي کړو، مګر داچه دا ډول ملاتړ د تحریکولو او د فوري بې قانونۍ د منځ ته راوړلو په مقصد وي او دا احتمال هم ډیر قوي وي چې خلک به تحریک او پداسې اعمالو به لاس پوري کړي.

د راسیستانو یا نژاد غوښتونکو Ku Klux Klan د ډلې د غړو ویناچه په خپلو غونډوکې خپل مخونه پټوي او ددوی سمبول د ټوپک یوه خاصه علامه یاGun Toting دی، قانونا" د ساتنې وړ وبلل شو، ځکه دوی د خشونت آمیزه عمل د پاره کومه ډله نه چمتو کوله.

د هرې نظریې څخه ملاتړ قانونا" ساتل شوې وینا یا څرګندونه ده. همدا شان هر عمل هم د قانون د ملاتړ څخه برخورداره دی، مګر داچه هدف او اراده یې د قانون نقضول وي او د عملي کیدو احتمال یې هم ډیر زیات وي.

په اساسي قانون کې د دین د آزادي څنګه ساتنه شویده؟

د امریکاییانو په فکر ددین آزادي زمونږ یو له مهمو آزادیو څخه ده، او دا همداسې هم ده. ډیره جالبه ده چې د سترې محکمې قاضیانو په ۱۹۹٦ کال کې ددې آزادۍ د قوت او پیاوړتیا په هکله یو غیر عمدي اما فردي مثال ورکړ، داسې مثال چې ډیر د ملاحظې وړ وو، اما څوک ورته چندان متلفت نه شول. وروسته له هغه چې قاضي توماس کلیرنس Thomas Clearence بیرته د خپل د ځوانۍ د وخت کاتولیکي مذهب ته را واوښت، په تاریخ کې د لمړي ځل د پاره په ستره محکمه کې د پروتستانت مذهب غړي په اقلیت کې شول (یعني درې کاتولیکان انتوني کیندي، آنتونین سکالیا او توماس. دوه یهودیان : ستیفن بریرStephen Breyer او روت بادر ګینزبورګ Ruth Bader Ginsburgاو څلور پروتستانتان : ساندرا دې اوکانر Sandra Day O'Conner ، ویلیم رینکویست William Rehnquist، داوید ساوتر David Souter او جان پاول ستیفنز J.P.Stevens)

د دین د آزادۍ په هکله په اساسي قانون کې درې مادې شته :

شپږمه ماده وایي : په متحده ایالاتو کې په یوه اداره یا عامه موسسې کې د استخدام د پاره باید هیڅکله د یو چا د مذهبې اړیکو په باره کې څیړنه ونشي. د اساسي قانون د تسوید په وخت کې دا یو فوق العاده نوی کار وو. هغه وخت په انګلستان او د هغه په مستعمراتو کې د هرچا څخه چې په یوه اداره یا عامه موسسه کې د کار د پاره استخدام کیدۍ غوښتنه کیده چې باید د یو خاص دین پیرو وي او په خپل دین قسم یاد کړي. په لمړي ضمیمه کې د دین د ساتنې د پاره دوې مادې شته چې د دین د آزادۍ د بیلا بیلو برخو په هکله څرګندونې لري. " کانګرس باید د یو دین د تاسیس په اړه قانون تصویب نکړي او نه هم د یو دین د پیروانانو لخوا ددیني فرایضو د ادا کولو مخنیوی وکړي. ددین په اړه دې دوو مادو ته د تاسیس ماده یا establishment clause او د آزاد تمرین ماده یا Free exercise cluase وایي. که څه

هم د بیان د آزادۍ د مادې په شان د دین د آزادۍ مادې هم په څرګنده توګه د کانګرس صلاحیت محدودوي، دا مادې د حکومت په ټولو فعالیتونو کې که فدرال وي یا ایالتي د تطبیق وړ دي.

په بنیادي سطح د تاسیس او د آزاد تمرین مادې داسې تفسیر شوي دي چې د دین آزادي د بیلا بیلو لارو وساتل شي او هم یو د بل مکمل وي. د تاسیس ماده حکومت ته اجازه نه ورکوي یو دولتي دین منځ ته راوړي. او یا داچه د حکومت د صلاحیتونو څخه د یو ځانګړي دین د ملاتړ د پاره استفاده وشي. د آزاد تمرین ماده حکومت ته اجازه نه ورکوي د خلکو لخوا د ځانګړي دین په انتخاب کې مداخله وکړي. د دین څخه د دولت د ملاتړ په منع کیدو سره د تاسیس ماده افرادو ته د خپل دیني فرایضو په اجرا کولو کې ډیره آزادي ورکوي او څرنګه چې دیني عقیده او د دیني فرایضو اداکول د فردي انتخاب ساحه ده، د آزاد تمرین ماده ددې امکان ډیر لږوي چې دین د دولت د حاکمیت یوه برخه وګرځي.

ددین آزادي د امریکاییانو د ژوند په طرز کې دومره اساسي رول لري چې دا ښایي حیراوونکي وبریښي چې سترې محکمې د شلمې پیړۍ تر نیمایي پورې یواځې د څو محدودو مذهبي قضیو په باب پریکړې کړیدي. پدې وخت کې د دولت رول البته په ډیره اندازه پراخ شو، ایالتي او فدرالي حکومتونو ډیر مسایل تنظیم کړل او په هغو کې یې مداخله وکړه او په مالي لحاظ یې د ځینو هغو فعالیتونو څخه ملاتړ وکړ چې مخکې یې یواځې په خصوصي سکتور پورې اړه درلوده. پدې توګه د تاسیس د مادې او د آزاد تمرین د مادې ترمنځ د اختلاف د رامنځ ته کیدو امکان څرګند شو. که یو ایالت په یو مذهبي ښوونځي کې د شاګردانو د پاره خاص تعلیمي خدمات وړاندې کړي، آیا دا د یوې دیني موسسې څخه د ملاتړ معنې نلري؟ او که دا خاص تعلیمي خدمات وړاندې نکړي، آیا د د میندو او پلرونو لخوا د دیني فرایضو آزاد تمرین له ستونزو سره نه مخامخ کوي ځکه دوی د عقیدې له پلوه مکلفیت لري خپل ماشومان دیني ښوونځیو ته ولېږي؟

ددې جنجال د حل د پاره ښایي مونږ فکر وکړو چې د دین په اړه مادې د دولت او دین ترمنځ د اړیکو د لارښود اصولو په رڼا کې منځ ته راغلي دي. په معموله توګه، هغسې چې د قانون په نورو ستونزمنو ساحو کې هم همدا شان ده، حتمي نده چې اصول ډیر ثابت او پایدار وي او داسې لارښوونه وکړي چې ټولې ستونزي او قضیې وربراندې حل شي، اما کولای شي زمونږ د کار د پیل د پاره زمینه برابره کړي.

لمړۍ اصل دادی چې دین د آزاد انتخاب یوه ساحه ده. یو فرد کولای شي په خپله خوښه د ځان د پاره یو دین وټاکي او د هغه پیروي وکړي او دا هم کولای شي چې د هیڅ کوم دین پیروي ونکړي. دولت دا حق نلري یو څوک د یو دین منلو ته مجبوره کړي او یا یې د یو دین د منلو او پیروی څخه راوګرځوي. همدا شان د دیني موسساتو څخه ملاتړ باید داوطلبانه وي. لکه د آزاد بیان په برخه کې باید ددین د پاره هم د ایمان او عمل بازار وجود ولري چې په هغه کې دینونه وده وکړي او یا مړاوي شي. دا د یو دین د پیروانانو په کار او هلوځلو پورې اړه لري د خپل دین د پاره پلویان جلب او جذب کړي بیله دې چې دولت مرسته ورسره وکړي او یا یې د فعالیت مخنیوی وکړي.

دوهم اصل دادی چې دین او دولت دوې جلا ساحې دي. دا اصل نسبت هغه بل اصل ته چې دولت اجازه نلري دولتي دین منځ ته راوړي ډیر پراخ او وسیع دی. دولت باید په مذهبي چارو کې په هیڅ توګه مداخله ونکړي او باید پدې چارو کې ګیر رانشي. ددې اصل د تطبیق ډیره مهمه برخه داده چې دولت نه باید د مالیې له لارې ټول شوي ډالرونه د مذهبي موسساتو او یا مذهبي فعالیتونو د تمویل د پاره مصرف کړي.

دریم اصل دادی چې دولت باید د دین په برخه کې ناپیلې او بیطرفه وي او نه باید د یو دین څخه د بل دین په مقابل کې ملاتړ وکړي او نه هم باید مذهبي فعالیتونو ته د غیر مذهبي فعالیتونو په پرتله ترجیح ورکړي او یا برعکس.

سترې محکمې د دین د مادو په تفسیر کې دې ټولو اصولو ته پاملرنه کړیده. محکمې په جلا توګه د تاسیس او د آزاد تمرین مادې او هغه معیارونه څیړلي دي چې د هرې مادې په اړه د حکومت د چلند د ارزیابۍ د پاره ورڅخه استفاده شوې او د وخت په تیریدو سره یې تغیر موندلی دی.

د تاسیس ماده یوه ډیره مسلمه او مهمه معنې لري. حکومت باید یو رسمي دین منځ ته را نه وړي. دا مونږ ته ظاهرا" یو ډیر درست اصل ښکاري، اما ډیر نور هیوادونه شته چې رسمي دین لري. حتې په لیبرالو دیموکراتیکو هیوادونو کې رسمي دین شته. یو مثال یې انګلستان دی. ددې اصل فرعي برخه داده چې حکومت نه باید د مالي مرستو، عامه خدماتو او یا رسمي تایید له لارې د مذهبي موسساتو څخه ملاتړ وکړي. او هغسې چې د سترې محکمې قاضي بلیک Blackپه کال ۱۹٤۷ کي د ایورسن او د ایونګ د ښار د معارف د ریاست په قضیه کې تشریح کړ : " توماس جفرسن ویلي دي چې د قانون له لارې د دین د موسسې د منځ ته راتلو پر ضد ماده ددې مقصد د پاره ده چې د دولت او کلیسا تر منځ د جلاوالي دیوال منځ ته راشي " ددې معیار له مخې بعضې قضیې او مسلې آسانه دي. دولت نشي کولای د یو منځ ته راغلي کلیسا سره مرسته وکړي، یعنې که د بابتیستانوکلیسا په اور کې وسوځي، د دولت د پیسو څخه د هغه د بیا رغونې د پاره استفاده نشي کیدای. اما کله چې کلیسا په اور کې سوځي، آیا د ښاروالۍ اطفاییه کولاي شي دا اور مړ کړي، او یا داچه دا به هم د مالیې د پیسو او د عامه موسسې د کارکوونکو څخه ددین سره د مرستې په معنې وي؟ ددې پوښتنې ځواب څرګند دی او هغه داچه اطفاییه کولای شي د یوې مذهبي موسسې د پاره په عین سویه خدمات وړاندې کړي لکه غیر ديني موسسو ته چې یې وړاندې کوي. کله چې د اور د خطر د زنګ ږغ پورته شي، مهمه قانوني برخه کلیسا نده بلکه یوه ودانۍ په اور کې سوځي. پدې توګه د اور وژل د جلا والي دیوال له منځه نه وړي که څه هم د یو مذهبي فعالیت سره د مرستې د پاره د مالیې له لارې ټول شوي ډالرونه لګېږي. د اور وژل نه دولت په مذهبي چارو کې داخلوي او نه هم ددین په وړاندې د دولت بیطرفي او ناپیلتوب نقضوي. اما نورې قضیې بیا ستونزمنې دي. هغسې چې محکمې په یوه بله قضیه کې څرګنده کړه : د جلاوالي لیکه یو دیوال ندی. دا یوه ګډوډه، غیر مشخصه او تغیر کوونکې لیکه ده چې د یوې خاصې اړیکې په ټولو حالاتو پوري تړلې ده. (په ۱۹۷۱ کال کې د کورتسمن او د لیمن ترمنځ قضیه). په سختو او ستونزمنو قضیو کې

هغه بيلا بيلې لارې شاملې دي چې حکومت پر ټولنيزو موسساتو او ټولنيز ژوند اغيز کوي او د هغو څخه ملاتړ کوي.د Everson ايورسن قضيه به د مثال په توګه راواخلو. د ايالت د قانون له مخې د نيوجرسي د Ewing په ښارګوتي کې د معارف رياست په عامه ښوونځيو او غير انتفاعي خصوصي ښوونځيو کې د شاګردانو والدينو ته ټولې هغه پيسې چې د شاګردانو د تګ راتګ د پاره يې د ښوونځي د بس يا سرويس د پاره ورکړې وې بيرته تاديه کړې په مجموعي توګه د عامه بودجې څخه ۳۵۷۷٤ ډالره د هغويوويشت ماشومانو والدينو ته ورکړل شوې چې د رومن کاتوليک کليسا په خاص ښوونځي کې يې زده کړې کولې. آيا دې ميندو او پلرونو ته د پيسو ورکول د مساوات پر اساس وو چې اساسي قانون اجازه ورکوي، او که دا د يو ديني موسسې سره مرسته وه چې د جلا والي د ديوال د ماتولو معني لري او اساسي قانون اجازه نه ورکوي؟ او دا به څنګه وي که دولت په خاصو ښوونحيو کې د کوڼو شاګردانو د پاره ترجمانان وټاکي او په همدې ښوونځيو کې د دنيايي مضمونونو د پاره د صنف مرستيالان وټاکي او کتابونه ورکړي؟ يا په عامه پيښو او نمايشونو کې د دولت رول ته پاملرنه وکړئ. دولت نشي کولاي د کليسا، سيناګوګ يا کنيشته او يا د مسجد ودانۍ جوړه کړي. اما آيا د يو ښار ښاروالي کولای شي په يو څلور لارې کې د وړو ماشومانو د ساتنې يو مرکز جوړ کړي، يوه د کريستمس درخته ودروي، يا د يوې مقدسې ورځې په مناسبت يوه درخته ودروي؟ آيا کولای شي يوه خصوصي ډله موظفه کړي پر عامه ملکيت باندې دا ډول سمبولونه ودروي؟ او که د تاسيس او آزاد تمرين مسلې سره يو ځای او ګډ کړي آيا بايد يوې خصوصي ډلې ته اجازه ورکړي چې دا کارونه وکړي؟

سترې محکمې د ليمن او کورتسمن په قضيه کې د حکومت د فعاليتونو قانوني حدود تعريف کړي او وايي چې د حکومت فعاليت چې پر دين اغيز کوي څه وخت د تاسيس ماده نه نقضوي :

لمړی، دا مقرره بايد د يو دنيايي قانون د هدف د پاره وي. دوهم : ددې اصلي يا لمړنۍ اغيز بايد داسې وي چې نه د دين د پرمختګ د پاره وي او نه هم هغه منع کړي. او بالاخره دا مقرره نه بايد په زياته پيمانه ددين په چارو کې داخل کړي.

د هدف، اغيز او په چارو کې د داخليدو آزمايښت يوه اندازه لارښوونه کوي اما د هغه تطبيق ډير ګران دی. (ځينو پوهانو ويلي دي چې د ليمن آزمايښت يو مناسب نوم دی) د مثال په توګه په ۱۹۷۷ کال کې د والټر او ولمن Wolman په قضيه کې محکمې فيصله وکړه چې دولت کولاي شي د ښوونځيو سره د دنيوي تدريسي کتابونو او د شاګردانو د صحي معايناتو په برخه کې مرسته وکړي، اما نه د زده کړې د نورو موادو په برابرولو کې لکه نقشې، کرې يا د لابراتوار د چپنو او يا د علمي سير د پاره د حمل او نقل په برخه کې.

بله ساحه چې لا هم ډيره ستونزمنه ده د مذهبي مهمو پيښو عامه نمايش دی لکه د کريستمس د جشن نمايشونه. د تاسيس د مادې اصلي هسته البته داده چې حکومت نشي کولای د مذهبي فعاليتونو سرپرستي وکړي او يا هغه تاييد کړي، پدې معنې چې يو ښار نشي کولاي يو د ماشومانو د ساتنې يا شيدو ورکولو مرکزجوړ يا يو يادګار د مذهبي سمبول په توګه منځ ته راوړي. اما فرض کړی چې يو ښاروالي

داسې یو شی جوړوي او یا داسې نمایشاتو ته اجازه ورکوي چې هغه په نا څرګنده توګه د یو دین تایید کوي. په ۱۹۸۹ کال کې د اله ګیني Allegheny د ولسوالۍ او د ACLU په قضیه کې دوه نمایشه شامل وه. یو د محل د خلکو نمایش وو چې د ولسوالۍ د محکمې د ودانۍ په زینو کې اجرا شو. ددې نمایش مخې ته یوه لوحه درول شوې وه او په کې لیکل شوي وه چې دا د مقدس نوم د ټولنې Holly name society لخوا اهدا شوې ده. او په بل نمایش کې ددې ولسوالۍ د یو بل رسمي ودانۍ د ننوتلو د دروازې مخې ته یو د کرسټمس درخته یو Chanukah menorah

درول شوی او پر یوه لوحه لیکل شوي وو چې دا نمایش آزادۍ ته د احترام په خاطر دی.

د سترې محکمې څلورو قاضیانو دواړه نمایشه پدې اساس تایید کړل چې دا په مستقیمه توګه د کوم دین په ګټه نه دی او نه هم د کوم چا پر دیني عقایدو باندې تیری دی. د سترې محکمې درې قاضیانو د لیمن آزمایښت غوښتنه وکړه او دواړه نمایشه یې ددین څخه ملاتړ وبلل چې د اساسي قانون ضد دی. او د سترې محکمې دوو قاضیانو چې رایې یې ډیر تعین کوونکي وه دوهم نمایش تایید او لمړی نمایش یې رد کړ چې د همدغه پریکړې پر اساس یو دکتورین یا نظریه چې د پلاستیکي ګوزن د دکتورین یا Plastic reindeer doctrine په نامه یې شهرت وموند منځ ته راغله.

پر عامه ملکیت د ماشومانو د ساتنې مرکز د حکومت لخوا د دین تایید او د تاسیس د مادې نقض وبلل شو، اما هغه بل نمایش مجاز وبلل شو ځکه په هغه کې بیلا بیل سمبولونه وه او دنیایي عناصر یې درلودل.

هغسې چې د سترې محکمې قاضي لیویس پاول د وولمن په قضیه کې وویل : " زمونږ پریکړې پدې ستونزمنه ساحه کې داسې لیکې کاږي چې اکثرا" مطلق او اجباري ښکاري " حقیقتا"، په اویایمه او اتیایمه لیسزو کې محکمې د لیمن د آزمایښت د درې برخو ذکر کړیدی، اما د محکمې په پریکړو کې دا نشو ویلای چې دا آزمایښت په څرګند او قابل فهم توګه تطبیق شوی وي. په ۱۹۹۰ لسیزه کې محکمې د یو بل آزمایښت څخه استفاده کول پیل کړ چې په هغه کې د حکومت پر ناپیلتوب تاکید کېږي او نه په دیني چارو کې د حکومت په ګرفتاری. په یوه نړۍ کې چې د حکومت ګټې او خدمات ډیر پراخ شوي دي، که حکومت مذهبي ډلو ته د نورو ډلو په شان مالي یا نورې مرستې ورکړي د تاسیس ماده نه نقضوي. کله چې یو دولتي پوهنتون د محصیلینو د ځینو فعالیتونو د لاس ته راغلو پیسو څخه د محصیلینو د خپرونې د تمویل د پاره استفاده وکړه، ددې کار څخه د تاسیس د مادې پر اساس مخنیوی وشو او دا د مذهبي خپرونو سره تبعیض وبلل شو. ددې خپرونو تمویل پدې معنې نه وه چې حکومت یو نظر تاییدوي یا د یو دین سره مرسته کوي، بلکه ددیني او غیر دیني ډلو سره یو شان چلند کوي (د روزن برګر Rosenberger دعوې د ویرجینیا د پوهنتون د ریس او محصیلینو پر ضد په ۱۹۹۵ کال کې). د آزاد تمرین د مادې اصل هغومره روښانه دی لکه د تاسیس د مادې اساسي اصل چې دی. هغسې چې قاضي روبرت جیکسن د بارنت او د غربي ویرجینیا د پوهنې د ریاست په قضیه کې وویل : که زمونږ د اساسي قانون په لوړ برج کې یو ثابت ستوری وي هغه دادی چې هیڅ دولتي مامور که دلوړې رتبې وي او یا د

کښتې، نشي کولای وټاکي چې څه شی په سیاست، ملت غوښتنه، دین یا د عقایدو په نورو برخو کې صحیح او درست دی او یا پر اتباعو باندې فشار راوړي چې د خبرو یا عمل له لارې د هغه پر صحیح والي اعتراف وکړي. د بارنت په مسله کې دعوې د غربي ویرجینیا د ایالت پر یوې مقررې باندې وه چې د ټولو ښوونځیو د شاګردانو څخه یې غوښتل بیرغ ته د وفاداری ترانه ووایي. د بارنت ماشومان د ښوونځي څخه ووتل ځکه دوی د یوهووا ویتنس Jehova Witnesses چې د عیسویت دین یوه مذهبي فرقه ده پیروان وه او د خپل مذهبي عقیدې له مخې یې نشوای کولای بیرغ ته د تعظیم او احترام سر کښته کړي. محکمې په کال ۱۹٤۳ کې د جون میاشتې پر څوارلسمه چې د بیرغ ورځ وه فیصله وکړه چې دا مقرره د آزاد تمرین ماده نقضوي. دولت نشي کولای د بارنت ماشومان پدې خاطر مجازات کړي چې ولې دوی د خپلې عقیدې او وجدان مطابق کار کړیدی.

د بارنت پرنسیپ چې دولت نشي کولای خلک د عقیدوي یا وجداني کارونو کولو ته مجبوره کړي یو منل شوی پرنسیپ دی او په نورو حالاتو کې هم د هغه څخه استفاده شویده لکه په مزایده کولو، اجباري عبادت (په لوړ یا کښته آواز) یا په ښوونځیو کې د انجیل په لوست کې. اما د آزاد تمرین په متعلق ډیر جنجالونه د مذهب او عقیدې د هغو کارونو په برخه کې دي چې د قانون پر ضد دي اما په خپله ددې اعمالو پر سر ندي او هغه څوک چې د خپلې مذهبي عقیدې پر اساس عمل کوي د دولت د مرستو څخه نه محرومېږي. د مثال په توګه فرض کړئ چې د یو چا په مذهب کې د انجیل دغه اصل چې سترګه دې د سترګې په مقابل کې واخیستل شي ډیر جدي ونیول شي. اوس نو که یو څوک د موټر د ټکر په نتیجه کې خپله سترګه له لاسه ورکړي، آیا دی کولای شي د انجیل ددغه اصل له مخې د موټروان یوه سترګه وغواړي؟ او یا دا سړی پدې خاطر چې دده مذهب دا ډول یوه غوښتنه لري، تر قانوني تعقیب لاندې ونیول شي؟

د هیالیه د ښار او د لوکومي بابالو د مذهبي ډلې تر منځ قضیې ته پاملرنه وکړئ :

(Church of the Lukumi Babalu Aye INC.v. City of Hialeah 1993) دا ډله او دهغه غړي د سانتیریا Santeria د مذهب پیروان وه. دا یو افریقایي کوبایي مذهب دی چې پیروان یې ارواحو ته د حیواناتو د قربانۍ له لارې خپله مینه او فداکاري څرګندوي. دې مذهبي ډلې غوښتل د فلوریدا ایالت د هیالیه په ښارکې خپل یو مرکز جوړ کړي، خو د سیمې د اوسیدونکو د مخالفت سره مخامخ شول. د ښار شورا څو فرمانونه صادر کړل او خپله اندیښنه یې څرګنده کړه او وې ویل، هرڅوک چې د مذهبي فرایضو د اداکولو د پاره یو حیوان ووژني تر قانوني تعقیب لاندې به ونیول شي. دې ډلې ددې فرمانونو پر ضد دعوې وکړه او هغه یې د آزاد تمرین د مادې ضد وباله.

که څه هم د سترې محکمې ټول قاضیان پدې نظر نه وه او ویل یې چې لمړۍ دې و آزمایل شي چې آیا د آزاد تمرین اصل نقض شوی او که نه؟ خو د ټولو رایو په اکثریت یې پریکړه وکړه چې دا فرمانونه د اساسي قانون له مخې د منلو وړ ندي. دوی وویل چې دا فرمانونه د ټولو هغو حیواناتو په هکله ندي چې وژل کېږي، بلکه د هغو حیواناتو په برخه کې دي چې د سانتیرا د مذهب د آدابو د پرځای کولو په خاطر

قرباني کېږي. لهذا ددې فرمانونو هدف دادی چې يواځي پر يو خاص مذهب باندې بار کښېښودل شي. تصور وکړئ چې دا قضيه نوره هم پيچلې وای او د هيالیه د ښار شورا هم داسې عمل کړی وای چې انګيزه يې په څرګنده توګه تبعيض آميزه نه وای او د يو فرمان پر اساس يې د ښار په شاوخوا او حدودو کې د ټولو حيواناتو وژل منع کړي وای او يواځي يې د هغو حيواناتو ذبح ته اجازه ورکړې وای چې تر صحي شرايطو لاندې د روغتيا رياست د مقرراتو مطابق ذبح کېږي او د سانتيرا د اصولو سره مطابقت نلري. آيا بيا د سانتيرا ډلې کولای شوای غوښتنه وکړي چې د قانون پر اساس بايد ددې ډلې د پلويانو د آزاد تمرين حق د تيري څخه وساتل شي؟

قاضيان د هغه معيار په هکله چې دداسې قضيو د حل او فصل د پاره ورځخه استفاده کېږي په يو نظر ندي. په ۱۹٦۳ کال کې شيربرت او ويرنر په قضيه کې محکمې د متوازن آزمايښت لاره غوره کړه. که يو دعوې کوونکی څرګنده کړي چې يو قانون دده د ديني فرايضو د اداکولو پر آزادۍ لوي محدوديتونه وضع کړيدي، حکومت بايد ددغسې يو قانون د موجوديت او حقانيت د پاره ډير قوي دلايل او خاصي ګټې ولري. پداسې يو حالت کې به محکمه پر آزاد تمرين راغلۍ بار د حکومت د ګټو او د هغه تاوان د اندازې سره چې ددعوې کوونکي د معافيدو څخه حکومت ته رسېږي انډول کړي.

د شيربرت په قضيه کې محکمې يوه فيصله رد کړه چې د هغه پر اساس يو ادونتيست Adventist ته چې حاضر نه وو د شنبې په ورځ کار وکړي د بيکارۍ معاش نه ورکول کيده. (Adventist د عيسويت د يوې فرقې غړي ته وايي چې مځکې ته د حضرت عيسې (ع) پر ډير ژر بيرته ستنيدو عقيده لري. ژ) دې مقررې د عارض د مذهبي چارو پر آزادۍ يو لوی بار ايښی وو او د دولت ګټه چې غوښتل يې د تقلبي ادعاوو مخنيوی وکړي د نورو لارو هم حل کيدای شوای. په ۱۹۹۰ کال کې د کار د اداري او د سميت په قضيه کې محکمې چې بدلون په کې راغلی وو فيصله وکړه چې ټول هغه قوانين چې د دين په وړاندې ناپيلي دي او په عامه توګه د تطبيق وړ دي، اما د يو خاص مذهب پر رسوماتو اغيز لري، د حکومت د ګټو په خاطر د توجيه وړ ندي، حتې که قانون په تصادفي توګه هم د يو خاص مذهب پر رسوماتو بار کښېږدي. که يو قانون د مذهبي رسوماتو په هکله نه وي او په مساوي توګه د ټولو افرادو په برخه کې د تطبيق وړ وي، دا د آزاد تمرين ماده نه نقضوي. د سميت په قضيه کې د مخدره موادو د عادت څخه د خلاصون مشاورين لدې امله چې په يو مذهبي مراسمو کې يې د زقوم يا Peyoteڅخه استفاده کړې وه او له کاره کوښه شوي وه، د دولت د بيکارۍ د معاش د اخيستلو مستحق و نه ګڼل شول ځکه دوی داسې يوه مقرره تر پښو لاندې کړيوه چې ددين په مقابل کې ناپيلي وه او د ټولو کارګرانو په برخه کې د تطبيق وړ وه.

د شيربرت او ورنر په قضيه کې د انډول آزمايښت د سميت د آزمايښت په پرتله د ديني آزادۍ سره ډيره سازګاره وه، اما محکمې په څرګنده توګه هيله نه درلوده په دواړو آزمايښتونو کې يو قانون د آزاد تمرين پر بنا بي اعتباره وګڼي. په حقيقت کې محکمې يواځې په درې حالاتو کې فيصله کړيده چې په هغه کې د آزاد تمرين مادې خلک د دوی د مذهبي عقيدې له کبله د هغو قوانينو د رعايه کولو څخه

معاف کړيدي چې په عامه توګه د ټولو نورو خلکو په مورد کې د تطبيق وړ دي. يو ددې قضيو څخه پر خپلې عقيدې باندې د غير اختياري اعتراف مسله وه لکه د بارنت په قضيه کې چې بيرغ ته د لوړې نه کولو پخاطر منځ ته راغلې وه. پداسې قضيو کې هم د آزاد بيان ادعاوې او هم مذهبي ادعاوې شاملې وې. د داسې قضيو دوهم شکل د بيکارۍ د معاش په هکله دي لکه د شيربرت او سميت په قضيه کې. د شيربرت تر قضيې وروسته محکمې فيصله وکړه چې دولت بايد ځيني کسان د بيکارۍ د معاش د اخيستلو د پاره د ځينو شرطونو څخه چې دوی يې د خپلو مذهبي عقايدو پر اساس نشي پر ځاي کولای معاف کړي.

د استثنې دريم شکل په ۱۹۷۲ کال کې د ويسکانسن ايالت او يودر تر منځ ځانګړې قضيه وه. پدې مسله کې محکمې فيصله وکړه چې د ويسکانسن ايالت نشي کولای د آميش د مور او پلار څخه وغواړي د خپل مذهبي عقايدو ضد خپل ماشومان تر اتم صنف وروسته ښوونځي ته ولېږي. محکمې وروسته څرګنده کړه چې دا پريکړه نه يواځې د آزاد تمرين د مادې پر اساس بلکه همدا شان د خلوت privacy د پراخ شوي حق پر اساس هم شويده. په شخصي ژوند کې د خلوت پر حق په راتلونکي فصل کې بحث شويدی. د دولت د مجبوريت ګټه پدې کې وه چې د ځوانانو د ودې او انکشاف د پاره شرايط تامين کړي تر څو دوی د نورو اتباعو په شان د ټولنې بشپړ غړي شي، اما په رسمي ښوونځيو کې تر اتم صنف پوري تر زده کړې وروسته هغه زده کړې چې د آميش ماشومانو ته په کور او د دوی په مذهبي ټولنه کې ورکول کيده د دولت د ګټو د پاره قانع کوونکی نه وو.

په اساسي قانون کې د کومو نورو حقوقو څخه ساتنه شويده؟

د اساسي قانون مادې چې د مدني آزاديو ساتنه او حفاظت کوي مبهم دي، اما هغه سلوک چې دا مادې يې ساتنه کوي معمولا" د اساسي قانون د هغو مادو د متن سره خاصې اړيکې لري چې ددې ساتنې صلاحيت ورکوي. د مثال په توګه څرنګه چې لمړۍ ضميمه د بيان د آزادۍ ساتنه کوي، دا به ګرانه نه وي که ووينو چې څنګه دا اصل د غير لفظي څرګندونو ساحې ته پراخېږي او هغه په بر کې نيسي، لکه د امريکا د بيرغ د سوځولو مسلې ته. اما د ځينو نورو غير عادي او د جنجاله ډکو آزاديو په برخه کې چې د سترې محکمې د فيصلې له مخې يې اساسي قانون ساتنه کوي مسله څنګه ده؟ اساسي قانون له کومه ځايه د سقط جنين، په خپلو کورونو کې د وقيحو عکسونو او فلمونود ليدلو، د حامله کيدو ضد بوغيو د رانيولواو يا د يو ايالت څخه بل ايالت ته د سفر کولو د حق ضمانت کوي؟ ددې پوښتنې ځواب په هيڅ ځاي او په هر ځای کې دی.

د اساسي قانون د هغو خاصو مادو د ساتنې په غير لکه د لمړي ضميمې يا د منصفانه محاکمې ماده، سترې محکمې د خلوت حقright of privacy، د فرديت حق personhood يا د فردي خپلواکۍ حق personal autonomy زمونږ د تنظيم شوي آزادۍ يا ordered liberty په سيستم کې د ذاتي او تل پاتې حقوقو په توګه تعريف کړيدي. د خلوت حق د يو لړ فردي اعمالو او محرمانه اړيکو ساتنه کوي چې په

خاصه توګه يې د اساسي قانون په نورو موادو کې ساتنه نده شوې. ددې حقوقو يو له جنجاله ډکه موضوع د ښځو د سقط جنين حق دی.

د اساسي قانون په اړه د سترې محکمې په هره فيصله او پريکړه کې بايد د اساسي قانون متن ته اشاره وشي. اما په اساسي قانون کې د خلوت، فرديت يا فردي خپلواکۍ ته اشاره نده شوې. لهذا نو د سترې محکمې قاضيان ددې حقوقو د پاره د متن اساس له کومه کوي.؟

په يو لړ قضيو کې محکمې فيصله وکړه چې د آزاديو د پاره د اساسي قانون خاص ضمانتونه د هغو حقوقو د پاره چې په متن کې يې په روښانه توګه نوم ندی اخيستل شوی د طهور او تجلا يا emanation منبع ده. بيلا بيل قاضيان پر بيلا بيلو منابعو تاکيد او ټينګار کوي، خو تر ټولو مشهور منابع په لاندې ډول دي :

- لمړۍ ضميمه د بيان د آزادۍ ساتنه کوي. ددې د پاره چې ددې حق څخه په ښه توګه استفاده وشي، خلک بايد وشي کولای تحصيل وکړي، زده کړه وکړي او د بيلا بيلو نظرياتو سره مخامخ شي
- لمړۍ ضميمه همدا شان سياسي اهدافو ته د رسيدو په مقصد د نورو سره د يو ځای کيدو او معاشرت د آزادۍ څخه ساتنه کوي. د انجمن د جوړولو آزادي به هغه وخت اغيزمنه وي که يو فرد ددې حق ولري چې خپل ارتباطات او فعاليتونه خصوصي وساتي.
- دريمه ضميمه د سولې په وخت کې د عسکرو غير اختياري ځای پر ځای کول د يو فرد په شخصي کور کې منع کوي ځکه کور د خلوت يو ځای بولي چې دولت نه بايد برید پرې وکړي.
- څلورمه ضميمه په جنايي قضيو کې د حکومت صلاحيتونه محدودوي. د مثال په توګه غيرله کوم خاص فوق العاده حالت څخه پوليس اجازه نلري د يوچا شخصي شيان ولټوي. ددې مقررې هدف دادی چې د پوليس د بې ځايه مداخلو څخه مخنيوی وشي، او د پوليس مداخلې پدې خاطر بې ځايه دي چې خلک په شخصي ژوند کې د خلوت يو نيم تياره نيم روښانه penumbral حق لري.
- نهمه ضميمه وايي، په اساسي قانون کې د ځينو حقوقو ذکر نه بايد داسې تعبير شي چې د خلکو نور حقوق رد شي او يا بې قدره وګڼل شي. د تعديل ياتصحيح amendment د معنې په هکله ډير د پام وړ تاريخي جنجال وجود لري، خو ځينو قاضيانو دا کلمه داسې تعبير کړيده چې ځيني بنيادي حقوق شته چې په اساسي قانون کې ندي مشخص شوي.

کله چې محکمه دا ټول فردي حقوق سره يوځای کښېږدي، ددې مجموع د هغه د برخو د مجموعې څخه لويه ده. ددغه حقوقو پراختيا چې په متن کې راغلي دي، د خلوت په نامه يو نوی حق منځ ته راوړي چې اساس يې د فرديت په هغه تصور کې چې په اساسي قانون کې ذکر شويدی پروت دی.

هغسې چې د اساسي قانون استاد لارنس ترایب وایي : " دا نده روښانه چې آیا د خلوت حق یو واحد مفهوم دی او که د یو لړ بې ارتباطو شیانو یو صندوق دی " اما دا چوکاټ شویدی او د هغه په هکله د قاضیانو لخوا د بشر د آزادۍ په ارتباط د انګازو ډکې څرګندونې شوي دي. ددې څرګندونو اقتباس به په اساسي قانون کې د خلوت د حق اهمیت را بر سیره کړي.

قاضي لویس براند آیس په ۱۹۲۸ کال کې د متحده ایالاتو او اولم ستید په قضیه کې وویل : زمونږ د اساسي قانون تسوید کوونکو هڅه وکړه داسې شرایط منځ ته راوړي چې د نیکمرغۍ د تعقیب او پلټنې د پاره مساعد وي. دوی د دولت په مقابل کې د خلکو ددې حق چې څوک یې په چارو کې مداخله ونکړي او په اصطلاح یواځې یې پرېږدي، مشورې وکړې. دا تر ټولو لوی او هر اړخیز حق دی چې مدني خلکو ته ډیر ارزښت لري.

قاضي جیمز مک رینولدس په ۱۹۲۳ کال کې د نبراسکا او میر په قضیه کې وویل : بیله شکه آزادي یواځې د جسمي محدودیت څخه د آزادۍ په معنې نده بلکه د یو فرد د پاره د قرارداد کولو حق، د ژوند په عامو کارونو کې د برخې اخیستلو حق، د علم د زده کړې حق، د واده کولو حق، ځانته د کور جوړولو او د ماشومانو د روزلو حق، خدای ته د عبادت کولو حق، د خپل وجدان په مرضا د عمل کولو حق او په عامه توګه د ټولو هغو امتیازاتو څخه د ګټې اخیستلو حق چې زمونږ په عرف او نالیکل شوي قانون کې پیژندل شوي او د آزادو خلکو لخوا د نیکمرغۍ د تعقیب او پلټنې د پاره اساسي ګڼل کېږي، ټول پدې آزادۍ کې شامل دي.

قاضي جان پاول ستیفن په ۱۹۷٦ کال کې د میچوم او فانو په قضیه کې وویل : ما دا یو روښانه حقیقت باله چې خدای ټولو انسانانو ته د آزادۍ نعمت د یو نه بیلیدونکي حق په توګه ورکړیدی. دا هغه اساسي آزادي ده چې د منصفانه دعوې ماده یې ساتنه کوي او نه هغه خاص حقوق او امتیازات چې په خاصو قوانینو کې یې ذکر شویدی.

د خلوت د حق په اړه دوه لمړنی قضیې یو په ۱۹۲۳ کال کې د میر او نبراسکا تر منځ او بل یې په ۱۹۲۵ کې د پیرس او د خویندو د ټولنې یا society of sisters تر منځ وې. د میر Meyer او د نبراسکا د ایالت قضیه داسې وه چې پدې ایالت کې د محل پرستۍ احساسات ډیر پیاوړي شوي وه او مخکې له اتم صنف څخه یې شاګردانو ته د خارجي ژبو زده کړه منع کړې وه. د پیرس او د اوریګان د ایالت په قضیه کې د ټولو شاګردانو څخه غوښتل کیده چې په عامه ښوونځیو کې زده کړه وکړي. په دواړو قضیو کې محکمې دا مقررات د نوو ژبو د معلمانو د غوښتنې، داچه شاګردانو ته باید د علم د زده کړې امکانات برابر شي، او دا چې میندې او پلرونه دا حق لري چې د خپلو ماشومانو د زده کړې پر بهیر څارنه وکړي، په چارو کې مداخله وښلل او هغه یې رد کړل. د پیرس قضیې ته ورته په یوه بله قضیه کې یې د غیر مذهبي خصوصي ښوونځیو په ارتباط عین حکم صادر کړ او څرګنده یې کړه چې د حکم اساس ددین آزادي نه بلکه هغه حق دی چې انسانان په خپلو تصمیمونو او پریکړو کې د دولت د څارنې او کنټرول څخه آزاد دي.

میبر او پیرس دواړو د ماشومانو په زده کړه کې د میندو او پلرونود اندیښنو او دلچسپۍ اهمیت رابرسیره کړ. دا په کورني اړیکو کې د واده په شمول د پراخې دلچسپۍ یوه برخه ده او همدا برخه د خلوت یا خصوصي ژوند حق دی. په ۱۹٦۷ کال کې د لاوینګ Loving او ویرجینیا په قضیه کې محکمې د ویرجینیا د ایالت یو قانون چې د تورپوستو او سپین پوستو تر منځ واده یې منع کاوه بې اعتباره وباله او په ۱۹۷۱ کې د بودي Buddie او کونیکتیکټ Connecticut په قضیه کې محکمې حکم وکړ چې د کونیکتیکټ ایالت قانون چې د طلاق غوښتونکو څخه یې غوښتل د طلاق د درخواست د پاره یو مقدار پیسې د محصول په توګه تادیه کړي، د بي وزلو خلکو په برخه کې چې ددې پیسو د ورکولو توان نلري د تطبیق وړندی. دواړه قضیې روښانه کوي چې د خلوت حق څنګه وده او انکشاف کړیدی. په هره یوه قضیه کې محکمې د خپلې فیصلې د پاره یو بل نظریاتي اساس موندلی او تشخیص کړیدی. (د لاوینګ په قضیه کې د مساوي ساتنې او د بودي په قضیه کې د منصفانه دعوې د پرنسیپ څخه استفاده شویده)، خو په هره قضیه کې قاضیانو واده د یو اساسي حق په توګه په رسمیت وپیژانده تر څو دولت ونشي کولای د یو فرد د واده کولو یا د طلاق کیدو توانمندي محدوده کړي.

هغه ساحه چې په هغه کې د خلوت یا privacy حق ډیره پراختیا مینډلې ده او په هغه کې ډیر هیجان او تودوخې منځ ته راغلې دی، هغه د توالد او تکثیر د حقوقو په برخه کې دی. د میبر او پیرس قضیې د خلکو پر ذهن او فکر باندې د حکومت د څارنې او کنټرول په برخه کې وې، خو د توالد او تکثیر حقوق د خلکو پر بدن باندې د حکومت د کنټرول د صلاحیت په برخه کې دي.

د توالد او تکثر د حقوقو په برخه کې د محکمې فیصله په ۱۹٤۲ کال کې د سکینر او د اوکلاهوما د ایالت په قضیه کې وشوه. پدې قضیه کې محکمې د اوکلاهوما یوه مقرره رد کړه چې ویل یې : که یو څوک دوه یا څو واره د یو جدي جنایت له کبله محکوم شي، باید په جنسي لحاظ خصي یا خنثې کړل شي. قاضي رابرت جیکسن وویل چې د توالد حق د مدني حقوقو له ډلې څخه یو اساسي حق دی. او د نازي جرمني په دوره کې چې د نژاد د پاک ساتلو په خاطر یې طبي آزمایښتونه کول، قاضي جیکسن اندیښنه څرګنده کړه چې په پارلمان کې اکثریت ښایي داسې بیولوژیکي آزمایښتونو ته اجازه ورکړي چې د بشري کرامت، شخصیت او د یو اقلیت د طبعي توانمندۍ او حقوقو پر ضد دی.

(وروسته قاضي جیکسن په نورنبرګ کې د نازیانو د مشرانو په محکمه کې د څارنوال په توګه بیا فرصت وموند چې د انسان پر بشري کرامت او حقوقو باندې د حکومت لخوا د تیري پر ضد څرګندونې وکړي).

د سکینر د قضیې په تعقیب دوې نورې قضیې په شپیتمه او اویایمه لسیزو کې د خلوت حق شکل ته تغیر ورکړ او محکمه یې په ټول قوت سره د توالد او تکثر د حقوقو ساحې ته راوبلله. په ۱۹٦۵ کال کې د ګریس وولډ او کونیکتیکټ د ایالت په قضیه کې د توالد د کنټرول د پلویانو استازي د کونیکتیکټ ایالت د یو قانون له مخې چې د ښځې او میړه په جنسي عملیه کې یې د حامله دارۍ د مخنیوي د پاره د مخصوصو بوغیانو استعمالول او یا ښځو او نارینه وو ته ددغه بوغیانو د استعمال سپارښتنه کول محکوم

شول. د کورنۍ د پلانولو د اداري ریس او طبي ریس دواړه پدې خاطر چې واده شوو ښځو او د هغوی مړونو ته یې ددې قانون مخالف مشوري ورکړې وې، محکوم شول. دې دواړو ته اجازه ورکړل شوه چې د ځان د دفاع د پاره د واده شوو خلکو دې حق ته اشاره وکړی چې د حامله دارۍ د مخنیوي د وسایلو د استفادې په برخه کې یې لري. محکمې دا حق د اساسي قانون په هیڅ کوم خاص متن کې و نه موند، بلکه هغه یې د حقوقو د اعلامیې د خاصو ضمانتونو په رڼا کې تثبیت کړ، یعنې د هغو ضمانتونو په مظاهرو کې چې دې حقوقو ته یې ژوند ورکړیدی. محکمې د میړه او ښځې په ژوند کې د خلوت حق داسې تشریح کړ: دا حق د حقوقو تر اعلامیې مخکې منځ ته راغلی، دا حق تر هر سیاسي ګوند مخکې منځ ته راغلی دی او زمونږ د ښوونځیو تر سیستېم هم زوړ دی. واده د یو ښه یا بد او یا د تحمل وړ ژوند د پاره د دوو انسانانو یو ځای کیدل دی چې ددوی تر منځ داسې محرمانه اړیکې شته چې هغه ته مقدس ویلای شو. د ټولو هغه شریفانه اهدافو په شان چې مونږ مخکې د هغه په هکله پریکړې کړیدي، دا هم د یو شریفانه هدف او مقصد د پاره یو ځای کیدل دي. محکمې په پای کې وویل : داسې یو حق په یوه آزاده ټولنه کې یو اساسي حق دی او د حکومت یوه مقرره نشي کولای ی پر دې حق برید وکړي.

تر ګریس وولد وروسته په ۱۹۷۲ کال کې د آیزن شتدت Eisenstadt او بیرد Baird قضیه منځ ته راغله او په هغه کې روښانه شوه چې د توالد په برخه کې د خلوت حق یواځې واده شوو ښځو او مړونو ته مختص او محدود ندی. د آیزن شتدت په قضیه کې مدعي علیه د ایالتي قانون څخه د تخلف په جرم چې یوې ناواده شوي ښځې ته یې د حامله دارۍ د مخنیوي لازم وسایل ورکړي وو محکوم شوي وو. سترې محکمې ددې حکم د ردولو په وخت کې وویل :

ښځه او میړه یوه خپلواکه هستي یا موجود چې په یو فکر او یو زړه وي ندي، بلکه د دوو افرادو اتحاد او یووالی دی چې هر یو یې جلا فکري او جلا احساساتي جوړښت لري. که د خلوت حق کومه معنې ولري، نو دا د فرد حق دی، څه هغه واده کړی وي او یا مجرد وي. په هغو چارو کې چې د انسان پر ژوند بنیادي اغیز لري لکه داسې یو تصمیم چې آیا کوچنۍ وزېږوي یا د کوچني خاوند شي یا نه؟ پدې کې دوی د حکومت د غیر مجازې مداخلې څخه آزاد دی.

د ګریس وولډ، آیزن شتدت او د حامله دارۍ د مخنیوي نورې قضیې د خلوت د حق د پراخیدو ښه مثالونه وه او ډیر جنجالي هم نه وه. خو طوفاني حالت په ۱۹۷۳ کال کې منځ ته راغی. هغه وخت محکمې د رو Roe او واد Wade په قضیه کې دې نتیجې ته ورسیده او فیصله یې وکړه چې د خلوت حق ډیر پراخ دی او کولای شي د یوې ښځې پریکړه چې وغواړي خپله حامله داري وساتي او یا یې قطع کړي په بر کې ونیسي. په نتیجه کې ستره محکمه د سقط جنین د لس هاو او کښته محکمې د سل هاو قضیو سره مخامخ شول. د ایالتونو او فدرالي حکومت تر منځ د مطابقت، استثناآتو، بهانو او ځان تیرولو پر سر جنجال مخ په زیاتیدو شو او د محکمې پریکړې و نه منل شوې، او البته چې دا اضطراب او هیجان د محکمو څخه دباندې د انتخاباتو پر سیاستونو اغیز وکړ، لویې مظاهرې وشوې، د سقط جنین پر

کلینیکونو حملې وشوې او حتې ځینې ډاکټران چې د سقط جنین په مسله کې یې د میندو سره مرسته کوله ووژل شول.

راشئ په لنډه توګه د سقط جنین د حقوقو هغو قضیو ته وګورو چې په ستره محکمه کې مطرح شول د اساسي قانون د حقوقو په اکثرو مسلو کې په کار ده چې محکمه د متضرر شوي فرد د ګټو او د هغې ګټې یا دلچسپۍ په منځ کې چې حکومت یې د انسانانو د سلوک د تنظیم د پاره د قانون په جوړولو کې لري موازنه او اندول وساتي. د رو په قضیه کې محکمې درې ګټې تشخیص کړې. ددې ښځې دلچسپي پدې کې وه چې آیا خپل حمل وساتي یا یې سقط کړي چې دا د فردي خپلواکۍ یوه برخه ده چې د میرر او پیرس څخه نیولې تر کریس وولډ او آیزن شتدت پوري ټول پر همدې مسلې څرخي.

دولت پر دې پریکړې باندې د اغیز د پاره دوې دلچسپۍ لري : څرنګه چې سقط جنین یا د حمل قطع کول یوه طبي کړنلاره ده، د حکومت دلچسپي پدې کې ده چې دا کار پداسې توګه او د داسې شرایطو لاندې تر سره شي چې د ناروغې ښځې ساتنه او حفاظت تامین وي. حکومت همدا شان د جنین د ساتنې سره هم دلچسپي لري.

څرنګه چې دداسې پریکړې په کولو کې چې آیا حمل ته دوام ورکړل شي او یا قطع شي د ښځې د ژوند د کنټرول په هکله اساسي پوښتنې وجود لري، محکمې هغه په اساسي قانون کې یو اساسي حق وباله. لهذا یو ایالت یا حکومت یواځې په هغه صورت کې چې د اجبار له مخې یو جدي دلچسپي ولري، کولای شي چې ددې حق د پاره مقررات وضع کړي او هغه هم پداسې توګه چې دا مقررات یواځې د حکومت ددغه ګټې د خوندي کیدو د پاره وي. د مور د روغتیا د ساتنې په برخه کې د ایالت دلچسپي د حامله داریۍ په لمړیو درې میاشتو کې ډیره جدي نده، ځکه په دغه موده کې د سقط جنین خطر نسبت هغه خطر ته چې په عادي حالت کې یې د ماشوم زېږیدنه لري، ډیرلږ دی

تر لمړیو درې میاشتو وروسته یو ایالت کولای شي د سقط جنین د پاره داسې مقررات وضع کړي چې په معقوله توګه سنجول شوی او د مور د روغتیا ساتنه وکړي. مثلا" کولای شي غوښتنه وکړي چې د سقط جنین عملیه دې د یو کارپوه لخوا په یو رسمي روغتون کې وشي. محکمې فیصله وکړه چې د څورلسمې ضمیمې د اهدافو او نورو قانوني مقرراتو له مخې جنین یو فرد ندی او د جنین په ساتنه کې د ایالت دلچسپي د حامله داریۍ په لمړیو مرحلو کې د یو اجباري ضرورت له مخې ندی.

کله چې جنین د مور د رحم دباندې د ژوند کولو توانمندي ومومي، یعنې د حمل په وروستیو درې میاشتو کې، ایالت د جنین د ساتنې د پاره معقول او بیولوژیکي دلایل لري. لهذا د حمل په وروستیو درې میاشتو کې ایالت جدي دلچسپي لري چې د اساسي قانون له مخې سقط جنین منع کړي، مګر داچه د حاملې داریۍ دوام د مور ژوند او روغتیا له خطر سره مخامخ کړي.

د رو په قضیه کې تر پریکړې وروسته د ډیرو ایالاتو د پارلمان وکیلانو بیا هم هڅه وکړه د سقط جنین د حق د پاره حدود وټاکي. محکمې هغو ته په بیلا بیلو قضیو کې د ګټې یا دلچسپۍ د تحلیل په وړاندې کولو ځواب ووایه. د مثال په توګه یو ایالت کولای شي خپله ګټه پدې کې ووینې چې د مور د روغتیا د

ساتنې د پاره غوښتنه وکړي چې سقط جنین دې یواځې په هغو روغتونونو یا کلینیکونو کې تر سره شي چې د ناروغ د ساتنې لازم معیارونه یې پر ځای کړي وي.، اما نشي کولای وغواړي چې د سقط جنین عملیه دې یواځې په عامو روغتونونو کې چې هر ډول خدمات وړاندې کوي تر سره شي. لمړۍ غوښتنه د مور د روغتیا د ساتنې د پاره معقولیت لري، اما دوهمه غوښتنه یې نلري. که څه هم د حکومت څخه غوښتل شوي وو چې د ښځو د سقط جنین حق ته دې درناوۍ وکړي، اما دا غوښتنه ورځخه نده شوې چې ددې حق څخه استفاده کول دې تشویق او زیات کړي. فدرالي حکومت د مثال په توګه د اساسي قانون له مخې کولاي شي مخنیوۍ وکړي چې د طبي بودجې څخه د سقط جنین د تمویل د پاره استفاده و نشي.

تر دې پیښو ۲۰ کاله وروسته، مخصوصا" چې د سترې محکمې په ترکیب کې بدلون راغی، د رو Roe په قضیه کې د دلچسپۍ د تحلیل جوړښت هم تکان وخوړ. بالاخره په ۱۹۹۲ کال کې د کیسي Casy او Planned Parenthood یا د پلان شوي کورنیو په قضیه کې داسې څرګنده شوه چې ستره محکمه غواړي لږ تر لږه د یوې مدې د پاره د سقط جنین د حق اساسي مسله حل کړي. د محکمې د قاضیانو اکثریت بیا تصدیق کړه چې د سقط جنین حق یو اساسي حق دی اما وړاندیز یې وکړ چې ښایي د اجباري دلچسپۍ آزمایش چې د رو په قضیه کې د حمل په لمړنیو دري میاشتو کې وو، پریښودل شي او داسې آزمایښت وشي چې ایا د ایالت لخوا وضع شوي مقررات د یوې ښځې پر حق یو غیر لازم اضافي بار دی او که نه؟

د رو په قضیه کې د درې میاشتني تحلیل برعکس د غیر متناسب دروند بار آزمایښت ډیر زیات پر حقایقو ولاړ دی. دا آزمایښت محکمو ته لارښوونه کوي چې وګوري چې آیا پر سقط جنین باندې د ایالت لخوا لګول شوي محدودیتونه د یوې ښځې پر حق باندې چې غواړي خپل حمل قطع کړي یو اضافي بار دی او که نه؟ . د کیسي په قضیه کې د مثال په توګه هغه وخت چې یوه ښځه د یو ډاکټر سره د سقط جنین پر موضوع خبرې کوي او پخپله د سقط جنین د عملیې د اجرا کولو تر منځ حکمي یا دستوري ۲٤ ساعته انتظار د محکمې لخوا د انتخاب په مسله کې یو اضافي بار و نه بلل شو، ځکه کښتې محکمې معلومه کړه چې دا د ځینو ښځو د پاره په خاصه توګه یو لوی بار دی او نه د ټولو ښځو د پاره. اما دا غوښتنه چې یوه ښځه باید ثابته کړي چې خپل میړه یې د خپل سقط جنین د تصمیم څخه خبر کړیدي د اساسي قانون ضد وبلل شو ځکه دا ډول پراخ تحقیقات امکان لري په کورنۍ کې د میړه لخوا د فزیکي یا روحیاتي تیریو او زور زیاتیو باعث وګرځي او ښایي بیا ډیرې ښځې په همدې خاطر د سقط جنین د کولو څخه صرف نظر وکړي.

د سقط جنین پر مسلې په سل هاوو قضایي نظریات وړاندې شوي او په سل هاو قوانین منځ ته راغلي دي. همدا شان پر دې مسلې سیاسي جنجالونه منځ ته راغلي او فلسفي بحثونه شوي دي. دا به ناممکنه وي چې مونږ پدې اړه ټول قوانین له نظره تیرکړو او یا ددې مسلې نور ابعاد وڅیړو.

که څه هم سقط جنین یوه ډیره جنجالي مسله ده خو په عین زمان کې یوه ښه وسیله ده ددې د پاره چې مونږ په اساسي قانون کې دوه ډیر مهم ټکي چې پدې او مخکني فصل کې مو وروباندې بحث وکړ خلاصه کړو.

لمړی، د سقط جنین حق له کومه ځایه راځي؟ او په عامه معني ستره محکمه څنګه د اساسي قانون معني ټاکي؟ د هغو کسانو د پاره چې د یو دقیق او بې لږ او ډیر جوړښت او د قضایي احتیاط او اعتدال پلوي کوي، دا ټوله پروسه د قدرت نیولو یوه بې اصوله هڅه ده. دا ښه ندی چې محکمه د اساسي قانون د یوې جملې معنې او مفهوم دومره پراخوي. اما دلته داسې ښکاري چې قاضیان یو لړ بې ربطه مادې یو دبله سره یو ځای کوي او ځانته ددې صلاحیت ورکوي په یوه جنجالي موضوع کې خپل د خوښې تعبیر بیله دې چې د هغه د پاره په اساسي قانون کې کوم خاص متن وجود ولري، اساسي حق وبولي. پدې کار سره قاضیان چې ندي انتخاب شوي په حکومت کې د دیموکراتیکو څانګو د ارادې د عملي کیدو مخنیوی کوي کوم چې غواړي د داسې حقوقو لکه د نازېږیدلي جنین ساتنه وکړي.

دا ډول استدلال یو څه قوت لري. دا صحیح ده چې په اساسي قانون کې داسې یو شی نشته چې د خلوت حق ته اشاره وکړي او نه هم د سقط جنین د مقرراتو په شان د یو خاص قانون د نتایجو په هکله کوم شی شته. اما دا مونږ بیرته هغه د اساسي قانون د تعبیر خاص متود ته رابولي چې د اساسي قانون په هکله زمونږ بحث پرې پیل شوی وو. د اساسي قانون په هیڅ یو ماده کې محکمې ته ندي ویل شوي چې په یوه قضیه کې څنګه فیصله وکړي. هغه څه چې محکمې د خلوت یا Privacy د حق په منځ ته راتلو کې کړیدی، هغه شی دی چې په نورو ساحو کې یې هم کوي. محکمه هڅه کوي د اساسي قانون طرحې ته یو مفهوم ورکړي چې پدې لاره کې هرومرو د اساسي قانون د متن د خاصو مادو تفسیر هم شامل دی. یعنې د متن یوه برخه د بلې برخې سره څیړل او آزمایل کېږي او د ټولنیز، سیاسي او اقتصادي انکشافاتو په رڼا کې چې د اساسي قانون د تصویبیدو په نتیجه کې منځ ته راغلي دي، قضایي تعبیرونو او تفسیرونو ته پاملرنه کوي. پدې ساحه کې محکمې د آزادیو اصلي هسته چې زمونږ د سیاسي ټولنې د شکل د پاره یې اساسي بولي تعریف کړیده. قاضیان تل ددې هستې د محتوې په برخه کې په یو نظر نه وه، اما دوی په عمومي توګه ددې پروسې سره موافق وه او دا پروسه یې د اعتبار وړ بللې ده.

د کیسي په قضیه کې مرکزي نظریه، قاضیانو ساندرا ډې اوکانر، انتوني کینیدي او داوید ساوتر چې د اساسي قانون د جوړښت او پوهیدلو پدې پروسه کې شامل وو، څرګند کړ. دوی هڅه وکړه وپوهېږي چې د خلوت مخکني قضیې د کومو عمومي اصولو لاندې را ځي او وې ویل :

" زمونږ نیکه ګانو د کورنۍ ژوند خصوصي حوزې او قلمرو ته احترام درلود چې دولت نشي کولای هغه ته ور داخل شي. پدې مسایلو کې یو فرد ښایي د خپل ژوند ډیر محرمانه او خصوصي انتخاب کړی وي، داسې انتخاب چې د فردي کرامت او حرمت او فردي خپلواکۍ د پاره اساسي او مرکزي ګڼل کېږي، او دا د هغه آزادۍ مرکز او هسته جوړوي چې څورلسمه ضمیمه یې ساتنه کوي. " ددې مطابق د سقط

جنين تصميم دومره محرمانه او خصوصي دی چې دولت نشي کولای خپل نظر پر يوې حامله دارې ښځې تحميل کړي. اما آيا دا غير دموکراتيک ندی؟

له يوه نظره دا خبره درسته ده. د اساسي حقوقو موضوع هم همدا ده. د يوه موقتي اکثريت اراده، د يوې شيبې احساسات، يا په يو پارلمان کې رايه ورکول نشي کولای د اساسي قانون اساسي ضمانتونه له منځه يوسي. ددغو ضمانتونو د محتوې په ټاکلو کې، که څه هم محکمه دا آزادي نلري چې د شيبې هيجان او احساساتو ته پاملرنه ونه کړي، خو نظر يې پدې هکله چې کوم حقوق اساسي دي د زمان د غوښتنو او احساساتو په رڼا کې شکل مومي او ټاکي چې کوم حقوق اساسي دي. همدا مونږ دوهم ټکي ته بيايي. آيا اساسي قانون حقيقتا" يو قانون دی، او يا د سياست يو شکل دی چې په هغه کې قاضيان خپل شخصي ترجيحات او هيلې عملي کوي؟

دا مسله د کيسي په قضيه کې د قاضي هيري بليک مون په نظريه کې په روښانه توګه څرګنده شوه.

د يادونې وړ ده چې د رو په قضيه کې پدې هکله چې ايا پر دې موضوع د سره قضاوت وشي او يا له قضاوت خخه صرف نظر وشي، د قاضيانو تر منځ اختلاف راغلی وو. قاضي بليک مون چې د رو په قضيه کې د محکمې د نظريې ليکونکی وو، وروسته له هغه چې د قاضيانو د اکثريت او يو څو مخالفو قاضيانو جنجال ته يې اشاره وکړه په غير عادي توګه يې دغه څرګندونې وکړې :

" له يوه نظره د محکمې رويه د سترې محکمې د ريس او قاضي سکاليا د رويې سره مځکه تر آسمانه توپير لري. (د سترې محکمې ريس او قاضي سکاليا د کيسي په قضيه کې مخالف نظر درلود) خو بيا هم د يو بله نظره ددې دواړو رويو تر منځ فاصله لنډه ده. دا فاصله يواځې د يوې رايې ده. زه ۸۳ کلن يم، زه نشم کولای د تل د پاره په محکمه کې پاتې شم. نو کله چې زه استعفي وکړم، زما د خلف د ټاکل کيدو او تصديقيدو په جريان کې به ښايي پر همدې مسلې چې نن زمونږ مخې ته پرته ده بيا بحث وشي. دا چې زه تأسف کوم ښايي دا په دقيقه توګه هغه ځای وي چې ددې دوو نړيو تر منځ به انتخاب وشي. "

بليک مون حق درلود چې د قاضيانو د ټاکل کيدو او منل کيدوسياسي پروسې ته يې د اساسي قانون د جوړولو د يو اساسي عنصر په توګه اشاره وکړه، اما ده دا هم وويل چې د کيسي په مسله کې څه شی د پاملرنې وړ وو. ده وويل : " اشتباه مه کوئ، د قاضيانو اوکانر، کينيدي او ساوتر مشترکه نظريه د دوی د شخصي جرئت او شهامت او د اساسي قانون د اصل پر بنا يو عمل دی. د پخوانيو فيصلو پرخلاف چې په هغه کې قاضيانو اوکانر او کينيدي د رو او واد پر مسلې له سره غور وځنډاوه، د مشترکې نظريې ليکوالان نن د قاضي ستيونز او زما سره يو ځای شوي او دې نتيجې ته رسيدلي يو چې د رو او واد په قضيه کې اساسي فيصله بايد وساتل شي او يو وار بيا تاييد شي. "

ولې دا د شخصي جرئت او شهامت يو عمل وو؟ په ياد راوړئ چې دا درې قاضيان د محافظه کارو جمهوري غوښتونکو جمهورو ريسانو لخوا ټاکل شوي وه. (اوکانر او کينيدي د رونالد ريګن لخوا او ساوتر د بوش لخوا). محافظه کارانو د اوکانر او کينيدي د ټاکل کيدو څخه هرکلی وکړ او دا يې د ليبرال فعاليتونو څخه د محافظه کاره فعاليتونو پر لور يو لوی بدلون وباله. (د ساوتر د ټاکل کيدو په وخت کې

دده قضايي سياست معتدلو خلکو ته هيڅ معلوم نه وو). کينيدي يو رښتينې ديندارہ کاتوليک وو. خو درې واړه قاضيانو د سقط جنين د حقوقو څخه ملاتړ وکړ. دا نه پدې خاطر چې دا ددوی شخصي غوښتنه يا خوښه وه، بلکه لکه څرنګه چې بليک مون وويل، دا دوی د اساسي قانون د يو اصل په توګه ومانه او د هغه څخه يې ملاتړ وکړ.

ددې څخه څه نتيجه تر لاسه کېږي؟ روښانه ده چې د اساسي قانون په هکله تصميم نيول يواځې د شخصي ترجيحاتو او سياسي انتخاب مسله نده، بلکه په يقين سره د هغه يوه برخه ده. که څه هم دې درې قاضيانو د سقط جنين د قانون څخه ملاتړ وکړ، خو په نورو مسايلو کې د Warren Court په

دوره کې نسبت خپلو ليبرالو اسلافو ته ډير محافظه کاره وه. دا درې قاضيان د اساسي قانون متن يا د محکمې پخوانيو فيصلوته مقيد او محدود نه وه. دوی کولای شوای د اساسي قانون متن بل ډول ولولي او هغسې چې رينکويست او سکاليا وکړل، دوی هم فيصله وکړه چې د رو په قضيه کې غلطه پريکړه شويده. اما دوی فکر کاوه چې د اساسي قانون متن او پخواني پريکړو ته مقيد دي، ځکه دوی فکر کاوه چې د اساسي قانون درست تفسير کوي. دوی د خلوت په مسله کې په پخوانيو فيصلو کې د فردي آزادۍ يو مهم اصل وموند او دوی هغه Stare decisis يا د پخواني فيصلو څخه پيروي وبلله. ددې نظريې پر اساس بايد د قانوني صلاحيت څخه پيروي وشي، او د ښځو د انتخاب د حق څخه يې هغسې چې د رو په قضيه کې څرګنډ شوی وو ملاتړ وکړ.

٤

ستاسو ورځ په محکمه کې
د قانوني دعوې بهير

دعوې د قانوني سيستم هغه برخه ده چې تر ټولو لمړۍ د خلکو فکر ته راځي. په عامه توګه خلک وايي، په محکمه کې به سره وګورو، ددې څخه فدرالي دعوې مه جوړوه، زه به دا مسله تر سترې محکمې پورې ورسوم او نور. دعوې په عين زمان کې د قانوني سيستم يو معمايي او حيرانونکې برخه هم ده. په هغه دعوې کې چې د واشنګټن د عمومي بريښنا د سيستم د خرابوالي په اړه وشوه، د دعوې د وکيلانو د قانوني حق الزحمې اندازه د ۱۳ کلنو په اوږدو کې تر۳۰۰ ميليونو ډالرو لا زياته شوه، خو ددوې دعوې هيڅکله محکمې ته ورځندې نشوه. دا څنګه ده چې د دفاع وکيلان يوه موضوع چې ډيره ساده ښکاري قبلوي او بيا هغه ډيره مغلقه او پيچلې کوي.؟ آيا دا بايد همداسې وي؟ ددې پوښتنو ځواب په هغه مضمون کې پروت دی چې د حقوقو د محصيلينود شخصي تجربو سره ډير بيګانه دی او هغه ته د مدني محاکماتو اصول وايي.

د مدني محاکماتو اصول څه ته وايي؟

دعوې د خصوصي خواوو تر منځ د اختلاف او جنجال د حل دپاره د قانوني سيستم مکانيزم ته وايي. مدني طرزالعمل يا د مدني محاکماتو اصول د قانون هغې مجموعې ته ويل کېږي چې ددغه مکانيزم جوړښت يې منځ ته راوړی دی.

حق غوښتنه يا دعوې هغه وخت پيل کېږي چې د دوو يا ډير افرادو، شرکتونو او يا موسساتو تر منځ يو اختلاف يا جنجال منځ ته راشي.هر ډول جنجال دعوې منځ ته راوړلای شي. د موټر ټکر، د قرارداد ماتول، د يو مستخدم لخوا د جنسي تجاوز ادعا، د حکومت پر ضد د مدني حقوقو ادعا او نور. که د

جنجال او مناقشې خواوې ونشي کولاي خپل جنجال پخپله حل کړي، دوی کولای شي د ځان د پاره د دفاع وکیلان وټاکي او یو د بل سره خبرې او مذاکره وکړي، یو بل تهدید کړي او یا د یوې بلې لارې خپل جنجال حل کاندي. او که پدې هم ونشوه، بیا نو محکمې ته مراجعه کېږي.

په پخوا وختونو کې، د انګلستان باچا محکمه دایروله. دی به په یو لوی عامه میدان یا یو لوی انګړ کې کښیناسته او د خپلو نورو سلطنتي کارونو د اجرا سربیره به یې عدالت هم کاوه. جان دو د باچا یو رعیت به راغی او شکایت به یې وکړ چې دده ګاونډي ریچارد رو دده غویي ژوبل کړیدي او اوس دده غویي ګوډ شوي دي. باچا به رو خپل حضورته وباله او د دواړو خواوو خبرې او ادعاوې به یې واوریدې او بیا به یې فیصله وکړه چې رو باید غویي ته دزیان د رسولو په خاطر تاوان ورکړي. (روRoe او دوDoe د احمد او محمود په شان دوه عنعنوي نومونه دي چې د ناپیژندل شوو دعوې کوونکو د پاره استعمالېږي. د سقط جنین په مشهوره قضیه کې چې د رو او واد تر منځ وه، دعوې کوونکې جین رو د ځان د پاره همدا نوم و ټاکه تر څو خپل حقیقي هویت پټ وساتي). دوخت په تیریدو څرنګه چې باچا مجبوره وو سلطنتي اعلامیې او فرمانونه خپاره کړي، پر خپلو قدرت طلبه اشرافي کسانو څارنه وکړي، جګړې وکړي او نور داسې کارونه سرته ورسوي چې باچا یې کوي، دده مصروفیت ډیر زیاد او پراخ شو او ددې وخت یې نه درلود چې د خپل هر رعیت ځانګړي جنجال ته رسیدګي وکړي، نو د عدالت کولو دا صلاحیت او وکالت یې خپل سلطنتي چارواکو ته محول کړ. د زمانې په تیریدو سره همدې چارواکو خپلو وظایفو ته موسساتي شکل ورکړ اوپه قاضیانو بدل شول او په محا کمو کې به یې دعواوې فیصله کولې.

دا لنډه کیسه مورِ ته د دعوې په هکله تقریبا" ټول هغه شیان وایي چې مورِ یې پوهیدلو ته اړتیا لرو.

دعوې د دولت لخوا د یو جنجال د با صلاحیته حل پروسې ته وایي. هغه کسان چې د یو جنجال سره مخامخ وي خپل دلایل هغو چارواکو ته وړاندې کوي چې د دولت لخوا دوی ته واک ورکړل شوی چې ددوی دلایلو ته غوږ ونیسي او ددوی جنجال حل کړي. ددې کیسې د جزییاتو او مفهوم په تشریح کولو سره به مورِ د مدني محاکماتو په اصولو او د دعوې پر پروسه ښه وپوهېږو.

لمړی، دو ضرورت نلري محکمې ته مراجعه وکړي او اکثره وخت د دو په شان، خلک هم محکمې ته مراجعه نه کوي. ښایي غویي هم ډیر نه وي ژوبل شوی او دو هم و نه غواړي چې خلک پر ده باندي د دعوي جلب خیال وکړي، لهذا پریکړه کوي چې تر ټولو تیرشي. او یا دی د رو سره خبرې کوي او داسې موافقې ته رسېږي چې هرکله کولاي شي د اړتیا په وخت کې د دو د غویي څخه استفاده وکړي. یا ښایي دی وغواړي دعوي وکړي خو نشي کولاي د خپلې کروندې څخه لیرې پاته شي او د باچا دربار ته ولاړ شي.

حتې نن هم دعواوي ډیرې لږي دي. خلکو ته په ورځني ژوند کې ډیر تاوانونه رسېږي یا د بې حرمتۍ سره مخامخ کېږي، خو ډیر لږ کسان محکمې ته مراجعه کوي. دعوې کول ډیر لګښت لري، ډیر وخت په بر کې نیسي او په احساساتي لحاظ یوه ډیره ستومانه کوونکې پروسه ده او یواځې هغه مسایل محکمې ته په وړاندې کولو ارزي چې حقیقتا" ډیر اهمیت ولري او په ټولنیز او مالي لحاظ ډیر مهم وي. هغه حقوقي

دعواوې چې پدې فصل کې او یا د کتاب په نورو برخو کې ورباندې بحث کېږي د ټولنیزو پرابلمونو یوه ډیره لږه برخه جوړوي چې د دعوې بهیر کولای شي هغه ته رسیدګي وکړي.

دوهم، د دعوې کولو پروسه په هغه هیوادونو کې چې د انکلیسي قانون تر اغیز لاندې دي د متحده ایالاتو په شمول یو متخاصمه پروسه ده. مخالفې خواوي پر دې پروسې څارنه او کنترول لري. دو پریکړه کوي چې خپله دعوي د باچا مخې ته د قضاوت د پاره وړاندې کړي او پوهېږي چې هلته څه ووایي. رو هم دا امکان لري چې خپل حقایق او دلایل وړاندې کړي. د باچا وظیفه داده چې د دواړو متخاصمو خواوو دلایلو ته غوږ ونیسي او فیصله وکړي.

نن دا سیستم ډیر پیچلی دی، اما بیا هم اساسا" متخاصم دی. مدني دعوې د دوو خواوو تر منځ یوه مباحثه او مشاجره ده او د دوو خواوو د وکیلانو اساسي رول پدې کې دی چې دعوې ته شکل ورکړي. قانوني وکیلان پریکړه کوي چې د چا په مقابل کې، چیرته او کله دعوې وکړي، کوم قانوني مسایل راسربیره کړي، د حقایقو په هکله څنګه تحقیقات وکړي او کوم اسناد او شواهد وړاندې کړي. قا

ضي یو حکم یا منصف دی او څارنه کوي چې قانوني وکیلان د لوبې مقرراتو ته پاملرنه ولري او په پای کې پر قضیې فیصله کوي او یا هم په قضیه کې د منصفه هییت پر تصمیم څارنه کوي. اما په عمل کې د متخاصم سیستم یو خالص شکل یا نمونه نده لیدل شوې. په خاصه توګه په وروستیو کلنو کې چې د دعواوو شمیر ډیر شوی او په محکمو کې ازدحام ډیر شویدی، قاضیان دې ته ډېر رغبت ښیي چې د عواوي د دعوې کوونکو په مخ کې مطرح شي، ددوی تضادونه سره رانژدې کړي اود جنجال حل تشویق کړي او په عامه توګه دا بهیر مخ په وړاندې بوځي.

دریم، په دعوې کې تل د حقایقو مینډل او پیدا کول او د قانوني سیاستونو د تطبیق مسله شامله وي. کله چې باچا د دو خبرې اوري چې وایي رو دده غویې ژوبل کړیدی، دا د کیسې پای ندی. رو په ځواب کې وایي چې ده د دو څخه دده غویې په پور واخیست خو داسې ښکاره شوه چې غویې یو لږ ګوډ وو، که څه هم د غویې ژوبله هغه وخت چې د رو په کرونده کې یې پښه په یو غار کې بنده شوه، ښایي نوره هم ډیره شوي وي. باچا باید پریکړه وکړي چې دا غویې څه وخت ګوډ شوی او که رو پدې کې یو رول لوبولی وي، نو بیا مسله داده چې آیا یو څوک چې د بل چا څخه غویې په پور اخلي د غویې د تصادفي ژوبلیدو مسوولیت هم په غاړه لري او که نه. همدا مسله د نن ورځې په هره دعوې کې هم صدق لري.

څلورم، مدني دعوې د دولت لخوا د جنجالونو د حل یوائنۍ لاره نده. که رو د دو غویې په پور واخلي او بیا یې هیڅ بیرته ور ونه سپاري، نو دو به د باچا څخه وغواړي پر رو فشار راوړي غویې بیرته وسپاري او یا یې قیمت ورکړي. مونږ به فکر وکړو چې دا یو مدني عمل دی. اما کله چې پاچا دا خبره واوري ښایي په مسله کې پخپله اقدام وکړي او رو بندیخانې ته ولېږي، دا به یو جنایي اقدام وي. د دوو نفرو ترمنځ په جنجال کې که د دولت یوائنۍ رول دا وي چې د جنجال د حل د پاره سیستم (محکمې) وړاندې کړي، دا مدني دعوې ده. په مدني قضیو کې د حل مشخصې لارې دادي چې د مالي تاوان په هکله قضاوت کېږي او یا د یو کار دکولو دستور ورکول کېږي (لکه د غویي بیرته ورکول). کله چې

دولت یو عمل تر تعقیب لاندې نیسي او د مجرم د پاره نقدي جریمه، بند او یا د اعدام سزا ټاکي، دا جنایي دعوې ده.

او بالاخره کله چې انګلیس باچا په ځانګړې توګه محکمه دایروله او پخپله یې د رعیت جنجالونه حل او فصل کول، هغه وخت د مقرراتو د پاره چې څوک شکایت کولای شي او یا کومې پروسې ته باید پاملرنه وشي، ډیره اړتیا نه لیدل کیده. باچا پخپله د عدالت لوړ ترین مظهر او په عمل کې د صلاحیت تر ټولو لوړه مرجع وه. که د باچا رعیت د کوم جنجال سره مخامخ کیدل، دوی به باچا ته تلل او خپل عرض به یې هغه ته کاوه. کله چې محکمې په موسساتي توګه منځ ته راغلې، مسایل پیچیلي شول. نن به محکمې له پښو ولوېږي که هر سړی محکمې ته ولاړ شي او خپل عرض او شکایت ورته وړاندې کړي. ددې وضعیت د کنترول د پاره پارلمانونو او محکمو د دعوې کولو د بهیر د پاره یو لړ مقررات وضع کړیدي. ددغو مقرراتو مجموعې ته د مدني طرزالعمل قانون یا د مدني محاکماتو اصول وایي چې د مدني دعوي د پروسه هر ګام له سرڅخه تر پایه پوري تنظیموي.

د مدني طرزالعمل زده کړه د حقوقو د محصیلینو د پاره یو ډیر سخت مضمون دی، ځکه چې دا ددوی د پاره ډیر پردی او بیګانه دی. هر سړی د وعدو، ټکرونو او ملکیتونو په باره کې یو څه پوهېږي نو دوی د قرارداد د قانون، د وړو جرمونو د قانون او یا د ملکیت د قانون په اساساتو پوهیدلای شي. اما د مدني محاکماتو اصول یا مدني طرزالعمل یواځې په ځانګړې توګه د حقوقي وکیلانو قانون دی. پدې فصل کې هڅه کېږي چې د مدني طرزالعمل پردی او بیګانه مجموعه د دعوي د مقرراتو اوسیستم د اهدافو او ارزښتونو په چوکات کې شرح کړو. دلته یو پراخ تصویر وجود لري چې په هغه کې اساسي ارزښتونه شامل دي او مونږ غواړو چې سیستمونه د هغه په خدمت کې وي. که تاسو دا پراخ تصویر چې د رو او دو پدې ساده خیالي دعوې کې منځ ته راځي په خپل ذهن کې وساتئ، جزییات به یې په آسانه د هضم وړ وي.

ولې مونږ مدني دعوې او مدني طرزالعمل ته اړتیا لرو؟

په ورځپاڼو، په راډیویي بحثونو او په سیاسي مبارزاتو کې شکایتونه کېږي چې ډیره دعوې کېږي، او ډیر قانوني وکیلان وجود لري. پر هر چا په هره موضوع کې دعوې کېږي. او له دې پرته چې تاسې دعوې ګټې یا یې بایلی، دا ستاسو د پاره په مالي لحاظ ډیر ګران تمامېږي. ددې شکایتونو زیاته برخه د یو مهم قانون په هکله ده اونه د مدني طرزالعمل اویا د دعوې د سیستم په برخه کې. ځیړونکي اندیښنه لري چې د شبه جرم قانون د مثال په توګه له کنټروله وتلې دی. خو د تنقیدونو زیاته برخه د محاکماتو د اصولو، دفاع وکیلانو او قاضیانو په برخه کې ده چې دا اصول تطبیقوي. دا ډیر ربړونکې او په مالي لحاظ ډیر ګران بهیر ګنړل کېږي چې ډیر وخت ضایع کوي. آیا دا باید همدا شان وي؟

بیرته به ددې بحث پیل ته ولاړ شو : پرابلمونه د خلکو تر منځ منځ ته راځي ؛ اکثره دا پرابلمونه پخپله له منځه ځي، او ځینې یې د خبرو، اقتصادي فشار، یا په نورو غیر رسمي لارو حل کېږي. خو ځینې

پرابلمونه پاته کېږي چې د جنجال خواوې يې پخپله نشي حل کولای. د دعوې پروسه ددغسې جنجالونو د حلیدو د پاره یو میکانیزم وړاندې کوي. تصور وکړئ چې په ځینو فرعي کلتورونو subcultures کې چې په هغه کې د دعوې سیستم نشته څه پیښېږي. د مثال په توګه د مخدره موادو د تاجرانو ترمنځ د جنجال او حقوقي غوښتنو مسله اکثرا" له موټرونو څخه د ټوپک د ډزو له لارې حل وفصل کېږي. اما د خشونت او زور زیاتې پرته د نا حل شوو جنجالونو موجودیت د ټولنیز نظم او سوکالۍ پر احساس ناوړه اغیز لري. په یوه منصفانه، منظمې او داسې یوې ټولنې کې چې په هغه کې هر څه په اغیزمنه توګه کار کوي، پرابلمونه په آسانه حل کېږي او بې عدالتي اصلاح کېږي. اما مونږ ددې جنجالونو د حل د پاره د دعوې یو پیچیلي او متخاصم سیستمadversarial litigation system ته اړتیا نلروګ مونږ کولای شو یو ډیر ارزانه او ساده طرزالعمل غوره کړو ـ یو قاضي به صرفا" یوه پیسه د شیرو خط په توګه هوا ته وغورځوي او هغه به فیصله کړي چې څوک یې ګټي ـ او یا تر دې هم ساده ـ د کمپیوتري غرفو منځ ته راوړل چې پخپله فیصلې را وباسي ـ محکمې او پولیس به یواځې دغه پریکړې چې د طالع له مخې کېږي تطبیق کړي. دا سیستم به ډیر زیات پرابلمونه په ډیره ارزانه بیه او لګښت حل کړي. اما یو قضایي سیستم چې پر چانس او طالع بنا وي د انصاف په هکله زمونږ د دوو اساسي عقیدو سره تناقض لري. محکمې باید خپلې فیصلې د مهمو قوانینو پر اساس چې منصفانه وي وکړي اودا فیصله باید د منصفانه دعوې د بهیر وروسته وشي.

بیا نو د مدني محاکمې د طرزالعمل لمړۍ وظیفه داده چې د قانون مهم مقررات او دهغه مربوط ارزښتونه او اهداف چې قانون د هغه پر بنا منځ ته راغلي دی تطبیق کړي. کله چې یو پارلمان یا محکمه د قانون یوه مقرره اعلانوي، دا مقرره ددې فضیلیت له مخې چې قانون دی قوت مومي. خلک قانون ته احترام کوي او معمولا" د هغه اطاعت کوي بیله دې چې دا ګواښ وجود ولري چې د قانون د احترام نه کولو په خاطر به سزا ووینې. اما مرافعه یا دعوې هم هغو قضیو ته د ملاتړ یو مکانیزم وړاندې کوي چې په هغه کې ځینې خلک د قانون د غوښتنو مطابق رفتار نه کوي او هم داسې یوه زمینه برابروي چې په هغه کې هغه ارزښتونه او سیاستونه چې قانون د هغو له مخې منځ ته راغلي دی افاده شي، تقویه شي او پداسې توګه تنظیم شي چې په نوي حالاتو کې ورڅخه استفاده کول ممکن شي. که څه هم د محاکمې هیڅ سیستم پدې برخه کې مکمل ندی، خو په یو منصفانه سیستم کې به د خطا کولو او اشتباه امکان هغه وخت ډیر لږ شي چې د تصمیم نیولو د بهیر په لاره کې موانع او خنډونه لیرې کړل شي.

د مدني محاکمې طرزالعمل یوه بله وظیفه هم لري. مونږ د جنجالونو د حل یو سیستم چې په چانس او طالع او یا پر فساد بنا وي یو تیرې بولو ځکه دا زمونږ د هغې پوهې او انتظار چې د منصفانه دعوې څخه یې لرو پر ضد ده. علاوه پردې دا غیر محتمل دی چې دا ډول طرزالعمل به د قانون د عادلانه اصولو مطابق نتیجه منځ ته راوړي. مدني طرزالعمل د دعوې په پروسه کې یو خپلواک ارزښت لري چې زمونږ د انصاف د مفکوري سره مطابقت لري. د دعوي منصفانه سیستم زمونږ هغه عامه عقیده چې پر قانوني عدالت یې لرو تاییدوي او پیاوړی کوي. همدا شان د هر ځانګړي دعوې کوونکي او دده په شان د نورو

حرمت او احترام تاييدوي. مرافعه يا دعوې د انتخاباتي سياستونو په شان، يوه ساحه ده چې په هغه کې افراد خپل ارزښتونه او د خپلو ګټو اهميت څرګندولای شي. په محکمه کې ورځ تيرول يوه ښه امريکايي عنعنه ده. د مدني طرزالعمل رول پدې کې دی چې په محکمه کې ورځ تيرول ګټوره او د معني ډکه وي.

د متخاصم سيستم لاندې چې په متحده ايالاتو کې يې وده کړيده، منصفانه دعوې څو اساسي برخې لري. د دعوې خواوې بايد ددې چانس او فرصت ولري چې په مناسبه توګه د حقايقو او قانون څخه د خپلې قضيې په ګټه استفاده وکړي او خپل مهم اسناد او حقايق او قانوني دلايل تصميم نيوونکي ته وړاندې کړي. په خاصو قضيو کې د دعوې خواوو ته حق ورکړل شي چې منصفه هييت د قضيې حقايق وټاکي. منصفه هييت او قاضي بايد دواړه د دعوي د خواوو په وړاندې بيطرفه وي او بايد ددواړو خواوو شواهدو او دلايلو ته غوږ ونيسي او بايد پر قضيې باندي د هغو دلايلو او شواهدو پر بنا چې وړاندې شوي دي فيصله وکړي. د دعوې خواوي بايد ددې امکان ولري چې که د محکمې فيصله درسته و نه بولي او په هغه کې خطا يا اشتباه وي، پر حکم باندې د سره غور په مقصد لوړې محکمې يعني د مرافعې محکمې ته مراجعه وکړي تر څو دا خطا يا اشتباه اصلاح کړي. وروسته له هغه چې پر قضيې له سره غور وشو د مرافعې محکمې حکم بايد نهايي وي تر څو د دعوې خواووې پر عين موضوع باندې د بيا او بيا دعوې کولو سره مخامخ نشي.

او بالاخره مدني طرز العمل يوه دريمه وطيفه هم لري. مدني طرزالعمل ددې د پاره چې منصفانه وي بايد اغيزمن وي. ډير زيات منصفانه دعوي د نورو ښو شيانو په شان ګټور ندی. که دعوې کوونکو ته لايتناهي امکان ورکړل شي چې خپلې قضيې محکمې ته وړاندې کړي، ددعوي کول به يو غير قابل تحمل، د زحمته ډک، په مالي لحاظ ډير ګران کار وي او ډير وخت به په ضايع شي.

علاوه پردې د دعوې کولو سيستم يوه ټولنيزه منبع ده چې دولت يې خپل هر ځانګړي تبعه ته وړاندې کوي. د دعوې يوه منصفانه اواغيزمنه پروسه په مجموع کې د افرادو او ټولنې ډيره په ګټه ده چې انکار نشي ورځخه کيدلای. اما مونږ د څومره عدالت د تامينولو توان او استطاعت لرو؟

ددې مطابق د دعوي د طرزالعمل مقررات بايد د يوې ښې دعوې ګټې د هغه د لګښت د باراو ځند سره انډول کړي.

محکمې ته قضيې له کومه ځايه راځي؟

راشئ يوه قضيه به راواخلو او هغه به د دعوې په جريان کې تعقيب کړو. دعوې دومره بيلا بيل شکلونه لري چې هيڅ يوه ته يې يوه خاصه دعوې نشو ويلای. خو ددې دعوې حقايق ډير عادي دي. (اما نتيجه لاس ته را نه غله او هغسې چې وروسته به يې وويتو دا دعوې د متحده ايالاتو سترې محکمې ته وړاندې شوه).

هیري او کې رابنسن د خپلو دوو ماشومانو سره چې ایوا او جورج نومیدل په ۱۹۷۷ کال کې د نیویاک ځخه په اریزونا ایالت کې خپل نوي کورته کډه وکړه. کله چې دوی په خپل یو کلن زوړ آودي ۱۰۰ ال اس موټر کې پر ځلور ځلویښتمه لویه لاره باندې د اوکلا هوما ځخه مخ په اریزونا روان وه، یو بل موټر فورد تورینو چې موټروان یې نشه وو او د رفتار سرعت یې د ۹۰ او سلو میلو په منځ کې وو، د رابنسن موټر د شا لخوا وواهه. ددې ټکر په نتیجه کې د آودي موټر د شا برخه پر مځکه ولویده، دروازې بندې پاته شوې او د موټر د تیلو ټانک سوری شو. د رابنسن موټر اورواخیست او کې رابنس او دهغې دوه ماشومان ډیر سخت وسوځیدل.

دابه ښایي یو لږ حیرانوونکي وي چې رابنسن پر نشه موټروان چې ددوی موټر یې وهلی وو دعوې ونکړه بلکه ده د جرمني د آوډي پر شرکت چې دا موټر یې جوړ کړي وو، د امریکا پر فولکس واګون شرکت چې آوډي موټران د جرمني ځخه واردوي، د بحري لارې فولکس واګون پر شرکت، په نیویارک کې پر هغه دلال چې ده موټر ورځخه رانیولی وو، او په ټوله نړۍ کې د فولکس واګون پر شرکت چې د فولکس واګون موټرانو سیمه ایز نماینده دی او دا موټر یې د بحري لارې پر شرکت خرڅ کړی وو دعوې وکړه. په پیښو کې دا ډول بدلونونه زمونږ سره مرسته کوي چې وپوهېږو جنجالونه څرنګه خپله لاره د محکمې سیستم ته مومي.

د دعوې په کولو کې لمړني ګامونه دادي چې د یو پرابلم موجودیت تشخیص شي او دا چې دا پرابلم

په بالقوه توګه د قانوني لارې خپل حل میندلای شي. دنشه موټروان په مقابل کې د رابنسن د بالقوه دعوې په مسله کې، ددې ګامونو اخیستل آسانه دی. په پیښه کې د رابنسن میرمن او ماشومان سخت ټپیان شول. دوی هم، هغسې چې موږ پوهېږو، پوهیدل چې که یو څوک د یو بل چا د بې احتیاطه موټروانۍ له کبله ټپي شي، د هغه د پاره قانوني علاج شته.

د آوډي د دفاع کوونکو پر ضد د رابنسن دعوې ډیره روښانه نده. دا د وضعیت او قانون یو اندازه زیاتې پوهې ته اړتیا لري تر څو وپوهېږو چې ښایي د موټر د جوړونکي او موټر خرڅونکي پر ضد پدې خاطر دعوې وشي چې یو خراب محصول یې چې ددوی ټپونه یې نور هم ژور کړیدي وړاندې کړیدی. ښایي دا مسله هغه وخت رابرسیره شوي وي چې دوی د یو دفاع وکیل سره چې د موټر د ټکر په دعواوو کې یې ډیره تجربه درلوده مشوره وکړه.

دلته یو ډیر عمومي ټکۍ شته او هغسې چې پروفیسور مارک ګالانتر چې د دعوې د طرزالعمل یو د لویو او مشهورو عالمانو ځخه دی ویلي دي، پدې نړۍ کې د پیښو، مخالفتونو، ټکرونو، رقابتونو، مایوسیو، ناآرامیو او زخمي کیدلو دیو لوی سیند سره مخامخ یو، خو یواځې هغه وخت یوه پیښه په بالقوه توګه محکمې ته لاره مومي چې د پیښې قرباني د قانوني حل امکان تشخیص کړي او هغه وپیژني.

کله چې یو قرباني پدې پوه شو چې په بالقوه توګه قانوني جنجال وجود لري، دا لمړۍ ګام دی. او مخکې لدې چې د جنجال د حل د پاره بله لاره غوره کړي یا د خپلې غوښتنې ځخه په بشړه توګه صرف نظر وکړي، قانوني دعوې باید د هغه د لوړ خرڅ او د وخت د ضایع کولو ارزښت ولري.

د رابنسن په قضيه کې د نشه موټر چلوونکي پر ضد دعوې ښايي ډيره جالبه نه وه، ځکه موټر چلوونکي په غالب ګمان ډيره لږه بيمه يا يې هيڅ بيمه نه درلوده او نه يې هم کافي پيسې درلودې چې د محکمې خرڅ تاديه کړي. خلک صرفا" ددې دپاره چې ځان حق په جانب وښيي دعوې نه کوي او تر څو چې په هغه کې په بالقوه توګه خپله ګټه و نه ويني، دوی به خپل وخت ضايع نه کړي او نه به هم دوی داسې يو د دفاع وکيل پيدا کړي چې هغه ځان دې دعوې ته وقف کړي.

حتې که د دعوې د ګټلو بالقوه چانس هم وي، د جنجال د حل نورې لارې ښايي ښه وبلل شي. مخصوصا" که د موټر ټکر ډير لوی نه وي، ټپي شوي کسان به دا مسله د خپلې بيمې يا د موټر چلوونکي د بيمې د شرکت سره حل او فصل کړي، او په محکمه کې به دعوې ونکړي. حتې که د اقدام د پاره قوي دلايل هم وجود ولري او دا چانس ډير قوي وي چې د يو رسيدلي تاوان د پاره د محکمې په حکم پيسې تر لاسه کېږي، د کور خاوندان د خپلو ګاونډيانو پر ضد او شرکتونه د خپل تجارتي شريکانو پر ضد د دعوې کولو څخه ډډه کوي. هغه بد احساس چې ددې کار په نتيجه کې منځ ته را ځي په هغو څو ډالرو نه ارزي چې دوی به يې د محکمې د فيصلې په نتيجه کې تر لاسه کړي.

د دعوې کولو د تصميم يو مهم عنصر د قرباني په دې توانمندی کې دی چې وشي کولای د خپلې

دعوې د پرمخ بيولو د پاره يو د دفاع وکيل ومومي. وکيلانو ته بايد د دعوې خواوې په يو ډول نه په يو ډول پيسې ورکړي. د رابنسن په شان د ټپي کيدو په جدي حالاتو کې، حتي دداسې قربانيانو د پاره چې لږې پيسې لري هم ډير ښه او مشهوره وکيلان حاضر دي ددوی دعوې پر مخ بوزي، ځکه دا وکيلان په عامه توګه د تاوان يوه برخه د حق الزحمې په توګه تر لاسه کوي يعنې د تاوان د پيسو څخه يوه فيصدي د حق الزحمې په توګه اخلي. په نورو قضيو کې اکثره ادعاوې محکمې ته نه وړاندې کېږي، ځکه هغه پيسې چې د محکمې د حکم په نتيجه کې لاس ته راځي د دفاع د وکيل د پاره ډيرې لږې وي او مدعي پخپله نشي کولای په مستقيمه توګه ده ته حق الزحمه ورکړي.

د مدني دعوو په يوه پراخه څېړنه کې هڅه وشوه د بالقوه قضيو د تشخص دپاره ځينې ارقام لاس ته راوړل شي. دا ارقام د دعوو د شکل او هغو خلکو له مخې چې پدې دعواوو کې شامل وه ډير يو له بله فرق درلود، خو دايې عامې نتيجې دي. په لمړي سر کې د هر ډول څخه لس زره خرابې تجربې شوي دي، يعني دا دعاوې د ګاونډي د پياده رو پر يخ د ښويدلو او د ډوډۍ د تودولود ماشين يا toaster د خرابۍ څخه نيولې تر دې پورې چې د کور خاوند کرايه والا ته کافي تودې اوبه ندي تهيه کړي مسايل به بر کې نيسي. په زرو پيښو کې زيانمن شوي کسانو ځانونه د بل چا د اشتباه قربانيان بللي (يعني د ګاونډيو، د توستر د شرکت او د کور د خاوند). ددې ډلې څخه ۷۰۰ پخپله مدعي عليه ته د خپل پرابلم په هکله شکايت کوي او درې سوه نور يې ددې جنجال څخه به پشېړه توګه صرف نظر کوي. مدعي عليه په ٤٥٠ قضيو کې ادعا ردوي او قربانيان په سلو قضيو کې د دعوي وکيلانو ته مراجعه کوي. د دعوې وکيلان يواځې په پنځوسو قضيو کې په محکمه کې د دعوي اقامه کوي. د دعوې خواوي د ۲۵ تر ۳۰ قضيو د حل په هکله تفاهم ته رسېږي او محکمه د پاتو قضيو زياته برخه ردوي او ښايي دوه يا درې او په اعظمي

صورت کې ٤ یا پنځه قضیې په محکمه کې مطرح شي چې ددې نیمایي د منصفه هییت حکم ته وړاندې کېږي.

د رابنسن قضیه ددې ټولو فلټرونو څخه ووته. دوی یو د دعوي وکیل وموند چې ددوې دعوې په محکمه کې پر مخ بوزي او دې وکیل ټول قانوني نظریات ارزیابي کړل او وپوهید چې که د مدعي علیه مسوولیت ثابت او د محکمې لخوا محکوم شي، د پیسو د ورکولو توان لري. ښایي دا حقیقت هم دې وکیل پیدا کړی وي ، هغه موټر چلوونکی چې د رابنسن موټر یې وواهه هیڅ پیسې یا شخصي سرمایه نلري چې رابنسن ته تاوان ورکړي او همدې وکیل ښایي د آوډي د شرکت سره تماس نیولی وي او کله چې د آوډي شرکت حاضر نشو چې د یو مناسب مبلغ د ورکولو له لارې دا جنجال کړي، وکیل به فکر کړي وي چې اوس د دعوې کولو ښه وخت دی.

قانوني دعوې په کوم ځاي کې اقامه کیدلای شي.؟

کله چې د دعوې وکیل د دعوې د اقامه کولو پریکړه وکړي دوه ډوله ملاحظات په پام کې نیول کېږي. لمړی قانوني مسله ده : کومې محکمې ددې قضیې د اوریدو صلاحیت لري؟ دوهم یوه تکتیکي مسله ده : د دعوې د اقامې د پاره کومه محکمه ډیره په ګټه ده؟ مونږ به دا مسلې په راتلونکو برخو کې تر بحث لاندې ونیسو.

د مدني طرزالعمل قانون د قضاوت د حق او صلاحیت په اړه د لمړي مسلې چوکات ټاکي. د قضاوت کولو حق یا Jurisdiction د لاتین څخه ترجمه شوی او د قانون په ژبه د خبرې کولو معنې لري. هر څوک کولاي شي د قانون په ژبه خبرې وکړي، خو یواځې محکمه د قضاوت کولو حق لري او په صلاحیت سره د قانون په ژبه خبرې کوي. که یوه محکمه پر یوې قضیې یا د دعوې پر خواوو د قضاوت کولو حق یا قانوني صلاحیت ونلري، دا محکمه د قانون مطابق ددې قضیې د اوریدو حق نلري او هره فیصله چې وکړي اعتبار نلري او د دعوي د خواوو د پاره مکلفیت منځ ته نه راوړي.

ددې پاره چې پر یوې موضوع قانوني حکم وشي محکمه باید د دعوې پر موضوع او خواوو باندي د قضاوت کولو صلاحیت ولري. پر موضوع د قضاوت کولو حق محکمې ته صلاحیت ورکوي پرهغې مسلې غور وکړي چې ورته وړاندې شویده او پر شخص د قضاوت کولو حق د محکمې هغه قانوني صلاحیت دی چې د جنجال پر خواوو باندې حکم کولاي شي. لهذا نو داسې یوه محکمه چې د رابنسن مسلې ته غوږ ونیسي هغه باید د زیان رسیدلو پر ادعاګانو باندي لکه د موټرانوپه ټکرکې چې یو چاته رسېږي د قضاوت صلاحیت ولري. (د دعوې پر موضوع د قضاوت صلاحیت). همدا شان باید دا محکمه صلاحیت ولري چې مدعي علیه چې د دعوې د پاره په محکمه کې حاضرکړي او هغه که رابنسن دعوې وګټي باید د تاوان جبران وکړي او رابسن ته پیسې ورکړي (پر شخص د قضاوت کولو حق).

درې ایالته د ټکر او د دعوي د خواوو سره منطقي اړیکې لري چې څرګندوي دعوې باید په یو ددغو ایالاتو کې اقامه شي. ټکر د اوکلاهوما په ایالت کې پیښ شو. رابنسن خپل آوډي موټر په نیویارک کې د بحري لارې فولکس واګون د شرکت څخه چې مدعي علیه دی رانیولې وو. د ټکر په وخت کې د رابنس کورنۍ لا هم د نیویارک قانوني اوسیدونکې وه. او دوی د اریزونا ایالت پر لور په کوم کې چې دوی غوښتل په قانوني توګه هستوګنه وکړي روان وه. لهذا دوی په منطقي توګه کولای شواي خپله دعوې د اوکلاهوما، نیویارک او یا د اریزونا محکمې ته وړاندې کړي.

(مونږ به خپل تحلیل د امریکا په محکمو کې محدود وساتو. دا هم البته ممکن اما غیر محتمل دی چې دوی په جرمني کې چې د آوډي شرکت هلته دی، خپله دعوې پر مخ بوزي).

هر ایالت یو لړ محکمې لري چې د عمومي قضاوت د محکمو په نامه یادېږي او د اکثرو مدني قضیو د حل او فصل صلاحیت لري. پدې کې د تاوان رسولو، د قرار داد د نقض او د ملکیت په هکله دعواوې فیصله کېږي. دا ابتداییه محکمې دي چې د ایالت زیاتو قضایي جنجالونو ته رسیدګي کوي. عموما" پر موضوع باندې د عمومي قضاوت د محکمو د قضاوت کولو صلاحیت محدود ندی. د ایالت د اساسي قانون مادې او مقررات چې دې محکمو ته صلاحیت ورکوي، په عامه ژبه افاده شوي دي او دوی ته په ټولو مدني، د وصیت او میراث او په جنایي مسلو کې د قضاوت کولو صلاحیت ورکوي، مګر داچه قانون لکه د کولرادو په اساسي قانون کې چې راغلي دی، بل ډول حکم وکړي. د عنعنې له مخې د عمومي قضاوت محکمې په بیلا بیلو ایالاتو کې بیلا بیل نومونه لري. په اریزونا کې د لوړې یا عالي محکمې څخه مقصد همدا د عمومي قضاوت ابتداییه محکمې دي ؛ په اوکلاهوما کې هغه ته د ولسوالۍ محکمه وایي او ډیر عجیبه داده چې په نیویارک کې د عمومي قضاوت محکمو ته ستره محکمه ویل کېږي (په نیویارک کې د ایالت تر ټولو لوړې محکمې ته چې په نورو ایالاتو کې ستره محکمه بلل کېږي د استیناف محکمهcourt of appeals وایي). هر ایالت د محدود قضاوت محکمې هم لري لکه د کورنیو مسلو محکمه چې د هغه د قضاوت کولو موضوع د طلاق او د ماشوم د قیمومیت مسلې ته محدوده ده، د میراث محکمه چې د هغه د قضاوت کولو صلاحیت یواځې د میراث مسلو ته محدوده ده او د کوچنیانو ادعاګانو محکمه چې د هغه د قضاوت صلاحیت د ډیرو کوچنیانو قضیو په برخه کې دی چې ارزش یې لږو ډالرو ته رسېږي.

رابنسن هم باید په داسې یوه محکمه کې خپله دعوې اقامه کړي چې پر بالقوه مدعي علیه باندې د قضاوت کولو صلاحیت ولري (یعني پر شخص د قضاوت کولو صلاحیت). په اکثرو قضیو کې پر شخص قضاوت کول آسانه دی. تصور وکړئ چې رابنسن وغواړي د فورد موټر پرچلوونکي چې ددوی موټر یې وواهه دعوې وکړي. دوی یقینا" چې دا کار په اوکلاهوما کې کولای شي، ځکه دا هغه ایالت دی چې ټکر په کې واقع شوي دي. څرنګه چې د تاوان رسونې پیښه په یو ایالت کې شویده دا پخپله د قضاوت کولو د پاره اساس جوړوي. که د فورد موټر چلوونکی په تکساس کې ژوند وکړي، رابنسن کولای شي دی هلته محکمې ته رابولي، ځکه یو نفر تل په هغه ایالت کې محکمې را بلل کیدای شي چې په هغه کې په قانوني

توګه هستوګنه لري. اما پر شخص باندي د محکمې د قضاوت د صلاحیت مسله یوه لږه جنجالي ده که مدعي علیه د هغه ایالت سره کومه اړیکه ونلري چې دعوې په کې اقامه کېږي او که مدعي علیه شرکتونه وي او نه خلک، د هغو دپاره هم دا مشکل منځ ته راځي چې دوی چیرته دي او چیرته عمل کوي. پداسې حالت کې کومه محکمه پرآوډي، فولکس واګون، ټوله نړۍ او بحري لارې پر شرکتونو باندي د قضاوت کولو صلاحیت لري.؟

پر دې مسلې باندې په هغو مبهمو قضیو کې چې د متحده ایالاتو سترې محکمې ته لمړی یوه پیړۍ مخکې او بیا په ۱۹۸۰ کال کې د وودسن او د فولکس واګون د نړیوال شرکت په قضیه کې چې د رابنسن قضیه همداسې نومول شویده وړاندې شول غور شویدی. ددې د پاره چې مسله یو څه ساده کړو فکر وکړئ چې ولي مونږ دا ښه بولو چې رابنسن د فورډ موټر چلوونکی په اوکلاهوما او یا دهغه د هستوګنې په ایالت تکساس کې محکمې ته راوبولي. په دواړو حالاتو کې موټر چلوونکی حقیقتا" نشي کولاي شکایت وکړي او دا بې انصافي وبولي چې محکمه دده په برخه کې قضاوت کوي. په دواړو حالاتو کې د موټر چلوونکي او د ایالت (یعني هغه ځاي چې دعوې په کې صورت مومي) تر منځ کافي تماس وجود لري. لهذا دا منصفانه ښکاري چې د خپل هغه کردار څخه چې د ایالت محکمې ته وړاندې شویدی دفاع وکړي. دا هم غیر منصفانه ندی که د یو چا څخه وغوښتل شي په هغه ایالت کې د دعوې اقامه وکړي چې په هغه کې د موټرټکر پیښ شویدی. او دا هم یقینا" چې غیر منصفانه ندی که ځینې وغوښتل شي چې د خپل هستوګنې په ایالت کې دعوې وکړي. په هر حالت کې ایالت یوه قانوني ګټه لري چې پر دې جنجال فیصله وشي. د اوکلاهوما ایالت باید وشي کولای هغه قضیې حل او فصل کړي چې ددې ایالت پر لویو لارو د موټرانو د ټکر په نتیجه کې منځ ته راځي او تکساس باید دا صلاحیت ولري د هغو اقداماتو په هکله چې ددې ایالت د اوسیدونکو پر ضد کېږي پریکړه وکړي.

سترې محکمې په کال ۱۹٤٥ کې د واشنګتن او بوټونو د نړیوال شرکت په قضیه کې دغه د انصاف احساس د اساسي قانون د غوښتنې په توګه مطرح کړه. په اساسي قانون کې د منصفانه دعوې ماده په خپلې دې غوښتني سره چې مدعي علیه د هغه ایالت سره چې دعوې په کې کېږي باید حد اقل اړیکي ولري، دیو ایالت دا توانمندي چې پر فرد باندې قضاوت وکړي محدودوي. یعني د مدعی علیه څخه د دفاع غوښتنه باید هغه د منصفانه لوبې او بشپړ عدالت عنعنوي احساس له منځه یو نسي. (دا د حقوقو د لمړي کال د محصیلینو فکر واقعا" ډیر ګډوډ کوي. محکمه د قانون یوه ډیره پیچلې مجموعه منځ ته راوړي او هغه ته په ظاهره د منصفانه لوبې د مفکورې په چوکات کې ځاي ورکوي او غواړي چې هر څوک باید په هغه وپوهېږي).

رابنسن هڅه وکړه د فولکس واګون څلور متهم کسان په اوکلاهوما کې محکمې ته راوبولي، اما سترې محکمې وویل چې د اوکلا هوما محکمه یواځې د آوډي موټر پر جوړونکي قضاوت کولاي شي او نه ددې موټرانو په توزیع کوونکو او دلالانو اود نړیوال فولکس واګون او بحري لارې پر شرکتونو باندې. آوډي خپل موټران په یو ملي بازار کې خرڅوي او د هر ایالت سره اړیکي لري. نو د منطق له مخې باید ددې انتظار

ولري چې ددوی د یو موټر د تخنیکي نقص له امله په هر ایالت کې محکمې ته غوښتل کیدای شي. شرکت په هر ځای کې د تجارت کولو له لارې ګټه لاس ته راوړي، نو باید دا مسوولیت ومني چې په هر ځای کې وربانديې دعوې هم کیدلای شي. اما د world-wide او دSeaway یا بحري لارې شرکتونه خپل موټران یواځې د نیویارک په ساحه کې خرڅوي. که څه هم چې دوی باید دا پیشبیني ولري چې ددوی مشتریان به اوکلاهوما ته سفروکړي، اما د اساسي قانون له مخې به دا منصفانه نه وي که د دوی څخه وغوښتل شي چې په محکمه کې د ځان د دفاع دپاره پداسې حال کې چې د یو ایالت سره هیڅ اړیکې هم نلري، هغه ایالت ته ولاړ شي.

تاسې څه وخت خپله دعوې په یوه فدرالي قضیه بدلولای شی؟

رابنسن خپله دعوې د اوکلاهوما د ایالت د کریک د ولسوالۍ په محکمه کې وکړه چې د اوکلاهوما ایالت د محاکمو د سیسټم یوه برخه ده. اما رابنسن کولای شوای دا په یوه فدرالي قضیه بدله کړي او خپله دعوې فدرالي محکمو ته وړاندې کړي. متحده ایالات د ایالتونو د محکمو د سیسټم موازي یو د محاکمو سیسټم لري. د اکثرو ایالتونو د سیسټمونو په شان، فدرالي قضایي سیسټم د دعوې محکمې یا trial courts لري چې د متحده ایالاتو د سیمې محاکم یا U.S. District Courts، د مرافعې منځني محاکمintermediate appellate courts (د متحده ایالاتو د استنیاف محکمې یا بعضا" Circuit Courts)هم یادېږي. بیا نو لوړه محکمه یا د متحده ایالاتو ستره محکمه شته چې (the U.S. Supreme Court) یادېږي. (دCircuit Courts اصطلاح د پخوا وخت د سیارو محکمو یا " Rode circuit" د اصطلاح څخه اخیستل شویده. په پخوا وختونو کې د سترې محکمې قاضیان د محکمې د دایرولو د پاره بیلا بیلو ځایونو ته سفر کاوه). د متحده ایالاتو فدرالي قضایي سیسټم په جغرافیایي لحاظ تنظیم شویدی. د مثال په توګه د متحده ایالاتو د سیمې محکمه د اوکلاهوما ایالت د شمالي ولسوالۍ د پاره اود متحده ایالاتو د استیناف محکمه د لسمې حوزې د پاره د اوکلاهوما، کولرادو، کانساس، نوي مکسیکو، یوتا او وایو مینګ د ایالتونو پر قضیو غور او قضاوت کوي.

که څه هم فدرالي محاکماتي سیسټم ډیر زیات د ایالتونو سیسټم ته ورته دی، اما د قضاوت د صلاحیت په مسله کې دا سیسټمونه بنیادي توپیر لري. په ایالتي محکمو کې د قضاوت کول د مسلې پر څرنګوالي او نوع باندې لکه (پر موضوع د قضاوت کول) معمولا" آسانه دی. ځکه د دعوې محکمې پر اکثرو مسلو باندې د قضاوت کولو عمومي صلاحیت لري، اما پر متهم یا دفاع کوونکي باندې قضاوت کول (پر شخص قضاوت کول) د اساسي قانون د محدودیت تابع دی چې باید د ایالت سره کافي تماس او اړیکي ولري او پر دفاع کوونکي باندې د صلاحیت تطبیق منصفانه وي. په فدرالي محاکمو کې موضوع په بشپړه توګه سرچپه ده. پر شخص قضاوت کول د اساسي قانون د منصفانه دعوي د مادې له مخې محدود ندی ؛ که څه هم district courts یا د ولسوالیو محکمې په یو محل کې دي، دوی ټول د ملي

سیستم برخې دي چې کولاي شي پر متهم یا دفاع کوونکي خپل صلاحیت تطبیق کړي. (اما د محکمې په حکم د ولسوالیو فدرالي محکمې پرمتهم یا دفاع کوونکي باندې پر شخص د قضاوت کولو د صلاحیت څخه یواځي تر هغه اندازي استفاده کولای شي چې د هماغه ایالت محکمې یې کولاي شي). اما پر موضوع د قضاوت کولو مسله ډیره ستونزمنه ده، ځکه فدرالي محکمې د قضاوت کولو محدود صلاحیت لري. دوی یواځي تر هغه حده صلاحیت لري چې اساسي قانون او کانګرس دوی ته ورکړیدی. لهذا د ایالتي محاکمو برعکس فدرالي محکمې یواځي د خاصو کتګوریو موضوعاتو ته رسیدګي کولاي شي.

که هر ایالت یو قضایي سیستم لري، نو بیا مونږ د فدرالي محکمو لړی ته څه اړتیا لرو؟ د اساسي قانون مسوده کوونکو او هغو کانګرسونو چې قوانین یې تصویب کړل د فدرالي محکمو د تاسیس د پاره دوه دلیله درلودل. لمړی، بعضې قضیې شته چې په ملي سویه ډیر اهمیت لري او د هغو په هکله باید د متحده ایالاتو د دولت قاضیان فیصله وکړي او نه یو خاص ایالت. دوهم، امریکاییان تل یو څه په سیمې پوري تړلي او لنډ فکره خلک دي، لهذا د اساسي قانون مسوده کوونکو وغوښتل د مثال په توګه د هغو نیویارکیانو د پاره چې په اوکلاهوما کې دعوې کوي یو طبعي محیط او فوروم منځ ته راوړي. هر یو ددې دلایلو د فدرالي محکمو د پاره یو خاص ډول صلاحیت منځ ته راوړ چې هغه ته په ترتیب د فدرالي مسلې د قضاوت صلاحیت یا federal question jurisdiction او د راز راز یا متنوع قضاوتونو صلاحیت یا diversity jurisdiction وایي. (علاوه پر دې ځینې خاصې قضیې وجود لري چې هغه فدرالي محکمو ته سپارل کېږي لکه د بحري قواوو د اداري مربوطې قضیې چې په هغه کې د بحري تجارت او سوداګرۍ پر مسایلو او یا پر داسې دعواوې چې په هغه کې د متحده ایالاتو حکومت طرف وي غور کېږي)

پر موضوع باندې د فدرالي قضاوت د صلاحیت لمړي رقم پر فدرالي مسلې د قضاوت کولو صلاحیت دی. د اساسي قانون او نورو قوانینو له مخې د فدرالي محکمو صلاحیت هغو قضیو ته پراخېږي چې د اساسي قانون، فدرالي قوانینو او فدرالي اداري د مقرراتو په چوکات کې منځ ته راځي. فدرالي محکمې د فدرالي قانون په چوکات کې ټولو قضیو ته رسیدګي کوي. پدې ډله کې د ژوند د چاپیریال په اړه قوانین، د تقاعد یا ټولنیز امنیت په اړه، د خوراک او دارو اداري مقررات او د اساسي قانون د حقوقو څخه سرغړونه شامل دي. کله بیا د مدني حقوقو په شان، ایالتونه هم پر دې قضیو د قضاوت کولو صلاحیت لري. یو ادعا چې ګواکې د خرید یو مرکز د تبلیغاتي ورقو د ویشلو مخنیوي کوي او پدې توګه د آزاد بیان مخنیوی کوي هم ایالتي او هم فدرالي محکمې ته وړاندې کیدلای شي. په نورو قضیو کې فدرالي محکمې د قضاوت کولو بشپړ صلاحیت لري. د مثال په توګه یواځي یوه فدرالي محکمه کولای شي د یو شرکت د افلاس او یا د یو مخترع د امتیاز پر مسلې غور وکړي. فکر کېږي چې فدرالي محکمې نسبت ایالتي محکمو ته د فني نظریاتو او ماهرانه قضاوتونو په را منځ ته کولو، د قانون په یوشان کولو او دفدرالي قانون په تفسیر او تطبیق کې د ملي ګټو په نظر کې نیولو په برخه کې په ښه حالت کې دی. سربیره پردې ډیر فدرالي قوانین شته چې په محلي قضیو کې د هغه تطبیق خلک نه خوښوي او پردې قضیو باندې د فدرالي محکمو د قضاوت کولو صلاحیت دا احتمال زیاتوي چې دا قوانین پرته له محلي

تعصب او سیاسي مداخلې څخه تطبیق شي. د مثال په توګه د پنځوسمې او شپیتمې لسیزو په اوږدو کې فدرالي محکموپه اصل کې د جنوب په متمردو او د ضدیته ډکو ایالتونو کې د مدني حقوقو د قوانینو د تطبیق مسوولیت په غاړه درلود.

د متنوع قضاوتونو صلاحیت ددې د پاره دی چې دهغو دعوې کوونکو په مقابل کې تعصب یا تنګ نظري prejudice له منځه یوسي چې د ایالت اوسیدونکي ندي. د اساسي قانون تسوید کوونکو وغوښتل د هغو دعوې کوونکو په مقابل کې چې د نورو ایالتو څخه راتلل د محلي قاضیانو او منصفه هییت د تعصب یا یو اړخیز قضاوت څخه مخنیوی وکړي، او یا لږ تر لږه د نو رو ایالاتونو د دعوې کوونکو دا بیره چې د تعصب او یا یو اړخیز قضاوت د امکان څخه یې درلودل، له منځه یوسي. د متنوع قضاوت صلاحیت دې ته لاره هواروي چې په مهمو اقتصادي قضیو کې یعني د بیلا بیلو ایالتونو د لویو تجارتي شرکتونو تر منځ معاملات او شخړې په فدرالي محکمو کې حل او فصل شي.

داچه په کوم ځای کې د دعوې اقامه وشي دا د مدعي یا عارض په انتخاب پوري اړه لري، اما د محلي تعصب او تنګ نظرۍ څخه اندیښنه چې دهغه پر اساس د متنوع قضاوت صلاحیت منځ ته راغلي دی په تاریخي لحاظ دومره زیات وو چې متهمینو یا مدعي علیه ته هم د یوې نظریي یا دکتورین له لارې د ورته انتخاب امکان ورکړل شو چې دا د محکمې د انتقال نظریه ده.(یعني د مدعي علیه په غوښتنه یوه قضیه د ایالتي محکمې څخه یوې فدرالي محکمې ته محول کېږي. ژ)

که مدعي یا عارض خپله دعوې په ایالتي محکمه کې مطرح کړي، مدعي علیه که د بل ایالت اوسیدونکی وي کولای شي دا قضیه فدرالي محکمې ته محول کړي پدې شرط چې فدرالي محکمه پر قضیې باندي د قضاوت کولو صلاحیت ولري. پدې توګه، د مثال په ډول د نیویارک یو مدعي علیه کولای شي د اوکلا هوما په ایالتي محکمه کې د یو اوکلاهومایي د تعصب او تنګ نظرۍ څخه ځان وژغوري او خپله قضیه په اوکلاهوما کې د متحده ایالاتو سیمه ایز district court یا د ولسوالی محکمې ته محول کړي.

د متنوع قضاوت د پاره په عنعنوي توګه دوه شرطونه شته لمړي د دعوي موضوع د زیاتو پیسو په هکله وي او د دعوې خواوې باید د بیلا بیلو ایالتونو اوسیدونکي وي. په دعوې کې د زیاتو پیسو مسله یو ساده شرط دي، یعني ددې دپاره چې مدعي خپله دعوې په فدرالي محکمه کې مطرح کړي دده د ادعا ارزښت باید تر هغه حد اقل مقدار چې د کانګرس لخوا ټاکل شویدی زیاد وي. اما دا چې مدعي او مدعي علیه باید د بیلا بیلو ایالتونو تبعه وي ډیر جالب دی. د تابعیت د تنوع په برخه کې یو څوک د هغه ایالت تبعه ګڼل کېږي چې په هغه کې ژوند کوي یعني چې اصلي کور یې هلته دی. او یو شرکت هم د هغه ایالت تبعه دی چې په هغه کې فعالیت کوي او هم د هغه ایالت چې په هغه کې د شرکت تجارتي مرکز دی. ددې د پاره چې پر یوه قضیه فدرالي محکمه قضاوت وکړي، باید بشپړه تنوع وجود ولري؛ پدې معنې چې مدعي اومدعي علیه باید د جلا ایالتونو اتباع او اوسیدونکي وي، او که څو مدعیان او څو

مدعي علیه وجود ولري، ټول مدعیان باید د جلا جلا ایالتونو اوسیدونکي وي او همدا شان باید مدعي علیهم هم د جلا جلا ایالتونو اوسیدونکي وي ګ

همدا د رابنسن د قضیې کیلي ده. رابنسن ادعا وکړه چې ددوی د آوډي موټر د تیلو ټانک خراب وو او د اور د لګیدو او دده د میرمني او ماشومانو د سوځیدو باعث وګرځید، لهذا دوي پر آوډي اود امریکا پر فولکس واګون چې یو یې د موټر جوړونکۍ او بل یې د آوډي موټرانو وارد کوونکۍ وو دعوې وکړه. که د موټر ټانک خراب وو، آوډي او فولکس واګون دواړه مسوول وه او دوی یقینا" دومره سرمایه او پیسې درلودې چې پر دوی باندې د محکمې د قضاوت په صورت کې د مدعي غوښتنې قانع کړي. نو ولې دوی پر نړیوال فولکس واګون چې د آوډي موټرانو سیمه ایز خرڅوونکۍ وو او د بحري لاري پر فولکس واګون یعني هغه دلال شرکت چې دوی موټر ورڅخه رانیولۍ وو دعوې وکړه؟ ددې پوښتنې ځواب په هغه ستراتیژیک انتخاب کې دی چې د رابنسن د دفاع وکیل وکړ او د متنوع قضاوت د اصل څخه یې استفاده وکړه. د رابنسن کورنۍ لا د نیویارک څخه اریزونا ته کډه نه وه کړې او د متنوع قضاوت د مقصد د پاره لا دوی په نیویارک کې په خپل پخواني کور کې په رسمي توګه ثبت وه. آوډي یوه جرمنۍ کمپنۍ ده او د امریکا فولکس واګون په نیوجرسي کې یو شرکت دی.، اما نړیوال فولکس واګون او د بحري لاري فولکس واګون دواړه د نیویارک شرکتونه دي. دوی ټوله په قضیه کې شاملول د متنوع قضاوت امکان په بشپړه توګه له منځه وړي ؛ پدې معني چې دا قضیه په فدرالي محکمه کې نشي مطرح کیدلای. د ټولو ممکنو مراجعو څخه یعنې د نیویارک، اوکلاهوما او احتمالا" اریزونا د ایالتي او فدرالي محکمو له جملې څخه د رابنس د دفاع وکیل د دعوې د پاره په اوکلاهوما کې د کریک ولسوالۍ ایالتي محکمه غوره کړه، او بیایې په امریکا کې د شخصي ټپي کیدو د عارض د پاره د قضاوت پر یو له ډیر جالبو لارو فکر وکړ. په قضیه کې د نړیوال فولکس واګون او بحري لاري فولکس واګون په داخیلیدو سره، دفاع کوونکو نشوای کولای دا قضیه په توسلا کې فدرالي محکمې ته محول کړي، چې دا د رابنسن له نظره هم جالب نه وو.

که څه هم د رابنس د دفاع وکیل د متنوع قضاوت د له منځه وړلو د پاره دقیقه محاسبه کړې وه، یعني دا یې د موضوع په هکله قضاوت باللۍ وو، خو ده د فردي قضاوت د قانون سره ټکر وکړ.

د بحري لاري او نړیوال فولکس واګون شرکتونو ادعا وکړه چې د اوکلاهوما ایالتي محکمه پردوی باندي د قضاوت کولو صلاحیت نلري او د متحده ایالاتو سترې محکمې هم دا ومنله او حکم یې وکړ چې دا به منصفانه نه وي چې د نیویارک د موټر خرڅولو شرکت او دلال شرکت په اوکلاهوما کې دعوې کولو ته مجبوره کړل شي. کله چې د نیویارک مدعي علیه د قضیې څخه ووتل، د بشپړ متنوع قضاوت د پاره زمینه مساعده شوه او آوډي او نړیوال فولکس واګون کولای شوای قضیه فدرالي محکمې ته محول کړي او دا کار یې هم وکړ. هلته منصفه هییت حکم وکړ د هغه موټر سرعت چې د رابنسن د آوډي سره یې ټکر وکړ د اور د لګیدو علت دی او د نه د آوډي موټر د تیلو د ټانک خرابوالۍ.

تنقید کوونکي دداسې قضیو په هکله لکه د رابنس، دا پوښتنه کوي چې آیا متنوع قضاوت لا هم لازم او ګټور دی او که نه؟ . تنقید کوونکي استدلال کوي چې نن د متنوع قضاوت څخه د دفاع وکیلان د یو تکتیک په توګه استفاده کوي او نه د نورو ایالتونو د دفاع کوونکو د ساتنې د پاره. د نورو ایالتونو د اوسیدونکو په مقابل کې تعصب او حساسیت تر ډیره حده له منځه تللې او د منصفانه دعوې د پاره یو ناپیلي فدرالي ارګان ته اړتیا نه لیدل کېږي. سر بیره پر دې فدرالي محکمې د ایالتي محکمو په شان عین عامه قانون تطبیقوي او د هغه قاضیان او منصفه هیئت د ایالتي محکمو په شان خپل حکمونه د سیمې د خلکو د فکر او قضاوت څخه اخلي، لهذا ددې دواړو محکمو تر منځ توپیر له منځه تللی دی. دوی زیاتوي، مورِ کولای شو د متنوع قضاوت مسله له منځه یوسو او په دې توګه به د هغه اضافي کار بار د فدرالي محکمو د اوږو څخه لیرې شي، که څه هم ددې لارې به د ایالتي محکمو د کار حجم زیات شي.

هغسې چې د رابنسن د قضیې څخه څرګندېږي مورِ ولیدل چې یو عارض چیري د دعوي اقامه کولای شي او چیري باید خپله دعوي اقامه کړي، دوې جلا پوښتنې دي. د قضاوت د مقرراتو له مخې یو دعوې کوونکې یا عارض ښایي د ایالتي یا فدرالي محکمو او د نیویارک یا اوکلاهوما د ایالتونو تر منځ د انتخاب حق ولري.د دعوې کوونکي د دفاع وکیل د پاره یو ددې محکمو یا ایالتونو څخه انتخاب یوه تکتیکي مسله ده. یو ددفاع وکیل ښایي په خپل ښار کې یعنې په هغه قضایي حوزه کې چې دده موکّل ژوند کوي او دی پخپله په هغه کې کار کوي، دعوې پر مخ بوزي. پدې حالت کې به یواځنۍ پریکړه پدې کې وي چې آیا ایالتي محکمې ته مراجعه وشي او که فدرالي محکمې ته؟ د محکمې یو سیستم به ښایي نسبت بلې ته په بیړه کار کوي ؛ په ځینو ښاري سیمو کې ښایي په ایالتي محکمه کې د دعوې پیل شپږ کاله انتظار وغواړي او فدرالي محکمې ته یواځي دوه کاله، او یا دا توپیر د ګاونډي ایالتونو د قضاوت کولو په سیستم کې ډیر وي. لکه د رابنسن په قضیه کې ښایي د یوې محکمې د منصفه هیئت ترکیب نسبت بلې ته توپیر ولري. د مدني طرزالعمل مقررات ښایي نظر یو دلیل یا بل ته ډیر په زړه پوري وي ؛ د فدرالي محکمو د حقایقو د کشف او موندلو مقررات په مقایسوي توګه نسبت ایالتي مقرراتو ته ډیر پراخ او اغیزمن دي. د قاضیانو کیفیت او خصوصیت هم ښایي توپیر ولري. یوه عنعنوي عقیده داده چې فدرالي قاضیان لږ تر لږه په ځینو برخو کې نسبت ایالتي قاضیانو ته د لوړ کیفیت خاوندان دي. او همدا شان ښایي د یوې حوزې قاضیان نسبت هغو ته چې د رود پر بلې خوا یا د سړک په بل پاي کې دي ښه وګڼل شي.

که تاسې وشی کولای په بیلا بیلو ځایونو کې دعوې وکړی
په هر یو ددې ځایونو کې به کوم قانون تطبیق شي؟

د محکمو د بیلا بیلو ایالتي سیسټمونو او د هغه سره موازي د فدرالي سیسټم د موجودیت یوه نتیجه داده چې په یوه قضیه کې په بالقوه توګه د قانون مختلف ډولونه تطبیق شي. رابنسن خپله دعوې د اوکلاهوما په ایالتي محکمه کې وکړه. که دوی ددې پر ځای فدرالي محکمې ته تللي وای، آیا فدرالي محکمې به ددې د پاره چې وټاکي د آوډي موټر د تیلو ټانک خراب وو یو بل قانون تطبیق کړی وای؟ او که دوی په نیویارک کې دعوې کړې وای، آیا د اوکلا هوما د قانون پر ځای به پدې قضیه کې د نیویارک د تاوان قانون تطبیق شوی وای؟ ځرنګه چې د یو ځای قانون نسبت بل ځای ته فرق لري، داسې مسایل اکثرا" د قضیې نتیجه ټاکي، لهذا دا لازمي ده چې مدني طرزالعمل ددې مسلو د حل د پاره خپلې لارې ولري.

په قانون کې دوه ډوله جنجاله چې د قضاوت په مختلفو حوزو کې منځ ته راځي په آسانۍ سره حل کیدای شي. پرته لدې چې کوم عام قانون په یوه قضیه کې د تطبیق وړ دی، په عمومي توګه محکمه خپل د طرزالعمل مقررات تطبیقوي. حتې که یوه فدرالي محکمه او یا د نیویارک ایالتي محکمه د اوکلاهوما قانون تطبیق هم کړي، هره محکمه په لمړي سر کې خپل د طرزالعمل د مقرراتو څخه استفاده کوي. همدا شان، کله چې یوه ایالتي محکمه د یوې قضیې په هکله د فدرالي قانون سره مخامخ شي، محکمه فدرالي قانون تطبیقوي او په دې کار کې د فدرالي محکمې د پریکړو څخه چې د قانون د تفسیر په هکله یې کړیدي استفاده کوي.، ځکه اساسي قانون فدرالي قانون د هیواد ستر قانون بللې دی.

دوه ډوله نوراختلاف یا ټکر خوړل بیا ډیر پیچلي دي. لمړی یې هغه وخت منځ ته راځي چې فدرالي محکمه د متنوع قضاوت یوې قضیې ته رسیدګي کوي، لکه د متحده ایالاتو سیمه ایزې محکمې یا district court چې په اوکلاهوما کې د آوډي شرکت په مقابل کې د رابنسن پر دعوې غور کاوه. آیا فدرالي محکمه د اوکلاهوما د تاوان قانون ته تابع دی او که کولای شي پخپله حکم وکړي چې څه وخت یو محصول په خطرناکه توګه خراب دی؟

تر ۱۹۳۸ کال پوري د تقریبا" سلو کلنو د پاره فدرالي محکمو آزادي درلوده چې خپل ځانګړي قانوني مقررات وضع کړي بیله دې چې په موضوع کې د ایالتي محکمې پریکړو ته پاملرنه وکړي. د مثال په توګه په اوکلاهوما کې د متحده ایالاتو سیمه ایزې محکمې کولای شوای د محصولاتو د خرابۍ په اړه خپله مقرره نسبت هغې مقررې ته چې د اوکلاهوما ایالتي محکمه ورځخه استفاده کوله مناسبه، نژدې او دقیقه وبولي. د متحده ایالاتو سترې محکمې فیصله وکړه چې د عامه قانون د مسایلو لکه د تجارت د قانون یا د تاوان د قانون په مسایلو کې فدرالي محکمې کولای شي د قانون عمومي اصولو ته مراجعه وکړي، چې دا د هر ایالت د سرحداتو څخه دباندې وځي، او د قانون داسې یو هر اړخیز اصول او چوکاټ دې منځ ته راوړي چې ایالتونو ته لارښوونه وکړي او ایالتونه د هغه څخه پیروي وکړي. اما ایالتي محکمو د فدرالي محکمو د لارښونې څخه استفاده ونکړه اود ملي قانون هغه یو شان او واحده مجموعه چې هیله ورته کیده هیڅکله تصویبیدو ته وړاندي نشوه. په ۱۹۳۸ کال کې ستره محکمه یو ګام شاته ولاړه او حکم یې وکړ چې فدرالي محکمې باید په ټولو اساسي او مهمو مسایلو کې د ایالتي قانون څخه پیروي وکړي.

همدا وجه ده چې نن فدرالي محکمه د متنوع قضاوت په مسایلو کې د جرم د قانون، د قرارداد د قانون او نورو قوانینو عین اصول تطبیقوي او دا پداسې توګه تطبیقېږي لکه قضیه چې په ایالتي محکمه کې فیصله کېږي.

د قضاوت د مراجعو د اختلاف یوه دوهمه پیچلې موضوع هغه وخت منځ ته راځي چې د ایالتي قانون د ارګانونوتر منځ اختلاف راشي. فرض کړئ چې اوکلاهوما د محصولاتو جوړونکی د ټولوهغوخرابیو مسوول بولي چې ددوی په محصول کې ومیندل شي اما نیویارک د محصولاتوتولید کوونکي یواځي هغه وخت مسوول وبولي چې د محصول په تولید کې یې د غفلت څخه کار اخیستی وي او لازمه پاملرنه یې نه وي کړې. (د محصولاتو د مسوولیت او تعهد په برخه کې پنځم فصل وګورئ). آیا رابنسن کولای شي چې د نیویارک د مقرراتو څخه ډډه وکړي او خپله دعوې د اوکلاهوما محکمې ته وړاندې کړي؟ دا مسله د قانون په هغه ساحه پوري اړه لري چې د قانون د اختلاف په نامه یادېږي او باید د سیالو قضایي حوزو څخه یو انتخاب شي. د قانون د اختلاف قانون د قوانینو په مجموعه کې یو له ډیرو ګډوډو برخو څخه ده او هغه تردید او ابهام چې پدې قانون کې دی محصیلین د ستونزو سره مخامخ کوي او پیچلی توب یې دمحکمو څخه هم لاره ورکوي او مغشوشه کوي یې. ددې تردید او شک دلایل د قانون په هکله یوه ډیره اساسي مسله څرګندوي.

د شلمې پیړۍ تر نیمایي پوري د قانون د اختلاف قانون د نسبتا" روښانه مقرراتو یو ترکیب وو چې د قضایي حاکمیت او عدالت پر سیمه ایزو نظریاتو او مفکورو بنا وو. د مثال په توګه د تاوان رسولو یوه قضیه به د هغه قضایي حوزې د قانون له مخې حل و فصل کیده چې ټکر به په کې پیښ شوی وو، په اوکلاهوما کې ټکر به د اوکلاهوما د تاوان د قانون له مخې حل و فصل کیده او دا نه وه مهمه چې دعوې په اوکلاهوما کې کیده او یا په نیویارک کې. په عین توګه د قرارداد په اړه یو جنجال به هم د هغه ایالت د قانون له مخې فیصله کیده چې قرار داد به په کې منځ ته راغلی وو. له بده مرغه ډیر معاملات دي چې څو ایالتي خصوصیت لري، لهذا د رابنسن په قضیه کې کوم قانون د تطبیق وړ دې؟ موټر په نیویارک کې رانیول شوی دی، موټر په جرمني کې جوړ شوي دي او بیا پدې موټر کې په اوکلاهوما کې ټکر شویدی. آیا د اشتباه اساس پدې کې وو چې دا موټر جوړ شو، بیا خرڅ شو او په اور کې وسو؟ آیا دا منصفانه ده چې د آوډي شرکت د پنځوسو مختلفو ایالتونو اوحتي د هغو ایالتونو په شمول چې په هغه کې موټران هم نه خرڅوي د جرم د قانون سره مخامخ شي؟ سربیره پردې محکمې د نورو ایالتونو د قانون له تطبیقولو څخه چې ددوی د خپلو مقرراتو سره په اختلاف کې وه خوشحاله نه وه. کله چې محکمې دداسې قضیو سره مخامخ شول د هغو په مقابل کې یې خپل مقررات منځ ته راوړل چې د لا نور زیات تردد باعث وګرځید او په نهایت کې د تنقیدونو سره مخامخ شو.

قاضیان او حقوق پوهان د زړو مقرراتو په انتقاد کولو کې ډیر بریالي وه اما د نوي مقرراتو په افاده کولو کې ډیر بریالي نه وه. پداسې حال کې چې محکمې زاړه مقررات پرېږدي او د نوو عملي معیارونو څخه استفاده کوي، په خاصو قضیو کې نتیجه په اکثرو ایالتونو کې نشي پیشبیني کیدلای ځکه نوي

معیارونه د محکمو څخه غواړي چې بیلا بیل فکټورونه وزن او انډول کړي. او ډیرې قضایي حوزې هیڅکله په دې بهیر کې نه شول شامل او په ضمني او غیر ضمني ډول خپلو زړو مقرراتو ته وفاداره پاته شول. په نتیجه کې هرشي تغیر وموند اما بهتره نه شول.

هغه زده کړه چې مورږ یې ددې ټولو څخه کوو په روښانه توګه دادی چې ډیر سخت او جدي مقررات هغسې نه وي لکه ظاهرا" چې ښکاري. دا مقررات که په بیلا بیلو حالاتو کې تطبیق شي یا عدالت تامینوي او یا داچه تفسیر او استثناآتو ته اړتیا پیدا کوي، اما تفسیراو استثنا مسایل نور هم پیچلي کوي او تردد زیاتوي. د بلې خوا پراخ او عملي مقررات محکمو ته ډیر واک او بصیرت ورکوي، او واک او بصیرت بیامتناقضې فیصلې او مشکوک حکمونه منځ ته راوړي چې د پیچلیتوب او بې عدالتۍ یو بل شکل دی.

په محکمه کې دعوې څنګه پیل کېږي؟

قانوني وکیل د یوې دعوې د پاره په محکمه کې یو سند تیاروي او هغه خانه پري کوي چې دې ته شکایت یا عرض وایي. په هغه کې هغسې چې د نامه څخه یې څرګندېږي عارض یا مدعي (یعني هغه څوک چې دعوې کوي) شکایت کوي چې مدعي علیه (یعني هغه څوک چې دعوې پرې کېږي) دده پر قانوني حقوقو تیرۍ کړیدی او د هغه د چارې او جبران غوښتنه کوي. (قانون دا غوښتنه نه کوي چې حتما" به یو قانوني وکیل دا شکایت محکمې ته وړاندې کوي او یا باید حتما" د عارض یا مدعي نمایندګي وکړي). هرڅوک کولاي شي په محکمه کې د ځان دفاع وکړي. ددې د پاره د پروزه Prose اصطلاح شته چې معني یې په لاتین کې د ځان دپاره ده. اما د یوې عملي مسلې په توګه هغه دعواوې چې د کوچنیو ادعا ګانو د محکمې پرته په نورو محکمو کې مطرح کېږي، په هغو کې د قانوني وکیل درلودل یوه اړتیا او ضرورت دی. د شکایت د پاڼې سره یو ځاي د احضار

پاڼه هم شته، یعني د محکمې یو سند چې د هغه پراساس مدعي علیه محکمې ته احضار یا راغوښتل کېږي چې د مدعي اتهام ته ځواب ووایي. عارض یا مدعي باید د مدعي علیه د پاره لدې کبله چې د شکایت او احضار پاڼه په لاس کې لري د محکمې د خدماتو علت وګرځي. دا د شکایت پاڼه مدعي علیه ته د پولیس، شیریف Sheriff، د محکمې د مامور یا پوستې له لارې رسول کېږي یعنې دا د هماغه محکمې په مقراتو پوري اړه لري چې دعوې په کې شویده.

د شکایت پاڼه پدې تعریف پیل کېږي چې دعوې په کومه موضوع کې ده. د رابنس په قضیه کې به په شکایت کې داسې لیکل شوي وي

- رابنسن او د آوډي دفاع کوونکي څوک دي ،
- داچه رابنسن د بحري لارې د فولګس واګون څخه یو آوډي موټر رانیولۍ دی ،
- آوډي موټر څنګه ټکر وکړ،
- آوډي موټر څه نقصان درلود ،

- دا چې دا نقصان د کې رابنسن او د ماشومانو د ټپي کیدو باعث وګرځید،
- او د همدې دلایلو له مخې باید د آوډي دفاع کوونکي رابنسن ته پیسې ورکړي.

دا معلومات د څو هدفونو د پاره دي. لمړی، دا د محکمې د قضاوت کولو د پاره اساس اړدي. پدې بیان سره چې دا دعوې د موټر د هغه ټکر په باره کې دی چې په اوکلاهوما کې پیښ شویدی، په شکایت کې روښانه کېږي چې دا دعوې د اوکلا هوما د ولسوالۍ په محکمه کې اقامه کیدلای شي. دوهم، پدې توګه مدعي علیه یا دفاع کوونکو ته خبرتیا ورکول کېږي چې په محکمه کې پر دوی دعوې کېږي او ولې دعوې کېږي. لازمه خبرتیا دفاع کوونکو ته ددې فرصت ورکوي چې د ځان د پاره د دفاع وکیلان وټاکي او فکر وکړي چې پر کوم اساس به دوی د مدعي د ادعاوو په مقابل کې د ځان دفاع وکړي. دریم، دا د واقعیت او قانون مسایل چې په قضیه کې شامل دي او هغه مسایل چې په قضیه کې ندي شامل چوکاټ ته اچوي. د عمل د علتونو د مطالعې له لارې یعني دا چې ولې عارض ادعا کوي د جبران او تاوان مستحق دی او د عارض په عقیده مدعي علیه څه کړیدي، د شکایت پاڼه د دعوې خواوو او قاضي ته څرګندوي چې په قضیه کې د فیصلې د پاره کوم شیان مهم دي. د مثال په توګه، د حقایقو پر بنا د رابنسن د موټر او د هغه بل موټر سرعت چې په ټکر کې یې برخه درلوده اهمیت لري، ځکه ښایي زیات سرعت او نه د آوډي موټر نقص د اور د لګیدو باعث ګرځیدلۍ وي. لهذا دواړه خواوې ښایي وغواړي پدې هکله تحقیقات وکړي او د محکمې په جریان کې د موټرانو د سرعت په هکله ثبوت وړاندې کړي. دا چې مدعي علیه به د موټر د اعلاناتو له لارې رابنسن غولولۍ وي، چې ګواکې ډیر پر مختللۍ او ډیر مطمئن سیسټم لري، اما په حقیقت کې یې موټر ته ارزانه او غیر مطمئن سیستمونه نصب کړي وي، له هغه ځایه چې د ټکر د مسلې سره رابطه نلري مهم ندی. د دعوې خواوې باید پدې وپوهېږي او پدې هکله د تحقیقاتو کولو یا د موټر د ښه سیسټم د ثبوت د وړاندې کولو څخه ډډه وکړي. او که دوی دا کار په هر حال کړی وي، قاضي به دوی ددې کار څخه منع کړي.

په عنعنوي توګه، شکایت یا نور عرضونه یوه وسیله ده چې په قضیه کې شامل مسایل دوو خواوو او محکمې ته تعریف او تشریح شي. قاضیان غوښتنه کوي چې یو قانوني وکیل دې د قضیې او ادعا په هکله حقایق په خاصه او دقیقه توګه په عریضه کې ولیکي. که د دفاع وکیل دا کار ونکړي، یا د مثال په توګه د رابنسن د دفاع وکیل د آوډي د شرکت نوم غلط ووایي او یا په دقیقه توګه تشریح نکړي چې تاوان څنګه پیښ شویدی، دا قضیه به د محکمې لخوا و نه منل شي او رد به شي.

څرنګه چې دا ډول فني رموز د عامه قانون د ارزښتونو د هدف او منصفانه عدلي جریان د منځ ته راتلو سره په تناقض کې دی، قاضیانو دعرض او شکایت شرایط نرم او آسانه کړیدي. او په قضیه کې د مسایلو تشریح او تعریف په عرض یا محکمې ته د شکایت په وړاندې کولو سره پیل کېږي او د محاکمې ترپیل مخکې مرحلو کې د کشف او د نوو حقایقو د موندلو له لارې دوام مومي. د رابنسن قانوني وکیل کولای شي په عریضه کې ولیکي چې آوډي موټر نقص درلود او بیا هڅه وکړي په دقیقه توګه تشریح کړي چې دا نقص په څه کې وو.

دا موضوع به نوره هم روښانه کړو، که یو وکیل په عریضه کې اشتباه وکړي او یا وروسته داسې نوي معلومات تر لاسه کړي چې څرګنده کړي چې عریضه یا شکایت بشپړ ندی اویا صحیح ندی، محکمه معمولا" اجازه ورکوي چې په عریضه کې تغیر راشي یعني غلطي یې اصطلاح شي او یا نوي معلومات په کې داخل کړل شي. رابنسن اساسا" یواځي د امریکا د فولکس واګون، د بحري لارې او نړیوال فولکس واګون پر شرکتونو دعوې کړیوه، خو وروسته یې په خپل عریضه کې بدلون راووست او د فولکس واګون سهامي شرکت یې چې یو جرمنی شرکت دی او دوی فکر کاوه چې د آوډي موټر جوړونکی دی، هم په کې شامل کړ؛ کله چې دوی د یو رسمي معلوماتو له مخې وپوهیدل چې د آوډي سهامي شرکت، یو بل جرمنی شرکت د آوډي موټرانو حقیقي جوړونکی دی، دوی بیا په عریضه کې تغیر راوست او د فولکس واګون پر ځای یې د آوډي شرکت په عریضه کې شامل کړ. په عریضه کې د بدلون راوستلو مقررات حقیقتا" ډیر لیبرال دي او مدعي کولای شي مخکې او وروسته له هغه چې د قاضي حضور ته ودرېږي په هغه کې بدلون راولي، تر څو په محکمه کې عریضه او د اثبات حقایق یو شان شي.

کله چې مدعي علیه ته د قضیې او دعوې د علت او محتوې په هکله لازم معلومات ورکړل شوي وي، عدالت په ښه توګه تامینږي چې د موضوع اصل ته پاملرنه وشي نه دا چې وکیل تر کومه حده د عرض تخنیکي مقررات په پام کې نیولي دي.

اما دا پدې معنې نده چې د عرض او شکایت د پاره هیڅ حدود وجود نلري. په عریضه کې باید هر څه د حقایقو پر بنا وي او په صداقت او ایمانداری وړاندې شوي وي. او دا بیا د قضاوت کولو په مرجع یا محکمې پوري اړه لري چې آیا دعوې کوونکی د خپلې ادعا د حقیقت د پاره قسم واخلي، او یا دا چې قانوني وکیل چې د شکایت پاڼه وړاندې کوي باید هغه لاس لیک کړي. د مثال په توګه د فدرالي مقرراتو له مخې باید وکیل عریضه لاس لیک کړي او هغه د هغو حقایقو پر بنا چې ده د معقولې څېړنې په نتیجه کې تر لاسه کړیدي تصدیق کړي چې دعریضې د پاره قوي دلایل وجود لري او ده عریضه په بشپړ صداقت او ایمانداری او پرته لدې چې کوم بیځایه یا نامناسبه انګیزه ولري ترتیب کړیده. که د عریضې متن غلط یا ډیر سپک او بې معنې وي، محکمه کولای شي مدعي یا د هغه وکیل جریمه کړي. ددې په شان، د ډیرو نورو مقرراتو تطبیق قانوني وکیلان مجبوره کوي چې د عریضې په لیکلو اود عرض د حقانیت او د مدعي د ادعا د دقیقوالي په هکله د لازم احتیاط څخه کار واخلي.

د محکمې په ځواب کې مدعي علیه څه کولای شي؟

په سرکې یو چا ته د مدعي د شکایت پاڼه او محکمې ته د حاضریدو پاڼه رسېږي او پدې توګه ده ته په رسمي ډول خبر ورکول کېږي چې دده پر ضد دعوې شویده. د احضار په پاڼه کې په خاصه توګه لارښوونه کېږي چې دی باید دې شکایت ته ځواب ووایي. د مدعي علیه دپاره په حقیقت کې د ځواب ورکولو څو لارې شته.

لمړی، مدعي علیه کولای شي پر دې ټولو سترګې پټې کړي. که مدعي علیه په یوه جنایي قضیه کې د احضار پاڼې ته ځواب و نه وایي او یا په محکمه کې حاضر نشي، پولیس کولای شي دی بندي کړي. اما په مدني قضیو کې داسې نده. که د فولکس واګون نړیوال شرکت ته د رابنسن د شکایت او د محکمې د احضار پاڼه د پوستې له لارې ورسېږي او دا شرکت هغه ته هیڅ ځواب ونه وایي، پولیس به را نه نشي او ددې شرکت ریس به په زوره محکمې ته بونه ځي. اما دا پدې معنې نده چې هر څوک کولای شي پر یو شکایت سترګې پټې کړي.. د یو چا د پاره چې نه حاضرېږي شکایت ته ځواب ووایي سزا داده چې مدعي کولای شي د محکمې څخه وغواړي د مدعي علیه په غیاب کې حکم صادر کړي. مدعي علیه بیا نشي کولای د قضیې د ماهیت په اړه کومه دفاع وکړي. د مدعي علیه په غیاب کې د محکمې فیصله دعوې پای ته رسوي او مدعي بیا کولای شي د محکمې د هرې بلې فیصلې په شان د حکم تطبیق وغواړي.

ځیني وخت یو مدعي علیه ښایي پر یو شکایت سترګې پټې کړي تر څو دده په غیاب کې د محکمې حکم صادر شي، ځکه مدعي علیه فکر کوي چې مدعي به ونه غواړي او یا به و نه شي کولای د محکمې د حکم تطبیق وغواړي. تصور وکړئ چې د آوډي موټر نقص لوي او جدي تاوان نه وای رسولای. او یواځې پې د دوو سوو ډالرو په ارزښت تاوان رسولای وای. که رابنسن په کوم دلیل هم ددې کوچني مبلغ د پاره دعوې کړې وای، د فولکس واګون نړیوال شرکت ښایي پر دې دعوې سترګې پټې کړې وای پدې فکر چې دا د کوچني مبلغ عوې ددې ارزښت نلري چې په اوکلاهوما کې ورته یو وکیل وټاکل شي، او دا چې ښایي رابنسن هم یواځې ددې پیسو د اخیستلو د پاره نیویارک ته سفر و نه وکړي.

اما په عادي حالت کې که یوه موضوع د مدعي د پاره د دعوې ارزښت ولري، دابه د مدعي علیه د پاره هم ارزښت ولري چې هغه ته ځواب ووایي او پدې صورت کې به مدعي علیه پر شکایت سترګې پټې نکړي او د محکمې لخوا د غیاب حکم د صادریدو خطر به و نه مني.

دوهمه لاره داده چې مدعي علیه د دعوې پر ضد اعتراض وکړي چې هغه د قضې د ماهیت سره اړیکې نلري. اعتراض کول د قضیې د ردیدو یو شکل دی. پدې معني چې مدعي علیه د محکمې څخه په رسمي توګه غوښتنه کوي چې دا قضیه رد کړي پرته لدې چې د هغه ماهیت ته او داچه څه پیښه شویده پاملرنه وکړي.

د اعتراض ځیني شکلونه ډیر جزیې او بې اهمیته وي. مدعي علیه ویلای شي چې د احضار په شکل کې یا د محکمې د خدماتو په شکل کې تخنیکي نقص وجود درلود، یا داچه ده ته د شکایت او احضار پاڼه د پوستې له لارې لېږل شویده پداسې حال کې چې پکار وه دا ده ته په شخصي توګه سپارل شوی وای. که مدعي وشي کولای دا نقص اصلاح کړي یعنې شخصا" مدعي علیه ته دا خدمات تر سره کړي، پدې صورت کې اعتراض ښایي دعوي یو څه وځنډوي اما په بشپړه توګه یې مخنیوی نشي کولای. که مدعي ونشو کولای دا نقص اصلاح کړي ځکه مدعي علیه نشته چې دی ورته دا خدمت وکړي، پدې صورت کې ښایي د مدعي علیه دا ستراتیژي د قضیې د پرمختګ بشپړ مخنیوی وکړي.

یو ډیر مهم اساس د ردولو یا اعتراض د پاره دادی چې محکمه پر قضیې یا پر مدعي علیه د قضاوت کولو صلاحیت ونلري. په یاد راوړی چې د محکمې حکم په یوه قضیه کې هغه وخت مکلفیت او الزام منځ ته راوړي چې محکمه هم د قضیې پر موضوع او هم د دعوې پر خواوو باندې د قضاوت کولو صلاحیت ولري. که مدعي علیه څرګنډه کړي چې محکمه دا صلاخیت نلري، محکمه پرته لدې چې په رسمي توګه درداسي صلاحیت پر نه درلودلو اعتراف وکړي بل هیڅ کوم واک نلري او دعوې ردوي. همدا کار په اغیزمنه توګه نړیوال فولکس واګون او د بحرې لارې فولکس واګون شرکتونو د رابنسن په قضیه کې وکړ. دوی استدلال وکړ چې د اوکلاهوما ایالتي محکمه ددوی پر شخص باندې د قضاوت کولو صلاحیت نلري ځکه دوی ددې ایالت سره غیر لدې څخه چې رابنسن ددوی څخه په یو رانیول شوي موټر کې ټکر کړیدي، بل هیڅ ډول اړیکي نلري. نړیوال او د بحري لارو شرکتونو د محکمې څخه وغوښتل دوی لدې قضیې څخه وباسي بیله دې چې دوی د قضیې د ماهیت په اړه د ځان څخه دفاع کولو ته را وبولي.

دریم اقدام چې مدعي علیه یې شایي وکړي دادی چې د مدعي د شکایت کولو قانوني قابلیت تر پوښتنې لاندې راولي. (دا طرزالعمل یا پروسیجر په کلاسیکي معنې دې ته وایي چې د دعوې دلایل کافي و نه بلل شي او پر هغه اعتراض وشي. انګلیسي اصطلاح یې demurrer ده. ژ) نن په عامه توګه دې طرزالعمل ته د قضیې د ردولو په مورد کې پدې دلیل چې په قضیه کې ادعا نده روښانه او یا دا چې په شکایت کې ندی څرګنډ شوی چې ددعوې علت څه دی، اشاره کېږي. د دعوې د ردولو په اقدام کې مدعي علیه استدلال کوي چې که فرضا" د مدعي ټولې ادعاوې صحیح هم وي، ددې د پاره چې مدعي علیه د مدعي په وړاندي مکلف وګڼل شي هیڅ قانوني اساس وجود نلري. له همدې کبله پدې اقدام کې د مدعي د قانوني دلایلو قوت ازمایل کېږي بیله دې چې د جنجال په هکله موجودو حقایقو ته پاملرنه وشي.

د مثال په توګه فرض کړئ چې د اوکلاهو ما د جرم ته ورته یا تاوان په قانون tort law کې لیکل شوي وي چې د یو خراب محصول جوړونکی په جدي توګه د هغه مستهلک یا مصرف کوونکي په وړاندې مسوولیت لري چې ددې محصول د خرابی له کبله زیانمن شوی وي. پدې صورت کې د محصول خرڅوونکی چې هغه یې ندی جوړ کړی د مستهلک په وړاندې دا مکلفیت نلري. د بحري لاري فولکس واګون شرکت کولای شي ددې شرکت پر ضد د رابنسن غوښتنه رد کړي. حتي که آوډي موټر نقص هم ولري او همدا نقص د ټپي کیدو او تاوان علت هم وي، د بحري لارې شرکت چې دا ډول موټران یواځې خرڅوي د رابنسن په وړاندې کوم مکلفیت نلري. د بحري لاري شرکت په عین حالت کې دی که رابنسن د فورد یا د آي بي ام د شرکتونو پر ضد هم دعوې کړی وای. دا بې تفاوته ده چې د قضیې حقایق کوم دي، قانون ددې مدعي علیه پرضد کوم اقدام نشي کولای.

که د مدعي علیه غوښتنه د قضیې د ردیدو په هکله کوم اساس ونلري، یا دده هلي ځلې پدې اړه ناکامه شي، مدعي علیه نو بیا مجبوره دی دې شکایت ته د قانوني ادعا د ماهیت له مخې ځواب ووایي.

مدعي عليه پدې حالت کې خپله دفاعيه يا pleading چې ځواب بلل کېږي ليکي او په هغه کې ټولوهغو اتهاماتو ته چې مدعي په خپله عريضه کې کړيدي ځواب وايي. مدعي عليه اتهاماتو ته په ځواب ويلو کې په درې ډوله ځواب ويېلی شي. يا" نه " وايي (يعني اتهامات حقيقي نه بولي او هغه ردوي)، يا وايي " نه پوهېږم " (يعني د اتهاماتو څخه بيخبري څرګندوي) او يا " هو، اما " وايي (يعني پر اتهام اعتراف کوي، اما حقايق داسې څرګندوي چې د مدعي د ادعا په مقابل کې د ځان دفاع کوي).

د مدعي عليه د پاره بهترين حالت هغه دی چې دی وشي کولای د شکايت په پاڼه کې د مدعي ټولې ادعاوې او تورونه رد کړي او پدې توګه د قضيې په هکله خپل ټول معلومات پټ وساتي. بيا نو مدعي مجبوره دی د خپلې ادعا د ثابتولو د پاره هر معلومات په ځانګړې توګه لاس ته راوړي او هغه ثابت کړي چې دا به يوه لويه ستونزه وي. په پخوا وختونو او نن هم په ځينو قضايي حوزو کې مدعي عليه دې هدف ته د بشپړ تکذيب يا رد general denial له لارې رسيدلی شي. پدې معنې چې په شکايت کې هره ادعا تکذيبوي او ردوي يې. اکثره محکمې نوربشپړ تکذيب ته اجازه نه ورکوي، ځکه په اکثرو قضيو کې د شکايت مقصد او د طرزالعمل د سيستم اهداف ګډوډوي. د عرض او شکايت کولو پروسه ددې دپاره ده چې په قضيه کې شامل موضوعات تشخيص او يو له بله نژدې کړل شي. که مدعي عليه د بشپړ تکذيب له لارې د يو اتهام څخه چې حقيقت لري او دی هم پدې پوهېږي انکار وکړي يعني يوه مسله چې بايد صرف نظر ورڅخه وشي، دداسې مسلې مطرح کيدل غير ضروري ګڼل کېږي. د سيستم له نظره دا اغيزمن ندی او څرګندوي چې صداقت په کې نشته.

ځيني وخت مدعي عليه د مدعي د شکايت پر اساسي برخو اعتراف کوي او هغه حقيقي بولي، اما مدعي عليه داسې استدلال کوي چې په شکايت کې ټول حقيقت ندی ويل شوی. که داسې وي، مدعي عليه په خپل ځواب کې کولای شي د مثبتې د فاع يا Affirmative defence مسله مطرح کړي. دا ډول دفاع، حتې په هغه صورت کې چې که د مدعي ټوله ادعا تاييد شوې هم وي، يو نوی عامل يا فکتور وړاندې کوي چې د مدعي عليه مسوولیت يا له منځه وړي يا يې کموي. د مثال په توګه که د رابنسن د موټر ټکر لس کاله مخکې پيښ شوی وای، د آوډي شرکت کولای شوای د مثبې دفاع په توګه د محدوديت د مقرراتو (مرور زمان) څخه استفاده وکړي. ددې مقرراتو له مخې بايد دعوې په يو ټاکلي مده کې محکمې ته وړاندې شي.

اکثرا" مدعي عليه نه پوهېږي چې د مدعي ادعا څومره حقيقت لري. کله چې رابنسن ادعا وکړي چې دوی د موټر په ټکر کې سخت ټپيان شول او د دارو درمل د پاره يې ډيرې پيسې مصرف کړيدي، د آوډي شرکت دا ادعا نه تاييدولای او نه ردولای شي. ځکه د آوډي شرکت لا د دوی طبي اسناد ندي ليدلي. پدې حالت کې د مدني طرزالعمل مقررات اجازه ورکوي چې مدعي عليه ووايي " زه نه پوهېږم " پدې توګه پر موضوع بحث کېږي او مدعي بايد د ثبوت د پاره خپل ټول اسناد وړاندې کړي. ددې هيلې د تر سره کولو د پاره چې صداقت او صفا منځ ته راشي او ددې د پاره چې د جنجال موضوعات د دوو خواوو د څرګندونو له مخې تشخيص او تعريف شي، په کارده چې مدعي عليه حقيقتا" د مدعي د اتهام په

حقیقت خبر نه وي او محکمې اکثرا" دغه غوښتنه پراخوي چې مدعي علیه مجبوره شي د حقیقت د راسربیره کیدو د پاره د معقولو تحقیقاتو د بهیر سره مرسته وکړي. که د مثال په توګه په اتهام کې دداسې یو کار حقایق پراته وي چې مدعي علیه پخپله کړي وي، مدعي علیه نشي کولای خپله بیخبري څرګنده کړي؛ د مثال په توګه که رابنسن ادعا وکړي چې د آوډۍ موټر په اعلان کې پر لارو باندې تر ټولو مطمئن موټر ښودل شوی وو، د آوډي شرکت نشي کولاي ددې اعلان د محتوې څخه بیخبري و ښیي، ځکه د آودې شرکت دوسیو ته په یوه سطحي کتنې سره دا حقیقت را برسیره کېږي. په هر حال د محکمې د جریان هدف دادی چې په اغیزمنه توګه تعریف شي چې د اختلاف خواوې حقیقتا" پر څه جنجال لري او په کومو شیانو موافقه لري.

څه کېږي که په دعوې کې تر دوو ډیرې خواوي وجود ولري؟

مونږ معمولا " فکر کوو چې په یوه دعوې کې دوه طرفه وجود لري یعني مدعي او مدعي علیه. اما د رابنسن په دعوې کې مونږ وینو چې حتي په یو عادي عمل کې ښایي څو طرفه لاس ولري. د رابنسن په دعوې کې څلور مدعیان (کې او هري رابنسن او د دوی دوه ماشومان) او څلور مدعي علیه (آوډي، د امریکا فولکس واګون، نړیوال فولکس واګون او د بحري لاري فولکس واګون) وجود لري. ددې عادي دوه طرفه دعوې د شکل څخه چې دوه طرفه په یو ځانګړي مسلې دعوې کوي یو پیچلي شکل ته ځو چې په هغه کې څو ظرفه د څو مسلو پر سر دعوې کوي چې دا د طرزالعمل د سیستم د پاره یو ګران کار ګڼل کېږي، اما په هغه شکل چې دا سیستم ډیرپیچلي جنجالونه حل اوفصل کوي مونږ ته د مدرن مدنې طرزالعمل په هکله ډیر شیان څرګندوي. د محکمو توانمندي د داسې قضیو په څیړلو کې چې څو طرفه او بیلا بیلې ادعاوي په کې مطرح وي پر یو مبهم اما اغیزمن اصل ولاړ دی. یوه محکمه دداسې مسایلو سره په برخورد کې چې د حقیقي عدالت، منصفانه دعوې او اغیزمنتوب سره په اړیکه کې وي خپل خاص او پراخ بصیرت لري. اکثرا" دا تر ټولو ښه ګڼل کېږي چې یو شمیر د اختلاف وړ مربوط مسایل په یوه ځانګړي قضیه کې حل او فصل شي که څه هم په هغه کې بیلا بیلې خواوې او مختلفې غوښتنې وجود ولري. ددې لارې د دعوې خواوې ضرورت نلري چې هر یو یې په ځانګړي توګه هلي ځلي وکړي، ډیر وخت ضایع کړي او په ورته مسایلو کې د ورته دعوې د نامطلوبو نتیجو سره مخامخ شي او یا په مختلفو ځایونو کې بیا او بیا دعوې پر مخ بوځي. په عین زمان کې که په یوه قضیه کې ډیرې خواوې او مطالبې شاملې وي چې قضیه ډیره مبهمه کوي او یا په ځینو کې بیځایه دا احساس راپاروي چې ګواکې د تعصبه ډک رویه ورسره کېږي، محکمه بیا هم کولای شي مسایل او د دعوې خواوې یو له بله جلا کړي. راشئ بیا د رابنسن قضیه راواخلو او د حقایقو څو نورو بڼو ته وګورو چې دا څنګه کېږي. لمړی بیلا بیلو خواوو ته چې په دعوې کې شامل دي پاملرنه وکړئ. مدعیان کولاي شي یو ځای دعوې وکړي که د دوی غوښتنې د عین پیښو څخه رامنځ ته شوي وي او ددوی غوښتنې د قانون یا حقیقت د عامو مسایلو یوه برخه وي. هرې رابنسن، میرمن کې رابنسن او د دوی دوه ماشومان ټول په یوه ترافیکي حادثه کې ټپیان

شول، لهذا دوې ټولو یو ځای دعوې وکړه او یود دفاع وکیل په محکمه کې د دوی استازیتوب وکړ. دا به ډیر نا اغیزمن او نامنصفانه وای چې که د دوی هر یو په جلا توګه پر آوډي شرکت دعوې کړې وای. اما مه هیروئ چې ددې څلورو نفرو دعوې یو شان نده. د دوی دهر یو ټپونه فرق لري. خو د دوی په مشترکه دعوې کې به تر ډیره حده ددوی د هر یو شواهد وړاندې شي. اما دوی ښایې د عین نظریې له مخې دعوې ونکړي. که هري رابنسن نه وو ټپي شوی، ښځه یې ټپي شوې وه. دا کولای شي د خپلو ټپونو پخاطر په مستقیمه توګه دعوې وکړي او د سوځیدو په نتیجه کې د خپلې څیرې د بدلون او یا دا چې د سوځیدو په نتیجه کې میړه ته خپله مینه او ملګرتوب له لاسه ورکوي په دعوې کې مطرح کړي. اما یو ددې ټکو هم کوم توپیر نه راولي، قضیې ډیرې سره ورته دي او دا معقوله ده چې ټول یو ځای واوریدل شي.

د قضیو د یو ځای کولو یو عام مثال د یوې لویې فاجعې په وخت کې پیښېږي. کله چې د نورت ویست Northwest هوایي شرکت د پنځه ویشتم لمبر پرواز الوتکه چې په ۱۹۸۷ کال کې د دیترویت د هوایي ډګر څخه تر پرواز وروسته راولویده او ۱۵٦ نفره مسافر او د الوتکې کارکوونکي په کې ووژل شول، دا ممکن وو چې په ۱۵٦ محکمو کې ۱۵٦ بیلا بیلې دعواوي وشي اما دا به د وخت یو ضایع کول وای. په ځای یې دا ټولې قضیې د میچیګن فدرالي محکمې ته وړاندې شول. که دعوې کوونکي خپلې قضیې یو ځای هم نکړي، محکمه ددې امکان لري چې دا قضیې د مدعي علیه د غوښتنې پر اساس سره راټولې کړي او یا هم په خپل ابتکار دا کار وکړي.

ځیني وخت د داسي هوایي فاجعو یا ورته پیښو په وخت کې، تر فاجعې څو ساعته یا ورځې وروسته محکمو ته د ژر رسیدلو رقابت پیل کېږي ځکه د دعوې کوونکو وکیلان په بیړه کوشش کوي په دعوې کې خپل رول تثبیت کړي او هڅه کوي تر ټولو لمړی پداسې یو محل کې چې وشي کولای ډیر دعوې کوونکي جلب کړي او یا د یو ځای کولو د عملیې څخه د ځان په ګټه لویه برخه را جلا کړي، دعوې مطرح کړي. (عین شی د صنف په عملیاتو کې لیدل کېږي چې په راتلونکي فصل کې به وربانديې بحث وشي). محکمې د داسې قضیو د پاره د یوې خاصې لارې په میندلو کې پراخ صلاحیت لري، که څه هم دا قضیې بیلا بیلو محکمو ته وړاندې شوي وي.

اوس نو په دعوې کې پر مدعي علیه فکر وکړئ. رابنسن پر آوډي چې د موټر جوړونکی دی، د امریکا پر فولکس واګون، چې دا موټران واردوي، پر نړیوال فولکس واګون شرکت چې دا موټران پر موټر خرڅوونکو ویشي او د بحري لارې پر فولکس واګون چې دا موټران خرڅوي دعوې وکړه. دلته هم د مدعي په شان عین پرنسیپ د تطبیق وړ دی. د دوی ځینې یا ټول په بالقوه توګه د عین پیښو له کبله مکلفیت لري. یعني د یو آوډي موټر جوړول او خرڅول چې د هغه د تیلو د ټانک د خرابی له امله په یو ټکر کې د رابنسن د کورنۍ غړي ټپیان شوي دي. څرنګه چې د ټولو دفاع کوونکو د پاره به د دعوې بهیر ډیر ورته وي، دا به ډیره اغیزمنه وي چې محکمه ټول په یوه پلا تر غور لاندې ونیسي. په حقیقت کې که رابنسن غوښتي وای چې د هغه موټر پر چلوونکي هم دعوې وکړي کوم چې دده د موټر سره یې ټکر وکړ، ده به

خپله ادعا په عين محکمه کې کړي واى. په هغه صورت کې به لاکن نه يواځي مختلف شواهد او دلايل د هر مدعې عليه د مسوولیت په هکله وړاندي شوي واى، بلکه غوښتنې او مطالبات به هم فرق درلودای. که حقايقو نسبت اصلي قضيې ته توپير درلودای، په دعوې کې رابنسن ويلای شواى چې يا د بل موټر د چلوونکي بي احتياطي او غلفت ددې لوى تاوان باعث وګرځيد او يا د آوډي موټر نقص ددې تاوان سبب وګرځيد ؛ دوى بيا اجازه لري چې ټول بالقوه مسوول دفاع کوونکي يا مدعي عليهم محکمې ته را وغواړي او پرېږدي چې اسناد او شواهد څه وايي. (په اصلي قضيه کې رابنسن استدلال وکړ چې موټرچلوونکی بې احتيا طه وو او دده د موټر د تيلو خراب ټانک ددوى ټپونه او پرهارونه تر هغه چې بايد واى ډير سخت او ځوروونکي کړل).

که يو مدعي ټول بالقوه مسوول کسان محکمې ته را و نه بولي، اصلي مدعي عليه ښايي دا کار وکړي. تصور به وکړو چې رابنسن د ځينو دلايلو له مخې يواځي د بحري لارې پر فولکس واګون يعني هغه دلال چې ده ورځخه موټر رانيولی دى، دعوې کړې واى، بحري لارې کولای شواى د آوډي پر شرکت دعوې وکړي او هغه د مدعي عليه په توګه محکمې ته راوبولي، په دې اساس چې دا شرکت يا د قرارداد او يا د قانون له مخې مکلفيت لري د موټر د جوړونکي په توګه هغه تاوان ورکړي چې دلال يې ددې شرکت د محصول د خرابوالي له کبله مسوول بلل شويدى. د بحرې لارې فولکس واګون همدا شان کولای شواى د بل موټر چلوونکی محکمې ته راوبولي او ادعا وکړي چې دى بايد د خپلې بي احتياطی له کبله د رابنس د کورنی د غړو د ځينو ټپونو او پرهارونو مسوول وګڼل شي.

سربيره پردې چې بيلا بيلې خواوې په دعوې کې شاملیدای شي، په دعوې کې بيلا بيلې غوښتنې هم مطرح کېږي. دا کله چې رابنسن د آوډي پر دفاع کوونکو د محصول د مصونيت د تيوري پر اساس او د بل موټر پر چلوونکي باندي د بي احتياطی له کبله دعوې کوي څرګنده ده، اما دا تر دې هم پيچلې کيدای شي. د غوښتنو او مطالبانو يوه نوع مقابله غوښتنه يا counterclaim ده چې په هغه کې مدعي عليه پر مدعي دعوې کوي. که د بل موټر چلوونکی په ټکر کې ټپي شوى وي، کله چې رابنسن پر ده دعوې کوي، دى به دده په مقابل کې خپله غوښتنه مطرح کړي او ادعا به وکړي چې د رابنس بي احتياطي دده د ټپي کيدو باعث ګرځيدلی دى. دا غوښتنه په څرګنده توګه د هغه دعوې سره چې دده پر ضد شويده دومره نژدې اړيکه لري چې محکمه به وغواړي چې دى داغوښتنه په عين دعوې کې مطرح کړي، او که دا کار ونکړي، دى بيا نشي کولای د خپلو ټپونو د پاره جلا دعوې وکړي. په نورو قضيو کې د مقابلې مطالبې مسله د يوې قضيې د پيښو سره دومره نژدې اړيکې نلري چې بايد په عين وخت کې ورباندې غور وشي، خو مدعي عليه به دا محکمې ته وړاندې کړي ځکه دوې خواوې بيله هغه په محکمه کې دي او په هر حال دعوې کوي.

تصور وکړئ تر ټکر وروسته هري رابنسن چې سخت ندى ټپي شوى له موټر څخه راووځي او په چغو سره ووايي ليونيه وګوره څه دې وکړه او بيا د بل موټر چلوونکی پر مخ په سوک ووهي. موټروان پدې خاطر چې وهل شويدى هم د رابنسن په دعوې او هم په يوه جلا محکمه کې د وهل او ټکول کيدو په

خاطر ادعا کولای شي. که څه هم ډیر لږ شواهد ددوی پر مطالباتو هم د ټکر او هم د وهل کیدو په اړه پر یو بل اغیز کوي، خو متقابله مطالبه په اصلي قضیه کې مطرح کیدلای شي. اما څرنګه چې دا محاکمه ډیره پیچلې کوي که دفاع کوونکي د متقابلې مطالبې په توګه خپلې ټولې غوښتنې چې د مدعي پر ضد یې لري مطرح کړي پرته له دې چې دا مطالبې د اصلي پیښې سره نژدې اړیکې ولري، نو موټر چلوونکی کولای شي خپل د وهل کیدو مطالبه په یو بل وخت کې مطرح کړي.

یو بل ډول مطالبه هغه وخت منځ ته راځي چې دفاع کوونکي یعني مدعي علیهم په خپل منځ کې جګړه پیل کړي. فرض کړئ چې وروسته له ټکره آوډي موټر اور اخلي او د رابنسن د کورنۍ غړي او د بل موټر چلوونکی په کې سوځي او ټپي کېږي. رابنسن په خپله دعوې کې د آوډي شرکت او د بل موټر چلوونکی د مدعي علیه په توګه بولي او وایي چې د موټر چلوونکي بې احتیاطي د ټکر باعث وګرځید او د محصول خرابوالي نور هم دا تاوان ډیر کړ. موټر چلوونکی هم ښایي د آوډي شرکت پر ضد دعوې وکړي او ادعا وکړي چې دی ځکه ټپي شو چې یو خراب آوډي موټر اور واخیست. دا ډول ادعا د یوې نوي دعوې په شان ده پدې توپیر چې دا د مدعي علیهم تر منځ ده او دا د اصلي قضیې سره یوځای فیصله کیدلای شي.

څه پیښېږي چې که په یوه دعوې کې ډیرې خواوې وي؟

بعضا" په یوه قضیه کې ډیرې خواوې وي، معمولا" د مدعي پر خوا او کله هم د مدعي علیه پر خوا، چې ټول په یوه قضیه کې شامل وي او محکمه باید د دوی سره د یوې ډلې په شان چلند وکړي او نه د ځانګړي فرد په توګه. دا ډول دعوې ته ډله ایزه دعوې یا class action وایي، ځکه ځانګړي خواوې هر یو په محکمه کې ددوی په شان د یوې ډلې افرادو چې په خپله په دعوې کې ګډون نه کوي، نمایندګي کوي.

رابنسن ادعا وکړه چې دده د آوډي موټر ټانک عیب درلود او تیل ځینې څڅیدل او په یو عادي ټکر کې یې اور واخیست. په محاکمه کې دواړو خواوو د همدغه خاص ټکر د حقایقو په هکله اسناد وړاندې کړل، د رابنسن د کورنۍ د غړو ټپونه او د موټر د تیلو په ټانک کې عیب. تصور وکړئ چې زر نور آوډي موټرانو هم ټکر کړی وای او د هغو د تیلو ټانک هم اور اخیستی وای. ددې په هر یوه قضیه کې به د ټکر او ټپونو په هکله شواهد یو له بله مختلف وای اما د موټر د تیلو د ټانک په هکله شواهد به یو شان وای. پداسې حالت کې به دا معقوله وي چې د تیلو د خراب ټانک مسله په یوه محکمه کې حل او فصل شي او نه دا چې زر واړې. که یواځې یو څو مدعیان لکه هیري، کې، ایوا او جورج رابنسن وي، ځانګړي قضیې یو ځای مطرح کیدلای شي، اما که زر قضیې وي، دا به معقوله وي هغه د ډله ایزي یا صنفي قضیې په توګه وړاندې شي پداسې توګه چې د محصول د خرابۍ مسله د ټولو مدعیانو د پاره په یوه پلا حل و فصل شي. راشئ یو ګام وړاندې کښېږدو، که زر آوډي موټران ټکر وکړي، نو ښایي پنځوس زره نور آوډي موټران

وي چې د تيلو ټانک يې خراب دی اما هغو ټکر ندی کړی. ددې هر موټر مالک د آوډي شرکت پر ضد ددعوې کولو د پاره دليل لري او هغه دا چې دمخه تردې چې ددوی موټر هم اور واخلي بايد آوډي دوی ته د موټر د ټانک د جوړولو مصرف ورکړي.، اما دا به د دوی د هر يو د پاره غير عملي وي چې په ځانګړي توګه دعوې وکړي او يا دا پنځوس زره د موټر مالکان هر يو د ځان د پاره د دفاع وکيلان ونيسي او بيا يو ځاي دعوې وکړي.اما يو څو نفره د آوډي موټر مالکان کولاي شي د ځان او د هغو نورو د پاره چې په مشابه حالت يا similarly situated کې وي په ډله ايزه يا صنفي توګه دعوې وکړي. مشابه حالت د هغو کسانو د پاره يوه حقوقي اصطلاح ده چې مشترکې غوښتنې او مطالبات لري.

د صنفي دعوې څخه تر ټولو زياته استفاده د ډله ايز تاوان په قضيو کې کېږي. يعني د تاوان غوښتنې د ډيرو هغو کسانو لخوا کېږي چې د عين پيښې څخه متضرره شوي وي او يا د عين خطر سره مخامخ شوي وي. په ټول هيواد کې څلورلس زره ښوونځيو چې په هغو کې دasbestos آسبيست د پيدا کولو او بيا د هغه د ليري کولو د پاره ډير زياد مصرف وشو په ډله ايزه يا صنفي توګه د آسيبيست د توليد کوونکو کارخانو پر ضد دعوې وکړه. (آسبيست يوه ماده ده چې په ودانيو کې د بيلا بيلو برخو د جلا کولو د پاره د عايق په توګه ورځخه استفاده کېږي او وروستني طبي تحقيقات شيې چې ددې مادې څخه استفاده د ناروغۍ باعث ګرځي ژ.) د شيل شرکت د تيلو د تصفيه کولو په تاسيساتو کې چاودنې د صنفي دعوې باعث وګرځيد چې اتلس زره کسان په کې ټپي شوي وه. د آجنت آرنج په دعوې کې د ويتنام د جګړې ګډون کوونکو او د دوی د کورنيو غړو د آجنت آرنج د توليد کوونکو پر ضد دعوې وکړه. آجينت آرنجAgent orange يوه کيمياوي ماده ده چې د دښمن د زراعتي حاصلاتو او ځنګلونو د له منځه وړلو د پاره ورځخه استفاده کېږي او که عسکرهغه ته معروض شي په راز راز ناروغيو اخته کېږي. پدې صنفي دعوې کې تقريبا" دوه نيم ميليونه هغه عسکر چې د ويتنام په جګړه کې يې ګډون کړي وو او د دوی د کورنيو غړي شامل وه.

دعوې کوونکو ته په اجازه ورکولو سره چې په صنفي توګه دعوې وکړي، محکمې هڅه کوي د مدني طرزالعمل متضاد هدفونه انډول کړي. آخري هدف البته دادی چې د عامه قانون د مقرراتو ارزښتونه او سياستونه تطبيق شي. که ډير ځانګړي دعوي کوونکي وي چې هر يو يې نسبتا" کوچني غوښتنې لري، دا کار يواځي د صنفي دعوې له لارې تر سره کيدای شي. که يو هوايي شرکت په غير قانوني توګه د سفر د ټکت بيه يو لږ لوړه کړي، د الوتکې يو مسافر به د تکت د پاره ښايي يو څو ډالره زيات ورکړي. او يا د اعتبار کارت درلودونکی که بانک د ربح د درجې په محاسبه کې اشتباه وکړي، د اعتبار د کارټ درلودونکی ښايي يو څو سنټه زيات ورکړي. څرنګه چې دا مطالبات ډير کوچني او جزيي او د دعوې کولو خرڅ ډير لوړ دی، نو دا د هر مستهلک په ګټه نده چې په ځانګړي توګه د هوايي شرکت او يا بانک پر ضد دعوې وکړي. خو د ټولو مسافرو او يا د اعتبار کارټ د استفاده کوونکو ډله ايز تاوان ډير زيات دی. د ټولو مستهلکينو له نامه څخه يوه دعوې کول د صنفي دعوې په توګه دا تضمينوي چې قانون به

په خپل سر د نرخونو د لوړولو او یا ربح د نرخ د غلطولو پر ضد تطبیق شي او هغو کسانو ته به چې په ناحقه تاوانې شوي دي تاوان ورکړل شي.

په یوه صنفي یا ډله ایزې دعوې کې د کوچنیو مطالباتو راټولول دا ګټه هم لري چې د دعوي د سیستم څخه په اغیزمنه توګه استفاده وشي. په ډله ایزه دعوې کې همیشه لږ تر لږه د قانون یوه مسله شامله وي چې هغه د ټولو په غوښتنو کې مشترکه ده، لکه آیا د موټرد تیلو ټانک خراب وو؟ او یا آیا هوایي شرکت په خپله نرخ لوړ ټاکلي دی او که نه؟ ددې حقایقو یو وار څېړل او پر هغه په یوه وار فیصله کول تر دې ډیر ښه او اغیزمنه ده چې هر یو په ځانګړي توګه خپله قضیه وړاندې کړي او محکمه هم پر عین موضوع بیا او بیا فیصله وکړي.

ډله ایز اقدام کول د انصاف په هکله اندیښنې هم له منځه وړي. د ډله ایزاقدام هدف دادي هغه بې انصافي له منځه یوسي چې ښایي پر عین قضیې باندې په بیلا بیلو محکمو کې د بیلا بیلو قضاوتونو په نتیجه کې رامنځ ته را شي. د آوډي موټر د تیلو ټانک یا خراب دی یا ندی. دا به ډیر د تعجب ځای وي چې که په سلو قضیو کې پنځوس محکمې حکم وکړي چې د موټر د تیلو ټانک خراب دی او پنځوس نورې ددې خلاف حکم وکړي. اما ډله ایز اقدام د انصاف په هکله خپلې ځانګړي اندیښنې را منځ ته کوي. د یوې ډلې دغړي د پاره چې په خپله یې په دعوې کې فعاله ونډه نده اخیستې د محکمې حکم بشپړ اعتبار لري. د ایجنت اورنجAgent orange یو قرباني د مثال په توګه یواځې هغه شی تر لاسه کوي چې د ډله ایزې دعوې په برخه کې محکمې ټاکلی دی او دی بیا نشي کولای د زیات شي یا ځانګړي نتیجې د لاس ته راوړلو د پاره دعوې وکړي. لهذا محکمې ډیر احتیاط کوي او د ډله ایزي دعوې ټولو غړو ته په خاصه توګه روښانه کوي چې د ډله ایز یا صنفي اقدام د غړو سره به څه ډول چلند وشي او دوی ته ددې فرصت ورکول کېږي چې په ډله ایز اقدام کې د ګډون په هکله خپله پریکړه وکړي او اطمینان تر لاسه کړي چې د ډله ایز اقدام استازي او د هغو وکیلان په منصفانه توګه د غایبو غړو د ګټو څخه منصفانه استازي توب کولای شي او که نه؟

ډله ایزه دعوې د ډلې د استازو په نامه اقامه کېږي، یعني د ډلې د یو څو کسانو لخوا چې د ډلې د ټولو غړو د ګټو څخه نمایندګي کوي. رابنسن کولاي شواي د آوډي موټر د ټولو خاوندانو د ګټو استازي توب وکړي، ځکه دده مطالبه د ټولو نورو د مطالبو سره یو شان ده. اما د یو ښه استازي د پاره یواځې د ډلې غړیتوب کافي ندی. څرنګه چې د دعوې په جریان کې د ډلې نور غړي په محکمه کې حاضر ندي او نشي کولای په مستقیمه توګه د دعوې د بهیر پرځرنګوالي اغیز ولري، د انصاف غوښتنه داده چې محکمه تحقیق وکړي چې آیا آستازي په منصفانه او مناسبه توګه د ډلې د نورو غړو د ګټو ساتنه او دفاع کولاي شي او که نه؟

د یو عملي مسلې په توګه، دا غوښتنه چې نومول شوي استازي باید په مناسبه توګه د غایبو غړو استازیتوب وکړي، دا غوښتنه هم کوي چې د قانوني وکیلانو دا توانمندي هم ارزیابي شي. اکثره ډله ایزاقدامات د قانوني وکیلانو لخوا ترتیب او تنظیمېږي اونه د نومول شوو استازو لخوا. د جراحت او تاوان

مشهور شخصي وکيلان د مثال په توګه د ډله ايز تاوان او زخمي کيدو په دعوې کې ابتکار په لاس کې نيسي او څيړنه کېږي چې آيا هر ځانګړي دعوې کوونکي ورسره تماس نيولې، يا دوی د لږې تجربې وکيلانو لخوا ورپيژندل شوي دي او که پخپله د مشتريانو لخوا استخدام شوي دي. په ډيرو لويو ډله ايزو اقداماتو کې قانوني وکيلان د محکمې تر څارني لاندې د هرې خوا سره د حقوقي مشورې د پاره يو مشاور ټاکي او د دفاع د وکيلانو يوه کميټه منځ ته راوړي ترڅو د ټولو خواوو د پاره د دعوې پر بهير څارنه وکړي.

کله چې ډله ايز اقدام تاييد شو، محکمه په يو غير عادي طرزالعمل کې هڅه کوي چې د ډلې د ټولو غړو ګټې په ښه توګه وساتل شي. په اکثرو ډله ايزو اقداماتو کې د استازو څخه غوښتل کېږي چې د ډلې ټولو غړو ته د اقدام په هکله خبر ورکړي او ددوی حق ته اشاره وکړي چې کولای شي د ډلې د غړيتوب څخه ووځي او پخپله په ځانګړي توګه دعوې وکړي. د مثال په توګه د رابنسن څخه غوښتل کېږي چې د ټولو هغو کسانو د نومونو لست تر لاسه کړي چې آوډي موټران يې اخيستي دي او د خپل اقدام په هکله هغوی ته خبر ورکړي. او د دوی څخه ښايي وغوښتل شي چې په ورځپاڼو کې اعلانونه خپاره کړي تر څو د ټولو هغو کسانو سره تماس ونيول شي کوم چې دوهم لاس آوډي موټران يې رانيولي دي او د شرکت د اخيستونکو د نومونو په لست کې يې نومونه نشته. غړو ته بايد د حل د لارې د وړانديزونو په هکله هم معلومات ورکړل شي او دوی ته ددې فرصت ورکړل شي مخکې لدې چې قاضي يوه د حل لاره غوره کړي، دهغه د منصفانه توب په هکله خپل نظر څرګند کړي.

د ډله ايزو اقداماتو قانون ډير پيچلی او د هغه په هکله د نظر اختلاف ډير دی. بعضې محکمې د ډله ايز اقدام څخه د يوې اغيزمنې وسيلې په توګه چې ډيرې مطالبې او غوښتنې په نسبتا" ګړندي توګه حل او فصل کيدای شي استفاده کوي. حتې که يو صنفي يا ډله ايز اقدام پيچلی او ستونزمن هم وي، بيا هم تر دې ښه دی چې زر کسان يا لس زره کسان په ځانګړي توګه خپله دعوې محکمې ته وړاندې کړي. نورې محکمې په ډيرو لويو قضيو کې ددې لارې څخه استفاده نه خوښوي او پدې عقيده دي هر څومره چې د عنعنوي دعوې د نمونې څخه ليرې توب وشي (يعني يوه دعوې چې د دوو خواو تر منځ کېږي) په هغومره اندازه محکمه د پرابلم سره د برخورد توانمندي له لاسه ورکوي.

څرنګه دعوې کوونکي د خپلې قضيې په هکله حقايق تر لاسه کوي.؟

دا حقايق په يوه پروسه کې چې هغه ته کشف وايي تر لاسه کېږي. دا آسانه ده وپوهېږو چې يو طرف د دعوې په جريان کې د کومو شيانو پوهيدلو ته اړتيا لري. د مثال په توګه، رابنسن پوهېږي چې دوی تر ټکر مخکې په کوم سرعت موټر چلاوه او د دوی ټپونه څومره ارت او پراخ وه. په بله خوا کې د آوډي شرکت پوهېږي چې د موټر د تيلو ټانک څنګه ډيزاين او جوړ شوي دي. اما د دوی هر يو هغه معلومات

غواړي چې مقابل لوری يې لري. رابنسن غواړي د موټر د تيلو د ټانک په هکله وپوهېږي او آوډي غواړي د ټکر او زخمونو په باره کې معلومات تر لاسه کړي.

دا هم ممکنه ده چې د محاکمې غوښتنه وشي بيله دي چې هره خوا مخکې له مخکې په هغه څه خبر شي چې مقابل لوری په پوهېږي. دا د عامه حقوق عنعنوي سيستم وو چې په هغه کې به حقايق يواځې لږ لږ د عرض يا شکايت کولو په جريان کې راسربيره شول او د دعوې خواووبه مخکې له محاکمې ددې امکان نه درلود په هغه څه خبر شي چې مخالف طرف په پوهيده. خو د مدني طرزالعمل په مدرن سيستم کې د يو ښکاره او څرګند سيستم څخه استفاده کېږي چې په هغه کې د دعوې هر طرف ددې امکان مومي د دعوې د پيل څخه په مخکې مرحله کې په ټولو هغو حقايقو خبر شي چې د دعوې د پاره مهم ګڼل کېږي. د هغو معلوماتو د ترلاسه کولو د پاره چې د رقيب په اختيار کې دي، او يا د رقيب څخه په آسانۍ سره تر لاسه کيدای شي، که څه هم هغه ښايي په بل ځای کې هم تر لاسه شي، يو طرف کولای شي د خپل مخالف لوري سره تر قسم لاندې مرکه وکړي چې دې ته شهادت يا deposition وايي. کولای شي پوښتنې په ليکلي توګه وړاندې کړي چې دې ته پوښتن ليک يا interrogatories وايي، د اسنادو يا نورو فيزيکي شواهدو د تهيه کولو او وړاندې کولو غوښتنه وکړي، د مخالف طرف څخه وغواړي چې د بدني معاينې غوښتنه ومني، يا دمقابل طرف څخه وغواړي پر حقيقت اعتراف وکړي او مهم حقايق د دعوې بهير ته وړاندې کړي. فدرالي محکمو ددې لارې چې د يو طرف څخه غواړي په داوطلبانه توګه خپل رقيب ته د دعوې په اړه ټول هغه حقايق چې دی په خبر دی وړاندې کړي، د کشف ساحه ډيره پراخه کړيده. شهادت د دعوې د بلې خوا يا يو څوک چې د قضيې د حقايقو په هکله معلومات لري شفاهي آزمويته ده. شهادت هماغه پوښتنو يا تحقيق کولو ته ورته ده چې د محاکمې په وخت کې کېږي. (په محاکمه کې قاضي يا څارنوال په مستقيمه توګه د متهم يا شاهد څخه د قضيې د حقايقو په باره کې پوښتنې کوي ژ). په شهادت کې چې څارنوال د قضيې د يو طرف يا شاهد څخه پوښتنې کوي او شاهد تر قسم لاندې هغه ته ځواب ورکوي، هغه ټول ټکي په ټکي درج کېږي. توپير يې په دې کې دی چې په شهادت کې پوښتنې د قاضي په حضور کې نه کېږي او د دعوې دمقابل طرف څخه د معلوماتو او څرګندونو د ثبوت د پاره بالمقابلې پوښتنې يا cross examination نه کېږي. په عوض کې د محکمې يو خبريال شاهد ته قسم ورکوي او د هغه ټول شهادت ثبتوي. د يو چا څخه د شهادت په اخيستلو کې، څارنوال کولای شي وپوهېږي چې دا شخص په کومو شيانو خبر دی. يوې پوښتنې ته ځواب ښايي بلې پوښتنې ته لاره پرانيځي. که شاهد په محاکمه کې په ضديت او مخالفت شهادت ورکړي، په شهادت کې د شاهد پر معلوماتو تکيه کېږي، پدې توګه څارنوال کولای شي مخالف اسناد او شواهد رامنځ ته کړي او يا د شهادت او وروسته په محاکمه کې د شهادت تر منځ د تضادونو څخه استفاده وکړي. دا دواړو وکيلانو ته ددې چانس ورکوي چې په محاکمه کې د شاهد د څرګندونو څرنګوالی ارزيابي کړي، يعني نه يواځې داچه هغه په محاکمه کې څه وايي، بلکه دده خيرې څومره اغيزناکه او د اعتبار وړ دي.

د شهادت د اخیستلو تاوان د هغه په لوړ خرڅ کې دی. د یو خاص شهادت ورکولو په مسله کې به د دواړو خواوو وکیلان حاضر وي او ددوی حق الزحمه لوړه خیژي او د محکمې خبریال ته هم باید چې پیسې ورکړل شي. ددې مصرف د راکښته کولو یوه لاره داده چې پوښتنې په مکتوبي توګه (interrogatories) ورکړل شي چې هغه ته باید تر قسم لاندې ځواب وویل شي. د وکیل کار دادی چې دا پوښتنې چمتو او وړاندې کړي او پخپله به په شهادت کې حاضر نه وي. لهذا لیکل شوي پوښتنې به ډیر ارزان تمام شي، مخصوصا" پدې خاطر چې د داسې پوښتنو د پاره معیاري فورمې شته او د هغه څخه په ټولو عادي قضیو کې استفاده کېږي. بیله شکه چې آوډي شرکت به رابنسن ته د پوښتنو همدا معیاري فورمه چې د فردي جراحت یا ټپي کیدو په قضیو کې ورڅخه استفاده کېږي ولېږي او خواهش به وکړي چې د خپلو ټپونو او طبي معالجې په برخه کې په تفصیل معلومات ورکړي. په پوښتن لیکونو کې پر مخالف طرف دا مسوولیت هم ایښودل کېږي چې په صادقانه توګه د هغو حقایقو په هکله پوښتنو ته ځواب ووایي چې په پوښتن لیک کې ورڅخه شوي دي. اما د پوښتن لیکونو نقص پدې کې دی چې هغه انعطاف پذیره اوspontaneous یا آني او فوري ندی. د ځواب ورکوونکي ځوابونه اکثرا" د وکیل لخوا داسې جوړېږي چې یواځې پوښتنې ته ځواب ورکړي، ځوابونه په خاصه توګه مرموز او محدود وي او هڅه کېږي چې تر لازم حد په هیڅ توګه زیات معلومات ورنکړل شي. ځوابونه پداسې شکل ورکول کېږي چې حتي د مقابل لوري وکیل هم نشي کولای د یو ځواب څخه نوري پوښتنې راوباسي. وکیل باید ټولو هغو پوښتنو ته پیش بین وي چې ښایي وشي او هغه ټولو ته په اصلي پوښتن لیک کې ځای ورکړي.

د شهادت یا پوښتن لیک سره په رابطه کې، یا په یو جلا غوښتنه کې، د دعوې یو طرف کولای شي د مقابل طرف څخه وغواړي د قضیې په هکله اسناد او شواهد وړاندې کړي. رابنسن کولاي شي د آوډي شرکت څخه د موټر د تیلو د ټانک په هکله ټول د انجنیرۍ رپورتونه او د آزمایښتونو د نتیجو اسناد وغواړي، او آوډي هم کولای شي د رابنسن څخه دده طبي رپورت وغواړي. که د یو چا فیزیکي یا دماغي حالت په قضیه کې شامل وي، مخالف لوری کولاي شي د محکمې څخه وغواړي چې دده رقیب دې طبي معاینات وکړي. او دا بل لوری باید څرګند کړي چې د یو متخصص سره چې حاضر دی په محاکمه کې شهادت ورکړي تماس لري او څرګند کړي چې متخصص په څه باره کې شهادت ورکوي.

او بالاخره، که یو طرف پدې عقیده وي چې د ځینو حقایقو په باره کې جنجال وجود نلري، دا طرف کولاي شي د مقابل لوري څخه خواهش وکړي چې پر دې حقیقت اعتراف وکړي، پدې توګه هغه مسایل چې دعوې پرې کېږي نژدې او مشخص کېږي. که آوډي پدې عقیده وي او یا داسې اسناد ولري چې وښیي هري رابنسن د موټر د ټکر په وخت کې په ډیر سرعت روان وو، د رابنسن وکیل ښایي د رابنسن څخه غوښتنه وکړي چې دا ومني او اعتراف پرې وکړي. که دی پوهېږي چې دا حقیقت لري، دی نشي کولاي انکار وکړي چې ده خپل د موټر سرعت زیاتاوه او باید پر هغه اعتراف وکړي. دا به ټوله قضیه پای ته و نه رسوي، (که څه هم دی ډیر په سرعت روان وو، خو موټر داسې نه وو چې باید ټکر وکړي) خو لږ تر لږه یوه موضوع د محاکمې څخه لیري کوي.

له محاکمې مخکې کشف نسبت د ناڅاپي محاکمې سیستم ته ډیرې ښیګڼې لري او د یوه منصفانه او اغیزمنې دعوې د پاره لاره هواروي او د عامه حقوقو ارزښتونه رابرسیره کوي. په عملي سطح دا سیستم په لمړني مرحله کې د شواهدو ټولولو ته پاملرنه لري او هغه معلومات ساتي چې ښایي د محاکمې په وخت کې موجود نه وي. څرنګه چې بعضا" مدني قضیې کلونه غواړي چې محاکمې ته وړاندې شي، نو ښایي د شاهدانو د پیښې جزییات هیر شي، یا ښایي شاهدان وفات وکړي، یا اسناد او شواهد په یو شکل ورک شي یا له منځه ولاړ شي. کشف تر محاکمې ډیر دمخه کېږي یعني هغه وخت د اسنادو او شواهدو ټولول تازه وي او ډیر احتمال لري د پیښې په هکله اسناد او شواهد لا پخپله وجود ولري.

تر دې لا مهم داچه د کشف له لارې د دعوې خواوې یو د بل د قضیو په خاکه او طرح خبرېږي او روښانه کېږي چې پر کومو مسایلو حقیقتا" جنجال وجود لري. دا د دعوې د خواوو سره مرسته کوي چې ځانونه د محاکمې د پاره چمتو کړي او د حل د لارې په هکله یو د بل سره خبرې پیل کړي، ځکه دا څرګندوي چې په قضیه کې کوم مسایل شامل دي او هره خوا د خپل موقف په قوت او ضعف باندې پوهېږي. کله چې آوډي د رابنسن څخه واوري چې موټر په لوړ سرعت کې ټکر شو، یعنې د شا لخوا ووهل شو، د آوډي دفاع کوونکي ښایي داسې نتیجې ته ورسېږي چې دوی ضرورت نلري زیاتې پیسې خرڅې کړي تر څو ټولو ته څرګنده کړي چې په کښته سرعت کې دا موټر ټکر نشي کولاي او د ټکر یواځنۍ لاره داده چې مخامخ د یو بل موټر سره ولګېږي. آوډي به پدې هم وپوهېږي چې د رابنسن او دده د کورنۍ د غړو ټپونه څومره لوي او جدي دي او هري رابنسن بې احتیاطه موټر نه چلاوه او دی به په محاکمه کې یو ښه شاهد وي. دا فکتورونه به آوډي ته قناعت ورکړي چې ددې چانس ډیر دی چې په محکمه کې به د ډیر لوی تاوان په ورکولو محکوم شي او پدې توګه به د آوډي د دفاع وکیلان تشویق شي چې موضوع په خپل منځ کې فیصله کړي.

که دوی محکمې ته ولاړ شي، دا محاکمه به احتمالا" منصفانه وي، که دواړه خواوې مناسب فرصت تر لاسه کړي چې مخکې له مخکې ټول مهم معلومات ارزیابي کړي.

بالاخره، کشف دا امکان ورکوي چې داسې اقدام یا دفاع وشي چې د بشپړ کشف د نه موجودیت په صورت کې نشي کیدلای، او د دعوې خواوو ته اجازه ورکوي چې خپل ټول اسناد او شواهد چې د مربوط قانون د مقرراتو د تطبیق سره اړیکې لري وړاندې کړي او پدې توګه د قانون اساسي ارزښتونه رابرسیره کېږي. رابنسن به هیڅکه نه وای پوهیدلی او نه به یې دا ثابت کړی وای چې دده د موټرد تیلو ټانک خراب دی. دی هغه وخت وپوهید چې د اوډي شرکت د انجنیرانو د ډیزاین، آزمایښتونو او مطالعاتو اسناد یې تر لاسه کړل، او آوﻩي به هم ښایي هیڅکله و نه پوهېږي چې آیا رابنسن د خپل موټر په ټول باکس کې د تیلو ډک څوګیلنه ځای پر ځای کړي وه او پدې توګه یې د موټر په اور اخیستلو کې لاس درلود. (د کشف د اهمیت یو ډیر ښه مثال په طبي قضیو کې د بې احتیاطیو په موضوع کې رابرسیره کېږي. کله چې یو ناروغه ته د جراحي عملیات په وخت کې تاوان رسول کېږي، ناروغه به تر هغه ونه پوهېږي چې دا تاوان ده ته د ډاکتر د غفلت او بې احتیاطۍ په نتیجه کې رسیدلی دی تر څو چې

ناروغه د کشف له لارې طبي اسناد تر لاسه نکړي او د هغو نورو ډاکټرانو او نرسانو شهادت چې د عملیات په خونه کې حاضر وه لاس ته را نه وړي.) یواځې هغه وخت چې د دعوې خواوې کشف وکړي او په محاکمه کې ټول مهم اسناد او اړوند شواهد وړاندې کړي، د قانون اړوند مقررات به په صحیحه توګه تطبیق شي.

د کشف دا رول څرګندوي چې د کشف ساحه یعني داچه د دعوې خواوې کوم معلومات تر لاسه کولای شي او ددې معلوماتو د لاس ته راوړلو د پاره باید د کومو لارو او وسیلو څخه استفاده وشي، دا هلي ځلي باید ډیرې پراخې وي او د محاکمو په اکثره سیستمونو کې همداسې ده. اما د کشف ساحه د خنثې کوونکو عواملو له کبله محدوده ده. ددې عواملو تر ټولو مهم هغه بار دی چې کیدای شي پر وخت او مصرف باندې یې کیښودل شي او زحمت او ناآرامي ډیره کړي. آوډي شرکت کولای شي رابنسن ته د اوږدو پوښتن لیکونو په لېږلو چې باید د ټکر د ټولو جزییاتو، خپل د موټروانۍ د سوابقو، دخپل صحي ژوند او نورو موضوعاتو په هکله مفصل معلومات ورکړي، ښایي رابنسن ډیر بې حوصلې او ناآرامه کړي او ښایي دوه طرفه یو بل مجبوره کړي چې د څو ورځو د پاره د شهادت ورکولو یا د صحي معایناتو د کولو د پاره حاضر شي. ددې د پاره چې داسې غوښتنو ته ځواب ورکړل شي، دوی باید د خپلو وکیلانو سره مشوره وکړي، د خپلو ثبت شوو اسنادو پسې وګرځي، د خپل کار د ځای څخه رخصت واخلي او د شهادت ورکولو د پاره د آوډي شرکت د وکیل دفتر ته ولاړ شي. د بلې خوا رابنسن هم کولای شي د آوډي شرکت په هکله څېړنه پیل کړي او د هغه دوسیې او ثبت شوي اسناد ولټوي، او څرنګه چې په پیل کې نه پوهېږي چې په موټر کې څه شی خراب دی، نو د موټر د دیزاین، آزمایښتونو او انجنیري راپورونه، کوم شکایات چې ددې موټر څخه وجود لري او نور اسناد چې د دعوې د پاره لازم دي ټول د آوډي د شرکت څخه وغواړي او آوډي شرکت هم مجبوره دی خپلې دوسیې ولټوي او ټولو غوښتنو ته ځواب ووایي.

د کشف د پاره پدې کار کې د زیاتې کولو او مبالغې خطر حقیقي دی، ځکه کشف د متخاصمې دعوې یوه برخه ده چې د هر لوری د پاره د دفاع د وکیلانو لخوا پر مخ بیول کېږي. په اکثرو حالاتو کې د دعوې خواوې پوښتن لیکونه لېږي، شهادت ورکول کېږي او بیله دې چې د محکمې څخه اجازه واخیستل شي د مقابل لورې څخه د اسنادو غوښتنه کوي.اما څرنګه چې بعضا" حالت تر کنټرول وځي، محکمو پر دې بهیر محدودیتونه لګولي او پر هغه څارنه کوي.

لمړی، د کشف له لارې د ځینو لاس ته راغلو معلوماتو څخه استفاده د محکمې د مقرراتو له مخې محدوده ده. د مثال په توګه طبي معاینات د یو انسان په خصوصي ژوند کې مداخله ده او دا یواځې په هغه صورت کې غوښتل کیدای شي چې د دعوې د یوه خواه طبي حالت د دعوې اصلي مسله وي. که د رابنسن د میرمنې کې رابنسن د ټپونو په هکه اختلاف وجود ولري، ددې څخه غوښتنه کیدای شي چې معاینات وکړي، خو د پیښې یو عیني شاهد دې ته نشي مجبوره کیدلای چې د خپلو سترګو معاینات وکړي. نور مقررات بیا د پوښتن لیکونوشمیر چې وړاندې کېږي او یا د شهادت ورکولو شمیر چې د محکمې د اجازې پرته صورت مومي محدودوي.

دوهم، (دا یو متضاد حالت دی)، ځیني محکمې د فدرالي سیستم تر مشری او لارښوونې لاندې د کشف پروسه پرانیستلې ده. د مدني طرزالعمل فدرالي مقررات اوس د دعوې د خواوو څخه غواړي ډیر ژر ټول هغه معلومات چې د دعوې د پاره مهم دي وړاندې کړي. پدې جمله کې د هغو اشخاصو نومونه چې معلومات لري او هغه مسایل چې دوی په پوهېږي، د ملکیتونو او نورو مهمو اسنادو یوه کاپي، د تاوان مقدار او اندازه چې غوښتل کېږي او ټول هغه شواهد چې ددې غوښتنې د ثبوت د پاره وجود لري او د هغه بیمې شرکت نوم چې په بالقوه توګه دا تاوان ورکوي، شامل دي. د مخالفو خواوو څخه دا غوښتنه چې په لمړۍ مرحله کې هر هغه څه چې دوی په پوهېږي ووایي ددې د پاره ده چې د هغو لوبو او اضافي فشارونو او بار څخه چې د کشف په پروسه کې منځ راځي مخنیوی وشي.

او بالاخره، که څه هم د کشف پروسه تر ډیره حده پخپله د دفاع وکیلانو لخوا پر مخ بیول کېږي، د محاکمې قاضي دا صلاحیت لري پر هغه څارنه او نظارت وکړي. بعضي معلومات لکه په شهادت کې د ویل شوي عدد یا رقم څخه یواځې د قاضي په اجازه استفاده کیدلای شي. او که یو طرف د بل طرف د کشف پر تاکتیک اعتراض وکړي، لکه د پوښتنو طبعت په شهادت کې، د غوښتنو شمیر، چې هغو ته باید ځواب وویل شي، یا د غوښتل شوو معلوماتو اختصاصي طبعت، اعتراض کوونکې خوا کولای شي د قاضي څخه وغواړي د کشف د محدودیدو په اړه حکم صادر کړي.

تر محاکمې دمخه نور څه پیښېږي؟

په فلمونو او تلویزیون کې معمولا" د دعوې د بهیر د محاکمې برخې ته پاملرنه کېږي. په حقیقت کې محاکمه اساسا" د قضیو په نسبتا" لږ شمیر کې پیښېږي او هغه هم د یوې اوږدې دعوې په پای کې صورت مومي. د محاکمې د بهیر د پیل څخه په مخکې مرحله کې کشف مهم رول لري. اما د محاکمې د پیل څخه په مخکې مرحله کې همدا شان قانوني لارې څېړل کېږي او حقایق راټولېږي، د دعوې د خواوو تر منځ مذاکرات کېږي د طرز العمل او نورو مهمو مسًلو په باره کې د محکمې سره مشوره کېږي او د دعوې د پر مخ بیولو د پاره ډیر نور کارونه صورت مومي.

هغسې چې مو ولیدل، ځیني وخت یوه قضیه کې مخکې لدې چې محاکمې ته وړاندې شي د محکمې لخوا پای ته ورسېږي، یعني محکمه حکم کوي چې سره لدې چې ټول شوي حقایق درست او حقیقي دي، مدعي د خپل اقدام د پاره داسې یو سبب چې قانونا" پیژندل شوي وي، نلري. دا پریکړه د شکایت یا د عریضې د وړاندې کولو په وخت کې کیدای شي. وروسته له هغه چې خواوې د کشف له لارې د قضیې په هکله د اسنادو او شواهدو د ټولولو په کار پیل وکړي، بله اړونده پیښه د مختصر قضاوت یا summary judgment ده. (دلته د مختصر اصطلاح پدې معني ده چې حکم بیله دې چې بشپړه محاکمه تر سره شي صادر کېږي. ژ) یو طرف هغه وخت مختصر قضاوت تر لاسه کوي چې محکمه وټاکي چې په حقایقو کې کوم تضاد نشته (په عامه توګه دې ته ویل کېږي چې په قضیه کې د مادي حقیقت اساسي مسایل وجود

نلري) او کله چې په حقايقو کې کوم اختلاف نه وي او څرګنډه وي چې د قانون له مخې يو طرف بايد دعوې وګټي. محکمه کولای شي پر ټولې قضيې د مختصر قضاوت له لارې فيصله وکړي او ټوله دعوې پای ته ورسوي، يا يې يوه برخه پای ته ورسوي او پدې توګه هغه مسايل چې بايد فيصله پرې وشي لږ کړي او يا د دعوې يوه خوا د دعوې د بهير څخه وباسي. پدې توګه محکمه کولای شي بعضې قضيې او مسلې چې په محاکمه کې د بريالیتوب چانس نلري تصفيه کړي او ددې لارې د لوړ خرڅ، تعويق او نورو ناخوالو مخنيوی وکړي او يا د قسمي مختصر قضاوت په صورت کې، کولای شي مسايل سره نژدې کړي او د محاکمې جريان آسانه کړي.

تر محاکمې دمخه وخت کې لکه د متخاصمې دعوې د بهير په اوږدو کې، د دعوې خواوې د دعوې د مسير په ټاکلو کې مهم رول لوبوي. اما قضايي سيستم ته په مخ په زياتيدو توګه د پيچلو قضيو په وړاندې کيدو، پراخ کشف او په محاکمو کې د دعوې د شمير په زياتيدو سره مخصوصا" په شاروتو کې قاضيان مجبوره شوي دي چې د اغيزمنتوب د زياتوالي په خاطر د دعوې د بهير په تنظيمولو کې فعاله برخه واخلي. په تر محاکمې دمخه بهير کې د قضايي انتظام د پاره بيلا بيل شکلونه وجود لري. د محکمې په احکامو او رويه کې اکثرا" څرګندېږي چې د دفاع وکيلان بايد تر محاکمې مخکې په يو لړ غونډو کې د قضيې د حالت دارزيابي کولو په مقصد برخه واخلي، مقدماتي مسايل حل او فصل کړي او په عمومي توګه قضيه مخ ته بوزي. په لمړنۍ مرحله کې قاضي د کشف په هکله يوه غونډه جوړوي چې په هغه کې ټولې خواوې د قضيې په اړه د کشف د پروګرام او اندازې په هکله پر يو پلان موافقه کوي. کله چې د محاکمې وخت نژدې شي، اکثره محکمې تر محاکمې دمخه د يوې غونډې د جوړيدو غوښتنه کوي چې په هغه کې د دفاع وکيلان، قاضيان او بعضا" په دعوې کې اصلي کسان برخه اخلي. د قضايي حوزې د مقرراتو او دودونو له مخې او داچه قاضي څنګه تمايل لري، تر محاکمې دمخه غونډه کې د قضيې وروستنۍ شکل د محاکمې د پاره آماده کېږي. پدې غونډه کې بيا هم هڅه کېږي خواوې روغې ته تشويق کړي. په غونډه کې به وکيلان هڅه وکړي هغه حقايق چې د هغه په هکله جنجال وجود نلري تصريح کړي، پاتې مسايل سره نژدې کړي، د هغو شاهدانو د نومونو لست چې دوی يې غواړي د شهادت د پاره محکمې ته راوبولي وړاندې کړي او د محاکمې د پيل د وخت په هکله به موافقه وکړي. که دوی پر دې مسايلو موافقې ته ونه رسېږي، قاضي به پخپله د هغو په هکله تصميم ونيسي. قاضي به همدا شان د اسنادو او شواهدو او نورو مسايلو په اړه هم پريکړه وکړي.

تر محاکمې د مخه پروسې يوه مهمه او اساسي وظيفه داده چې د دعوې خواوې مخکې لدې چې قضيه محاکمې ته وړاندې شي، روغې ته تشويق کړل شي. مخصوصا" د شاري محاکمو په سيستم کې چې د ازدحامه ډک دی او قاضيان تر فشار لاندې دي چې د امکان تر حده ډيرې قضيې حل او فصل کړي، قاضي شايي تر محاکمې دمخه غونډې يا کنفرانس څخه د يو فرصت په توګه استفاده وکړي چې د دفاع وکيلان تشويق کړي، او يا فشار پر راوړي چې په قضيه کې مخکې لدې چې محاکمې ته وړاندې شي روغه وکړي. ډيرو قضايي حوزو د جنجالونو د بل ډول حل د پاره اجباري پروګرامونه جوړ کړيدي. مخکې لدې

چې یوه قضیه محاکمې ته وړاندې شي، یا ټولې قضیې یا هغه قضیې چې غوښتنه یې تر یوې معینې اندازې ډالر کښته وي، حکمیت، منځګړیتوب او یا کوچني محاکمې ته وړاندې کېږي. دا جریان معمولا" د وکیلانو د یو هیئت په مخ کې، د یو منځګړي، د یو قضایي مامور او یا د قاضي په حضور کې تر سره کېږي. په حکمیت کې د مثال په توګه وکیلان په مختصره توګه خپلې قضیې وړاندې کوي او د حکمیت هیئت حکم کوي چې څوک چا ته د څومره تاوان یا پیسو د ورکولو مسوولیت لري. اما حکمیت الزام او مکلفیت منځ ته نه راوړي او همدا وجه ده چې د دعوې یوه خوا بیا هم کولای شي خپله قضیه محاکمې ته وړاندې کړي، اما حکمیت بیا هم ډیرلوی اغیزلري چې پرې نږدي دا قضیې دومره وړاندې ولاړې شي. حکمیت د قضیې خواوو او ددوی وکیلانو ته د دوی د قضیو د قوت او ضعف په هکله یوه خپلواکه ارزیابي کوي. د مثال په توګه رابنسن به ښایي فکر وکړي چې دده قضیه ډیره پیاوړي ده او د څو میلیونو ډالرو ارزښت لري، اما که حکمان مدعي علیه حق په جانب وبولي او یا رابنسن ته یواځې د یولږ مقدار پیسو د ورکول کیدو فیصله وکړي، دا به ددې سبب شي چې رابنسن او دده وکیلان پر واقعیت له سره غور وکړي او محاکمې ته د خپلې قضیې د وړاندې کولو څخه ډډه وکړي. که دواړې خواوې د حکمیت فیصله و نه مني، ښایي دا د روغې د مذاکراتو د پیل د پاره زمینه مساعده کړي. او هغسې چې وایي هغه مرغه چې په لاس کې دی تر هغو دوو مرغانو چې پر درخته ناستې دي ښه دی، د دعوې خواوې ښایي د حکمانو پریکړه چې ډیره قانع کوونکې نده بیا هم و مني او محاکمې ته د خپلې قضیې د وړاندې کولو د پاره چې نتیجه یې هم یقیني نده په کلونو انتظار و نه باسي.

اکثره حقوقي قضیې یعني د نیمایي څخه نیولې تر درې پر څلورو پوري مخکې لدې چې محاکمې ته وړاندې شي دقضایي مداخلي یا پرته له هغه او یا دا چې د جنجال د حل د نورو لارو څخه حل و فصل کېږي. ددې قضیو حل او فصل البته د قضایي حوزو په څرنګوالي او د قضیو په طبعت پوري هم اړه لري. په کوچنیو قضیو کې د محکمې بأالقوه خرڅ تر هغه مقدار پیسو چې مدعي به یې ښایي د دعوې په پای کې لاس ته راوړي ډیر دی. که په ټکر کې د رابنسن د موټر د شا برخه یوځه کړه شوې وای، د بل موټر چلوونکي او یا د بیمې شرکت ددې پر ځای چې دده وکیلانو ته د دعوې د پاره پیسې ورکړي، ښایي دده کوچنۍ غوښتنه پر ځای کړي. په لویو قضیو کې پدې هکله بې اطميناني چې قضیه به څنګه حل او فصل شي او دا خطر چې ښایي د لوی تاوان ورکولو ته به مجبوره شي، او د قضیې شاته لویدل او محاکمې ته د تګ خرڅ او داسې نور اکثرا" باعث کېږي چې د روغې جوړې لاره غوره شي او نه د محاکمې د چانس د منل کیدو. اما په ټولو قضیو کې روغه جوړه نه کېږي. وکیلان ښایي په قضیه کې داسې مختلف نظریات وړاندې کړي چې ونشي کولای د روغې د ارزښت په هکله موافقې ته ورسېږي. او یا ښایي دوی نور هدفونه په فکر کې ولري.. یوه خواه ښایي وغواړي یو قانوني اصل منځ ته راوړي او یا پدې توګه چې د دعوې تر پایه پر خپل دریځ ټینګار کوي غواړي لدې لارې خپل شهرت زیات کړي، او یا د بیمې یوه کمپنۍ که په ډیرو قضیو کې د روغې لاره غوره کړي ښایي بیا په راتلونکي کې هر څوک ورځخه په آسانۍ سره لورې غوښتنې وکړي.

په Trial یا محاکمه کې څه پیښېږي؟

په تلویزیون، فلمونو او خبري رپورتونو کې تل د محاکمې جریان ته د دعوې د بهیر د ډیر هیجاني او مهمې برخې په توګه پاملرنه کېږي. که څه هم د مدني قضیو یوه ډیره لږه برخه محاکمې ته وړاندې کېږي، خو محاکمه د دعوې په بهیر کې تر ټولو مهمه او مرکزي پیښه ده چې په ټول پاتې یا دایمي سیستم باندې څارنه کوي. که څه هم د محاکمې تاریخ ډیرې پیړۍ زوړ دی او د هغه انګلیسي باچا عصر ته رسېږي چې په خپل دربار کې به کښیناست او عدالت به یې کاوه، خو نوې او مدرنه محاکمه یوه بې سارې امریکایي موسسه ده.

د محاکمې جریان دوه مهم خصوصیته لري. لمړی، محاکمه د متخاصم سیستم یوه ډیره پیاوړې څرګندونه ده. دعوې ته د مخالفو خواوو د دفاع وکیلان شکل ورکوي، اوهره خواهڅه کوي دا سې در یځ غوره کړي چې ډیره یې په ګټه وي. دوهم، په اکثرو مدني قضیو کې د دعوې خواوې کولای شي دا لاره غوره کړي چې ددوی قضیه د منصفه هییت په حضور کې محاکمه شي ؛ د منصفه هییت دا ستر او مرکزي رول د مدني طرزالعمل او حتي د اصلي یاحقیقي قانون شکل تعین کړیدی. (اصلي قانون یا substantive law د هغې مقررې یا عامه قانون څخه عبارت دی چې په یوه خاصه ساحه کې د فرد حق تعریفوي او تنظیموي. ژ.). دا دواړه خصوصیته بحث انګیزه او جنجالي دي.

د محاکمې هدف د حقیقت لټول دی. او د متخاصمو تر منځ جګړه د داسې منصفه هییت مخې ته چې حقوقي زده کړه یې نده کړې او هر شی ژر مني ښایي د حقیقت د میندلو ډیره ښه لاره نه وي. کله چې فکر کوو چې په محاکمه کې څه کېږي، یوه مهمه مسلۀ داده چې څنګه د حقیقت پلټنه او د اغیزمنتوب هیله د متخاصم سیستم او منصفه هییت د تاریخي رول سره انډول او متوازن کړو.

(پر محاکمه باندې د متخاصمې دعوې په توګه په همدې فصل کې بحث کېږي. د منصفه هییت په اړه بحث به په بل فصل کې وشي).

یوه محاکمه هم ځانګړې نده. د کوچني تاوان محاکمه چې د شویدو او لویدلو څخه منځ راغلې وي، یا د بانک څخه د پور اخیستلو د قرا داد د نقض په مسله کې، ښایي یو څو شاهدان شهادت ورکړي او ټوله دعوې په نیمه ورځ کې فیصله شي. د رابنسن په شان دعوې چې په هغه کې د محصول د ضمانت مسله مطرح ده، یا په اسهامو کې د ټګماری او چلبازی مسله بیا پیچلې ده او ښایي په محاکمه کې د ډیرو شاهدانو او کارپوهانو ګډون ته اړتیا ولري او دا محاکمه به څو هفتې دوام ومومي. د نورو ډیر پیچلو قضیو محاکمه لکه د امانت او ودیعې ادعا یا د ډله ایزو غوښتنو مسایل ښایي ډیرې میاشتې دوام ومومي. لهذا هره محاکمه ورته اساسي جوړښت لري او دا جوړښت د هغه متخاصم طبعت ټاکي.

تصور وکړئ چې د رابنسن په محاکمه کې به څه پیښ شي که خواووې فیصله وکړې چې دا قضیه دې د منصفه هییت په حضور کې محاکمه شي. لمړي ګام به د منصفه هییت د غړو ټاکل وي. کله چې دا

غړي په محاکمه کې خپل ځاي ومومي او قاضي دوی ته د مقدمې په توګه د محاکمې د بهیر په هکله معلومات ورکړي، د رابنسن وکیل د محاکمې بهیر په خپلو خبرو پرانیځي او د قضیې په هکله هغسې چې دی یې ویني معلومات ورکوي. یعني داچه د دعوې خواوي څوک دي، د موټر ټکر څنګه شویدی، رابنسن او د کورنۍ غړي یې څومره سخت ټپیان شوي دي او ولې د آوډي دفاع کوونکي قانونا" مسوولیت لري. وروسته د مدعي علیه وکیلانو ته نوبت ورکول کېږي چې د قضیې په هکله خپل نظر څرګند کړي. په یوه قضیه کې چې ډیرې خواوې لري، ښایي یو د دفاع وکیل د هغو څخه چې پر یوه خوا دي، لکه د رابنسن په قضیه کې، نمایندګي وکړي. دا هم ممکنه ده چې هره ځانګړې خوا خپل جلا د دفاع وکیل ولري. که د بحري لاري فولکس واګون شرکت پدې عقیده وي چې قانوني دریځ یې د آوډي شرکت سره توپیر لري، ښایي و غواړي خپل د دفاع وکیل وټاکي، او که دا کار وکړي بیا نو هر وکیل کولاي شي په محاکمه کې د خبرو د کولو فرصت ومومي.

وروسته له هغه چې د محاکمې د پرانیستلو بیانیې پای ته ورسېږي، مدعیان هغه اسناد وړاندې کوي چې په قضیه کې د دوی د نظر او ادعا تایید او ملاتړ کوي. (مونږ عادتا" د مدعي او مدعي علیه نومونه اخلو، اما دا ټول کارونه په حقیقت کې د قانوني وکیلانو لخوا کېږي). مدعي تل لمړي رامخ ته کېږي ځکه د ثابتولو بار دده پر اوږو دی. د ثابتولو بار د قانون یو اساسي اصل دی چې دلته منعکس کېږي. زمونږ په سیستم کې هیڅوک د هیڅ شي مسوول ندی مګر داچه د یو چا د مسوول ګڼلو دپاره ښه دلیل وجود ولري. تصور وکړئ چې د دعوې یوه خوا هم په محاکمه کې کوم سند وړاندې نه کړي، نو څوک به دعوې وګټي؟ مدعي علیه دعوې ګټي، ځکه مدعي خپل بار تر منزله و نه رساوه او هغه دا چې مدعي باید ثابته کړي وای چې د مدعي علیه د مسوولیت د پاره ښه دلیل وجود لري.اوس تصور وکړئ چې د دعوې خواوي اسناد وړاندې کړي اما منصفه هیئت ووایي چې دا اسناد هم د ادعا د پاره د منلو وړ دي او هم ندي، یعني چې ووایي دا احتمال شته چې د موټر د تیلو ټانک خراب وو او دا احتمال هم شته چې د موټر د تیلو ټانک به نه وو خراب.پدې صورت کې هم مدعي علیه دعوې ګټي ځکه مدعي ندی بریالۍ شوی خپل د ثابتولو دنده پرځاي کړي، اما دا په یو بیل مفهوم. مدعي باید خپله ادعا د خپل اسنادو د مزیت او فضیلت یا

preponderance of evidence له لارې ثابته کړي تر څو قاضي او منصفه هییت قانع شي او ډیر محتمل وبولي چې د قضیې په هکله د مدعي څرګندونې حقیقت لري. ددې د پاره چې پر یو چا قانوني مسوولیت تحمیل شي، دا کافي نده که وویل شي چې ده ښایي د قانون یوه مقرره نقض یا تر پښو لاندې کړې وي، دا باید محتمل وي یعني لږ تر لږه ۵۱ په سلو محتمل وګڼل شي چې ده دا کار کړیدی. (د سند د مزیت یا فضیلت معیار نسبت د ثبوت معیار ته چې په جنایي قضیو کې ورڅخه استفاده کېږي ډیر کښته دی، ځکه د دولت لخوا د جنایي مجازات تحمیلول یوه ډیره جدي مسله ده. جنایي قضیې د ثبوت لوړ بار ته اړتیا لري. نهم فصل وګورئ)

کله چې مدعي علیه خپل اسناد وړاندې کړل، دمدعي علیه نوبت دی. د مدعي د وکیل په شان د دفاع وکیل شاهدان راغواړي او پوښتني ورځخه کوي پداسې توګه چې د خپلې خوا د قضیې ملاتړ وکړي. کله چې د مدعي علیه خبرې پای ته ورسیدې، مدعي ښایي بیا فرصت ومومي چې د مدعي علیه د شاهدانو د څرګندونو د تکذیب او ردولو د پاره شاهدان راوبولي او د هغو موضوعاتو په هکله خبرې وکړي چې د دفاع وکیل رامنځ ته کړي وي.کله چې د ټولو خواوو څرګندونې پای ته ورسېږي هره خوا منصفه هیئت ته خپل وروستني څرګندونې کوي او په خلاصه توګه خپله قضیه شرح کوي. وروسته لدې قاضي منصفه هیئت ته د قانون په باره کې معلومات ورکوي او منصفه هیئت په خصوصي توګه غونډه کوي او بیا خپل حکم اعلانوي. په ډیرو قضایي حوزو کې په عنعنوي توګه د منصفه هیئت د غړو شمیر دوولس نفره دی چې ټول غړي باید په یوه رایه حکم صادر کړي. اما نن دا تغیر موندلی او شمیر یې (اکثرا" شپږ نفره) کم شویدی. همدا شان د منصفه هیئت حکم اوس د ټولو غړو په ګډه رایه ندی او معمولا" د درو څخه د دووبرخو او یا د څلورو څخه د درې برخو په لوی اکثریت کېږي. د قاضي د مسند په محاکمه یا bench trial کې (یعني بي له منصفه هیئت یواځي د قاضي په حضور کې محاکمه) البته قاضي دې ته اړتیا نلري د قانون په هکله څرګندونې وکړي او ددې پر ځاي چې خپل حکم ډیر ژر اعلان کړي، ښایي ځانته یو لږ وخت ورکړي.

د محاکمې جوړښت نسبتا" ساده دی، اما څرنګه چې اشاره وشوه متضاد ارزښتونه د محاکمې بهیر اداره کوي. فکر وکړئ چې څنګه د محاکمې متخاصم طبعت ښایي د حقیقت د پلټنې او ددې هیلې سره چې هر څه په اغیزمنه توګه پر مخ ولاړ شي په تضاد کې راځي.

په یوه متخاصمه محاکمه کې د هرې خوا وکیلان یواځې هغه اسناد چې د دوی د موکل په ګټه دي نه وړاندې کوي بلکه نور کارونه هم کوي. هر وکیل، یا لږ تر لږه یو ښه وکیل، هڅه کوي د محاکمې د ټول بهیر څخه یعنې د پرانیستل کیدو د څرګندونو څخه نیولي د شاهدانو تر څرګندونو او بالاخره د محاکمې تر پایه پوري هڅه کوي داسې خبري او څرګندونې وکړي چې د قانون او د وړاندې شوو حقایقو له مخې د خپل موکل ادعا عادلانه وښیي. د رابنسن وکیل په محکمه کې د یوې خوشحالې کورنۍ انځور وړاندې کوي چې غوښتل یې خپل نوي کور ته کډه وکړي خو ددې کورنۍ د غړو ژوند پدې خاطر وران شو چې د آوډي شرکت انجنیرانو د تیلو د ټانک په ډیزاینولو کې ددې د پاره چې د موټر په تولید کې یو څو ډالره وسپموي، هغو څرګندو خطرونو ته پاملرنه و نه کړه، دعدالت غوښتنه داده چې دا خطا کاران او متخلف کسان خپلو قربانیانو ته تاوان ورکړي. دا د پیسو تاوان به ددوی د هغه فیزیکي او روحي رنځ او ربړ د پاره وي چې دوی ورسره مخامخ شوي دي. د آوډي وکیل ددې ټکر په غمجن طبعت اقرار کوي (که څه هم چې د ټکر نتیجي به نسبت هغه څه ته چې رابنسن ښودلې دي ډیر شدید و نه ښیي)، اما وبه وایي چې ددې شرکت انجینیرانوخومره زیار ایستلی دی چې خپل موټرد اطمینان وړ او ډاډمن کړي. نو که د آوډي شرکت چې غیر له ښه کار څخه بله ګناه نلري، د تاوان ورکولو ته مجبوره کړل شي، دا به صرفا" د یو ژور جیب د پیدا کولو هڅه وي چې د رابنسن د زیان جبران وکړي.

څرنګه چې وکیلان په متخاصم موقف کې دي او هر یو پدې هکله چې څه پیښ شوي او د هغه په مقابل کې باید څه وشي دوه متضاد انځورونه وړاندې کوي، هر څه چې دوې د محاکمې په بهیر کې کوي ددې دپاره دی چې خپل داستان حقیقي او د منلو وړ وښیي او د مقابل لورې داستان بې اعتباره کړي. هغه اخلاقي مقررات چې د وکیلانو د چال چلند دپاره وجود لري یو وکیل ته اجازه نه ورکوي درواغ ووایي، په قصدي توګه شاهد ته هدایت ورکړي چې په غلطه شهادت ورکړي، اما همدا مقررات د وکیل څخه غواړي چې د خپل موکل د موقف څخه په دفاع کې خاصه لیوالتیااو جدیت وښیي. وکیل به خپل ټول اسناد او شواهد په ډیره ښه توګه او د خپلې قضیې په ګټه وړاندې کړي او زیار به وباسي چې د مقابل لورې پر اسنادو شک را منځ ته شي. وکیل ښایي ځینې نور د مهارته ډک رولونه ولوبوي لکه د مناسبو کالو اغوستل چې پر منصفه هیئت مثبت اغیز وکړي، دخپل موکل یا موکلینو او شاهدانو څخه وغواړي چې رقت انګیزه څیره غوره کړي اود یو ډیر رښتوني، صمیمي او د صداقته ډک انسان رول ولوبوي، او یا هم دوی ته په قضیه کې کوم بل رول وټاکي. وکیلان همدا شان کله کله د خپل مقابل لورې پوښتنو ته لوړې او غواړي د هغه د خبرو او پوښتنو نظم اخلال کړي. په عامه توګه وکیل هر هغه څه چې د قانون په حدودو کې د خپل موقف د پیاوړي کیدو د پاره مجاز او ممکن وي، هغه کوي.

په محاکمه کې کوم اسناد وړاندې کیدای شي؟

محاکمې ته د ثبوت وړاندې کول دمدني طرزالعمل د قانون او د ثبوت د قانون په چوکات کې کېږي. مدني طرزالعمل د وړاندې کولو پر نظم او طریقې څارنه کوي او د ثبوت قانون ټاکي چې چه څه شی وړاندې کیدای شي.

په محاکمه کې اکثره شواهد او د اثبات مدرکونه د شاهدانو په شهادت کې وړاندې کېږي چې د تلویزیون په فلمونو، د پیري میسن Perry Mason او د law & order په فلمونو کې په ډیر ښه توګه انځورشوي دي. شاهدانو ته قسم ورکول کېږي چې حقیقت ووایي. هغه وکیل چې شاهد یې محاکمې ته رابللی دی دده څخه یو لړ پوښتنې کوي چې شاهد د شهادت ورکولو پر لاره برابر کړي، او د مقابل لوري وکیل هم کولای شي ددې شاهد څخه بالمقابلې پوښتنې وکړي.او یا هم نورې پوښتنې وکړي چې د قضیې په هکله د شاهد بیان او معلومات و آزمایي. که د یوې خوا وکیل د یوې پوښتنې په مقابل کې چې د شاهد څخه شویده اعتراض وکړي، کولای شي د قاضي څخه وغواړي شاهد ته د ځواب ورکولو اجازه ور نه کړي او که ځواب ورکړل شوي وي، غوښتنه وکړي چې دا ځواب د ځوابونو څخه وباسي.

د ثبوت د مدارکو په وړاندې کولو کې د تلویزیون د فلم او حقیقي محکمې لوی توپیر د هغه د هیجان او ډراماتیک توب په اندازه کې دی. د کشف د طریقې شته والي یا موجودیت، د اکثرو قضیو د نیایي او ځمکنی طبعت څرګندوي او د ثبوت د قانون د غوښتنو له کبله، ډیر په ندرت پیښېږي چې یو شاهد په ناڅاپي توګه په ژړا شي، یو ډیر مهم او اساسي معلومات وړاندې کړي او یا په خپل جنایت اعتراف وکړي.

د اکثرو شاهدانو څخه په میتودیکه توګه پوښتنې کېږي او قدم په قدم په ده د حقایقو تفصیل په تکرار سره ویل کېږي. ډیر کسان چې د حقیقي محاکمو بهیر په تلویزیون کې ویني یا پخپله په محکمه کې حاضر وي ژر خسته کېږي، ځکه وکیلان ددې د پاره چې د قضیې په ټولو جزییاتو رڼا واچول شي ډیرې زیاتې پوښتنې کوي.

د شاهد د شهادت سربیره، محاکمې ته د مدارکو په وړاندې کولو کې ښایي د اسنادو او فیزیکي مدارکو وړاندې کول هم شامل وي، لکه د رابنسن د موټر د تیلو د ټانک پاته شوې برخي. ځینې وخت وکیلان یا شاهدان او په خاصه توګه هغه کارپوهان چې په محاکمه کې شهادت ورکوي، خپل شهادت د رسمونو، جدولونو اوماډلونو په ښودلو یا په ژوندي توګه د کمپیوتر یا ویدیویي فلمونو د ښودلو له لارې کوي تر څو خپل شهادت روښانه، څرګند او قانع کوونکی کړي او د منصفه هییت دلچسپي جلب کړي. د دعوې خواوې ښایي پر ځینو اسنادو او مدارکو چې د هغه په هکله اختلاف وجود ونلري موافقه وکړي او منصفه هیئت ته د ډیرو مفصلو شواهدو او مدارکو د وړاندې کولو په ځای د اسنادو او شواهدو یوه مختصره مجموعه وړاندې کړي.

د اثبات د اسنادو قانون اندول کوونکی رول لري. محکمې د دعوې خواوو ته اجازه ورکوي خپله قضیه جوړه او آماده کړي او ټول هغه اسناد او مدارک چې ښایي د محکمې پر قضاوت باندې اغیز ولري یعنې دا چې څه څنګه او ولې پیښ شول او د قضیې نتیجه به څه وي، محاکمې ته وړاندې کړي. اما محکمه هم غواړي په اغیزمنه توګه کار وکړي او هغو مسایلو ته پاملرنه کوي چې حقیقتا" مهم وي او ځینې وخت غواړي د صرفا" حقیقت د میندلو پر ځای ارزښتونو ته پاملرنه وکړي.

څرنګه چې محکمه نه غواړي خپل وخت په داسې موضوعاتو ضایع کړي چې د موجودو قانوني مقرراتو له مخې د وړاندې شوي قضیې په هکله د محکمې د فیصلې سره هیڅ ډول اړیکې نلري، د ثبوت د قانون اساسي وړاندیز دادی چې یواځې هغه اسناد او مدارک دې وړاندې شي چې په وړاندې شوي قضیې کې د قانوني مقصد سره مرسته وکړي. دا د اسنادو او مدارکو په وړاندې کولو کې د ډیر عام اعتراض اساس جوړوي، لکه ځینې وخت چې یو وکیل په محاکمه کې یو شی بې ربطه او بې مناسبته بولي. که رابنسن د شهادت د پاره یو کارپوه راولي او هغه شهادت ورکړي چې که د اوډي موټر د تیلو ټانک لاندې اور ولګېږي هغه به وچوي، قاضي به دا شهادت د اسنادو او مدارکو له جملې څخه وباسي. که څه هم دا سند د موټر د تیلو د ټانک د وضع په هکله دی، اما ددې موضوع سره چې آیا د تیلو ټانک خراب وو او که نه مرسته نه کوي. که د هر تیلو ټانک لاندې اور ولګول شي هغه به وچوي، اما مسله پدې قضیه کې دا وه چې آیا د موټر د تیلو ټانک د ټکر په وخت کې ډیر خطرناک وو او که نه؟ روښانه ده چې د اوډي شرکت وکیل به پردې شهادت اعتراض وکړي او د قاضي څخه به وغواړي دا شهادت لیرې کړي. څرنګه چې محاکمه اساسا" یوه متخاصمه پروسه ده، قاضي یواځې د هغو اسنادو او شواهدو له مخې حکم کوي چې وکیلان یې وړاندې کوي.

د اثبات د اسنادو د قانون یوه بله برخه پر عین اصل ولاړه ده چې د هغه سره ډیر خلګ آشنا دي او هغه د شایعاتو او آوازو ناجایزوالی دی. د اوریدو له مخې شهادت ورکول د دوهم لاس شهادت او یا د محکمې دباندې څرګندونې دي چې په محکمه کې د څرګندونو د محتوې د حقیقت د ثابتولو د پاره وړاندې کېږي. که رابنسن د آوډي شرکت یو پخوانی انجنیر پیدا کړي او هغه په محکمه کې شهادت ورکړي چې ده د آوډي شرکت ته د تیلو د ټانک د خرابی په هکله خبرداری ورکړي وو، دا به د اثبات یو ښه او جایز سند وي. اما رابنسن نه شي کولاي یو بل څوک راولي او هغه په شهادت کې داسې ووایي چې په بس موټر کې ددغه انجنیر شا ته ناست وو او د انجنیر له خولې یې واوریده چې ده د آوډي شرکت ته پدې هکله خبرداری ورکړیدی. دا به د اوریدو له مخې شهادت وي چې ناجایزه دی. ددې شاهد شهادت د انجنیر د شهادت په شان د باور او اعتماد وړ ندی، قسما" پدې خاطر چې د آوډي وکیل ددغه شاهد څخه د بالمقابلو پوښتنو د پاره اغیزمن امکانات نلري. که د آوډي انجنیر پخپله په محکمه کې حاضر واي او دا شهادت یې ورکړی وای، د آوډي وکیل به دده څخه پوښتنه کړې واي چې ده په شرکت کې د چا سره پدې هکله خبرې کړي او په دقیقه توګه یې څه ویيلي دي، تر څو څرګنده شي چې ده دا خبرداری داسې چاته ندی ورکړي چې هغه پدې هکله څه نشي کولای، یا دا خبرداری ډیر روښانه نه وو، اما هغه شاهد چې د انجنیر خبرې یې د شا څخه اوریدلي دي، ددې پوښتنو په هکله شهادت نشي ورکولای.

اما په دوو حالاتو کې د اثبات د اسنادو قانون په قصدي توګه مهم او ډیر ګټور اسناد لیري کوي. لمړي هغه وخت چې دا ډول اسناد د قضیې په حل کې د ګټې پر ځای ډیر تاوان ورسوي. یو مثال یې د کرکټر نښې دي چې په خاصه توګه د یو کارپه کولو کې د یو شخص دعمومي تمایل په معني تعریف کېږي. تصور وکړئ چې د تیلو د ټانک پرته د آوډي ۱۰۰ ال اس موټر ځینې نورې برخې هم په څرګنده توګه ښه نوي ډیزاین شوي. رابنسن به په دعوې کې یقینا" هڅه وکړي دغه نورې غلطی د یو سند په توګه وښیي تر څو ثابته کړي چې آوډي شرکت یو ډیر بیکاره او بې نظمه شرکت دی او ددې ډول چال چلند څخه داسې استنتاج وشي چې ګواکې د آوډي موټر د تیلو د ټانک په دیزاین کې هم همدا شان بې مبالاتي او بې احتیاطي شویده. امامنصفه هیئت یا jury ته به اجازه ورنکړل شي دا ډول سند ته پاملرنه وکړي، ځکه ددې خطر شته چې منصفه هیئت به فکر وکړي چې آوډي دلته غلطي کړیده نو د پخواني چال چلند څخه دا ډول نتیجه اخیستل د استنتاج تر حوصلې لوړ کار دی.

د ثبوت د لیري کولو دپاره دوهم اساس دادی چې د ثبوت څخه استفاده د ثبوت د قانون څخه دباندې د یو قانوني سیاست سره په تناقض کې وي. دلته مور په څرګنده توګه په محاکمه کې د یو بل ارزښت په خاطر حقیقت پلټنه قرباني کوو. د مثال په ډول محرمانه معلومات لیري کېږي. آوډي ښایي خبر شي چې د رابنسن میرمنې خپل میړه او وکیل ته ویيلي دي چې دې په خپلو ټپونو کې جعل کاري کړیده، اما آوډي نشي کولاي ددې د میړه یا وکیل څخه وغواړي ددې خبرو په هکله شهادت ورکړي. که څه هم دا به د تمارض او ځان په ناحقه د ناجوړه ښودلو د پاره یو ډیر قانع کوونکی سند وي، خو زمور

په فکر دا ډیره مهمه ده چې خلک باید وشي کولاي د خپل ژوند پر ملګري او وکیل اعتماد ولري او دا بیره ونلري چې ددوی په اسرارو به خلګ خبر شي او دا په دعوې کې د حقایقو د میندلو تر هلو ځلو مهمه ده.

او منصفه هییت څنګه دی؟

د متخاصم طبعت سربیره د محاکمې دوهمه مهمه برخه د تصمیم نیوونکي په توګه د منصفه هیئت رول دی. د متحده ایالاتو اساسي قانون او د اکثرو ایالتونو اساسي قوانین په مدني قضیو کې د منصفه هییت محاکمې ته اجازه ورکوي. که د دعوې دواړې خواووې موافقه وکړي، یوه قضیه یواځي د قاضي لخوا بیله منصفه هیئت څخه فیصله کیداي شي (Bench Trial)، اما په اکثرو قضیو کې که یوه خوا هم د منصفه هیئت محاکمه وغواړي، دا حق لري اود منصفه هییت په وړاندې به قضیه فیصله شي.

هر څوک پدې پوهېږي چې د دعوې په بهیر کې منصفه هیئت مرکزي رول لري، اما په عین زمان کې دا دټول محاکماتي سیستم یو ډیر بحث انګیزه او جنجالي عنصر هم دی. د ځینو خلکو د پاره دا د یموکراتیکې پروسې یو بریالیتوب، د خلکو د آزادۍ یو سنګر او په محاکمه کې د حقیقت د تثبیتولو یوه اغیزمنه وسیله ده. د نورو د پاره دا یوه ډیره زړه شوې او نااغیزمنه موسسه ده چې یواځي په سیستم کې استبداد، بې اطمیناني او ځنډ راولي.

د منصفه هیئت یو ځانګړی خصوصیت دادی چې دا هیئت د غیرمسلکي او اماتورو کسانو څخه جوړېږي او ددې پر ځای چې یو په لوړه سویه روزل شوی مسلکي قاضي د رابنسن پر قضیه حکم وکړي، دا مسوولیت یوې ډلې ته سپارل کېږي چې د حقوقو او قانون په هکله ډیره لږه پوهه لري او غیر له هغو څرګندونو څخه چې په محکمه کې یې اوري نور د قضیې په حقایقو هیڅ ندي خبر. دا ډله باید په محکمه کې د بیلا بیلو اسنادو او شواهدو د اوریدو له لارې درک کړي چې حقیقتا" څه پیښه شویده. دوی باید د قانون په هکله د قاضي په توضیحاتو وپوهېږي (چې اکثرا" دداسې پیچلو او مغلقو مفاهیمو او مفکورو په باره کې خبري کوي چې پر هغو د حقوقو محصیلین اوږده بحثونه کوي او قاضیان وربانديې د نظر اختلاف لري) او حقایق او قانون سره یو ځای کړي او داسې نتیجې ته ورسېږي چې هم عادلانه وي، هم د قانون مطابق وي او هم باید د ډلې د ټولو یا اکثریت غړو په موافقه وي.

د تاریخ په اوږدو کې منصفه هیئت نسبت نن ورځې ته د ډیر واک او صلاحیت خاوند وو. د پیړیو په اوږدو کې د منصفه هیئت غړي یا حکمان داسې کسان نه وه چې د قضیو له حقایقو څخه بیخبره وي. دوی په ټولنو کې چې دعواوې په کې منځ ته راتلې ځاي درلود او اکثره یې د دعواې خواوې پیژندل. حکمانو همدا شان د ټولنې د دودونو او رواجونو او نورو پیښو په اړه چې د قضیې په فیصله کې یې رول درلود معلومات درلودل. تر ټولو مهم داچه د هغه وخت څخه چې امریکا یوه مستعمره وه بیا د جمهوریت تر لمړیو ورځو پوري منصفه هییت د قانون جوړونې یوه موسسه او د حقایقو د میندلو یو

ارګان وو. د هغه زمان د امریکاییانو د پاره د قانون اساس په دودونو او رواجونو او د ټولنې په اخلاقي حسیاتو کې پروت وو. د ټولنې د غړو په حیث حکمانو د قاضیانو په اندازه قانون ته دسترسي درلوده. پداسې حال کې چې قاضي کولای شوای یو حکم ته د قانون په هکله خپل نظر څرګند کړي، حکمانو خپلواک صلاحیت او مسوولیت درلود چې د هغه قانوني مقرراتو اصلي معني او مضمون وټاکې چې په یوه ځانګړې قضیه کې باید تطبیق شوي وای.

نن، حکمان په ندرت سره د قضیې د حقایقو په هکله خپلواک معلومات لري. یو حکم چې د دعوې خواوې پیژني او یا د قضیې په حقایقو یو څه خبر وي په منصفه هیئت کې نه نیول کېږي، ځکه د حکم رول د هغو اسنادو او شواهدو په ناپیلي او بیطرفه ارزیابۍ کې ده چې په محکمه کې یې اوري. سربیره پردې، مونږ اوس په دې باور یو چې قانون په پارلمان او محکمو کې جوړېږي او بنسټ یې د ټولنې په ارزښتونو کې ندی. لهذا حکمان د هغه قانون تطبیق ته مکلف دي چې قاضي یې دوی ته ورکوي. ددې جریان مطابق، د حکم وظیفه اسنادو او شواهدو ته غوږ نیول، د قضیې د منځ ته راتګ د څرنګوالي په باره کې پریکړه، یعني چې قضیه ولې او څنګه منځ ته راغلي ده، د قانون په اړه د قاضي هدایاتو ته پاملرنه او پر حقایقو باندې د قانون تطبیق دی. پدې کارکې د حکمانو تجربې، عقاید او ارزښتونه رول لري او پدې توګه د تصمیم نیولو او فیصلې بهیر تر یوه حده د ټولنې د احساساتو څرګندوی وي او نه یواځې د حقایقو د میندلو یوه میخانیکي پروسه.

ددې د پاره چې حکم دا وظایف تر سره کړي، حکمان باید نمایندګي وشي کولای او بیطرفه وي. د دې د پاره چې یو حکم نمایندګي وشي کولای، محکمه د بالقوه حکمانو د نومونو لست د ثبت شوو رایه ورکوونکو د کنديې یا د موټر چلولو د لایسنس یا نورو منابعو څخه جوړوي، پداسې توګه چې د ټولنې د هرې برخې او طبقې استازي په کې شامل وي. په تصادفي توګه ټاکل شوي بالقوه حکمان د حکمیت د وظیفې د تر سره کولو د پاره محکمې ته احضار کېږي. په پخوا کې طرزالعمل داسې وو چې حکمان به اکثرا" د یوې هفتې یا ډیرو ورځو د پاره احضار شول، خو نن ورځ په ډیرو محاکماتي سیستمونو کې د " یوې ورځې، یوې دعوې " د سیستم څخه استفاده کېږي، چې د هغه پر اساس حکم یواځې د یوې ورځې د پاره محکمې ته احضار کېږي او که د حکمیت د پاره انتخاب شو، یواځې په یوه محاکمه کې برخه اخلي. اما ډیر خلک حتې د یوې ورځې د پاره هم د حکمیت کولو کار چې یو مدني مسوولیت دی یو ناآرامه کوونکی درد سر بولي او هڅه کوي د هغه څخه په بیلا بیلو پلمو ځان تیرکړي.یو شمیر کوشش کوي قانوني معذرت وړاندې کړي چې دا کار اکثره د پولیس صاحب منصبان، ډاکټران او نور ورته کسان کوي، یا د ځینو نورو مشکلاتو له مخې معذرت وړاندې کوي لکه د ماشومانو یواځې توب او د خپلوانو ناروغي او نورې داسې پلمې او یا هم هیڅ محکمې ته نه حاضرېږي. محکمه وروستنی سلوک نه خوښوي او حکم بیا محکمې ته رابولي او که هغه بیا هم نه شو حاضر، محکمه کولای شي د هغه د نیول کیدو امر صادر کړي.

نور بالقوه راغوښتل شوي حکمان د محاکمې ټاکل شوو غونډو ته ځي، ځکه مخکې لدې چې دوې د منصفه هیئت په قطار کې کښیني، دوي ددې کار د پاره غوره کېږي. دغه پروسې ته په فرانسوي ژبه کې voir dire وایي چې د حقیقت ووایه په معنې ده. او هدف یې د منصفه هییت یا حکمانو د بیطرفۍ ضمانت کول دی. قاضي او یا د دفاع وکیلان د حکمانو څخه هم په ډله ایزه او هم په ځانګړي توګه یو لږ پوښتنې کوي او د دوی څخه غواړي ووایي چې کوم بالقوه حکمان د قضیې په هکله معلومات لري یا د دعوې له خواوو سره پیژندګلوي لري چې دا پوهه او شناخت ښایي د دوی پر قضاوت اغیز ولري. د رابنسن په قضیه کې یو بالقوه حکم چې رابنسن پیژني او یا یې د موټر جوړولو د انجنیر په توګه کار کړي وي، ښایي د وکیل د اعتراض سره مخامخ شي او قاضي هم په دلایلو سره هغه ددې کار څخه معاف کړي، ځکه یو څرګند دلیل باید وجود لري چې ولې داسې خلک د قضیې په فیصله کې بیطرفه نه وي. د وکیلانو هر یو هم خپل ثابت او قطعي مکلفیتونه لري او دا دوی ته اجازه ورکوي چې بالقوه حکمان پرته لدې چې کوم خاص دلیل وړاندې کړي، د حکمیت څخه وباسي. د وکیلانو ددې صلاحیت د استفادې په هکله ډیرې څرګندونې شوي دي، مثلا" ویل کېږي چې ښځې حکمانې ښایي د دعوې په یوه خوا کې د یوې ښایستې او جذابې ښځې سره حسادت وښیي، یا داچه فکر کېږي چې د کوچنیو تجارتونو خاوندان د جراحت او ټپي کیدو په فردي قضیو کې د لږ تاوان ورکولو څخه ملاتړ کوي. خو په وروستیو کې لږ تر لږه په لویو قضیو کې میدان د منصفه هیئت مشاورینو، روانشناسانو او نورو کارپوهانو ته خلاص شویدی چې لمړی د حکمانو سوابق، حرکات، د بیان طرز او ځوابونه د voir dire یا د حقیقت ووایه په جریان کې مطالعه کوي او بیا وکیلانو ته مشوره ورکوي چې کوم حکم به په یوه خاصه قضیه کې مخالف یا موافقه رایه ورکړي.

د حکمیت د سیستم په هکله اساسي پوښتنه پدې کې ده چې آیا دا سیستم کار کوي؟ آیا حکمیت یا د منصفه هیئت موجودیت په محاکمه کې د حقیقت د میندلو او د قانون د تطبیق د پاره یوه اغیزمنه موسسه ده چې په جوړونکي توګه د ټولنې احساس او جذبات په محاکمه کې منعکس کوي، اوکه دا یوه مستبده نا اغیزمنه او بې مورده موسسه ده چې اکثرا" خرابې فیصلې کوي؟ څرنګه چې په مدني قضیو کې د حکمیت حق په اساسي قانون کې راغلی، نشي کیدلاي د منصفه هیئت د بشپړ له منځه تلو پر مسله بحث وشي، اما دا پدې فیصله اړه لري چې قانون قاضي ته د منصفه هیئت د کنټرول په برخه کې څومره حق ورکوي.

قاضي د څلورو لارو څخه پر منصفه هیئت کنټرول او څارنه کوي. لمړی قاضي د ثبوت د قانون له لارې په محاکمه کې د منصفه هییت د پاره ټاکي کومو اسنادو او شواهدو ته غوږ ونیسي. دوهم، قاضي د منصفه هیئت د غور او څېړنې دپاره مسایل محدودوي. په معموله توګه د قانون پر مسایلو قاضي فیصله کوي او د حقایقو موضوع د منصفه هیئت مسوولیت دی. دریم، قاضي منصفه هیئت ته وایي چې د قضیې په فیصله کولو کې د قانون کوم مقررات د تطبیق وړ دي او دا مقررات څه معني لري ؛ یو اماتور حکم هیڅ لاره نلري چې وپوهېږي چې دا کوم قانون دی، نو داسې اټکل کېږي چې دی به د قاضي

هدایات تعقیب کړي. څلورم، قاضي کولای شي یوه قضیه مخکې لدې چې منصفه هیئت حکم پرې وکړي له هغه څخه واخلي، او حتي کولاي شي چې که منصفه هیئت حکم هم صادر کړي وي هغه نسکوره کړي اود هرې خوا له ډیرو غوښتنو څخه یوه ومني.

د قانون او حقایقو تمیز کول داسې ښکاري چې ډیر آسانه وي. قاضي د قانون کتابونه لوستي دي او په ښه توګه کولای شي وټاکي چې کوم مقررات د تطبیق وړ دي او هغه څه معني لري (د قانون مسایل)، او منصفه هیئت پدې لټه کې دی وپوهېږي چې په قضیه کې څه پیښ شوي دي (د حقایقو مسایل). اما په واقعیت کې دا ډیر پیچلی دی. د مسایلو ټاکل چې په قانون اړه لري او که په حقایقو د قاضي د پاره یوه ساده لاره ده چې وټاکي د کومو قضیو فیصله منصفه هیئت ته وسپاري. د حقایقو د برخې د مسایلو پراخول د منصفه هیئت رول پراخوي او د قانون د مسایل پراخول د منصفه هیئت رول لږوي. که قاضي فکر وکړي چې یوه مسله ډیره پیچلې، ډیره مهمه او یا په بالقوه توګه د هغه په هکله غلط تعبیر کیدای شي، نو دی به وغواړي دا مسله د منصفه هیئت څخه واخلي او ځان ته به یې مختص کړي. تر هغه چې قاضي د منصفه هیئت د صلاحیت په غصبولو کې چې اساسي قانون ورکړیدی، ډیر مخ ته ولاړ نشي، د مسایلو ویشل په قانوني او د حقایقو پر مسلو د منصفه هیئت د پاره د کنټرول یو اغیزمن میکانیزم دی. د مثال په توګه د رابنسن په قضیه کې د آوډي شرکت په مسوولیت کې د قانون او حقایقو مسلې شاملې دي. د جرم قانون Tort law مسایلو ته پدې شکل چوکات ورکوي چې آیا آوډي شرکت د مدعیانو په مقابل کې کومه وجیبه لري او ددې وجیبې محتوې څه ده، او آیا آوډي شرکت دا وجیبه تر پښو لاندې کړیده او که نه؟ په لمړیو دوو پوښتنو کې د ټولنیز سیاست مهمې مسلې پرتې دي او محکمه هغو ته د قانون د مسلو په سترګه ګوري. دا چې آیا آوډي شرکت د یو مسافر په مقابل کې چې ددې شرکت لخوا په یو جوړ شوي موټر کې سفر کوي یوه وجیبه لري او دا وجیبه څومره او څنګه ده د تاوان د قانون اساسي مسایل دي. پر دې مسلو فیصله کول په ټوله ټولنه کې پراخ نتایج منځ ته راوړي. که آوډي شرکت د مسافرینو په مقابل کې کومه وجیبه ونلري، نو به ډیره لږه انګیزه ولري چې خپل موټران امن او مطمئن جوړ کړي. برعکس، که آوډي شرکت دا وجیبه ولري چې ټولو هغو خلکو ته چې د تلویزیون په خبرونو کې د ټکر په هکله خبر شوي او ډیر غمجن شوي دي تاوان ورکړي، نو د هغه مسوولیت به ډیر زیات دروند وي. د آوډي شرکت د وجیبې او مکلفیت محتوې په عین توګه مهمه ده. د تاوان په قانون کې یوه لویه د بحث موضوع داده چې آیا د یو محصول جوړونکی باید د ټولو هغو ټپونو مسوولیت په غاړه ولري کوم چې د محصول د خرابوالي له کبله رامنځ ته کېږي یعنې بشپړ مسوولیت یا (strict liability) او که یواځې د هغو محصولاتو د پاره چې په جوړولو کې یې غفلت او سهل انګاري شویده. ددې بحث نتیجه دومره مهمه ده چې محکمه به د محصولاتو د تاوان په مسله کې لکه پورتنی مسله منصفه هیئت پرې نږدي چې پر هغه فیصله وکړي. اما دریمه پوښتنه چې آیا موټر خرابي درلوده او فکر وشي چې آوډي شرکت به د موټر د خرابوالي پخاطر جدي مسوولیت ولري، یوه جلا موضوع ده. دا په هیڅ توګه یواځې د حقایقو مسله نده، ځکه دا قضاوت کولو ته ارتیا لري تر څو وټاکي چې آیا هغه خطرونه چې د موټر د تیلو د ټانک په ډیزاین

کې شته د هغه تر ګټو زیات دي او که نه، اما دا د نورو قضیو د حل د پاره ډیر اهمیت نلري. همدا وجه ده چې قاضي به د وجیبې نه د سرغړونې موضوع د حقایقو یوه موضوع وبولي او د هغه فیصله به منصفه هیئت ته پرېږدي.

که د منصفه هیئت وظیفه د حقایقو میندلو او پر حقایقو بنا د قانون تطبیق ته محدوده وي، باید له یوې لارې وپوهېږي چې قانون څه وایي او دوی باید په هغه څه وکړي. د محاکمې په پای کې قاضي منصفه هیئت ته وایي چې پر کومو موضوعاتو فیصله وکړي او کوم قانون باید تطبیق شي او منصفه هیئت ته هدایت ورکوي. قاضي د مثال په توګه تشریح کوي چې قانون د موټرانو د جوړونکو څخه ددې د پاره چې د دوی محصول امن او مطمئن وي کومو معیارونو ته د پاملرنې غوښتنه کوي، څنګه ټاکل کېږي چې په یو ډیزاین کې خرابي شته، د آوډي شرکت د څه ډول تاوانونو د پاره مسوولیت لري، مخکې لدې چې حکمان حکم وکړي باید پر خپله نتیجه ګیري څومره اطمینان ولري او دوی باید څنګه پر مسله غور او مشوره وکړي. په اکثرو قضایي حوزو کې محکمې د منصفه هیئت د لار ښوونې د پاره په مختلفو قضیو کې معیاري څرګندونې خپروي او قاضي اړتیا نلري چې هره پلا له سره دا کار وکړي. اما جالبه داده چې هر وکیل هم د لارښونې او کړنلارې د پاره وړاندیزونه کوي، په معیاري لارښوونو کې تغیر راولي تر څو هغه د یوې ځانګړې قضیې د پاره هم آهنګه کړي، د هغو مسایلو په هکله چې باید په حکم کې شامل شي او یا وایستل شي وړاندیزونه کوي، او پر دې لارښوونو د قانون د یو خاص نظر له مخې رڼا اچوي. دا د متخاصمې دعوې یوه برخه ده ځکه هر وکیل هڅه کوي تر ټولو ګټورې لارښوونې او هدایات تر لاسه کړي او دا بیا د قاضي په پریکړه اړه لري چې کوم یو یې مناسب بولي.

منصفه هیئت ته لارښوونه او د هدایاتو ورکول یو بل امکان دی چې په محاکمه کې د منصفه هیئت د پاره حدود ټاکي. حتې په یوه نسبتا" عادي قضیه کې لکه د رابنسن، قاضي د خپلو هدایاتو او لارښوونو د څرګندولو د پاره یو ساعت یا څه زیات وخت ته ضرورت لري. په یوه پیچلې قضیه کې دا هدایات او لارښوونې ښایي زیات وخت وغواړي ځکه دا لار ښوونې هم پیچلي او د ډیرو پیچلو قانوني مسلو او څرګندولو پوښتنو په هکله دي. د یو غیر مسلکي حکم د پاره ډیره ګرانه ده چې چه دا مقررات په یاد کړي او د هغه سره ځان عادت کړي. حتي قانوني وکیلان او قاضیان هم دا ډیر یو پیچلی کار بولي او هغه ته د بحث وړ موضوع په سترګه ګوري. لهذا، که څه هم وکیلان او قاضي ښایي څو ساعته کاروکړي او د خپلو هدایاتو او لارښوونو هره جمله په ډیر دقت سره ولیکي، د حکمانو سره ښایي د هغه صرفا" یو تصور او ځیني اساسي مفکورې پاته شي چې هغه په دقیقه توګه هغه قانون چې دوی یې غواړي تطبیق کړي نشي منعکس کولای.

د منصفه هییت د کنټرول وروستنی طریقه د قاضي او منصفه هیئت تر منځ د صلاحیت د ویشلو یوه حساسه برخه ده. د محاکمې تر پیل مخکې، د محاکمې په جریان کې او یا حتي وروسته، په مهمو مسلو کې، د دعوې یو طرف کولای شي د قاضي څخه وغواړي چې د قضیې ټولې برخې یا یوه برخه د منصفه هیئت څخه واخلي او پخپله فیصله پرې وکړي.

مونږ مخکي وليدل چې قاضي څنګه کولای شي د يو مدعي ادعا رد کړي ځکه چې د هغه ادعا د مدعي عليه پر ضد قانوني ملاتړ نلري او يا د ډله ايز قضاوت غوښتنه کوي ځکه چې په حقايقو کې کوم لوی اختلاف نشته او د داسې حقايقو په هکله چې اختلاف په کې نشته د قانون په چوکات کې فيصله کېږي او پدې توګه محاکمې ته د يوې قضيې د محول کيدو مخنيوی کوي. کله چې محاکمه پيل شي، قاضي دا هم کولاي شي چې د منصفه هيئت صلاحيت محدود کړي او د دعوې د يو طرف د پاره د محاکمې په جريان کې د امريه حکم يا directed verdict غوښتنه وکړي (يعني منصفه هيئت ته د قاضي لخوا د يو حکم د ورکولو امر کېږي. ژ) او يا د منصفه هيئت د حکم سربيره د قضاوت کولو Judgment notwithstanding the verdict غوښتنه وکړي. دا دواړه غوښتنې ته يو ځاي د قانون په مسايلو کې د قضاوت کولو غوښتنې يا motions for judgment as a matter of law وايي. او يا هم د محاکمې په پای کې قاضي د منصفه هيئت حکم يوې خواته کوي او امر کوي چې محاکمه دې له سره وشي.

د قانون په مسلو کې د قضاوت غوښتنې ښايي په هغو حالاتو کې وشي چې قاضي لاس ته راغلي حقايق منصفه هيئت ته د وړاندې کولو د پاره کافي و نه بولي، او يا داچه د ټولو حقايقو څخه يواځي يوه نتيجه لاس ته راشي. دا دوې غوښتنې په زماني لحاظ يو له بل سره توپير لري. ښايي د دعوې يو طرف وروسته له هغه چې مخالفې خوا خپل ټول اسناد او شواهد وړاندې کړل د امريه حکم لاره غوره وبولي. کله چې رابنسن خپل قضيه تر پايه وړاندې کړه، آوډي شرکت ښايي امريه حکم په خپله ګټه وبولي. که د مثال په توګه رابنسن داسې يو سند نه وي وړاندې کړی چې د موټر د تيلو د يو مطمئن ټانک جوړول ممکن وښيي (او هغه د قانوني معيارونو يوه برخه وي.)، او يا ځکه چې ټول اسناد چې رابنسن وړاندې کړيدي ښيي چې د موټر د تيلو ټانک د امکان تر حده مطمئن ډيزاين شوي وو. په عين توګه، رابنسن ښايي د امريه حکم غوښتنه وکړي که آوډي شرکت خپله دفاعيه وړاندې کړي او په هغه کې ټول هغه اسناد چې د تيلو د ټانک د خراب ډيزاين په هکله وړاندې شوي دي په بريالي توګه رد نکړي. که هر غوښتنه ومنل شي، محکمه به د بريالي خوا په ګټه قضاوت وکړي. (که څه هم دې ته د امريه حکم غوښتنه ويل کېږي، منصفه هيئت ټول هغه تشريفات چې د حکم د صادرولو د پاره لازم دي نه پر ځاي کوي او دا کار قاضي د دوی د پاره سر ته رسوي.)

د حکم سربيره قضاوت حتي نور هم د پاملرنې وړ دی. په محاکمه کې د اسنادو او شواهدو وړاندې کول پای ته رسېږي، قاضي منصفه هيئت ته لازم هدايات ورکوي او هغوی د مشورې کولو ته لېږي، او منصفه هيئت وروسته له مشورې د حکم سره راځي. اما قاضي دې نتيجې ته رسېږي چې قضيې ته د منصفه هيئت ځواب د قانون له نظره غلط او د حقايقو له مخې د منلو وړ ندی، لهذا دی د دعوې يوه خوا بريالی اعلانوي او دا سربيره پردې چې منصفه هيئت د بلې خوا په ګټه حکم صادر کړيدی. د طرزالعمل له مخې دا غوښتنه داسې ګڼل کېږي چې ګواکې د امريه حکم غوښتنه ځنډيدلې ده او قاضي ښايي د هغه څخه خپله استفاده کړي وي، ځکه قاضي ددې دپاره چې يوه قضيه د منصفه هيئت څخه واخلي، د خپل حکم په ځنډولو کې يوه تاکتيکي ګټه لري. که يوه موضوع ترڼ شوي او پاي ته رسيدلي

وي او قاضي د امريه حکم پريکړه وکړي، د دعوې يوه خوا ښايي لوړي محکمې ته مراجعه و کړي او د مرافعې محکمه ښايي د محاکمې د قاضي حکم رد کړي او د نوي محاکمې غوښتنه وکړي. د قاضي انتظار دې ته چې آيا منصفه هيئت صحيح ځواب مينديلی او که نه ددې د پاره دی چې قاضي ښايي غواړي د بلې محاکمې اړتيا له منځه يوسي. د قاضي لخوا د حکم تر غوښتنې پخپله د منصفه هيئت حکم د منل کيدو ډير چانس لري.

په قانوني مسايلو کې قضاوت هغه مهم اختلاف رابرسيره کوي چې د محاکمې په جريان کي د منصفه هيئت د مرکزي موقعيت او پر منصفه هيئت باندې د قاضي د کنترول په صلاحيت کې وجود لري. ځرنګه چې ددې غوښتنو اسلاف د اساسي قانون د تسويد په ډله کې وه، سترې محکمې فيصله کړيده چې دا په محاکمه کې د منصفه هيئت هغه حق چې اوومې ضميمې ورکړی دی نه نقضوي. خو بيا هم ځرنګه چې دا تدبير د منصفه هيئت د وظيفې اساس د ګواښ سره مخامخ کوي، محکمو هڅه کړيده تعريف کړي چې څه وخت داسې يوه غوښتنه مناسبه ده، خو بيلا بيلې محکمې پدې هکله چې د محاکمې قاضي تر کومه حده د منصفه هيئت د کار او فعاليت په حوزه او قلمرو کې مداخله کولای شي د نظر اختلاف لري.

ددې پر ځای چې د دعوې د يوې خوا په ګټه قضاوت وشي، قاضي کولای شي د نوي محاکمې دستور ورکړي تر څو هغه غلطی او اشتباهات چې په لمړي محاکمه کې شوي دي تصحيح او اصلاح شي. البته چې د مرافعې محکمه هم کولای شي د نوي محاکمې امر ورکړي، اما د محاکمې قاضي تر ټولو ښه پوهېږي چې څه پيښه شويده او ددې امکان لري چې د محاکمې جريان ارزيابي کړي او ښايي په آسانی پريکړه وکړي چې ځيني فردي اشتباهات او غلطی، او يا يو لړ کوچنيو خطا ګانو بايلونکې خوا د منصفانه محاکمې څخه بې برخې کړيده. لکه د قانون په مسله کې د قضاوت غوښتنه، د نوي محاکمې دستور ورکول هم چې د منصفه هيئت حکم بې اعتباره کوي، د منصفه هيئت په قلمرو کې يوه مداخله ګڼل کېږي. اما نوې محاکمه دومره تهاجمي نده، ځکه لږ تر لږه يو بل منصفه هيئت به قضيې ته غوږ ونيسي. لهذا د نوي محاکمو دستور پدې خاطر نه ورکول کېږي چې قاضي د منصفه هيئت د حکم سره مخالف دی. که قاضي د محاکمې په پر مخ وړلو کې يوه لويه قانوني سهوه کړې وي، يا يې مهم اسناد په غير مناسبته توګه منلي او يا رد کړي وي او يا يې هم د مثال په توګه په غلطه توګه منصفه هيئت ته هدايت ورکړی وي، دی به ښايي د نوي محاکمې په جريان کې دا سهوې او اشتباهات اصلاح کړي.

د نوي محاکمې د غوښتلو د پاره نور دلايل د يو وکيل يا د منصفه هيئت د غړي بد سلوک يا ناوړه عمل، د نوو اسنادو تر لاسه کيدل او يا هم که د منصفه هيئت حکم تر حد زيات شديد وي، دي. د منصفه هيئست د حکم د شديد والي په مسله کې قاضي ښايي ګټندويه خواته يو بل انتخاب وړاندې کړي، يعني چې يا دې يو بل مبلغ ومني او يا دې نوي محاکمې ته حاضر شي.

تر محاکمې وروسته څه پيښېږي؟

د محاکمې په پاي ته رسيدو سره داستان پای ته نه رسېږي. هغه خوا چې دعوې يې بايللې ده او حتې هغه خوا چې يواځې يې د دعوې يوه برخه ګټلې ده ، کولای شي خپله قضيه يوې لوړې محکمې ته وړاندې کړي. د هرې دعوې بايلونکی دا کار نه کوي. وکيل پريکړه کوي چې آيا د مرافعه غوښتنې د پاره کافي دلايل او اساس وجود لري او که نه، او يا يوه خوا ښايي و نه غواړي او يا و نشي کولای زياتې پيسې د دعوې د پر مخ بيولو د پاره مصرف کړي. اما په هره قضايي حوزه کې، بايلونکې خوا لږ تر لږه دا حق لري چې د تجديد نظر د پاره خپله قضيه د مرافعې محکمې ته وړاندې کړي.

د محاکمو لوی سيستمونه لکه فدرالي محکمه او يا د لويو ايالتونو محکمې، دوې طبقې لري. لمړي طبقې ته يې منځنی مرافعه محکمه intermediate appelate courts وايي چې په فدرالي سيستم کې د تميز محکمه يا Courts of Appeals بلل کېږي او په مختلفو ايالاتو کې په بيلابيلو نومونو يادېږي. (په کوچنيوقضايي حوزو کې دا طبقې حذف شوي دي).

دوهمه طبقه په قضايي حوزه کې د لوړو محکمو ده لکه د متحده ايالاتو ستره محکمه او يا د اوکلاهوما د ايالت ستره محکمه. که يو مايوس شوی دعوې کوونکی د منځني مرافعه محکمې د حکم څخه راضي نه وي، کولای شي خپله قضيه د غور د پاره لوړې محکمې ته وړاندې کړي. خو پداسې حال کې چې منځني محکمې ته مراجعه اجباري ده يعني (محکمه بايد د هغه پر قضيه غور وکړي)، لوړې محکمې ته مراجعه اختياري ده (يعنې محکمه پريکړه کوي چې آيا پر دې قضيې غور کوي او که نه). د متحده ايالاتو په ستره محکمه کې د محکمې څخه پر قضيې باندې د غورد غوښتنې طرزالعمل ته د حکم د ورقې غوښتنه يا petitioning for a writ of certiorari وايي چې په لاتين کې د معلومات درلودلو معني لري. د حکم د ورقې يا writ په خپرولو سره لوړه محکمه کښتې محکمې ته ابلاغوي چې غواړي د قضيې په هکله معلومات تر لاسه کړي تر څو پر هغه فيصله وکړي. تر ټولو لوړه محکمه به يواځي هغه وخت د غور غوښتنه ومني چې هغه ورته مهم وبريښي. يعنې يا داچه قضيه د يوې مهمې قانوني موضوع په هکله وي او يا داچه د قانوني مسلې د خاص حل په هکله د کښتو محکمو تر منځ تردد او شک وجود ولري.

د تميزغوښتنې جريان ددې د پاره ندی رامنځ ته شوی چې يوه صحيحه نتيجه لاس ته راشي او يا په قضيه کې د يوې هر اړخيزي او کاملې دعوې بهير تضمين کړي. بلکه دا محکمه هڅه کوي د دعوې په بهير کې اساسي ارزښتونه متوازن او انډول کړي. د مرافعې محکمه به د کښتې محکمې هغه سهوې چې د دعوې پر منصفانه توب او يا په قضيه کې د عامه قانون د شاملو ارزښتونو پر اغيزمنتوب منفي تاثير لري اصلاح کړي، اما دا محکمه به هڅه وکړي چې دا کار په نسبتا" اغيزمنه توګه وکړي بيله دې چې ډيره مداخله وکړي، د دعوې بهير بيځايه وځنډوي او يا د دعوې د بهير د پای ته رسيدو مخنيوی وکړي.

د مثال په توګه د رابنسن په قضيه کې د مرافعه غوښتنې يوې برخې ته پاملرنه کوي. (په ياد راوړئ چې پدې قضيه کې د طرزالعمل پيچلي مسلې وې چې د اوکلاهوما د محکمو څخه د متحده ايالاتو سترې

محکمې ته د قضيې د انتقال او بيا کښتو فدرالي محکمو ته د مراجعې په نتيجه کې منځ ته راغلي وه.) منصفه هيئت د اوکلاهوما په شمالي سيمه د متحده ايالاتو په سيمه ايزي محکمې يا U.S. District Court for Northern District of Oklahoma کې د دفاع کوونکو په ګټه او د رابنسن پر ضد حکم صادر کړ. رابنسن د متحده ايالاتو مرافعه محکمې ته مراجعه وکړه او قسما" يې استدلال وکړ چې د محاکمې قاضي په نامناسبه توګه هغه اسناد چې څرګندوي د فولکس واګون شرکت چې د آوډي مورنۍ شرکت دی د موټر د تيلو د ټانک د ډيزاين په خطرونو خبروو و نه مانه.د محاکمې قاضي دا سند ددې نظريې له مخې نه وو منلې چې دا پوهه د آوډي شرکت پر پوهې چې د موټر جوړونکۍ دی او د فولکس واګون شرکت يوه فرعي ځانګه ده دلالت نشي کولای. مرافعه محکمې موافقه وکړه چې دا پوهه د آوډي شرکت پر پوهې دلالت نه کوي او د قضاوت دا برخه يې تاييد کړه، اما د محاکمې د قاضي دا حکم يې چې ددې سند ځخه د فولکس واګون شرکت پر ضد استفاده نشي کيدلای و نه مانه، لهذا قضيه يې د فولکس واګون پر ضد د نوي محاکمې د پاره بيرته ولېږله.

لمړی په پام کې ولرئ چې يو څوک څه وخت د محاکمې د محکمې څخه لوړې محکمې ته مراجعه کولای شي. دلته محکمې د اغيزمنتوب او د پای ته رسيدو د پاره بيلا بيلې لارې لري. اکثره محکمې د آخري قضاوت د حکم يا final judgment rule رعايت کوي. او هغسې چې دا نوم يې څرګندوي دا يواځې د کښتې محکمې پر وروستيو اقداماتو چې قضيه يې په بشپړه توګه فيصله کړې وي له سره غورته اجازه ورکوي. ددې ډول برخورد له مخې رابنسن نشي کولای د تيلو د ټانک د خرابۍ په اړه د فولکس واګون شرکت د پوهې د نا منل شوي سند په خاطر پداسې وخت کې چې د محاکمې قاضي د قضيې په باره کې خپل حکم صادروي، لوړې محکمې ته مراجعه وکړي. رابنسن بايد د محاکمې تر پايه پوري چې دی په کې دعوې بايلي انتظار وباسي. دا اغيزمن ګټل کېږي، ځکه پدې توګه رابنسن د محاکمې د ځنډيدو څخه مخنيوی کوي. دا کار همدا شان د مرافعې محکمې ته ددې چانس ورکوي چې په يوه پلا ټوله قضيه بررسي کړي. او پراشتباهاتو يا غلطيو او نورو ادعاو له سره غور وکړي. اما که رابنسن دعوې ګټلي وي بيا دې غور او بررسۍ ته ښايي هيڅ اړتيا و نه ليدل شي او ښايي د مرافعې محکمه هم هيڅکله دا قضيه بررسي نه کړي. نورې محکمې بيا هر وخت اجازه ورکوي چې لوړې محکمې ته مراجعه وشي مخصوصا" که د محاکمې د قاضي په پريکړه کې کوم عامه حق نقض شوی وي. پدې صورت کې د اسنادو او شواهدو په مسله کې مرافعه غوښتنې ته اجازه ورکول ددې ضرورت له منځه وړي چې لمړی محاکمه پای ته ورسېږي، ځکه کله چې مرافعه محکمې ته مراجعه وشي، هغه فورا" د نوي محاکمې دستور ورکوي.

بلې مسلې ته چې بايد پاملرنه وشي داده چې لوړه يا د مرافعې محکمې کوم کار نه کوي. څرنګه چې د مرافعه غوښتنې بهيرد ټول نور قضايي سيستم په شان د متخاصمې د عوې د اصولو تابع دی، د مرافعې محکمه به يواځې هغه وخت پوښتنو ته ځواب ووايي چې غوښتنه ورڅخه وشي. مرافعه محکمې پخپله خوښه پر قضيو فيصله نه کوي بلکه يواځې هغه وخت د رابنسن پر قضيې غور کوي چې د محاکمې بهير

په کښته محکمه کې پاي ته رسيدلی وي. بيا بايد انتظار وباسي تر څو د دعوې يوه خوا د مرافعې غوښتنه وکړي. اوکله چې قضيه ورته وړاندې شوه، دا محکمه يواځي پر هغو مسلو غور کوي چې د دعوې يوه خوا د محکمې پاملرنه هغې ته راوګرځوي او همدا موضوع په کښته محکمه کې هم بررسي شوي وي. د مثال په توګه مرافعه محکمې پر دې مسلې چې آيا د منصفه هيئت لارښوونې درستې وې او که نه غور ونکړ، ځکه د دعوې يوې خوا هم دا مسله مطرح نکړه. مرافعه محکمه همدا شان پر هغه مسله غور نه کوي چې بايلونکي خوا د کښتې محکمې د محاکمې په جريان کې نه وي مطرح کړي. که د محاکمې قاضي يو سند په دعوې کې منلی وي، آوډي شرکت نشي کولای په مرافعه محکمه کې د هغه سند د جايزتوب سره مخالفت څرګند کړي. د انصاف او اغيزمنتوب د اصل له مخې مرافعه محکمه يواځي هغو مسايلو ته رسيدګي کوي چې د کښتې محکمې د محاکمې د قاضي مخې ته مطرح شوي وي او د ثبت په هغه دوسيه کې چې ددې محکمې مخې ته پروت دی درج وي. مرافعه محکمه نوي حقايقو ته چې د کښتې محکمې قاضي ته نه وي وړاندي شوي هم پاملرنه نه کوي. او بالاخره مرافعه محکمه به يواځي هغه مسايل وڅيړي چې د يوې قضيې په نتيجه کې توپير راولي. د مثال په توګه آوډي شرکت نشي کولای د محاکمې د قاضي د حکم په خاطر مرافعه محکمې ته مراجعه وکړي ځکه غواړي چې لوړه محکمه په مسله کې د مربوط قانون په هکله په رسمي توګه خپل نظر څرګند کړي. که آوډي دعوې ګټلې وي، محکمه به د هغو مسلو په څيړلو خپل وخت ضايع نه کړي چې د دوو خواوو د جنجال د حل د پاره مهم وي. (اما کله چې رابنسن مرافعه محکمې ته مراجعه وکړي، آوډي کولاي شي د کښته محکمې د قضاوت د ملاتړ د پاره نور مسايل مطرح کړي.)

او په پای کې پر دې موضوع فکر وکړئ چې څنګه د مرافعې محکمه پر هغو شيانو چې په کښته محکمه کې پيښ شوي دي له سره غور کوي. که وړاندې شوې مسله د قانون يوه مسله وي، مرافعه محکمې معمولا" د صحيحې نتيجې د لاس ته راوړلو په مقصد د خپل قضاوت څخه استفاده کوي. د فولکس واګون شرکت د پوهې سند د هغه قانوني اصل له مخې په محاکمه کې په نظر کې و نه نيول شو چې د مورني شرکت او فرعي شرکت د اړيکو د تنظيم د پاره وجود لري. د مرافعه محکمو قاضيان دا قانون هغسې پيژني لکه د کښتې محکمې قاضي چې په محاکمه کې پيژانده.، لهذا دوی به پر موضوع له سره غور وکړي او د محاکمې د قاضي حکم ته به تغير ورنکړي. (څرنګه چې د مرافعه محکمې مقام لوړ دی، ددې محکمو قاضيان تل فکر کوي چې دوی په قانون تر نورو ښه پوهېږي. او هغسې چې د سترې محکمې د قاضيانو په باره کې ويل کېږي، دوی وروستني يا نهايي ندي ځکه دوی تيروتونکي يا له ګناه پاک ندي، اما دوی تيروتونکي نه دي ځکه چې وروستني او نهايي دي.)

اما که مسله د حقايقو وي، د مرافعې محکمه به د ډير احتياط څخه کار واخلي. دوی په کښته محکمه کې يواځي د محاکمې د بهيرد ليکنو يوه برخه ګوري او د دوو خواوو د وکيلانو دلايلو ته پاملرنه کوي. دوی پخپله شاهدانو ته غوږ ندی نيولی او يا يې ټول اسناد او شواهد ندي مطالعه کړي، لهذا دوی د ارزيابي کولو د پاره په يو ضعيف موقف کې د ي، يعني نشي کولای حکم وکړي چې آيا د موټر د تيلو

ټانک خراب وو او که نه. ددې مطابق مرافعه محکمې د حقایقو په تثبیتولو کې توپیر راولي، مخصوصا" که هغه د منصفه هیئت لخوا تثبیت شوي وي او د محاکمې قاضي هغه نه وي رد کړی.

۵

د موټرانو ټکر، په سرې قهوې سوځیدل ، او غلطه طبي معالجه فردي زیانونه او د تاوان قانون

نهه اویا کلنه ستیلا لیبیک د نیو مکسیکو د ایالت د آلبوکرکو د ښار د مک دانالډز رستورانت د یوې غرفې څخه په نهه څلویښت سنټو یوه پیاله قهوه (کافي) واخیسته. کله چې دې دا پیاله د خپلو ورنو تر منځ کښیښودله تر څو د پیالې سر خلاص کړي او بوره او شیدې ورسره ګډې کړي، دې دا پیاله قهوه پر ځان توی کړه او وسوځیدله. میرمن لیبیک د مک دانلډز پر رستورانت دعوې وکړه او ادعا یې وکړه چې دا کافي یا قهوه ډیره سره وه او منصفه هیئت حکم وکړ چې دې ته دې د ټپي کیدو په خاطر یو سل او شپیته زره ډالره تاوان ورکړل شي او مک دانلدز رستورانت دوه میلیونه او اوه سوه زره ډالره جریمه شو.

د تاوان د قانون د بدلون او اصلاح پلويان دا د دعوې څخه د ناوړه استفادې يو څرګندې او روښانه مسله بولي. دوی هڅه کوي زمونږ د مدني مسوولیت سیستم چې د تاوان د قانون یا Tort Law (شبه جرم) په نامه یادېږي اصلاح او نوی کړي.

د تاوان د قانون د اصلاح پلويان وايي، هر څوک پوهېږي چې قهوه سره ده او که يې تاسو پر ځان توی کړی، نو وبه سوځی. اما په ورځني ژوند کې هیڅوک حاضر ندی د ټکرونو او تصادفاتو نتایج ومني. پر ځاي يې قاضیان او منصفه هیئتونه د لیونتوب تر سرحده وړاندې تللي او مدعیانو ته اجازه ورکوي چې خپلې دیدنې او ناخوالې نورو کسانو ته چې په اصطلاح لوی او ژور جیبونه لري (یعنې بډای دي) ور حواله کړي.

اما د تاوان د قانون (یا شبه جرم) د دفاع کوونکو د پاره د میرمن لیبیک قضیه د اثبات یو دلیل دی چې د تاوان سیستم څومره ښه او اغیزمن کار کوي. ۷۰۰ نفرو د مک دانلدزد قهوې د زیات حرارت څخه شکایت وکړ او مک دانلدز دا شکایتونه رفع کړل او مجموعا" يې پنځه سوه زره ډالره خرڅ کړل. مک دانلدز خپله قهوه په داسې حرارت وړاندې کول چې د سیالو رستورانتونو تر قهوې شل درجې زیاته سره وه. ددې رستورانت مینیجرانو هم اعتراف وکړ چې د دوی د قهوې حرارت زیات دی او ژر نشي چښل کیدای او دومره سره ده چې بدن سوځوي. میرمن لیبیک د یوې هفتې د پاره په روغتون کې وه او څرنګه چې درې درجې سوې وه د پوست د پیوند جراحي عمل ته يې اړتیا درلوده. منصفه هیئت محاسبه کړه چې مک دانلدز په دوو ورځو کې د قهوې د خرڅلاو له لارې دوه میلیونه او اوه سوه زره ډالره تر لاسه کوي او همدغه مبلغ يې د مک دانلدز د جریمه کولو د پاره وټاکه. منصفه هیئت همدا شان میرمن لیبیک قسما" د خپلو ټپونو مسوولې وبلله، ځکه دې په کافي اندازه احتیاط نه وو کړی او د تاوان اندازه يې لږ کړه او د محاکمې قاضي بیا د مک دانلدز د پاره د جریمي مبلغ څلور سوه اتیا زرو ډالرو ته را کښته کړ. لدې قضیې او پدې هکله د خپرونو وروسته مک دانلدز د خپلې قهوې د حرارت درجه راکښته کړه. د تاوان د قانون پلويان وايي چې پدې قضیه کې د تاوان سیستم کار وکړ. یو خطا کاره مجبوره کړل شو خپلې یوې ټپي شوي قربانۍ ته تاوان ورکړي او خپل خطرناک چال چلند اصلاح کړي. همدې قضیې د نورو پر بالقوه خطرناکه چال چلند هم تاثیر وکړ. د وینډي رستورانتونو هم خپل د تاوده چاکلیت د حرارت درجه چې اکثرا" يې ماشومان چښي را کښته کړه.

محکمو او پارلمانونو د څو پیړیو راهیسې د تاوان دپاره اصول رامنځ ته کړیدي او د هغو له مخې ټاکل کېږي چې څوک د یو بل چا د تاوان یا ټپي کیدو مسوول دی. د تاوان د سیستم پلويان وايي داسې قضیې لکه د ستیلا لیبیک څرګندوي چې دا سیستم څومره ښه کار کوي. او هر تغیر پدې څو سوه کلن بهیر کې باید د ګام په ګام پرمختګ د دوام له لارې منځ ته راشي. د تاوان د سیستم د اصلاح کیدو پلويان استدلال کوي چې پدې بهیر کې هر شی له خپله حده وتلې، د افرادو څخه مسوولیت اړول شوی او پر بیګناه دفاع کوونکو باندې لوی مصرف تحمليږي، لهذا

لويو قانوني بدلونونو ته اړتيا ليدل کېږي. اما مخکې لدې چې فيصله وکړو چې آيا دا سيستم وساتل شي او يا تغير ومومي، مونږ بايد وپوهېږو چې د تاوان قانون يا جبران خساره په څه باره کې دی.

د تاوان قانون څه شی دی؟

په عامه توګه د تاوان د قانون (شبه جرم) تشريح آسانه ده، اما په دقيقه توګه تعريفول يې ګران کار دی.

د Tort (تاوان) کلمه د لاتين څخه اخيستل شوې چې د پيچل شوي او يا يوې خواته ګوښه شوي په معنې ده. لهذا Tort يو عمل دی چې د خاص معياري سلوک او چلند څخه ليري او جلا دی، يعنې يو غلط عمل دی. که تاسو خپل ګاونډی پر پزه په سوک ووهی، په ډيره بي احتياطي خپل موټر پر يو پياده رو وچلوی، يا خپل يو مشتري ته سره او سوځنده قهوه ورکړی، تاسو د يو جرم مرتکب شوي ياست.(ځيني جرمونه چې دلته بحث ندی ورباندې شوی، يواځې اقتصادي تاوانونه دي او نه جسمي يا فيزيکي، لکه په غلطه يو څوک په بدی او منافقت تورن کول يا په ټګی او چلبازی د يو چا غولول تر څو وشي کولای په يوه مالي معامله کې برخه واخلي). دا ټول غلط اعمال دي چې قربانيان يې کولای شي د هغه د پاره د خسارې جبران يا د پيسو تاوان وغواړي.

مونږ کولای شو ددې لاندې قضيو څخه د تاوان د قانون په مفهوم تر ډيره حده پوه شو، اما پاملرنه وکړئ چې دا تشريحات اساسا" منځ خالي دي ځکه د تاوان د قانون په هکله اساسي پوښتنو ته ځواب نه ورکوي. که د تاوان قانون غلط سلوک او چال چلند منع کوي، د څه له مخې حکم کوو چې يو سلوک غلط دی؟ آيا ستاسو ګاونډی د جرم مرتکب کېږي که تاسو پر پزه په سوک ووهي؟ آيا مک دانلدز د جرم مرتکب کېږي که داسې قهوه وړاندې کړي چې ډيره سره وي او يو مشتري وسوځوي؟ او هغه موټر چلوونکی بيا څنګه چې د سرعت تر ټاکل شوي حد کښته موټر چلوي خو د آب و هوا د شرايطو له مخې بيا هم ډير تيز ځي؟

داسې پوښتنې د تاوان د قانون دوه مهم خصوصيته څرګندوي. لمړی، د ځينو قضيو فيصله کول آسانه اود ځينې نورو دا ګران دی. قاضيان، وکيلان او د تاوان د قانون کارپوهان د آسانو قضيو څخه په استفاده کولو سره اصول او اساسات منځ ته راوړي او د هغو په مرسته سختې قضيې تحليلوي. (ځينې وخت يې برعکس هم کارکوي، يعنې پر سختو قضيو باندې فکر کول مونږ ته ددې بصيرت او پوهه راکوي چې د آسانه قضيو په باره کې پر خپلو ځوابونو له سره غور او فکر وکړو.) دوهم، د تاوان قانون هغومره چې د مقرراتو يوه مجموعه ده يو پروسس يا بهير هم دی. د تاوان د قانون يو اساسي عنصر په خاصو قضيو کې لکه د موټر ټکر چې په باراني شپو کې پيښېږي،

د ډیرو عمومي اصولو تطبیقول دی، لکه چې وایو، هر څوک باید ډیر احتیاط وکړي چې بل څوک ژوبل نکړي. هغه موسساتي جوړښت چې د هغه له لارې مقررات تطبیق کېږي، لکه د دعوې په سیستم کې چې په هغه کې مسوولیت د محکمو او منصفه هیئتونو تر منځ ویشل شویدی، د تاوان په قانون کې هغومره اهمیت لري لکه پخپله د مقرراتو محتوې چې یې لري.

ولې مونږ د تاوان قانون ته اړتیا لرو؟

هره ورځ خلک ژوبل کېږي. یو موټر چلوونکی د موټر د چلولو په وخت کې خوب وړي او موټر د یوې درختې سره ټکروي، د یو چا په زینه کې پښه خطا کېږي او لاندې رالغړي. جراحي عملیات اکثره بریالي نه وي.

اما اکثره خلک ژوبل کېږي خویو بل څوک یې مسوول وي. یو د کور خاوند د خپل کور په پیاده رو کې رامنځ ته شوي چاکونه نه رغوي او یو پیاده سړي په هغه کې پښه اېږدي او لوېږي. ډاکټران د ناروغانو د ناروغۍ غلط تشخیص او غلطه معالجه کوي. د موټرپه یو ظاهرا" کوچني ټکر کې سپرلي وژل کېږي ځکه د موټر د تیلو ټانک اور اخلي او چوي. د کښتی جوړولو کارګران چې د آسبیست د مادې څخه استفاده کوي د سږو په ناروغۍ اخته کېږي. او یا به څو جالب حقایق د مثال په توګه را واخلو چې د تاوان د قانون استادان تل اشاره ورته کوي : د ریل ګاډی نګران یو سپرلۍ پر شا تمبوي او ددې باعث ګرځي چې د سپرلي له لاسه یو پارسل ولوېږي ؛ په پارسل کې د اورلوبې (آتش بازي) شیان اور اخلي او چوي او ددې باعث ګرځي چې د ریل پر خط یو زیات شمیر سپرلي فرار وکړي، پر ترازو باندې ګذار کول چې د هغه د رالویدو باعث ګرځي او بل مسافر چې د ریل ګاډی پر خط ولاړ دی ژوبل کېږي، د یوې کښتۍ طناو د خپل د لنګر له ځایه خطا کېږي او د اوبو د بهیر سره ځي او په بله کښتۍ کې منښلي، دوهمه کښتۍ هم د خپل لنګر ځاي څخه خطا کېږي او دواړه کښتیانې د اوبو په مسیر کې راځي او د یو بل سره ټکر کوي او د اوبو د تګ لاره بندوي او هلته اوبه او یخ ډم پاته کېږي، اوبه لوړې خیژي او د خلکو پر ملکیتونو سیلاب راځي.

څه به پیښه شوې وای که مونږ دداسې پیښو او ژوبلو د پاره قانوني سیستم نه درلودلای؟ لمړی، خلکو به د نورو کسانو د ژوبلیدو د مخنیوي د پاره کومه انګیزه نه درلودای. ځیني وختونه ژوبلي په قصدي توګه منځ ته راځي، خو اکثرا" تصادفي وي، ځکه خلک د احتیاط کولو د پاره پیاوړې انګیزه نلري. د موټر جوړولو یو شرکت به ښایي تشویق شي چې په موټر کي د امن د پاره لازم شیان لږ کړي، که وپوهېږي چې په نا امنو موټرانو کې د ژوبلې د پیښیدو مسوولیت دې شرکت ته نه راجع کېږي. موټر چلوونکي به لږاحتیاط وکړي او د کور خاوندان به ښایي دا هیله ونلري چې د کور د مخې وران پیاده رو ترمیم او جوړ کړي.

برعکس، هغه شرکتونه یا ځانګړي کسان چې په خپلو اعمالو کې د امن ساتنه کوي د خپل ښه سلوک له کبله هم د تاوان او جریمې سره مخامخ کېږي، ځکه په احتیاط عمل کول ډیر ګران شوی او په مقابل کې یې مسوولیت ندی لږ شوی.

دوهم، د تصادفاتو او ټکرونو قربانیان یواځي پریښوول کېږي او مجبوره دي خپل د علاج، د معاش څخه د محرومیدو او د خپلو ملکیتونو د خرابې ټول مصارف او تاوان پخپله ورکړي. همدا شان د ژوبلې ټول نور نتایج هم ددوی په غاړه دي. د اکثرو قربانیانو د پاره دا مصارف ډیر زیات دي او د ځینو بې طالعو د پاره بیا دا مصارف ورانوونکي او مصیبت باره دي. د مثال په توګه د سړې قهوې سره د میرمن ستیلا لیبیک ماجرا به ددې د معالجې د پاره د ډاکټر او روغتون مصرف لس هاو زره ډالرو ته لوړ وخیژوي.

دریم، دا به هم منصفانه نه وي چې که خلک په آزاده توګه یا په قصدي یا د بې احتیاطۍ له مخې نورو ته تاوان ورسوي. د موټر بې احتیاطه چلوونکی به د خپل غلط عمل سربیره په خپل کار پسې ولاړ شي که مجبوره نشي د خپلې بې احتیاظي تاوان ورکړي او بې ګناه قرباني به مجبوره وي د موټر چلوونکي د غلط عمل ټول نتایج په یواځي سر وزغمي.

ددې پروبلمونو حل بې لدې چې د تاوان د قانون څخه استفاده وشي، د څو نورو لارو هم کیدای شي. یو غلط سلوک تر جنایي تعقیب لاندې نیول کیدای شي. په جدیت سره د ترافیکي مقرراتو تطبیقول به خلک مجبوره کړي چې په احتیاط موټر وچلوي. حکومتي ادارې به د موټرانو او نورو محصولاتو د جوړولو جزییات او څرنګوالي تنظیم کړي، یا داچه خلک باید څرنګه خپل ملکیتونه ښه وساتي او ترمیم یې کړي او یا رستورانتونه باید خپله قهوه د حرارت په کومې درجې اخیستونکو ته وړاندې کړي او داسي نور. بازار او عمومي شهرت او اعتبار به هم پدې لاره کې مرسته وکړي ؛ اخیستونکي به ښایي هغه محصولات خوښ کړي چې دوی یې د امنیت په هکله اطمینان لري، او پخپله خلک به هم و نه غواړي چې د یو بې احتیاطه کس په سترګه ورته وکتل شي. د تصادفاتو او ټکرونو قربانیان کولای شي ځانونه بیمه کړي، او که دوی پخپله ددې توان ونلري د عامه ښیګڼو موسسې یا خصوصي خیریه موسسات به ددوی غم وخوري.

په حقیقت کې مونږ د داسې پروبلمونو د حل دپاره چې د ژوبلو څخه منځ ته راځي پرته لدې چې د تاوان د قانون څخه ګټه واخلو د نورو میکانیزمونو څخه استفاده کوو. د جنایي تعقیب څخه بیره ددې باعث ګرځیدلی چې خلک یو بل په سوکانو و نه وهي. او فدرالي حکومت غوښتنه کوي چې موټران باید د سپرلیو د ساتني د پاره (د ټکر په وخت کې) د هوا کڅوړې، د موټر د سیټ کمربند او د امن نور وسایل ولري. یو څوک چې په ترافیکي پیښه کې ژوبل کېږي ښایي صحي بیمه ولري چې د علاج مصارف به یې ورکړي، او یا د معیوبیدو بیمه ولري چې مالي زیان به یې جبیره کړي. او که دا ونلري د خیریه طبي مرستوMedicaid، د اجتماعي امنیت یا تقاعدSocial Security او یا هم د نورو خیریه مالي مرستو له لارې به دا خلا ډکه شي. ځینې برخې

د تاوان د سیستم څخه لیرې کړل شوي دي، د کارګرانو د معاش تلافي کول او تر یو لږ حده د موټرپه چلولو کې د بې احتیاطۍ بیمه درلودل یې اصلي مثالونه دي. خو د پیړیو په اوږدو کې مونږ همدا شان د تاوان د قانون یو سیستم هم منځ ته راوړی دی چې د ژوبلو او غلط سلوک په مواردو کې تطبیق کېږي. د تاوان قانون خلک ښه سلوک ته رابولي او خلک تشویقوي چې د بدسلوک څخه ځان وژغوري. دا قانون د هغو کسانو څخه چې بدسلوک کوي غواړي د خپلو قربانیانو زیان او تاوان جبیره کړي چې دا زمونږ د عدالت د احساس سره سمون لري. د تاوان د قانون اهداف په عامه توګه درې دي. مخنیوی یا تشویق، د زیان جبران او انصاف. د یو سیستم په توګه چې ددې اهدافو په خدمت کې دی او د ژوبلې او زیان د مسایلو سره سروکار لري، د تاوان سیستم نسبت نورو میکانیزمونو ته درې ښیګنې لري.

لمړی، د تاوان قانون خصوصي افرادو ته اجازه ورکوي پخپله د قانون د تطبیق د پاره هلي ځلې وکړي. د زیان او تاوان ټولې قضیې د خصوصي افرادو لخوا یا د شرکتونو لخوا محکمې ته وړاندې کېږي او نه د حکومت لخوا چې د څارنوال په توګه عمل کوي. (ځیني وخت حکومت د تاوان د قضیې یو طرف وي، پداسې حالت کې دولت د هربل مدعي یا مدعي علیه په شان موقف لري.) فدرالي او ایالتي حکومتونه د قضیو د حل د پاره د محکمو سیستمونه منځ ته راوړي، اما خصوصي افراد پخپله د خپلو شکایتونو یا د فاع له لارې د تاوان سیستم پر مخ بیایي. همدا وجه ده چې د تاوان سیستم د څارنوالۍ لویې ادارې یا خاصوادارې موسساتو ته اړتیا نلري چې مقررات و ټاکي، د بدسلوک یا خطا عمل په هکله تحقیقات وکړي او یا شکایتونه تعقیب کړي. پر ځای یې، د تاوان د قانون عامه اهداف د خصوصي افرادو په لاس کې دی او هغوي یې تعقیبوي. د مثال په توګه دا بحث چې څومره سوروالۍ د قهوې د پاره ډیر سور ګنډل کېږي د میرمن ستیلا لیبیک او مک دانلدز لخوا پر مخ بیول کېږي او نه د خوراکې او دارو درمل د اداري یا د مصرفي محصولاتو د امنیت د کمیسیون لخوا.

دوهم، د تاوان قانون د نسبتا" عمومي مقرراتو څخه جوړ دی، لکه یوه مقرره چې وایي : یو موټر جوړونکی شرکت باید موټر پداسې توګه جوړ کړي چې کومه داسې خرابه پرزه چې په غیر لازمي توګه خطرناکه وي ونلري. داچه ددې مقررې معني څه ده، دا د هرې ځانګړې قضیې په متن کې په ځانګړي توګه څرګندېږي چې پر دې مسلې تاوده بحثونه کېږي، اما دا د قانون څخه نه غواړي چې مخکې له مخکې په مشخصه توګه او ډیر تفصیل سره وټاکي چې یو موټر باید څنګه جوړ شي او د امنیت د پاره کوم وسایل باید په کې تعبیه شي. انتظامي ادارې لکه په ملي لویو لارو کې د ترافیک د امنیت اداره اوس ځیني داسې کارونه کوي، خو که د تاوان قانون نه وي بیا نو باید پدې ساحه کې ډیر کار وکړي.

حقیقت هم دادی چې تصادفات او ټکرونه د لایتناهي ډیرو لارو څخه پیښېږي نو دا به ناممکنه وي چې په هر د تصور وړ حالت کې د انسانانو د سلوک د څرنګوالي د پاره چوکاټ وټاکل

شي، او د تاوان د قانون عمومي توب موږ ته ددې توان راکوي چې يو سلوک ارزيابي کړو بيله دې چې مجبوره شو دا کاروکړو.

دريم، د تاوان قانون پدې غوښتنه چې قرباني ته تاوان بايد د خطا کار لخوا ورکړل شي د زيان مخنيوی او د تاوان د جبران مسايل د انصاف د تامين په مقصد يو د بل سره تړي. کله چې يوه ژوبله پيښه شي، دا درست ښکاري چې خطاکار بايد سزا ووينې او قرباني ته بايد د رسيدلي زيان تاوان ورکړل شي. دلته د هغه ميکانيزم سره چې په عين وخت کې دوه هدفه تر سره کوي يو ښه ورته والی شته. که خطاکار تر جنايي تعقيب لاندې وي، قرباني بيا هم خپل زيان زغمي ؛ خو که د بيمې شرکت د قرباني د(ډاکتر او روغتون او نورو) بيلونو پيسې ورکړي، ددې تاوان جبران شويدی، اما خطاکار بيله دې چې مسوولیت په غاړه واخلي خپله پښه باسي.

دا چې د تاوان قانون هغسې چې شايد او بايد کار کوي او که نه د قانون يو له ټولو ډيره بحث انګيزه موضوع ده. تجارتي موسسې، ډاکټران او د بيمې شرکتونه استدلال کوي چې د تاوان قانون نور له دربه لويدلی دی. دوی هم د نورو اصلاح غوښتونکو سره يوځای ددې قانون د اصلاح کيدو غوښتنه کوي او وايي چې د تاوان ځيني اساسي نظريات بايد فسخ شي او ځيني نور يې محدود کړل شي. د مستهلکينو ډلې او د محاکمې وکيلان ددې سيستم څخه دفاع او ددې قانون د پراخيدو په طرفداری استدلال کوي.د تاوان د قانون کارپوهان چې په سياسي صحنه يا سپکترم کې د ښي خوا دي او که د کينې خوا، دا مسله تحليل کړې او ددې سيستم پر اغيزمنتوب يې بحثونه کړيدي.

د تاوان قانون د اصلاح کيدو پلويان استدلال کوي چې محکموتر حد وړاندې ګام ايښی او يواځې د تاوان د قانون د جبيرې کولو برخې ته پاملرنه کوي او د انصاف اصل او په حقيقي ژوند کې د خپلو حکمونو نتايجو ته يې پاملرنه نده کړې. دوی زياتوي چې د تاوان د مقرراتو په رامنځ ته کولو او د هرې ځانګړې قضيې د پاره د منصفه هيئت په ټاکلو کې د محکمو ميلان په مخ په زياتيدو توګه دې ته دی چې د زيانمن شوي قرباني تاوان جبيره شي. ددې ميلان په درلودلو سره محکمې په بشپړه توګه هيروي چې لمړی بايد د مدعي عليه جرم يا ګناه ثابت او بيا مسوول و بلل شي. قاضيانو د جدي يا بشپړ مسوولیتstrict liability مقررات منځ ته راوړي چې د هغه له مخې مدعي عليه ته د قرباني د زيان تر محولولو مخکې د مدعي عليه د جرم او ګناه د ثابتيدو اړتيا نه ليدل کېږي. همدا شان منصفه هيئت هم د يو مدعي سره مخامخ کېږي چې سخت ټپي يا زيامن شويدی او په مقابل کې يو مدعي عليه ويني چې يو لوی شرکت دی او يا يو بډای او ښه بيمه شوی ډاکټر دی. منصفه هيئت د يو ژور او ډک جيب په لټه کې چې د قرباني تاوان جبيره کړي، هيڅ ميلان نه ښکاره کوي چې تشريحاتو ته غوږ ونيسي او يا د مدعي عليه د سلوک پر معقوليت فکر وکړي. ددې اقداماتو نتيجه د يو سيستم منځ ته راتلل دي چې د تاوان د پاره ډير زيات مسوولیت ټاکي او ددې خطر هم شته چې حتې تر دې هم ډير شي. همدا وجه ده چې پر

ډیرو محصولاتو او فعالیتونو د تاوان مالیه لګول شویده چې د ډیرو محصولاتو او خدماتو قیمت یې لوړ کړی او یو لړ محصولات یې به پشپړه توګه له بازار څخه ویستلي دي. د یو موټر، یوې برقي آلې او یا د یوې زینې قیمت لوړ ختلی ځکه جوړونکي مجبوره دي په دې محصولاتو کې غیر ضروري امنیتي او یا د خبرتیا وسایل تعبیه کړي. ډاکټران مجبوره دي د دفاعي معالجي د اسلوب څخه کار واخلي او د اضافي معایناتو غوښتنه وکړي چې دا د معالجې او د روغتیا ساتنې نرخ ډیر لوړ خیژوي او یا ډاکټران د هغو اختصاصي کارونو د اجرا څخه ډډه کوي چې یو څه خطر ولري لکه د ماشوم د زېږیدنې په چارو کې.

د تاوان قانون د اصلاح کیدو غوښتونکي دا هم وایي چې د تاوان د مسوولیت پراخیدل فردي مسوولیت له منځه وړي. ځرنګه چې محکمې دداسې موافقو د تطبیق څخه ډډه کوي چې د تاوان مسوولیت محدودوي او یا یې ردوي، د مستهلکینو د انتخاب حق د یو امن محصول په رانیولو کې چې حاضر دی د هغه قیمت ورکړي محدودېږي. په عمومي توګه د مسوولیت زیاتیدل داسې یوه ټولنه منځ ته راوړي ده چې هیڅوک د خپلو اعمالو د پاره ځان مسوول نه بولي او هر یو د خپل سلوک د پاره د یو معذرت او د یو بل چا په لټه کې دی چې دده زیان جبیره کړي. یو د (دعوې په وکړه) ټولنه کې هیڅوک نور ځان د خپلو اعمالو د نتایجو مسوول نه بولي.

د تاوان د سیسټم دفاع کوونکي وایي چې دا سیسټم د امریکا د اولس د امنیت د ښه کیدو په لاره کې یو لوی بریالیتوب دی. په متحده ایالاتو کې د موټر د ټکر په نتیجه کې د مړو شمیر په تیرو پنځه ویشت کلنو کې شل په سلو کې کم شویدی او دا تر ډیره حده د تاوان د مسوولیت د پراخیدو او د حکومت لخوا د امنیتي مقرراتو د تطبیق نتیجه ده. دا د تاوان د قانون مهم اغیز دی چې خلک امنیت ته ډیر تشویق شوي دي مخصوصا" په هغو برخو کې چې ددې قانون د اصلاح غوښتونکو تر حملو لاندې ده یعني د خرابو محصولاتو جوړول : د تاوان د مسوولیت احتمال د محصولاتو جوړونکي تشویق کړیدي چې د خپل محصول د احتمالي خطرونو په هکله څېړنه وکړي او امن او مطمئن شیان جوړ کړي. ډیر خطرناک محصولات یا له بازار څخه ټول شوي دي، یا یې استفاده محدوده شویده او یا اصلاح شوي دي. مثالونه یې د دالکون شیلډ شرکت د حامله داری د مخنیوي وسایل، آسبیستس، یا د ماشومانو جامي دي چې اور نه اخلي او یا موټران دي چې باید لازم امنیتي وسایل ولري.

پداسې حال کې چې د تاوان د قانون اصلاح غوښتونکي ددې قانون په هکله ډیرې بیروونکي قصې کوي (چې صرفا" د یو څو محدودو پېښو په هکله دقیق رپورت ورکړل شویدی) د تاوان د قانون د بریالیتوب قصي لرې کېږي.

دا بریالیتوب بیله دې چې منصفه هیئت په خپلو پریکړو کې افراط وکړي لاس ته راغلي دی. په اکثرو قضیو کې منصفه هیئت د مسلکي قاضیانو سره د دعوې د نتیجې په هکله تفاهم ته رسیدلي او داسې نه ده چې منصفه هیئت یواځې د مدعي د زیان د جبیره کولو د پاره په یو ژور

او ډک جیب پسې ګرځیدلي وي. او د فردي مسولیت مسله یوه پیچلي مسله ده؛ ددې د پاره چې مدعي ځان د خپل سلوک مسوول وبولي، اکثرا" ددې لارې امکان مومي چې مدعي علیه ته اجازه ورکړل شي چې ځان د خپل سلوک مسوول ونه بولي.

ددې مسلو حلول ګران کار دی او پر دې به په همدې فصل کې د تاوان د قانون د اصلي مقرراتو په برخه کې بحث وشي. خو ددې د پاره چې دا بهیر پیل کړو دې دوو قضیو ته پاملرنه وکړئ.

پروفیسر پیتر بیل پدې اړه یوه وړه قصه لري چې څرګندوي څنګه د تاوان د قانون موجودیت پر تجارتي موسساتو اغیر کوي. دی وایي چې د نیاګارا د آبشار لیدو ته تللي وو. هلته هر لورې ته د لرګو زینې، لارې او پلونه وه او سیلانیانو کولای شوای د آبشار لاندې سیمو ته ولاړ شي. ددې لور پوښتنه ورځخه وکړه چې آیا هغه ځایونو ته تګ امن او مطمئن دی؟ پروفیسر بیل دوه متضاد عکس العملونه وښودل. له یوې خوا دا جوړښتونه ډیر ماتیدونکي ښکاره کیدل، خو د بلې خوا ده فکر کاوه چې دا باید امن وي. ددې دا عقیده چې دا به امن وي پر دې احتمال چې کومې حکومتي ادارې به ددې زینو ټینګوالي آزمایيلي وي نه وو ولاړ او نه هم پر دې باور چې د هغه مالکانو به په دقت سره ددې زینو امنیت تامین کړي وي ځکه چې دا کار ددوي د تجارت ډیر په ګټه دی. ښاغلی بیل لیکي، دا چې ما ولي فکر وکړ چې دا زیني امن دي زما ددې پوهې له کبله وو چې د سیلانیانو د پاره دداسې سفرونو تنظیم کوونکي ښه پوهېږي چې که دا کار ونکړي او ددې زینو امنیت په مطلقه توګه تامین نکړي، نو د لویو دعواوو سره به مخامخ شي.

دوهم، فکر وکړئ چې یو لوی شرکت څنګه د تاوان د قانون اغیز ته ګوري. د میلادي شپیتمې لسیزې په پای کې د فورد د موټر جوړولو شرکت یو نوی کوچنی موټر چې پینټو نومیده ډیزاین کړ تر څو د جاپاني موټرانو سره رقابت وکړي. د پینټو د ډیزاین په وخت کې، انجنیرانو یوه آزموینه وکړه او وپوهیدل چې په نوي موټر کې که ټکر وکړي د تیلو ټانک ژرلیک کېږي او دا حتې د لږ سرعت په ټکر کې هم د اور اخیستلو خطر منځ ته راوړي. انجنیرانو دا پوښتنه کوله چې آیا د تیلو په ټانک کې د امنیت د پاره خاص وسایل تعبیه کړي، د تیلو ټانک د موټر په بله برخه کې ځای پر ځای کړي، او یا د ساتنې داسې جوړښتونه ورسره یو ځای کړي چې د سوري کیدو یا لیک کیدو احتمال ډیر لږکړي.؟ که دوی دا کار وکړي د موټر قیمت به لوړ وخیژي پداسې حال کې چې د فورد د شرکت د ریس مرستیال لي ایا کوکا ویلي وه چې د موټر نرخ باید په هر صورت تر دوه زرو ډالرو کښته پاته شي. که څه هم اضافي مصرف پر هر موټر څلور ډاله او شل سینټه او یا اته ډاله وو، خو د ښاغلي ایا کوکا په پلان کې پر هر سنت حساب کیده. که انجنیرانو دا کار نه وای کړی، دوي پیشبیني کوله چې څو سوه نفره به د سوځیدو له کبله مړه یا سخت ټپیان شي. کله چې دوی د خپلو وکیلانو سره مشوره وکړه، دوی دا تخمین وکړ چې دوی به څو دعواوې بایلي او پر دوي به څه ډول قضاوت وشي او بیا نو دوي باید د محکمو او د زیان د ورکولو دغه مصرف

هم د ډیزاین او تولید پر قیمت ور زیات کړي او تر څو چې دا نقیصه اصلاح کېږي ددوي د موټرانو دخرڅلاو اندازه به هم ډیره کښته راشي. په پای کې د فورد شرکت پریکړه وکړه چې دا امنیتي وسایل دې موټر ته نه وراچول کېږي او نتیجه دا شوه چې دا شرکت د غیر ضروري اور اخیستلو له کبله د محصول د مسوولیت د تر سلو زیاتو دعواوو سره مخامخ شو. په یوه مشهوره دعوې کې منصفه هیئت د فورډ شرکت ۱۲۵ میلیون ډالره جریمه کړ چې وروسته قاضي درې نیم میلیونه ډالرو ته را کښته کړ. د موټر د دیزاین کولو بهیر ډیر پیچلی، ستونزمن او ګران دی، خو د پینتو تر قضیې وروسته موټر جوړونکو د تاوان قانون او په خپلو محصولاتو کې د امنیت مسایلو ته ډیره پاملرنه وکړه.

که تاسو یو څوک ووهی، آیا دا جرم ته ورته عمل دی؟

د تاوان قانون په درې برخو ویشل شوي دي. ارادي زیان رسونه، غفلت او جدي مسوولیت. په ارادي زیان رسونې کې یو کس ددې دپاره چې یو چاته زیان ورسوي په قصدي توګه یو عمل کوي. په غفلت کې د بې احتیاطي مسله مطرح ده، او په جدي مسوولیت کې یو څوک که څه هم چاته د زیان رسولو اراده او قصد نلري او د زیان د مخنیوي د پاره یې هلې ځلي هم کړیدي، بیا هم مسوول ګڼل کېږي. ددې درو برخو څخه د ارادي زیان پوهیدل آسانه دی چې مشهور شکل یې وهل ټکول دی.

کله چې بیف Biff د جورج George پزه په سوک وهي او دی د پورته څخه په زینو کې رالغړوي اوبیا یې په ډیره خوشحالۍ تر خپل موټر لاندې کوي، دا د وهلو ټکولو له لاري په ارادي توګه زیان رسول دی. د وهلو ټکولو یا ضرب و جرح په مسله کې د انسان د بدن بشپړتیا د هر ډول ارادي تیري په مقابل کې ساتل کېږي اودا د تاوان د قانون مقررات دي چې د ضرب و جرح په قضیه کې د مدعي د حقوقو ساتنه کوي. مونږ غواړو پرې نږدو چې بیف یا ورته کسان نور خلک ووهي، او که جورج د خپلو ټپونو د علاج د پاره ډاکټر ته ولاړ شي، نو دا به منصفانه وي چې بیف ده ته د رسول شوي تاوان جبیره وکړي.

دا ډیر ساده ښکاري، اما قانون ډیر لږ داسې ساده وي. قصدي یا ارادي زیانونه خطا کاري ده ځکه تیرۍ کوونکۍ دا اراده لري چې خپل قرباني ته زیان ورسوي. (Tortfeaser یا تیرۍ کوونکۍ یوه قانوني اصطلاح ده چې د جرم د عامل د پاره چې په عامه توګه بد سړی، بدماش یا bad guy بلل کېږي استمالېږي. ژ). اما د زیان رسولو اراده څه معني لري؟ او دا زیان باید څه ډول وي؟

د ګاریت او دیلې Garratt v. Dailey ترمنځ قضیې ته چې په ۱۹۵۵ کال کې د واشنګټن په ستره محکمه کې وربانديې فیصله وشوه پاملرنه وکړئ. برین دیلې یو پنځه کلن هلک د یوې زړې ښځې روت ګاریت د کور د شا انګړ ته تللی وو. برین یوه چوکۍ چې روت غوښته وربانديې کښیني،

ایسته کړي وه. کله چې میرمن روت ګاریت وغوښتل کښینې و نه پوهیده چې چوکۍ ایسته شویده، دا پر مځکه ولویده او د کوناټي هډوکۍ یې درز وکړ. ددې پیښې د څرنګوالي په هکله د نظر اختلاف وجود درلود. روت ادعا وکړه چې برین هغه وخت چې دې غوښتل کښینې په قصدي توګه چوکۍ ددې د لاندې څخه کش کړه. په محاکمه کې روښانه شوه چې برین دا چوکۍ پورته کړي او څو فوټه یې لیرې ایښې وه او پخپله پر ناست وو. کله چې دی وپوهید چې میرمن روت غواړي پر هغه ځای کښینې چې مخکې چوکۍ پرته وه، دی په تلوار پورته شو او هڅه یې وکړه دا چوکۍ بیرته هغه ځای ته ورسوي خو و یې نشوای کولای د میرمن روت د لویدو مخنیوی وکړي.

لمړی به د میرمن روت له نظره د پیښې څرنګوالي ته وګورو. که برین محکمې ته ووایي چې دده مقصد د میرمن روت خوږول نه وو او صرفا" یې وغوښتل وګوري چې پر مځکه د میرمن روت لویدل څومره خندوونکی کار دی، آیا ده په کافي اندازه اراده درلوده چې د ضرب او جرح مسوول وبلل شي؟ په ورځني ژبه کې برین دا اراده نه درلوده چې میرمن روت ته هغه زیان ور ورسوي چې ورته ورسید یعني د کوناټي د هډوکې ماتیدل. ده نه غوښتل چې دا پیښه وشي، اما د قانون له نظره ده بیا هم اراده درلوده چې د یو غیر قانوني پیښې علت وګرځي یعني د میرمن روت د لویدلو باعث وګرځي او دا د ضرب و جرح د پاره کافي دلیل دی. دده انګیزه یا داچه ده غوښتل څه ډول زیان ورسوي صرف پدې خاطر چې ده غوښتل په غیر قانوني توګه دغه پیښه منځ ته راوړي خپل اهمیت له لاسه ورکوي.

اوس به د محکمې له نظره د پیښو تسلسل ته وګورو. پدې قضیه کې برین هیڅ اراده نه درلوده چې روت ولوېږي، اما بیا هم ښایي مسوولیت ولري. د قانون له مخې یو څوک یا په قصدي توګه پدې اراده چې یو چاته زیان ورسوي په وهلو او ټکولو لاس پوري کوي او یا په ډیر اطمینان او ډاد چې زیان به ورسول شي عمل کوي. که برین د مثال په توګه په بشپړ ډاډ سره پوهیده چې روت به پر هغه ځای چې چوکۍ پرته وه کښینې ځکه دې خپل د ډوډۍ غاب راوړ او هغه یې د چوکۍ مخې ته پر میز کښیښود، دلته د ارادې غوښتنه پر ځای ده. مونږ غواړو د داسې سلوک چې په بشپړاطمینان سره د زیان باعث ګرځي او یا ددا سي یو ارادي سلوک چې زیان منځ ته راوړي مخنیوی وکړو او مونږ غواړو چې ددې زیانونو قربانیانو ته په عین توګه تاوان ورکړل شي لکه د برین او ټپي شوي روت ګاریت تر منځ قضیه کې چې وشو. دا منصفانه دی چې برین یا دده موراوپلار د هغه زیان تاوان ورکړي چې میرمن روت ته رسیدلی دی.

د زیان مفهوم هغومره پراخ دی لکه د ارادې مفهوم چې دی. د ضرب و جرح مسله هغه وخت منځ ته راځي چې یوڅوک په قصدي توګه د یو زیان سبب وګرځي یا د یو بل چا پر جسم او بدن برید وکړي. ددې کار د پاره سختو ټپونو او پرهارونو ته هم اړتیا نشته. د ضرب و جرح د پاره یوسربیرن کوچنی زخم هم په بشپړه توګه کفایت کوي. د ضرب و جرح د مسوولیت حقیقي پراختیا د برید له لارې د جسمي تماس د مفکورې سره اړیکه لري. که روت پر مځکه ولوېږي او

هیڅ ټپي نشي او زیان ورته ونه رسېږي، برین بیا هم د ضرب او جرح په عمل لاس پوري کړیدی، ځکه دا ډول جسمي تماس ددې پر عزت یو برید دی. کله چې قانون دبرید له لاري د جسمي تماس مفکوره ددې نظریي سره یوځای کړي چې وایي، یواځي هغه اراده مهمه ده چې هدف یې همدا ډول جسمي تماس وي، د ضرب او جرح یو پراخ مفهوم منځ ته راځي. په پزه د سوک وهلو د یوې ځرګندې قضیې څخه قانون د هر ډول تماس د مناسب والي په هکله قضاوت کوي. که جو ماریا بیله دې چې هغه وغواړي د مینې له مخې پر خوله مچې کړي، دې ته هم ضرب و جرح ویلای شو. حقیقتا" چې د بدن د تمامیت مفکوره دومره پیاوړې ده چې جو به د ضرب او جرح په ګناه ونیول شي که دی ماریا پداسې حال کې مچې کړي چې هغه بیده وي او په مچه کیدو خبره نه شي.

اما هر ارادي او زیان رسوونکی عمل یا جسمي تماس ضرب او جرح نده. که قرباني د یو جسمي برید یا تماس سره رضایت ولري یعنې که ماریا د مچې کیدو سره رضایت ولري، نو بیا د ضرب و جرح مسله نده مطرح. او دا د تاوان د قانون په رڼا کې معقولیت لري. که یو ځوک د یو داسې جسمي برید یا تماس سره موافقه ولري، نو بیا موږ د زیان رسونکي عمل یا جسمي برید په مخنیوي کې دلچسپي نلرو. پدې توګه دې په عمل کې خپل د تاوان اخیستلو یا جبیرې حق له لاسه ورکړیدی. او دا به منصفانه هم نه وي چې موږ یو ځوک دداسې یو کار د کولو مسوول وبولو چې بل طرف ورسره موافقه ولري.

اما که یو ځوک د یو ډول جسمي برید یا تماس سره رضایت وښیي دا پدې معني نده چې دی د هر ډول جسمي برید او تماس سره موافقه لري. کله چې مایک تایسن او ایواندر هولي فیلډ د سوک وهلو په لوبه کې ګډون کوي، هولي فیلډ رضایت ښودلی دی چې تایسن دی پر پزه په سوک ووهي (که څه هم دی یقینا" نه غواړي چې داسې پیښه شي). اما ده دا موافقه نه وه کړې چې تایسن دې دده د غوږ یوه برخه په غاښ کړي اوغوڅ یې کړي.

ځنګه ټاکل کېږي چې آیا رضایت ځرګنډ شوی او که نه؟ د یو عمل سره شفاهي رضایت چې غیر له هغه به دا عمل یو ضرب او جرح و ګنل شي، نه غوښتل کېږي. عمل تر کلماتو په ځرګنډه توګه خبرې کوي. د سوک وهلو میدان ته داخلیدل په ضمني توګه د لوبغاړي رضایت د وهلو سره ځرګنډوي. اما د ضمني رضایت ټاکل اماکن لري ستونزمن وي. دا مسله د جنسي تماسونو په قضیو کې راسربیره کېږي. د جنایي قانون له مخې پر یوې ښځې باندې د جنسي تجاوزپه مسله کې هم د رضایت د ټاکلو مسله په عین شکل ستونزمنه ده. دیو سلوک سر رضایت، په چوپه خوله او یا د خبرو له لارې ځرګندیدلای شي.مشکلات هغه وخت منځ ته راځي چې د رضایت د موجودیت او اندازې په هکله د خواوو په پوهه او ادراک کې اختلاف موجود وي. که یوه ښځه په فیزیکي لحاظ د یو نارینه د جنسي نژدې کیدنو په مقابل کې مقاومت و نه ښیي، آیا دا حقیقتا"

خپل رضایت ښیي؟ پداسې قضیو کې محکمه باید تعریف کړي چې په جنسي حالاتو کې کوم سلوک معقول دی او په پیښه کې د نارینه او ښځې د تعبیرونو څخه یو انتخاب کړي.

دا د سپورت او جنسي حالاتو فرضیې د ضرب او جرح په شان د ارادي زیان یو بل اړخ هم څرګندوي. دا مسایل زمونږ پوهه د تاوان د قانون د طبعت په هکله پیاوړې کوي، اما په عملي توګه د ضرب او جرح د تاوان څخه ډیره استفاده نه کېږي. د سپورت هر ژوبل شوی لوبغاړی یا د جنسي ناغوښتلي سلوک قربانیان د خپل زیان له کبله مدني محکمو ته مراجعه نه کوي. معمولا" پداسې دعواوو کې کافي پیسې لاس ته نه راځي. او حتې که په بالقوه توګه د دعوې د ګټلو او د تاوان د اخیستلو چانس هم وجود ولري، قرباني ښایي د دعوې د اوږد بهیر یا نورو احساساتي دلایلو له کبله ونه غواړي د دعوې محکمې ته د مراجعې لاره غوره کړي.

په نورو ارادي یا قصدي تاوانونو کې اکثرا" محکمې ته مراجعه کېږي. یو د ډیرو عامو داسې دعواوو څخه د ناحقه بندي کیدو مسله ده. هغسې چې د ضرب و جرح په تاوان کې د برید په مقابل کې د انسان د بدني آزادۍ ساتنه کېږي، پدې ډول تاوان کې د انسان د حرکت د آزادۍ ساتنه کېږي. یو څوک په یوه خونه کې د هغه د ارادې خلاف بندي کول د ناقانونه بندي کولو یوه کلاسیکه موضوع ده، یا داچه یو څوک تهدید شي چې که د خوني څخه ووځي ژوبل به شي. دداسې سلوک باید مخنیوۍ وشي او دا به نامعقول وي چې که د قرباني څخه دا انتظار ولرو چې د بدنې ژوبلې خطر ومني او ددې حقیقي تهدید په مقابل کې مقاومت وښیي.

د غلط او ناقانونه بندي کیدو ډیرې جالبې قرضیې منځ ته راځي کله چې یو مشتري په یوه لویه مغازه کې د غلا کولو په تور ونیول شي. د کوبلین او د کینډي د شرکت تر منځ جنجال ته چې په ۱۹۷۱ عیسوي کال کې پیښه شوه پاملرنه وکړئ. اویا کلن ماریوس کوبلین د بوسټن په ښار کې د خرید د پاره د کیندي لویې مغازې ته ولاړ. کله چې ده یوه سپورټي کورتۍ پر ځان کتله خپل د غاړې شال یې لیرې کړ او هغه یې په خپل جیب کې ننه ویست. وروسته ده دا کورتۍ رانیوله او د یو څه بدلون د پاره یې د مغازې خیاط ته ورکړه. کله چې یې غوښتل د مغازې څخه ووځي، ودرید او د خپل جیب څخه یې خپل د غاړې شال را وویست او غاړې ته یې واچاوه او یوه غوټه یې هم ورکړه. خو کله چې د مغازې د دروازې څخه ووت، مدعي علیه ګاس Goss چې د مغازې کارکوونکۍ وو دده مخې ته ودرید او وې ویل، ودرېږه، دا شال دې له کومه کړ؟ وروسته یې کوبلین له مړونده و نیو او وې ویل ته باید بیرته ولاړ شي او زمونږ منیجر وګورې. اته یا لس نفره نور په صحنه کې حاضر وه او کوبلین ته یې کتل. کوبلین موافقه وکړه چې بیرته وګرځي. کله چې دی او ګاس د مغازې دوهم پوړ ته په زینو کې ختل، کوبلین دوه واره ودرید ځکه ده په خپل ځګر او شا کې د درد احساس کاوه. کله چې دوی دوهم پوړ ته ورسیدل، هغه دکاندار چې ده کورتۍ ورځخه اخیستې وه کوبلین وپیژاند او تایید یې کړه چې ده یوه سپورټي کورتۍ رانیوله او دا شال

هم دده وو. ددې ناوړه او احساساتي پېښې په نتيجه کې کوبلين په روغتون کې بستري شو او د زړه د ناروغۍ له کبله تر معالجي لاندې ونيول شو.

کوبلين د غلط او ناقانونه بندي توب پخاطر دعوې وکړه او دعوې يې وګټله. که څه هم کوبلين په خپله خوښه بيرته مغازې ته ستون شو، خو د ګاس عمل د زيان رسولو د پاره کافي وو، ځکه دې ته ضرورت نشته چې مدعي عليه په فيزيکي توګه قرباني پاته کيدو ته مجبوره کړي. ماساچوسټ، د ډيرو نورو ايالتونو په شان د دکاندارانو د امتياز يا Shopkeeper's privilege مقرره لري. ددې مقررې پر اساس د مغازې خاوند کولای شي په هغه صورت کې چې د يو مشتري د غلا د پاره مناسب او قانع کوونکي دلايل ولري، يو مشتري د يو معين او معقول وخت د پاره بندي وساتي. د کوبلين په قضيه کې دده بند په معقوله توګه ډير لنډ وو اما بند يې په معقوله توګه نه وو. ګاس ځان د مغازې د کارکوونکي په توګه معرفي نکړ او بې لزومه يې د يو سپن ږيري محترم سړي مړوند چې نه يې د مقاومت هيله او نه هم توان درلود، ټينګ ونيو. سربيره پردې، ګاس د کوبلين د بندي کولو د پاره معقول اساس نه درلود ؛ يواځې دريدل او خپل شال غاړې ته اچول او بيا د مغازې څخه وتل کافي ندی چې يو معقول سړی پر يو چا د غلا حکم وکړي.

آيا دا جرم ته ورته عمل دی که تاسې د بې احتياطۍ له کبله يو څوک ژوبل کړی؟

که څه هم ارادي زيانونه لکه ضرب او جرح يا ناحقه بندي کول ډير پخوانۍ ميراث دی او د هغه غلطي او ناحق توب په آسانۍ ليدل کېږي، خو په ډيرو عامو تاوانونو کې هغه زيانونه شامل دي چې ارادي ندي بلکه د بې احتياطۍ په نتيجه کې منځ ته راځي. د تاوان د قانون دې برخې ته غفلت يا بې احتياطي وايي. کله چې مونږ وايو چې يو سړی بې احتياطه دی، زمونږ مقصد دادی چې ده د لازم او معقول احتياط څخه کار ندی اخيستی او يو څوک يې ژوبل کړيدی. د مثال په توګه که يو موټر چلوونکی په خپل لاسي تلفون کې خبرې وکړي او پاملرنه يې د سړک څخه بلې خواته وګرځي او په نتيجه کې ټکر وکړي، نو دا موټر چلوونکی بې احتياطه دی. که يو ډاکټر د يو ناورغه د پاره چې په څيره کې يې د يوې ناروغۍ علامې ليدل کېږي او بيا هم د لازمو معاياتو د کولو غوښتنه ونکړي او په نتيجه کې د ناروغۍ غلط تشخيص وکړي، ده بې احتياطي او غفلت کړيدی.

د بي احتياطۍ په نتيجه کې د تاوان پوهيدل د ارادي تاوان په شان لکه د ضرب وجرح په مسله کې ډيره آسانه ده. مدعي عليه غلط عمل کړيدی، نه پدې خاطر چې چاته زيان ورسوي بلکه په خپل عمل کې يې د نورو ګټو ته لازمه پاملرنه نده کړې. مونږ غواړو چې دداسې سلوک څخه ډډه وشي او خلک دې ته وهڅو چې په خپلو اعمالو کې د احتياط څخه کار واخلي. يو ژوبل شوي قرباني ته زيان رسيدلی او دا منصفانه ده چې بي احتياطه عامل چې ددې زيان سبب ګرځيدلی د قرباني د زيان بار په غاړه واخلي.

اما په بي احتياطي کې د مسوولیت ميدان نسبت د ارادي زيانونود مسوولیت ميدان ته تنګ دی. يو سړی بيله کوم دليله په ارادي توګه يو چاته زيان رسوي ؛ په قانوني توګه هيڅ دليل نشته چې يو سړی يو بل څوک په سوک ووهي. اما د بي احتياطۍ په مسله کې مدعي عليه يو کار کوي لکه د موټر چلول چې اساسا" د منلو وړ او حتې ګټور کار دی. مونږ صرفا" غواړو روښانه کړو چې موټر چلوونکی دا کار په معقوله توګه وکړي، نه په کامله توګه، بلکه په معقوله توګه، لهذا پر ده باندې مسوولیت يواځي د سړک د مقرراتو د نه رعايه کولو په خاطر په مجازي او بعضا" په حقيقي توګه تحميلېږي. په قانوني مقرراتو کې د معقول په شان کلماتو ته ځای ورکول البته چې بي پايه بحثونه تحريکوي او د بې احتياطۍ د قانون زياته برخه هم پدې اړه ده چې معيارونه وټاکل شي او داسې تدبير وشي چې دې اصطلاح ته معنې او محتوې ورکړل شي. مونږ ښايي فکر وکړو چې هر څوک بايد هر وخت په خپل هرعمل کې د احتياط څخه کار واخلي، اما دا يو قانوني معيار ندی. ښايي دا يو غير عملي معيار وي. همدا وجه ده چې قانون په ډير دقت سره تعريف کړيدي چې څه وخت يو څوک مکلف دی چې په خپل سلوک کې د معقول احتياط څخه کار واخلي.

د بي احتياطۍ د مفکورې هسته هم داده چې خلک بايد په خپلو اعمالو کې د معقول احتياط څخه کار واخلي او پر هغه بالقوه او د پيش بينۍ وړ زيان باندې فکر وکړي چې ښايي دوی يې نورو ته ورسوي. اما دا يواځي يوه نظريه ده او نه قانون چې په هغه کې د معقول او د پيشبينۍ وړ کلمات په کافي اندازه مبهم او ناڅرګند دي. پدې توګه محکمې پراخ امکانات لري چې وټاکي څه وخت يو مکلفيت منځ ته راځي. يو ورځنۍ مثال مونږ ته ددې نظريي هسته ښه روښانه کوي.

پدې به مورِ ټول قناعت ولرو چې يو موټر چلوونکی مکلف دی چې د معقول احتياط څخه کار واخلي تر څو د يو پياده سړي او نورو موټر چلوونکو د ژوبلېدو سبب ونه ګرځي ځکه د خطرناکه سلوک او قرباني ته د بالقوه زيان رسولو تر منځ يوه مستقيمه اړيکه وجود لري. که يو موټر چلوونکی په خپل لاسي ټلفون کې خبرې کوي او هيڅ پاملرنه نه کوي، دا دپيشبينۍ وړ ده چې دی به يو پياده سړی په موټر ووهي. او که دا کار وشي، پياده سړی به ښايي ډير ژوبل شي او مجبوره به وي چې د ډاکټراو روغتون د مصارفو بيلونه ورکړي. دی ګبه د ناروغۍ په ټوله مده کې د معاش څخه محرومه وي او د خپلو ټپونو درد به زغمي. څرنګه چې دی د موټر چلوونکي د

بي احتياطۍ په نتيجه کې ټپي شويدی، دا به منصفانه وي چې ددې زيان د مصارفو بار د پياده سړي د اوږو څخه واخيستل شي او د موټر چلوونکي په غاړه ولوېږي. پدې او نورو حالاتو کې موټرچلوونکي مکلف دي چې په احتياط موټر وچلوي او د پياده کسانو د ژوبلولو څخه ډډه وکړي.

په نورو قضيو کې دا مسله چې معقول احتياط يو مکلفيت وي او که نه يوه ډيره د بحث وړ موضوع ده. د کيلي او ګوينل په قضيه کې چې په ۱۹۸٤ کال کې پيښه شوه د يو کوربه د مسوولیت مسلې ته پاملرنه وکړئ.

دونالد ګوينل وروسته له هغه چې جوزف زاک يې په خپل موټر کې کور ته ورساوه، يو ساعت يې لا د ښاغلي زاک او دده د ميرمنې سره ددوې په کور کې مجلس وکړ او پدې يو ساعت کې يې دوه يا درې پيکه سکاچ ويسکي وچښل. کله چې ګوينل بيرته خپل کورته ستنيدی، زاک دی تر موټر پوري مشايعت کړ او وې کتل چې دی څنګه موټر چلوي. ښاغلی زاک د ګوينل د حالت په هکله انديښمن وو او دده کورته يې تلفون وکړ چې دده د په خير رسيدو پوښتنه وکړي. خو هغه په خير کورته نه وو رسيدلۍ او د کور پر لاره يې د ماري کيلي د موټر سره سخت ټکر کړي وو چې په هغه کې ميرمن کيلي سخته ټپي شوي وه. د ګوينل د وينو معاينې وښودله چې دده په وينو کې تر قانوني حد درې چنده زيات الکهل وه او دې ثابته کړه چې ګوينل پدغه ماښام ۱۳ پيکه شراب چښلي وه او حتي هغه وخت چې دی د زاک په کور کې وو هم بايد پده کې د نشې علامې ليدل شوي وي.

آيا د کور يو خاوند مکلف دی چې يو نشه شوی ميلمه پرې نږدي چې خپل موټر ته وخيژي او هغه وچلوي؟ د محکمو او پارلمانونو تر منځ پر دې موضوع د نظر اختلاف وجود لري. پدې قضيه کې د نيوجرسي ايالت سترې محکمې داسې خلک لکه زاک مکلف وبلل او دوی ته يې د اجتماعي کوربه توب يا social hosts اصطلاح ومنله. سترې محکمې استدلال وکړ چې د تاوان د قانون اساسي اصول د داسې مکلفيت ملاتړ کوي. مخصوصا" د هغه مخ په زياتيدوعامه تشويش په رڼا کې چې د نشه خلکو لخوا د موټر چلول رامنځ ته کړيدی، معقول احتياط ته خلک مکلف بلل به کوربه وهڅوي چې د خپل ميلمه د شرابو د چښلو اندازه او د موټر چلول کنټرول کړي او د نشه شوو موټر چلوونکو د ټپی شوو قربانيانو د زيان د تلافۍ د پاره به د تمويل يوه نوې منبع منځ ته راشي، مخصوصا" که نشه موټر چلوونکۍ بيمه ونلري. نورې محکمې او پارلمانونه بيا دا ډول مکلفيت ردوي او استدلال کوي چې يواځې نشه موټر چلوونکي او نه د هغه اجتماعي کوربه د ټکر يا پيښې اصلي مسوول دی او په ډيرو حالاتو کې دا د کوربه د پاره عملي ندی چې د ميلمه هوښياري او اعتدال ارزيابي کړي او د موټر چلولو څخه يې مخنيوی وکړي. د ميرمن کيلي تر قضيې وروسته د نيوجرسي پارلمان يو منځنۍ دريځ غوره کړاو د اجتماعي کوربه مکلفيت يې خاصو حالاتو ته محدود کړ چې په هغه کې کوربه تر غفلت يا بي احتياطي زيات يعني په ارادي

او آګاهانه توګه داسي يو ميلمه ته چې په کافي اندازه نشه وي نور شراب ورکړي او د خپل دې کار نتايجو او عواقبو ته هيڅ پاملرنه ونه کړي.

د اجتماعي کوربه د مسوولیت مسله د پالنې د مفکورې د اصلي هستې يو له استثناآتو يا بالقوه استثناآتو څخه دی. په هر حالت کې بايد قضاوت وشي چې آيا دا ښه دی چې يو څوک د يو بل چا د بې احتياطۍ د پاره مسوول وګڼل شي او که نه. د بې مسوولیتۍ څلور عنعنوي ډولونو ته هم لازمه ده پاملرنه وشي.

لمړي، د غفلت يا بې احتياطۍ د عمل نتايج او عواقب ښايي ډير وړاندې ولاړ شي. د ميخ د پيدا کولو په هڅه کې بوټ ورک شو، د بوټ د پيدا کولو په هڅه کې آس ورک شو او داسې نور د باچاهي ترلاسه نه ورکولو پورې. آيا بې احتياطه آهنګر د تاوان له نظره د باچاهۍ د لاسه ورکولو مسوول دی او که نه؟ محکمې مجبوره دي په يو ځاي کې دا سلسله قطع کړي او بې احتياطه مدعي عليه د داسې يو کار د عواقبو د پاره چې ډير ليرې ورسره اړيکه ولري مسوول و نه بولي. همدا مسله د قانون د استادانو د پاره په يوه ډيره په زړه پورې قضيه کې يعني د پالسګراف او لانګ آيلند د ريل شرکت په قضيه کې (۱۹۲۸) رامنځ ته شوه او بنجامين کاردوزو چې د امريکا يو ډير مشهور قاضي وو پدې هکله يوه نظريه ورکړه. قضيه داسې وه چې هيلين پالسګراف د ريل په تم ځای کې وروسته له هغه چې تکت يې واخيست او غوښتل يې ساحل ته ولاړه شي، د خپل ريل رسيدو ته منتظره وه. يو بل ريل تم ځای ته ورسيد او دوه کسانو هڅه وکړه په منډه ځان هغه ريل ته ورسوي. يو ددې دوو کسانو يوپنډه کې درلود او په ډيره بيړه يې خيز وواهه چې ريل ته وخيژي. د ريل په دننه کې يو نګران هڅه وکړه دی د پورته خواته کش کړي چې ريل ته وخيژي او بل نګران چې د ريل د خط پر غاړه ولاړ وو هڅه وکړه دا سړی د لاندې د خوا د ريل دننه ته پورې وهي. د ريل د نګرانانو د کشولو او پورې وهلو په جريان کې دمسافر سړي له لاسه هغه پنډه کې د ريل پر خط ولويد. پدې پنډه کې يا پارسل کې د اور د لوبې چاوديدونکي وسايل وه چې پر مځکه د لګيدو سره وچاوديدل. يا د چاودنو موج او يا هم د چاودنو له بيرې د نوروخلکو منډې رامنډې چې د ريل د خط پر غاړه ولاړ وه ددې باعث شو چې د ريل د ليکې په پای کې يو ځړيدلۍ ترازو راولوېږي. دا ترازو پر هيلين پالسګراف راولويد او هغه يې ټپي کړه.

د محکمې په فکر نګرانانو چې دا سپرلۍ يې مخ او شاته پورې واهه بې احتياطي کړيده. که دا سپرلۍ د ريل څخه لويدلۍ او ټپي شوی وای، د ريل شرکت به بيله شکه مسوول وای(د ريل شرکت د خپلو کارکوونکو يعني نګرانانو د اعمالو مسوولیت په غاړه لري چې دې ته د نيابت مسوولیت يا vicarious liability وايي يعنې د بل چا د عمل مسوولیت چې مدعي عليه يې مسوول دی) د نګرانانو بې احتياطي بيله شکه د پالسګراف د ټپي کيدو علت دی، نو آيا د ريل شرکت بايد ددې د ټپي کيدو مسوولیت هم په غاړه واخلي؟ پدې دوو قضيو کې يواځنۍ توپير پدې کې دی چې ميرمن پالسګراف ته زيان د عجيبو حالاتو د تسلسل په نتيجه کې رسيدلی دی.

دا د مکلفیت سوال دی. د ریل نګرانان په څرګنډه توګه مکلفیت لري چې د مسافرو په ساتنه کې د معقول احتیاط څخه کار واخلي، اما آیا دوی د پالسګراف په برخه کې هم دا مسوولیت لري چې د خپل هغه بې احتیاطي په نتیجه کې لکه د پارسل لرونکي مسافر په برخه کې چې یې وکړه دا د کوم خطر سره مخامخ نکړي؟ او که دوی د میرمن پالسګراف په برخه کې داسې مکلفیت لري، آیا دوی د هغه چا په برخه کې هم دا مسوولیت لري چې یو میل لیرې په خپله خونه کې ناست دی او دده د خونې سره د یو موټر د ټکر په نتیجه کې ټپي کېږي ځکه د موټر چلوونکی د ریل په سټیشن کې د چاودنې د ږغ په اوریدو سره خپل حواس له لاسه ورکړي او موټر یې د خونې سره ټکر کړیدی؟ دا مسوولیت چیرې ختمېږي؟

د وجیبې یا مکلفیت د بیلا بیلو نظریاتو څخه په استفاده کولو سره محکمه یو حد ټاکې چې هغه کافي بلل کېږي. د پالسګراف په قضیه کې قاضي کاردوزو ولیکل : " په هواکې داسې یو شی چې بې احتیاطي وبلل شي نشته، بې احتیاطي تل د یو پیشبیني وړ سړي په مقابل کې د پیشبیني وړ تاوان د وجیبې معني لري او میرمن پالسګراف ډیره لیرې قرباني ده چې د پیشبینی وړ نه وه او پدې قضیه کې د تاوان مستحقه نه ګڼل کېږي. "

د معقول احتیاط د رعایه کولو پر وجیبې یو دوهم محدودیت هم شته او هغه دا چې د اقتصادي تاوان د مخنیوي مکلفیت د فیزیکي تاوان د مخنیوي په پرتله ډیر محدود دی. که یو موټر چلوونکی د بې احتیاطی له کبله موټر ټکر کړي او د لینکلن دټونل مخ چې د نیویارک خواته ځي بند کړي، ډیر خلک به ناوخته خپلو کارونو ته ورسېږي، ددوی معاشونه به لږ کړل شي، د شرکتونو د خرڅلاو استازي به په ټاکلي وخت خپل د وعدو ځایونو ته و نه رسېږي او و به نشي کولاي مهمې معاملې تر سره کړي، او په مانهاټن کې به د قهوې او کلچو د کانونه چې رارسیدلي خلکو ته خپل خدمات وړاندې کوي د تاوان سره مخامخ شي.

موټر چلوونکی په روښانه توګه د هغه چا په وړاندې چې جسما" په ټکر کې ژوبل شویدی د پالنې وجیبه لري، اما آیا موټر چلوونکی د ټولو هغو نورو خلکو د اقتصادي تاوانونو مسوول هم دی چې دده د بې احتیاطی په نتیجه کې ورته رسیدلي دي؟ په عمومي توګه نه، ځکه چې پدې قضیه کې که څه هم پیښ شوی تاوان په آسانی سره د پیشبیني وړ دی. خو د بالقوه مسوولیت ساحه ډیره پراخه ده.

اما په بعضو قضیو کې د اقتصادي تاوان مخنیوی یوه وجیبه ده. پدې ډله قضیو کې د ژوند د چاپیریال د لویوفاجعو مسلې شاملې دي. کله چې د ایکسون والدیز Exxon Valdez د تیلو د شرکت یوه د تیلو د وړلو کښتی د آلاسکا په ساحل کې ډوبه شوه او په میلیونونو ګیلنه تیل ور څخه بحر ته توی شول، په ساحل کې د ملکیتونو خاوندانو ته لوی فیزیکي تاوانونه ورسیدل ځکه دبحر موجونو دا تیل ټول ساحل ته راوړل اوساحل او نژدې پراته ملکیتونه یې ټول په تیلو ککړ کړل. دا د ملکیتونو خاوندان د ایکسون شرکت د بې احتیاطی او غفلت مستقیم قربانیان وه،

لهذا ایکسون شرکت چې خپل د معقول احتیاط مکلفیت ته پاملرنه نه وه کړې، د ملکیتونو خاوندانو ته مسوولیت درلود. اما پدې پیښه کې ډیرو نورو خلکو ته بیلدې چې فیزیکي تاوان ووینې، اقتصادي تاوان ورسید. کب نیوونکو نور نشوای کولای کب ونیسي.، کوچنیو شرکتونو نور خپلې کښتۍ سیلانیانو ته په کرایه نشواي ورکولای، په کلیفورنیا کې د موټرانو د خاوندانو د پاره د تیلو نرخ لوړ وخوت، او داسې نور. محکمې مجبوره وې ددې مسلو د پاره دقیقې لیکې وباسي او وټاکي چې په دې ډله کې د ایکسون شرکت د چا په وړاندې د پالنې وجیبه لري.

دریم محدودیت دادی چې د احساساتي تاوان څخه د ساتني وجیبه د فیزیکي ژوبلې د ساتني په پرتله ډیره پراخه نده. که یوې مور ته وویل شي چې ماشوم یې موټر وهلی او مړ شویدی، دا به ډیر سخت احساساتي عکس العمل وښیي او دا به ددې سبب وګرځي چې د بې خوبۍ د ستونزې سره مخامخ شي، د معدې زخم ورته پیښ شي او یا د سر د دوامداره درد سره مخامخ شي. آیا موټر چلوونکی د ماشوم د مور ددې رنځونو مسوول دی؟ (یعني آیا موټر چلوونکی د ماشوم د مور په وړاندې کومه وجیبه لري؟) په یو لړ قضیو کې، محکمو د احساساتي زیان د رسولو مسوولیت منلی دی، خو د حد د ټاکلو په برخه کې د ستونزو سره مخامخ شول. آیا دا مهمه ده چې د ټکر په وخت کې مور د ماشوم په څنګ کې ولاړه وي، یا د سړک بل لورې ته ولاړه وي، او یا یواځې وروسته دې ته د ټکر په هکله خبر ورکړل شي؟ ځینو محکمو حکم کړیدی چې مور ته یواځې هغه وخت تاوان ورکول کیدای شي چې دا پخپله د خطر په سیمه کې وي او ددې امکان هم وي چې دا پخپله په فیزیکي توګه ژوبله شي. ځیني نورو محکمو بیا مور د تاوان مستحق بللې ده چې که دا د پیښې په ځای کې پخپله د پیښې شاهده وي اما نه په هغه صورت کې چې دا د پیښې په هکله وروسته خبره شي. اما څه به پیښه شي که مور د خپل ماشوم د مړینې څخه ډیره خواشینې وي اما په هغې کې په فیزیکي لحاظ کومه نښه و نه لیدل شي؟ او څه به پیښه شي که عارض د ماشوم انا، خاله او یا نژدې ملګری وي؟

د معقول احتیاط د عمومي وجیبې وروستنۍ استثنې چې د یو عادي سړي د پاره ډیره دردونکې ښکاري، وایي چې یو څوک د یو زیان د مخنیوي په کارکې چې ښایي یو بل څوک ورسره مخامخ شي، مکلفیت نلري. د مثال په توګه یو سړی په یو پارک کې ناست دی او خپله ډوډۍ خوري او ویني چې یو نوی په پښو راغلی ماشوم چې څوک ورسره نشته د یو لویې ښوییدونکې ډبرې په لور روان دی. آیا داسړی مکلف دی چې د یو خیر غوښتونکي سړي په توګه له خپلې چوکۍ پورته شي، څو ګامه واخلي او دا موشوم بلې خواته رهنمایي کړي؟ د عامه قانون عنعنوي ځواب پدې هکله دادی چې دا سړی پدې مسله کې په قانوني توګه د عمل کولو کوم مکلفیت نلري، یعني که دی دا کارچه هر اخلاقي انسان یې د یوې ناوړې پیښې د مخنیوي د پاره یو معقول کار (اخلاقي وجیبه) بولي، ونکړي، مسوول نه ګڼل کېږي.

ددې بي عاطفې مقررې اساس دوې برخې لري. لمړی، هغه کسان د معقول احتیاط یا پاملرنې د رعایت کولو اصل ته مکلفیت لري چې پخپله په یو عمل یا پېښې کې ګډون ولري او نه هغه کسان چې په یو عمل یا پېښې کې هیڅ ګډون نلري. قانون نه غواړي پر خلکو باندې بار او حتې لږ بارهم تحمیل کړي، ځکه دا به د خلکو پر فردي آزادۍ باندي یو تجاوز وي. د زیان د مخنیوي او د قرباني د زیان د جبیره کولو مفاد او ګټه نسبت دې ته ډیره زیاته ده چې یو څوک چې د پېښې سره اړیکه نلري په غیر منصفانه توګه د یو کار کولو ته مجبوره کړل شي. دوهم، کله چې مونږ روښانه وجایب او مکلفیتونه ټاکو، دا ډیره ګرانه ده چې وپوهېږو دا بهیر چیرته ودروو (دې ته حقوق پوهان د سیلاب دروازې یا د ښوییدونکي ځوړې دلیل وایي : که پر یوې قضیې په یوه توګه فیصله وشي، مونږ د سیلاب دروازې پرانیځو او یا پر یوې ځوړې ښویېږو، یعنې پدې توګه د ډیرو نورو قضیو په هکله هم ورته فیصلې کوو.) که هغه سړی ووینې چې د لویې ګاړې یا ډبرې مخې ته کټاره ماته شویده، خو کوم نوی په پښو راغلي ماشوم لا هلته نشته، آیا دی مکلف دی چې اړونده چارواکو ته خبر ورکړي چې دا ځای تر میم ته اړتیا لري؟ آیا یو پیاوړي لامبو وهونکی مکلف دی چې یو د ډوبیدو په حال کې ماشوم مرستې ته ځان ورسوي؟ او که لامبو وهونکی پیاوړی نه وي او د لامبو توان یې محدود وي بیا به دهغه د مکلفیت مسله څنګه وي؟

له نیکه مرغه د قانون حقیقي دریځ هغسې چې په سر کې ښکاري ډیر شدید ندی. داسې قضیې چې په هغه کې د قطعي عمل څخه ډډه شوي وي ډیرې لږې دي، ځکه نن په نړی کې د ښو او خیرغوښتونکو انسانانو شمیر ډیر دی. او محکمو ددې مقررې د پاره استثناآت ټاکلي دي. د مثال په توګه کله چې یو څوک د یو بل چا سره په معامله کې داخلېږي، نو دی بیا هغه ته دوام ورکوي او نه پرېږدي چې یو بل څوک د خطر سره مخامخ شي. کله چې دوه نشه اي ملګري ټوله شپه د یو بار څخه بل بار ته ځي، نو یو ملګری نشي کولای خپل بل ملګری د بي هوښۍ او د خطرناکه مسمومیت په حالت کې یواځې پرېږدي او خپله د سړک پر غاړه بیده شي، بیله دې چې د چا څخه مرسته وغواړي. په عین توګه، یو سړی چې د ترافیکې ټکر ځای ته راځي، مکلف ندی چې و درېږي او د پېښې د ځای په شاوخوا کې د موټرانو د تګ راتګ په تنظیمولو کې مرسته وکړي، اما که یې د ټرافیک د رهنمایي او تنظیم کار په غاړه واخیست، نو باید دا کار په ډیر احتیاط تر سره کړي.

د معقول احتیاط یا پاملرنې څخه د قانون مطلب څه دئ؟

حیرانونکې ده چې په ارادي زیانونو یا جرم کې د ارادې د تعریف برعکس، دمعقولې پاملرني تعریف د بي احتیاطۍ یا غفلت په قانون کې د لغت د کتاب یا دیکشنرۍ تعریف ته ورته دی او هغسې معني ورکوي لکه مونږ چې په عادي حالت کې د معقول په معنې پوهېږو. هغه اندازه د

پاملرنې چې معقول او لازم وي کافي دی او نه ډير زيات. طبعي ده چې ددې تعريف په تطبيق کې محکمې دا ميلان لري چې مسايل پيچلي کړي.

د معقول احتياط يا پاملرنې د تعريف کولو يوه مشهوره هڅه د متحده ايالاتو او د کارول ټوويڼګ شرکت په قضيه کې په کال۱۹٤۷ Co. United States v. Carroll Towing کې وشوه. څرنګه چې دفاع کوونکو د انا سي Anna C بارووړونکي کوچنۍ کښتۍ په ټرلو کې بي احتياطي وکړه، دا کښتۍ د خپل لنګر ځاي څخه خطا شوه او په يوه ټانک لرونکې کښتۍ کې چې د اوبو ډک وو وموښتله او ډوبه شوه. ددې پيښو په وخت کې د انا سي کښتۍ چلوونکی يا مسوول کس نه وو. کله چې په دعوې کې ملکيت ته د زيان موضوع مطرح شوه، مدعي عليه استدلال وکړ چې ددې زيان اندازه بايد کښته راوړل شي، ځکه دا د کښتۍ د چلوونکي يا مسوول کس بي احتياطي وه چې خپله کشتۍ يې بي پاملرنې اوبې سرپرسته پرې ايښې وه. قاضي ليرنډ هينډ وويل، داسې مقرره نشته چې په دقيقه توګه وټاکي چې د کښتۍ مسوول کس بايد څه وخت په کښتۍ کې پاته شي، مګر داچه دی د ځان د پاره يو نايب يا مرستيال وټاکي. ځيني وخت به کښتۍ بي څارنې پريښودل معقول وي او ځيني وخت نه :

قاضي ليرنډ هينډ زياته کړه، څرنګه چې ځيني وخت هره کښتۍ د خپل لنګر څخه خطا کېږي او که دا کار وشي نوري د شاوخوا کښتۍ د خطر سره مخامخ کوي ؛ د کشتۍ د چلوونکي يا مسوول کس مکلفيت دادی چې د زيان رسولو مخنيوی وکړي چې دا دري بي پايښته او بدليدونکيvariable وظيفې دي. (۱) دا احتمال چې کښتۍ به د خپل لنګر ځاي څخه خطا شي؛ (۲) که څوک تاواني يا ټپي کړي، ددې زيان شدت به څومره وي ؛ (۳) د لازم احتياط بار. دا به ښايي زمونږ کار آسانه کړي که دا فکر د الجبرې په اصطلاحاتو بيان کړو. که احتمال P وبولو، ټپ يا زيان L وبولو او بار ته B ووايو ؛ د مسوولیت ټاکل به پدې اړه ولري چې آيا B د LxP څخه لږه ده او که نه يعنې B< PL

لهذا دا چې بي احتياطي شويده او که نه دا به د هرې ځانګړې قضيې په حقايقو پوري اړه ولري. که يو طوفان د پيل کيدو په حال کې دی او په بندر کې هم ډيره ګڼه ګوڼه ده، P او L په متناسبه توګه نسبت هغه وخت ته چې هوا آرامه وي او په بندر کې هم ازدحام لږ وي، ډير دی. په لمړي او نه وروستني قضيې کې PxLبه تر B لوړ وي، يعني دابه يو نسبتا" کوچنۍ بار وي که د کښتۍ مسوول کس د خپل عادي کار تر ساعتونو زيات کاروکړي او يا د ځان د پاره يو مرستيال وټاکي.

د قاضي هيند د فارمول څخه د بي احتياطي د اندازې په آزمايلو کې پراخه استفاده شويده. په نظري توګه ددې څخه په هره قضيه کې د سلوک د معقوليت د قضاوت د پاره استفاده کيدای شي. د مثال په توګه د يو کوچني بيس بال ټيم د پاره د يو ميدان په جوړولو کې څومره احتياط اوپاملرنه معقوله ده؟ تصور وکړئ چې د ميدان جوړونکي پريکړه وکړي چې ددې ميدان د شاوخوا

د پاره څلور فوټه لوړه کټاره کافي ده. څرنګه چې دا ګټاره د لوبې د میدان خخه دوه سوه فوټه فاصله لري، یواځې یو غیر عادي لوبغاړی به وشي کولای بال تر دوه سوه فوټو زیات ووهي او تر کټارې یې تیر کړي. که بال تر کټارې تیر شي، ډیر احتمال لري بیلدې چې کوم زیان پیښ کړي پر مځکه ولوېږي، دا هم ممکنه ده چې د یو کوچني تاوان باعث وګرځي یعني د یو موټر او یا نژدې کور هینداره ماته کړي. اما ښایي جالب شیان پیښ شي. مارک مک ګوایر ښایي پدې میدان کې د بال د وهلو تمرین پیل کړي او په یوه قطار لس باله د میدان څخه بهر وباسي، یا یو بال د یو پیاده رو پر یوه پاسته ځای یا پر سر ولګېږي، هغه سخت ټپي کړي او یا یې ووژني. خو په مجموع کې د زیان احتمال یعني P کښته ده، د ټپي کیدو یا L احتمال هم کښته دی او د زیان د مخنیوي بار B دداسې کټارې د جوړولو له لارې چې دوولس یا شل فوټه لوړ وي ډیر مهم دی.

اوس د کوچني ټیم میدان د یخ پر سر د هاکي لوبي د میدان سره مقایسه کړئ. د یخ پر سر د هاکي د میدان جوړونکي تل د میدان پر شاوخوا د نه ماتیدونکې شیښې دیوال راګرځوي تر څو د لوبو نندارہ کوونکي د الوتونکو بالونو د زیان څخه وژغوري. که څه هم ددې کار د کولو یعني B مصرف لوړ دی، ددې احتمال چې بال به په یو چا وموښلي P او هغه ښایي سخت ټپي شي یعني L هم لوړ دی، یعني د بیس بال د میدان په جوړولو کې د PxL

څخه ډیر لوړ دی. همدا وجه ده چې د هاکي د پاره د یخ د میدان په جوړولو کې د معقول احتیاط معیار لوړ دی.

د زیان په اړه بنیادي سیاستونه مونږ ته د ښاغلي هیند د فارمول منطق څرګندوي. مونږ غواړو خلګ تشویق کړو چې د احتیاط څخه کارواخلي، اما د څومره احتیاط څخه؟ که د هر کوچني بیس بال ټیم د میدان د پاره ۱۲ فوټه کټاره جوړه شي، ددې سپورټ نرخ به ډیر لوړ وخیژي، او ښایي دومره لوړ شي چې دې سپورټ ته دوام ورکول به ډیر ګران شي. دا درست نه ښکاري. یو څوک ښایي د کټارې څخه د بال د اوښتلو په نتیجه کې سخت ژوبل شي، اما دا به هم دعجایبو تصادفاتو په لړ کې یو تصادف وي (لکه پر چا چې ټکه ولوېږي) او نه د میدان د جوړونکو د بې احتیاطۍ نتیجه. د بلې خوا، که یو خطر د پیشبینۍ وړ او لوی وي لکه پر یو چا چې د یخ پر سر د هاکي لوبي بال وموښلي، مونږ د یخ د میدان د جوړونکي څخه غواړو چې ددې یو خطر په مقابل کې د لوبې نندارہ کوونکي وساتي او یا یې د عواقبو تاوان ورکړي.

د ښاغلي هیندۍ فارمول هغه عوامل چې باید د یو چا د بې احتیاطي په ټاکلو کې په نظر کې ونیول شي څرګندوي، اما نشي کولای د معقول احتیاط په هکله پریکړه یو د ریاضي محاسبې ته راکښته کړي. لمړی، خلک اکثرا" د الجبرې د اصولو په چوکات کې فکر نه کوي. د مثال په توګه دموټر چلوونکي معمولا" په جدي توګه د خپل سلوک بالقوه خطر نه محاسبه کوي. دوهم، که خلک حقیقتا" د هیندۍ د فارمول له مخې دقیق تحلیل هم وکړي، ددوی د پاره به ګرانه بلکه ناممکنه وي چې بې پایښته اوبدلیدونکو فکتورونو یا Varaibles ته عدد وټاکي. په ډیرو قضیو کې

د ټکر احتمال او د رامنځ ته شوي زيان اندازه غير يقيني وي ځکه ټکرونه په بيلا بيلو شکلونو صورت مومي. يو پياده رو ښايي پر سر ولګېږي، يا بال ښايي د کړکۍ هينداره ماته کړي او د هينداري يوه ټوټه د يو چا سترګې ته ننوځي. خو بالاخره مونږ پداسې قضيو کې د زيان يا ټپي کيدو ارزښت څنګه اندازه کوو؟ آيا د طبي معالجې مصرف اود معاش د لاسه تلل د يو چا د زيان د اندازې د ټاکلو دقيقه لاره ده، او که مونږ غير اقتصادي فکتورونه هم په نظر کې نيسو لکه دا حقيقت چې که يو څوک په ټکر کې خپله سترګه له لاسه ورکړي، دی به بيا د ټينس د لوبې په کولو کې زياتې ستونزې ولري؟

د قاضي هيندۍ فارمول په خپل ښه حالت کې يوه پيچلې لارښونه او په بد حالت کې د خپل طاهري ساده والي له کبله غولونکې ده. قانون د معقول احتياط او پاملرنې د سنجش او آزمايښت د پاره يو بل معيار منځ ته راوړی چې فکر کېږي د هيند د فارمول په پرتله به د عادي خلکو او د منصفه هيئت د غړو د پاره ډير د استفادې وړ وي. دا د معقول سړي reasonable person معيار دی. يعني د معقول احتياط او پاملرنې په کولو کې تاسې هغسې عمل کوی لکه يو معقول سړی چې يې په مختلفو حالاتو کې کوي. دا ډير ساده دی. اما د معقول احتياط د څرنګوالي د تعريف د پاره د معقول سړي د معيار څخه استفاده کول دې ته ورته ده چې تاسې سوی په خولۍ کې کښېږدی. معقول سړی يو قانوني جوړښت دی او نه يو تجربوي يا آزمايښتي حقيقت. د معقول سړي د عمل د څرنګوالي په تعريف کې محکمې هغسې چې د هيند د فارمول څخه په استفاده کې د تاوان د قانون له مخې سنجش کوي، د همدغه مقصد د پاره ټاکي چې آيا په لمړي ګام کې کومه وجيبه يا مکلفيت وجود لري او که نه. لهذا معقول سړی د غفلت يا بې احتياطۍ د قانون په هر ځاي کې وجود لري او دا مفيد دی چې د هغه کيفيت تعريف شي.

معقول سړی يو خاص، متوسط يا منځنۍ سړی ندی، بلکه معقول سړی د هيندۍ د فارمول يو تجسم دی، هغه يو فرضي ممتاز انسان دی چې هر څوک بايد په هر وخت کې دده په شان عمل وکړي. معقول سړی مخکې لدې چې خيز ووهي تل ګوری، هيڅکله يوه پردي سپي ته ناز نه ورکوي، معقول سړی مخکې لدې چې د خپلې چوکۍ کمربند خلاص کړي تل انتظار باسي چې الوتکه په بشپړه توګه د وتلو د دروازې مخې ته ودرېږي، او نور هم په هر عمل او سلوک کې دومره احتياط کوي چې زمونږ قهراو نفرت راپاروي. يوې محکمې د معقول سړي په هکله وويل " دا عالي خو نفرت پارونکۍ کرکټر زمونږ د عدالت په محکمو کې د يوې مجسمې په شان ولاړ دی او د نورو انسانانو څخه غوښتنه کوي چې په خپل ژوند کې دده مثال او نمونه تعقيب کړي "

د معقول سړي معيار حقيقي انسانانو ته د عمل يو اندازه آزادي او وسعت ورکوي تر څو هغه حالات په نظر کې ونيول شي کوم چې په هغه کې مدعي عليه مجبور وو هغه عمل وکړي چې اوس تر قضاوت لاندې دی. د مثال په توګه معقول سړی په فيزيکي لحاظ هغسې معيوب دی لکه يو حقيقي سړی. د يو ړانده سړي پر سلوک د يو معقول ړانده سړي د سلوک له مخې قضاوت

کېږي او نه د يو عادي سړي د سلوک له مخې. که يو ړوند سړی يوشی چې دده پر لاره پروت دی و نه ويني نامعقول کار يې ندی کړی، اما دا به نامعقول وي که يو ړوند سړی موټر وچلوي.

اما معقول سړی د مدعي عليه په شان د عقلي محدوديتونو سره ندی مخامخ. دا مسله په ۱۸۳۷ کال کې په انګلستان کې د واګان او مين لاف په قضيه کې منځ ته راغله. مين لاف يو بدمرغه زميندار وو چې خپل واښه يې په يو خطرناکه ځای کې کوټه کړي وه او هغه اور واخيست. اور د ګاونډي کور ته سزايت وکړ او د هغه ملکيت ته يې زيان ورساوه. مين لاف استدلال وکړ چې ده د وښو په کوټه کولو کې په ډير فکر عمل وکړ خو دده قضاوت ډير ښه نه وو. دده وکيل دا مطلب په ښه توګه افاده کړاو وې ويل، د مين لاف بدبختي پدې کې ده چې د لوړ عقل او ذکاوت خاوند ندی. محکمې په ځواب کې وويل چې دا ډير بد دی. د معقول سړي معيار پدې معنې ده چې معقول سړی د عادي پوهې او ذکاوت خاوند دی. مونږ ښايي په اخلاقي لحاظ و نشو کولای مين لاف ملامت کړو، اما دی بيا هم په قانوني لحاظ مسوول ګڼل کيدای شي. پر ده باندې د مسوولیت د تحميلولو له لارې قانون مين لاف او هغه کسان چې ښايي دده ساتنه کوي دې ته تشويقوي چې په راتلونکي کې ډير احتياط وکړي او په داسې فعاليتونو کې برخه وانخلي چې نورو ته د زيان د رسيدو سبب ګرځي. که مونږ د مين لاف بي عقلي يا حماقت ته په خپل قضاوت کې ځای ورکړو، نو بيا به مونږ مجبور يو چې ټولو نورو نيمګړتياوو ته لکه د موټر بد چلولو، ضعيف عکس العمل ښودلو، او ناپوهيو ته هم پاملرنه وکړو. نتيجه به د يو معقول سړي معيار نه وي، بلکه د مدعي عليه د شمير په اندازه به معيارونه منځ ته راشي. په داسې يوه قضيه کې دا چې د بي احتياطۍ قانون ته څه پيښېږي، ډيره روښانه کېږي : مونږ يو قانوني معيارپر دې اساس تعريفوو چې څنګه د تاوان د قانون مادې انتخاب او هغه تطبيق کړو.

يو عارض يا مدعي څنګه ثابتوي چې مدعي عليه غفلت يا بي احتياطي کړيده.؟

په اکثرو قضيو کې عارض يا مدعي هڅه کوي ثابته کړي چې مدعي عليه بي احتياطي کړيده او پدې کار کې د عين هغو تخنيکونو څخه استفاده کوي چې په نورو محاکمو کې ورڅخه استفاده کېږي (يا د خپلې قضيې د پاره هغه نتيجه ګيري کوي چې د محاکمې څخه دباندې کېږي). د عيني شاهدانو مستقيم شهادت ورکول تر ټولو ډير مهم دی. د پيښې په ځای کې د يو سړي د سترګو ليدلۍ حال چې وايي موټر چلوونکی يې وليد چې د ويسکي له بوتل څخه يې يو لوی ګوټ وکړ، يا يې د موټر چلولو په وخت کې په تلفون کې خبرې کولې، او يا مخکې لدې چې پياده رو تر موټر لاندې کړي د دريدو د علامې څخه په ډير سرعت تير شو. دا د موټر چلوونکي د بي احتياطۍ د ثبوت د پاره ډير مهم اسناد دي. اما اتفاقي مدرکونه يا شواهد circumstantial evidence يا غير مستقيم شواهد چې د هغه له مخې منصفه هيئت د بي احتياطۍ استنباط کوي،

هم ډير مهم دي. که هيڅوک د ټکر شاهد نه وي، اما پوليس نيم ډک بوتل ويسکي او يو لاسي تلفون د موټر په مخ سيټ کې پيدا کړي چې لا يې ارتباط د يو بل تلفون د شميرې سره ندی قطع شوی او د موټر چلوونکي د وينو معاينه هم ښيي چې دده په وينه کې د الکهلو مقدار تر ټاکلي اندازې دوچنده زيات دی او د ټکر يو کارپوه هم تاييد کړي چې د موټر ټيرونه ښيي چې موټر چلوونکي مخکې لدې چې څلور لارې ته ورسېږي بريک ندی وهلی، هر منصفه هيئت به داسې نتيجې ته ورسېږي چې موټر چلوونکي بي احتياطي کړيده.

د بي احتياطۍ يا غفلت ځيني قضيې د ثبوت مشخصو مقرراتو ته اړتيا لري. يو لړ مقررات د کارپوهانو د شهادت څخه د استفادې په هکله دي. په عادي توګه دا د منصفه هيئت وظيفه ده چې پر يوې مسلې وروستۍ پريکړه وکړي چې آيا مدعي عليه بې احتياطي کړيده او که نه. شاهدان د نتيجې د رسيدو د پاره شواهد او مدارک وړاندې کوي، اما شاهدان اجازه نلري منصفه هيئت ته ووايي چې څه ډول نتيجه ګيري وکړي. د پوليس يو صاحب منصب کولای شي شهادت ورکړي چې په موټر کې يې د ويسکي بوتل او يو لاسي تلفون پيدا کړ، اما نشي کولای ووايي چې مدعي عليه بايد د موټر په چلولو کې بي احتياطي کړې وي.

اما ځيني قضيې ډيرې پيچلي وي او د کارپوهانو شهادت ته اړتيا لري. همدا شان ددې د پاره چې د منصفه هييت سره د تصميم په نيولو کې مرسته وشي، د مدعي عليه د بي احتياطۍ په هکله د کارپوهانو د نظرياتو اوريدو ته هم اړتيا ليدل کېږي.

د کارپوهانو او ماهرانو د شهادت څخه اکثره د طبي بي احتياطيو په قضيو کې استفاده کېږي. که يو جراح تر جراحي عملياتو وروسته د يو ناروغ په بدن کې دو امبوره او درې طبي سفنجونه پرېږدي، دا د منصفه هييت د پاره ډيره آسانه ده چې د جراح د بي احتياطۍ په هکله حکم وکړي. که څه هم منصفه هيئت ښايي د عملياتو په خونه کې د طرزالعمل په جزييياتو ونه پوهېږي چې وشي کولای د ناروغ په بدن کې د انبورونو او اسفنجونو د پاته کيدو څرنګوالي وټاکي، اما سليم عقل حکم کوي چې هلته بايد داسې لارې او امکانات وي چې د دا ډول اشتباهاتو مخنيوي وشي. اما کله چې قرباني ادعا وکړي چې ډاکټر دده د ناروغۍ په تشخيص او يا د علاج په طرزالعمل کې بي احتياطي وکړه، پدې حالت کې منصفه هييت ددې ادعا په اړه د طبي کارپوهانو ارزيابۍ ته اړتيا لري. د The Verdict (د منصفه هييت حکم) په فلم کې د مثال په توګه د پاول نيومن (فلمي اکټر) د ناروغ مغز ته صدمه ورسيده، ځکه ددې ډاکټرانو لږ وروسته له هغې چې ناروغې ډوډۍ وخوړه، دې ته د عمومي بيهوشي دارو يا general anesthetic ورکړه او ددې په نتيجه کې ناروغې پداسې حال کې چې د اناستيزۍ anesthesia ماسک يې په خوله کې وو استفراق وکړ او تنفس يې بند شو. داکټرانو همدا شان ونشواي کولای چې دا ډير ژر بيرته وينه او په حال راولي. دمنصفه هيئت غير مسلکي غړي په معقول طبي سلوک او يا دا چې د اناستيزي اندازه څنګه ټاکل کېږي نه پوهيدل چې د ډاکټرانو د غفلت يا بي احتياطۍ په هکله حکم وکړي،

لهذا پاول نیومن د منصفه هیئت د لارښوني او معلوماتو د پاره د یو متخصص نظریات وړاندې کړل. په اکثرو قضیو کې مدعي او مدعي علیه دواړه خپل کارپوهان لري چې ضد او نقیض نظریات وړاندې کوي او منصفه هیئت باید هغه یو له بله جلا کړي.

د لته د غفلت څخه مقصد دادی چې یو څوک په یو کار کې لازم احتیاط ونکړي او بل چاته زیان ورسوي، خو څرنګه چې خلک په معموله توګه په خپل عمل کې احتیاط کوي، مدعي یا مدعي علیه ښایي یو رسم یا عادت د غفلت یا بې احتیاطي د ثبوت د پاره وړاندې کړي. د نیویارک په یوه قضیه کې یو سړي چې یو کور یې په کرایه نیولی وو د شاور نیولو په وخت کې د شاور پر ښیښیي دروازې ولوید او سخت ټپي شو. دا دروازه د ډیر معمولي نري ښیښې څخه جوړه شوې وه چې په آسانۍ ماتېږي او څنډې یې ډیر تیرې وي. تر دې پیښې مخکې د کور خاوند د لسو کالو د پاره د شاور د پاره داسې ښیښې یا پلاستیکي دروازه ایښودله چې په آسانۍ نه ماتېږي او ټوټې یې نه لوېږي او په نتیجه کې دداسې ټپي کیدو د احتمال څخه مخنیوی کوي. د داسې امن ښیښو څخه د استفادې دود د منصفه هییت د پاره یو سند شو او حکم یې وکړ چې د کور خاوند هغسې چې د کور یو معقول خاوند عمل کوي د لازم احتیاط مراعات ندی کړی.

آیا ددې برعکس هم درست دی؟ یعني که د کور خاوند ثابته کړي چې په اکثرو اپارتمانونو کې د شاور دروازې د ټینګو او امن ښیښو څخه ندي جوړې آیا ددې دود څخه پیروي د کور خاوند تبرئه کوي؟ نه په حتمي توګه. دود د معقول سلوک څرګندوی دی. اما معقول سلوک نه تعریفوي. که منصفه هیئت وپوهېږي چې د کورونو د خاوندانو یو محدود شمیر د امن ښیښو څخه استفاده کړې، یا حتي وپوهېږي چې دهیڅ کور خاوند هم د شاور د دروازو د پاره د امن ښیښو څخه استفاده نه کوي، اما امن ښیښې په بازار کې شته او قیمت یې هم د ټپي کیدو د احتمال د زیاتوالي په تناسب لوړ ندی، ښایي حکم وکړي چې د دود څخه پیروي نامعقول دی او د کور خاوند بې احتیاطي کړیده. منصفه هییت یا د لیرند هیند فارمول تطبیقوي او یا په خپل صلاحیت د معقول سړي د معیار څخه استفاده کوي او دود او رسم قاطعیت نلري.

تر دود یوه مقرره د بې احتیاطۍ د پاره یو ښه ثبوت کیدلای شي. تصور وکړئ یو موټر چلوونکی په یوه سیمه کې چې د سرعت اندازه پنځه دیرش میله ده په شپیته میله سرعت کې روان دی او پیاده رو تر موټر لاندې کوي. دا حقیقت چې موټر چلوونکی په لوړ سرعت کې روان وو د بې احتیاطۍ یو دلیل دی، اما دا حقیقت چې موټر چلوونکي د قانوني سرعت د حد څخه سرغړونه کړیده، دا د بې احتیاطۍ د پاره ډیر قوي او قاطع ثبوت دی. محکمې تل هغه مقرراتو ته چې د سلوک د پاره معیارونه ټاکي د عامه سیاست د څرګندونو په سترګه ګوري چې معقول احتیاط او پاملرنه تعریفوي او هغه باید رعایه شي. یو معقول سړی د قانون څخه سرغړونه نه کوي، لهذا د تعریف له مخې د قانون ماتوونکی نامعقول عمل کوي. په معموله توګه داسې یو روښانه مقرره ځینو استثناآتو ته اړتیا لري. د مثال په توګه که موټر چلوونکی غواړي په ډیره بیړه

یو ناروغ ماشوم روغتون ته ورسوي او د سرعت د حد څخه سرغړونه وکړي، دا کار ښايي معقول وي.

کله چې مدعي ثابته کړي چې مدعي علیه بي احتیاطي کړیده، د مدعي علیه د بي احتیاطۍ او د مدعي د زیان تر منځ د عیلیت رابطه معمولا" ډیره روښانه ده.یو موټر چلوونکی د سړې اشارې څخه تیرېږي او یو پیاده رو چې د سړک بل لورې ته د تیریدو په حال کې دی وژني. که موټر چلوونکی د سړې اشارې څخه نه وای تیر شوی، پیاده رو به نه وای وژل شوی. دې ته د اتهام د مقررې اما، یا بیا هم ویل کېږي. یو مجرم یا زیان رسوونکی مسوولیت لري که قرباني ټپي شوی هم نه وي، ځکه ده بیا هم بي احتیاطي کړیده.

د بله پلوه، فرض کړئ چې د عدلي طب په معایناتو کې څرګنده شي چې پیاده سړي د زړه د حملې له کبله لږ مخکې لدې چې موټر يې ووهي مړ شوی وو. پدې صورت کې د موټر چلوونکی د بي احتیاطۍ او د هغه زیان تر منځ چې پیاده سړي ته رسیدلی دی د علیت رابطه یا causal link وجود نلري. دا داسې معنې لري چې موټر چلوونکی د مړي پر جسد تیر شوي دي، او لهذا مسوول ندی.

اما نورې قضیې بیا ډیرې پیچلي دي. تصور وکړ' پیاده سړی پر یو څلور لارې د ختیځ لورې ته تیرېږي. دوه موټر چلوونکي یو د شمال او بل د جنوب پر لور روان دي. دواړه موټر چلوونکي ترافیکي څراغونو ته پاملرنه نه کوي. دواړه تر سرو څراغونو تیرېږي او په یوه وخت پیاده سړی په خپلو موټرانو وهي او هغه وژني. (که تاسو د زیان رسولو ډیرې قضیې ولولۍ و به پوهېږی چې ډیر عجیب شیان پیښ شوي دي) د مقررې د اما یا خو بیا هم تر اصل لاندې ډیر موټر چلوونکي د مسوولیت څخه تښتیدلي دي. ځکه که د لمړي موټر چلوونکي بي احتیاطي پرېږدو، پیاده سړی به بیا هم د دوهم موټر چلوونکي د بي احتیاطۍ په نتیجه کې وژل شوی وای او برعکس. اما داسې ښکاري چې دا غلط ځواب وي. د شبه جرم یا د تاوان قانون غواړي چې د سره څراغ څخه د دواړو موټر چلوونکو د تیریدو مخنیوی وشي او مدعي پخپله مړ دی. دا ډیر غیر منصفانه ښکاري چې دواړه موټر چلوونکي پریښودل شي او د پیاده سړي وارثینو ته هیڅ تاوان ورنکړل شي ځکه چې د هر موټرچلوونکي بي احتیاطي د بل موټر چلوونکي د بي احتیاطي سره په زماني لحاظ تصادف کړیدی. ددې د پاره قانون یو بله مقرره منځ ته راوړیده. : که د زیان رسوونکي بي احتیاطي د زیان په رسولو کې اساسي عامل وي، دی مسوول دی که څه هم دا زیان به په هر حال رسیدلی وای. پدې قضیه کې دواړه موټر چلوونکي د زیان اصلي عاملین دي او هر یو يې مسوول ګڼل کېږي.

اوس یو بیل اما په عین توګه حیرانوونکي قضیې ته چې دوه زیان رسوونکي په کې رول لري پاملرنه وکړئ. تایس او سایمن سن دواړه د مرز یا کرک د ښکار د پاره وتلي وه او هر یوه يې د بي احتیاطۍ له کبله په خپل ټوپک د سمرز پر لور ډزې وکړې. سمرز په دوو مرمیو وویشتل شو. د

سمرز او تایس په دعوې کې چې په کال ۱۹٤۸ کې وو، سمرز د یوې ستونزې سره مخامخ شو. څرنګه چې تایس او سایمن سن دواړو یو ډول ټوپکونه درلودل او د یو ډول مرمیو څخه یې استفاده کوله، د سمرز د پاره ناممکنه وه ثابته کړي چې چا دی ټپي کړیدی. ده ونشو کولای ثابته کړي چې د چا په مرمۍ لګیدلې دی، او دده قضیه د اما یا بیا هم د ازمایښت څخه و نه ووت. ده دا هم ثابته نکړه چې دواړو دی ټپي کړیدی او پدې توګه دده قضیه د اصلي عامل د آزمایښت څخه هم و نه ووت. نو څه باید وشي؟

د کلیفورنیا سترې محکمې د سمرز ستونزه حل کړه او وې ویل څرنګه چې دواړه ښکاریان خطاکاره او سمرز په بشپړه توګه بیګناه دی، دا به منصفانه نه وي پرېږدو چې دا دوه خطاکاره کسان د مسوولیت څخه وتښتي او د سمرز تاوان جبیره نشي. لهذا دواړه تایس او سایمن سن باید مسوول وګڼل شي. محکمې دې نتیجې ته د رسیدو د پاره د یو خاص طرزالعمل څخه استفاده وکړه. محکمې د علیت د رابطې د ثبوت بار د مدعي څخه ایسته کړ او هغه یې د مدعي علیه غاړې ته واچاوه. که د دوو کسانو څخه یو هم ثابته کړي وای چې دا زیان یې ندی رسولی، دی به مسوول نه وای ګڼل شوی. اما ستونزه په لمړي سر کې منځ ته راغله، ځکه هیچا نشوای کولای ثابته کړي چې څوک ددې زیان مسوول دی، لهذا دا په هر حال یوه غلطه هیله وه.

د سمرز او تایس تر منځ دعوې یوه ډیره نادره او عجیبه قضیه ده، اما یو لږ قضیې شته چې دې ته ډیر ورته دي. پدې قضیو کې هم مسله پدې کې ده چې هڅه کېږي د مدعي زیان د یو خاص مدعي علیه د بې احتیاطۍ نتیجه وښلل شي، که څه هم د ټولو مدعي علیهم بې احتیاطي ډیره روښانه او څرګنده ده. ددې ډلې قضیو یوه ډیره مشهوره د (DES diethylstilbestrol) په نامه د یوه دوا په هکله وه چې د ۱۹٤۰ کلنو څخه تر ۱۹۷۰ کلنو پوري حامله دارو ښځو ته ورکول کیده تر څو زیان ونکړي یعني مخکې له معین وخت څخه ماشوم و نه زېږوي او له لاسه یې ورنکړي. د دارو جوړولو شرکتونو چې دغه دوا DES یې جوړل د هغه په خرڅولو کې بې احتیاطي کوله، ځکه ځینې آزمایښتونو څرګنده کړیوه چې دې دارو یو لوی خطر درلود، او هغه داچه که دا دارو د حامله دارو ښځو لخوا استعمال شوې وای د هغو په لونو کې د سرطان د ناروغی باعث ګرځید. د دارو جوړولو شرکتونو پخپله پدې هکله څېړنې او آزمویني ونه کړي تر څو د دارو امنیت ارزیابي کړي. د اویا کلنو په پیل کې د DES انجونو لمړی نسل ځوانانې شوې، خو د دوی زیات شمیر د سرطان په ناروغۍ اخته وه. دوی د دارو جوړلو پر شرکتونو دعوې وکړه.

د DES انجونې د دوو ستونزو سره مخامخ وې چې نه یې شوای کولای ثابته کړي چې چا دوی ته زیان رسولۍ دی. لمړی ستونزه په ډیرو قضیو کې رابرسیره شوه چې په هغه کې عارض یا مدعي باید پر احصایوي ارقامو استناد وکړي او یا د ناروغۍ د سرایت د پاره شواهد وړاندې کړي. دوهمه ستونزه هغه وه چې د سمرز او تایس په قضیه کې رامنځ ته شوې وه. په یوه مشهوره قضیه کې یوه د DES انجلۍ د مثانې په سرطان اخته شوې وه. دا څنګه کولای شي ثابته کړي چې

دا د دارو له کبله پدې ناروغۍ اخته شویده؟ حتې که ددې مور د DES دارو نه وای استعمال کړی، ښایي دا بیا هم د مثانې په سرطان اخته شوې وای. که دا ثابته کړي چې په عادي توګه په هر زرو ښځو کې یوه د مثانې په ناروغۍ اخته کېږي، اما د DES په زرو انجونو کې پنځوس د مثانې په سرطان اخته شوي دي، آیا دا دلیل کافي دی؟

محکمې په محدوده توګه دا ډول احصایوي شواهدو ته د مسوولیت د اساس په توګه اجازه ورکوي. علمي ثبوت هیڅکله دقیق نه وي، خو اکثره دا یواځنۍ لاره ده. په عین توګه که یو ډاکټر د یو ناروغ غلط تشخیص وکړي او ناروغ مړ شي، د ناروغ وارثین اکثره نشي کولای په یقین سره ثابته کړي چې د ناروغ مړینه د داکټر د بې احتیاطۍ په نتیجه کې وه، ځکه ناروغ ښایي بیا هم مړ شوی وای که یې د ناروغۍ درست تشخیص او علاج هم شوی وای. حتي ډیر ښه علاج هم په ټولو قضیو کې سل په سلو کې نتیجه نه ورکوي. اما که د ناروغ ورثه ثابته کړي چې د ډاکټر د بې احتیاطۍ له کبله د ناروغ د ښه کیدو چانس د اتیا ځخه شل په سلو کې ته را کښته شو، نو دوی ښایي د ثابتولو بار تر ډیره حده له اوږو ایسته کړی وي.

دوهم مشکل د DES په قضیو کې دادی چې د مدعي د پاره ناممکنه ده ثابته کړي کومې کارخانې هغه DESدارو جوړ کړي چې ددې مور استعمال کړیدی. ددې د مور ښایي ددې دارو استعمال په یاد وي اما نه د دارو جوړولو د کارخانې نوم، او څرنګه چې د سرطان ناروغي په لمړني شلو یا زیاتو کلنو کې نه پیدا کېږي، طبي او د دارو جوړولو اسناد او دوسیې اکثرا" یا ورکېږي او یا هم له منځه وړل کېږي. لهذا، مدعي نشي کولای ثابته کړي چې د DES د جوړونکو کارخانو د کومې کارخانې دارو ددې د ناروغۍ باعث ګرځیدلی دی

دا بیا یوه بله سرګرداني ده. د DES مدعي نشي کولاي په عادي توګه د اثبات دلایل وړاندې کړي او ثابته کړي چې د یو خاص مدعي علیه د بې احتیاطۍ په نتیجه کې دې ته زیان رسیدلۍ دی. اما خو مونږ پوهېږو چې ددغه دارو د خرڅلاو په نتیجه کې په زر هاوو ښځو ته زیان رسیدلۍ دی او د دوی زیان به جبیره نشي او د دارو کارخانې یا شرکتونه به هم تر څو چې د ثابتولو بار د مدعي پر غاړه وي، یو پول چاته ورنکړي. پدې برخه کې د ډیرو محکمو ځواب دادی چې د سمرز او تایس د قضیې نظریه اصلاح یا تعدیل شي او د دارو جوړولو پر شرکتونو باندې په اقتصادي بازار کې د برخه درلودلو مسوولیت یا market share liability وضع کړل شي. مونږ پدې قضیه کې څو زره دعوې کوونکي او څو سوه د دارو جوړولو شرکتونه لرو، لهذا یواځني لاره داده چې دوی یو دبل سره یو شان کړو. ددې د پاره به یو ساده مثال ورکړو، که د یوې مدعي مور د دارو د استعمالولو په وخت کې په کلیفورنیا کې ژوند کاوه، مدعي ضرورت نلري ثابته کړي چې ددې مور د کوم شرکت د دارو څخه استفاده کوله، په عوض کې یې دا باید ثابته کړي چې هر شرکت په هغه وخت کې دDES د دارو د بازار څومره برخه په لاس کې درلوده. که یو شرکت په هغه وخت کې په کلیفورنیا کې د DES دارو شل په سلو کې خرڅاوه، دا شرکت باید د زیان شل په

سلو کې ورکړي. که ټولې زیانمنې انجونې او ټول مدعي علیهم شرکتونه محکمو ته مراجعه وکړي دا عدد به کاملا" صحیح وي.

ځینې تنقید کوونکي شکایت کوي چې دا ډول نتیجه د پارلمان د حل لارې ته ورته ده چې د DES د زیانمنو په برخه کې یې وړاندې کوي او نه د تاوان په قضیه کې د محکمې عنعنوي فیصلې ته. محکمه د تاوان د جبیرې یوه طرح وړاندې کوي او نه دا چې د زیانمن شوي او خطاکار تر منځ جنجال حل کړي. دا تنقید پر ځای ندی. هغه ځواب چې محکمه یې داسې قضیو ته ورکوي ښایي د بحث وړ وي، اما دا بهیر په عنعنوي توګه قضایي دی. هغسې چې مونږ په وار وار ولیدل پر قضیو باندې د فیصلو په کولو کې محکمه د تاوان سیاستونه انډول کوي او داسې نتیجې ته رسېږي چې د محکمې په عقیده عادلانه حل ګڼل کېږي.

که یو قرباني پخپله په ټکر کې قسما" ګناه ولري؟

یو لاروی یوه د مه ځه اشارې ته پاملرنه نه کوي او یوې څلورلارې ته ور داخلېږي او هلته یې یو موټرچلوونکی چې د ټاکل شوي سرعت تر حد شل میله تیز روان دی، په موټر وهي. موټر چلوونکي چې د سرعت حد ته پاملرنه نه وه کړې کولای شوای د دې ټکر څخه مخنیوی وکړي، که ده موټر په یو امن سرعت کې چلولی وای. اما لاروی هم اشارې ته پاملرنه نده کړې او ددې بې احتیاطی په نتیجه کې ټپي شویده. که لاروی محکمې ته مراجعه وکړي ایا موټر چلوونکی کولای شي د لاروی د بي احتیاطی څخه په استفاده خپله بي احتیاطي لغوه او ځان د مسوولیت څخه وباسي؟

په عنعنوي توګه د تاوان د قانون ځواب دې پوښتنې ته هو دی. حتې که مدعي علیه بې احتیاطي هم کړې وي، د مدعي مرسته کوونکې بي احتیاطي یا contributory negligence

د تاوان د جبیرې مخنیوی کوي. ددې ځواب دلیل هیڅکله روښانه نه وو. مونږ یقینا" غواړو عارض تشویق کړو چې په احتیاط عمل وکړي، او دا هم منصفانه ندی چې مونږ پر مدعي علیه فشار راوړو چې د مدعي زیان چې پخپله په کې په قسمي توګه ګناه لري جبیره کړي، اما د عارض د زیان د جبیرې مخنیوی هم ښایي یوه اندازه شدید وي. په نتیجه کې محکمو تل په یو یا بل شکل ددې نظریې ساحه محدوده کړیده.

ددې موضوع د حل د پاره په اکثرو ایالاتو کې د مرسته کوونکي بي احتیاطي څخه د مقایسوي بي احتیاطی comparative negligence په ګټه صرف نظر شویدی. د مقایسوي بي احتیاطی له مخې د عارض ګناه لږېږي اما د مدعي علیه مسوولیت د عارض په ټپي کولو کې په بشپړه توګه له منځه نه ځي. د منصفه هیئت وظیفه داده د هغو ارقامو له مخې چې دوی ته ورکول کېږي د تقصیر او زیان اندازه وټاکي. که موټر چلوونکی چې تیز روان وو اتیا په سلو کې د ټکر مسوول

وبلل شي، دی د زیان اتیا په سلو کې ورکوي او لاروی باید پاته شل په سلو کې زیان وزغمي. یا که اشارې ته بې اعتنا لاروی د دوو موټر چلوونکو لخوا چې دواړه تر معین سرعت تیز روان دي ووهل شي او دواړه په ټکر کې په مساوي توګه مسوولیت ولري، د دوی هر یو باید څلویښت په سلو کې د زیان جبیره ورکړي او لاروی باید پاته شل په سلو کې زیان وزغمي. د مک دانلدز د قهوې په قضیه کې منصفه هیئت پریکړه وکړه چې عارضه یا مدعي ستیلا لیبیک په پیښه کې شل په سلو کې پخپله مسوولیه وه، ځکه دې د قهوې د پیالې د سر په خلاصولو کې کافي احتیاط نه وو کړي، همدا وجه وه چې ددې د تاوان جبیره د دوه سوه زره ډالرو څخه ۱۶۰ زرو ډالرو ته راکښته شوه.

په مقایسوي بي احتیاطي کې یو خوشحاله کوونکی تناسب رعایه کېږي، اما مشکلات یې په جزییاتو کې دي.منصفه هیئت باید د زیان او مسوولیت کمیت د اعدادو په توګه وټاکي چې اساسا" د ټاکلو وړ ندی، یعني باید یو لړ ګډوډ حقایق په دقیقو ا عدادو افاده کړي. بیا نو باید محکمه یوه لاره ولټوي چې په دې اعدادو څه وکړي. که منصفه هیئت پریکړه وکړي چې لاروی ۵۱ په سلو کې مسوولیت لري او موټر چلوونکی ۴۹ په سلو کې، آیا لاروی به د زیان د پاره هیڅ شي تر لاسه نکړي ځکه ددې تقصیر تر موټر چلوونکې ډیره دی. او که دا پنځوس پنځوس په سلو کې وي بیا څنګه؟ او که دوه موټر چلوونکي وي چې هر یو ۳۰ په سلو کې مسوولیت ولري او لاروی ۴۰ په سلو کې؟ پدې صورت کې لاروی تر هر ځانګړي موټر چلوونکي زیات مسوولیت لري، خو د دواړو موټر چلوونکو په پرتله لږ مسوولیت لري.

ددې امکاناتو د پاره ایالتونو د مقایسوي بې احتیاطی مختلف مقررات منځ ته راوړي دي. اساسي فرق د خالص مقایسوي بي احتیاطی د سیستم چې د هغه پر اساس عارض یا مدعي تل کولای شي د خپل زیان یوه اندازه تاوان لاس ته راوړي، که څه هم مدعي علیه یواځي یو په سلو کې مسوولیت ولري، او د مختلفو اصلاح شوو مقایسوي بي احتیاطي د سیستمونو تر منځ دی چې د هغه پر اساس عارض یواځي هغه وخت کولاي شي د زیان جبیره لاس ته راوړي چې پنځوس په سلو کې یا تر هغه زیات (۵۱ په سلو کې) مسوولیت ونلري.

یو بل حالت چې د عارض رول د زیان په مسله کې سربیره کوي هغه وخت دی چې عارض د زیان په خطر پوه وي او هغه یې درک کړی وي. که تاسو د کښتی چلولو، سکي کولو یا د لوړ ځای نه اوبو ته د خیز وهلو یعني دایف کولو د پاره ځی، که څه هم تاسو د یو طبي کلب غړی واوسی او د ټولو وسایلو او تجهیزاتو سره یې آشنا هم و اوسی، ستاسو څخه غوښتنه کېږي د بې مسوولیتی یوه ورقه لاس لیک کړی، پدې معني چې د کلب خاوند یا د سپورټ ښوونکی د سپورت سره د ترلو ځیني خطرونو د پیښیدو او تاسې ته د زیان د رسیدو په صورت کې مسوولیت نلري. پدې حالت کې تاسو پدې احتمالي خطرونو او ټپي کیدو خبریاست او په عمومي توګه نشی کولای د خپلو ټپونو یا زیان د پاره د کلب خاوند محکمې ته راوبولی. د ارادي یا قصدي تاوان په شان رضایت بي احتیاطي یا غفلت باطلوي

په خطر پوهيدل يا درک کول هم ضمني وي او هم د بيان د لارې وي. د نيويارک په يوه مشهوره قضيه کې، مرفي د کاني جزيري د ساعت تيرى په يو پارک کې پداسې حال کې چې په پټليو شويدونکي برقي موټر کې چې Flopper نومیده سپور وو، راولويد. فلوپر برقي موټران پر پټلۍ پورته ختل او سپرليو هڅه کوله په هغه کې ودرېږي. د مرفي په شان ډيرو سپرليو نشواى کولاى په هغه کې ودرېږي او لاندې پر مځکه يا پر ديوال به رالويدل. ددې ساعت تيري او خوند البته پدې کې وو چې سپرلي پخپله لاندې راولوېږي او يا نور ووينې چې لاندې رالوېږي. که څه هم مرفي پخپله د مسوولیت د منلو پابنه نه وه امضا کړې، ده په ضمني توګه د ژوبلیدو خطر منلي وو او خپله طالع او چانس يې وآزمايه.

تصور وکړي يو څوک د بل چا د ژوبلولو اراده نلري او په خپل عمل کي د معقول احتياط څخه کار اخلي. آيا د تاوان په مسله کې بيا هم مسوول دى؟

مطلقا". د تاوان د مسوولیت دريمه لويه برخه د ارادي تاوان او د بې احتياطۍ سره يو ځاى د شديد مسوولیت ساحه ده. دا مسوولیت حتي پداسې حال کې تحميلېږي چې د تاوان د رسولو د پاره اراده وجود ونلري او بي احتياطي هم نه وي شوې. د شديد مسوولیت موضوع له ډيره وخته راهيسې وجود لري او دا په تيرې نيمې پيړۍ کې د محصولاتو د امنيت په برخه کې د تاوان د مسوولیت د پراختيا د ډيرو مهمو او د بحث وړ ساحو څخه ده.

د شديد مسوولیت يود پخوانيو قضيو څخه د ريلندز او فليچر دعوې وه چې په کال ۱۸٦۸ کې د انګلستان د مشرانو جرګې House of lords لخوا (چې په عين زمان کې د سترې محکمې رول لوبوي ژ) وربانديې فيصله وشوه. مدعي عليهما چې د ژرندې خاوندان وه پر خپلې مځکې د اوبو د ذخيرې يو بند جوړ کړى وو. دوى بيله دې چې خبر وي دا د اوبو ذخيره د ډبرو د سکرو د يو متروک کان پر سر جوړه کړې وه. د اوبو د ذخيرې بند مات شو او اوبه دغه متروک کان ته ننوتلې او څنګ ته يو بل کان ته چې د يو زمیندار وو تاوان ورسيد. څرنګه چې مدعي عليهما ددې متروک کان په موجوديت نه وه خبر او هيڅ دليل هم نه وو چې په خبر واوسي، دوى د اوبو د بند د ځاي په ټاکلو کې کومه بي احتياطي نه وه کړې. اما محکمې وويل، ځيني فعاليتونه لکه د اوبو د ذخيرې بند جوړول چې يو زيات مقدار اوبه په کې را ټولېږي، په غير عادي توګه خطرناک دى، که څه هم هغه په ډير احتياط جوړ شوى وي. دا عمل يا فعاليت دومره خطرناک ندى چې غير قانوني وبلل شي، خو په کافي اندازه خطرناک دى چې مونږ د هغه جوړونکي بيله دې چې کومه ګناه يې کړې وي د هغه زيانونو مسوول بولو چې د اوبو د بهيدو په نتيجه کې منځ راغلي دي. پدې ډول خلک تشويق کېږي چې د ډير زيات احتياط څخه کار واخلي او عاملين مکلف بولي چې د خپل فعاليت په اړه د ټول رسيدلي تاوان جبران وکړي. ددې حکم مطابق د ريلندز او فليچر په

دعوې کې دفاع کوونکي مسوول وبلل شول که څه هم دوی د معقول اختیاط له مخې عمل کړي وو.

شدید مسوولیت مخصوصا" پر هغو فعالیتونو تحمیلېږي چې نه یواځې خطرناک وي، بلکې د سیمې د اوسیدونکو د پاره غیر عادي وي. د ریلندز او فلیچر په قضیه کې د اوبو د ذخیرې بند ته پاملرنه وکړئ. د ښار په ملحقاتو کې به د کور یو خاوند چې د کور په چمن کې د ښایست د پاره یو کوچنۍ حوض جوړوي، د شدید مسوولیت لاندې رانشي که دده د حوض اوبه وبهېږي او د ګاونډي د کور زیرخانه تر اوبو لاندې کړي. (که څه هم دی ښایي د اوبو د بهیدو د مخنیوي د پاره د معقول احتیاط د نه کولو په خاطر مسوولیت ولري). د ښایست د پاره د کور د باغ په یو کوچني حوض کې د یو لږ مقدار اوبو ذخیره کول په ښاري منطقه کې یو غیر عادي کار ندی او په خاصه توګه خطرناک هم ندی. اما که د کور یو خاوند چې د خپل ښاري کور د باغ د اوبو کولو د پاره د اوبو لګولو یو لوی سیستم جوړوي شدید مسوولیت لري. د اوبو لګولو یو سیستم چې په یوه کلیواله سیمه کې عادي کار دی په ښاري سیمه کې ډیر خطرناک ګڼل کېږي. مسله البته د روښانه لیکې کښل یا د حد ټاکل دی. په ښاري سیمه کې د ښایست د پاره په یو کوچني حوض کې اوبه ذخیره کول غیر عادي او خطرناک ندی، اما د آبیاري یا اوبو لګولو د سیستم د پاره د زیات مقدار اوبو ذخیره کول غیر عادي او خطرناک دی. یعني داوږدو غوږونو لرونکي سپۍ نه، د زمري ساتل، هو. نو ښامار څنګه؟ ، یا لوی غویي؟

آیا د یو محصول جوړونکۍ د هغه زیان له کبله چې دده محصول یې یو چاته رسوي جدي مسوول دی؟

د جوړو شوو محصولاتو په برخه کې ترټولو زیات د جدي مسوولیت څخه استفاده کېږي ګ

د خرابو محصولاتو دپاره جدي مسوولیت ته حقوق پوهان د محصولاتو مسوولیت یا products liability وایي. دا د تاوان د قانون یوه ډیره بریالۍ برخه ده. او ښایي پدې ساحه کې د بریالیتوب له کبله وي چې لوي شرکتونه، د بیمې کمپنۍ او د هغو وکیلان د تاوان پر سیستم باندې سختې حملې کوي.

راشئ په یو عادي حالت کې یوه مشهوره قضیه راواخلو چې د هغه په نتیجه کې د جدي مسوولیت لاره غوره شوه. ګلادیز ایسکولا چې د رستورانت کارکوونکې وه(waitres) (

د کوکاکولا د بوتل د چاودلو په نتیجه کې چې په لاس کې یې وو ټپي شوه. د کوکاکولا د محلي شرکت موټر چلوونکي څو کریټه کوکاکولا رستورانت ته راوړل او د رستورانت په دهلیز کې یې یو پر بل کښېښودل او دا کریټونه ۳۶ ساعته هلته پاته شول. لږ مخکې له پیښې نه، ایسکولا هغه کریټ چې پر سر پروت وو راواخیست او هغه یې د شیریخو پر صندوق چې د یخچال مخې ته

پروت وو، کښيښود. وروسته دې هره پلا په راسته لاس يو بوتل را اخيست او په يخچال کې يې ايښوده. ورسته له هغه چې دې درې بوتله په يخچال کې کښيښودل او څلورم بوتل يې د کريټ څخه راواخيست او تقريبا" اتلس انچه يې د کريټ څخه ليرې کړی وو بوتل ددې په لاس کې وچاود. ايسکولا وويل، بوتل داسې يو برغ وکړ لکه د بريښنا څراغ يا گروپ چې پر مځکه راولوېږي او لوړ ډم يې وکړ. بوتل دوې ټوټې شو او د ايسکولا په لاس کې يې يو ژور زخم چې پنځه انچه اوږد وو جوړ کړ، او ددې د لاس د وينو شريان، اعصاب او د بټې گوتې عضله او ورغويي يې غوڅ کړل.

که د ايسکولا او په فريسنوFresno کې د کوکاکولا د سيمه ايز شرکت ترمنځ دعوې (۱۹٤٤) د بې احتياطۍ د عادي مقرراتو له مخې فيصله شي، ايسکولا بايد ثابته کړي چې د کوکاکولا شرکت ددې چاودنې په مخنيوي کې چې دا يې ټپي کړيده، معقول احتياط ندی کړی. ددې د پاره چې د سيمه ايز شرکت لخوا د معقول احتياط نه مراعات کيدل مطرح شي، ايسکولا بايد دوه شيان ثابت کړي : لمړی، بوتل سم نه وو او يو ځای يې خراب وو، يعني يا خرابي پخپله په بوتل کې وه او يا داچه بوتل تر ډير فشار لاندې ډک شوي وو. او دوهم، د کوکاکولا شرکت په توليد کې بي احتياطي کړيده او يا يې د پرابلم څارنه نده کړې، يعني د مثال په توگه شرکت د کښته کيفيت بوتل رانيولۍ او بيا يې په دقت سره دا بوتلان ندي تفتيش کړي او يا هغه ماشين چې بوتلان د کوکاکولا د شربت څخه ډکوي سم کار نه کوي. ددې دواړو ثابتول گران کار دی.

ددې د پاره چې ثابته شي چې خرابي په بوتل کې ده، ايسکولا بايد لمړی دا بوتل ولري، يا هغه څه چې تر چاودنې وروسته د بوتل څخه پاته دي.په اکثرو قضيو کې دا يوه ستونزه وي. په دې قضيه کې يو چا د بوتل ټوټې تولې کړي او غورځولي يې دي. اما که ايسکولا د بوټل توټې و هم لري دا به ناممکنه وي چې د بوتل د پاته شوو ټوټو له مخې د چاودنې علت تشخيص شي.

اما فرض کړئ چې ايسکولا لمړی بار له اوږو ايسته کړي او ثابته کړي چې په بوتل کې خرابي وه او هغه د چاودنې علت گرځيدلی دی. دا بيا هم بايد ثابته کړي چې د کوکاکولا شرکت د بوتل په جوړولو او يا د بوتل د عيب په کشفولو کې بي احتياطي کړيده. ددې وکيل بايد پدې هکله پراخې څيړنې وکړي چې بوتلونه څنگه جوړېږي، څنگه د شربت څخه دک کېږي او څنگه څارنه وربانديې کېږي، او پراخ کشفيات وکړي تر څو ثابته کړي چې پدې بهير کې د احتياط معيارونه ندي مراعات شوي او د همدې په نتيجه کې عيب منځ ته راغلی دی. خو دا څيړنې ښايي بې نتيجې وي. د کوکاکولا شرکت به ادعا وکړي چې خپل بوتلونه د يو مشهوراو د اعتبار وړ شرکت څخه اخلي او د توليد په بهير کې هغومره د احتياط مراعات کوي لکه نور شرکتونه چې يې کوي، د لوړ کيفيت ماشينونو او تجهيزاتو څخه استفاده کوي، خپل کارگران روزي او په مناسبو برخو کې بوتلان گوری او څارنه پرې کوي او پدې توگه په معقوله توگه عمل کوي. شرکت ښايي حتې اعتراف وکړي چې په بوتل کې ښايي يو عيب يا نقص وي. ښايي داسې احصايوي ارقام وړاندې

شي چې ګواکې په هر سلو زرو بوتلانو کې یو یې چوي. اما دا د شرکت ګناه نده. ترکومه ځایه چې شرکت په خپلو فعالیتونو کې احتیاط کړی وي د بي احتیاطي د مقررې له مخې مسوول ندی.

بعضې محکمو (د ایسکولا په قضیه کې د کلیفورنیا د سترې محکمې په شمول) هڅه کړیده دپیښې د ټول بهیر څخه حتې د ثبوت د نشتوالي په صورت کې بیا هم د بي احتیاطۍ استنباط وکړي. په عادي حالت کې یوه پیښه یا ټکر ځکه کېږي چې یوه خوا بي احتیاطي کوي. (په لاتین کې ددې دکتورین یا نظریې د پاره یو ضرب المثل شتهres ipsa loquitur

یعني شیان پخپله خبرې کوي) عموما" داسې فکر کېږي چې د سوډا بوتل تر هغه چې ورسره یو ډول بي احتیاطي نه وي شوې نه چوي. اما په اکثرو قضیو کې دا حقیقت نلري. بوتل ته ښایي د کار په بهیر کې څه زیان رسیدلي وي. د ایسکولا په قضیه کې ددې امکان د له منځه وړلو د پاره دا شهادت چې بوتلونه څنګه راوړل کېږي او څنګه یو د بل پر سر ایښودل کېږي ډیر مهم دی. اما د یو بل چا پر قضیه فکر وکړئ چې په یو دکان کې یې یو بوتل کوکاکولا رانیوه او په کور کې ددې بوتل د چاودنې په نتیجه کې ټپي شو. پدې قضیه کې ښایي بوتل ترهغه چې مصرف کوونکي ته رسیدلی دی د بیلا بیلو مرحلو په تیرولو کې زیانمن شوی وي. سربیره پردې حتې که په بوتل کې یو عیب هم وي، دا پدې معنې نده چې شرکت بي احتیاطي کړې او د پرابلم باعث ګرځیدلۍ دی. لکه مخکې چې مو یادونه وکړه، شرکت کولای شي ادعا وکړي چې ډیر په احتیاط یې عمل کړیدی، خو بیا هم حوادث پیښېږي. پدې خاطر دا ډول برخورد په ډیرو قضیو کې کار نه کوي.

پدې ځای کې باید وویل شي چې د تاوان د سیسټم په چوکات کې هر ممکن کوښښ وشو او ایسکولا باید د خپلې ناکامۍ درد یواځې وزغمي. یو څوک چې د مسوولیت د اساس په توګه د تشخیص وړعیبونو ته نژدې پاملرنه کوي، لکه د تاوان د سیسټم معاصر اصلاح غوښتونکي چې یې کوي، دا تمایل لري چې مسله پر همدې ځای قطع کړي. اما محکمې چې د محصولاتو د ضمانت یا product liability قانون یې منځ ته راوړی دی فکر کاوه چې د دوی کار به غوره وي. په اوسني عصر کې د تولیداتو ضمانت یو جدي مسوولیت دی. تولیدکوونکي د هغه خراب تولید یا محصول د پاره چې بازار ته یې وړاندې کوي مسوولیت لري، بیله دې چې مدعي مجبوره وي د تولید کوونکي بي احتیاطي ثابت کړي. د تولیداتو یا محصولاتو د ضمانت کلي داده چې یو تولید په یو خراب حالت کې خطرناکه دی. دا دهغه بې لطافته جملي اقتباس دی چې په عامه توګه د محصولاتو د جدي ضمانت د مقررې د افادې د پاره منل شویدی. یو بوتل چې چوي په یو خراب او ناقص حالت کې دی. (یعنې په یو چاودیدونکي بوتل کې باید یو عیب وي) او دا بوتل په نامعقوله توګه خطرناکه دی (د چاودنې په نتیجه کې ښایي یو څوک ټپي شي). داچه نامعقول خطر، یا خراب حالت د بوتل په ډکولو کې د بي احتیاطۍ په نتیجه کې منځ ته راغلی او یا د بوتل د جوړیدو په وخت د نه څارنې په نتیجه کې او یا دا چې اساسا" ددې عیب مخنیوی نشوای

کیدلای، دا بي تفاوته ده. د بوتل ډکوونکې جدي مسوولیت لري، حتې که د هغه بي احتیاطي ثابته هم نشي.

محکمو په درې دلیلو د تولیداتو د پاره جدي مسوولیت منځ ته راوړ. لمړی، په ډیرو قضیو کې د تولید د خرابۍ علت د جوړونکي بي احتیاطي ده، اما د بي احتیاطۍ ثبوتول یا ګران او یا هم ناممکن دی. فیزیکي شواهد او اسناد یا ښایي له منځه وړل شوي وي او یا ډیر مجمل او ناکافي وي، او یا هم د تولید د بهیر په هکله معلومات چې د بي احتیاطۍ د ثبوت د پاره لازم دی ښایي یواځي د تولید کوونکي تر کنټرول لاندې وي. دوهم، د بې احتیاطۍ مسوولیت په یواځې توګه کافي مشوق ندی چې تولید کوونکي د امن او مطمئنو محصولاتو جوړولو ته وهڅوي. کله چې تولید کوونکي پلان جوړوي چې د یو امن محصول د ډیزاین، تولید او د هغه د کیفیت د کنټرول د پاره باید څومره سرمایه ګذاري وکړي، هغه باید د هغه زیان مصرف هم محاسبه کړي چې دده محصول یې نورو ته رسوي او دا مصرف باید د تولید یا محصول د قیمت سره یو ځای کړي. د جدي مسوولیت تحمیلول تولید کوونکي تشویقوي چې د امن محصولاتو په تولید کې د خاص احتیاط څخه کارواخلي. دریم، حتې که تولید کوونکي په معقوله توګه عمل هم کړي وي، د تولید د چاودني یا بل زیان قرباني بیا هم ټپي دی. که دده د علاج مصرف تولید کوونکي ته حواله شي، تولید کوونکې به په خپل نوبت دا مصرف پر خپلو ټولو مشتریانو وویشي. د تولید د هر واحد قیمت به لږ لوړ وخیژي او پدې توګه د تولید هر خریدار په حقیقت کې د خراب محصول د احتمالي زیان په مقابل کې یوه بیمه رانیسي چې غیر لدې به د لوی تاوان سره مخامخ شي. د جدي مسوولیت له لارې د زیان په ویشلو کې د ژور او ډک جیب د میندلو مسله نده مطرح یعنې چې یو څوک ومیندل شي چې ډیرې پیسې ولري او د مدعي زیان ورته جبیره کړي. پر ځای یې، زیان پر ټولو هغو خلکو چې ددغه تولید څخه استفاده کوي ویشل کېږي.

په همدې خاطر د تولیداتو د پاره د جدي ضمانت یا مسوولیت ټاکل د تولید د نقص او عیب د پاره دی لکه د کوکاکولا یو بوتل چې سم نه وي جوړ شوی. د جدي مسوولیت لوی اهمیت هغه وخت څرګندېږي چې په دوو نورو حالاتو کې تطبیق شي: یعني کله چې د یو تولید په ډیزاین کې عیب وي، او کله چې تولید کوونکې د هغه خطر په هکله چې دده تولید یې منځ ته راوړي خبرداری ورنکړي.

یو محصول هغه وخت د تولید عیب لري چې په هغه توګه چې شاید او باید نه وي جوړ شوی. د ډیزاین په عیب کې برعکس، محصول هغسې جوړ شویدی چې تولید کوونکي غوښتل، اما ستونزه پخپله د محصول په ډیزاین کې ده. محکمې د ډیزاین د عیب د پیدا کولو د پاره په عمومي توګه دوه آزمایښته کوي. یو محصول چې په ناقصه توګه ډیزاین شویدی تر هغه ډیر خطرناک دی چې د محصول استفاده کوونکي یې انتظار لري.(دې ته د مستهلکینو یا استفاده کوونکو د توقعاتو آزمایښت یا consumer expectations test وایي). یا که هغه خطرونه چې د

ډیزاین د نقص په نتیجه کې منځ ته راغلي وي، د ډیزاین تر ګټې زیات وي چې دې ته د مفیدیت - خطر آزمایښت یا risk - utility test وایي.

د مستهلکینو د توقعاتو په آزمایښت کې، یو تولید د ډیزاین عیب لري او د هغه پر جوړونکي جدي مسوولیت وضع شویدی که دده تولید تر هغه ډیر خطرناک وي چې عادي مستهلکین یې توقع لري. د مثال په توګه، موټرچلوونکي د موټرانو د رفتار په شکل کې د بعضې شیانو سره عادت دي. په یوه مشهوره قضیه کې، میري ګل پیپر په خپل کوچني فولکس واګون موټر کې د یوې لویې لارې په منځني لیکې کې چې مجموعا" یې درې لیکې درلودې روانه وه. دې غوښتل کینې لیکې ته واوړي، خو د خپل کوچني موټر په هینداره کې یې ولیدل چې پر هغه لیکې دې ته ډیره نژدې یوه لارۍ موټر روان وو. دې په سرعت خپل د موټر شټرنګ د منځني لیکې خواته وګرځاوه، خو موټر یې چپه شو. دا کوچنۍ موټر ناقص ډیزاین شوي وو، ځکه موټر هغسې چې موټر چلوونکي انتظار درلود، کارونکړ. یو موټرچلوونکۍ اکثره مجبوره کېږي په نا څاپي توګه د موټر شتیرینګ زیات وځرخوي تر څو پر لاره د خنډونو یا یو بل موټرځخه ځان وژغوري. موټر چلوونکي دا توقع لري چې موټر یې پداسې حالاتو کې مخ وګرځوي. موټر ښایي یو لږ بې نظمه شي اما باید چپه نشي. او که چپه شي د موټر جوړونکۍ په جدي توګه مسوولیت لري او ټپي شوی موټر چلوونکي ضرورت نلري چې په دقیقه توګه ثابته کړي چې موټر جوړونکي د موټر په ډیزاین کولو کې کومه اشتباه کړیده چې هغه موټر داسې بې ثباته کوي.

د جدي مسوولیت د پاره د خطر _ مفیدیت آزمایښت یا risk -utility test د یو محصول یا تولید نرخ او مفیدیت اندولوي. ددې پریکړې په کولو کې چې آیا یو تولید خراب دی او که نه، محکمه هغه خطرونه چې یو تولید یې د استفاده کوونکو د پاره لري د هغو ګټو سره چې هغه تولید یې د استفاده کوونکو اود ټولنې د پاره په مجموع کې لري اندولوي. که د تولید خطرونه د هغه تر ګټو زیات وي، تولید ناقص او خراب دی، او جوړونکۍ یې د هغه زیان د پاره چې تولید د هغه باعث ګرځیدلۍ دی، جدي مسوولیت لري. اما د بې احتیاطۍ د آزمایښت برعکس، د خطر _ مفیدیت تحلیل شاته ګوري، یعني وروسته له هغه چې یوه پیښه وشي د تولید خطرونه او ګټې ارزیابي کېږي او بیا د بې احتیاطۍ د مسلې په شان لیدل کېږي چې آیا دا خطرونه د پیشبیني وړ وه او که نه؟

په عامه توګه خطرونه تر ګټې زیات ګڼل کېږي، که د یو تولید پاره یو بل ډیزاین او یا یو بل تولید وجود ولري چې دهغه خطرونه ډیر لږ اما عین یا ټولې ګټې ولري. د تولیداتو د ضمانت یوه مهمه قضیه د ګرین من او د د یوبا د بریښنا تولیدات (۱۹۶۳) تر منځ وه. دا قضیه څرګندوي چې د یو خراب یا ناقص تولید د پاره یو بل ډیزاین وجود لري.

ګرین مین په خپل کور کې د لرګو کار کاوه. دده میرمنې ده ته د کریسمس د پاره یوه برقي وسیله چې شاپ سمیت shopsmith نومېږي تحفه ورکړه. شاپ سمیت یوه برقي آله ده چې هم د

اړې کارکوي، هم د برمې او هم د رندې. کله چې ده ددې برقي آلې څخه د لرګيو پر يوې ټوټې کار اخيست، په ناڅاپي توګه د برقي آلې يوه برخه والوته او دده پر تندي ولګيده او سخت يې ژوبل کړ. د ګرين مين لخوا ټاکل شوو کارپوهانو تصديق کړه چې دا برقي آله خرابه او ناقصه وه ځکه په هغه کې د بيلا بيلو برخو د ټينګ ساتلو د پاره د خرابو پيچونو څخه استفاده شوې وه، عادي احتزاز دا پيچونه سست کړل او د برقي آلې بيلا بيلې برخې چې لرګی يې په خپل ځای کې ساته، د خپل ځای څخه بيځايه شول او لرګی هم د خپل ځای څخه والوت. د کارپوهانو په عقيده، د برقي آلې جوړونکو کولای شوای د قوي پيچونو يا نورو ښو لارو څخه د بيلا بيلو برخو په ټينګ ساتلو کې استفاده وکړي او پدې توګه د پيښې څخه مخنيوی وکړي. څرنګه چې د همدې آلې د پاره يو بل ډيزاين هم وو، پدې خاطر ددې برقي آلې خطر (احتمالي ژوبلې) د هغه تر ګټو زيات وګڼل شو (چې دا کار د آلې د نرخ د يو لږ کښته ساتلو په خاطر شوی وو).

د يو توليد د ډيزاين د خطرونو اوګټو په ټاکلو کې يو جوړونکی مجبور دی د يو توليد د عادي استفادې پر ټولو خواوو فکر وکړي. همدې مقرري د موټرانو د ټکر په اړه يو لړ ډيرې جالبې قضيې رامنځ ته کړيدي. د موټر چلوونکي يقينا" دا هيله نلري ټکر وکړي، اما هر څوک پوهېږي چې ژر يا وروسته به ډير موټران ټکر وکړي. د موټرانو په ډيزاينولو کې، موټر جوړونکي بايد دا حقيقت درک کړي او داسې موټران جوړ کړي چې تر ډيره حده د ټکر په وخت کې امن وي. نن په موټرانو کې دا سې وسايل شته چې د ټکر په وخت کې د انسان ژوند ژغوري لکه په سيټ کې کمربندونه، د هوا کڅوړې، يا پياوړي چوکاټونه چې د حکومت د مقرراتو له مخې د هغه موجوديت په موټرانو کې حتمي ګڼل کېږي. اما ددې شيانو اړتيا ته لمړی ځل هم د توليداتو د ضمانت په قضيوکې او هم د مصرف کوونکو يا مستهلکينو د وکيلانو لخوا پاملرنه جلب شوه.

ډير نور توليدات د توليداتو د ضمانت په قضيو کې ناقص بلل شوي ځکه د هغه په مقابل کې د توليد يو بل ډيزاين وو چې د عين مقصد د پاره وو اما خطر يې لږ وو. د مثال په توګه هغه پټلی چې د زخم وينې ډير په قوت جذبوي نسبټ هغو پټليو ته چې وينې لږ جذبوي خطرناکه دي، ځکه دقوي جذب پټلی دا خطر لري چې ناروغ ذهري يا مسموم شي. هغه د خوب جامي يا دريشي خواب چې د اور اخيستلوپه مقابل کې مصونيت ونلري نسبت هغو ته چې نرخ ېې يو لږ لوړ دی اما دا امنيت لري ناقص بلل کېږي. د موټر د تيلو ټانک که پداسې ځای کې وي چې په يو کوچني ټکر کې په آساني سوری کېږي ډير خطرناکه دی، ځکه د ټانک د ځای د تغير ورکولو له لارې د پيښې مخنيوی په نسبتا" لږمصرف کيدای شي.

ځيني وخت يو توليد ناقص او خراب ګڼل کېږي، ځکه يو بل توليد شته چې عين ګټې لري او خطر يې هم کم دی. ددې رقم توليداتو يو مشهور مثال د دالکان شيلډ د کمپنی د حامله داری د مخنيوی د وسيلې په هکله دی. د دالکان شيلد کمپنی د حامله داری ضد وسيله د ښځې رحم ته نژدې ځای په ځای کيده او د حامله داری د مخنيوي يوه ډيره اغيزمنه وسيله ګڼل کيده، اما

یو ډیر بد فرعي اغیر(جانبي عوارض) یې درلود او هغه داچه هغو شځو چې دا وسیله استعمالول د لګن خاصرې د ناروغیو سره مخامخ کیدل. د دالکن شیلد کمپنی دا تولید له سره پداسې توګه نشواي دیزاین کولای چې اصلي خصوصیت یې وساتل شي اما جانبي عوارض یې له منځه ولاړ شي، په عین زمان کې د حامله داری د مخنیوی ډیر نور اغیزمن وسایل موجود وه چې د هغه په موجودیت کې د دالکن شیلد د تولید خطر د نورو ورته وسایلو په پرتله د هغه ترګټو زیات وو.

که یو تولید حتې خراب یا ناقص هم نه وي ډیزاین او جوړ شوی، او جوړونکی د تولید د استعمال سره د تړلو خطرونو په باره کې خبرداری ورنکړي، په جدي توګه مسوول بلل کېږي. د مثال په توګه د حامله داری د مخنیوي ګولی (تابلیټونه) دیو زیات شمیر ناروغیو باعث ګرځي، اما ددې ګولی ګټه تر خطر زیاته ده، لهذا نشو ویلای چې دا ګولی خرابه جوړه شویده. اما د تولید کوونکي څخه غوښتنه کېږي استفاده کوونکي ته ددې دارو د خطرونو په هکله خبرداری ورکړي، تر څو هغه په خپل بدن کې د ناروغیو نښو نښانو ته پاملرنه ولري، په مرتبه توګه معاینات وکړي او یا هم د حامله داری ضد د یوې بلې وسیلې څخه استفاده وکړي.

او بالاخره د تولیداتو د ضمانت داسې مسلې هم شته چې نن تر ډیربحث او جدل لاندې دي.

پدې قضیو کې د تولید زیان او خطر د هغه تر ګټو زیات دی او یو بل تولید هم نشته چې عین ضرورت رفع کړي اما خطر یې لږ وي. سربیره پردې تولید کوونکی هم استفاده کوونکو ته د تولید د زیان او خطرونو په هکله خبرداری ورکوي. دا برخه عمومي مسوولیت یا generic liability نومېږي، ځکه ددې ډول تولیداتو څخه استفاده په عامه توګه نقص او زیان لري، که څه هم د هغه د پاره التراتیف نشته او خبرداری هم ورکړل شویدی. آیا لدې نقطه نظره سګرت د مثال په توګه په خطرناکه توګه زیان رسونکی دی؟

د سګرت څکوونکو ته د ناروغی او مرګ خطر اود نورو هغو کسانو روغتیا ته خطر چې د سګرت څکوونکي د سګرت دود تنفس کوي، په بشپړه توګه څرګند او ثابت دي. ګټه یواځې په هغه سوده او تسکین کې ده چې سګرت یې سګرټ څکوونکي ته ورکوي. یو بل د مقایسې وړ ماده چې عین سوده په ماته شي اود عین تسکین باعث وګرځي وجود نلري. که دا بیلا بیل عوامل سره انډول کړو، آیا ویلای شو چې خطرونه ډیر دي او هغه فردي او ټولنیز زیان چې د سګرټ د څکولو په نتیجه کې منځ ته راځي نسبت هغې سودې او تسکین ته چې سګرت یې سګرت څکوونکي ته ور په برخه کوي ډیر زیات دی؟ که داسې وي، د سکرټ جوړولو شرکتونه د هغه زیان په وړاندې چې د سګرټ څکولو په نتیجه کې منځ ته راځي جدي مسوولیت لري.

د سګرټو په قضیه کې ښایي استدلال وشي چې نه باید جدي مسوولیت تطبیق شي ځکه د سګرټ څکولو زیانونه ډیر څرګند او هر چاته معلوم دي.، نو یو سګرت څکوونکي هم پدې ښه پوهېږي او پخپله دا خطر پر ځان قبلوي. په ځینو قضیو کې دا ډول قضاوت کول ددې سوال په مقابل کې چې سګرت څکوونکي څه وخت د سګرټو څکول پیل کړیدي، بدلېږي (ځکه د سګرټ

څکولو زیانونه په وروستیو کلنو کې په بشپړه توګه رابرسیره شوي دي)، او داچه په نیکوتین عادت کیدل داسې مرحلې ته رسېږي چې د انسان انتخاب له منځه وړي. اما که سګرټ څکوونکي بیا هم دا خطر ومني او د سګرټ څکولو ته دوام ورکړي، هغه کسان چې دده د سګرټو د دود څخه اذیت کېږي او هغه نور کسان چې د سګرتو د څکولو په نتیجه کې د رامنځ ته شوو زیانونو تاوان ورکوي، هغوي ندي حاضر چې دا خطر ومني. ډیرو ایالتونو د همدې نظریې له مخې د سګرټ جوړولو پر شرکتونو دعوې وکړه او د هغو څخه یې په میلیونونو ډالره تاوان واخیست. ایالتونو پدې دعواوو کې ادعا کوله چې دولت په عامه توګه د سګرټ څکولو د زیان تاوان ورکوي او دا ایالتونه دي چې د طبي مرستو Medicaid، نورو طبي اود عامه روغتیا د ساتنې د پروګرامونو خرڅ او مصرف ورکوي.

یا د ټوپک مسله څنګه ده؟ د امریکا د متحده ایالاتو په هر ځای کې ټوپک خرڅېږي او په آساني لاس ته راځي. په امریکا کې د ټوپک څخه په آسانۍ استفاده کول په حیرانوونکي توګه د جنایت، ژوبلو او مړینې اندازه لوړه خیژولې ده. د ټوپک ګټه داده چې د موجودیت څخه یې د ځان د دفاع او د سپورتې اهدافو د پاره استفاده کېږي. آیا د دغه ګټې د پاره د هغه زیانونه ومنو؟

پاملرنه وکړئ چې د عمومي مسوولیت په قضیو کې چې په هغه کې داسې تولیدات شامل وي لکه سګرټ یا ټوپک، ددې پریکړې په نتیجه کې چې تولید یا محصول ناقص یا خطرناک دی، د تولید خرڅلاو نه منع کېږي. دولت ښایي د عامه روغتیا د ساتنې پخاطر سګرټ منع کړي یا د ټوپک د شخصي مالکیت د پاره حدود وټاکي اما د تاوان مسوولیت په غیر مستقیمه توګه عمل کوي. د جدي مسوولیت د تحمیلولو په صورت کې د یو محصول جوړونکۍ د هغه د حقیقي زیان ټول تاوان پر غاړه اخلي او یا دغه تاوان د محصول پر ټولو استفاده کوونکو ویشي او هغوی د نا امنه یا غیر مطمئنو محصولاتو د جوړیدو مصرف ورکوي. د مثال په توګه د هغو بیلا بیلو موافقو له مخې چې د تمباکو د کمپنیو سره وشوې د سګرټو قیمت ډیر لوړ وخوت، ځکه سګرټ څکونکو د هغه مالي مصرف د ورکولو بار په غاړه واخیست چې پخوا دولت د سګرټ څخه د رامنځ ته شوو ناروغیو د علاج د پاره په غاړه درلود. په نورو قضیو کې ښایي فیصله وشي چې د ټوپک خرڅوونکي باید د ټولو هغو ژوبلو تاوان ورکړي چې د ټوپک د استفادې له لارې په قصدي او یا تصادفي توګه منځ ته راځي. که دا مصرف ډیر لوړ وخیژي، دا تولید به ښایي له بازار څخه ورک شي، اما دا به د زیان د مخنیوي نتیجه وي چې مصرف یې د تولید تر ارزښت لوړ دی.

د تاوان په قضیه کې یو عارض د کومو تاوانونو غوښتنه کولای شي؟

د تاوان قانون نشي کولای د یو ټکر نتایج بې اثره کړي او یو مات لاس بیرته روغ کړي او یا د ژوبلې درد تسکین کړي، خو د مالي تاوان د ورکولو له لارې هڅه کوي د ژوبل شوي عارض هغه

زیان چې د مدعي علیه لخوا ورته رسیدلی دی جبیره کړي. هدف دادی چې مدعي بیرته د ټکر نه مخکې وضعیت ته راوستل شي یعني داسې فکر وشي چې ګواکې ټکر اصلا ندی پیښ شوی. ترکومه ځایه چې ممکنه ده دا کاریواځي مدعي ته د یو مبلغ پیسو د ورکولو له لارې کیدای شي، تر څو د هغه د زیان جبیره وکړي.

د Yetta Sefert بدې طالع ته پاملرنه وکړئ. دې یو سهار کله چې کار ته تله و غوښتل د لاس انجلس یو ښاري بس ته وخیژي، خو د ختلو په وخت کې په ناڅاپي توګه د بس دروازي وتړل شوي او ددې راسته لاس او چپه پښه د دروازې د دوو پلو تر منځ ونیول شول او نور بدن یې دباندې پاته شو. بس حرکت وکړ دا یې یو څه فاصله کش کړه چې وروسته پر ډامبر سړک ولویده او چپه پښه یې ډیره ژوبله شوه. ددې ټکر په نتیجه کې ددې پښه څو ځایه ماته شوه اوځو ځایه یې غوښه څیرې شوه. ددې پښه څو واره جراحي عملیات شوه چې ډیر له درده ډک وو او ددې بجلکه (بیډی) لنډه شوه او ددې باعث وګرځید چې ددې پونده د مځکې څخه دوه انچه پورته شي. د میرمن سیفرت د پښې حالت د علاج وړ نه وو او د تل د پاره د درد سره مخامخ او د حرکت او ګرځیدو توان یې ډیر محدود شو.

یټا سیفرت د څو رقمه زیانونو سره مخامخ وه. د محکمې د دایریدو تر وخته پورې دې پخپله د خپل علاج د پاره د ډاکټرانو د تشخیص او تداوی او په روغتون کې د بستري کیدو مصارف چې 10، 330.50 ډالره کیدل او نور طبي مصارف (لکه اکسرې، د ډاکټر د دوا نسخې، او د فیزیکي علاج یا Physical therapy) چې 2، 273.25 ډالره ته رسیده پخپله ورکړل. میرمن سیفرت همدا شان د یوې اوږدې مدې د پاره د کار څخه لیرې پاته شوه او 5، 500 ډالره عاید یې له لاسه ورکړ. اما د محاکمې د پیل تر وخته پورې ددې زیان پای ته نه وو رسیدلی. ډاکټرانو تخمین کړی وو چې ددې علاج به په راتلونکي کې 25، 800 ډالره نور مصرف ولري. په پښه کې د درد له کبله دې ته د کار کول ډیر ګران وو، لهذا تخمین وشو چې د محاکمې د پیل څخه بیا ددې تر تقاعد پورې به دا تقریبا" لس زره ډالره لږ وګټي دا ټول د مالي تاوان لازمې برخې وې چې د ټکر په نتیجه کې دې ته پیښ شول. لهذا، د سیفرت او د لاس انجلس د ښاري حمل او نقل د لیکې یا Transit Line په دعوې کې چې په کال ۱۹۶۱ کې پیل شوه محکمې میرمن سیفرت ته ددې تاوانونو د جبران حکم وکړ.

اما په ژوبله کې مالي نتیجې د کیسې یوه برخه ده. میرمن سیفرت په محکمه کې شهادت ورکړ چې دا نور په ډیر زحمت په پښو دریدلای او ګرځیدلای شي. حتې په کښینستو کې هم مشکلات لري او باید تل پرته وي ؛ ددې پښه لا ډیر درد لري او دا ډیره ستومانه او ستړې ده ؛ ددې خوب ډیر بې نظمه شوی، د بدن غړي یې تشنج پیدا کړی او پښه یې په بې اختیاره توګه رښړدي. دې زیاته کړه چې ډیره غمجنه او خواشینې ده او د اهانت او تحقیر احساس کوي. دې البته هغه دردونه چې د ټکر، جراحي عملیاتو او طبي معالجې په جریان کې ورسره مخامخ شوه

هم ګاللي دي. محکمې حکم وکړ چې دې ته دې 134، 000 ډالره ددې د زیانونو د جبیره کولو په خاطر ورکړل شي. دې ته په عامه توګه د درد او رنځ تاوان ویل کېږي.

ددې پرنسیپ په ظاهره ډیر ساده دی. د پیسو تاوان پدې خاطر ورکول کېږي چې د ژوبلې له کبله اقتصادي زیان جبیره شي او د غیر اقتصادي نتایجو تلافي هم په پیسو وشي. مدعي ته د زیان د جبیرې د پاره د پیسو اندازه د هغه اندازه زیان له مخې ټاکل کېږي چې مدعي علیه مدعي ته رسولې دی. د انصاف او اجتماعي سیاست له مخې مدعي علیه د زیان مسوول دی. (البته چې دا مقررات د تطبیق په ساحه کې ډیر پیچلي دي، اما مونږ د مسلې جزییاتو ته نه ځو).

ددې ظاهرا" ساده سیسټم څو ډیرو مهمو خواوو ته پاملرنه وکړئ

لمړی، دا سیسټم د یو واحد قضاوت تر قانون لاندې کار کوي. د تاوان جبیره یواځي یوه پلا د محاکمې په وخت کې کېږي. د محاکمې په وخت کې پخواني زیانونه په نسبتا" مستقیمه او رښتوني توګه مطرح کېږي. میرمن سیفرت د خپل علاج د پاره مصرف کړی وو او د ثبوت د پاره یې خپل رسیدونه وړاندې کړل. دا د یوې مدې د پاره د کار څخه لیرې وه او کولای شي ثابته کړي چې پدې مده کې دې څومره پیسې ګټلا شوای. اما د درد او رنځ د پاره د تاوان ټاکل یوڅه ناروښانه کار دی. (پدې هکله به لږ وروسته خبرې وکړو)، اما لږتر لږه عارض یا مدعي او نور شاهدان کولاي شي تشریح کړي چې دا څه حال لري او څنګه ددې فعالیت محدود شویدی او دا سې نور

د واحد قضاوت مقرره همدا شان د راتلونکي په هکله د پیشبیني کولو غوښتنه کوي او راتلونکې تل روښانه نه وي. محکمه مجبوره ده د هغو شواهدو او اسنادو له مخې چې دواړه طرفه یې وړاندې کوي د مدعي د راتلونکي زیان په هکله یوه پیشبیني وکړي. د مدعي ټپونه ښایي ښه شي او یا نور هم خراب شي، یا لږ نورې معالجې ته اړتیا ولري او یا هم یو لوی جراحي عملیات ته. ددې درد او ددې توان او قابلیت چې په عادي توګه ژوند وکړي یا ښایي ښه شې او یا ډیر زیات شي. په بعضې قضیو کې مدعي ښایي د ټکر یا تصادم په وخت کې د خپل تحصیل د پاي ته رسولو په آخرو ورځو کې وي او ددې د مسلکي ژوند پیشبیني په راتلونکو لسیزو کې او داچه ددې مالي زیان به څومره وي ډیر ستونزمن مسایل دي چې د هغه په باره کې یواځي حدس وهل کیداي شي.

د واحد قضاوت مقرره داسې یوه نمونه ده چې که د تاوان اصول په دقیقه توګه تطبیق شي اداري اغیزمنتوب منځ ته راوړي. محکمه کولای شي خپل کنټرول پر قضیې تر غیر محدود وخته پوري وساتي او د مدعي علیه څخه غوښتل کېږي د مدعي د لګښت د زیاتیدو په صورت کې هغه ورکړي او وقتا" فوقتا" غیر اقتصادي زیانونه تلافي کړي. د تاوان په سیسټم کې دا کار نه کېږي ځکه دا به ډیر پیچلې او دروند کار وي. ددې د پاره چې مسایل ساده شي، مونږ دا حقیقت منو چې دا راتلونکي زیانونو په هکله اکثره پیشګویي ګاني به یا غلطې ثابتې شي، او هر څومره چې

حقایق را برسیره کېږي، مدعي ته به لږ څه ورکړل شي، مدعي علیه به کافي تلافي ونکړي او یا برعکس.

دوهم، په هر تصادم یا پیښه کې هر ځانګړی مدعي ته نظر د پیښې خاصو شرایطو ته په انفرادي او ځانګړي توګه تاوان ورکول کېږي. په ټکر کې میرمن یتا سیفرت ته د رسیدلو زیانونو تلافي وشوه، اما دا د تاوان تلافي یا جبیره د بس موټرونو د متوسط ټکر له مخې او یا میرمن سیفرت ته ورته د یو متوسط عادي سړي د طبي حالت له مخې و نه ټاکل شوه. د یو لږ موټر چلوونکو تصور وکړئ چې د دوی هر یو د دریدو اشارې ته ندي کتلي او یوې څلور لارې ته داخل شوي او یو لارویِ یې تر موټر لاندې کړیدی. هر موټر چلوونکي د بې احتیاطیِ د ورته عمل مرتکب شوي دي، اما مدعي ته د دوی د تاوان په ورکولو کې لوي توپیر شته. لمړي موټر چلوونکي لاروي ته یواځې یوه ضربه ورکړیده او لارویِ یواځې یو څه خوږ شویدی. ددې موټر چلوونکي تاوان ډیر جزیي او لږ دی. دوهم موټر چلوونکي هم مدعي ته یواځې ضربه ورکړیده، اما لارویِ د هډوکو نا علاجه ناروغي لري او د موټر محض کوچنیِ ضربه دده د دواړو پښو هډوکي مات کړیدي. ددې مقررې له مخې چې مدعي علیه باید مدعي هغسې ومني چې ده د پیښې په وخت کې مینديِ دی، مدعي علیه د مدعي د علاج د ټولو لویو طبي لګښتونو او دا چې د پیښې په نتیجه کې مدعي د خپل عاید څخه بې برخې کېږي مسوولیت پر غاړه لري. دریم موټر چلوونکیِ لارویِ تر موټر لاندې کوي او هغه سخت ټپي کوي، اما دا لارویِ یو ناروغه او ډیر زوړ سړی دی چې د عمر امید یې ډیر لږ دی او بیکاره هم دی. لهذا د راتلونکي اقتصادي او غیر اقتصادي زیانونو اندازه لږ ده. څلورم موټر چلوونکیِ هم لارویِ تر موټر لاندې کوي او تصادفا" دا لارویِ دونالد ترومپ Donald Trump (د امریکا یو مشهور او ډیر بریالیِ تاجر) دی، لهذا موټر چلوونکیِ د ښاغلي ترومپ د لس هاوو میلیونو ډالرو عاید مسوول دی چې دا ښاغلی یې د ټکر په نتیجه کې له لاسه ورکوي.

ددې فرضي مثالونو څخه څرګنډېږي چې د مدعي د حقیقي زیانونو د جبیره کولو هیله د تاوان د پالیسیِ سره چې خلک ښه سلوک کولو ته تشویقوي په تضاد کې دی. د بې باکیِ یا بې احتیاطیِ د یو عمل د حقیقي زیان د اندازې مخکې له مخکې پیشبیني ډیره ګرانه ده او په عمل کې ډیر د چانس او طالع سره ټرلی دی. د مدعي علیه د پاره هم دا ارزیابي ډیره مشکله ده چې څومره د معقول احتیاط لاره غوره کړي. دا فرضي مثالونه همدا شان څرګنډوي چې د جرم ورته زیانونه لکه ډیر نور شیان په ټولنه کې د سرمایي او عاید د موجود ویش د اصولو پیروي کوي. د تاوان قانون د بډایو مدعیانو او هغو کسانو زیان چې د لوړ عاید خاوندان دي نسبت کم عایدو او بیکارو مدعیانو ته زیات تلافي کوي.

دریم، د تاوان د جبیرې او تلافیِ یوه زیاته برخه د قرباني د غیر اقتصادي زیانونو لکه درد او تکلیف او د هغه زیان د پاره ده چې د ژوند په کیفیت کې یې راغلی وي. پدې کې هیڅ شک

نشته چې دا حقيقي زيان دی، اما پدې کې هم شک نشته چې په پيسو دا زيان نشي تلافي کيدای. په عنعنوي توګه محکمې دې نتيجې ته رسيدلي دي چې د درد او رنځ جبيره کول د څو نقطه نظره ګټه لري. دا که څه هم د مدعي د زيان د پاره کافي ندی، د مدعي د زيان پر اهميت تاکيد کوي او د مدعي عليه څخه غوښتل کېږي چې د خپل غلط عمل بشپړ تاوان ورکړي. دا د مدعي د فعاليتونو او ساعتيرى د پاره يو مالي امکان برابروي تر څو خپل درد او رنځ ورباندې غلط کړي او تر يو حده خپل د ژوند د لاسه تللې خوشحالي ورباندې جبيره کړي ؛ د مثال په توګه يو قرباني چې خپل نوی تلويزيون ته ګوري ښايي د هماغه شيبې د پاره خپل درد هير او فکر يې بلې خواته شي، او که يو قرباني ځانته د زيان د جبيرې په پيسو د لامبو يو نوی حوض جوړ کړي، ښايي د تينس د لوبي عوض ومومي چې ده يې نور د کولو قابليت او توان له لاسه ورکړيدی. او بالاخره د درد او رنځ تاوان د مدعي د قانوني وکيل د حق الزحمې د پاره يوه منبع منځ ته راوړي او مدعي ته اجازه ورکوي چې د اقتصادي زيان د جبيرې پيسې د ځان د پاره خرڅې کړي.

دا دلايل يوه اندازه قوت لري، اما د تاوان د قانون ځيني اصلاح غوښتونکي فکر کوي چې دلته افراط شويدی او دوی وړانديزونه کړي او حتې په ځينو ايالتونو کې يې قوانين منځ ته راوړي چې د درد او رنځ د پاره تاوان يې محدود کړيدي. د تاوان د سيستم نورو د نظر خاوندانو بيا د درد او رنځ د تاوان پر تلافۍ د يو بل جهت څخه حمله کړيده. د دوی په نظر دا د تاوان جبيره کافي نده، ځکه دوی د مدعي د تاوان طبيعت ندی پيژندلی او د مدعي عليه څخه يې ندي غوښتي ددې زيان جبيره په يوه معقوله توګه وکړي. د مدعي جراحت په ډالر او سنټ بدلول دا معنې لري چې مونږ د مدعي سره داسې چلند کوو چې ګواکې دی يو توليد يا محصول دی چې مونږ يې اخيستلای او خرڅولای شو. ښايي دا به د جبيرې، مخنيوي او د انصاف د پاليسيو سره ډير موافق وي چې د مدعي عليه څخه غير مالي جبيره وغوښتل شي. د مثال په توګه، د مدعي عليه څخه وغوښتل شي چې پر مدعي حقيقي پاملرنه وکړي او د خپل غلط سلوک بخښنه وغواړي. په هر حال د غير اقتصادي زيانونو د جبيرې مسله د تاوان د قانون يوه مهمه برخه پاتې ده.

د مدعي عليه د مجازات د پاره څه وخت د زيان تلافي ټاکل کېږي؟

د تاوان په مسله کې په خاصه توګه د زيان جبيره کېږي. دا جبيره ښايي د مدعي عليه د پاره ډير ګران وي او حتې هغه د افلاس سره مخامخ کړي. اما دا کار د مدعي د تاوان د جبيرې د پاره کېږي. په جدي حالاتو کې د تاوان يو خاص ډول ورکول کېږي چې د هغه هدف يواځې مدعي عليه ته د غلط عمل د کولو په خاطر سزا ورکول کېږي. دې ته جزايي تاوان يا punitive damages وايي.

د قانون له مخې او په عمل کې جزايي تاوان په ډيرو لږو قضيو کې ټاکل کېږي. د جزايي تاوان قانون د يو ايالت څخه بل ايالت ته توپير لري. اما په هر ځاي کې د جزايي تاوان د ټاکلو د پاره بايد تر عادي بي احتياطۍ يا حتې قصدي زيان څخه يو څه لوړ عمل شوی وي. ددې آزمايښت پدې شکل کېږي چې د مدعي عليه سلوک وجدان ته ټکان ورکړي، په خلکو کې قهر او غضب راپاروي، نه بخښوونکې بي اعتنايي څرګندوه کړي او يا په قصدي توګه د مدعي د امنيت د پاره هيڅ پاملرنه ونه کړي. څرنګه چې دا معيار ډير تنګ او محدود دی، جزايي تاوان يواځې د هغو قضيو د يو يا دو په سلو د پاره ټاکل کېږي چې محکمو ته وړاندې شوي وي.

جزايي تاوانونه، مخصوصا" د لوړ مبلغ جزايي تاوانونه اکثرا" په تجارتي قضيو کې ټاکل کېږي. د مثال په توګه د جزايي تاوان په يوه مشهوره قضيه کې چې د متحده ايالاتو سترې محکمې فيصله پرې وکړه د بيمې د يو شرکت او د هغه د نمايندګانو پر ضد قيصله وشوه چې د خپلو بيمه شوو کسانو سره يې تقلب کاوه او د هغوي پاداش يې بيله دې چې هغوی ته حق ورکړي په خپلو جيبو کې اچول. اما ځيني وخت د فردي جراحت يا تاوان قضيې ډير لوی جزايي جبيره منځ ته راوړي. د آسبيستوس جوړونکو د ډيرو لسيزو د پاره د آسبيستوس مضر تاثيرات پټول او په څو قضيو کې د جزايي تاوان په ورکولو محکوم شول. يو منصفه هيئت د يوې ښځې ميړه ته د لس ميليونو ډالرو د لاس ته راوړلو جزايي تاوان وټاکه. دده ميرمن د زهري کيدو له کبله وفات شوه، ځکه د پلې تکس Playtex شرکت په قصدي توګه هغه طبي مطالعاتو او رپورتونو ته چې ويل يي د زياتو وينو د جذبولو پيټۍ ډير خراب عواقب لري پاملرنه نه کوله او هغه هم پداسې حال کې چې د وينو د جذبولو د پيټيو نورو جوړونکو دې معلوماتو ته پاملرنه کوله او خپل توليد ته يې تغير ورکاوه او يايې د زياتو وينو د جذبولو پيټۍ له بازار څخه ليرې کول. د محاکمې قاضي دا مبلغ يو ميليون او درې سوه پنځوس زره ډالرو ته راکښته کړ او همدغه مبلغ د تميز په محکمه کې هم تاييد شو. د کينساس ايالت په يوه قضيه کې د رابينز کمپنی پدې خاطر چې سکوت يې کړي وو او د حا مله داری د مخنيوي د هغه وسيلې د خطرونو په هکله يې چې د دالکن شيلد د کمپنی لخوا جوړيدل، هر ډول معلومات پټ ساتل د لس ميليونو ډالرو په ورکولو محکومه شوه.

جزايي تاوان د دوو مقصدونو د پاره ټاکل کېږي، هغسې چې د نامه څخه يې څرګندېږي پدې توګه يو خطاکاره مدعي عليه ته سزا ورکول کېږي او جنايي دعوې يې تر ټولو څرګند شکل دی. اداري سزا د يو خاص کار د پاره ټاکل کېږي لکه د ترافيکو مديريت چې د يو موټر چلوونکي د موټر چلولو اجازه يا لايسنس د يوې مدې د پاره ورڅخه اخلي، يا د اسهامو د تبادلې کميسيون چې د اسهامو د خرڅولو لايسنس د يو چا څخه اخلي. اما خصوصي مدني دعوې د عامه ارزښتونو او د هغه مدعي په ګټه هم وي چې غواړي د جزايي تاوان د ټاکل کيدو له لارې د عامو خلکو په ګټه خصوصي څارنوال شي. د يو خطرناک يا خطاکاره مدعي عليه سلوک چې په قصدي توګه خطرناک وسايل جوړوي ښايي د جنايي عمل د تعريف سره مطابقت ونلري او د څارنوال پاملرنه به ځانته

جلب نه کړي.جزايي تاوان هم هماغسې يوه سزا ده لکه په جنايي قضيو کې چې ټاکل کېږي او د تاوان جبيره په حقيقت کې يو پاداش دی د هغه زيان رسيدلي مدعي د پاره چې پدې توګه د عامو ګټو او مفيديت د پاره خدمت وکړي.

دوهم مقصد يې د تاوان د قانون د مخنيوي کوونکي اغيز پياوړی کول دی. په بعضو قضيو کې د مدعي عليه سلوک دومره شديد او قهر پاروونکی دی چې د هغه د مخنيوي د پاره يواځې د تاوان جبيره او تلافي کافي نده. په نورو قضيو کې د تاوان جبيره کافي نده ځکه ټول متضرره شوي قربانيان محکمې ته مراجعه نه کوي او کوم شی لاس ته نه راوړي. په دواړو حالاتو کې، جزايي تاوان د مدعي عليه انګيزه او شوق غلطو کارونو ته له منځه وړي، يعني دا د يو سوټي حيثيت لري چې يو بالقوه خطا کاره ته خبرداری ورکوي چې بايد د خپل عمل د عواقبو په باره کې ښه فکر وکړي.

د قضيو د شمير له نظره جزايي تاوان د تاوان د سيستم يوه مهمه برخه نده. سره لدې چې په خبرونو کې ډير هيجاني رپورټونه خپرېږي، د هغو قضيو شمير چې د هغه د پاره جزايي تاوان ټاکل کېږي په تيرو کلنو کې ندی زيات شوی او اکثره داسې قضيې په لويو تجارتي معاملاتو کې منځ ته راځي او نه د فردي زيان په قضيو کې. خو بيا هم په ډيرو قضايي حوزو کې د تاوان د قانون اصلاح غوښتونکو د جزايي تاوان مسلې ته ډيره پاملرنه کړيده. د دوی د حملو يو مهم علت دهغه احتياط او بصيرت اندازه ده چې منصفه هييت يې بايد د جزايي تاوان په ټاکلو کې او دا چې دا تاوان بايد څومره وي مراعات کړي. لکه د درد او رنځ په قضيه کې، قاضي منصفه هييت ته لارښوونه کوي، اما منصفه هييت په خپل تصميم کې چې د مدعي عليه د مجازات کولو د پاره د څومره لوړ مبلغ ټاکل ضروري دی کافي مهلت لري. هغه څه چې په خاصه توګه تنقيد کوونکو ته آزار ورکوي دا حقيقت دی چې منصفه هييت اجازه لري د جزايي تاوان په ټاکلو کې د مدعي عليه مالي وضعيت په پام کې ونيسي. منصفه هييت ته دا معلومات ورکول کېږي، تر څو جزايي تاوان هم يوه سزا وي او هم د مدعي عليه د عمل د تکرار مخنيوی وکړي. د مثال په توګه د يو عادي سړي د پاره د پنځوسو زرو ډالرو تاوان د ورکولو پريکړه يوه سخته سزا ده، اما د يو ميلياردې شرکت د پاره ډير لږ ده. ددغه تنقيدونو په نتيجه کې په ځينو ځايونو کې د جزايي تاوان په ټاکلو کې د منصفه هييت توان محدود شويدی او اکثره دا تاوان يو حد اکثر ډالري مبلغ ته او يا د تاوان د جبيرې څو چنده ته محدود شوي دي.

٦

معامله څه وخت منځ ته راځي؟
شرکتونه، استهلاک کوونکي او د قرارداد قانون

د کاغذ په لټه یا The Paper Chase په ناول او فلم کې ډیر سوړ، بدقیافه او نفرت پاروونکی پروفیسر کینګز فیلد د قانون د استاد یو کاریکاتور وو چې هم یې خپل شاګردان ډیر تشویقول او هم یې ډیر بیرولي وه. دا تصادفي نه وو چې کیګنزفیلد د قرار داد د قانون د پروفیسر رول لوباوه. د قرار داد قانون باید ساده وي، یعني یوه معامله معامله ده، اما دا د حقوقو د فاکولتي د لمړي کال د محصیلینو د پاره تر ټولو سخت مضمون ګڼل کېږي. دا هغه مضمون دی چې د ډیرو لویو قانون پوهانو پاملرنه یې جلب کړیده او د اکثرو محصلینو د پاره د زجر او آزار څخه ډک مضمون دی. او دا خپل دلایل لري.

د قرارداد قانون څه شی دی؟

د قرارداد قانون د ژمنو او موافقو د کیدلو، ساتلو او ماتولو ټولې خواوې په بر کې نیسي. خلک تل وعدې او موافقې کوي. ډانا خپل دوست برین ته بلنه ورکوي چې د شنبې په ماښام د ډوډۍ د پاره ددې کورته راشي ؛ هغه ورته وایي چې په ټاکلي وخت به راشي اود ځان سره به واین هم راوړي. یو مستهلک یا مصرف کوونکی د پوستې پر یو تشویقاتي اعلان د ویزا کارد خیال کړی او یوه فورمه یې امضا کړیده چې پر شا یې د قرار داد مادې په روښانه توګه چاپ شوي دي. (ویزا کارد Visa card د مالي اعتبار یو کارد دی چې د بانک لخوا ورکول کېږي اود هغه څخه په دکانونو، هوټلونو او نور ځایونو کې د نقدو پیسو پر ځای د تبادلې د وسیلې په توګه استفاده کېږي ژ). یو کار ګر په یو نوي کار پیل کړیدی بیله دې چې په لیکلي توګه یو قرار داد وجود

ولري. د دفاع وزارت د نورت روپ ګرومن د شرکت سره چې د دفاع وزارت لوی قراردادي شرکت د ی قرار داد کړیدی چې د ستیلټ Stealt پرمختللي پوځي الوتکې ورته جوړې کړي.

دا ژمنې، وعدې او موافقې او په میلیونونو نور داسې موافقې چې خلک یې هره ورځ کوي، د یو بل څخه ډیر توپیر لري. د ماښام د ډوډی د خوړولو د پاره موافقه تر هغې موافقې چې د پوځې الوتکو د پیرودلو د پاره کېږي ډیر فرق لري. دشنبې په ماښام د یو ملګري سره د ډوډی د خوړلو وعده د هغه سره چې یو څوک په ژوند کې یو پلا د یو مشر او مشهور شخصیت سره د ډوډی د خوړلو وعده وکړي، هم ډیر توپیر لري. د مک دونالډ په یو رستورانت کې د څو ساعتو د پاره کارکول، هم د کار د هغه قرار داد سره چې د هغه له مخې امضا کوونکی د مک دانلد د شرکت ریس مقرر کېږي توپیر لري، خو سره له دغو توپیرونو د قرار داد قانون د ټولو دغو پیښو سره سروکار لري. که د برین او ډانا تر منځ جنجال منځ ته راشي آیا ډانا کولای شي په محکمه کې د هغو پیسو پخاطر چې دې د ډوډی او د نوو جامو د پاره مصرف کړیدي دعوې وکړي؟ آیا د ویزا کارد مشتري هغو مادو ته چې د کاغذ پر شا چاپ شوي او ده ندي لوستي او ښایي په و هم نه پوهېږي کوم تعهد لري؟

که د ستیلت جنګي الوتکو قیمت ترانتظار څو میلیونه ډالره زیات شي او هغسې چې فکر کیده او ډیزاین شوي دي کار هم نه کوي، مسوولیت یې د چا پر غاړه دی، د دفاع وزارت او که د قراردادي شرکت؟ د قرارداد قانون دې پوښتنو ته ځواب ورکوي، یا لږ تر لږه یوه وسیله ده چې د هغه له لارې مونږ استدلال کوو چې ځواب باید څنګه وي.

د قرار داد قانون د موافقو پر بیلا بیلو شکلونو څارنه کوي او دې ته پاملرنه نلري چې چا موافقه کړیده او د موافقې موضوع څه ده. اما ځینې موافقې شته چې د قرار داد د قانون د ساحې څخه دباندې دي. د مثال په توګه د قرارداد قانون د استخدام پر هغه قرارداد چې د جنرال موټرز د ریس او ددې شرکت تر منځ شته څارنه کوي، اما د اختصاصي قانون یوه مجموعه چې د کار د قانون په نامه یادېږي پر هغه ډله ایزې موافقې باندې چې د جنرال موټرز د شرکت او د موټر جوړولو د متحدو کارګرانو تر منځ وجود لري څارنه کوي. د موټرجوړولو متحد کارګران هغه کارګري اتحادیه ده چې د جنرال موټرز د فابریکي د کارګرانو نمایندګي کوي. د قانون پوهانو په اداره کې (دارالوکاله) د شریکانو تر منځ موافقه یو قرارداد دی، اما پردې موافقې د شراکت قانون څارنه کوي او نه د قرارداد عمومي قانون. د قرارداد د قانون مقررات اواصول د کار د قانون او د شراکت د قانون تابع دي، اما دا قوانین د موافقو د موضوع او محتوې د خاصو اړتیاوو د پوره کولو د پاره تصویب شوي دي. پدې توګه د قرارداد قانون یو پاتې شونې قانون دی، یعني وروسته له هغه چې د قرارداد ځیني شکلونه د نورو قوانینو او د قانون د اختصاصي ساحو تر څارنې لاندې راشي، پر پاتې برخو یې د قرارداد قانون څارنه کوي.

د قرار داد د قانون پاملرنه ژمنو او موافقو ته دا قانون د خصوصي حقوقو د دوو لويو برخو يعني د ملکيت د حق او د تاوان يا د جبران خساره د قانون څخه جلا کوي. ژمنې او موافقې راتلونکي ته گوري، د شنبې د مابنام وعده او يا د ستيلت الوتکو د جوړولو وعده په څو راتلونکو کلنو کې. لدې کبله د قرارداد قانون د هغو راتلونکو پيښو سره يعني داچه څنگه به شي سروکار لري. کله چې يو څوک وعده وکړي او هغه وعده پر ځاي نکړي، د قرار داد قانون هغه د تاوان ورکولو ته مجبوروي، ځکه په راتلونکي کې د هغه حالت د منځ ته راوړلو په کار کې چې وعده يې کړيوه پاته راغلې دی. اما د ملکيت قانون د هغه شي سره چې همدا اوس شته سروکار لري. که يو متخلف بې له اجازې د يو چا کور يا مځکې ته داخل شي، متخلف روان حالت اخلال کړی يعني د مالک پردې حق يې چې د خپل ملکيت څخه د استفاده کولو حق دی او نورو ته ددې ملکيت د استفاده کولو حق نه ورکوي تيرې کړيدی. د تاوان قانون د هغو مسايلو سره سروکارلري چې په پخوا کې وو. يعنې مخکې له پيښې حالت ته تاوان رسول. يو موټر چلوونکې چې د بې احتياطۍ له مخې يې يو لاروې خوږ کړيدی مسوولیت لري، ځکه ده د لاروي د پاره تر پخوا يو خراب حالت منځ ته راوړی دی او لاروي داسې يو شی له لاسه ورکړيدی چې مخکې تر پيښې يې درلود يعني روغتيا او د پيسو د ګټلو توان او امکان.

ولې مونږ د قرارداد قانون ته اړتيا لرو؟

د يو حقوق پوه له نظره، قراردادونه هغه ميکانيزمونه دي چې ټولنه د هغه پر اساس فعاليت کوي او د قرارداد قانون هغه غوړ دی چې دا مکانيزم وربانديې ښه چلېږي. د آزاد بازار په اقتصاد کې، کار کېږي، توليدات توزيع کېږي، او د قرارداد له لارې د کار تخصص او توليد هم آهنگه کېږي. د مثال په توگه خلک د حمل او نقل وسايلو ته اړتيا لري، او د جنرال موټرز شرکت General Motors دا وسايل جوړوي او د خرڅلاو د پاره خلکو ته جيوزGeos او کاديلاکCadillac موټرونه عرضه کوي. که دا موټران ښايسته او ښه وي او قيمت يې هم د رقابت له لارې ټاکل شوی وي، خلک به د قرارداد له لارې دا موټران رانيسي. جنرل موټرز د مستهلکينو يا مصرف کوونکو تقاضا ته د ځواب ورکولو د پاره کارګران استخداموي، اومه فولاد او جوړ شوي ټايرونه رانيسي، په تلويزيون کې خپل د موټر اعلان خپروي، سيمه ايزاستازي ټاکي تر څو پر خلکو خپل موټران خرڅ کړي او پدې توگه په زرهاوو قراردادونه منځ ته راځي. دا د توليد او توزيع پيچلې سيستم (لکه په پخواني شوروي اتحاد کې چې وو) د موټر جوړولو د شرکت د ريس په دستور او فرمان منځ ته نه راځي، بلکه دا د ډيرو قراردادونو د فعل او انفعال په نتيجه کې تنظمېږي.

دا قراردادونه د ټولو برخه اخيستونکو په گټه دي : جنرل موټرز شرکت گټه کوي، کارګران يې خپل معاش لاس ته راوړي، د متحده ايالاتو د فولادو شرکت خپل فولاد په گټه پر جنرل موټرز

خرڅوي. او موټر اخيستونکي يو ښه موټر په مناسب قيمت لاس ته راوړي. د اقتصاد تيوري وايي چې د آزاد بازار سيستم چې د قرارداد پر اساس بنا شوي وي د ټولو په ګټه ده، ځکه خلک هغه څه تر لاسه کوي چې غواړي يې او د منابعو څخه په ډيره اغيزمنه او موثره توګه استفاده کېږي. که موټر چلوونکي غواړي چې داسې موټر واخلي چې د تيلو مصرف يې لږ وي او پارک کول يې هم آسانه وي، جنرل موترز به ددې اخيستونکو د پاره جيوز Geos موټران جوړ کړي او ددې موټرانو زيات شمير به خرڅ کړي. که خلک د لکسو او ډيرو ښايستو موټرانو غوښتنه ولري، جنرل موټرز به هغو ته کاديلاک موټرونه عرضه کړي. اما که جنرل موټرز د مصرف کوونکو د غوښتنو په هکله اشتباه وکړي، د فورد او تويوټا شرکتونه به دا تجارت د ځان کړي. ټولې دغه اقتصادي نتيجې د فردي انتخاب د انسجام او د قرارداد له لارې منځ ته راځي.

د قرارداد بهير يواځې د توليد او محصول برخې ته ندی وقف. خلک کولای شي خپلې هيلې ترسره کړي او د هغو موافقو له لارې چې کوي يې په ژوند کې هغه څه لاس ته راوړي چې غواړي يې. پوهنتون ته تلل، د يو کار پر ځای بل کار کول، د کور جوړول، د هنري آثارو ټولول، د شوقي او ذوقي شيانو څخه خوند اخيستل يا د روغتيايي کلبونو غړيتوب تر لاسه کول، دا ټول د قرارداد له لارې تر سره کيدای شي. په پراخ نظر، د قرار داد بهير د هر فرد د آزادۍ او آزاد اختيار په هکله دی. ددې نظريې له مخې، زمونږ په شان آزادو ديموکراتيکوټولنوکې افرادترهغه حده آزاده دي چې کولای شي خپل د خوښې انتخاب وکړي.

لهذا، قراردادونه زمونږ د فکر مطابق هغه ټولنه تعريفوي چې د آزاد بازار او فردي انتخاب پر بنا ولاړه ده. د قرارداد قانون ددې دپاره چې دغسې يوه ټولنه منځ ته راشي، دوې خاصې وظيفې لري. دا د تبادلاتو په جريان کې د جنجال د حل د پاره ميکانيزم وړاندې کوي او د آزادۍ او خپلواکۍ په ارتباط د ټولنې ژمنه او تعهد څرګندوي.

که د موافقې په اړه د دوو خواوو ژمنې د قرارداد د کولو په وخت کې تر سره شي، بيا نو د قرارداد قانون ته ارتيا نه ليدل کېږي. اما د يوې موافقې فوري او آني تر سره کيدل ډير لږ پيښېږي. د کور د رانيولو د پاره موافقه بايد څو مياشتې مخکې وشي تر څو اخيستونکی وشي کولای د کور د تمويل د پاره د بانک سره د قسط د ورکولو په برخه کې موافقې ته ورسېږي. همدا شان خرڅونکی هم يو څه وخت ته اړتيا لري چې د کور څخه ووځي. د ستيلټ پوځي الوتکو د ديزاين کيدو او جوړيدو د پاره کلونه په کار دي، لهذا د قرارداد قانون د هغه تبادلې د پاره چې په راتلونکي کې صورت مومي امنيت تامينوي. د موافقې د امضا د وخت او د موافقې د وروستي اجرا د وخت تر منځ فاصله کې ډير شيان پيښيدلای شي چې پر اړيکو ناوړه اغيز کوي. د موافقې يو طرف ته ښايي بل څوک يو ښه وړانديز وکړي، يا يې فکر بدل شي او د موافقې څخه سروغړوي. د کور اخيستونکی ښايي د بانک سره د رهن يا Mortgage په برخه کې موافقې ته و نه رسېږي. د دفاع وزارت او د هغه قرار دادي شرکت ښايي د پوځي الوتکو په هکله د قرارداد د متن او

کلماتوپه اړه چې دا الوتکي باید څنګه وي د نظر اختلاف پیدا کړي. د هغو موافقو د پاره چې په راتلونکي کې تر سره کېږي د تقویې د یو میکانیزم په وړاندې کولو سره د قرارداد قانون د قرارداد خواوو ته ضمانت ورکوي چې دوی وشي کولاي پلانونه جوړ کړي او پر دغو ژمنو باندې د اتکا له لارې چې نورو ددوی سره کړیدي سرمایه ګذاري وکړي. د کور خاوند کولای شي د کور څخه د وتلو د پاره ځان آماده کړي، ځکه پوهېږي چې د قرارداد قانون اخیستونکي ته دا اجازه نه ورکوي خپل فکر بدل کړي، او که اخیستونکی بیا هم د قرار داد څخه سرغړونه وکړي بیا مجبوره دی د کور خرڅونکي ته تاوان ورکړي. د دفاع وزارت قراردادي شرکت کولای شي په خپله فابریکه کې د ماشین او آلاتو او کارکوونکو په برخه کې سرمایه ګذاري وکړي تر څو وشي کولاي د ستیلت الوتکو د جوړولو کار پیل کړي، ځکه د قرارداد قانون د حکومت څخه غواړي چې خپل تعهد او ژمنې ته وفاداره پاته شي.

د قرارداد قانون همدا شان د هغو پرابلمونو د حل د پاره یو میکانیزم وړاندې کوي چې د قرارداد د اجرا په بهیر او یا وروسته له هغه منځ ته راځي. د کورخرڅونکي او اخیستونکي ښایي د خرڅلاو په قرارداد کې نه وي لیکلي چې که دا کور د قرارداد د بهیر تر پاي ته رسیدو مخکې اور واخلي او وسوځي څه به پیښه شي، اما قانون کولاي شي پداسې حالاتو کې داسې پرابلمونو ته رسیدګي وکړي. که د ستیلت د الوتکو خصوصیات مبهم وي او د قرارداد خواوې د هغه د معنې په هکله موافقې ته ونه رسېږي، محکمه به د قرارداد د قانون د اصولو له مخې هغه ته ځواب ووایي.

څرنګه چې د قرار داد قانون ددې وظایفو په اجرا کې ډیر ګټوردی، قانون پوهان تمایل لري چې ددې پر اهمیت ډیر تاکید وکړي. د قرارداد قانون مهم دی، د قرارداد خواوې د خپلو حقوقي وکیلانو سره د موافقو د طرح او لیکلو او د اختلافاتو د حل په برخه کې مشورې کوي، خو که مونږ په ټولنه کې د قرارداد کولو ټول دورنما او منظرې ته وګورو، وینو چې د قرارداد قانون د تصویر یوه کوچنۍ برخه ده.

اکثره موافقې د مذاکراتو له لارې منځ ته راځي او بیله کوم جنجال او پرابلم څخه اجرا کېږي. د حقوقو محصلین داسې روزل کېږي چې هرې معاملې ته د یو بالقوه فاجعې په سترګه وګوري، همدا وجه ده چې وکیلان اکثره خپل لید له لاسه ورکوي او نه پوهېږي چې هر څه څومره ښه پرمخ ځي. د مثال په توګه د هغو میلیونونو قراردادونو له جملې څخه چې جنرل موټرز، دې شرکت ته د اومو او پخو موادو عرضه کوونکي او ددې شرکت استازي یې هر کال کوي، په یو ډیر لږ شمیرکې یې مشکلات منځ ته راځي. د متحده ایالاتو د فولادو شرکت اکثره په خپل وخت فولاد راوړي چې خاص کیفیت لري.او د موټر اخیستونکي خپل موټران د جنرل موټرز د تجارتي استازو څخه بیله کومې ستونزې اخلي.

په یو اقتصاد کې چې پر خصوصي موافقاتو ولاړ دی، هر څه باید هر وخت بیله ستونزو پر مخ ولاړ شي که نه دا سیستم به یو له بله وپاشل شي. له نیکه مرغه په عادي حالت کې هر څه بیله ستونزو پر مخ ځي، او د قرار داد قانون په نسبتا" لږو مسایلو کې مداخله کوي.

حتې که ستونزه پخپله په قرارداد کې وي، د هغه د حل وروستۍ مرجع د قرارداد قانون دی که د جنرل موټرز او د هغه د اومو موادو د یو رسوونکي تر منځ کومه ستونزه منځ ته راشي، یو به یې هم ډیر ژر خپل وکیل راونه غواړي، بلکه د جنرل موټرز د خریداری استازۍ به د رسونکي شرکت د خرڅلاو د مدیر سره په تلفون کې خبرې وکړي او د ستونزې د حل د پاره به هڅه وکړي. رسوونکۍ شرکت غواړي خپل شهرت او اعتبار وساتي او په راتلونکي کې پر جنرل موټرز شرکت باندي د زیاتو موادو د خرڅولو امکان له لاسه ورنکړي، او جنرل موټرز هم هیله لري چې کار یې و نه درېږي او پر مخ ولاړ شي. لهذا دواړه خواوې ښایي وغواړي چې د ستونزو د حل د پاره گذشت او سازش وکړي. خلک د یو کار د کیدو د پاره قرار داد امضا کوي، نه دا چې د قرارداد څخه د سرغړونې په وخت کې خپل قانوني خقوق خوندي کړي. اما که بیا هم ستونزې منځ ته راشي، نسبت دې ته چې وکیلان وغوښتل شي او په محکمه کې د دعوې کولو د پاره چې ډیر گران کار دی تیاري ونیول شي، نورې د علاج لارې غوره کېږي او هغه د بل طرف سره د ستونزو د حل په هکله د خبرو کولو، هغه د معقول سلوک معیار ته د رابللو او یا په اقتصادي مجازات باندې د تهدیدولو څخه عبارت دي.

د قرارداد د قانون دوهمه او ډیره عمومي وظیفه فردي آزادۍ او د عمل استقلال ته پاملرنه کول دی. د قرارداد قانون دهغو موافقو د پلي کیدو له لارې چې خلک یې په خپل منځ کې کوي، او د هغو وجایبو او مکلفیتونو د تحمیل له لارې تر هغه ځایه چې خلکو په خپل رضایت سره دغه مکلفیتونه منلي وي، دغو ارزښتونو ته د قانون درناوۍ څرګندوي. دا هغه شۍ دی چې مونږ ورته د قرارداد آزادي وایو. د قرارداد آزادي هم د قرارداد کولو آزادي او هم د قرارداد څخه آزادي دواړه په بر کې نیسي. د قرارداد کولو آزادي هغه توان او قابلیت دی چې تاسو د هر هغه څه په هکله چې زړه مو غواړي موافقه وکړی، یعني غواړی یو موټر، یو کور یا د ستیلت الوتکه رانیسی. په تیوري کې ستاسو دا توان او قابلیت چې یو قرار داد کوی د قرارداد د قانون له مخې ندی محدود. د قرار داد څخه آزادي ستاسو هغه توان او قابلییت دی چې تر هغه چې خپل انتخاب مو نه وي کړی. د یو شي سره موافقه و نکړی. که تاسو و نه غواړي یو کاډیلاک موټر رانیسی، د جنرل موټرز کمپنی نشي کولاي تاسو محکمې ته راوغواړي او تاسو ته دستور درکړي چې دا کار وکړی.

تر یوې پیړۍ زیات مدې راهیسې، د قرارداد آزادي هم د قرارداد د قانون مهم او اساسي اصل جوړوي او هم په ټولنیز سازمان کې د فردیت د فلسفې مفکوري ته انعکاس ورکوي. اما د قرارداد څخه آزادي په حقوق او سیاست کې یو له هغو لویو شعارونو څخه دی چې یوه نظریه قبلوي اما د نظریې په تطبیق کې چې لازم دقت ته اړتیا لري، پاملرنه نه کوي. په حقیقت کې، د قرارداد

آزادي د انتخاب يا رضايت يوې مهمې جنبې ته انعکاس ورکوي چې د قرارداد د قانون اساس جوړوي.، اما دا اصل که په دقت سره تطبيق نشي، ښايي د ګمراهۍ باعث و ګرځي.

ددې د پاره چې د قرارداد په آزادۍ کې دغه دقت او موشګافي او د هغه ضعفونه وګورو، د هورلېHurley او ايدينګ فيلدEddingfield ترمنځ دې کلاسيکې قضيې ته پاملرنه وکړئ

چه په ۱۹۰۱ کال کې د اندیانا ایالت سترې محکمې فیصله ورباندې وکړه. جورج ایدینګ فیلډ د اندیانا د ایالت د میس Mace په کوچني ښار کې د شارلوټ بورک او ددې د کورنۍ، فامیلي ډاکټر وو او کله چې میرمن بورک حامله داره وه دده تر معالجې لاندې وه. کله چې میرمن بورک کارته ولاړه سخته ناروغه شوه. ددې کورنۍ ډاکټر ایدینګ فیلد راوغوښت خو هغه حاضر نشو چې ددې کورته راشي. د میرمن بورک کورنۍ څو واره ډاکټر ایدینګ فیلد ته نفرواستاوه او هغه ته وویل شو چې میرمن بورک او ددې نازېږیدلې ماشوم د خطر سره مخامخ دي او بل ډاکټر هم نشته. دوی همدا شان ډاکټر ته د زیاتې حق الزحمې د ورکولو وړاندیز وکړ، خو بیا هم ایدینګ فیلد د میرمن بورک مرستې ته حاضر نشو، او هغسې چې محکمې وروسته وویل ایدینګ فیلډ د خپل دې انکار د پاره کوم دلیل هم وړاندې نکړ. میرمن بورک او په نس کې ماشوم یې دواړه د طبي علاج د نشتوالي له کبله مړه شول او ددې وارثانو پر ایدنګ فیلد دعوې وکړه.

د اندیانا ایالت سترې محکمې فیصله وکړه چې ایدینګ فیلډ د یو ډاکټر په توګه کومه وجیبه یا مکلفیت نه درلود چې حتما" د میرمن بورک مرستې ته ورشي. او محکمې حتې دې نظریې ته هیڅ پاملرنه و نه کړه چې ایدینګ فیلډ د بورک د کورني ډاکټر په توګه او د قرارداد د قانون د موضوع په حیث مکلف وو او دا دده وجیبه وه چې د خپل ناروغه سره مرسته وکړي. پدې قضیه کې د قرارداد څخه د آزادۍ اصل په مسقیمه توګه مطرح وو. څرنګه چې د قرارداد قانون د رضایت پر اساس ولاړ دی، هیڅوک ندی مجبور د خپلې ارادې ضد یو قرارداد وکړي، حتې یواځنۍ ډاکټر هم مجبور ندی د خپل پخواني ناروغې علاج ته چې د مرګ پر بستر پرته ده ورشي.

د هورلې او ایدینګ فیلډ قضیه هغه مشکلات څرګندوي چې د قرارداد آزادي او د انتخاب یا رضایت نظریه یې چې د قرارداد د قانون اساس جوړوي لري. لمړی، د قرارداد څخه آزادي یو مطلق اصل ندی. دا د تصورڅخه لیرې نده چې قانون د یو ډاکټر څخه وغواړي د یو ناروغ علاج وکړي که څه هم ډاکټر پخپله دې کار ته نه وي حاضر. څرنګه چې د ۱۹۰۱ کال په مقایسه زمونږ احساساتو تغیر موندلی، په حقیقت کې فدرالي قانون نن د روغتونونو څخه غواړي په خاصو حالاتو کې د ناروغانو معالجه وکړي. نور قوانین هم د خلکو څخه غوښتنه کوي که غواړي او که نه، قراردادونه امضا کړي او پدې توګه د قرارداد څخه د دوی آزادي محدودوي. یو متعصب کارفرما ښایي و نه غواړي تور پوستي، یهودان او یا ښځې په خپل شرکت کې په کار وګماري، اما د مدني حقوقو قوانین دده څخه غوښتنه کوي دا کار وکړي. یو موټر چلوونکی باید د بیمې د یو شرکت

سره قرار داد ولري تر څو د دولت څخه د موټر دولتي بيمه چې د موټر چلولو يو شرط دی لاس ته راوړي.

دوهم، حتي که د قرارداد آزادي تطبيق هم شي، د يو فرد آزادي چې قرارداد کوي د عملي شرايطو او حالاتو ترډير اغيز لاندې دی. د هورلې په قضيه کې د مثال په توګه، د ناروغ د ډاکټر انتخاب د طبي خدماتو د وړاندې کولو د سيستم تر کنټرول لاندې دی. د شلمې پيړۍ په سر کې طبابت د يو مسلک په توګه چې رسمي اجازه يا لايسنس يې درلود منځ ته راغی او ډاکټرانو دې مسلک ته د داخيليدو شرايط ډير سخت او محدود کړل. دوی همدا شان د ټولو هغو کسانو د له منځه وړلو د پاره مبارزه پيل کړه چې د روغتياساتني نور رقمونه يې وړاندې کول. دا ټول ښايي ددې باعث ګرځيدلې وي چې ميرمن بورک ته د علاج د پاره د اندیانا ايالت په دې کوچني ښار کې غير له همدا يو ډاکتر بله طبي منبع نه وه پاتې. که هلته زيات شمير ډاکټران وای، او يا که طبي خدمات د عامه خدماتو يوه برخه وای چې د حکومت د يو پروګرام له مخې د هر چا د پاره وړاندې شوی وای، د ميرمن بورک د کورنۍ انتخاب به هم بل شان وای.

په معاصر وخت کې مونږ همدا شان ورته تاثيرات په ډيرو برخو کې وينو. اعلان د مصرف کوونکو پر ترجيحاتو لوی اثر لري. ډير کوچني ښارونه د عامه حمل او نقل سيستمونه نلري، لهذا خلک مجبوره دي ځانته موټران رانيسي، د اقتصاد د رکود په وخت کې کارګران اکثره هر کار چې ومومي هغه قبلوي که څه هم د کار شرايط خراب يا يې معاش ډير لږ وي. لهذا د قرارداد د آزادۍ ايډيال تل د ټولنيزو عواملو او اقتصادي فشارونو په پس منظر کې تطبيقېږي. کله چې قانون د قرارداد د آزادۍ چاپيريال تعريفوي، بايد د هغو حدودو په هکله پريکړه وکړي چې مونږ هغه ته د پس منظر په سترګه ګورو.

دريم، د قرارداد قانون يواځې قسما" د انتخاب په باره کې دی. فرض کړئ، څرنګه چې ايدينګ فيلډ تل د ميرمن بورک او د هغې د کورنۍ د غړو معالجه کوله، د وخت په تيريدو سره دوی د يو بل په باره کې د زما ډاکټر او زما ناروغه فکر کاوه. پداسې حالت کې مونږ کولای شو حدس ووهو چې دلته د يو کورني ډاکټر او د يو ناروغه ترمنځ اړيکې منځ ته راغلي دي. آيا کولای شو ددې څخه داسې استنتاج وکړو چې ايدينګ فيلد موافقه کړيده چې دی به په هر اضطراري حالت کې چې وغوښتل شي د بورک کورته راشي؟ که دا کار وکړو، مونږ د رضايت د اصل څخه چې د قرارداد اساس دی ليرې کېږو. د قرارداد دوو خواوو ښايي په اضطراري حالاتو کې د خدماتو د وړاندې کولو د پاره يو خاص شرط ايښی وي، حتې که دوی پر هغه موافقه هم و نه لري يا يې هيڅکله پدې باره کې په خاصه توګه فکر هم نه وي کړی. مونږ ويلای شو چې يو ناروغه دا حق لري د هغه عادي اړيکو له مخې چې د يو ډاکټر او ناروغ تر منځ وجود لري دا انتظار ولري چې دده ډاکټر به په يو اضطراري حالت کې دی معالجه کړي. که داسې وي، نو د قرارداد د مسوولیت اساس د ناروغ د انتظار ملاتړ کوي او دا د ډاکټر د وعدې څخه چې ځان يې کورنۍ

ډاکټر بللي منځ ته راغلی او نه د هغې ارادې څخه چې د هغه شاته پروت دی. اما دا هم ډیر درست ندی. د ایدینګ فیلډ په شان چې ښایي دا اراده یې نه درلوده چې د ضرورت په وخت کې خپل خدمات وړاندې کړي، میرمن بورک هم ښایي مخکې پر دې مسلې فکر کړي وو. پدې صورت کې دې داسې یو حقیقي انتظار چې ساتنه یې وشي نه درلود.

کله چې د ضرورت حالت منځ ته راشي، مونږ بیا هم کولای شو ډاکټر چې د ضرورت حالت ته یې ځواب ندی وییلی مسوول وبولو. پدې قضیه کې د مسوولیت اساس د هغه احساس څخه منځ ته راځي چې مونږ یې د اړیکو په هکله لرو. او که یو بل ګام د رضایت څخه لیرې شو، زمونږ احساس پدې هکله چې دا مکلفیتونه به څنګه وي، د ډاکټرانو او ناروغانو د فکر د څرنګوالي او داچه دوې په عادي حالت کې څنګه سلوک کوي د یو ساده تجربوي سروې یا تحقیق څخه نه مشتق کېږي. زمونږ هر یو پخپله پریکړه کوو او فکر کوو چې صحیح ځواب باید پر دلایلو او اسنادو بنا وي یعني د ډاکټر ــ ناروغ د خاصو اړیکو، د ډاکترانو سره زمونږ پر خپلو تجربو او زمونږ پر دې پوهې چې خلک باید یو د بل په مقابل کې څه ډول وجایب ولري.

د قانوني وجایبو د حدودو په هکله پریکړه پداسې قضیو کې لکه د هورلې او ایدینګ فیلډ یا د قرارداد په هره بله قضیه کې د تر ټولو ښه اجتماعي سیاست په هکله پریکړه کول دی. د قرارداد دخواوو رضایت د قرارداد د آزادۍ یا د قرارداد څخه د آزادۍ غایه او مقصد نه ټاکي. دا قضاوت په لازمه توګه قانوني سیستم کوي. کله چې محکمه ووایي چې یو ډاکتر په یو عاجل او اضطراري حالت کې مجبور دی یا ندی چې یو ناروغ معالجه کړي، مونږ هم د قانون جوړونکو په شان عین قضاوت کوو. قانون جوړونکي د مثال په توګه وایي چې موټر چلوونکي باید بیمه ولري او یا یو کارفرما نشي کولای د نژاد پر اساس د خلکو سره تبعیضي سلوک وکړي. ددې مقرراتو هر یو د یوې پریکړې په نتیجه کې چې څه شی د ټولې ټولنې ډیره په ګټه ده منځ ته راغلی دی. لهذا، د قرارداد د محتوې انتخاب تل د قانوني سیاستونو په پس منظر کې عملي کیدای شي.

قرارداد څه شی دی؟

کله چې وکیلان او نور خلک د قانون او د قرارداد کولو په باره کې خبرې کوي دوې ټول یو لړ لغات استعمالوي چې معنې یې تغیر مومي. مونږ باید دا مهم لغات او کلمات وڅیړو او د لغاتو یوه عامه مجموعه ورڅخه جوړه کړو او په عین زمان کې د قرارداد د قانون یو لړ اساسي اصول روښانه کړو.

یوه وعدهpromise په راتلونکې کې د یو کار د کولو یا نه کولو ژمنه ده. کله چې د فورد د موټر جوړولو د شرکت استازی یو مشتري ته وعده ورکړي چې یو نوی سپین رنګه فورډ تاوروس موټر د ۱۷۰۰۰ ډالرو په بدل کې پر ده خرڅوي او موټر به هم راتلونکې سه شنبه ده ته تسلیم کړي، نو ده

تعهد وکړ چې دغه موټر به په دغه قیمت ده ته وروسپاري. د وعدې دوه عنصره یعني ژمنه یا تعهد او راتلونکی د قرارداد کولو او د قرارداد د قانون مهم اساس جوړوي. کله چې تاسو د یو کار دکولو وعده وکړی، نو تاسې وایاست چې تاسې به حقیقتا" دا کار وکړی او نه داچه که تاسو ځان ښه احساس کړ او وخت مو درلود بیا به دا کار وکړی، او یا ووایاست تر هغه چې ستاسو فکر بدلېږي دا کار به وکړی.

موافقه یا agreement د وعدو تبادله ده. د فورډ شرکت استازی وعده کوي چې تاوروس موټر به خرڅ کړي او مشتري موافقه کوي چې هغه به رانیسي. دواړه خواوو په راتلونکي کې د یو شي په هکله ژمنه وکړه. اما د حقوق پوهانو د پاره موافقه یواځې د وعدو تبادله نده بلکه نور شیان هم په کې شامل دي. د تجارت په متحد الشکله قانون یا The Uniform commercial Code کې د مثال په توګه د موافقې یو جامع، هر اړخیز او پیچلی تعریف شوي دي چې وایي : " د خواوو تر منځ راکړه ورکړه چې اساس یې په حقیقت کې ددوی په ژبه او تفاهم کې څرګند شوي وي او یا نور حالات لکه د معاملې تګ لاره او د تجارت څخه استفاده او یا د اجرا بهیر او شکل په کې شامل شوي وي." (د تجارت متحد الشکله قانون چې په عامه او مخففه توګه U.C.C بلل کېږي، عمومي تجارتي مقررات دي چې د قرارداد د قانون پر برخو لکه د تولیداتو پر خرڅلاو او د شخصي ملکیتونو پر اجاره ځارنه کوي. دا قانون ددې د پاره منځ ته راغی چې تجارتي قانون په ټول هیواد کې یو شان کړي او غیرله لویزیانا د ایالت څخه چې لا هم د فرانسي د مدني قانون تر اغیز لاندې دی نور د ټولو ایالاتو لخوا منل شویدی.)

که پورتني تعریف ته پاملرنه وکړو، وینو چې د موافقې د منځ ته راتلو لمړی ګام دادی چې وګورو چې د موافقې په حاصلیدوکې خواوو څه ویېلي یا لیکلي دي. دې ته د موافقې د خواوو ژبه یا language of the parties وایي. اما دا یواځې د پیل ټکی دی. د دوی په موافقه کې نور اصطلاحات هم شامل دي (لکه په تعریف کې چې د نورو حالاتو د شاملیدو څخه خبرې کېږي) یعني چې د موافقې خواوو په پخوا کې په نورو موافقو کې یو د بل سره څرنګه سلوک کړیدی (د معاملې جریان course of dealing)، ددوی په شان نور خلک معمولا" څنګه عمل کوي (د تجارت څخه استفادهusage of trade)، او دوی د موجودې موافقې په اجرا کې څنګه عمل کړیدی (د موافقې د اجرا بهیرcourse of performance) هره پوهه چې مونږ یې ددې منابعو څخه تر لاسه کوو هغه د حقیقي راکړې ورکړې او یا د دوی د موافقې یوه برخه ده.

د موافقې دا پراخ مفهوم په خاصه توګه د قرارداد د قانون د پوهیدلو د پاره ډیر مهم دی. ځیني وخت مورږ اغوا کېږو او د قرارداد د خواوو تر منځ تبادله شوي لغات او کلمات تر ژورې څېړنې لاندې نیسو او د دوی موافقې ته د یوې ځانګړې پېښې په سترګه ګورو. ددې د پاره اصطلاح د ځانګړي قراردادdiscrete contract ده، ځانګړی پدې معنې چې دا قرارداد بې ساری، خپلواک او په خپل مفهوم کې جلا دی. ډاکټر ایدینګ فیلد په یاد راوړی چې د خپل کور د

دروازې مخ ته ولاړ دی او کله چې د ناروغې د کورنۍ غړی ده ته په هغه خاصه ورځ راځي، دی پریکړه کوي چې آیا د ناروغې کورته ولاړ شي او که نه؟ داچه دی دغه شیبه د ناروغې د کورنۍ سره د پخواني اړیکو څخه جلا کوي دا د ځانګړي قرارداد تحلیل دی. د قرارداد پراخ مفهوم مونږ د قرارداد کولو د ارتباطي نظر خواته رهنمایي کويrelational view (چې د هغه له لارې مونږ پوهېږو چې هیڅ قرارداد هیڅکله په حقیقي توګه ځانګړی ندی او قراردادونه چې پراخه ګذشته او راتلونکي لري زمونږ په ټولنه کې یو ټاکلی معیار دی. زمونږ پوهه د ایدینګ فیلد د قرارداد څخه چې د ډاکټر ــ ناروغ یوه اوږده اړیکه لري او د هغه سره وجایب ترل شوي دي چې د ډاکټر ــ ناروغ تر منځ د خاصو اړیکو څخه منځ ته راغلي دي یوه ارتباطي پوهه ده.

په ورځني ژبه کې مونږ د قرارداد کلمه استعمالوو او مقصد مو یا موافقه وي او یا هغه لیکلی سند وي چې موافقه په کې درج شویده. مونږ اکثره وایو چې خواوې یو قرارداد (یو موافقه) لري یا وایو چې خواوو یو قرارداد (یعني یو سند) امضا کړ. د حقوقي وکیلانو د پاره قرارداد یوه خاصه معنې لري. قرارداد یوه موافقه ده چې قانونا" د اجرا وړ ده. قانون ددې د پاره چې یوه موافقه په یو د اجرا وړ قرارداد تبدیل کړي دوه کاره کوي.

لمړی، پریکړه کوي چې آیا قرارداد ټولې قانوني غوښتنې پر ځای کړیدي او که نه. یو ساده مثال به ورکړو، د جنایت کارانو د یوې ډلې مشر کولای شي یو زورور سړی استخدام کړي چې د سیالې جنایت کارې ډلې مشر ووژني دا موافقه ښایي د کلمې په یو بل مفهوم سره یو قرارداد وي. یعني ده د خپل سیال په مقابل کې یو قرارداد وکړ. اما دا د قانون مطابق یو قرارداد ندی. دا موافقه قانونا" د اجرا وړ نده. ځکه قانون نه غواړي د وژلو پر یو قرارداد د تایید مهر ولګوي. دوهم، قانون د موافقې منابع تعریفوي او تکمیلوي. که د خرڅلاو په یو قرارداد کې خواوو نه وي ټاکلي چې مال به څه وخت مقابل طرف ته وسپارل شي، قانون به دا خلا د دوی دپاره ډکه کړي. لکه د هورلې او ایدینګ فیلد په قضیه کې دا قانون وو او نه د قرارداد خواوې چې د قرارداد د وجایبو او ددې وجایبو د څرنګوالي په هکله یې وروستۍ خبره وکړه.

قرارداد څنګه منځ ته راځي؟

تاسو یو قرارداد په هر ډول چې مو خوښه وي کولای شی۔

د قرارداد د قانون اساسي اصول مونږ ته ښیي چې د قرارداد د کولو دپاره کوم شیان لازم دي ۔ مونږ دې ته ګګورو چې آیا یو معقول سړی به دا فکر وکړي چې یو چا یوه وعده کړیده۔ یعني چې یو چا په راتلونکي کې ځان د یو معین کار د کولو د پاره مکلف بللی دی ۔ ددې د روښانه کیدو بهترینه لاره د وعدې کلمات او الفاظ دي ۔ که یو څوک ووایي، زه وعده کوم چې ستا د موټر د پاره به پنځه زره ډالره درکړم، نو دا معقوله ده چې فکر وکړو چې داسړی د موټر رانیولو ته ځان متعهد بولي ۔ اما دا په هیڅ

توګګه په قرارداد کې د ژمنې د تثبیتولو یواځنی لاره نده۔ دا هم ممکن دی چې یو قرارداد په ضمني توګګه بیله خبرو منځ ته راشي ۔ تاسو په موټر کې د مک دونالد رستورانت د غرفې مخې ته درېږی او یو څوک چې تاسې یې نه وینی ستاسو د فرمایش پوښتنه کوي، تاسو ورته وایاست، بیګګ میک ، یو لږ بریانې پټاټې او یوه کوکاکولا ۔ مقابل لوری وایي، دا ټول څلور ډاله او دوه دیرش سنټه کېږي ۔ پدې خبرو کې به د مریخ څخه راغلی سړی هم د ژمنې یا تعهد کلمات و نه مومي۔ اما مونږ په هغه کې یو لږ متقابلې ژمنې وینو ۔ د مک دونالډ رستورانت ژمنه کوي چې ډیر ژر تاسو ته د یو معین کیفیت ډوډی درکړي، او تاسو هم دا منی او ژمنه کوی چې د هغه پیسې به ورکړی ۔ د ژر او عاجلو ژمنو یو بل ښه مثال لیلام دی ۔ لیلام کوونکی وایي، مونږ د پیکاسو دا ډیره ښایسته تابلو لرو، لکه په ډیرو کمیدي تمثیلي پارچو کې، لیلام کوونکی وایي، که تاسو خپل لاس پورته کړی، خپل سر وښوروی او یا پزه و ګګروی، تاسو ژمنه کړیده چې ددې تابلو د اخیستلو د پاره به شل میلیونه ډاله ورکړی ۔ دې برخې ته د قرارداد د تشکل یا منځ ته راتلو قانون یا the law of contract formation وایي یعنې چې څنګګه یو قرارداد شکل مومي ۔ د قرار داد د تشکل په قانون کې دوې پوښتنې منځ ته راځي : مونږ د څه شي په لټه کې یو؟ او هغه مونږ چیرې میندلای شو؟ مونږ ددې نظریې پر اساس چې د قرارداد قانون د خواوو د څرګګندې رضایت غوښتنه کوي ، مونږ هم ګګورو چې آیا خواوو خپل رضایت د قرارداد د پاره څرګګندې کړیدی اوکه نه؟ ددې د معلومولو د پاره مونږ د خواوو خبرو او کلماتو او ددوی رویې او چال چلند ته ګګورو ۔

دغه حقایقو ته پاملرنه وکړئ چې د یو ښه قرارداد خصوصیات څرګګندوي۔ یو مستخدم د استخدام د قرارداد له مخې په یو شرکت کې کار کوي او دده داستخدام مده د دسمبر د میاشتې پر پنځلسمه پای ته رسېږي ۔ د دسمبر د میاشتې په پیل کې د شرکت ریس دې مستخدم ته د یو بل کال د پاره د ده د کار د قرارداد د مدې د اوږدیدو وړاندیز کوي ۔ د شرکت ریس او مستخدم په تفصیل سره دده د وظایفو، معاش، صحي بیمې، رخصتی او د ناروغی د ورځو په باره کې خبرې کوي او دا تفاهم او موافقه په یو لیکلي سند کې ثبت کېږي ۔ وروسته په یو خاصو مراسمو کې دواړه خواوې لیکلی قرارداد امضا کوي، یو بل ته لاسونه ورکوي او د کار د اړیکو د دوام په ویاړ د شامپاینو ګګیلاسونه پورته کوي ۔

پدې فرضي مثال کې د قرارداد د تشکل دواړو پوښتنو ته په آسانی سره ځواب ورکول کېږي ۔ په لیکلي سند کې چې د استخدام موافقه نومېږي، ټول هغه لازم شرایط په نظر کې نیول شوي دي چې معمولاً پداسې یو سند کې وجود لري ۔ د شرکت ریس او مستخدم دوارو خپله اراده څرګګندې کړیده چې د یو بل سره قانوني اړیکې پرانیځي چې هغه د استخدام قرارداد نومېږي ۔ یو بل ته لاس ورکول او یا د شامپاین د ګګیلاسونو پورته کول، که ضرور هم ندی، بیا هم د دوی د ارادې او رضایت څرګګندوی دی ۔ پدې سند کې په خاص او تفصیلي شکل دقرارداد محتوې لیکل شوی ده او دا پخپله د خواوو اراده څرګګندوي، ځکه هغه کسان چې پدې تفصیل سره موافقې لیکي اراده لري چې هغه ته متعهد پاته شي، اوکه د خواوو ترمنځ کوم اختلاف منځ ته راشي، دا سند محکمې ته امکان ورکوي د هغه څخه د موافقې شرایط ومومي۔

دا فرضي مثال همدا شان د يو ښه جوړ شوي قرارداد څرګندېدی دی ځکه په قرارداد کې د ارادې ثبوت ډیر روښانه او څرکند دی او رامنځ ته شوې موافقه هم ډیره روښانه او مکمله ده ـ دلته قرارداد هغه وخت منځ ته راغلی دی چې دواړو خواوو سند امضا کړیدی ـ اما د موافقې بهیر نور شکلونه هم اخیستلای شي۔ په معموله توګګه قرارداد د پیشنهاد او منلو له لارې شکل غوره کوي، چې په هغه کې یوه خوا د موافقې د بهیر د پیل ابتکار په لاس کې نیسي او بله خوا بیا هغه تکمیلوي ـ په یو لیک کې ویل کېږي، زه غواړم خپل زوړ موټر په ۱۵۰۰ ډالره خرڅ کړم ـ دا یو پیشنهاد دی چې تاسو یې منی که دې لیک ته ځواب ورکړی، یعنې چې زه دا موټر رانیسم ـ

له بده مرغه د قرارداد د قانون د پاره یو کامل شکل د قرارداد یوه اغفال کوونکې موضوع ده۔ ډیر قراردادونه په دې ډول دقیق او روښانه منځ ته ندي راغلي ـ دې قضیې ته پاملرنه وکړئ چې د مخکني فرضي مثال حقیقي شکل دی ـ دا د ایمبري او هارګګاډاین، مک کیټکریک د وچو محصولاتو د شرکت قضیه ده چې په ۱۹۰۷ کال کې پیښه شوه ـ

ایمبري د وچو محصولاتو د شرکت د نمونې د شعبې مینیجر وو ـ که څه هم د ایمبري د کار قرارداد د دسمبر د میاشتې پر پنځلسمه پای ته رسیدی، خو هرکله چې به ده د قرارداد د تمدید مسله مطرح کړه، د شرکت ریس مک کیټریک به ځان تیرکړ او موضوع به یې شاته واچوله ـ بالاخره د دسمبر د میاشتې پر دیرویشتمه ایمبري مک کیټریک ته ورغی او وې ویل چې که دده سره د یو بل کال د پاره د نوي قرارداد په هکله موافقه ونشي، دی به د کار څخه استعفې وکړي ـ مک کیټریک دده څخه پوښتنه وکړه چې دده د شعبې کار څنګګه دی او ایمبري په ځواب کې وویل چې دده د شعبې کارکوونکي ټول ډیر په کار مصروفه دي، ځکه اوس هغه موسم دی چې د شرکت پلورونکي کوڅو او سړکونو ته وځي تر څو مشتریان ومومي۔ مک کیټریک ورته وویل، خپل کارته دوام ورکړه، ته ډیر ښه یې، خپل خلک کوڅو او سړکونو ته ولېږه او د نورو شیانو په هکله اندیښنه مه کوه ـ ایمبري فکر وکړ چې نوی قرارداد یې تر لاسه کړ او د فبروری د میاشتې تر پنځلسمې پوري یې کار وکړ ـ پدې ورځ ده ته وویل شول چې نور دې کار نه کوي او برطرفه دی۔

آیا پدې قضیه کې قرارداد وجود درلود؟ ایمبري دا فکر کاوه، اما مک کیټریک وویل چې دی ډیر مصروف او فکر یې په نوروشیانو کې وو خو ده غوښتل چې ایمبري له کاره ګګوښه کړي او دا اراده یې نه درلوده چې دده د شرکت او ایمبري تر منځ نوی قرارداد وشي۔ دلته بیا مونږ ددې مسلې سره مخامخ کېږو چې آیا رضایت د قرارداد د مسوولیت یواځنۍ اساس دی او که نه؟ که دی، نو ایمبري بي طالع سړی دی ـ په حقیقت کې، قانون وایي چې که ایمبري په خپل دې فکر کې چې مک کیټریک دده سره وعده کړیده معقول وای، مونږ به دده د معقول انتظار ساتنه وکړو ـ د قرار داد تشکل یا د منځ ته راتلو آزموینه پدې کې نده چې یو چا د یوې وعدې د ورکولو د پاره اراده څرګندېده کړ ې وي بلکه پدې کې ده چې آیا ددوی خبرې، کلمات او رویه په معقوله توګګه د مقابل لوري د پاره چې دا خبرې ورته شوي دي په کافي اندازه د یوې وعدې معني درلوده او که نه؟ ددې د پاره په قانون کې د رضایت د اظهار یا

manifestation of assent اصطلاح وجود لري او دا موږ ته د قرارداد د منځ ته راتلو يا تشکل يوه عيني تيوري په لاس راکوي چې د قرارداد هدف او د مشاهدې وړ عواملو لکه کلمات او رويې ته پاملرنه کوي او نه يو ذهني تيوری چې په هغه کې د وعده کوونکي فکري حالت ته پاملرنه کېږي ـ

دې ته هم پام ولرئ ، کله چې مونږ يو عيني تيوري قبلوو، لکه د قرارداد په معاصر قانون کې چې شويدی، هغه پر هرې قضيې څارنه کوي او نه پر يواځې جنجالي قضيو باندې ـ حتې که ايمبري او مک کيتريک د کار يو رسمي او ليکل شوی قرارداد منځ ته راوړي او د قرارداد پيل د شامپاين د ګګيلاسونو په پورته کولو سره و هم لمانځي، مونږ په يقيني توګګه نه شو پوهيدلای چې دوی حقيقتاً اراده لري يو د بل سره قرارداد وکړي۔ مونږ يواځې دا کولای شو چې د دوی د ذهني ارادې يا subjective intention خارجي شواهد وڅيړو، که څه هم پدې قضيه کې خارجي شواهد زيات او څرګندِ دي ـ

نسبت ارادې ته کلماتو ته پاملرنه ددې هدف د پاره ده چې د هغه چا چې وعده ورسره شويده د معقولو انتظاراتو ساتنه وشي ـ يوه زړه حقوقي اصطلاح ده چې وايي، حتې شيظان هم د يو چا په فکر نه پوهېږي ـ نه يو څوک چې وعده ورسره کېږي او نه هم محکمه چې پر يوې قضيې حکم کوي دا قضاوت کولای شي چې د يو چا په فکر کې څه ګګرځي او په کوم فکري حالت کې دی، يواځې لاره هغه کلمات او لغات دي چې دی يې استعمالوي او هغه عمل دی چې کوي يې ـ کله چې ايمبري د مک کيتريک خبري اوري او هغه په هماغه شرايطو کې دده غوږ ته د يوې وعدې آهنګ لري، دی حق لري فکر وکړي چې دده سره وعده شويده۔ ايمبري په معقوله توګګه ددې فکر څخه داسې نتيجه اخلي چې دی يو قرارداد لري او پدې کار کې د مک کيتريک د رضايت پر اظهار تکيه کوي او خپل کارته دوام ورکوي ـ دا به منصفانه نه وي چې ايمبري چې دا ډول فکر يې کړيدی مايوسه کړل شي، لهذا مک کيتريک مکلفيت لري که څه هم ده هيڅکله اراده نه درلوده چې د نوي قرارداد سره رضايت وښيي ـ

د قرارداد د تشکل يا منځ ته راتلو آفاقي يا عيني تيوري د هغه څه سره په تضاد کې راځي چې مونږ په کوچنيوالي زده کړيدی ـ د لوبې د ميدان پر وعدې حساب نه کېږي که څه هم د هغه د پر ځای کولو د پاره قسم هم اخيستل شوی وي۔ اما په محکمو کې څنګګه ده؟ د قرارداد عيني تيوري تعينوي چې په ګګوتو د صليب علامه کښل (يعني قسم يادول) د وعدې ضمانتي اغيز نه نفي کوي۔ په بل عبارت دا ستاسو فکري حالت نه بلکه ستاسو د فکري حالت بهرني تظاهر او تجلي ده چې حساب پرې کېږي۔ ستاسو شاته به هيڅوک و نه وينې چې تاسو د وعدې د ورکولو په وخت کې په ګګوتو د صليب علامه وکښله، لهذا دابه منصفانه نه وي که يو څوک چې فکر کوي تاسو به هغه وکړی چې ويلي مو دي مايوس کړل شي۔ دا به هيڅ فايده ونلري که موږ د قرارداد د قانون داسې يوه مجموعه ولرو چې پر عندي يا انفسي محتوې اتکا ولري۔ پدې صورت کې به هيڅوک هيڅکله ونشي ويلای چې يوه وعده د اجرا ضمانت لري ځکه دی نشي پوهيدلای چې د وعدې د نه پر ځای کيدو د پاره ښايي پټه اراده وجود لري۔

حقوق پوهان اکثره د قرارداد د قانون او د تاوان د قانون توپير پدې خبرې کوي چې وايي د قرارداد مسوولیت د انتخاب له لارې منځ ته راځي او د تاوان مسوولیت حتي د رضايت د نشتوالي په صورت کې

هم د قانون لخوا ټاکل کېږي ـ هغه څه چې مونږ د آفاقي تیوری له لارې کړیدي دادی چې د قرارداد قانون د تاوان قانون سره مشابه کړو ـ د کلماتو او لغاتو څخه استفاده ډیر د موټر چلولو ته ورته دی ; که احتیاط ونشي، ښایي یو څوک ژوبل شي۔ د مک کیتریک کلمات (او هغه حرکات او سلوک چې د خبرو سره ملګري وي، د لاس په حرکت یو شی ردول، یو تبسم، د اوږو پورته کول او نور) کولای شي په ایمبري کې تمه او انتظار منځ ته راوړي او ددې باعث وګرځي چې خپل کارته دوام ورکړي او بل کار ونه مني ـ داچه مک کیتریک اراده لري چې خپلو خبرو ته وفاداره پاته شي او یا نشي، دی باید پر ایمبري باندې د خپلو خبرو داغیز په هکله احتیاط وکړي ـ که احتیاط و نه کړي، دی به په خپله وعده کې د سهل انګګاری په خاطر مسوول وبلل شي او دا به عین حالت ته ورته وي چې دی د بي احتیاظي له کبله ایمبري په موټر ووهي او په فیزیکي لحاظ یې ژوبل کړي ـ

د قرارداد د جوړښت یو عام پرابلم غیر قطعي یا غیر صریح قراردادونه دي ـ فرض کړی د کور د خرڅلاو په یوه لیکلي موافقه کې ندي وییل شوي چې دا معامله به څه وخت تکمیل او پای ته ورسېږي۔ (پدې معنې چې څه وخت به اخیستونکی پیسې ورکړي او کور به تسلیم شي ـ) یا فرض کړئ په موافقه کې ټول شرظونه په ځای شوي، اما د کور بیه نده ذکر شوې، ځکه دوی لا د بیې په برخه کې موافقې ته ندي رسیدلي ـ اوس که د کور خرڅوونکی وغواړي ددې معاملې څخه پښه وباسي دی ښایي په دواړو حالاتو کې استدلال وکړي چې دا موافقه د اجرا د پاره قاطعیت او صراحت نلري ـ

قاطعیت په دوو دلیلو د قرارداد په جوړښت کې مهم دی ـ لمړی، قاطعیت د رضایت علامه ده ـ مونږ معمولاً فکر کوو یو قرارداد چې په هغه کې هیڅ مبهم شي نه وي او ټول شیان په کې په څرګنده توګه ذکر شوي وي، نسبت هغه قرارداد ته چې ډیرې مهمې برخې په کې نه وي ذکر شوي او مبهم وي، پخپله د قرارداد د پاره د ارادې د موجودیت ښه علامه ده ـ دوهم، یو قطعي قرارداد دمحکمې پاره هم یو ښه اساس جوړوي چې وشي کولای د سرغړونو په صورت کې هغه ته رسیدګي وکړي ـ که په قرارداد که و نه ویل شي چې د قرارداد خواوې به څه وخت خپلې ژمنې تر سره کړي، محکمه نشي پوهیدلای چې دوی څه وخت قرارداد مات کړیدی۔ او که په قراردادکې د کور بیه نه وي ذکر شوی، محکمه به په ډیره سختی وشي کولای د هغه د پاره علاج ومومي۔

بیرته به د آفاقي آزموینې مسله راواخلو او کولای شو ووینو چې دا دوې قضیې یو له بله توپیر لري۔ که د خواوو د معقولو انتظاراتو څخه یې پیل کړو، آیا کولای شو په دې موافقو کې موجودې خلاوې ډکې کړو؟ په هغه قرارداد کې چې خواوو د معاملې د پای ته رسیدو د پاره مهلت ندی ټاکلی، مونږ ښایي ووایو چې دواړې خواوې د قرارداد د اجرا د پاره یو معقول وخت لري ـ دا معقول وخت مونږ د نورو ورته معاملاتو د مطالعې له مخې ټاکلی شو او وینو چې په نورو ورته معاملاتو کې د معاملې د پای ته رسیدو د پاره څه کېږي۔ پدې قضیه کې، خریدار وخت ته ضرورت لري چې د کور د تمویلولو د پاره د بانک یا بل اجاره اخیستونکي سره خبرې وکړي او یا د بلې لارې پیسې تهیه کړي ـ ددغه ټولو معلوماتو له مخې مونږ ښایي دې نتیجې ته ورسېږو چې شپیته یا نوي ورځې به د معاملې د پای ته رسیدو د پاره معقول وخت

وي ـ خو که د معاملي خواوو بيه نه وي ټاکلې، معقوله بيه به کومه وي؟ که څه هم موږ کولای شو د ورته ملکيتونو د خرڅلاو بيو ته وګګورو، خو داسې احساس وجود لري چې هر ملکيت جلا دی او اخيستونکي او خرڅوونکي معمولاً په ځانګړي توګګه د بيې په باره کي خبرې او مذاکرات کوي ـ ددې مطابق مونږ ښايي د قرارداد د اجرا د وخت په پرتله ونه غواړو پر خواوو باندې د بيې حد تحميل کړو لهذا که د بيې حد وجود و نه لري، قرارداد هم وجود نلري ـ

د نامعلوموالي يا د صراحت د نشتوالي متقابل اغيز او د جوړښت نور مقررات په هغه مدني قضيه کې چې په تاريخ کې د لمړي ځل د پاره د زيان د جبيرې تر ټولو لوی مبلغ وټاکل شو په ښه توګګه روښانه شويدی ـ دا قضيه په ۱۹۷۸ کال کې د تکساکو د تيلو د شرکت او پنز د تيلو د شرکت ترمنځ وه۔

د پنز د تيلو شرکت Pennzoil وغوښتل د ګګيتي د تيلوشرکتGetty oil company يو زيات شمير اسهام رانيسي ـ وروسته له څو هفتو خبرواترو د ګګيتي شرکت مديره هيئت د پنز د تيلو د شرکت د پلان سره چې غوښتل يې د ګګيتي شرکت د اسهامو د اوو څخه درې برخې هر سهم په ۱۱۲ ډالرو رانيسي موافقه وکړه ـ د پنز د تيلو شرکت وکيلانو او د ګګيتي دتيلو د شرکت د مديره هييت غړو يو بل ته لاسونه ورکړل او دواړو شرکتونو ورته اعلاميې خپرې کړې او دا معامله يې اعلان کړه۔ اما د ګګيتي شرکت يو نفر هم هغه د تفاهم يادداشت چې د پنز شرکت تيارکړي وو او غوښتل يې چې دا معامله د يادګګار په توګګه وساتي امضا نکړ ـ په بله ورځ د تکساکو د تيلو شرکت د ګګيتي د مديره هييت سره تماس ونيو او پيشنهاد يې وړاندې کړ چې د ګګيتي شرکت ټول اسهام هر سهم په ۱۲۵ ډالرو رانيسي ـ د ګګيتي مديره هييت فيصله وکړه چې د پنز شرکت سره شوې موافقه لغوه کوي او د تکساکو پيشنهاد مني۔ د پنز شرکت پر ګګيتي شرکت د قرارداد د ماتولو اوپر تکساکو باندې ددې قرارداد په ماتولو کې د ګګيتي شرکت د هڅولو په خاطر دعوې وکړه۔ په وروستی محکمه کې منصفه هييت فيصله وکړه چې د پنز شرکت د زيان د جبيرې د پاره دې اوه ميلياردې او پنځه سوه ديرش ميليونه ډالره ورکړل شي۔ همدا شان درې ميلياردې ډالره مجازاتي جريمه وټاکل شوه(چې وروسته د تميز د محکمې لخوا يو ميلياردې ډالرو ته را کښته شوه) او ۵۹۰ ميليونه ډالره د مفاد د پاره وټاکل شوه۔ د همدې قضاوت په نتيجه کې د تکساکو شرکت د افلاس سره مخامخ شو۔

که څه هم د تکساکو پر ضد د پنز شرکت دعوې د هغه تاوان په خاطر وه چې د ګګيتي سره په قرارداد کې د مداخلې له کبله ورته رسيدلی وو، خو اساسي موضوع د قرارداد د جوړښت مسله وه : آيا د ګګيتي او پنز د شرکت ترمنځ قرارداد وجود درلود؟ پنز شرکت ادعا وکړه چې دواړو خواوو د قرارداد دپاره خپل رضايت څرګګندې کړي وو او دا قرارداد په کافي اندازه قطعي وو ـ ګګيتي او پنز شرکتونو پر يو لړ متقابلو وړاندیزونو بحثونه کړي وه ـ دمذاکراتو په وروستي پړاو کې د ګګيتي مديره هييت د پنز شرکت څخه غوښتنه وکړه هغه نرخ چې غواري د اسهامو د پاره يې تاديه يې کړي د هر سهم د پاره يو نيم ډالر لوړ کړي او پنز شرکت هم موافقه کړيوه. د ګګيتي شرکت مديره هييت ددې معاملې خبر اعلان کړ، استازو يو بل ته لاسونه ورکړل، وروسته دوی ددې نوي معاملې په مناسبت د شامپاين ګګيلاسونه پورته کړل او

دواړو شرکتونو ددې معاملي د بشپړيدو په خاطر ورته مطبوعاتي اعلاميې خپرې کړې او دا معامله يې اعلان کړه ـ که څه هم ټول جزييات لا نه وه بشپړ شوي، خو د معاملې مهم ټکي ټول روښانه وه۔ له همدې کبله د پنز د تيلو شرکت ادعا وکړه چې دا معقول وو چې فکر وکړي ګګيټي خپل رضايت د معاملې سره څرګندٶ کړی او بايد هغه ته وفاداره پاته شي۔

ګګيټي او تکساکو په ځواب کې وويل چې د معاملې سره د معقول رضايت څرګندٶونه نده شوې ـ دواړو خواوو خپلې دا خبرې په پرنسيپ کې موافقه وبلله ـ دوی پوهيدل چې پر ډيرو مهمو شيانو باندې بايد لا خبرې وشي۔ په داسې يوه لويه معامله کې د يوې اوږدې ليکل شوي موافقې موجوديت اجباري دی ـ داسې معاملې ډيرې لويي دي او ډير زيات جزييات لري او دا ګسې نه ده چې په هغه کې يواځې پر شفاهي څرګندٶونو او دلاس پر ورکولو اکتفاء وشي۔ هغه څه چې دوی حقيقتا" کړی وو داوو چې د مذاکراتو پر دوام يې موافقه کړيوه، اما ګګيټي کولاي شوای دا مذاکرات لغوه کړي او د تکساکو سره معامله وکړي۔

وروسته له هغه چې د محاکمې جريان څلور نيمې مياشتې دوام وموند منصفه هيئت د تکساس د هريس په ولسوالي کې د پنز شرکت سره موافقه وکړه ـ په تکساس کې لږتر لږه يوه معامله معامله ده او د يو سړي لاس ورکول او خبره تر لس ميلياردٶ ډالرو زيات ارزښت لري۔

ددې د پاره چې يو قرارداد اجرايي قوت ولري آيا هغه بايد حتما" ليکلی وي؟

معمولا دا حتمي نده چې يو قرارداد په ليکلي شکل وي ـ تر هغه پوري چې د معاملې خواوې په کافي اندازه خپله اراده څرګندٶه کړي، شفاهي وعدې د اجرا وړ دي ـ

اما د قرارداد ځيني رقمونه وجود لري چې د اجرا د پاره بايد په ليکلي توګګه وي۔ دا هغه وعدې دي چې د تقلب د قانون تر څارنې لاندې دي ـ د تقلب قانون اساساً په کال ١٦٧٧ کې په انګګلستان کې منځ ته راغی او هدف يې د هغه پراخ تقلب او د درواغو قسم خوړلو اوشهادت ورکولو مخنيوي وو چې د انګګلستان د انقلاب په وخت کې يې رواج موندلی وو ـ پدې قانون کې د يو لړ قراردادونو فهرست راغلی وو چې په هغه کې د تقلب کولو امکان په خاصه توګګه زيات وو او غوښتنه يې کوله چې دا ډول موافقې ددې د پاره چې د اجرا وړ وګګرځي بايد د يو سند په شکل وليکل شي ـ د تقلب قانون د هرې حقوقي حوزې په عامه حقوقو کې کاپي شويدی ـ (اما ډير د تعجب ځای دی چې پارلمان په ١٩٥٤ کال کې د برتانيې ددې قانون اکثره مادې فسخ کړې۔) د هغه قراردادونو فهرست چې د قانون له مخې بايد په ليکلي ډول وي د يوې حقوقي حوزې څخه تر بلې پوري توپير لري، اما يو څو قرارداده دي چې په ټولو فهرستونو کې يو شان نيول شوي دي او هغه عبارت دي :

- د يو بل چا د پور د اداکولو قرارداد۔
- يو قرارداد چې د واده کولو په مقصد کښړي ـ

- یو قرارداد چې په یوه مځکه کې د خپلې بهرې د خرڅولو په مقصد وي ـ
- یو قرارداد چې تر امضا وروسته د یو کال د پاره تر اجرا لاندې نه نیول کېږي۔
- یو قرارداد د هغه محصولاتو د خرڅلاو د پاره چې ارزش یې ۵۰۰ ډالره یا زیات وي۔

ددې د پاره چې دغه قراردادونه تر اجرا لاندې ونیول شي ، یو عارض یا مدعي باید یو سند چې د مقابل لوري لخوا امضا شوی وي او هغه د قرارداد موجودیت ثابت کړي وړاندې کړي۔

د تقلب قانون ددې د پاره چې یو قرارداد تر اجرا لاندې ونیول شي د قرارداد د قانون پر رسمیاتو تاکید کوي ـ کله چې د معاملې دوې خواوي دغه ټاکل شوي رسمیات پرځای کړي یعني د قرارداد د کولو د پاره یو سند لاس لیک کړي، دوی د خپل عمل پرجدي والي باور پیدا کوي او ځان هغه ته مکلف بولي ـ دا ډیر د ماشومانو هغې وعدې ته شباهت لري چې وایي که دا کار و نه کړم زما پر زړه صلیب و کاږه او بیا دې مړ شم ـ د رسمیاتو رعایه کول محکمې ته هم د خواوو د ارادې په هکله چې غواري په یو قرارداد کې ښکیل شي او دهغه شیانو په هکله چې دوی موافقه پرې کړیده ، هم ټینګ. سند په لاس کې ورکوي ـ

د همدغو دلایلو له کبله د حقوقو په نورو برخو کې هم د رسمیاتو پر رعایه کیدو ټینګګار کېږي۔ ځیني معاملات ډیر مهم دي او مخکې لدې چې قانون هغه په رسمیت وپیژني، د معاملې خواوې باید ځیني خاص رسمیات او تشریفات پر ځای کړي ـ یوه اراده باید په لیکلي، لاس لیک شوي او د شاهدانو په حضور کې څرګندې شوي وي ـ د یو ملکیت د انتقال د پاره باید یو لاس لیک شوی او مهر شوي سند وړاندې شي ـ د یو واده د پاره باید رسمیات پر ځاي شي او متقابلې وعدې باید د کلیسا د کشیش او یا د یو دولتي مقام په حضور کې ورکړل شي ـ

اما د رسمیاتو د غوښتنې پرابلم پدې کې دی چې ځیني وخت خلک هغه نه رعایه کوي ـ یو ناروغه سپن ږیری سړی پر یو کاغذ څو کرښې لیکي او ټاکي چې د ده جایداد دې دده ترمرګ وروسته څنګګه وویشل شي ـ یو زمیندار په غیر رسمي توګګه خپلې مځکې د خپلو زامنو او لونږو تر منځ ویشي، اما هغه نه عملي کوي۔ یو ځوان سړی او ځوانه ښځه د میړه او ماینې په توګګه یو ځاي ژوند کوي بیله دې چې د واده جواز ولري او یا یې مراسم تر سره کړي وي۔ ددغو معاملو په هر یوه کې خلا وجود لري، ځکه خاص رسمیات یې ندي پر ځاي شوي او ښایي په منځ ته راغلو اړیکو کې لویه بي نظمي منځ راشي چې هغه به د معاملې د برخه اخیستونکو د څرګندې ارادو پر ضد وي ـ

د بلې خوا، د غیر رسمي معاملو په رسمیت پیژندل د رسمیاتو د غوښتنې قوت له منځه وړي ـ د داسې قضیو په بررسی کې مور اکثره د خراب حالت سره مخامخ یو ځکه، د یوې خوا مور د بي عدالتی د مخنیوي د پاره یو خاص سیاست وضع کوو لکه د رسمیاتو د رعایه کیدو غوښتنه، اما په عین زمان کې پوهېږو چې ددې سیاست جدي تطبیق پخپله بي عدالتي منځ ته راوړي۔

د محکمو تعبیر د تقلب د قانون څخه هغه جنجال څرګندېدوي چې د رسمیاتو د رعایه کیدو د غوښتني او په انفراي قضیو کې د عدالت د تامین پخاطر ددې غوښتنو د لرېدو د ضرورت تر منځ وجود لري۔ دا چې یو خاص قرارداد ددې قانون تر څارنې لاندې دی او که نه، محکمې په هغو ساحو کې سخت ګګیري کوي چې فکر کوي د رسمیاتو رعایه حقیقتا" مهم دی، اما په هغو ساحو کې چې د رسمیاتو رعایه مهم نه وي سخت ګګیري نه کوي ۔ د مځکې خرڅول د مثال په توګه په اقتصادي لحاظ یوه لویه او مهمه معامله ده او دا مهم ګڼل کېږي چې د مالکیت د تثبیتولو د پاره لیکلی او ثبت شوی سند وجود ولري۔ همدا وجه ده چې محکمې د قانون غایه پراخ تعبیروي تر څو اکثره امکانات لکه د خرڅلاو قراردادونه او نورې موافقې چې د مالکیت د انتقال، اجارې او رهن په اړه وي په برکې ونیسي ۔ دا ډیره روښانه نده چې ولې هغه قراردادونه چې د یو کال په مده کې د اجرا وړ ندي ددې قانون تر څارنې لاندې دي، خو محکمې د یو کال غوښتنې غایې ته ډیره پاملرنه نه کوي، اوترټولو مهم دا چې د قانون ددې غوښتنې متن چې وایي - یو قرارداد چې په یو کال کې به تر اجرا لاندې و نه نیول شي – داسې لولي چې یو قرار داد چې په یو کال کې تر اجرا لاندي نشي نیول کیدلای ۔ په دې توګه په یوه کال کې د یو آسمان خراش د جوړولو قرارداد ددې قانون په ساحه کې ندی شامل، ځکه دا په تیوري کې ممکن دی (که څه هم په فزیکي توګه ناممکن دی) چې یو آسمان خراش (ډیره جګه ودانی) په یو کال کې جور شي ; نو که یو څوک ډیر احمق وي او د آسمان خراش د جوړولو موافقه وکړي بیله دې چې یو لیکلي قرارداد یې لاس لیک کړي وي، دا موافقه به د اجرا وړ وي۔

محکمې هم د تقلب د قانون په تطبیق کې د انعطاف ضرورت ته متوجه دي او د قانون ددې غوښتنې په اړه چې قرارداد باید د لیکلي سند په توګه وي، دیر ټینګګار نه کوي ۔ په عامه توګه داسې تعبیر کېږي چې قانون دا غوښتنه نلري چې یو واحد سند دې چې د دواړو خواوو لخوا لاس لیک شوي وي د قرارداد د موجودیت د ثبوت دپاره وړاندې شي۔ یو قرارداد کیدای شي چې د دواړو خواوو تر منځ د لیکونو، فورمونو، بانکي چکونو او رسیدونو څخه جوړ وي۔ که د قرارداد د مهمو او قطعي برخو د پاره کافي ثبوت وي لازمه نده چې د قرارداد ټول نور جزییات په قرارداد کې ذکر شي۔ او لیکلی سند حتمي نده چې د خواوو لخوا لاس لیک شي، عادي نوم لیکل، یا مهر کافي دی چې سند ته اعتبار ورکړي۔

آیا هر څوک کولای شي قرارداد وکړي؟

تقریباً هر څوک کولای شي قرارداد وکړي، اما دوه ډلې خلګګ په خاصه توګه د قرارداد دقانون تر ساتنې لاندې دي ۔ هغه ماشومان چې د بلوغ یا پوخوالي ټاکل شوي سن ته نه وي رسیدلي (چې عموماً د ۱۸ کلنی سن دی) او هغه کسان چې په عقلي لحاظ معیوب وي ۔ که یو ماشوم یا یو څوک چې عقلي توان یې محدود وي یوه موافقه وکړي، هغه بې اعتباره او د الغاء وړ دی ۔ د داسی خلګګو په هکله ویل کېږي چې د قرارداد کولو اهلیت نلري یعني عدیم الاهلیه دي۔

په لمړي نظر کې داسې ښکاري چې دا د هغو اساسي اصولو د پيروی نتيجه ده چې د قرارداد قانون پر بنا دی ـ قراردادونه د آزاد انتخاب پر اساس کېږي، اماځيني خلګګ دا توان يا اهليت نلري چې آزاد انتخاب وکړي ـ ځيني لويان معيوبه دي او ددې اهليت څخه بې برخې دي چې معقول اوګګټور انتخاب وکړي، او يا ښايي هڅه وکړي پداسې حال کې چې د مخدره موادو يا الکهل تر اغيز لاندي دي او دا اغيز معيوب والي ته ورته دی، يوه موافقه وکړي ـ

اما مقابل اصل يې هم په ياد راوړی چې وايي قرارداد د هغه طرف د انتظاراتو د معقوليت پر بنا عملي کېږي چې وعده ورکړل شويده ـ خپل شاته د قسم په توګګه په ګګوتو د صليب کښل ستاسو د وعدې اغيزمنتوب نه نفي کوي، ځکه مقابل لوری ندی پوهيدلی چې تاسو خپلې ګګوټې دصليب په توګګه پر سينه کش کړ ې۔ څه پيښېږي که يو څوک د چا سره قرارداد وکړي چې ۱۹ کلن معلومېږي اما په حقيقت کې اوه لس کلن وي، او يا د يو چا سره چې ټول حرکات يې نورمال دي، اما هغه په حقيقت کې روحي ناروغ يا نشه وي؟

دلته مورِ يو وار بيا د اصولو د تضاد سره مخامخ يو ـ مورِ غواړو د يو چا ساتنه وکړو چې د قرارداد کولو اهليت نلري، اما مورِ په عين زمان کې غواړو د هغه چا ساتنه هم وکړو چې دده سره يې قرارداد کړی او د قرارداد کولو په وخت کې يې معقول عمل کړيدی ـ

قانون په داسې حالاتو کې هڅه کوي منځنی لاره ومومي او بعضاً هم د اصولو تر منځ مخ ته او شاته ځي۔ د عقلي معيوب په قضيه کې، د مثال په توګګه محکمې اکثره وايي چې د دوی معيوبوالي دوی بري الذمه کوي او کولای شي د قرارداد څخه ووځي خو يواځې په هغه صورت کې چې مقابل لوری پدې وپوهېږي او يا دده د معيوب والي د پوهيدلو د پاره دليل ولري۔ که يو څوک داسې ښکاره شي او داسې عمل وکړي لکه د قرارداد د کولو اهليت چې ولري، نو دا معقول دی چې مقابل لوری دده پر دې ظواهرو اتکا وکړي ; د بلې خوا که يو څوک وپوهېږي چې مقابل لوری يې د عقلي ناروغیِ سابقه لري او په معامله کې يو غير عقلي انتخاب وکړي، دی بيا نشي کولای ادعا وکړي چې د قرارداد څخه د مقابل لوري د وتلو په نتيجه کي يې زيان ليدلی دی ـ د ماشومانو او نابالغه کسانو په مسله کې محکمې عموماً ددې اصل پيروي کوي چې وايي، هر څوک چې د پوخوالي قانوني سن ته نه وي رسيدلی، کولای شي د قرارداد څخه ځان وژغوري ـ يو نالغه چې ظاهراً د يو پوخ سړی په شان ښکاري بيا هم کوچنی دی ـ اما محکمو پدې برخه کې يو لړ استثناآت منځ ته راوړي دي ـ يو کم سنه کولای شي وروسته له هغه چې قانوني سن ته ورسېږي خپل قرارداد تاييد کړي او هغه په شفاهي توګګه د اعتبار وړ وبولي او يا د مقابل لوري اجراآت ومني او پدې توګګه به دا يو معتبر قرارداد شي۔ د کم سن څخه همدا شان غوښتنه کېږي چې د قرارداد په اړه مصارف که لازم وي ورکړي ـ يو وخت د زاړه عامه قانون په يوه جمله کې د کم سنو کسانو په هکله ويل کيده چې خورک، چښل او يو څه نور، اما نن ورځ ښايي يو ماشوم د طبي خدماتو، ښوونې او روزنې او يا موټر د مصارفو ورکولو ته مکلف کړل شي۔ په ځينو ايالاتو کې يو کم سنه که يې خپل سن غلط ښودلیِ وي مجبوره دی د ټولو هغو شيانو مصرف چې د قرارداد له لارې يې تر لاسه کړيدي ورکړي ; اود

یو کم سنه سره چې لا د قرارداد دکولو د پاره د پوخوالي سن ته ندی رسیدلی که حقیقت ووایي د یو پوخ سړي په شان چال چلند کېږي۔

کله چې دوه کسان یوه موافقه کوي، آیا دا تل د اجرا وړ دی؟

همیشه نه ۔ (آیا تاسو دلته یوه موضوع احساسوی؟ د حقوقو محصلین د داسې پوښتنو د ځواب څخه عاجزه پاته کېږي، ځکه یوې پوښتني ته ځواب هو یا نه ندی بلکه اکثراً، دا پدې پوري اړه لري چې ----- دی ۔)

د یوې اوږدې مدې د پاره د قرارداد د قانون لویه پوښتنه داوه چې دا قانون کومي وعدې تر اجرا لاندې نیسي۔ د قرارداد د نظریې دا ساحه د وعدو د اعتبار یا validation of promises په نامه یادېږي او اساسي نظریه یې عوض یا consideration دی ۔

(دلته د عوض څخه مقصد هغه ارزښتناکه شی دی چې د قرارداد هر طرف یې د هغه شي په عوض کې ورکوي چې د مقابل لوري څخه یې لاس ته راوړي ۔ او د همدې لارې قرارداد منځ ته راځي ۔ همدا عوض ورکول یا consideration د قرارداد د اجرا د پاره ضروري دی ۔ ژ)

د عوض داستان حیرانوونکی او دلچسپ دی ۔ د نولسمې پېړۍ د پای څخه تقریباً دسلو کالو د پاره عوض په نامه او لفظي توګګه د قرارداد د قانون مرکزي نظریه وه۔ اما ددې تطبیق دومره بې معني او خالي وو چې محکمو د هغه څخه سرغړاوه او نن ورځ یې د هغه زیاتې برخې فسخ کړیدي ۔ نن د عوض د نظریې څخه د غیرعادي قضیو د مشکلاتو د حل دپاره استفاده کېږي ۔ اما پردې نظریې بحث موږ ته پدې هکله دلچسپ معلومات راکوي چې حقوق پوهان څنګګه فکر کوي او د قرارداد قانون څنګګه انکشاف کړیدی۔

دغه دوه فرضي مثالونو ته پاملرنه وکړئ چې د قرارداد د قانون استادان په ډیر شوق هغه ته اشاره کوي : (۱) کاکا موافقه کوي چې خپل موټر خرڅ کړي او وراره موافقه کوي چې د کاکا موټر په پنځه زره ډالرو رانیسي ۔ (۲) کاکا موافقه کوي چې موټر به د خپل وراره په راتلونکي د زېږیدنې په ورځ هغه ته تسلیم کړي ۔ په هر حال، که کاکا خپل فکر ته تغیر ورکړي، آیا دده وعده واجب الاجرا ده؟ لمړی فرضي مثال ډیر آسانه دی ۔ کاکا او وراره دواړو د قرارداد د آزادی څخه په استفاده په څرګګنډه توګګه خپل رضایت ښودلی دی، لهذا مونږ هم غواړو دا وعده اجرا کړو ۔ د عوض اصلي ماهیت د تبادلې مفکوره ده ۔ هره تبادله یو واجب الاجرا قرارداد دی، ځکه د قرارداد خواوې د ارزښت یواځني حقیقي قاضیان دي ۔ یو موټر، د یو کال کار، د ستراډیواریوس ویلون، یا یو کور یو ارزښت لري چې یو بل څوک حاضر دی د هغه بیه تادیه کړي۔ کله چې د راکړې ورکړې د پیل د پاره څرګګنډه اراده وجود ولري، هلته یو قرارداد منځ ته راځي ۔ د عوض د دکتورین غایه او هدف په یوه بله نظریه کې چې د مرچو د دانو د تیوري peppercorn theory په نامه یادېږي څرګګنډ شویدی ۔ که یو څوک وغواري خپل کور د مرچو د دانو په بدل کې خرڅ کړي، ددې کار د کولو آزادي لري او د وعدو تبادله یو واجب الاجرا قرارداد منځ ته راوړي

ـ که دی وروسته خپل نظر بدل کړي، محکمه به دده دې دلیل ته چې دده کور د مرچو تر دانو ډیر ارزښت لري غوږ و نه نیسي۔ د آزاد بازار په اقتصاد کې د انصاف یواځنی اندازه هغه بیه ده چې یو اخیستونکی او خرڅوونکی پرهغه موافقه کوي، لهذا د محکمې د پاره هیڅ کوم اساس وجود نلري چې د قرارداد د خواوو د قضاوت په هکله بل ډول فکر وکړي۔

اوس بل فرضي مثال ته پاملرنه وکړئ ـ کاکا وعده ورکوي چې موټر به خپل وراره ته ورکړي۔ دلته هم زمونږ د پاره د رضایت اظهار وجود لري ـ آیا دا کافي دی؟ که څه هم یوه وعده شویده، دا وعده د تحفې د ورکولو په هکله ده او نه د راکړې ورکړې په هکله ـ د تحفې یا سوغات د ورکولو وعدې، مخصوصاً د کورنی د غړو تر منځ په ډیره آزاده توګه کېږي او د تجارتي راکړې ورکړې د وعدو په پرتله څوک ډیر فکر نه وربانديې کوي ـ دا یوه ستونزه منځ ته راوړي ځکه ځیني وخت دا ډیر ګګران دی چې وپوهېږو چې آیا د تحفې د ورکولو وعده جدي وه او که نه، او باید جدي وبلل شي او که نه؟، همدا شان مونږ هم نه غواړو خلک دې ته تشویق کړو چې په آسانی سره خلکو ته د تحفو د ورکولو وعدې ورکړي ـ تحفه په اقتصادي لحاظ یوه ګګټوره معامله هم نده۔ که د قرارداد هدف دادی چې تبادله تشویق شي تر څو د منابعو څخه په ګګټوره توګه استفاده وشي، د تحفې وعدې کوم اهمیت نلري ـ ښایي دا به بهتره وي چې د قرارداد د قانون محدود منابع د تجارتي وعدو د اجرا د پاره وساتل شي ـ

دا هغه چلند دی چې د عوض دکتورین غوره کړیدی ـ ددې اصل پایله داده هر وعده چې د عوض تیوري یې ملاتړ کوي واجب الاجرا دی او هره وعده چې د عوض تیوري یې ملاتړ نه کوي واجب الاجرا ندی ـ د تحفې د ورکولو وعده په آزادانه او جدي توګه ورکول شویده، اما څرنکه چې کاکا د خپلې دغې وعدې په مقابل کې هیڅ شی نه ترلاسه کوي، دا په قانوني لحاظ الزام منځ ته نه راوړي ـ مونږ ښایي استدلال وکړو چې کاکا هم یوشی لاس ته راوړي او هغه روحي خوشحالي ده چې د تحفې د ورکولو په وخت کې ورسره مخامخ کېږي ـ اما قانون دا نظر ردوي، ځکه قانون تر هر څه مخکې تبادلې ته پاملرنه لري ; حتې که کاکا د خپل کار څخه چې د وراره سره یې مرسته کړیده ځان ډیر ښه احساس هم کړي، وراره دده د وعدې په مقابل کې ده ته دا احساس ندی ورکړی ـ (اما پاملرنه وکړئ، کله چې کاکا حقیقتا" موټر وراره ته وسپاري، بیا نشي کولای هغه بیرته وغواري ; که څه هم د تحفې د ورکولو وعده د قرارداد د قانون له مخې واجب الاجرا ندی، اما یوه ورکړل شوې تحفه د مالکیت د قانون له مخې یوه الزامي معامله ده ـ)

د بله پلوه د حقوقو د استادانو د خوښې دې قضیې ته چې په کال ۱۸۹۱ کې دهامر او سید وې تر منځ وه پاملرنه وکړئ ـ پدې قضیه کې کاکا د وراره سره وعده وکړه چې که د خپل د زېږیدو تر یوویشتم کال پوري د سګګرټ د څکولو اوالکهولو د چښلو څخه ډډه وکړي، ده ته به پنځه زره ډالره ورکړي۔ کاکا ددې راکړې ورکړې په معامله کې د خپل وراره د اجراآتو څخه کومه اقتصادي ګګټه لاس ته نه راوړي، اما دا پروا نلري ; ددې وعدې څخه د عوض تیوري ملاتر کوي او لهذا واجب الاجرا دی ـ که دا د کاکا د پاره ارزښت درلود چې دا معامله وکړي، ځکه ده د خپل وراره د روغتیا او اخلاقي ژوند سره علاقه

درلوده، نو دا د محکمې د پاره کافي دليل دی چې دا تبادله واجب الاجرا وبولي ـ او دا هم مهمه نده چې د وراره سره په فيزيکي لحاظ مرسته وشوه او ددې کار په کولو سره د زيان څخه وژغورل شو ; ځکه ده په مقابل کې يو شی ورکړ، کومه تبادله چې منځ ته راغله واجب الاجرا ده۔

د عوض د دکتورين د تطبيق يو بل عنعنوي مثال ته پاملرنه وکړئ ـ فرض کړئ چې يو کارګر د فابريکي د يو لوړ پوړ پر يوې ډيرې نرۍ لارې ولاړ دی ـ دی ويني چې د يو ډير دروند ماشين يوه برخه جلا شوې او لاندې د لويدو په حال کې ده ـ لاندې د فابريکي خاوند ولاړ دې او ډير احتمال لري چې د ماشين جلاشوې برخه يې پر سر ولوېږي ـ کارګر بيله دې چې د ځان پر امنيت فکر وکړي ددې نرۍ لارې څخه د ماشين پر لور غورځي او د جلا شوې برخې د لويدو لاره بدلوي تر څو د فابريکې د خاوند پر سر ونه لوېږي ـ د فابريکې مالک نجات وموند، اما دغه قهرمان کارګر د لويدو په نتيجه کې سخت ټپي شو ـ ممنون شوی مالک په روغتون کې د کارګر پوښتنې ته ولاړ، دده څخه يې ډيره مننه وکړه او وعده يې وکړه چې د معيوب شوي کارګر د ژوند تر پايه پوري به هغه ته معاش ورکړي ـ

قانون وايي چې دداسې يوې وعدې څخه د اخلاقي نظره ملاتړ کوي۔ يعني دا وعده د اخلاقي نظره واجب الاجرا ده نه د قانون له مخې ـ پدې قضيه کې کومه تبادله نده شوې ځکه هغه ګګټه چې د فابريکې مالک ته ورسيده، يعنې ژوند يې نجات وموند، دده د ملاتړ د هغې وعدې په بدل کې چې د کارګر سره يې وکړه نه وه ـ او د منطق له نظره هم روښانه ده چې پيښه مخکي تر وعدې وشوه، لهذا، مالک کولای شي هر وخت چې وغواړي د خپلې دغې وعدې څخه مخ وګرځوي۔

په تجارتي مسايلو کې هم عين منطق د تطبيق وړ دی ـ دوه طرفه چې يو قرارداد لري د قرارداد د اجرا په بهير کې د هغه د شرايطو په هکله له سره خبرې پيل کوي ـ د عوض د عنعنوي مقرراتو له مخې په قرارداد کې اصلاحات د اجرا وړ ندي ـ که يو کارفرما موافقه وکړي چې خپل يو مستخدم ته لوړ معاش ورکړي يايو پور ورکوونکي د خپل قرض يوه برخه وبخښي، دا وعده د اجرا وړ نده، ځکه دا د تبادلې يوه برخه نده۔ کارفرما يا پور ورکوونکی د خپلې نوي وعدې په مقابل کې کوم شی لاس ته نه راوړي، ځکه مستخدم قانوناً مکلف دی چې ده ته کاروکړي او پوره وړی مجبور دی خپل پور ادا کړي۔ دې مقررې ته د مکلفيت د مخکې موجوديت مقرره يا preexisting duty rule وايي ـ د يو مخکې موجود مکلفيت اجرا د نوي وعدې عوض نشي کيدلای ـ

او يا، فرض کړئ چې د يو شرکت مديره هييت خپل د اوږدې مدې کارګر ته خبرورکوي چې دده د اوږدو کلنو صادقانه خدماتو په بدل کې به دا شرکت هر کله چې دی وغواړي تقاعد وکړي، ده ته د پاته عمر د پاره د تقاعد معاش ورکړي ـ کارګر چې ددې مالي امنيت د وعدې څخه ډير خوشحاله شوی وو، لږ وروسته تقاعد وکړ، خو شرکت د خپلې دې وعدې څخه مخ وګرځاوه ـ که دا وعده په يو بل شکل شوې وای، (يعني که ته تقاعد وکړې، مورِ به تاته د تقاعد معاش درکړو،) نو به بيا يوه تبادله منځ ته راغلې وای، اما هغسې چې ويل شوي دي، د شرکت وعده اساساً د يوې تحفې د ورکولو وعده ده۔ ځکه

کارګر په مقابل کې نه کومه وعده او نه هم کوم بل شی ورکړیدی ـ دا وعده د عوض د نشتوالي له کبله واجب الاجرا نده ـ

دعوض دکتورین د انساني طبعت او د قرارداد کولو د عملیي په هکله یو پیچلی نظر وړاندې کوي۔

هر څوک پرځان فکر کوي، هیڅوک یو شی له لاسه نه ورکوي تر څو چې په عوض کې یې یو بل شی لاس ته را نه وړي ; یواځي ګګټورې اقتصادي تبادلې ارزښټ لري ـ ددې نظریې محدودیتونه په هره قضیه کې نتیجې ډیري بې خونده اوناخوش آینده کوي ـ د کاکا وعده چې غواري تحفه ورکړي د قرارداد د آزادی څخه استفاده کول دی، او که وراره وشي کولای په مقابل کې د خپلې وعدې د پر ځای کولوثبوت وړاندې کړي، دا وعده باید د اجرا وړ وي۔ د اخلاقي ملاحظاتو قضیې ډیرې حیرانوونکي دي، او د مخکي مکلفیتونو د موجودیت قضیې او د مستخدم د باور قضیه عادي او قابل فهمه تجارتي معاملات بې اعتباره کوي ـ

محکمو د عوض د قضیو په هکله احساساتو ته په ځواب کې نوي مقررات منځ ته راوړي دي چې د عوض د نظریې د سختیې او سخت ګګیرې څخه مخنیوې کوي ـ په لمړی مرحله کې چې دا مقررات منځ ته راغلل، ددې د پاره چې برعکس نتیجې منځ ته راشي، د عوض نظریه یا په ډیر تدبیر او مهارت بل ډول تعبیریده او یا پر هغه سترګګې پټیدلې ـ د مثال په توګه، که یو قرضدار غیر له هغه چې د خپل د قرض یوه برخه به یې ادا کوله ځیني نور کارونه به یې هم وکړل، یعني د مثال په توګه د خپل دوه زره ډالره پور د ادا کولو د پاره، خپل قرض ورکونکي ته هم زر ډالره او هم یو دستمال ورکړ، د مخکې مکلفیت د موجودیت مقرره رعایه شوې وه، ځکه قرضدار تر هغه چې باید یې کړی واي او د هغه کولو ته مکلف وو، زیات څه کړیدي ـ

په وروستیو کې محکمو د عوض نظریه د قرارداد د اجرا د شرط په توګه رد کړیده ـ ځینې پریکړې د انصاف پر اساس کېږي ـ د اخلاقي عوض په قضیو کې، د مثال په توګه، د یوې رسیدلې ګګټې په مقابل کې یوه وعده (لکه د ژوبل شوي کارګر سره د شرکت د خاوند وعده چې دده ژوند ته یې نجات ورکړ) د اجرا وړ ده که دی دا کار وکړي ـ د عوض د نظریې نورې رد شوي قضیې پر تجارتي واقعیتونو بنا دي ـ د مخکې مکلفیت د موجودیت د مقررې پر ځای نور مقررات منځ ته راغلي دي چې په قرارداد کې اصلاح ته اجازه ورکوي چې د پاک نیت له مخې وي او یا داسې شرایط منځ ته راغلي وي چې د قرارداد د کولو په وخت کې د پیشبینی وړ نه وه ـ او نن د عوض د نظریې ضد مقرره د اتکا اصل یا reliance principle دی چې پر انصاف او سبه تجارتي سلوک ولاړ دی ـ یوه وعده چې د عوض نظریه یې ملاتړ نه کوي، نن د اجرا وړ ده که وعده اخیستونکي د معقولیت له مخې پر دې وعدې اتکا کړې وي ـ کله چې د شرکت د اوږدې مدې کارګر د مدیره هییت پر وعدې باندې د اتکا له مخې چې شرکت ده ته د تقاعد معاش ورکوي، ددې تقاعد کول د وعدې په عوض کې ګګڼل کېږي او وعدې ته اعتبار ورکوي۔

که یو قرارداد غیر منصفانه وي، آیا محکمه د هغه د نافذیدو څخه انکار کولای شي؟

دا د قرارداد د قانون یوه سخته پوښتنه ده ـ د مرچو د دانو نظریه محکمې ته اجازه نه ورکوي د یوې راکړې ورکړې که هرڅومره غیرعادلانه هم وي، مخنیوی وکړي ـ د قرارداد خواو داسې یوه معامله کړیده چې دوی غوښتل او اوس په کې بند پاته دي ـ اما ځیني قراردادونه ډیر ناوړه وي۔

په هغو قضیو کې چې ډیر ناوړه او شدید وي، محکمې ځینې نورې لارې لري چې د یو غیر عادلانه قرارداد د انفاذ مخنیوی وکړي ـ

دا چې زمونږ د پاره غیر عادلانه یا غیر منصفانه څه شی دی، ددې ټاکل ډیرګګران دی، تر څو وشو کولای محکمې ته داسې یو دقیق فورمول ورکړو چې د هغه له مخې وټاکي چې څه وخت یو قرارداد غیر عادلانه دی ـ محکمه باید پر هرې قضیې د یو عمومي پرنسیپ له مخې چې د داسې قضیو د پاره وجود لري فیصله وکړي، لهذا محکمه نشي کولای د یو پیاوړي احساس له مخې چې د قرارداد یو طرف خرابه معامله کړیده، اقدام وکړي۔ محکمو د هغو قراردادونو د پاره چې ښایي خاص تدقیق او څیړنې ته اړتیا ولري دوې لارښوونې منځ ته راوړي دي ـ لمړي، د موافقې د کولو په بهیر کې د یو شکمن شي موجودیت دی چې په هغه کې دوه طرفه قرارداد ته رسیدلې دي۔ د آزاد قرارداد په ماډل کې معمولاً دوه خپلواک او د معلوماتو خاوند کسان د داسې یوې معاملې په هکله چې د دواړو ډیره په ګټه وي خبرې کوي ـ اما دا بهیر په یوه خاصه قضیه کې د یوې مهمې زاویې څخه متوازن او انډول ندی ـ دوهم، رامنځ ته شوی قرارداد ډیر یو اړخیز دی ـ یو طرف، یعنې هغه خوا چې د موافقه کولو په بهیر کې په ښه موقف کې دی، تر هغه اندازې چې مستحق دی ډیر زیات څه لاس ته راوړي ـ

دا دواړې لارښوونې ډیرې ستونزې لري ـ که دا لارښوونې په سخاوت سره تطبیق شي دا به د قرارداد د قانون اساسات له منځه یوسي۔ په ډیرو قراردادونو کې یو یا بل طرف په راکړه ورکړه کې تفوق لري او د خپل لوړې د پوهې، مهارت یا اقتصادي موقف له کبله یوه ښه او د ځان په ډیره ګګټه معامله کوي ـ قرارداد هم همدغه ته وایي چې خواوې هڅه کوي د امکان ترحده د ځان په ګګټه یوه معامله وکړي۔ سخت سوال هغه وخت منځ ته راځي چې د منصفانه او غیر منصفانه تفوق تر منځ لیکه وکاږو ـ ددې کار مشکلات مورږ د دوو نظریو په مختصره څیړلو کې وینو، جبراو اکرا او بې وجداني او بې مسوولیتيduress and unconscionability ـ

په یوه مشهوره کمیدي کې غل جیک بیني ته چې پیسې بندلوي وایي، یا دې پیسې راکړه یا ژوند ـ دی په ځواب کې ورته وایي، زه پر دې فکر کوم، زه پردې فکر کوم۔ بیني بالاخره ځواب ورکوي ګکه بیني ووایي چې پیسې به ورکړي، آیا بیني یو قرارداد وکړ؟ د جبر او اکرا نظریه یو طرف ته چې د بل طرف له لوري په زور اوتهدید د قرارداد کولو ته مجبوره شوي وي، اجازه ورکوي ددې قرارداد څخه ووځي۔ که جیک بیني موافقه وکړي چې د پیسو بکس غله ته ورکړي او یا یوه مور د خپل ماشوم اختطاف کوونکو ته د خپل ماشوم د روغ او سلامت تبادلې د پاره د جزیي د ورکولو سره موافقه وکړي، داډول

قرارداد د اجرا وړ ندی، ځکه دا د جبر او اکراه تر شرایطو لاندې منځ ته راغلی دی ـ په یوه تجارتي قضیه کې هم چې یو طرف په زور د قرارداد شرایط پر مقابل لوړې تحمیل کړي، عین منطق د تطبیق وړ دی ـ په یوه مشهوره قضیه کې، د کب نیولو د کښتی کارکوونکو چې آلاسکا ته یې سفر کاوه، ګګوابښ وکړ چې که د دوی معاش زیات نشي دوی به د کار څخه لاس واخلي او کښتی به پرېږدي ـ د کښتی مالک دې غوښتنې ته غاړه کښېښوده، ځکه هلته نور کارګر نه پیدا کیدل او که دا کارګګر ورځخه تللي وای، ده ته به ډیر تاوان رسیدلی واي ـ کله چې کښتی بندر ته ورسیده، مالک پرې نه ښودل شو چې کارګګرانو ته هغه لوړ معاش ورکړي، ځکه اصلاح شوی قرارداد د جبر او اکراه تر شرایطو لاندې منځ ته راغلی وو۔

البته چې د جزیې او روا اقتصادي فشارتر منځ د جلاوالي د لیکې کښل ډیر ګګران کار دی ـ په معموله توګګه، کله چې کارګګر د معاش د زیاتیدو د پاره د کار څخه لاس اخلي، مونږ هغه اعتصاب بولو او نه جزیه ـ د کښتی د مالک برعکس، عادي کارفرما نور کارګګر استخداموي یا د خپلو کاګرګرانو شرط مني، که څه هم هغه دده د شرکت ډیر په زیان وي. کله چې د جنرل موټرز شرکت د خپل اقتصادي توان څخه په استفاده سره یو کوچني شرکت دې ته رابولي چې پر ده اومه مواد په کښته بیه خرڅ کړي، دا د مشکلو مذاکراتو او ښه سلوک او چلند له لارې کوي، او نه د نامعقولې راکړه ورکړې له لارې چې هغه د غصب او اخاذی معادل دی ـ د جبر او اکراه نظریه د هغو قضیو په باره کې ده چې په هغه کې د قرارداد یو طرف غیر لدې چې په معامله کې وړاندې شوي شرایط ومني، بله معقوله لاره ونلري او معامله هم حقیقتاً یو اړخیزه وي، لکه د کښتی د مالک او یا جیک بیني په قضیو کې چې وو ـ

د بې وجدانی او بي مسوولیتی دکتورین هم په مشابه توګګه محکمې ته ددې اجازه ورکوي چې دداسې یوې معاملې د انفاذ څخه انکار وکړي چې په هغه کې یو طرف محدود انتخاب ولري، د راکړې ورکړې په ضعیف موقف کې واقع وي او معامله هم تر ډیره حده غیر عادلانه وي ـ د اورا لي ویلیمز په مشهوره قضیه کې چې په واشنګټن دي سي کې یې د دولت د اجتماعي مرستو څخه ژوند کاوه او د پنځو کالو په اوږدو کې یې د خپل کور د پاره فرنیچر او د کور نور لوازم د یو پلان له مخې ددې ښار د فرنیچر خرڅولو د دکان څخه اخیستې وه ـ هر پلا به دې یو فورمه ډوله قرارداد امضا کاوه چې د پور شرایط یې داسې لیکل شوي وه۔

[د هر وار قسط د تادیې مبلغ چې باید د اخیستونکي لخوا د موجودې اجارې له مخې شرکت ته ورکړل شي، باید ټول شیان په بر کې ونیسي او نه داچه د موجودې اجارې له مخې د نورو ورکړل شوو قسطونو، رسیدونو او حسابونو سره جمع شي ; او د قسط ټولې هغه تادیې چې اوس او یا وروسته د اخیستونکي لخوا کېږي، د ټولې اجارې، رسیدونونو او حسابونو د پاره چې شرکت ته یې ورکوي باید هره پلا د مالیې تر وضع کولو وروسته محاسبه شي ـ]

ددې مبهم او غیرروښانه شرط معني داوه چې د هر رانیول شوي قلم د قرض بیلانس وساتل شي تر هغه چې د ټولو رانیول شوو اقلامو پیسې تادیه شي ـ کله چې ویلیمز د وروستي رانیول شوي قلم د پیسو د تادیې څخه پاتې راغله، او هغه یو ستیریو تیپ ریکارډر وو او بیه یې ۵۱۵ ډالره وه، مغازې د قرارداد د

شرایطو له مخې د ستیریو او ټولو نورو هغو اقلامو د بیرته ورکولو غوښتنه وکړه چې میرمن ویلیمز د پنځو کلنو په اوږدو کې رانیولي وه ـ د ټول اخیستل شوو شیانو بیه ۱۸۰۰ ډاله وه چې د هغه جملې څخه میرمن ویلیمز ۱۴۰۰ ډاله تادیه کړي وه۔

په کال ۱۹٦۵ کې د ویلیمز او د والکر توماس د فرنیچر جوړولو د شرکت په قضیه کې د متحده ایالاتو د مرافعې محکمې فیصله وکړه چې د قرض د ورکولو شرایط که د بې وجدانۍ له مخې ټاکل شوي وي د میرمن ویلیمز پر ضد واجب الاجرا ندي. محکمې وویل :

[کله چې د قرارداد یو طرف د راکړې ورکړې لږ توان لري او له همدې کبله حقیقي انتخاب یې هم لږ وي او بیا یو تجارتي نامعقول قرارداد امضا کړي چې د هغه په شرایطو هم نښه نه پوهېږي، نو دا په سختۍ سره ممکنه ده چې دده رضایت، یا حتي دده د رضایت آفاقي څرګندونه د قرارداد د ټولو شرایطو په هکله وي ـ په داسې یوه قضیه کې هغه عادي طرزالعمل چې په هغه کې د موافقې شرایط تر پوښتنې لاندې نه راځي، باید پریښودل شي او محکمه باید دا مسله وخېړي چې د قرارداد شرایط څومره غیر عادلانه دي تر څو د انفاذ څخه یې مخنیوی وشي ـ]

څرنګګه چې بې وجداني او بې مسوولیتي په هره قضیه کې پر یولږ حقایقو بنا وي، د مرافعې محکمې د محاکمې محکمې ته هدایت ورکړ چې پلټنه وکړي چې آیا په قضیه کې وړاندي شوي حقایق زیاته بې انصافي څرګندوي اوکه نه؟

د بې وجدانی د قضیې د پاره لاندنی مثال ډیر په زړه پوري دی : یو استثمار کوونکي تاجر وغوښتل پر یوې د اجتماعي مرستو اخیستونکې باندې داسې شیان خرڅ کړي چې دې یې د پیسو د ورکولو توان نه درلود، او بیایې د داسې یو مبهم قرارداد د متن څخه استفاده وکړه چې د پوهې وړ نه وو او په هغه کې داسې شرایط ایښودل شوي وه چې که اخیستونکې د یو قسط په ورکولو کې شاته پاته شي، باید ټول رانیول شوي شیان بیرته تاجر ته وسپاري۔ اما پدې قضیه کې د بې وجدانی د اصل تطبیق مشکلات لري۔ او وکیلان ښایي هغه د ښویندوکي مخ په کښتې مقرره وبولي او ووایي چې که موږ په یوه قضیه کې په یو ډول پریکړه وکړو، د سیلاب دروازې به پرانیستل شي او ډیر مصیب باره نتیجې به منځ ته راوړي ـ که یوه محکمه دا قرارداد د وجدان ضد او غیر مسولانه وبولي، باید په بله او بله ورته قضیه کې هم ورته حکم وکړي، تر څو چې د قرارداد دقانون اساسات له منځه ولاړ شي ـ یو له هغو محدودو او بې خوندو امکاناتو څخه هم د آزاد بازار په اقتصاد کې د قرارداد کولو د ماهیت انتخاب دي ـ که د اجتماعي مرستو اخیستونکې و نشي کولاي یو شی په نقدو پیسو رانیسي، آیا دا غیر منصفانه دی چې یو د څو مغازو څخه حاضر شي دې ته شیان په پور ورکړي او بیا ددې پور د اداکیدو د پاره سخت شرایط کښېږدي تر څو د خپلې مغازې ګټې وساتي؟ که موږ دداسې قراردادونو په فسخ کولو کې ډیر وړاندې ولاړ شو، محکمې به د ډیرو نورو ادعاګګانو سره مخامخ شي چې په هغه کې به قراردادونه د وجدان ضد وبلل شي ، او مونږ باید بیا د دې اساسي فکر څخه چې یوه معامله یوه معامله ده لاس واخلو ـ د همدې دلیل له مخې، محکمې نه غواړي د وجدان ضد قضیو په برخه کې ډیروړاندې ګګام کښېږدي ـ

کله چې تاسو یو قرارداد وکړی، ایا د هغه څخه بیرته وتلای شی؟

د قرارداد څخه د وتلو ډیره آسانه لاره داده چې مقابل لوری تاسې پربږدي چې د قرارداد څخه ووځی ـ که څه هم مقابل لوری ښایي دا قانوني حق ولري چې تاسو د قرارداد اجرا ته راوبولي، اما هغه ښایي اصرار ونکړي چې تاسو خپلو ژمنو ته دوام ورکړی. د تجارت خلګ اکثره معقول او پوه خلګ دي، هغوی غواړي خپل کار سم پرمخ بوزي، پدې معني چې نه غواړي تل تر وروستي سرحده خپل قانوني حقوق تعقیب کړي. په ډیرو حالاتو کې خلګ وایي، دا ښه ندی چې یو بل څوک د هغه کار کولو ته مجبور کړل شي چې دی پخپله یې نه غواړي وکړي. سربیره پر دې، اکثره قراردادونه د اوږدې مدې اړیکو په نتیجه کې منځ ته راځي، او دا ښایي نسبت دې ته چې په یوه ځانګړې مسله کې ګټه تر لاسه شي ډیر مهم وي چې دا اړیکې وساتل شي. اکثره وخت دا ښایي په ګټه نه وي چې د یو کوچني قرارداد څخه یوه فدرالي قضیه جوړه شي.

یو څوک چې قرارداد یې کړیدی کولای شي د محکمې څخه د قرارداد د وتلو غوښتنه وکړي او ددې د پاره بیلابیلې لارې شته. مونږ مخکې ولیدل چې ډیرې موافقې د انفاذ وړ ندي ځکه د موافقې په بهیر کې خلاوي وجود لري یا د داسې نظریو لکه د جبر او اکرا یا د بي وجداني او بي مسوولیتی پر اساس واجب الاجرا نه ګڼل کېږي. سربیره پردې، د قرارداد یو طرف ښایي د قرارداد د اجرا څخه معذور وبلل شي، ځکه د قرارداد په جوړښت کې اشتباه شویده، یا ځکه چې دده لخوا د قرارداد اجرا ناممکن دی او یا هم ځکه چې دده داجرا د مکلفیت یو شرط په نظر کې ندی نیول شوی ګ

په ډیرو قراردادونو کې د راتلونکي پیښبیني یو رول لري. اما دا پیښبیني ښایي غلطه ثابته شي. یو پانګه اچوونکی د یو شرکت د اسهامو د رانیولو قرارداد کوي پدې امید چې د شرکت تجارت به وده وکړي او د اسهامو بیه به یې لوړه وخیژي. که پانګه اچوونکي اشتباه کړې وي او د اسهامو بیه کښته ولوېږي، دی نشي کولای د خپل اشتباه له کبله ددې معاملې څخه ووځي (او یا که معامله سرته رسیدلي وي، هغه بي اثره کړي.) دا امکان چې د اسهامو بیه ښایي کښته شي یو له هغو خطرونو څخه دی چې پانګه اچوونکی د قرارداد په پیل کې هغه منلی دی او قانون به دی دده ددې اشتباه په خاطر ددې خطر څخه ونه ژغوري ګ

اما کله بیا په هغه خطرونوکې چې د قرارداد خواوې ورباندې بحث کوي اشتباه شامله نه وي. فرض کړئ یو قراردادي غواړي د یو ساختماني کار د پاره مناقصه وکړي او د هغو موادو د په برخه کې چې د کار د پاره لازم دي حسابي اشتباه وکړي او د یوولسو زرو ډالرو پر ځاي زر ډالره ولیکي. قراردادي خپله مناقصه د ۲۵ زرو ډالرو پر ځاي ۱۵ زره ډالره وړاندې کوي او د ودانی مالک هم دا مناقصه مني. که قراردادي خپله دا اشتباه ډیر ژر درک کړي، محکمه به ښایي دی پربږدي د قرارداد څخه ووځي، او د ودانۍ د مالک سره به هم تعصب نه وي شوی که قراردادي پریښودل شي دقرارداد څخه ووځي، تر دې

چې په کښته بيه دا کار سرته ورسوي، اما پدې شرط چې اشتباه ډير ژر وپيژندل شي. د بلې خوا، که قراردادي په خپل قضاوت کې اشتباه وکړي او داسې پيشبيني وکړي چې دا کار په دوو هفتو کې سرته رسوي اما په عمل کې هغه يوه مياشت په برکې نيسي، محکمه به دی و نه بخښي. قراردادي هغه وخت چې مناقصه يې په يو ټاکلي بيه وړاندې کوله دا خطر منلی وو چې دا کار به تر دوو هفتو زيات دوام وموميِ.

کله بيا هغه اشتباهات چې دقرارداد خواوې يې کوي د قرارداد د کولو په وخت کې د موجودو حقايقو سره اړيکه لري او نه دراتلونکي اجراتو د پيشبينی سره. همدا مسله د قرارداد د قانون په يوه لويه قضيه کې پيښه شوه. دا په ۱۸۸۷ کال کې د شيروود او والکر قضيه وه چې د بارن کاو barren cow د قضيې په نامه يادېږي. يواخيستونکي غوښتل غواييان رانيسي او ددې مقصد دپاره يې د يو خرڅوونکي سره چې د غواييانو د روزنې فارم يې درلود تماس ونيو. خرڅوونکي اخيستونکي ته وويل، په ډير زيات احتمال سره دده غواييان ټول خصي دي او نسل نه ورکوي. خريدار يوه غوا انتخاب کړه چې روز ۲ د آبرلون نوميده او د هر پوند (تقريبا" نيم کيلو) د پاره پنځه نيم سنټه بيه وټاکل شوه، ځکه دواړو فکر کاوه چې غوا خصي ده او دا بيه يواځې د غوښې د پاره ده. کله چې غوا و تلل شوه او اخيستونکي اتيا ډالره وړاندې کړل، خرڅوونکي د غوا د خرڅولو څخه ډډه وکړه، ځکه متوجه شو چې دا غوا بلاربه ده او دداسې يوې غوا بيه د ۷۵۰ ډالرو څخه تر ۱۰۰۰ ډالرو پوري ده. محکمې فيصله وکړه چې خرڅوونکی مجبوره ندی چې دا معامله وکړي، ځکه دواړو خواوو د جنس د ماهييت په هکله اشتباه کړيده.

د شيروودِ او والکر په قضيه کې د محکمې پريکړه د قرارداد د خطرونو د مفکورې پر اساس وشوه. دا واقعيت دی چې اخيستونکي او خرڅونکي پوهيدل چې د يوې خاصې غوا يعنې د روز ۲ په هکله معامله کوي او دواړو فکر کاوه چې دا غوا يواځې د قصابيِ د پاره نښه ده او نه د نسل اخيستلو د پاره. د غوا د حالت په هکله د دواړو اشتباه د قرارداد د منځ ته راتلو علت وو او دا به د قرارداد پر ارزښت ډير اغيز درلودلای واي، او په هغه کې يو هم کوم خطر نه وو منلی، ځکه هغسې چې محکمې څرګنډه کړه، دوی دواړه پر دې باور وه چې دا غوا نسل نه ورکوی. کله چې دا فکر د قرارداد د خطرونو دباندې غلط ثابت شو، خرڅوونکی وشو کولاي د قرارداد څخه ووځي. دا قضيه به بل ډول واي که د قرارداد يو خطر دا وای چې آيا دا غوا به نسل ورکړي او که نه، يعني خريدارفکر کړی واي چې غوا نسل ورکوي او خرڅوونکي وييلي وای چې احتمالا" به نسل ورنکړي. په هغه صورت کې به دواړه په معامله کې پاته وای.

د قرارداد د خطرونو مفهوم د معذرت د قضيو يوه بله ډله هم په بر کې نيسي چې د ناممکن توب، غيرعملي توب او د هدف د منځه تللو impossibility impracticability and frustration، په نامه يادېږي. کله د يوې خوا څخه د ورکول شوې وعدې اجرا په خپل وخت کې ناممکن وي. د مثال په توګه په ۱۸۶۳ کال کې د تايلر او کالډ ويل په قضيه کې، د موسيقی د يو سالون خاوند موافقه کړې وه چې دا سالون به د څلورو ورځو د پاره يو محلي سندرغاړي ته د يو لړ کانسرتونو د اجرا د پاره په کرايه ورکړي.

د دوی ددې موافقې او د کنسرتونو د پیل تر وخت پورې، دا د موسیقۍ سالون اور واخیست او له منځه ولاړ. سندر غاړي د تاوان غوښتنه وکړه، ځکه مالک هغسې چې وعده یې کړیوه و نشوای کولای د موسیقی سالون پر ټاکلي وخت دده د استفادې د پاره چمتو کړي. د سالون مالک په ځواب کې غوښتنه وکړه چې دی باید د قرارداد د مکلفیتونو څخه آزاد کړل شي، ځکه دده د پاره ناممکنه ده چې خپله وعده پرځای کړي. دی نشي کولای یو سالون چې نور وجود نلري سندرغاړي ته ورکړي گ

دا یو قوي دلیل دی. که تاسو یو کار نشی کولای، څنگه کیدای شي چې تاسو د هغه د نه کولو د پاره مسوول وبلل شی؟ اما پاملرنه وکړئ، ددې د پاره چې مونږ دې نتیجې ته ورسېږو، په کارده چې څونور منځني گامونه هم واخلو. مالک نشي کولای د موسیقي سالون سندرغاړي ته ورکړي، اما دا ددې معنې نلري چې دی نه شي کیدای د هغه تاوان مسوول وبلل شي چې د خپلې وعدې د نه پرځای کولو په نتیجه کې سندرغاړي ته رسیدلی دی. مسله پدې کې ده چې دی باید د مسوولیت څخه خلاص شي، نه دا چې دی باید مجبور کړل شي یو ناممکن کار وکړي گ

محکمې لکه د قرارداد د قانون نورې قضیې چې حلوي دا مسایل هم فیصله کوي. که د قرارداد خواوو په روښانه توگه نه وي ویيلي چې د موسیقی د سالون د سوځیدو په صورت کې به څه وکړي، محکمه باید وټاکي چې دوی څه اراده درلوده، پدې معنې چې په معقوله توگه به د دوی اراده څنگه وه، او دا پدې معني چې محکمه نظر ورکوي چې دوې خواووي معمولا" څه کوي او باید د خپل قرارداد څخه څه انتظار ولري. ددې څخه منصفانه نتیجه منځ ته راځي. ددې تحلیل پر اساس محکمې په عمومي توگه داسې فیصله کوي چې د یو کار نا ممکن توب یو نوع معذرت دی چې اجازه ورکوي یو طرف د قرارداد څخه ووځي، لهذا د موسیقی د سالون خاوند، د مثال په توگه، پدې خاطر چې سالون یې د سندرغاړي د استفادې د پاره ندی ورکړی، د تاوان د ورکولو څخه معاف دی.

پداسې حال کې چې پدې کلاسیکې قضیې کې د ناممکن توب مسله وځیړل شوه، په نوو قوانینو کې د معذرت لمن هغو قضیو ته پراخه شویده چې په هغه کې د وعدې اجرا په فیزیکي لحاظ ممکن اما عملي ندی یا ډیر گران دی او یا یې بیه د هغه خوا د پاره چې غواړي کنسرټ ورکړي تر کنټرول وتلې ډیره لوړه ده. که د موسیقی سالون د اور اخیستلو په نتیجه کې یو څه زیانمنه شوې وای، ایا د مالک څخه غوښتنه کېږي چې د هغه د ترمیم د پاره په لوړ نرخ کارگران استخدام کړي، په هغو اضافه کاري وکړي او سالون په ټاکلي وخت د کنسرت د اجرا کولو د پاره چمتو کړي؟

دلته هم باید محکمې د معقولې او نامعقولې تمې یا انتظار تر منځ د جلا والي لیکه وکاږي ; هر څومره چې د وعدې د اجرا توان د حقیقي ناممکن توب څخه لیري کېږي، په هماغه اندازه ددې احتمال له منځه ځي چې یو طرف د غیر عملي توب په خاطر عفوه کړل شي.

د قرارداد د یوې خوا په اړه یو موازي دکتورین هم شته چې د هدف د له منځه تللو په نامه یادېږي.

په ۱۹۰۲ کال کې په لنډن کې د انگلستان د باچا اووم ایډوارډ د تاج ایښوونې د کلیزې د لمانځلو په مناسبت یو لوی رسم گذشت ترتیب شوی وو. د رسم گذشت د لارې پر دوو خواوو د اپارتمانونو

خاوندانو خونې تر عادي نرخ په لوړه بیه هغو کسانو ته چې د رسم ګذشت د لیدو په ارمان وه په کرایه ورکړل. له بده مرغه ایډوارډ ناروغه شو او دا مراسم و ځنډول شول. هغو کسانو چې خونې یې د رسم ګذشت د لیدو په هیله کرایه کړې وې، د قرارداد څخه د عفوې غوښتنه وکړه. د دوی د قرارداد اجرا نه ناممکن وو او نه هم غیر عملي. دا د دوی د پاره په بشپړه توګه ممکنه وه چې پیسې وسپاري اوپه ټاکلي وخت په هماغه خونو کې کښیني. اما هغه څه چې پیښ شوی وو، دا وو چې د دوی د قرارداد هدف له منځه تللي وو. که څه هم دوی خونې کرایه کړې وې ، اما نه یې شوای کولای د هغه رسم ګذشت تماشا وکړي چې دوی یې هیله درلوده. محکمې په عین دلیل چې یوه ناممکنه اجرا د عفوې وړ ده، پدې حالت کې هم دوی د قرارداد څخه عفوه کړل. محکمې فیصله وکړه چې د تاج ایښونې د مراسمو ځنډیدل یو له هغو خطرونو څخه نه وو چې کرایه اخیستونکي یې باید د قرارداد څخه د معقولې پوهې له مخې په غاړه واخلي.

څه پیښېږي چې که د قرارداد د یو طرف د وعدې اجرا د یوې پیښې په وقوع پوري اړه ولري او هغه پیښه ونشي؟

د یو قرار داد د اجرا څخه د عفوه کیدو یوه ډیره عامه لار داده چې تاسې د یو شي د پیښیدو په صورت کې د یو کار د کولو مکلفیت ولری او هغه شی هیڅ پیښ نشي. حقوق پوهان دغه شي ته ستاسو د مکلفیت شرط وایي. بیرته به د هامر او سید وې قضیې ته راوګرځو. فزض کړئ چې کاکا خپل وراره ته د پنځه زرو ډالرو د ورکولو وعده ورکوي پدې شرط چې وراره د خپلې زېږیدنې تر یوویشتم کال پوري د سګرټ د څکولو او الکهلو د چښلو څخه ډډه وکړي. د وراره د زېږیدنې د یووشتمي کلیزې په ورځ وراره کاکا ته وایي چې هره ورځ یې یو بوتل الکهل چښلي او یوه قطي سګرټ څکولي دي، اما دی دا پیسې بیا هم غواړي. آیا کاکا مکلف دی چې ده ته دا پیسې ورکړي؟ البته چې نه. د کاکا د پنځه زرو ډالرو د ورکولو وعده مخامخ شرطیه وعده وه. که ته د الکهلو د چښلو او سګرټ د څکولو څخه ډډه وکړې، بیا به زه تاته دا پیسې درکړم.

څرنګه چې د کاکا د مکلفیت شرط چې پیسې به ورکړي پر ځای نشو، دی د هغه د اجرا د پاره کوم مکلفیت نلري. او دا په هغه صورت کې چې وراره د ډډې کولو وعده هم نه وې کړې صدق کوي. څرنګه چې وراره هیڅکله د ډډې کولو وعده نده ورکړې، کاکا نشي کولای پر ده په محکمه کې دعوې وکړي ــ یو شرط د وعدې سره توپیرلري ــ اما تر هغه چې دا شرط نه وي په ځای شوی، وراره نشي کولای د کاکا د وعدې پیسې لاس ته راوړي.

دا یوه آسانه قضیه وه ځکه چې د وعدې په شرطونو کې په څرګنده توګه وییل شوي وه چې دا شرطي دي. اما پر ځای یې فرض کړئ چې کاکا موافقه کوي چې خپل موټر خرڅ کړي او وراره هم موافقه کوي چې د کاکا موټر به په پنځه زره ډالره رانیسي. وراره په ټاکلي وخت ټاکلي ځای ته را ځي، خپل کاکا ته وایي چې لا هم دده موټر غواړي خو نه غواړي د هغه پیسې ورکړي ، دی د د موټرد کلي او اسنادو

غوښتنه کوي او وايي چې که کلي او اسناد ورنکړل شي په محکمه کې به پر خپل کاکا دعوې وکړي. آيا وراره کولای شي د موټر په خاطر پر خپل کاکا دعوې وکړي؟

دا قضيه د لمړي قضيې په شان ساده ده. که څه هم په موافقه کې په څرګنده توګه ندي وييل شوي چې کاکا په هغه صورت کې چې وراره پيسې ورکړي، بايد موټر هغه ته تسليم کړي، مونږ باور لرو چې دا درسته نتيجه ده. مونږ څنګه په دې پوهېږو؟ دلته هم مونږ د مخکې په شان د وعدو د معني د پوهيدلو د پروسې څخه کار اخلو لکه د قرارداد د جوړښت د مطالعې په وخت کې چې مو د وعدې د موجوديت د تثبيتولو د پاره د هغه څخه استفاده وکړه. مونږ د قرارداد د خواوو پر پټو او سوبژيکتيفو ارادو نه شو پوهيدلای او د هغه يوه زياته برخه زمونږ د پاره مهمه هم نده.، اما مونږ کولای شو وپوهېږو چې په دې حالت کې د څه شي انتظاردرلودل معقول دی. دا به نامعقول وي که وراره ته اجازه ورکړو چې موټر لاس ته راوړي او کاکا پرېږدو چې د موټر د بيې د لاس ته راوړلو د پاره په محکمه کې دعوې وکړي، لهذا، وراره بايد د خپل کاکا د وعدې شرط پر ځای کړي او هغه ته پيسې ورکړي تر څو د موټر خاوند شي. پدې قضيه کې شرط په عين زمان کې يوه وعده ده ; که وراره پيسې ورنکړي، کاکا کولای شي چې هغه ته د موټر د تسليمولو څخه ډډه وکړي. (ځکه دده د مکلفيت شرط ندی پر ځای شوی) او کولای شي پر وراره د موافقې د ماتيدو په خاطر دعوې وکړي (ځکه وراره د موټر د بيې د ورکولو وعده ماته کړيده)

اما دا يو جنجال منځ ته راوړي. شرط احتمالا" مقابل لوري ته هم ځي. وراره مکلف ندی پيسې ورکړي تر څو کاکا موټر ورته نه وي تسليم کړی ; وراره موټر رانيسي نه د محکمې دعوې. مونږ د داسې بې معني حالت سره مخامخ کېږو چې کاکا د موټر کلی نه ورکوي او وراره پيسې نه ورکوي، هر يو د بل څخه غوښتنه کوي مخکې لدې چې دی خپل مکلفيت ادا کړي، بايد بل لوری خپل دا ادا کړي آيا دواړه د خپلو مکليفيتونو په ادا کې موافقه ماتوي، او يا يو يې هم موافقه نه ماتوي، ځکه د اجرا شرط ندی پر ځای شوی؟ دلته مونږ بيا هم بايد د خپلې تجربې او قضاوت څخه کار واخلو او يوه معقوله د حل لاره جوړه کړو. په حقيقت کې کاکا تر هغه چې د وراره د مکلفيت شرط چې بايد پيسې ورکړي نه وي پر ځای شوی، مجبوره ندی وراره ته د موټر کلی وسپاري. که دا کار وکړي، وراره به ښايي بيله دې چې پيسې يې ورکړي وي د موټر خاوند شي. پر ځای يې د کاکا د پاره دا بهتره ده چې د اجرا په غوښتنه کې خپل دريځ نرم کړي او وښيي چې دی چمتو دی ، غواړي او کولای شي خپله وعده پر ځای کړي او وراره هم بايد عين کار وکړي گ

ډير قراردادونه شرطونه لري او د مقابل لوري پر اجرا تکيه نه کوي. د بيمې د شرکت پاليسي يې ورځنۍ مثال دی. د بيمې شرکت يو د کور خاوند ته وعده ورکوي چې که دده بيمه شوي کورته هر ډول زيان ورسېږي، د هغه تاوان به ورکړي. که دې کورته هيڅکله زيان و نه رسېږي، د بيمې د شرکت د مکلفيت شرط هيڅکله ندی مطرح شوی او شرکت به هيڅکله هم کوم تاوان ورنکړي. د بيمې قراردادونه پدې توګه د قمار قراردادونو ته ورته دي ; که تاسو د لاټری ټکټ رانيسی، دولت تاسو ته وعده درکوي

پدې شرط چې ستاسو پر ټکټ ثبت شوي لمبرونه د لاتری په قره کشي که راووځي، تاسو ته به ډیرې پیسې درکړي.

کله چې محکمه پریکړه کوي چې د قرارداد په اړه یو مکلفیت شرطي دی، آیا باید مخکې لدې چې یو مکلفیت د الزام بڼه غوره کړي دا شرط باید په بشپړه توګه پر ځای شي؟ په ځینو قضیو کې یقینا" همداسې ده ; که ستاسو د لاتری لمبر را ونه وځي، تاسو نشی کولای استدلال وکړی چې ستاسو یواځې یو لمبر خطا شوی او د لاټری د جایزې غوښتنه وکړی. اما په نورو قضیو کې شرطونه د نورو لارو هم پر ځای کیدای شي او نه یواځې د قرارداد د بشپړ اجرا له لارې. د یاکوب او ینګز شرکت او کینت Jacob & Youngs، Inc. v. Kent تر منځ قضیې ته پاملرنه وکړی چې مشهور قاضي بنجامین کاردوزو په ۱۹۲۱ کال کې فیصله پرې وکړه.

کینت د یاکوب او ینګز شرکت چې یو ساختماني شرکت وو استخدام کړ تر څو دده د پاره یو عنعنوي کور جوړ کړي. په قرارداد کې د کور د جوړولو د څرنګوالي ټول جزییات او مشخصات درج شول.، یوه غوښتنه داوه چې د اوبو نلونه باید د اوسپنې او د ریدنګ پایپ د کمپني څخه وي چې دخپل وخت مشهور شرکت وو. کله چې د کور ساختمان تقریبا" بشپړ شوی وو، کینت خبر شو چې د یاکوب او ینګز شرکت دده په نوي کور کې نور پیپونه یا نلونه چې د کوهیس د کمپنۍ لخوا جوړ شوي وه نصب کړیدي. د کینت معمار د یاکوب او ینګز د شرکت څخه وغوښتل دا نلونه د دیوالو څخه وباسي او پر ځای یې د ریدنګ نلونه نصب کړي، که څه هم دا دواړه نلونه د کیفیت په لحاظ ډیر ورته او مساوي وه.

د کورونو اکثرو معقولو خاوندانو به ښایي د یاکوب او ینګز شرکت دا ګناه بخښلې وای اود قرارداد پر جدي رعایه کیدو به یې اصرار نه وای کړی، اما کینت پدې مشهور وو چې په یو ډالر پسې یې ټول ښار لټاوه، نو لهذا یې قرار داد ته ګوته ونیوله او بیله دې چې د یاکوب او ینګز پر زیات مصرف او تاوان فکر وکړي، د قرارداد د جدي او بشپړ رعایه کیدو غوښتنه یې وکړه او ګواښ یې وکړچه که دا کار ونشي، شرکت ته به د پاته پیسو د ورکولوځخه ډډه وکړي.

دا یوه جالبه قضیه ده. یاکوب او ینګز د کینت دې غوښتنې ته ځواب و نه وایه ; آیا داچه دې شرکت دا کار و نکړ په عین شان د شرط نه پر ځای کول دی لکه د وراره په قضیه کې چې د موټر پیسې یې ورنکړي او شرط یې په ځای نکړ؟ دا منصفانه ندی چې د کور جوړولو شرکت د یو بي فایدې کار کولو ته مجبور کړل شي او د کوهیس شرکت لخوا د جوړ شوو ښو نلونو پر ځای چې ډیرښه کار کوي د ریدنګ شرکت نلونه کښینول شي. (موږ دا ګمان هم کوو چې کینت فکر کاوه چې د ساختمان شرکت به دا کار ونکړي او کینت به د قرارداد له مخې د شرکت د پاته پیسو د ورکولو څخه ډډه وکړي، او بیا به نلونه هم پر خپل حال پرېږدي.)

د بلې خوا د قرارداد خواوو یوه معامله کړې وه او په مشخصه توګه یې د ریدنګ نلونو ذکر کړی وو، او یوه معامله یوه معامله ده.

اما دا معامله څنګه وه؟ پدې قضيه کې محکمې فيصله وکړه چې معامله پدې کې نه وه چې د ياکوب او ينګز شرکت بايد کور داسې جوړ کړي چې په دقيقه توګه مشخص شوي وو تر څو د کور د خاوند څخه پيسې تر لاسه کړي، بلکه يواځې پدې کې وه چې شرکت کور په بشپړه توګه د پلان مطابق جوړ کړي. د پلان څخه جزيي انحرافات لکه د بل شرکت د نلونو نصبول کوم اغيز نلري او پروا هم نلري. د کور جوړونکي حق لري خپلې پيسې تر لاسه کړي. ګکه د ياکوب او ينګز شرکت خپل کار نيمايي پرايښی واي، ښايي د قرارداد له مخې يې هيڅ شی لاس ته نه وای راوړی، اما دې شرکت خپل کار تقريبا" بشپړ کړی او کينت بايد د هغه پيسې ورکړي. قاضي کوردوزو ددې قضيې په هکله وليکل "

" هغه کسان چې د قانوني مقرراتو په انکشاف کې د عادلانه نتيجې د لاس ته راوړلو په لاره کې نسبت عملي توافق ته زيادتره پر قراينواو منطق فکر کوي، ښايي ددې طبقه بندۍ څخه چې ليکې يې ډيرې مبهمې او ناروښانه دي، د ستونزو سره مخامخ شي. بيله شکه، بايد ددې توافق او اطمينان په باره کې هم د يو جدي معيار په ګټه يو څه وويل شي. محکمو دا ملاحظات د مساوات او انصاف په وړاندې انډول کړيدي او دې نتيجې ته رسيدلي دي چې وروستنی يې ډير وزن لري "

يوه بله اړونده مسله د قناعت د شرايطو په هکله ده. فرض کړئ کينت د خپل نوي کور د دننه تزيينولو او زينت د پاره يوځوک استخدام کړي چې ددې کار د پاره يو پلان جوړ کړي. کينت يو بدخويه سړی دی چې په کوچني شيانو په قهرېږي او آواز پورته کوي. دی تزيين کوونکي يا decorator ته وعده ورکوي چې ده ته به دده د هر ساعت حق الزحمې دوه چنده پيسې ورکړي که يې دده ډيزاين خوښ شو، او که يې خوښ نه شو هيڅ پيسې به ورنکړي. تزيين کوونکئ سخت کار کوي او داسې يو پلان جوړوي چې جايزې ګټي او دهنر نقادان او نور ډيزاين کوونکي ورته چکچکې کوي. خو له بده مرغه کينت دده ددې ډيزاين څخه کرکه څرګندوي او ده ته د پيسو د ورکولو څخه ډډه کوي. آيا ويلای شو چې دا ډيزاين هم د اوبو د نلونو په شان دی چې هرڅوک هغه ښه بولي او د کور مالک هم بايد د هغه څخه راضي وي؟ اما نه پدې قضيه کې. د اوبو د نلونو څخه رضايت يواځې پدې پوري اړه لري چې نلونه سم کار کوي او که نه يعني وظيفوي مشخصات يې مهم دي، اما د يو هنري ډيزاين څخه رضايت درلودل يوه شخصي مسله ده. د کينټ دا آزادي چې په خپلو شزايطو يوه معامله وکړي ددې باعث شو چې محکمه فيصله وکړي چې که د کينټ حقيقتا" دا ډيزاين نه وي خوښ، دده د پاره دا شرط چې ډيزاين کوونکي ته پيسې ورکړي، له منځه ځي. (کينټ حقيقتا" حق لري چې دا ډيزاين يې نه وي خوښ ; اما دی نشي کولای د خپل دې ناراضي توب څخه استفاده وکړي او د قرارداد څخه چې په نورو دلايلو ور څخه ناراضي دی، پښه وباسي.)

اوس فرض کړئ چې کينټ د مرکز ګرمۍ يو شرکت استخدام کړي چې دده په نوي کور کې د تودولو يو سيستم نصب کړي او بيا موافقه وکړي چې يواځې په هغه صورت کې به دې شرکت ته پيسې ورکړي

چې د کار څخه يې راضي وي او قناعت يې حاصل شي. که کينټ ووايي چې د تودولو ددې سيستم د کار د ترتيب څخه راضي ندی، يوه محکمه به د رضايت شرط ته چندان پاملرنه ونکړي. کله چې يو واقع بينانه معيار وجود ولري (يعني د تودولو سيستم په ښه او اغيزمنه او آرامه توګه کار وکړي)، د رضايت شرط خپل مفهوم له لاسه ورکوي او محکمه هم ښايي هغه ته د تودولو د شرکت د اجرااتو د ارزيابي د پاره د يو افاقي معيار په موجوديت کې پاملرنه ونکړی ګ

همداسي چې دا مثالونه يې څرګندوي، د شرطونو قانون ډير زيات پيچلی او ډير زيات مهم دی. داچه په يوه قضيه کې شرط شته، او دا شرط څنګه دی او يا داشرط په ځاي شويدی او که نه، دا د قرارداد په اړه د دعواوو زياته برخه جوړوي.

آيا محکمه به يو چاته د قرارداد د اجراکولو امر وکړي؟

که يو څوک خپله وعده پر ځاي نکړي، نويې قرارداد مات کړيدی. د قرارداد د ماتولو يوه عامه نتيجه داده چې مقابل لوری هم په معامله کې د خپل مکلفيت د اجرا څخه ډډه کوي ګ

د قرارداد څخه د لمړي طرف سرغړونه د بل لوري د پاره د مکلفيت د پرځای کولو شرط له منځه وړي، لکه کله چې وراره د پيسو د ورکولو څخه سر وغړوي، کاکا هم حاضر ندی ده ته د موټر کلي وسپاري. که د يو چا څخه د موافقې د اجرا غوښتنه ونشي او بيا هم وشي کولاي چې د مقابل لوري د اجرااتو برخه وساتي (لکه د کور د رانيولو په پيل کې د لمړني لوي مبلغ تاديه)، دا يو لوی امتياز دی چې د قرارداد يو طرف يې درلودلاي شي.

د قرارداد د ماتولو بله نتيجه داده چې زيانمن شوي خوا کولاي شي د قرارداد د ماتيدو د پاره د زيان د جبران غوښتنه وکړي. مور ښايي فکر وکړو چې زيانمن شوی طرف بايد وشي کولاي د مقابل لوري څخه د قرارداد د اجرا غوښتنه وکړي، يعني چې هغه محصولات او شيان وروسوي او يا هغه کار چې د کولو وعده يې کړيده اجرا کړي. د قرارداد ماتوونکي ته امر کول به چې خپل مکلفيت پرځای کړي د وعدو د ساتلوپراهميت يو ټينګاروي اود زيان د رسيدو مخنيوی به هم وکړي

اما د قرارداد په قانون کې بل لوري ته د قرارداد د اجرا امر کول چه(specific performance يا خاص اجرااات بلل کېږي) يو استثنايي جبران دی او دا امر يواځې په غير عادي قضيو کې کېږي. په عادي حالت کې زيانمن شوی طرف د يوې وعدې د نه اجرا کيدو په بدل کې د پيسو په شکل د مالي جبران د لاس ته راوړلو مستحق دی او نه پخپله د وعدې د حقيقي اجرا.

درې دليله وجود لري چې محکمې خاصو اجراتو ته د فوق العاده تلافی يا جبران په توګه ګوري. لمړی يې تاريخي دليل دی. د قانون په محکمو کې د پيسو تاوان يو معمول کار وو. يو چاته دستور ورکول کيده چې د خپل عمل د جبران د پاره يو کار وکړي. دا کارعموما" د عدالت د محکمو لخوا کيده. د هغه

سياسي اختلاف په نتيجه کې چې د قانون د محکمو او د عدالت د محکمو تر منځ راغی، عادلانه جبران لکه خاص اجراات استثنايي جبران وګڼل شوګ

دوهم دليل عملي دی، په ډيرو قضيوکې د محکمو د پاره ګرانه ده چې يو چا ته د يو کار د اجرا امر وکړي او بيا وځيړي چې هغه د امر مطابق کار کړيدی او که نه. که قرارداد د يو کور جوړونکي شرکت څخه غواړي چې يوکور جوړ کړي، د اجرا د ځينو شرايطو ټاکل به آسانه وي - آيا دا کور د هغو فيزيکي ابعادو چې په پلان کې ذکر شوي دي مطابق دی او که نه – اما پر ډيرو نورو شرايطو يې څارنه کول ګران دی – آيا د کور نجاري په لازمه توګه شويده او که نه – محکمه نه غواړي چې پر ټولو پيچلو اجرااتو څارنه وکړي او د قرارداد د خواوو څرګندونو ته غوږ ونيسي، ځکه دوی بيا په مکرره توګه محکمې ته راځي او د بيلا بيلو شيانو په هکله شکايت کوي.

دريم دليل تصوري يا conceptual دی. د قرارداد د جبران اساسي اصل دادی چې هر خاص قرارداد يو پولي (د پيسو) ارزښت لري. د قرارداد د قانون هدف دادی د هغو خلکو ساتنه وکړي چې پر وعدو اتکا کوي. اما دا خلک په عين مناسبه توګه ساتل کيدای شي که دوی ته د وعدې د حقيقي اجرا پر ځای د ورکړل شوي وعدې مالي يا پولي معادل ورکړل شي ګګګ فکر کېږي چې د پيسو تاوان ورکول د قرارداد د اجرا په اندازه ښه دی، ځکه زيانمن شوی طرف ددغه پيسو څخه په استفاده سره کولای شي په مارکيټ يا بازار کې د وعدې عوض ومومي. که قرارداد د کور جوړولو په هکله وي او کور جوړونکی د قرارداد د اجرا څخه انکار وکړي، مالک کولای شي يو بل د کور جوړولو شرکت استخدام کړي او په محکمه کې د منکر شوي کور جوړونکي څخه د لووړو مصارفو (که وجود ولري) غوښتنه وکړي ; اوکه مالک قرارداد مات کړي، د کور جوړولو شرکت په عين توګه کولای شي د هغې ګټې غوښتنه وکړي چې ده ددې کار د اجرا له لارې تر لاسه کاوه.

دا اصل چې مالي يا پولي تاوان د قرارداد د اجرا د پاره يو ښه عوض دی، دومره قوت لري چې دهغه د پاره ډيرې لږې استثناوې شته.

يواځې په هغو حالاتو کې چې مالي تاوان ونشي کولای د موافقې اجرا تعويض يا جبران کړي، يعني زيانمن شوي طرف د قرارداد څخه د يو خاصې اجرا په تمه وي. دا معمولا" هغه وخت پيښېږي چې يو بينظيره شی خرڅ شوي وي او په بازار کې يې عوض و نه موندل شي. که يو اخيستونکی د جنرل موټرزد معامله کوونکي سره د يو نوي کاديلاک دو ويل موټر د رانيولو قرارداد وکړي، او معامله کوونکی دا قرارداد مات کړي، اخيستونکی د خاصې اجرا مستحق ندی، ځکه کولای شي عين موټرپه يو بل ځای کې رانيسي. اما که يو اخيستونکی د ۱۹۹۲ ماډل کاديلاک

موټر د رانيولو قرار داد وکړي، او پلورونکی قرارداد نقض کړي، دا به د اخيستونکي د پاره ګرانه وي چې عين ماډل موټر په عين شرايطو په بل ځای کې وموميِ. اما حتې پدې حالت کې به هم محکمه ووايي چې د پيسو تاوان کفايت کوي، ځکه اخيستونکی کولای شي يو ورته موټر په بل ځای کې وموميِ. اما که اخيستونکی د ۱۹٦٦ ماډل طلايي رنګه کاديلاک موټر چې ايلويس پريسلي چلاوه د رانيولو قرارداد وکړي،

او قرارداد نقض شي، پدې صورت کې اخیستونکی د خاصې اجرا مستحق دی. د ایلویس پریسلي کادیلاک بې ساری او بینظیره دی او هیڅ مالي تاوان دا زیان نشي جبیره کولای.

دا اصل چې مالي یا د پیسو تاوان د قرارداد د اجرا د پاره یوه ښه عوض دی، په ټولنه کې پر هغې خاصې نظریې ولاړ دی چې د قرارداد د قانون د رول په هکله وجود لري. د قرارداد قانون یواځې د اقتصادي اړیکو په هکله دی چې هیڅ ډول اخلاقي محتوې نلري. د یوې وعدې د نه پر ځای کیدو یواځنی نتیجه داده چې د وعدې ماتوونکی د مقابل لوري زیان تلافي کړي. په اخلاقي لحاظ د وعدې نقض نه محکومېږي، لهذا، قانون د وعدې ماتوونکي ته امر نه کوي چې خپله وعده پر ځای کړي، که نه نو بیا به مجازات وویني. په معاصر وخت کې دا یو حیرانوونکی اقتصادي اصل ګرځیدلی دی چې د efficient breach یا اغیزمن نقض په نامه یادېږي ګ

که یو طرف قرارداد نقض کړي، ځکه دی په یو بل ځای کې یوه بله ګټوره معامله کولای شي، دا نه یواځې یو بد کار ندی بلکه د ستاینې وړ هم دی. تر هغه چې د قرارداد نقض کوونکی تاوان ورکوي، د اقتصادي اغیزمنتوب په ګټه کار شویدی او هر څوک خوشحاله دی، یعني زیانمن شوی طرف په قرارداد کې د ورکړل شوي وعدې معادل تاوان تر لاسه کوي او د قرارداد نقض کوونکی خپله ګټوره معامله کوي.

د سلیم عقل دنظره، اغیزمن نقض هم بشپړ ځواب ندی. مونږ په عمومي توګه خپل قانوني سیستم ته د یو اخلاقي نظام په سترګه ګورو. یو کار چې د قرارداد قانون یې باید وکړي دادی چې د ښه او بد تعریف وکړي. دا ښه دی چې یوه وعده پر ځای شي او بد دی که وعده نقض شي. د تاوان ورکول حقیقي جبران نشي کولای. اما دا نظر د قرارداد د قانون د جبران د اصل له مخې په تقریبا" متحد الاشکله توګه رد شویدی.

یو څوک باید د خپلې وعدې د نه پر ځای کولو د پاره څومره تاوان ورکړي؟

قراردادونه واجب الاجرا دي ځکه خلګ د هغه چا څخه چې یوه وعده ورکوي دا انتظار لري چې خپله وعده پر ځای کړي. کله چې وعده نقض شي، د زیانمن شوي طرف انتظار معمولا" د قرارداد د تاوان لاس ته راوړل دی.

دې ساده مثال ته پاملرنه وکړئ. یو بزګر موافقه کوي چې د کډوانو یو ډک موټر بار په سل ډالره یو دکاندار ته چې د سړک پر غاړه دکان لري ورسوي. کله چې بزګر و نشي کولای دا کډوان دکاندار ته ورسوي، دکاندار د یو بل بزګر څخه د کډوانو یو ډک موټر بار په ۱۲۰ ډالره رانیسي. د دکاندار انتظار داوو چې د کډوانو د بار د پاره سل ډالره ورکوي، نو د لمړي بزګر څخه چې وعده یې نده پرځای کړې د شل ډالرو د تاوان غوښتنه دده انتظار پوره کوي. که دکاندار دا کډوان د بل چا څخه په سل ډالره یا تر هغه لږ لاس ته راوړي، لمړي بزګر کوم تاوان نه ورکوي، ځکه دکاندار په داسې حالت کې دي لکه لمړي بزګر چې خپله وعده پر ځای کړي وي، او د تاوان د ورکولو څخه هم خلاص دی ګګ

په عين توګه، که د کاندار د بزګر د کډوانو د اخيستلو څخه ډډه وکړي او بزګر هغه پر بل چا په ۹۰ ډالرو خرڅ کړي، دکاندار بايد ده ته لس ډالره ورکړي، تر څو بزګر هغه حالت ته راشي لکه دکاندار چې خپله وعده پر ځاي کړي وي، يعني په موټر کې يو کډو هم نه وي او د بزګر په جيب کې سل ډالره وي. او که د کډو بيه و نه لوړي او بزګر هغه پر بل چا په سل ډالره خرڅ کړي، په هغه صورت کې دکاندار هم د تاوان د ورکولو څخه خلاص دی.

په ټولو دغو قضيو کې موږ داسې فکر کړيدی چې زيانمن طرف نور مصارف نلري، نه د نورو کډوانو په رانيولو او يا پر بل چا باندي د کډوانو په خرڅولو کې. که داسې مصارف وجود ولري، دا به د تاوان سره جمع شي. د مثال په توګه که بزګر مجبوره شي د دکاندار لخوا رد شوي کډوان په موټر کې يو ليري ځاي ته يووسي او هلته يې له سره خرڅ کړي، بزګر کولای شي د حمل او نقل مصرف لاس ته راوړي. او که دا مصارف تر لاسه نکړي دده انتظار د قرارداد څخه په بشپړه توګه ندی تسکين شوی.

فرض کړئ چې بزګر وعده نقضوي او دکاندار هم د بل چا څخه کډوان نه رانيسي. قانون وايي دکاندار بيا هم د تاوان د لاس ته راوړلو مستحق دی. او دا تاوان ددې له مخې چې که دکاندار د عوضي کډوانو د پاره پيسې ورکړي وای، اندازه کېږي. که د يو موټر بار کډوانو بيه په بازار کې ۱۲۰ ډالرو ته ختلی وی، د کاندار د شل ډالرو تاوان د لاس ته راوړلو مستحق دی، که څه هم په عمل کې ده ته دا زيان ندی رسيدلی. د قرار داد په اړه د زيان جبيره د وعدې د اجرا د انتظارپر بنسټ کېږي او نه د هغو اعمالو پر بنا چې يو چا د وعدې داجرا پر انتظار باندې د اتکا له مخې کړې وي. ددې عوامل مبهم دي، اما دا د هغو مشکلاتو سره اړيکه لري چې ځيني وخت دير ګران وي چې ثابت شي چې يو چا حقيقتا" پر يو خاص قرارداد ډيره اتکا کړې وه. که اخيستونکی د سړک د غاړې د دکان مالک نه وي اود ليبيز Libbys شرکت وي چې په زرهاوو موټره کډوان رانيسي او د هغه څخه سمبوسه ډوله ډير خوږ شي pie جوړوي، دا به ډيرګران وي چې د يو خاص قرارداد نقض او د هغه د خاص عوض اړيکي ومومو، اما مونږ داسې تصور کوو چې يو زيان بايد په هر حال رسيدلی وي.

دا به څنګه وي که په قرارداد کې د کډوانو رسول د اکټوبر دمياشتې پر پنځلسمه وي او د دکان خاوند يو خاص ترتيبات نيولي وي چې دا کډوان په يوه لوړه بيه د ښوونځيو د شاګردانوپر ډلو خرڅ کړي چې هغوي بيا د هغه څخه د هالووين Halloween د جشن د پاره د Jack O څراغونه جوړوي. که بزګر و نشي کولای کډوان پر ټاکلي وخت ورسوي، دا د دکاندار د پاره ډير ناوخته دی چې د بل ځای څخه کډوان لاس ته راوړي، لهذا دده زيان د کډوانو د عادي بيرته خرڅولو په پرتله زيات دی. دلته د دکان د مالک انتظار تر عادي حالت لوړ دی، او مسله په دې کې ده چې کوم طرف بايد د زيان بار پر غاړه واخلي. د دکان مالک به خپل د لوړې ګټې انتظار ته اشاره وکړي، اما بزګر به په ځواب کې وايي چې دی د دکاندار د خاصو ترتيباتو او پلان څخه نه وو خبرګ قانون وايي يواځې په هغه صورت کې چې بزګر خبر وي او يا په معقوله توګه بايد د دکاندار په خاص زيان وپوهېږي، دی به د زيان مسوول وبلل شي. څرنګه چې د يوې وعدې د نقض د پاره اخلاقي محکوميت وجود نلري، هغه طرف چې وعده کوي، د هغه څخه

یواځې د معقول عمل د کولو غوښتنه کېږي، چې په هغه کې د هغه د زیان جبیره کول چې ده باید پیشبیني کړی وای شامل دی. دا د شبه جرم یا د تاوان د قانون د مقرراتو سره یو جالب توپیر ښکاره کوي چې په هغه کې هغه طرف چې یو چاته زیان رسوي د ټولو نتایجو که د پیشبیني وړ وي او که نه وي، مسوول بلل کېږي ځکه د تاوان په قانون کې خطا د قرارداد د قانون په نسبت ډیر اهمیت لري گگ

که د قرارداد د زیان مقررات حقیقتا" سم کار کړی وای، خلکو به ندرتا" خپلې وعدې نقض کړي وای. مگر دا چې یو څوک حقیقتا" یوه کټوره معامله ومومي او خپل موجود قرارداد نقض کړي، په نورو حالاتو کې دا هیڅ په گټه نده چې یوڅوک قرارداد نقض کړي او د مقابل لوري زیان ورکړي.

اما د قرارداد د زیان مقررات سم کار نه کوي.

یو دلیل دادی چې د زیان مقررات تقریبا" تل د طرف زیان په کافي اندازه نه جبیره کوي. دا بعضا" پخپله ددې مقرراتو د محدودیتونو له کبله پیښېږي. یو مثال یې دا غوښتنه ده چې زیان باید د پشبینی وړ وي، چې په دې توگه به ډیر خاص زیانونه نشي جبیره. همدا شان د بعضو قضیو د پاره د ثبوت یو لوړ معیار ټاکل شویدی او زیانمن شوی طرف نشي کولاي هغه تاوان تر لاسه کړي چې ده د قرارداد د نقض په وخت کې کولاي شوای د هغه مخنیوی وکړي یا یې اندازه راکښته کړي.

په عمومي توگه، د تاوان لاس ته راوړل ډیر خرڅ لري. زیانمن طرف باید د تاوان د جبیرې د پاره یو وکیل ونیسي او په محکمه کې د دعوې مصارف ورکړي. دا مصارف هم یو زیان دی چې د نقض شوي قرارداد په نتیجه کې طرف ته رسېږي چې د قرارداد د زیان په توگه ده ته بیرته نه ورکول کېږي. لهذا، که یو زیانمن شوي طرف ته لس زره ډالره تاوان رسیدلی وي، د هغه د لاس ته راوړلو د پاره ښایي دی دوه زره ډالره وکیل ته د حق الزحمې او نورو مصارفو د پاره ورکړي گ

پدې معنې چې دده زیان هغسې چې شاید او باید نه جبیره کېږي سربیره پردې د دعوې بهیر ډیر وخت په برکې نیسي او د هغه مالي او روحي بار هم نشي تلافي کیدای، همدا وجه ده چې د قرارداد په قضیو کې ډیر د نقض موارد په تعقیبولو نه ارزي.

اما د یو بیل جهته، په یاد راوړئ چې د قرارداد د زیان تلافي د قرارداد د قانون د مسوولیت د مقرراتو په شان شاته پاتي دي. د قانوني جبیرې یا تلافی گوابښ دومره اهمیت نلري چې د نورو فکټورونو په شان خلگ د خپلو وعدو د نقض څخه راوگرځوي، خلگ به د خپلو وعدو د ماتولو څخه ډډه وکړي، ځکه چې دوی فکر کوي چې دا یو بد کار دی. نور خلگ به ښایي د دوی په هکله بد فکر وکړي که دوی خپلې وعدې نقض کړي، ځکه شهرت په تجارت کې یوه ډیره ارزښتناکه متاع ده. او که دوی قرارداد نقض کړي، د دوی د قرارداد شریکان به په راتلونکي کې د دوی سره معامله ونکړي. پدې توگه د قرارداد د زیان تلافي لکه د قرارداد د قانون نورې برخې، یواځې د داستان یوه برخه ده.

۷

ته هغه څه يې چې لرې يې
د مالکیت قانون

د مالکیت قانون هغه اساسي مضمون دی چې ممکن د حقوقو محصلین ډیر بي حوصلې کړي او وې ځوروي. د مالکیت د قانون بنیادي اصل ساده او آسانه دی. که تاسو د یو شي مالک و اوسی، هغه شی ستاسو دی او تاسو کولی شی هغه څه ورسره وکړی چې غواړی یې. خو د هرې بلې موضوع په نسبت د قانون د زر کلن تاریخ بار د مالکیت د قانون پر اوږو پروت دی چې خپل ډیر زیات تخنیکي مشخصات او ځانګړیتوبونه لري. آیا تاسو پوهېږی چې تاسو ته ښایي ستاسو کور په قانوني توګه په میراث پاته شوی وي او تاسودهغه مطلق اوبلا معارض مالک یا fee simple absolute

و اوسی، مګر دا چې ستاسو د میراث د حق مطلق توب او بلا معارض توب په یو شرط پوري تړلی وي؟ او که مو نیت وي چې پیسې مو لمسو ته پاته شي نو احتیاط وکړئ چې د مالکیت د دایمي توب او د انتقال ناپذیری د مقررې څخه سر و نه غړوی. د فیوډالیزم د زمانې دا دواړه پاته شونې او داسې ګڼ نور اصول اوس هم په خپل حال پاته او خپل اغیز لري.

په عین زمان کې د مالکیت قانون د ټولنې د لویو سیاستونو او د ټکنالوژی د پرمختګ د موضوعاتو او مسایلو سره هم نژدې اړیکې لري. آیا حکومت کولی شي چې د ساحل د نړیدلو د مخنیوي لپاره په حایلو ټاپوګانو کې پر مختګ او انکشاف محدود کړي؟ که مالک خپل په کرایه ورکړی اپارتمان ترمیم نکړي، آیا مستاًجر یا کرایه نشین کولي شي هغه تر میم کړي او لګیدلي پیسې له کرایې څخه وضع یا لږ کړي. که یو څیړونکی ډاکتر د یو ناروغ له وینو څخه یو با ارزښته تجارتي محصول منځ ته راوړي، ددې محصول مالک به څوک وي؟ ناروغ که ډاکتر؟

مونږ دا فصل د یولړاساسي اصولو په تشریح پیل کوو او بیا به له منځنینو پیړیو تر اوسني وخته پوري د مالکیت د حق یو لړ تر ټولو مهم مسایل وڅیړو. دا موضوع دومره پراخه ده چې مونږ دلته یواځې کولي شو پر مهمو او غټو ټکو رڼا واچوو.

د مالکیت حق څه ته وایي؟

زمونږ په ټولنه کې خلک د مالکیت په باره کې خپل یو تعبیر او تصور لري. په دې فصل کې مونږ هڅه کوو چې د مالکیت په اړه د خلکو د تعبیر اود قانون د مفهوم تر منځ توپیر څرګند کړوګ راځئ خپل بحث د مالکیت په باره کې له هغه تصوره پیل کړو چې ماشومان یې د مالکیت په باره کې لري او هغوی دا تصور له خپلو میندو او پلرونو څخه تر لاسه کړیدی. یوه وړه انجلۍ د مالکیت په باره کې یو واضح تصور لري. " زما " د وړې سوزي ناوکۍ (ګوډۍ) یا د هغې د خوښې کمپله، دا ددې ملکیت دی. وړه انجلۍ له " زما " څخه د مالکیت معني اخلي. دا د مالکیت په اړه هغه مفهوم دی چې د هغې مور و پلار یې ممکن د خپل کور، موټر یا پیسو په اړه چې د مالکیت نور مثالونه دي، پخپل ذهن کې ولري. د مالکیت په باره کې ددغه مفهوم اصلي ټکی هماغه دی چې په اتلسمه پیړۍ کې د انګلستان د قانون په باب د معتبر کتاب لیکونکی سر ویلیم بلیک ستون Sir William Blackstone داسې بیان کړیدی:

" په دنیا کې د بل هرچا له استحقاقه پرته په شیانو باندې انحصاري او استبدادي سلطه او حاکمیت ګ"

مالکیت له شتمنۍ څخه د استفاده کولود کنټرول قابلیت ته وایي. وړه سوزي کولي شي لوبه جوړه کړي او ووایي چې ګوډۍ یا ناوکۍ یې میلمنه ده او د ګوډۍ مور اوس بهر کار ته تللې ده. دغه شان د انجلۍ موروپلار کولي شي چې خپل کورته نارنجي رنګ ورکړي، د خوب تخت د ناستې په خونه کې کښېږدي او یا مثلا" د چالز مانسن پوسترونه پر دیوال وځړوي. وړه انجلۍ کولي شي یوې ملګرې ته اجازه ورکړي د هغې د ګوډۍ سره لوبې وکړي او یا یې له خپلې ګوډۍ سره له لوبو منع کړي، لکه څنګه چې د هغې موروپلار کولی شي ګاونډیو ته خپل کورته دننوتلو اجازه ورکړي او یا یې ورنکړي. وړه انجلۍ کولی شي خپله ګوډۍ خپلې ملګرې ته ورکړي یا یې له هغې سره د لوبې په بل شي بدله کړي، او یا داسې ونکړي. همدا شان د وړې انجلۍ موروپلار کولي شي خپل کور په هره بیه چې ورباندې کښیښودل شي وپلوري او یا یې و نه پلوري او ځان ته یې وساتي.

د شیانو دمالکیت مفهوم د څو سوو کالو د پاره د مالکیت په اړه د عرفي قانون یا common law بنیادي اصل وو (common law د انګلستان حقوقي سیستم چې د مدني قانون او کلیسایي حقوقو سره توپیر لري، ځکه د انګلستان د حقوقو دا برخه د پارلمان لخوا د قانون په توګه منځ ته نده راغلي. ددې سیستم اصول د انګلیسي مهاجرو لخوا امریکا ته نقل شول او د هغه ځای په ټولنیزو او محیطي شرایطو کې یې انطباق وموند اود قضایي رویې په توګه ومنل شو. ژ). د مالکیت قانون د هغه شیانو په هکله وو چې وګړي یې

مالکان وه او هم د هغو لارو چارو په باره کې وو چې دغه شیان یې د وګړو په ملکیت کې راوستل. اما په شلمه پیړۍ کې د مالکیت د مفهوم دواړو عناصرو یعني هم شیان د مالکیت د قانون د موضوع په حیث او هم مطلق مالکیت خپله زړه معنې له لاسه ورکړه او په دې ډول د مالکیت قانون پراخ شو او نوي غځونې یې وکړې. راشئ اول د مالکیت د موضوع یعنې د شیانو په باره کې فکر وکړو. د وړې انجلۍ ګودۍ او د هغې د موروپلار کور دوه شیان دي چې کیدای شي د چا د مالکیت برخه شي. تقریبا" هر محسوس او عیني شی د مالکیت موضوع ګرځیدلی شي. مونږ باید " تقریبا" " ووایو، ځکه ځیني داسې عیني او محسوس شیان شته چې په مالکیت ګنډلو کې یې د نظر اختلاف شته. وړه انجلۍ له خپل موروپلار سره تعلق لري، مګر د هغوی ملکیت ندی (خو که دا انجلۍ د امریکا له کورني جګړې مخکې یوه تور پوستې امریکایي وای، بیا دا ممکنه وه چې د یو چا ملکیت یاشتمني ګنډل شوې وای. دغه مثال راښیي چې د مالکیت حدود بدلېدلی شي.) د وړې انجلي سوزي د پلار د پښتورګو په باره کې به څه ووایو؟ د هغه پښتورګوته به لدې جهته وګورو چې بل څوک یې ورڅخه نشي وړلای، نو دده شتمني او ملکیت دی. اما آیا دا پدې مفهوم هم دده ملکیت حسابولای شو چې دی یې پر بل چا چې اړتیا ورته لري پلورلی شي؟ (په ځینو هیوادونو کې ددې پوښتنې ځواب مثبت دی خو په امریکا کې لږ تر لږه ددې کتاب د لیکنې تر وخته، ځواب منفي دی)

مالکیت او شتمني په عیني او محسوسو شیانو نه شو محدودولی. که د وړې انجلۍ پلار یو لیکوال وي، نو دی د هغو ناولونو د چاپولو حق لري چې ده لیکلي دي. دا د فکري شتمنۍ یوه غیر عیني بڼه ده. دی د کتابونو مالک ندی، بلکه د چاپولو او خپرولو مالک یې دی. د سوزي مور و پلار ښایي اسهام stocks، پور پانې یا bonds ولري. ددغسې مالي وسایلو درلودل زمونږ په هیواد کې د شتمنیو ډیر عام او متداول شکل دی. وړه انجلۍ ممکن په هغه امانت یا trustکې ذینفع وي چې نیکه او انا یې د یو تاجر یا یو اقتصادي شرکت سره په امانت یا ودیعه ایښې وي، تر څو دا انجلۍ وروسته خپل د کالج یا پوهنتون مصارف په پوره کړي. وړه انجلۍ د ترست یا امانت مالکه نده، خو د امانت د شتمنۍ په ساتنه او د هغې د عوایدو په تر لاسه کولو کې قانوني حق لري ګ

کله چې قانون په غیرعیني مالکیت کې حق لرل ومنل، نور نو " شی"، منظور محسوس اوعیني شی دی، د مالکیت په مفهوم کې د یو اصل په توګه تغیر وموند. آیا د دولت د ټولنیزو مرستو د تر لاسه کولو حق مالکیت بللی شو؟ نور دولتي امتیازونه او مزایاوې څنګه؟ د موټر چلوونکو لایسنس، د ټکسي چلولو جواز او د تلویزیوني خپرونو جواز مالکیت وبولو او که نه؟ آیا یو کارکوونکی یا مستخدم پر خپله وظیفه د مالکیت حق لري؟ آیا د امتیاز یا اسحقاق نور ډولونه په بالقوه توګه د مالکیت موضوع کیدای شي؟

د محسوسو شیانو څخه غیر محسوسو شیانو ته د مالکیت د مفهوم پراخول د مالکیت د حقوقو پوهان د ستونزو سره مخامخ کړل. که مالکیت یواځې پر محسوسو شیانو منحصره نه وي، په هغه صورت کې به د مالکیت د قانون حدود او حوزه کومه ګوي؟ که د مالکیت په حق کې په بالقوه توګه هر با ارزښته

منبع شامله وي، بيا نو هر شی د مالکيت د حق موضوع ګرځي. اما که هرشی مالکيت و ګڼل شي، بيا به د مالکيت په قانون کې يو حقيقتا" خاص شي وجود ونلري.

د حقوقو د تحصيل ځينو مرکزونو په منطقي توګه دې بحران ته په ځواب کې مالکيت د لازم تعليمي نصاب څخه ليري کړ او پدې نظر شول چې د مالکيت حق يواځي د جلا او مجزا موضوعاتو يوه مجموعه ده چې فکري بنياد او اساس نلري.

ددې پوښتنو مطرح کول د مالکيت د دوهم عنصر له منځه تلل څرګندوي او هغه د مطلق حاکميت اصل دی. د سوزي موروپلار د خپل کور مالکان دي، اما دوی دBlackstone د مطلق حاکميت د نظريې له مخې هغسې مالکان ندي. دوی د خپل دې مالکيت څخه د هر شي د پاره چې غوښتي يې وي استفاده نشي کولی. که دوی وغواړي په خپل دې ملکيت کې مغازه جوړه کړي، د سيمې د ښاروالی مقررات ښايي د دوی ددې کار مخنيوی وکړي. که دوی په خپل کور کې د لوړ موزيک ميلمستياوې جوړې کړي، او يا فضله مواد د خپل د کور مخې ته وغورځوي، ګاونډيان او يا سيمه ايز چارواکې به ددې کار د مخنيوي د پاره قانوني اقدامات وکړي. د انجلۍ موروپلار همدا شان نشي کولی نور کسان ددوی د ملکيت د استفادې د نورو ډولونو څخه منع کړي. د کور د مخې پياده رو ددوی ملکيت دی، اما دوی نشي کولاي لارويان ورباندې له تګه منع کړي. ښايي نور خلک هم د دوی په شتمني کې منافع ولري. کله چې دوی پيسې په پور اخلي چې کور په رانيسي، دوی بانک ته د قرار داد يو حق ورکوي (يعني وعده ورکوي چې دا پيسې به تاديه کړي) او د پور د سوځيدو د مخنيوي د پاره خپله شتمني په ضمانت کې ورکوي.

کله چې مونږ پر غير محسوسو شيانو د مالکيت وسعت او د مطلق مالکيت د مفکورې له منځه تلل يو ځای مطالعه کوو، نو وينو چې شتمني حقيقتا" يواځې پر شيانو باندې د مالکيت په درلودلو سره نده، بلکه مالکيت د ارزښتناکو منابعو په وړاندې د خلکو له اړيکو سره تعلق نيسي. دغه اړيکې د بشپړ تصرف په باب د وړې انجلۍ يا د بلکستون د تصور له مخې نه تعريف کېږي، بلکه نظر شرايطو ته يې بڼه بدلېږي. د مالکيت په قانون کې د مالکيت يواځنۍ مفهوم نه بلکه د حقوقو يوه مجموعه شامله ده. په دې لړ کې ډول ډول قانوني ارتباطات چې خلک يې د خپلو ګټو په اړه لري، موجودې دي. د بالقوه حقوقو يوه مجموعه په يوه شتمني کې د مالک منافع تعريفوي. د حقوقو مجموعه به د لرګيو يوه ګيډۍ وبولو. که يو څوک د يوې شتمنۍ په اړه د ګيډۍ ټول لرګي ولري، مونږ دغه نفر د نوموړي شتمنۍ مالک ګڼو. خو که د يو چا سره د ګيډۍ ټول نه بلکه لويه برخه لرګي وي، يا يو شمير په خاص ډول مهم لرګي ورسره وي، مونږ ښايي بيا هم هغه مالک وبولو. دلته خبره د ډيرو مهمو لرګو يا په شتمنۍ کې د منافعو ده چې د يو چا سره ممکن تعلق ولري. څرنګه چې مالکيت مطلق ندی نو دا ټول له محدوديتونو سره مخامخ دي :

- د استفادې آزادي : د سوزي موروپلار بيله دې چې د بل چا څخه اجازه واخلي، له خپل کور څخه تر ډيره حده بيلا بيلې استفادې کولي شي.

- د مستثنا ګرځولو حق : بل هیڅوک حق نلري چې د سوزي د موروپلار له اجازې پرته د دوی له کوره استفاده وکړي.
- د انتقال اختیار او صلاحیت : د سوزي موروپلار خپل کور خرڅولي یا پریښودلی شي. دغه راز دا فیصله کولی شي چې له مړینې وروسته به یې د کور برخه لیک څه وي. وړې انجلۍ ته به یې سپاري او که S.P.C.A ته.
- له صدمې او زیان څخه د ساتلو حق : له څنګه چې بل څوک له کوره د استفادې حق نلري، بل څوک دا قانوني واک هم نلري چې کور ته تاوان ورسوي. که یو ګاونډی د خپل کور ونه غوڅه کړي او ونه ددوی د کور پر بام ولوېږي او د دوی د کور بام ته تاوان ورسوي، د وړې انجلۍ پلار د بام د ترمیم د پاره له ګاونډي څخه تاوان غوښتلی شي.

هغو څو طریقو ته کتنه کوو چې د هغو په ذریعه د مالکیت بنیادي حقونه تعریف کېږي، ټاکل کېږي او څرګندېدوي چې د مالکیت حق تر ډیره حده نسبي دی او نه مطلق. معمولا" د مالکیت له حقوقو څخه یو ډیر مهم حق دادی چې نور کسان د یو چا له شتمنۍ څخه د استفادې اجازه نلري. ددغه حق ځینې اړخونه څرګند دي. یو بې کوره سړی نشي کولي چې ستاسې د اجازې پرته ستاسې په کور کې شپه تیره کړي. ستاسې مځکې ته د هر چا داخلیدل چې ستاسو اجازه په کې نه وي او یا پدې برخه کې قانوني امتیاز ونلري، تخلف دی. که ستاسو پر مځکه یو څوک تیرېږي او فضله مواد په کې اچوي او یا حتې که ستاسو د کور په چمن باندې د یو چا سپی ګرځي، دا تخلف دی. د دود له مخې د مځکې د خاوند په باره کې فکر کیده چې نه یواځې د مځکې مخ دده دی بلکه دمځکې لاندې چې هر څه دي او تر اسمانه پورې د مځکې فضا هم دده ده. د مځکې د لاندې برخې د مالکیت په باره کې اوس هم پخوانی فکر موجود دی. ستاسو ګاونډی نه شي کولی ستاسو تر مځکې لاندې تونل تیر کړي یا ستاسو تر مځکې لاندې کانونو ته نغم وباسي. اما د مځکې د فضا په باره کې اوس بل فکر موجود دی. که الوتکه ستاسو د کور د پاسه په دیرش زره فیټه ارتفاع کې تیره شي، دا تخلف ندی، او یا که ستاسو د جایداد د پاسه مصنوعي سپوږمۍ تیرېږي او د مځکې پر مدار چورلي، دا هم تیری او تخلف نه دی.

اما د بل چا ملکیت ته ځینې ننوتنې یو امتیاز دی او تیری نه ګڼل کېږي. د مثال په توګه د کور خرڅوونکی وروسته تر خرڅلاو یو معین وخت لري هغه شیان او لوازم چې پاته دي له کور څخه وباسي، مګر داچه خواوو موافقه کړې وي چې د کور د خرڅوونکي ټول شیان او لوازم باید تر خرڅلاو دمخه د کوره ویستل شوي وي. عامه مامورین لکه پولیس، د اطفاییې کارکوونکي او د روغتیایي چارو څارونکي په خاصو شرایطو کې اجازه لري یو ملکیت ته داخل شي او عامه امنیت وساتي. د کور د مخې پیاده رو د سوزي د موروپلار ملکیت دی، خو دوی نشي کولی پر هغه باندې د لارویانو د تیریدو مخنیوی وکړي.

که د سوزي موروپلار په خپل ملکیت کي یو دکان یا مغازه ولري، د تبعیض ضد قوانین دوی ته اجازه نه کوري د نژاد پر اساس د ځینو مشتریانو د راتګ مخنیوی وکړي.

فرض کړئ پر یو ملکیت فیزیکي تیری نه بلکه یو بل ډول تیری شویدی. آیا د ملکیت خاوند دا حق لري په خپل ملکیت کې د لوړ آواز، بوی او یا دود د داخلیدو او یا د ټکانونو مخنیوی وکړي؟ که تاسو د کیمیاوي سرې د جوړولو فابریکې ته نژدې ژوند وکړی او ددې فابریکي بد بویونه ستاسو په ملکیت کې احساس شي او یا ځیني وخت خاصې دوړې ستاسو پرملکیت کښینې، آیا ستاسو پر ملکیت تیری شویدی؟ دې پوښتنې ته د قانون ځواب مثبت دی که دا ډول تخلف او تیری ستاسو پر ملکیت باندې په نامعقوله توګه شوی وي. ستاسو پر ملکیت باندې دا ډول تیری آزار او اذیت یا nuisance بلل کېږي. دا ښایي د سیمه ایزو مقرراتو او یا د ایالتي قانون پر ضد هم وي چې د دا ډول پرابلمونو د پاره وجود لري.

ستونزه البته ددې په ټاکلو کې ده چې څه وخت یوه دوړه، یو بد بوی یا لوړ آواز نامعقول وګڼل شي. ستاسو د ګاونډي ماشوم هره ورځ وروسته له ښوونځي څخه د پیانو د زده کولو تمرین کوي؟ ددې ماشوم ځوان ورور او دده د راک rock موسیقي ډله تر ښوونځي وروسته د یو ساعت د پاره په ډیر لوړ آواز موسیقي ږغوي؟ یا د درې ساعتو د پاره؟ یا په نیمه شپه کې؟ یوه شپه مخکې له خپل کنسرټ څخه؟ هره شپه؟ هغسې چې تاسو وینی دلته باید قضاوت وشي. محکمه باید د داسې تیریوپر نوع او شکل او څه وخت او چیرې باندې غور وکړي او داچه دا تیري څومره کېږي او دا ستاسو پر هغه خوند او لذت باندې چې د خپل ملکیت څخه یې اخلی، یا ستاسو د ملکیت پر اقتصادي ارزښت څومره اغیز لري، دا ټول باید وسنجول شي ترڅو یو خاص کار یا عمل اذیت او آزار وګڼل شي. دا ډول قضاوت د محکمې کار دی او هغه اړیکې او روابط تعریفوي چې د ملکیت د حق ساحه ده.

په دې توګه د مالکیت قانون د شیانو یا په یو ساده مفهوم سره د شیانو د مالکیت په هکله ندی، بلکه د مالکیت قانون لکه ټول نور قوانین په ټولنه کې د ارزښت د سهم یا تخصیص په هکله دی. دا هرو مرو د اقتصاد او سیاست د مسایلو او د هغه تصور سره چې مونږ یې د یوې ښې ټولنې په باره کي لرو تړاو لري. بیا نو مونږ ددې پوښتنو څیړنې او تفحص ته اړتیا لرو چې څه شی ملکیت توجیه کوي، یو شی ملکیت بلل څه معنې لري، او ددې پوښتنو ځوابونه څرنګه د ټولنې د مسایلو او د قدرت او عدالت سره تړلي دي.

ولي مونږ د ملکیت قانون ته اړتیا لرو؟

لمړی پوښتنه، لکه د قانون په هره بله برخه کې داده چې ولې مونږ اساسا" د ملکیت قانون ته اړتیا لرو؟ په خاصه توګه ولي مونږ د خصوصي مالکیت یو سیستم ته اړتیا لرو؟ پدې کې به څه غلطي وای که هر څوک په عامه توګه د هرشي خاوند وای او یا داسې وای چې قانون چاته د کوم شي د مالکیت حق نه وای ضمانت کړی؟

حقیتا" مونږ خصوصي مالکیت ته اړتیا نلرو او دا به د یوې ټولنې د پاره نا ممکنه نه وي چې بیله مالکیت څخه ژوندی پاته شي. مونږ پدې پوهېږو ځکه نورو ټولنو د مالکیت د قانون په هکله د نورو مفکورو څخه په ښه توګه پیروي او استفاده کړیده. زمونږ د ټولنې سلف یعني فیوډالي انګلستان ته وګورئ.

په منځنیو پیړیو کې مخصوصا" په ۱۰٦٦ م کال کې د نورمنانوNormans تر فتحې وروسته انګلیسي ټولنه او حکومت بل ډول تنظیم شوی وو او د نن ورځې د ټولنې سره یې ډیرتوپیر درلودګ. د هغه وخت د ملي سرود یو بند چې چندان د چا په یاد ندی او وایي " هرشی روښانه او ښایسته دی، د فیوډالي ژوند د سلسلهً مراتب طبعت داسې خلاصه کوي :

بډای په خپله مانې کې ،
مسکین یې په دروازه کې ،
خدای ځیني لوړاو ځینې کښته کړل ،
او دهر یو رتبه او ځای یې وټاکل ګ

د فیوډالي نظام د هرم په راًس کې پاچا وو او ترهغه کښته بیا اشراف او نخبه ګان او تر هغوی کښته بیا په ترتیب سره کوچني اشراف، لوړ پوړي نظامیان (بهادران) تر غلامانو او چاکرانو پوري چې په بیخي کښته سطح کې وه. هغه چې ددې هرم یا سلسلهً مراتب په لوړو طبقو کې وه، د نن ور ځي د حکومتونو په شان د خپل رعیت او تر لاس لاندو څخه په اتوماتیکه توګه د اطاعت غوښتنه نه شواي کولای، او نه هم عام رعیت او تر لاس لاندو، لکه د نن ورځې اتباع چې یې کوي، د خپلو بادارانو څخه د ساتنې او دفاع غوښتنه کولای شواي. د اطاعت او ساتنې دوه ګون پرابلم په داسې یو جوړښت کې حل شوی وو چې په هغه کې د فیوډالي ټولنې هرغړی په ټولنه کې د یوې شتمنې او ملکیت خاوند وو. فیوډالي نظام پر مځکه باندې د مالکیت حقوق (مځکه د مالکیت یواځنې مهم شکل وو)، ټولنیز موقف او موقعیت او سیاسې مکلفیت تعریف کړل. پاچا به اشرافي زمیندار ته مځکه بخښله، او په مقابل کې به یې اشرافي ژمنه وکړه چې یو معین شمیر عسکر برابر کړي چې د پاچا د پاره جګړه وکړي. لوی اشرافي به بیا په خپل وار لوړ پوړي نظامي یا Knight ته مځکه ورکړه او په مقابل کې به نایټ ژمنه وکړه چې د لوی اشرافي د پاره جګړه وکړي او په دې توګه به د پاچا په مقابل کې د لوی اشرافي ژمنې هم پرځای شوې. دا کار په همدې توګه د غلامانو تر سویې پوري دوام کاوه. یعني غلامانو او بزګرانو ته به د کر د پاره مځکه ورکړل شوه او په مقابل کې به دوی د لوی اشرافي د پاره د ضرورت وړ شیان کرل او د لوی اشرافي خدمت به یې کاوه. څرنګه چې د مځکې د مالکیت حقوقو د ځان سره د جګړې کولو یا د کرلو مکلفیتونه هم درلودل، مالکیت په آزاده توګه نشواي انتقال کیدلای. پاچا نشوای کولای چې ووایي د یو مالکیت اخیستونکی یا د لوی اشرافي د ملکیت وارث نشي کولای ټولې غوښتنې او خدمتونه پرځای کړي. لهذا، فیوډالي مالکیت د نن ورځې د خصوصي مالکیت سره لږ شباهت درلود، اما په ډیره ښه او معقوله توګه

يې د ټولنيز نظام څخه ملاتړ کاوه. زمونږ د خصوصي مالکيت د حقوقو معاصر سيستم د منځني پيړيو د شتمنيو د سيستم څخه په تدريجي توګه ارتقا کړيده.

مونږ ولي مونږ خصوصي مالکيت ولرو او خصوصي مالکيت زمونږ د پاره څه کولي شي؟ قانون پوهان، قاضيان او علما د بليک ستون او جان لاک د زماني تر دې دمه پوري له دغو پوښتنو سره لاس او ګريوان دي چې په بشپړه توګه قانع کوونکي ځوابونه لا تر اوسه ورته ندي موندل شوي. د وضاحت دغه نشتوالۍ په خپل وار د قانون د ابهام يو عامل دی. دلته به مونږ په درې قسمه دلايلو رښا واچوو چې د مالکيت په اړه بحثونو کې وړاندې شوي دي.

لمړی، مالکيت توليدي فعاليت تشويقوي. دوهم، ملکيت د سياسي آزادی ساتنه کوي. دريم، ملکيت د بشر د پرمختګ او ودې سره مرسته کوي.

د امنيت شته والۍ او په دې پوهيدل چې ملکيت د يو سيستم په واسطه ساتل کېږي، او ددې سيستم په چوکات کې مالکيت هغه چا ته انتقال کيدای شي چې اغيزمنه استفاده ترې کوی، دا خلک دې ته هڅوي چې په ګټورو توليدي فعاليتونو کې برخه واخلي. دغه طريقه د بليک ستون له وخته تر عصري قانون او اقتصاد پوري کټ مټ را روانه ده. علما يوه نقطه بيانوي. فرضا" تاسو تصميم ونيوه چې په يوه ټوټه مځکه کې غله وکری، نو مځکه اړوی، تخم شيندی او اوبه سری ورکوی چې مځکه حاصل درکړي. د غلې يا درمن تر ټولولو مخکې خبرېږی چې ستاسې ګاونډی تيره شپه راغلی او هر هغه څه چې تاسو کرلی وو هغه يې له ځانه سره وړي دي. نوکه تاسو په قانوني ډول په غله کې د ملکيت حق ونلری، ستاسو يواځنۍ چاره به د ګاونډي په مقابل کې د زور استعمال وي. او که هغه تر تاسو غټ او قوي وي، نو ښايي ترې تير شی. کله چې تاسو و نه توانېږی چې د خپل کار ثمر تر لاسه کړی، په آينده کې د غلې د کرلو او سخت کار د کولو د پاره کومه انګيزه ونلری.

همدا راز فرض کړی چې تاسو د ځينو ګاونډيو په مقايسه ښه کروندکر نه ياست او د يوه کال توليد مو له مځکې څخه سل پيمانې وي، حال داچه يو ښه بزګر دوه سوه پيمانې لاس ته راوړلای شي. که تاسو خپله مځکه پر ګاونډي خرڅه کړی، يا دا حق ورباندې وپيری چې ستاسې له مځکې خخه په کرنه کې استفاده وکړي، نو دا به تاسو او ستاسو د ګاونډي د دواړو په ګټه وي. خو که تاسو د خپل ملکيت د استعمال انحصاري حق ونلری او يا يې د انتقال حق درسره نه وي، بيا داسې نشی کولای.

لنډه داچه د ملکيت قانون يوه اقتصادي وظيفه تر سره کوي. که خلک په قانوني ډول د ملکيت څخه د استفادې حق ولري او دا حق هم ولري چې نور خلک يې د استعمال څخه منع کړي او هم نورو ته د ملکيت د انتقال صلاحيت ولري، په داسې حالاتو کې به دوی په غالب ګمان د منابعو د ودې او پرمختګ د پاره زياته سرمايه په کار واچوي او زيات کار وکړي او منابع به هم د هغه چا لاس ته ورشي چې په اغيزمنه طريقه يې استعمالولای شي. ددې کار نتيجه به د هغو کسانو په ګټه وي چې د منابعو څخه استفاده کوي، او دا په مجموع کې ټولنې ته هم ګټه رسوي ځکه هغسې چې اقتصاد پوهان وايي دوی د منابعو څخه په بهترينه او ډيره اغيزمنه توګه استفاده کوي.

دا چې شخصي مالکیت حقیقتا" ددې لارې تولیدي فعالیت تشویقوي د هغه ضمني فرضیې په اعتبار پوري اړه لري چې اقتصادي دلیل وربانديې ولاړ دی. ددغه اقتصادي دلایلو د تحلیل په باره کې زیات کتابونه لیکل شوي چې دلته یې تفصیل نه شو ورکولای. اما پاملرنه وکړی، چې د غه اقتصادي دلیل یو نظریاتي تحلیل په یو تجربي فرضیي را اړوي. پدې معني چې : یو شخص به هر هغه څه کوي چې په قانون کې منع نه وي او یو بل یواځې هغه څه کوي چې د قانون په واسطه به یې ساتنه کېږي. نو دا حقیقت نلري چې قوي به خامخا د کمزوري څخه غلا کوي او نه به هم بزګر صرف هغه وخت کرنه وکړي چې د خپل زیار په اړه قانوني حفاظت ولري. په دواړو مثالونو کې یعني د ټولنیزو محدودیتونو او یا د خپلې او یا ټولنیزي ګټې د ادراک تر منځ توپیر شاید ددې سبب وګرځي چې خلک په داسې لارو عمل وکړي چې اقتصادي دلیل یې اټکل نشي کولای.

د شخصي مالکیت په اړه یو سیاسي بعد هم شته او هغه داچه د ملکیت درلودل له نورو څخه د خپلواکۍ د درلودلو یوه وسیله ده ګ، څه نور خلک فیوډال حاکمان وي او یا عصري حکومت، خو مالکیت به مالک ته ددې امکان ورکړي چې خپله سیاسي خپلواکی څرګنده کړي. ځیني وخت داسې ویل کېږي چې ملکیت د دموکراسی لمړنۍ شرط دی، ځکه چې د ملکیت درلودل یو فرد ته ددې توان ورکوي چې په آزاده توګه خپل نظر څرګند کړي او په عامو چارو کې کډون وکړي بیله دې چې په سیاسي چارو کې دده ګډون دده اقتصادي رفاه او سعادت له ګواښ سره مخامخ کړي. د توماس جفرسن لپاره دې خبري دا معنې درلوده چې هر څوک او یا لږ تر لږه هر بالغ سپین پوستی باید د مځکې د درلودلو چانس ولري او دغه د مځکې درلودل باید په یو څو شتمنو کورنیو پوري محدود او منحصر نه وي. د جفرسن په قول : " له احتیاج او غیر مستقل توب څخه غوره مالي او خود فروشي پیدا کېږي، په داسې حال کې چې خپلواک مالکیت د دموکراسۍ د پیاوړي کیدو سره مرسته کوي "

په شپیتمه لسیزه کې د مالکیت په اړه سیاسي استدلال د ګنو هغو خلکو په برخه کې مطرح شو چې په اقتصادي لحاظ د حکومت په مرستو پوري تړلي وو. د ییل Yale د حقوقو د پوهنځي استاد چالز ریچ (چې وروسته لدې پوهنځي څخه ووت او د مختلفو کلتورونو ټاټوبي سان فرانسیسکو ته ولاړ او د شپیتو کلنو د یاغي نهضت سره ملګری شو) په خورا استقبال شوي مقاله (نوی مالکیت) کې دا استدلال وکړ چې دولتي مامورین او له خیریه موسسو څخه مرسته اخیستونکي باید په سیاسي لحاظ د آزادی د درلودلو لپاره د مالکیت حقوق ولري.

په دې وروستیو کې مونږ د شخصي مالکیت په اړه د سیاسي استدلال د حدودو پیژندلو ته تیار شوي یو، لکه څنګه چې جفرسن ورته اشاره کړې وه، دا یواځې ملکیت نه بلکه د ملکیت ویش دی چې د دموکراسۍ سره مرسته کوي. کله چې شتمني د لویو شرکتونو لاس ته ولوېږي، کله چې شتمن موسسات د ډله ایزوپراخو تبلیغاتو پر ادارو او سیاسي چارو حاکمیت ولري، نو په چارو کې د افرادو د ګډون او نفوذ امکان کمېږي.

او بالاخره مالکیت یو قوي فردي بعد هم لري. د وګړو د پاره شیان او اموال ډیر مهم دي، ځکه چې د ځان په اړه، د ځای په اړه او د تعلق او شته والي په اړه یو احساس منځ ته راوړي. مبالغه به نه وي که ووایو چې وړې ماشومې سوزي ته د یوې ښکلې ګوډی یا ارزښتمنې کمپلې اهمیت هغومره دی لکه د هغې موروپلار ته یې چې د کور مالکیت یا کورنی میراث لري. د مالکیت دغه عناصر تر یو حده پورې دې پوښتنې ته ځواب ورکوي چې سوزي او دهغې موروپلار څوک دي. دوی به ددغو شیانو له درلودلو پرته، کټ مټ همدا کسان نه وو لکه اوس چې دي. په هغو ځایونو کې چې خلک د ملکیت څخه تر ډیره حده بې برخې دي، مثلا" د روحي ناروغیو په یو مرکز یا په زندان کې، وینو چې بندیان ځینې شیان راټولوي، پټوي یې او لېږدوي یې، څو په دې ډول یوه شخصي فضا او د ځان د احساسولو یو حالت را منځ ته کړي. یا په یوه مذهبي ډله کې ځینې کسان د خپل ځان د فراغت او آزادولو د مظهر په توګه، هرډول ملکیت پرېږدي. دوی نه یواځې د فقر او نیستۍ لاره غوره کوي، بلکه ددې توان له لاسه ورکوي چې غیر له څو ضروري شخصي شیانو څخه کوم بل شی ولري.

څه ډول ملکیتونه شته؟

ملکیت زیاتې ساحې لري. مثلا" د سوزي ګوډی، د هغې د مور او پلار کور او د هغې د پلارحق التالیف فقط د ملکیت یو څو موضوعات دي. قانون د ملکیت د بیلا بیلو ډولونو سره بیلا بیل چال چلند کوي، نو دا د هغو ملکیتونو په ډل بندي کې چې یو څوک یې ممکن ولري مرسته کوي.

ښایي زیات اساسي توپیر د حقیقي ملکیتreal property او شخصي ملکیتpersonal property تر منځ وي. حقیقي ملکیت مځکه او هغه شیان دي چې په دایمي توګه له مځکې سره تړاو لري. نور ټول شیان شخصي ملکیت بللی شو. موبل، د کور سامان او لوازم جواهرات او موټران شخصي ملکیتونه دي. دغه راز نه لمس کیدونکې شیان لکه د چاپ حق، د مخترع امتیازي حق، تجارتي ونډې او د پور سندونه د شخصي ملکیت ډولونه دي ګ

د ملکیت د ځینو ډولونو تعریف مشکل دی. د غلو دانو کرنه کله حقیقي او کله شخصي ملکیت ګڼل کېږي، خو په اکثرو مواردو کې د حقیقي او شخصي ملکیت تر منځ تفکیک ګران نه وي.

اما د ملکیت د ډولونو او اقسامو په منځ کې توپیر ولې شته او دا چې دا توپیر څه معنې لري دا لا نورهم پیچلې خبره ده. په منځنیو پیړیو کې، هغسې چې مو ولیدل، مځکه یواځې د شتمنۍ نښه نه وه، بلکه د ټولنیز سازمان د یو سیستم اساس هم وو. مځکه د فیوډالیزم له زوال څخه وروسته هم خپل خاص اهمیت وساته، ځکه دا د شتمنۍ او ملکیت ډیر مهم شکل او پراخه موضوع ده، او دطرزالعملونو په خاصو شکلونو پورې تړلې ده. مثلا" کله چې توماس جفرسن استدلال کاوه چې د استبداد د مخنیوي د

پاره د ملکیت ویشل په کار دی، نو دده منظور د لویو زمیندارو کورنیو پر ضد، پر وړو بزګرانو باندې د مځکو ویشل وو.

نن ورځ د حقیقي او شخصي ملکیت تر منځ تاریخي توپیر له هغو وظیفوي فرقونو سره ټړاو لري چې د منقول او غیر منقول ملکیت ترمنځ د ملکیت د مختلفو ډولونو په بیلا بیلو بحثونو کې لیدل کېږي. د ملکیت بیلا بیل اقسام او حتې هر کوچنۍ ډول د بیلا بیلو قوانینو په ذریعه تنظیمېږي. د یوې ټوټې مځکې خرڅلاو د یو قانون له مخې او د یو موټر خرڅلاو د یو بل قانون له مخې تنظمېږي. د مالک لخوا د مځکې د استعمال لارې چارې د قانون د مختلفو مراجعو لخوا تنظیمېږي، په داسې حال کې چې هغه حقوق چې یو مالک یې په یو موټر یا یو لیکوال یې د چاپولو په حق کې لري لا هم ډیر فرق لري.

لکه څنګه چې وینو ځینې اموال د لمس وړ دي او ځینې ندي. مځکه یو وخت د ملکیت ډیر متداول شکل وو، خو اوس نا محسوس ملکیت د حقیقي ملکیت اهمیت لږ کړیدی. یوه متوسطه کورنۍ شاید یوموټراو یوکورولري ، اما ښایي د تقاعد معاش هم ترلاسه کړي او یوځه شریکې پیسې اوبانکي حساب هم ولري چې ددوي د محسوس ملکیت ترارزښت ډیر زیات وي.

ذهني مالکیت د غیر منقول ملکیت یو خاص ډول دی چې د ذهني کار په ذریعه رامنځ ته کېږي او نه د فیزیکي کار. د اختراع د ثبت حق patent او د چاپ حقcopyright په ذهني ملکیت کې راځي. د اختراع حق یو خاص حق دی چې مخترع کولای شي استعمال یې کړي، نورو ته د هغه د استعمال اجازه ورکړي او یا خپله اختراع خرڅه کړي. کله چې یو مخترع د موږکانو یوه ښه تلکه جوړه کړي، یا د یوې کمپنۍ د څېړنې څانګه یوه نوې دوا جوړه کړي، نو مخترع د خپلې اختراع د اصلیت او ګټورتوب له ثابتولو وروسته له حکومته غوښتنه کولی شي چې دده حق الاختراع ومني، او نوموړې اختراع د ټاکلو کلنو د پاره خپل ملکیت وګرځوي ګګ دغه راز کله چې یو ناول لیکونکی ناول لیکي، نو کاپي یې دولت ته وړاندې کوی، یو څه پیسې تحویلوي او د چاپ د حق غوښتنه کوي. دا د کتاب د لیکلو په مقابل کې مالکانه حق دی.

تجارتي نښې یا trademarkهم د ملکیت یو شکل دی چې د ذهني ملکیت سره ارتباط لري. د مخترع امتیازي حق او د چاپ حق باید خوندي وي، ځکه چې دا اصلي تخلیق ګڼل کېږي. تجارتي نښې هم باید محفوظې وي، ځکه چې تجارتي ارزښت لري. د مک دانلدز نوم او د هغه د طلایي لیندیو سمبول یو ارزښت دی، ځکه چې د خلکو په ذهن کې د مک ډانلدز خواړه، کیفیت او آسانتیاوې د نوموړي نوم او سمبول سره تعلق لري. په همدې وجه نوموړي کمپنۍ د خپل نوم او سمبول سره د ملکیت رابطه لري، که څه هم دا تعلق او ګټه د ملکیت د نورو ډولونو سره توپیر لري.

ذهني ملکیت په عمومي ډول د ملکیت په باره کې ځینې ډیر مهم ټکي بیانوي. لمړۍ، کله مونږ د ملکیت په باره کې فکر کوو، نو آسانه دی چې فکر وکړو چې ملکیت په یو طبعي شکل سره منځ ته راغلی او په یو ډول سره وجود لري، خو یواځنۍ مسله داده چې ملکیت څنګه اختصاص مومي. مځکه او ونې مخکې تر مخکې د ملکیت په شکل منل شوي دي. اما د چاپ حق او د مخترع امتیازي حق باید روښانه

کړي چې ملکیت د قانون تولید دی. اختراع او ناول به د قانونه پرته هم وي، خو د ملکیت حقوق به په کې نه وي، ځکه چې ذهني ملکیت د قانون په مټ رامنځ ته کېږي. دا ښایي نسبت هغه ملکیت ته آسانه وي چې د پیړیو په اوږدو کې یې دعرفي قانون د احکامو په نتیجه کې اختصاص موندلی دی.

دوهم، ذهني ملکیت روښانه کوي چې د ملکیت درلودل صرف یو مفهوم نلري. د مخترع امتیازي حق، د چاپ حقوق او تجارتي نښې، دا ټول د ذهني ملکیت ډولونه دي اما قانون د هر یو په اړه خاصو ګټو ته پاملرنه کوي. د مثال په توګه، د ملکیت د منافعو مده د مخترع د پاره شل کاله، د لیکوال د پاره د هغه عمر جمع اویا کاله او د تجارتي نښې لپاره تر هغو پوري ټاکله شویده چې نومورې نښه تجارتي ارزښت ولري.

د چاپ په حق کې اما نه د مخترع په امتیازي حق کې د منصفانه استفادې مفهوم ته پاملرنه کېږي، یعني د لیکوال د چاپ حق یو اختصاصي حق ندی. د مثال په توګه یو مبصر کولای شي چې د یو ناول یوه برخه پخپله تبصره کې راواخلي، یا د پوهنځي استاد دا حق لري چې د خپل مطلب د بیان د پاره د ناول یوه برخه رانقل کړي. په هر یو ددې حالاتو کې دا قانون معلوموي چې د ملکیت درلودل څه معنې لري او د هر جلا ملکیت د پاره هم تعریف جلا دی.

څنګه خلک په ګډه ملکیت درلودلی شي؟

مونږ تر اوسه پوري د داسې ملکیت په باره کې ږغیدلي یو چې یو څوک یا یو کمپنۍ یې لري. اما په زیاتو حالاتو کې د ملکیت ګټې (د حقوقو د مجموعې بیلا بیل عناصر) د یو تن په ځای د زیاتو کسانو لخوا اخیستل کېږي. د مثال په توګه، د مالکیت حقوق د وخت په تیریدو او یا په عین وخت کې د مختلفو خلکو تر منځ ویشل کیدای شي. د کرایې سند د وخت پر اساس حقوق ویشي، ځکه کرایه اخیستونکی حق لري چې تر یو کال پوري کور په واک کې ولري او مالک حق لري له هغه وروسته یې قبضه کړي. (او په عین زمان کې یو شمیر نور حقوق هم لري لکه د همدې تعمیر د خرڅولو حق). ښایي تر ټولو عام مثال د شریک ملکیت په باره کې ښځه او میړه وي چې په شریکه کور لري او خپل حقوق چې په عادي حالت کي په یو واحد مالک پوري اړه لري، سره شریکوي. د شریک مالکیت په حالت کې د قانون وظیفه په ملکیت کې د شریکانو د ګټو تنظیمول دي.

د شریک مالکیت اساسي شکل په عین وخت کې له یوه څخه د زیاتو پواسطه د مالکیت داسې یو شرکت یا corporation دی چې حقوقي شخصیت لري. په دې ډول شرکت کې زیات خلک شریک کیدای شي چې هر یو یې ممکن د شرکت د یوې کوچنۍ یا لویې برخې درلودونکی وي او د هغه مقدار د شریکو وندو یا اسهامو پواسطه اندازه کېږي چې دوی یې لري.

د کارپ corp اصطلاح د شرکت (corporation) او د (Inc) اصطلاح د incorporated

يعني يوځای شوي د پاره استعمالېږي. دا البته ددې د پاره نده چې د کمپنۍ نوم په يو بل ډول وويل شي، بلکه د يوې موسسې خاص قانوني شکل ته اشاره ده. که چيرې تاسو د مايکرو سافت د شرکت اسهام ولری، نو د قانوني اصولو له مخې تاسو په کمپنۍ کې هغسې منافع لری لکه ښاغلی بيل ګيټ چې يې لري. د شرکت په سلو کې شل اسهام دده دي. (البته په عملي ډګر کې به د کمپنۍ په کارونو کې تاسو دومره زيات اغيز ونلری) تاسواو ښاغلي بيل ګيټ دواړه په کمپنۍ کې قسمي ګټې لری چې دا په تيوريکي ډول تاسو ته حق درکوي د مثال په توګه د مديرانو او منيجرانو د انتخاب د پاره د رايې د ورکولو له لارې په غير مستقيمه توګه پر چارو کنټرول ولری. تاسو کولی شی چې خپل اسهام خرڅ کړی يا يې تبادله کړی يا يې يوې خواته کړی. اما څرنګه چې دا شرکت يا اتحاديه ستا سو، ښاغلي بيل ګيټ، او د نورو شريکانو څخه جلا يو قانوني واحد يا جوړښت دی، ستاسو د مالکيت حقوق په هغه کې دومره پراخ ندي لکه ستاسو حقوق چې د مالک په توګه په يو شخصي تجارت کې پراخ وي. نوتاسو کمپنۍ ته نشی ويلای چې څه ډول توليدات خرڅ کړي، يا تاسو د کمپنۍ د دفتر څخه د خپل زېږيدنې د کاليزې د جشن يا ميلمستيا د پاره استفاده وکړی. حتې بيل ګيټ هم دا کار نشي کولای، که څه هم هغه په شرکت کې ډيره ونډه لري او د خپل رول پواسطه چې د شرکت مشر دی، زيات اثر هم لري.

شراکت partnership بيا د شرکت سره په دې توپير لري چې په شراکت کې د مالکيت او مديريت تر منځ جلاوالی موجود نه وي، يعني د يوې دارلوکالې شريکان په مستقيمه توګه د شراکت کارونه کنترولوي اولکه د يو شرکت د سهم لرونکو تر منځ چې دی په دې ډول شراکت کې د شريکانو ګټې د دوی د شراکت په ارزښت پوري محدودې ندي. که چيرې مايکرو سافت تاوان وکړي نو ستاسو د مال ارزښت به ممکن صفر ته را کښته شي، خو له ستاسو څخه به و نه غوښتل شي چې د پيسو د ورکولو له لارې د کمپنۍ پور چې د سرمايي تراصل اوچت شويدی ادا کړی، اما په شراکت کې ملګري په انفرادي ډول د کمپنۍ د پور او پانګې اچوونې مسوول دي. که چيرې دارلوکاله پوروړی شي، شريکان بايد د خپلې شخصي پانګې له لارې د شرکت پور ادا کړي. دغه زيان د يو بل ډول شراکت د رامنځ ته کيدو باعث ګرځيدلی چې هغه ته محدود شراکتlimited partnership او محدود مسوولیت limited liability وايي چې د شراکت په ډول اداره کېږي خو د شرکت بڼه لري.

شراکتونه، شرکتونه او د نورو تجارتونو شته والی د عام مالکيت حالت ته ارتقا ورکوي، خود هغه مسايل د تجارت د قانون د اختصاصي ساحو پواسطه حل وفصل کېږي، نه د مالیکت د قانون پواسطه. د عام مالکيت نور مثالونه د مالکيت د قانون تابع دي.

د مالیکت په قانون کې په عين وخت کې د ګډ مالکيت درې شکلونه وجود لري : شريکه اجاره joint tenancy، په عام ډول اجاره tenancy in common او بشپړه اجاره يا tenancy by the entirety. ددې ګډ مالکيت يا اشتراکي اجارې په درې واړو حالاتو کې هر اجاره کوونکی د ملکيت حق لري او هم کولای شي چې د ملکيت څخه په پوره ډول استفاده وکړي.

بشپړه اجاره بي ساړي ده او دا يواځې د ښځې او ميړه تر منځ وجود لري، يعني د يوې بشپړې اجارې د پاره تل دوه ګډ شريکان شته. خو شريکه اجاره يا عامه اجاره کيدای شي چې غير محدود شمير شريکان ولري. شريکه اجاره اوبشپړه اجاره يو بل ته ورته دي، خو د عامې اجارې په شان ندي، ځکه چې شريکان د ژوندي توب حق يا right of survivership لري. کله چې يو مالک مړ شي، نو مالکيت په اتوماتيک ډول، پاته مالک ته يعنې ژوندي متصرف ته انتقالېږي. خو بر عکس کله چې د عام ډول اجارې مالک مړ شي، نو په ملکيت کې د هغه ګټې د هغه وارثانو ته انتقالېږي نه پاته ژوندي ګډ متصرف ته. په نتيجه کې شريک اجاره کوونکي او بشپړ اجاره کوونکي تل په مالکيت کې مساوي برخې لري. د شريکانو منافع په عمومي ډول په مختلفو لارو جلا کېږي. (د مثال په ډول يو يې يو پر درې او بل يې دوه پر درې برخې اخلي).

نن سبا شريک يا همزمان مالکيت په ډيرو حالاتو کې استعمالېږي. يوه ميرمن او خاوند يې ښايي په شريکه سره خپل بانکي حساب و ځاري، د ګډې پانګې حساب وګوري او کولي شي چې کور په شريکه ولري. (په هغو قضايي حوزو کې چې بشپړې اجارې ته اجازه ورکوي، چې دا د ايالتونو نيمه برخه جوړوي، دا د مالکيت يو شکل ګڼل کېږي، په نورو ځايونو کې دا شريکه اجاره بلل کېږي) يو خور او ورور کولاي شي په ګډه د کورنۍ د کروندې مالکان واوسي. په سندره کې د خپريدو حق هغه څوک اخلي چې شعر يې ورته ليکلي او هغه څوک چې کمپوز يې ورته جوړ کړی وي. را ځئ چې يو مثال رانقل کړو او وګورو چې د شريک مالکيت ډولونه څنګه کار کوي. دا مثال په شريکو اجارو او تصرفاتو او عادي تصرفاتو رڼا اچوي. د زياتو مقاصدو له پاره له بشپړ اجارې سره عينا" لکه د شريکې اجارې معامله کېږي. فرضا" دوه کسه هغه کور په ميراث وړي چې د هغوی مورو پلار په کې مخکې اوسيدل. د شريک مالکيت د مثالونو په اړه لمړنۍ پوښتنه داده چې دا کوم ډول شريک مالکيت دی؟ مور په والدينو کې وروسته مړه شويده او وصيت يې کړيدی چې : " زه خپل کور خپلو ماشومانو يعني جان او ماريا ته پرېږدم " آيا اوس نو جان او ماريا شريک متصرفان دي او که عام متصرفان؟ په عامه توګه د ملکيت اصلي خاوند دا ندی ټاکلی. اوس نوقانون بايد کوم ډول شريک مالکيت ته تر جيح ورکړي؟ ځواب د مالکيت د قانون په جوړښت او په ټولنيز حالت پوري اړه لري.

له منځنيو پيړيو څخه تر اوسني وخت پوري قانون خپل غوره توب ته د يو منلي حالت په لور بدلون ورکړی يعني له ګډو اجارو څخه عامو اجارو ته. په عنعنوي ډول د شريک تصرف په باب ترجيح تر يوه حده د ملکيت د سيستم د منطق او تر يوه حده د عملي انديښنو په نتيجه کې منځ ته راغله. د مځکې د ملکيت په سيستم کې شريکو متصرفانو ته د شريکو اجاره کوونکو په سترګه کتل کيدل چې د يوه واحد ملکيت خاوندان وه. کله چې به يې يو مړ شو نو ملکيت به يې پرته له کوم بدلونه په آسانه بل خاوند ته رسيده. ښايي تر ټولو مهم علت داوو چې د مالکيت عنعنوي سيستم غوښتل چې د مځکې د ډيرو مالکانو پر ځاي دا مالکيت محدود شميرمالکانو ته ورکړي او ددې مقصد د پاره شريکه اجاره ښه او اغيزمنه لاره

وه. شریک مالکیت د موثر یا اغیزمن پلان د جوړولو د پاره هم ښه وسیله وه تر څو د مړینې وروسته د ملکیت د انتقال په وخت کې د ځینو فیوډالي مالیو د ورکولو مخه چې باید ورکړل شوی وای و نیسي.

اما په اتلسمه پیړۍ کې د قانون څخه د خلکو استنباط بل ډول وو. د بازار د اقتصاد په غوړیدو سره مځکې ته په مخ په زیاتیدو توګه د یو متاع یا جنس او د نورو شیانو په شان د شتمنۍ د یوې وسیلې په سترګه کتل کیده او پارلمانونو او محکمو هم دا غوره وبلله چې عام تصرف ته تر جیح ورکړي، کوم چې مالکیت په آزادانه ډول د انتقال وړ ګرځوي. یو شریک کولی شي د مرګ په وخت کې د مالکیت خپله برخه بل ته انتقال کړي. له همدې کبله نن فکر کېږي چې جان او ماریا عام مالکان یا اجاره کوونکي دي.

لکه په ډیرو نورو قانوني حالاتو کې ددې مشکل د مخنیوي د پاره د یو پلان درلودل یقینا" بهترینه لاره ده. قانون خالکو ته اجازه ورکوي تصریح او روښانه کړي چې څه ډول رابطه منځ ته راځي. او ښه وکیلان دا کار کوي. د مثال په توګه، که چیري تاسو د کورنۍ له یوه غړي سره بانکي حساب پرانیځئ، نو وبه وینی چې په فورمه کې یو له پوښتنو څخه چې باید ځواب ورکړل شي د مالکیت د شکل په باره کې دی " شریک متصرفان د ژوندي پاته کیدو د حق سره " دا یوه روښانه نښه ده چې دوی اراده نلري چې یو عام تصرف منځ ته راوړي. او ځینې ډیر دقیق وکیلان ددې د پاره چې هر ډول شک له منځه ولاړ شي، ښایي دا جمله ورسره زیاته کړي " او نه عام شریکان "ګ

هغه څه دي چې یو شریک متصرف یا اجاره کوونکی یې لري ګ؟ شریک متصرفان او عام متصرفان په اساسي ډول په مالکیت کې یو قسم حقوق لري. په دواړو حالاتو کې هر شریک په بشپړ ملکیت کې نه ویشوونکی فردي ګټه لري ګګ نه ویشوونکی پدې معنې چې جان او ماریان دواړه حق لري چې د ټول کور څخه استفاده وکړي. دوی باید په فیزیکي ډول کور و نه ویشي چې جان آشپزخانه او ماریا د ناستې کوټه واخلي او که چیري دوی په کې و نه اوسېږي او کور په کرایه ورکړي نو په کرایه کې دوی دواړه په برابر ډول شریک دي. (که چیري دوی شریک متصرفان وي)، او یا په ملکیت کې ددوی د مالکیت د ګټو سره سم. (که چیري دوی عام متصرفان وي).

که چیري جان او ماریان عام متصرفان وي د جان په مرګ سره به په مال کې د هغه برخه ماریا په میراث واخلي. که دوی شریک متصرفان وي، ماریا د جان تر مرګ وروسته د ټول ملکیت خاونده کېږي. خو که جان د مثال په توګه وغواړي ددې کار مخنیوی وکړي تر څو دده برخه مال او ملکیت دده ماشومانو ته ورسېږي، دی دا کار د بیلا بیلو لارو کولای شي، مثلا" کولای شي شریک مالکیت له منځه یوسي او په عام مالکیت یې بدل کړي. پدې توګه به د ماریا حق له منځه ولاړ شي. اما په دې اړه د بشپړو تصرفاتو قضیه بل ډول ده. ځرنګه چې ددې ډول شریک مالکیت یو هدف د واده شوي جوړې د یو ژوندی پاته شوي د ژوند ساتل دی، نو په بشپړ تصرف کې د ژوندي پاته کیدو حق له منځه نشي تللای.

مکمل تصرف د واده شوي جوړې تر منځ د مالکیت د درلودلو یو شکل دی. د بلې خوا د تاریخ په اوږدو کې یو شمیر خاص مقررات د زوجي مالکیت په اړه وړاندې شوي دي چې دغه قواعد د ټولنیز سیستم په تغیر موندلو سره بیا هم تغیر مومي.

په عرفي يا عام قانون کې (common law) به له ښځې او میړه سره د مالکیت د قانون په هنداره کې د یو نفر په سترګه کتل کیده او رویه به ورسره کیده او هغه به میړه وو. میړه به د دواړو ملکیت کنټرولاوه. هغه کولای شواي د خپلې میرمنې مځکه خرڅه کړي او د ښځې د رضایته پرته د مځکې پر استعمال څارنه وکړي. د میړه په مالکیت کې د ښځې یواځنۍ حق د هغه له مرګ څخه وروسته وو. د میړه د میراث د مقرراتو یا dower له مخې به ښځه تر څو چې ژوندی وه د میړه په شتمنۍ کې یو په درې برخه حق درلود، نور یې ماشومانو ته په میراث پاته کیده. میړه بیا برابر بلکه یو څه زیات حقوق درلودل چې curtesy بلل کیده او هغه دا چې ده ته یې د ټول ژوند د پاره د خپلې میرمنې پر ټوله مځکه باندې د کنټرول حق ورکاوه.

د نولسمې پیړۍ په نیمایي کې د امریکا ټولو ایالاتو د واده شوو ښځو د مالکیت قانون تصویب کړ. په دې قانون کې واده شوو ښځو ته هم حق ورکړل شو چې د یوې مجردې ښځې یا واده شوي سړي په شان خپل ملکیت پخپله تنظیم کړي.

نن سبا د زوجینو مالکیت د قانون د دوو سیسټمونو څخه د یوه پواسطه کنټرول کېږي، چې د بیل مالکیت separate property (چې پر ډیرو ایالتونو یې اغیز کړیدی) او ټولنیز مالکیت community property (چې په ځینو ایالتونو کې شته، په تیره په هغو کې چې د استعمار په وخت کې د مدني قانون تر حاکمیت لاندې وه، لکه کلیفورنیا، تکساس او لوییزیانا کې) په نامه یادېږي.

د بیل مالکیت په قانوني حوزو کې د ښځې او میړه مالکیت په طبعي ډول سره بیل وي. که چیرې ښځه یوه اندازه مځکه یا اسهام ولري، نو کولای شي چې استفاده ور څخه وکړي او یا ځان ورڅخه خلاص کړي، یعني څرنګه چې یې خوښه وي بیله دې چې د میړه رضایت تر لاسه کړي. د واده کولو په وخت کې د هغې په حقوقو کې یواځنۍ محدودیت دادی چې یوه جوړه (میړه او ماندینه) باید د یو او بل ملاتړ وکړي. ښځه نشي کولای چې له خپلې شخصي شتمنۍ څخه استفاده وکړي او میړه خوار پرېږدي، او یا برعکس. جوړې یا زوجونه البته کولای شي چې شریک مالکیت انتخاب کړي. دطلاق په وخت کې د هرزوج ملکیت په منصفانه ډول (equitable distribution) ویشل کېږي. هغه محکمه چې طلاق ورکوي، د زیات بصیرت څخه په استفاده سره د زوجینو تر منځ د ملکیت مناسب او منصفانه ویش ته ډیره پاملرنه کوي او دې ته ګوري چې چه د ملکیت په منځ راوړلو کې لوی رول درلودلی او د طلاق څخه وروسته څوک ملکیت ته ډیره اړتیا لري.

د ټولنیز ملکیت په قضایي حوزو کې د هر زوج هغه ملکیت چې تر واده دمخه یې لا درلود، یا هغه ملکیت چې د واده په دوران کې یې د سوغات یا میراث له لارې تر لاسه کړیدی، د هر ې جوړې خپله برخه ده او هماغسې چال چلند ورسره کېږي لکه د بیل ملکیت سره چې کېږي. ددغو مواردو پرته د واده په دوران کې نور تر لاسه کړی ملکیتونه که د هرې جوړې په ذریعه تر لاسه شوی وي، د دواړو مشترک مال دی. هره جوړه حق لري چې ګډ ملکیت د بلې جوړې د رضایت له حاصلولو پرته استعمل کړي او استفاده ورڅخه وکړي. همدا راز هره جوړه کولای شي چې مالکیت انتقال کړي، البته له مځکې او ځینو

تجارتي شتمنيو پرته چې د دواړو جوړو رضايت ته اړتيا لري. په هغو ايالاتو کې چې د شريک مالکيت پلوي دي د طلاق په وخت کې ګډ مالکيت د دواړو زوجونو تر منځ مساوي ويشي. نور بيا د مالکيت د تقسيم د پاره د عادلانه تقسيماتو له اساساتو څخه کار اخلي.

د زوجينو په حقوقو کې يو مهم محدوديت د هغه توان محدوديت دی چې سړی يا ښځه يې له مرګه وروسته د خپل ملکيت په هکله لري. په اکثرو د بيل او ټولنيز مالکيت په پلوي ايالتونو کې د يو زوج دا توان چې له مرګه وروسته وخت د پاره د مالکيت په باب فيصله وکړي د انتخابي برخې يا elective share د مقررې په واسطه محدودېږي. دغه انتخابي برخه تر يوه حده په عرفي يا عام قانون کې د ميړه د شتمنۍ هغې برخې ته ورته دی چې د قانون له مخې ښځې ته په ميراث رسېږي. مهمه نده چې په وصيت نامه کې څه ويل شوي دي، ژوندی زوج ښايي د مړ شوي زوج په متروکه مال کې د يوې برخې د لاس ته راوړلو ادعا وکړي چې معمولا" له يو پر درې څخه تر نيمايي پوري وي. انتخابي برخه ژوندی زوج ته د واده د مالي ګټو د محروميت څخه يوه اندازه نجات ورکوي.

ملکيت د وخت په اوږدو کې څنګه ويشل کېږي؟

په آسانه پدې پوهيدلای شو چې د مالکيت ګټې د وخت په اوږدو کې ويشل کيدلای شي. يو مالک يو کور لري او کرايه اخيستونکي ته يې د يوه کال د پاره د استفادې حق ورکوي. په داسې حال کې چې په همدې وخت کې يې د خرڅولو حق هم لري. مونږ همدا شان پوهيدلی شو چې څومره مختلف خاوندان يا مالکان کولی شي په عين ملکيت کې په بيلو وختونو کې ورته ګټې ولري. زه نن د خپل کورمالک يم، سبا به، که يې پر تاسو وپلورم، تاسو مالک واوسی. داسې هم کيدای شي چې زما دا کور زما د وصيت مطابق، زما له مرګه وروسته زما اولادونو ته پاته شي.

خبره هغه وخت پيچلې کېږي چې په يوه وخت کې په يوه ټوټه ملکيت کې بيلا بيل کسان بيلا بيلې ګټې ولري او دا ګټې د وخت په لحاظ تقسيم شوي وي. په منځنيو پيړيو کې دا حالت بيحده ډير زيات وو، چې په اکثرو يې مونږ سترګې پټوو، خو دا په جالبه توګه هغه شخړې او جنجالونه څرګندوي چې د مالېکت د قانون اساس جوړوي.

يوه سينمايي فرضيه به را واخلو، فرض کړئ چې جرالډ اوهارا غواړي چې تارا Tara د خپلې کورنۍ د اجدادو د باغ په توګه وساتي. هغه په خپل وصيت ليک کې باغ سکارلت ته دټول عمر د پاره ورکوي او بيا د هغې تر مرګ وروسته د باغ مالکيت د هغې ماشومانو ته انتقال ومومي، او بيا دهغې ماشومانو څخه د هغو اولادونو او همداسې مخ په کښته، ترهغه چې د اوهارا وارثين وجود لري. او يا فرض کړئ چې اوهارا خپل باغ د جورجيا ايالت ته پدې شرط په قواله ورکړي چې دولت ددې ملکيت يعني باغ څخه د ساينسي تجربو د پاره استفاده وکړي او د جورجيا د وطن د هر ډول ونې دوې دانې په کې کښېنوي. که دولت د

۹۹ کالو دپاره دا شرط پر ځای کړي، نو بشپړ مالکیت به دولت ته انتقال ومومي. که چیري داسې ونشي، نو مالکیت به بیا بیرته اوهارا او یا د هغه وارثانو ته انتقال ومومي.

په دې دواړو مثالونو کې وینو چې مختلف خلک له ملکیت سره مختلفې زماني اړیکې لري. په لمړي مثال کې کله چې اوهارا مړ شي، نو سکارلت د خپل ژوند له پاره د ملکیت خاونده کېږي، خو یو ډول مالکیت چې په یوشرط پوري محدود دی، یعني مالکیت به یې تر مړیني وروسته ماشومانو ته انتقال ومومي. په دوهمه فرضیه کې ، هغه د باغ مالکیت دولت ته سپاري، خو بیا هم په کې ګټې لري. که چیري دولت په دې کار کې ناکامه شي چې د ساینسي مطالعاتو د پاره ورځخه استفاده وکړي، نو مالکیت به بیرته هغوته انتقال ومومي ګ

دې پوښتنې ته چې د مالیکت د ګټو د ویش ددې ډول سره باید څنګه چلند وشي، قانون پوهان او قاضیان سربداله کړي او د نورمن قبایلو لخوا Normans د انګلستان د نیولو د زمانې راهیسې یې وروستی ځواب ندې موندلی.

په مالکیت کې، لکه د اوهارا، سکارلت او یا د جورجیا د ایالت د ګټو په شان د مختلفو ګټو منځ ته راوړل، مطلق مالکیت freehold estates بلل کېږي. ددغو منافعو اهمیت په دې حقیقت کې لیدلی شو چې پر مځکو باندې د مطلق مالکیت په اړه مناقشو او جنجالونو، د سلطنتي محکمو د پیاوړتیا په پروسه کې اساسي نقش لوبولی دی. د ملکیت د ارتباطاتو څرګندول او ټاکل د فیوډالي وظایفو او ملکفیتونو د څرنګوالي د ټاکلو او پر مځکې باندې د کورنۍ د سلسلې د کنټرول په تنظیم کې چې مځکه د ثروت تر ټولو مهم شکل وو، یوه قطعي او ضروري چاره وه ګګ نن ورځ فیوډالیزم ختم دی، خو په دې ساحه کې یو شمیر متنازع موضوعات ښکاره ورته والی سره لري او دا لدې اساسي مسلې سره تعلق لري چې مالکانو ته باید د خپل جایداد په کنترول کې تر کومه حده اجازه ورکړل شي.

د ملکیت په مطلق شکل کې اوهارا د تارا مالک دی، یعني هغه په تارا کې ټول ممکن حقونه لري. هغه په خپل ژوند کې خپله مځکه یو چاته ورکولي شي او دا اختیار هم لري چې له مړینې وروسته یې یو چا ته وسپاري. اوهارا دا حق لري چې خپل ملکیت په ځینو شرطونو بل چاته وسپاري. (لکه د زراعتي تحقیقاتو د پاره د باغ په سپارنه کې چې مو ولیدل) او یا هم کولای شي چې د ملکیت د ګټو یواځې یوه برخه بل ته ورکړي (لکه سکارلت ته یې چې د هغې په خپل ژوند کې د استفادې له پاره باغ ورکړ او بیایې وروسته د هغې اولاد ته وسپاره). دا د ملکیت په باره کې اصلي خبرې دي. که تاسو یو ملکیت لرى، باید دا اختیار ولرى چې د هغه سره څه کوى. مونږ غواړو چې خلک په تولیدي فعالیتونو بوخت وي څو په دې ډول شتمني ټوله کړي. مالک ته دا اختیار ورکول چې خپل جایداد د خپلې خوښې سره سم استعمال کړي، د شتمنۍ د ټولولو د پاره یوه انګیزه ده.

اما مونږ غواړو چې اوسني مالکان هم خپل ملکیتونه په ګټور ډول استعمال کړي، خو تر کومه حده باید د پخوا مړو لاسونو ته اجازه ورکړو چې د ملکیت څخه د استفادى پر معاصر شکل کنټرول ولري؟ تصور کړئ خه به پیښه شي که مالکانو ته اجازه ورکړو ملکیتونو پر استفادې یا انتقال باندي وروستني

محدوديتونه وضع کړي. ځيني د ملکيت خاوندان ښايي د کورني سلسلو د جوړولو يا کورني خانخانيو خوبونه ويني او هڅه به کوي چې د يو ډول محدوديت په تحميل سره مالکيت په کورنۍ کې وساتي، لکه اوهارا چې په خپل وصيت ليک کې کړی وو. د وخت په تيريدو سره به دا هڅه وشي چې مالکيت په ډيرو لږو لاسونو کې متمرکز شي، بيله دې چې ګڼو کسانو ته په لاس ورشي. دا کار به د کورنۍ غړو ته هم څه خاصه ګټه ونه رسوي، هغه مځکه چې د سکارلت لخوا په ميراث وړل کېږي له محدوديتونو سره به هغې ته لږ ارزښت ولري، ځکه چې هغه صرف کولی شي په ملکيت کې خپلې محدودې منافع خرڅې کړي، او که چيرې هغه د کورنۍ په کور کې ژوند ونه کړي او يا د کورنۍ په کرونده کې کرهڼې ته پاملرنه ونکړي او فکر وکړي چې د مځکې په خرڅولو اود پنبې په ګدام کې د پانګې اچولو له لارې به زياتې پيسې لاس ته راوړي، نو د پلار بنديز يې لدې کار څخه منع کوي.

له کورنۍ څخه دباندې بنديزونه هم عين مشکلات منځ ته راوړي. حالات له وخت سره بدلېږي او دا به سمه نه وي چې پر ملکيت باندې د پخواني مالک په ذريعه لګيدلي بنديزونه تل مراعات شي. وروسته له لس، شل يا پنځوس کلنو څخه به د جورجيا دولت ښايي تصميم ونيسي چې له تارا څخه د ساينسي مطالعې پر ځای په هغه کې د داخلي جنګونو د اتلو جنګياليو د پاره کور جوړ شي، يا هلته کتابتون او روغتون جوړ شي. خو د اوهارا محدوديت به يې له داسې استفادې څخه منع کړي. له دغسې محدوديتونو سره يو لوی اداري مشکل هم شته. زمونږ د مالکيت د سيستم يو هدف دادی چې د ملکيت اخيستونکو ته د ملکيت په باره کې د موثقو معلوماتو د ورکولو له لارې د جايداد د آزادانه انتقال شرايط برابر کړي. قوالې او د انتقال نور اسناد په يوه مرکزي دفتر کې ثبت کېږي چې مثلا" که څوک غواړي مځکه واخلي په آسانه يې حقيقي مالک وپيژني. خو سيستم هغه وخت ماتېږي چې ناثبت شوي شرايط پر ملکيت باندې اثر واچوي. هغه چا ته چې غواړي ملکيت په بيه واخلي، پدې باره کې فيصله کول چې آيا پخواني محدوديتونه د منلو وړ وو او يا مثلا" دا معلومول چې آيا د جورجيا د ونو د ډولونو څخه دوه دوه نيالګي لګيدلي دي، مشکلي خبرې دي ګ

ددې مطابق محکمې مجبورې وې چې د مالکانو لخوا پر خپلو جايدادنو باندې د ناوړو نتيجو رامنځ ته کوونکو بنديزونو او هغو غْوښتنو تر منځ يو ډول توازن پيدا کړي چې مالکان يې د خپلو ملکيتونو څخه د خپلې خوښې استفادې په اړه لري. محکمو په ځينو طريقو همداسې کړيدي. ډير ځله يوچاته چې ملکيت ورته انتقالېږي ته دا نه وي څرګنده چې څه ډول ګټې را منځ ته شوي يا څه ډول محدوديتونه لګيدلي دي. په داسې مواردو کې محکمې د استنباط څخه کار اخلي، مثلا" که د ملکيت د محدوديت يا نورو لګول شوو بنديزونو په اړه د مالک در يځ څرګنده نه وي، نو محکمه استنباط کوي چې مالک خپل مالکيت محدود کړی ندی.

له بحث وړ زړو محدوديتونو سره د معاملې بل تخنيک د cy press د سي پرس دکتورين دی ، ، چه د امکان تر حده نژدې معنې لري. ددې دکتورين يا نظريې مطابق کله چې د يو خيريه کار د پاره وصيت د

وصيت کوونکي غوښتنه په دقيق ډول پوره نه کړي، نو محکمه داسې د حل لاره پيدا کوي چې تر وسه وسه د وصيت کوونکي مقصد ته نژدې وي.

دريم تخنيک دادی چې د ځينو مستقلو اصولو څخه استفاده وشي چې د " مړه لاس " د محدوديتونو ځينې مشخص ډولونه منع کوي. مثلا" د کورنۍ د لړۍ د جايداد د کنترول د پاره د قانوني هڅو يو مهم گام د " تلوالې يا دايمي توب په خلاف اصل " دی. دغه اصل وايي چې بل چا ته د جايداد سپارنه بايد د هغه چا د مړينې په يوويشت کلنه مده کې پای ته ورسېږي چې د ژوند په وخت يې دا منفعت رامنځ ته کړيدي. د تلوالې يا دايمي توب خلاف اصل ډير پيچلی دی او د حقوقو شاگردان يې په کلنو کلنو زورولي دي. د کليفورنيا سترې محکمې يو وخت وويل، دا مقرره دومره پيچلې ده چې دا به د يو وکيل د پاره خلاف رفتاري يا سهل انگاري و نه گڼل شي که د هغه په معنې و نه پوهېږي، خو اصلي مفهوم يې مشکل ندی. ددغه اصل اصلي معنې داده چې مالک دداسې گټو د رامنځ ته کولو له لارې چې په راتلونکو نسلونو کې به منځ ته رانشي، پر جايداد د تل د پاره محدوديت نشي وضع کولای. له دغه اصل سره سم د اوهارا دا هڅه چې دده د راتلونکو نسلونو ورثه به هر يو يواځې په خپل ژوند کې د جايداد مالکان وي، اعتبار نلري

پر ملکيتونو باندې مالکيت نور څنگه شريک کيدای شي؟

په شريک تصرف او عام تصرف کې هر څوک د جايداد مالک دی، که څه هم دی يا دا خپل مالکيت د بل چا سره شريکوي. څرنگه چې منافع د وخت په تيريدو سره ويشل کېږي، نو بيلا بيل کسان په ملکيت کې د گټو خاوندان گرځي، اما دا عين گټې په عين وخت کې ندي. په مالکيت کې د گټو د گډون يوه بله لار هم شته چې په قانوني لحاظ د ارتفاقي يا servitude په کټگوری کې راځي. دغه مفهوم د مثالونو په ذريعه په آسانۍ سره درک کولای شو. په کور کې د تلفون د درلودلو د پاره بايد د تلفون کمپنۍ د بيلا بيلو کسانو د ملکيت د پاسه يا د هغو تر مځکو لاندې مزي وغځوي. دوه گاونډي د خپلو کورونو تر منځ شريک ديوال لري چې په شريکه يې جوړ کړي او ساتنې مصرف يې په گډه ورکوي. په يوه محله کې د کور خاوندان مځکې رانيسي خو په قواله کې ليکل شوي چې پر خپله مځکه تر يو کور زيات نشي ودانولای، که څه هم څنگ ته يې داسې د هستوگنې سيمه نه وي، چې ددې محلې د پراختيا مخنيوی وکړي. د سينما د فلم نندارچي د سينما د مالک د جايداد يوه برخه د فلم د ښکاره کيدو د مدې د پاره په قبضه کې نيسي.

په دې ټولو مثالونو کې یو شی مشترک دی او هغه داچه د یو چا په ملکیت کې بل هم منافع لري. دا ګټې ښایي یا د ملکیت د درلودلو نتیجه وي (لکه ګاونډیان چې شریک دیوال لري) یا د ملکیت د درلودلو سره تعلق ونلري (لکه د سینما د نندارچي منافع). منافع ښایي یو شخص ته اجازه ورکړي چې یو څه وکړي (یعني په سینما کې کښیني.)یا د بل چا څخه وغواړي یو څه وکړي (لکه د دیوال په جوړیدو کې مرسته) اویا یو څوک د یو کارد کولو څخه منع کړي. (یوه ټوټه مځکه و نه ویشي)

په پورتني هر یوې قضیې کې د کور مالک چې ورته مکلفیت ټاکل شویدی د بشپړ مالکیت حقوق درلودل او هغه ورڅخه اخیستل شوي او یو بل چاته انتقال شوي دي.

په نظري توګه ددې ډول حقوقو تر منځ مهم توپیرونه شته. مونږ وایو چې د فلم نندارچي اجازه لري د سینما د مالک د ملکیت خخه استفاده وکړي، ځکه دی اجازه لري چې د یو محدود وخت او هدف د پاره دې ملکیت ته داخل شي. دا اجازه فسخ کیدای شي. تاسو د سینما د ټکټ شاته وګورئ او هلته به ولولی چې د سینما مدیریت هر وخت کولای شي دا اجازه فسخ کړي. د تلفون کمپنۍ د ارتفاق حق یا easement لري یعني د نورو خلکو د ملکیت څخه د استفادې یو دوامداره حق.

منفي ارتفاقي حق ښایي یو چاته د بل چا د ملکیت څخه د استفادې یا پر هغه د کنترول درلودلو اجازه ورکړي، نه داچه پخپله د ملکیت د استفادې حق ولري.

د هستوګنې د منطقې د یو ې برخې د کورونو مالکان هر یو منفي ارتفاقي حق لري چې یو بل د خپلو کورونو له بیا ویشلو څخه منع کړي. د هستوګنې د فرعي برخو مالکان ممکن یو واقعي تعهد یا مساوي ارتفاقي حق ولري چې یو بل یواځې د خپلو برخو څخه په استفاده کولو پوري محدود کړي. دا د مځکې د استعمال په باره کې ژمنې دي ګ

مونږ نه غواړو د ارتفاقي حقونو پر قانون په تفصیل خبرې وکړو، دا قانون د هغو مردارو ولاړو اوبو سره تشبه شویدی چې له لرغونو(پخوانیو) اصطلاحاتو، نازکو توپیرونو او د ابهامه ډکو مقرراتو څخه ډک دی چې حتې د حقوقو ډیر تکړه محصل هم سربداله کولای شي. البته مونږ کولای شو چې د ملکیت د حقوقو د ځینو اساسي ټکو د واضح کولو د پاره د ارتفاقي حقونو د قانون ځینې اړخونو ته اشاره وکړو :

لمړی دا چې ارتفاقي حقوق د ملکیت او مځکې د استعمال د پاره د شخصي اصولو یو ډول دی.

خلک پر ملکیت باندې د مالکیت ټول حقوق لاس ته راوړي او با ددې حقوقو ځینې برخې د ارتفاقي حق، موافقو او دا سې نورو په توګه نورو ته ورکوي. (کله بیا ارتفاقي حقوق د موافقو له لارې منځ ته نه راځي، بلکې د یوې موافقې د تطبیق له لارې، خو دا ډیر عام ندی). پداسې ډول د عمل کولو توان هم د مالکیت او هم د قرارداد کولو د توان یو عنصر دی. هر یو یې یو فرد ته یوه خپلواکه ساحه پرانېږي چې دا ډول مکلفیتونه او وجایب منځ ته راوړي، د هغومحتوې تعریف کړي او یا د یو کار د کولو څخه ډډه وکړي.

دوهمه خبره داده چې د ارتفاقي حقونو قانون د قرارداد قانون نه دی. د قانون د یوې مشخصې مجموعې منځ راوړل د ملکیت او مخصوصا" د حقیقي ملکیت د مفهوم قوت او اهمیت څرګندوي.

څرنګه چې دا وجايب د خواوو د پاره بي ساري ندي او د دوی د مځکې سره تعلق لري او ښايي د مځکو وروستني خاوندانو ته يوه ګټه ولري يا يو بارپړ کښېږدي، نو دوی د تاريخ او يا د ملکيت د قانون د تجملاتو تر بار لاندې دي.

دريم، لکه قرارداد او ملکيت، دا وړتيا يا قابليت چې يو څوک د خپل ملکيت سره هر هغه څه چې وغواړي وکړي، مطلقه وړتيا نده. ارتفاقي حقونه په مستقيم يا غير مستقيم ډول د عمومي پاليسۍ له محدوديتونو سره مخامخ دي. د مستقيمو محدوديتونو تر ټولو مشهور د تبعيضي موافقو او ټرونونو منع ده. د شلمې پيړۍ په پيل کې په قوالو کې په معموله توګه داسې مواد درج وه چې راتلونکی مالک ته يې اجازه نه ورکوله خپل ملکيت پر غير سپين پوستو خرڅ کړي. محکمو وروسته ددې ډول محدوديتونو تطبيق د اساسي قانون ضد وبلل. پر مالیکت باندي د يو شخصي مالک حق د هغه زياتو ټولنيزو اندېښنو له کبله چې د نژادي تبعيض پر ضد رامنځ ته شوې وې، محدود کړل شو.

يو څوک څنګه ملکيت تر لاسه کولای شي؟

د ملکيت د قانون لپاره مهمه پوښتنه داده چې قانون د کومو شرايطو پر اساس په يو جايداد باندې د يو چا د مالکيت حق په رسميت پيژني. ددې حق د ټاکلو د پاره قانون د يو لړ بي ثباته او متناقضو سياستونو سره چې د مالکيت د قانون بنسټ جوړوي، لاس او ګريوان دی. مونږ غواړو خلک وهڅوو چې په ګټورو توليدي فعاليتونو کې برخه واخلي. مونږ غواړو هغه شخصي ارزښتونه چې مالکيت يې د خلکو د پاره لري وپيژنو. مونږ داسې يو سيستم غواړو چې په دقيقه توګه وښيي چې څوک د څه شي خاوند دی، او داسې نور. يو څوک د مختلفو لارو کولای شي يو ملکيت تر لاسه کړي. دوې لارې چې تاريخي اهميت يې درلود اما نوربه تکرارنشي هغه د اکتشاف او فتوحاتو لارې وې. خو بيا هم بهتره ده چې بحث له همدې ځايه پيل کړو، ځکه دا دوې لارې د امريکا په متحده ايالاتو کې پر مځکه باندې د ملکيت د درلودلو ټول حقوقي اساسات څرګندوي. د اکتشاف معنې داده چې په تير وخت کې ناپيژندل شوې مځکه وموندل شي او د هغې د خپلولو د پاره يو څه تر سره شي. مثلا" د مځکې د ملکيت د درلودلو په خاطر د هغې د پاسه بيرغ ورپول شي او يا نوې آبادي په کې جوړه شي. خو نن ورځ ټوله نړۍ نقشه شويده او په همدې خاطر د اکتشاف دوران تير دی. يواځنۍ نا نيول شوی ځای زمونږ بهرنۍ فضا ده خو د نړيوال ټرون پر اساس امريکا پر سپوږمۍ مالکيت نلري، که څه هم امريکاييان لمړني خلک وه چې سپوږمۍ ته وختل.

په تاريخي لحاظ فتح کول د اکتشاف سره نژدې تعلق لري. اروپايي قدرتونو لکه هالينډ، بريتانيا، فرانسه او هسپانيا د غير ځايي خلکو د هستوګن ځايونو د جوړولو، د ځايي امريکاييانو(يعني ددې خاوري

اصلي اوسيدونکي) د مغلوبولو او د نويو ساحو د نقشه کولو له لارې د امريکا مالکيت تر لاسه کړګ اروپاييانو د امريکا اصلي اوسيدونکي چې هلته يې ژوند کاوه د امريکا د خاورې مالکان نه بلل، ځکه د اروپاييانو په ګمان ځايي امريکاييان وحشي وه او دداسې دولت د جوړولو توان او قابليت يې نه درلود چې د نړيوال قانون له مخې په رسميت و پيژندل شي. هغسې چې د سترې محکمې ريس د ځايي خلکو او ددوی د مځکو په اړه وييلي وو :

" د امريکا لويه خاوره د ټولو اروپايي ملتونو، نوښتونو، هيلو او جاه طلبيو ته يوه پراخه ساحه وړاندې کوي. د ځايي خلکو خوی خصلت او مذهب پر دوی باندېې د اروپا د هوښيارو خلکو غلبه او برلاسي توجيه کولای شي. "

که څه هم ځايي اوسيدونکو د مځکې د تصاحب او کرلو حق درلود خو دا حق يې نه درلود چې د مځکې مالک وي.

په قانون کې يو لړ مهم اصول شته چې د کشف او فتوحاتو له لارې د لاس ته راغلو ملکيتونو د مقرراتو اساس جوړوي. دا خبره يو ځل بيا کوو چې د شخصي ملکيت د رسميت پيژندلو د دلايلو څخه يو دليل دادی چې خلک وهڅول شي چې پر منابعو باندې د اختصاصي حق د درلودلو له لارې منابع په ګټوره توګه استعمال کړي. د اکتشاف يا فتح له لارې د حقوقو پيژندل د وګړو د هڅو د پاره د پاداش يا بدلې معنې درلوده. او په ملکيت درلودلو باندې يې اعتبار هم رامنځ ته کاوه. کله چې څوک يوه سيمه ونيسي يا يوه سيمه آباده کړي، دا آسانه ده چې پر نوموړي ځاي باندې د هغه مالکيت ومنل شي. اروپايي قدرتونو نه يواځې د ځايي امريکاييانو indians سياسي سازمان بې ارزښته ګانه، بلکه د مځکې د استعمال په اړه يې د ځايي خلکو طريقې هم په کافي اندازه موًلدې او ګټورې نه بللې، يعنې هغسې چې اروپاييانو فکر کاوه او لازمه يې بلله، ځايي خلکو نه دايمي ښارونه درلودل، نه کروندې، نه کلا ګانې او نه هم سړکونه. د ګټور فعاليت نشتوالي اروپاييان نورهم قانع کړل چې پر امريکا باندې چې خپل اوسيدونکي يې لرل، د مالکيت د درلودلو ادعا وکړي.

په ۱۸۰۵ کال کې په نيويارک کې د پيرسن او پوسټ مشهوره دعوې، شخصي ملکيت ته د درناوي يو ښه مثال وړاندې کولی شي. خبره داسې وه چې پوسټ يوه ورځ خپل ښکاري سپي په مخه کړل چې په يوه نا استوګنه سيمه کې ګيدړه ښکار کړي. ښکاري سپيانو يوه ګيدړه په نښه کړه، نژدې وو چې وې نيسي، خو دغه وخت پيرسن راپيدا شو ګيدړه يې وويشته اوله ځان سره يې يوړه. پوسټ په پيرسن دعوې وکړه او استدلال يې وکړ هغه ګيدړه چې پيرسن وويشته دده ګيدړه وه او پدې کار سره پيرسن دده پر ملکيت تيری کړيدی.

د قانون د اساساتو له مخې، وحشي حيوان په هغه چا پوري اړه لري چې لمړی يې لاس ته راوړي. خو اکثرو محکمو وويل چې يواځې د حيوان عملي تصاحب په حقيقت کې د حيوان قانوني تصاحب هم دی.

لهذا، د پيرسن عمل که څه هم بي ادبانه او وبلل شو، خو د بل پر ملکيت تيرۍ حساب نه شو. قاضي براکهالسټ ليونګستټون ددې نظر سره مخالفت وکړ. هغه وويل چې "پوسټ که څه هم ګيدړه ښکار کړې نده خو د هغه د نيولو د پاره يې کافي هڅې کړيدي، ځکه نو دا ده ته د ګيدړې د تصاحب حق ورکوي. قاضي Brockholst Livingston زياته کړه :

" که چيري يو مزاحم سړي ته چې د حيوان په لټولو او تعقيبولو کې يې هيڅ برخه نده اخيسې، قانوني اجازه ورکړو چې په وروستيو شيبو کې د بل چا ښکار د ځان کړي او په ډير بريالیتوب سره ښکار له ځانه سره يوسي، نو بيا به دا کوم ښاغلی وي چې د ښکار سپي به وساتي او ټوله ورځ به پر آس باندې سپور د ښکار کولو په هڅه کې به وي. "

د پيرسن په شان قضيه او يا د ځايي يا اصلي اوسيدونکو د مځکو مسله د مالیکت د لمړي استفادې يا تصاحب د حق په اړه ده او دا اصل ورځخه منځ ته راغلی دی چې وايي " هر څوک چې لمړی وو حق د هغه دی ګ" مګر د هغه ملکيت په باره کې به څه ووايو چې د پيدا کولو په وخت کې يې مخکني مالکان درلودل؟ مثلا" تاسو پر لاره يوه ګوتمۍ ومومدله او بيا زرګرته ورغلاست چې د هغه ارزښت معلوم کړی، زرګر تاسو ته وايي چې په ګوتمۍ کې الماس کارول شوي دي، خو تا سوته يې ځکه بيرته نه درکوي چې تاسو يې اصلي مالک نه ياست. نو څوک د ګوتمۍ د درلودلو مستحق دی؟ بايد دا خبره په ياد ولرو چې ملکيت د خلکو او اشياوو تر منځ رابطې ته نه بلکه د خلکو او خلکو تر منځ رابطې ته وايي. دا حقيقت دی چې تاسو د ګوتمۍ مالک نه ياست، خو نسبت زرګر ته تاسو د ګوتمۍ د مالکيت لوړ حق لری، ځکه تاسو هغه موندلې او ستاسو په تصاحب کې ده. بنا" تاسو مسحق ياست چې ګوتمۍ بيرته تاسو ته درکړل شي.

خو اوس فرض کړی چې زرګر دا ګوتمۍ پيژني چې دده د يوه مشتري ده. زرګر دا مشتري مغازې ته راغواړي او هغه هم د ګوتمۍ غوښتنه کوي. اوس نو ګوتمۍ د چا ده؟ ستا سو او که د مشتري (يعني اصلي مالک)؟ ګوتمۍ اصلي مالک ته ورکول کېږي. تاسو د ګوتمۍ د پيدا کوونکي په توګه د مالکيت يو حق لری چې هغه غير له اصلي مالک څخه، د زرګر او يا هر بل چا تر حق لوړ او ستر دی ګګ همدا وجه ده دا مقوله چې وايي، موندونکي، ساتونکی، له لاسه ورکوونکي، ژړيدونکي ښه قانون ندی.

پاسنۍ څرګندونې د ورکو شوو شيانو په باره کې دا عمومي قاعده را په ګوته کوي چې ورک شوی شی بايد پوليسو ته وسپارل شي او که په يوه ټاکلي مده کې د ورک شوي شي اصلي مالک پيدا شو، مال د هغه دی. او که پيدا نشو، تر هر بل چا زيات ستاسو حق دی ځکه چې د اصلي مالک پرته پر موندل شوي شي باندې ستاسو د مالکيت ادعا ستره ده.

د ملکيت د لاس ته راوړلو يوه بله لاره د مغاير يا متخاصم تصاحب دی. مغاير تصاحب يو عجيب مفهوم دی، ځکه يو چا ته اجازه ورکوي چې ملکيت د حقيقي مالک څخه تصاحب کړي. په ۱۹۸۸ کال کې د تيوګا د سکرو کمپنی او د سوپر مارکيټونو د عمومي شرکت تر منځ دعوې پاملرنه وکړۍ Tioga

Coal Co. v. Supermarkets General Corp. د اکیټ Agate سړک د سوپر مارکیټونو په ملکیت کې شامل وو چې عمومي استفاده ورځخه نه کیده او وروسته د یو عمومي سړک په توګه د ښارد پلان څخه حذف شوی وو. له دغه سړکه تیو ګا له ۱۹٤۸ څخه تر کال ۱۹۷۸ کال پوري شخصي استفاده کوله او دې سړک ته د ننوتلو لارې یې د غټو دروازو په ایښودلو چې د قلف کلي یې د نوموړي کمپنۍ سره وه بندې کړې وې. تیوګا په ۱۹۸۸ کال کې عریضه وړاندې کړه او د مغاير تصاحب د اصل سره سم یې ځان ددې سړک مالک وباله.

سوپر مارکیټونو له ۱۹٤۸کال راهیسې د سړک د حقیقي مالک په حیث کولای شوای پر تیوګا دعوې وکړي او د تیوګا لخوا د سړک د استفادې مخنیوی وکړي. د مغاير تصاحب د کتورین وایي چې که سوپر مارکیټونه د دعوې په کولو کې ډیر ځنډ راولي خپله قانوني ادعا له لاسه ورکوي. دا د محدودیتونو د قانون د اصل په پراخه ساحه کې راځي چې وایي د یو چا پر ملکیت باندې له تیري وروسته یواځې په ټاکلي مده کې شکایت منل کېږي او که په ټاکلي مده کې شکایت و نه کړي غوښتنه او ادعا یې د تل د پاره له منځه ځي.

په عادي حالت کې قانون یو چا ته د غلط کار یا خلاف رفتاری لکه د بل د مځکې د نیولو امتیاز نه ورکوي، خو په ذکر شوي مورد کې مهمه دا وه چې روښانه شي چې دا مځکه په عمل کې د چا ده چې تیوګا د یوې اوږدې مدې د پاره د هغې څخه استفاده کړیده، او مونږ هم کومه هیله نلرو چې د سوپر مارکیټونو ساتنه وکړو که هغه د یوې اوږدې مدې د پاره د خپل مالکیت د حق د تثبیتولو د پاره اقدام نه وي کړی.

د مغاير تصاحب د دقیقو غوښتنوپه هکله د قضایي حوزو فکر توپیر لري. خو په عمومي ډول که چیري یو مغاير تصاحب کوونکی د مالک له اجازې پرته په دوامداره توګه (له لسو تر یوویشت کلنو پوري چې په هر ایالت کې فرق کوي) له ملکیت څخه استفاده وکړي نو کولای شي چې د مالکیت حق وغواړي. په اصل کې یو مغاير تصاحب کوونکی باید د مالک په شان عمل کړی وي او د مالک په شان د مځکې څخه استفاده وکاندي. په داسې توګه چې حقیقي مالک ته څرګنده شي چې بل چا په اغیزمنه توګه دده مځکه خپله کړیده. د تیوګا د سکرو د شرکت په قضیه کې د مثال په ډول، مالک باید د سړک څخه په منظمه توګه استفاده وکړې او ملکیت ته د ننوتلو دروازو ته قلف واچوي، لکه تیوګا چې کړی وو. سوپرمارکیټونو د تیوګا پر عمل باندې د خبریدلو او د خپل عمل خخه د تیوګا د راوګرځولو د پاره کافي وخت درلود. د ملکیت څخه استفاده باید د حقیقي مالک د اجازې پرته وي، که نه نو دا مغاير تصاحب کنډ کېږي، چې دا د اصلي مالک په ګټه دی. دغه راز استفاده کوونکی باید د ملکیت څخه د مالک په څیر کار واخلي، یعنې په بشپړه توګه او نه په قسمي توګه. که تیوګا خپل ملکیت ته د رسیدو د پاره د سوپر مارکیټونو د ملکیت د یوې نرۍ ټرانګې څخه د خپلو لاریو د تلو راتلو په مقصد دوامداره استفاده کړې وای، تیوګا به د وخت په تیریدو سره یو محدود حق تر لاسه کړې وای چې په راتلونکي کې هم د همدغه مقصد د پاره ددې لارې څخه استفاده وکړي، خو د ملکیت ادعا یې نشوای کولای.

د سوغات له لارې هم یو څوک کولای شي د ملکیت خاوند. سوغات د ملکیت د ګټو انتقال ته وایي. ددې لپاره چې سوغات قانوني شکل ومومي، سوغات ورکوونکی باید د تحفې ورکولو اراده ولري او باید ملکیت یا یې اسناد سوغات اخیستونکي ته ولېږدول شي او سوغات اخیستونکی باید هغه ومني. قانون د تحفو د مفهوم په هکله ډیر محتاط دی. او ګمان دادی چې خلک دومره هم بشر دوسته ندي لکه څومره چې د خپلو ګټو سره دلچسپي لري. ځکه نو د سوغات ورکوونکي د عمل او نیت په باره کې څرګند شواهد پکار دي. (فکر کېږي چې تحفه به هغه وخت ومنل شي چې که تحفه د اخیستونکې د پاره مفید او ګټور وي) د سوغات د لېږدولو غوښتنه په خاصه توګه اهمیت لري، ځکه دا سوغات ورکوونکی ددې حقیقت سره مخامخ کوي چې ده یا دې د یو شي د مالکیت څخه لاس واخیست او، د یو احتمالي د عوې یا جنجال په صورت کې، د خپل سوغات دورکولو اسناد او شواهد یې هم وړاندې کړل. همدا وجه ده که زه تاسو ته یوه ګوتمی در کړم او ووایم، " زه له تاسو غواړم چې دغه شی د سوغات په توګه ومنی " دلته سوغات قانوني بڼه پیدا کړه. خو که ووایم " زه غواړم دغه ګوتمی تاسو ته درکړم، خو وروسته له هغه چې د ماشام د ډوډۍ په وخت زما په لاس کې وي " دا سوغات اغیزمن ندی. دلته د سوغات انتقال په اوسني حال کې نه وو او معمولا" د سوغات د ورکولو وعده د اجرا وړ نده. (شپږم فصل وګورئ) ګ

د نامزدی د ګوتمی مسله څنګه ده؟ کله چې یو سړی خپلې نامزدې ته د نامزدی ګوتمی ورکوي، دلته د سوغات د ورکولو، سپارلو او منلو اراده وجود لري. که نامزدی ماته او له منځه ولاړه شي، آیا سړی کولای شي د خپلې پخواني نامزدې څخه ګوتمی بیرته وغواړي؟ دا یو بې ساری حالت دی چې هغه ته محکمې شرطیه تحفي وایي. ګوتمی د واده کولو په اراده ورکول شویده او دا د یو جاکټ، یو کتاب یا د یوې بلې تحفې سره چې ده د نامزدی په وخت کې خپلې نامزدې ته ورکړیدی توپیر لري. که واده ونشي، سړی دا حق لري چې د نامزدی ګوتمی باید بیرته ورته مسترد شي.

د مړینې په وخت کې ملکیت څنګه انتقال مومي؟

د ملکیت د قانون یوه ځانګړې برخه د مرګ په حالت کې د ملکیت د انتقال په هکله بحث کوي چې دا د وصیت نامو، بي وصیته مړینې او امانتونو حقوق دي.

ملکیت تر ډیره حده د مالک په مړینې سره د ښځې او خاوند تر منځ او یا د اولادونو تر منځ انتقال مومي. دغه راز ملکیت د مړینې په حالت کې د امانتونو د اداري، له مړینې وروسته د خیریه مقاصدو د پاره د هدیې او یا دداسې نورو طرزالعملونو د پلان کولو له لارې انتقالېږي چې د مالک د مرګ پیشګویي په کې شوي وي. لمړی د طرزالعمل په اړه یوه یادونه : هر ایالت په خپل محاکماتي سیستم کې یو ځانګړی ویش لري چې د وصیت نامو او امانتونو مسایلو ته رسیدګي کوي او په عامه توګه د وصایت محکمې یا probate courts نومېږي. کله چې څوک مړ شي، نو د هغه یا هغې وصیت نامه محکمې ته وړاندې کېږي او یو شخص د وصي یا قیم executor په توګه د ملکیت د اداري د پاره ټاکل کېږي، چې له

وصيت نامې سره سم د ملکيت چارې، د پورونو ورکول او د پورونو ټولول او د ملکيت د ويش مسايل تنظيم کړي. که چيرې شخص وصيت نامه ونلري، د وصايت محکمه به د متوفې د ملکيت د پاره يو اداره کوونکی ټاکي. دا ښايي پيچلي مراحل ولري او څرنګه چې د يوې محکمې په ذريعه اداره کېږي او عمومي اړخ لري. داسې يو نهضت هم شته چې په داسې حالاتو کې د دعوث او دنګلو مخنيوی وکړي.

ځينې خلګ په خپل ژوند کې ترکه کوي (چې دا بيا خپل جنجال لري)، يو شمير نور له وصيت نامې څخه پرته طريقې استعمالوي لکه د ژوند بيمه. زيات ايالتونه د کوچنيو ملکيتونو د ادارې د پاره د يو مختصر طرزالعمل اجازه ورکوي چې هم په لږ وخت کې مسايل حلوي او هم يې مصرف ډير لږ دی. هغه څوک چې بې وصيته مري، په قانون کې د هغه مړينې ته intestate يابي وصيته مړينه وايي او دهغه ملکيت دقانون پر اساس ويشل کېږي.

د منځنيو پيړيو په انګلستان کې د بي وصيته مړينې وراثت د مځکې په اړه يو ډول وو او د شخصي مال په اړه بل ډول. مځکه د شتمنۍ تر ټولو لويه منبع وه چې په فيوډالي تعهداتو پوري تړلې وه، ځکه نو هلته له دې سره ډيره دلچسپي موجوده وه چې د مځکې مالکيت د محدودو کسانو په لاس کې پاته شي تر څو پدې ډول د فاميلي لړيو شتمني دايمي شي. د منځنيو پيړيو په انګلستان کې د ميراث د قانون سره سم زامنو ته پر لونې او مشرانو ته پر کشرانو ترجيح ورکول کيده. د يو قانون له مخې چې primogeniture نوميده، مشر زوی ته، که به يو زوی وو، د پلار ټوله مځکه په ميراث رسيدله. په انقلابي امريکا کې د ديموکراسۍ روح ددغه تبعيض د ختميدو د پاره چې د زميندارو د عنعنوي اشرافيت سره د مخالفت يو شکل وو، لاره هواره کړه.

نن ورځ د بي وصيته مړينې ميراث په هره قانوني حوزه کې د قانون پواسطه تنظمېږي. خو که چيرې مونږ ددغه قوانينو په مرسته د عنعنوي اشرافيت دوام او بقا نه غواړو نو څه غواړو چې سرته يې ورسوو؟ اساسي هدف دادی چې ملکيت په دا ډول ترتيب شي چې زيات خلک يې غوښتونکي دي گګ ددغه فرضيې د رامنځ ته کولو د پاره قانون په نظر کې نيسي چې خلک څرنګه د خپل جايداد ويشل غواړي. له همدې امله قانون داسې ګڼي چې زيات خلک غواړي خپل ملکيت د کورنۍ پر هغو غړو وويشي چې په اقتصادي لحاظ پر دوی باندې تکيه لري. که له متوفې څخه ميرمن پاته وي او اولادونه او لمسيان ونلري، نو ټول جايداد يې ميرمنې ته رسېږي. خو که له متوفې څخه ميرمن نه بلکه اولادونه پاته وي، نو ملکيت يې اولادونو ته رسېږي. او که له متوفې څخه ميرمن او دغه راز يو يا څو اولادونه پاته وي، نو مال د ټولو په منځ کې ويشل کېږي، په دې توګه چې ميرمنې ته دريمه يا نيمه برخه رسېږي (که ملکيت کوچنۍ وي، ميرمن ته تر دې هم ډيره ورسېږي) او پاته ملکيت د اولادونو کېږي.

د بي وصيته مړينې په قواعدو کې ټولو ته يو برابر حق رسېږي. که يوې کونډې له خپل ميړه سره پنځوس کاله تير کړي وي او د معاش هيڅ بله وسيله هم ونلري او د بلې خوا، بلې کونډې د خپل خاوند سره يواځې يوه ورځ تيره کړې وي او خپل کسب او کار هم ولري، قانون د ميراث د ورکولو په وخت کې د دوی تر منځ فرق نه کوي. دغه راز له بالغو او نابالغو اولادونو سره او د ګرانو او ناګرانو ماشومانو سره

یو شان رویه کېږي. ددې د پاره چې د مختلفو لارو د ملکیت د ترتیب او د بي وصیته مړینې له قانون څخه ځانونه وژغوري، زیات خلک وصیت نامې برابروي. د وصیت نامې د لیکلو د پاره لږ تر لږه دوه نور دلایل هم شته. لمړی داچه که والدین مړه شي او واړه ماشومان ترې پاته شي، نو ددوی د کوچنیانو او مال د دواړو ساتنه په کار ده. دغه راز که مور او پلار دواړه مړه شي، نو محکمه د وړو ماشومانو د پاره یو قیم Guardian ټاکي چې ممکن د والدینو د پاره به غوره وو او یا نه وو. خو په وصیت نامې کې یو د والدینو څخه کولای شي چې د خپلو کوچنیانو د پاره قیم یا پالونکی غوره کړي. محکمه تل دا ټاکنه تصدیقوي. حتې که یو له والدینو څخه ومري او ماشومان د بي وصیته مړینې له لارې میراث یوسي، نو باید د مال د ساتنې د پاره قیم وټاکل شي چې د محکمې یوه اندازه مداخلې ته اړتیا لري او دا مداخله ښایي د والدینود خوښې سره سمه نه وي ګګ دوهم، داچه د فدرال حکومت دټکس یا مالیې قوانین حتې د متوسطې اندازې له ملکیت څخه هم زیاته اندازه ټکس اخیستلی شي. اصول په پرله پسې ډول بدلېږي. خو د متوسطې طبقې سړی چې یو کور لري، د ژوند بیمه لري، د تقاعد معاش او پانګه لري، د دولت د ټکس سره مخامخ دی. په وصیت نامو کې د بیلا بیلو طریقو څخه استفاده کېږي، تر څو پر ملکیت باندې د ټکس بار لږ یا اقل حد ته راکښته شي.

همدا وجه ده چې ګڼ خلک د خپل ملکیت د تنظیم د پاره وصیت نامې برابروي. مخکې لدې چې شرح کړو چې وصیت نامه څنګه منځ ته راځي، دوې مخکنې پوښتنې شته او هغه داچه، ولي مونږ اجازه ورکوو چې خلک وصیت نامې جوړې کړي؟ او آیا د یو شخص د قابلیت د پاره چې د وصیت له لارې خپل د ملکیت مسایل تنظیم کړي، کوم محدودیت شته او که نه؟

خلکو تل دا توان نه درلود چې د مرګ په وخت کې خپل ملکیت تنظیم کړي. په انګلستان کې د تر ټولو مهمې شتمنۍ یعنې مځکې د وصیت نامو په اړه دوه خنډونه موجود وو. یادوونه کوو چې په فیوډالي انګلستان کې به د مځکې ملکیت د ځینو فیوډالي ژمنو سره انتقال کیده. ځکه نو له کورنۍ څخه دباندې د ملکیت انتقال او یا د ملکیت ویش ددې سبب کیده چې لارډ د خپلو ژمنو په پوره کولو کې له ستونزو سره مخامخ شي.

دغه راز کله ناکله به وصیت نامې د یو روحاني تر اغیزلاندې دمرګ په تخت کې هم منځ ته راتلل. روحاني به مړکیدونکی شخص هڅاوه چې د خپل روح د ژغورلو د پاره خپل جایداد خیرات کړي، او همدا وجه وه چې د قانون د مسایلو تاریخ پوه فریدریک میټ لینډ ولیکل : " د کلیسا د حرص او مړ کیدونکي سړي د دنیایي چارو تر منځ باید یو دیوال ودرول شي. "

نن ورځ د وصیت نامې په ذریعه د جایداد د تنظیمولو وړتیا او قابلیت د ملکیت د نورو اساسي حقونو په حیث په پراخه پیمانه منل شویده. لکه څرنګه چې یو څوک خپل جایداد په خپل ژوند خرڅولی، ورانولی او تنظیمولی شي، دا حق هم لري چې وټاکي چې ملکیت یې وروسته له مړینې چاته ورسېږي.

د ملکیت د تنظیم په اړه د وصیت نامې په آزادی کې یوه مهمه استثنې شته او هغه داچه په عمومي توګه واده شوی شخص نشي کولی د وصیت له لارې خپل ټول ملکیت نورو ته ورکړي او خپل زوج ته هیڅ

ورنکړي، ځکه واده د اقتصادي شراکت حیثیت لري. کله چې ښځه او میړه ژوندي وي، دوی یو د بل د حمایه کولو مسوولیت لري. دوی د طلاق په وخت کې د جایداد او عوایدو د شریکولو یو حق لري او په ځینو مواردو کې دا حق هم لري چې یوه خوا د بلې خوا په جایداد کې هم شریک شي. د اقتصادي شراکت تعهدات د یوه زوج په مړینه سره له منځه نه ځي. هغسې چې مو په عرفي یا عام قانون common law کې د میړه یا ښځې د مړینې په صورت کې د مالکیت د متقابل انتقال پر نظریاتو بحث وکړ، په معاصر حقوقي سیستم کې د مړه شوي زوج د مالکیت په برخه کې د انتخابي برخې elective share نظریه وجود لري. که د مثال په توګه یو میړه په وصیت نامه کې خپل ټول مال د لمړۍ ښځې اولادونو، خپلې معشوقې او ـS.P.C.A (پرحیواناتو باندې د تیري د مخنیوی ټولنه) ته پربږدي، نو د هغه کونډه قانوني حق لري چې د وصیت سربیره د ملکیت د یوې برخې غوښتنه وکړي. که څه هم د بیلا بیلو قضایي حوزو چلند پدې برخه کې یو شان ندی، یوځانګړی قانون ښځې ته دا حق ورکوي چې د متوفي میړه د جایداد څخه یو پر دریمه برخه تر لاسه کړي، که څه هم په وصیت نامه کې داسې نه وي راغلی. یو وروستی قانون د وصیت نامې د متحدالشکله قانون ماډل یا Uniform Probate Code د ژوندی پاته شوې جوړې د میراث برخه پر دې اساس تنظیموي چې دوی څومره وخت یو له بل سره ژوند کړی دی. دغه راز د انتخابي برخې په ټاکلو کې د ژوندی پاته شوي جوړې خپل جایداد هم په نظر کې نیسي.

د انتخابي برخې د حکم په اړه د دوو ټکو یادونه ضروري ده :

لمړی دا چې دا برخه اختیاري ده او ژوندی زوج کولای شي چې برخه وغواړي یا ورڅخه تیر شي که چیرې ښځه پخپله ډیرې پیسې ولري او خوشحاله شي چې ووینې د خاوند پیسې یې SPCA (پر حیواناتو باندې د تیري د مخنیوي ټولنې) ته ځي، او یا که په وصیت نامه کې د ملکیت د پلان د پاره پیسې امانت ته ورکړل شوي وي او دا ونه غواړي دا پلان اخلال کړي او د خپلې برخې د غوښتنې څخه ډډه وکړي تر څو هرشی د وصیت مطابق پر مخ ولاړ شي ګ

دوهمه خبره چې ښایي عجیبه ښکاره شي داده چې د انتخابي برخې قانون د ملکیت د یوې برخې انتقال ژوندی زوج ته تضمینوي او نه اولادونو ته چې احتمال لري په اقتصادي لحاظ پر موروپلار متکي وي. د حکم فرضیه داده چې ژوندی زوج به دماشومانوملاتړ وکړي اوزوج ته به د پیسو ورکړه د ماشومانو د ملکیت د اداري لپاره د یو قیم د ټاکلو ضرورت له منځه یوسي.

د منځني عمر یا د ډیر عمر اکثره امریکاییان چې یو څه ډیر جایداد لري، نو وصیت نامه هم لري، پدې توګه د وارثانو ترمنځ د ملکیت ویش د وصیت نامي پر اساس وروسته له مرګه د ملکیت د انتقال یو ډیر عام شکل او وسیله ده

د وصیت نامي په اساسي شکل کې باید د ملکیت د تنظیم قصد او نیت په لیکلي توګه څرګند شوی وي، د وصیت کوونکي لاس لیک په کې وي او هم شاهدانوتصدیق کړې وي. محکمه د وصیت نامې په اړه د ډیر دقت څخه کار اخلي او یوائې هغه وصیت نامې منې چې ټولې غوښتنې په کې په نظر کې نیول شوي وي. ولي پر رسمیاتو یا تشریفاتو باندې ډیر ټینګار کېږي؟

ددې تشریفاتو د غوښتنې هدف پدې کې څرګندېدلای شي که مونږ د یو اصلي او رسمي وصیت نامې تر څنګ یو بل ډول وصیت ته وګورو. فرض کړئ چې د جین دو Jane Doe تر مړینې وروسته د هغې وراره محکمې ته ولاړ شي او ادعا وکړي چې د هغې ګرانې ترور ده ته وویل چې ددې تر مرګ وروسته دې ددې د پیسو څخه ده ته یو لک ډالره ورکړل شي. مونږ به څنګه باور وکړو چې جین دو به واقعا" دغسې وصیت کړی وي؟ اوس چې دا مړه ده او وراره یې یواځنۍ شاهد دی، کیدای شي د خپلې ګټې په خاطر یې درواغ ویيلي وي. دوهم داچه مونږ څنګه ډاډه شو چې د هغې همداسې یو مقصد وو؟ آیا هغه حقیقتا" پوهیدله چې وراره ته د خپل ملکیت یوه برخه ورکوي او که دا صرف یوه خبره وه؟ . دریم، څرنګه مونږ ډاډ تر لاسه کولای شو چې ددې حقیقتا" همدا مقصد وو؟ آیا د هغې دې سوغات شرایط درلودل او که نه؟ څلورم، مونږ څنګه ډاډ تر لاسه کولای شو چې هغې به وروسته خپل نظر نه وي بدل کړی، بیله دې چې وراره ته د خپل فکر د تغیر په هکله څه ووایي او که ونه وایي؟

په رسمي وصیت نامو کې د سوغات ورکولو د نیت او ارادې د پاره شواهد شته او محکمې ته څرګندېږي چې دا سوغات په جدي ډول په فکر کې وو. پوښتنه پدې کې ده چې څومره رسمي په کافي اندازه رسمي دی؟ د وخت په تیریدو سره د وصیت نامو په برخه کې اساسي غوښتنې ، یعني لیکلي متن چې د وصیت کوونکي او شاهدانو لخوا لاس لیک شوي نسبتا" ثابت پاته شویدی ګ

د وصیت د لیکلو لزوم یا غوښتنه د محکمې د پاره یو دایمي اساس منځ ته راوړي، محکمې ته پر وصیت نامه باندې د غور کولو او د هغه د جدي ګڼلو امکان برابروي. د لیکلي وصیت نامې پر ځای ویدیو یا آودیو تیپ نه منل کېږي. یو حقوق پوه ممکن یو نیم وخت د وصیت نامې د عملیې فلم واخلي څو پدې ډول دا وښیي چې وصیت کوونکی پوهیده چې څه کوي. خو واقعي وصیت نامه یوه لیکنه ده او نه فلم. د لاس لیک لزوم هم جدي والي ښیي او هم د بشپړوالي ښودنه کوي. (بله وظیفه یعني دا نښه چې دا په حقیقت کې وصیت کوونکی دی چې خپله اراده یې څرګنده کړیده نور د پخوا په شان ډیر اهمیت نلري) د قانون په نظر که یو څوک د خپل ملکیت د تنظیم په اړه هسې یادداشتونه لیکي او یا د وصیت مسوده لیکي نو خپله لیکنه نه لاس لیک کوي. لیکنه یواځې تر بشپړیدو وروسته لاس لیک کېږي. امضا ښیي چې وصیت کوونکی خپله وروستی او بشپړه غوښتنه او هیله څرګنده کړیده.

د شاهدانو موجودیت هم دې ته ورته وظیفه تر سره کوي. په ځینو ایالتونو کې دا ضروري ګڼل کېږي چې شاهدان باید ذینفع نه وي او داسې کسان وي چې د وصیت څخه کومه ګټه تر لاسه نکړي. په ځینو ایالتونو کې دا ضروري ده چې د وصیت لیکونکی باید د شاهدانو په حضور کې ووایي چې هو، دا مې وصیت دی یا داچه شاهدان په خپله د وصیت کوونکي لخوا د سند لاس لیک کول ووینې او بیا یې دوی هم د وصیت کوونکي په وړاندې لاس لیک کړي. ډیر ځایه هغه وکیلان چې وصیت نامې برابروي، نو دا کار د یو لړ مراسمو په ترڅ کې کوي تر څو په دې ډول ټولې رسمي تقاضاوې پوره شي.

په داسې حال کې چې قانون ټاکلي رسمیات غواړي، پوښتنه کېږي چې که په یوې وصیت نامې کې رسمیات نه وي پوره شوي، خو د رسمیاتو اصلي مقصد پوره شوی وي بیا به څه کېږي؟ مثلا" که وصیت

کوونکي د وصیت لیکنې په وخت کې تشناب ته ولاړ شي او دغه وخت شاهد وصیت نامه امضا کړي. د قانون د غوښتنې سره سم شاهد باید سند د وصیت کوونکي په حضور کې لاس لیک کړی وای، آیا د وصایت محکمه باید په دغه دلیل د سند د منلو څخه ډډه وکړي؟ که محکمه دا سند و نه مني نو د وصیت کوونکي په غوښتنو به یې هسې د یوې تخنیکي اشتباه په خاطر پښه ایښې وي او که په دې تیروتنه سترګې پټې کړي نو بیا خو به پر نورو تیروتنو باندې سترګې پټولو ته هم لاره خلاصه شي، او کرار کرار به ددې امکان منځ ته راشي چې پر ټولو قانوني غوښتنو به سترګې پټې شي. ځینې محکمې نسبت نورو ته سخت ګیرې دي، خو په وروستیو کلنو کې داسې تمایل موجود دی چې په دغسې وړو تیروتنو باندې سترګې پټېږي.

را ځئ اوس یو مهم مورد ذکر کړو. کله چې جورج لوګان مړ شو، ددې خور لیلیان له یو داسې سند سره چې جورج لاس لیک کړی وو محکمې ته راغله. جورج لیکلي وو :

پدې توګه خپل لاس او مهر هر هغه چاته وړاندې کوم چې زما د ملکیت سره دلچسپي لري، چې زه خپلې ټولې پیسې او جایداد زما خور لیلیان ګروندمن نې لوګان ته ورکوم چې د هر څه او ټولو څخه یې ګټه واخلي.

په ډیر احترام
د تل د پاره
جورج ټ لوګان

دلته مورِ یو داسې سند لرو چې د وصیت اراده بیانوي، اما شاهد نلري آیا دا سند باید د رسمیاتو د کمبود سره سره د وصیت په حیث ومنل شي؟ دلته قانون یو ځل بیا له سخت انتخاب سره مخامخ دی. په لاس باندی یو لیکل شوي سند ته اعتبار ورکول د سند د رسمي توب د شرایطو په اړه د قانون تقاضاوې نه پوره کوي او د قانوني تشریفاتو هدف هم نه تر سره کوي. خو ددغه سند نه منل د جورج لوګان د څرګندې مقصد د نه منلو معنې لري چې غواړي خپل جایداد خپلې خور ته پرېږدي. د بلې خوا د سند نه منل به دا معنې هم ولري چې قانون له هغو خلکو سره بې انصافي کوي چې د وصیت نامې د برابرولو د پاره د وکیل د استخدامولو وس نلري. ددې سند په باره کې د تصمینم نیولو د پاره محکمه باید له سند څخه بهر شواهدو او حقایقو ته هم پام وکړي، مثلا" دې حقیقت ته چې آیا جورج په تیرو پنځه ویشتو کلنو کې له خپلې خور سره اوسیدلی وو؟ که داسې وي نو مونږ د وصیت کوونکي د ارادې په پوهیدلو کې تر کومه حده مخ ته تلای شو؟ او څه ډول لیکنه به کافي وي؟

د وصایت د محکمې طرزالعمل دادی چې د وصیت نامې درلودونکی خپل سند محکمې ته سپاري چې سند یې د اغیزمنې وصیت نامې په توګه ومنل شي. یو بل څوک چې پدې باور دی چې وړاندې شوی سند باید اغیزمن نه وي، کولای شي پر هغه اعتراض وکړي. اعتراض کوونکی به پدې خاطر دا کار وکړي

چې که وصیت نامه اغیزمن و نه ګڼل شي، ښایي دی وشي کولای د بي وصیته متوفې د وراثت په ردیف کې د ملکیت یوه برخه تر لاسه کړي ګګ د سند په شکل کې د نیمګړتیا پرته د وصیت نامې د چلینج کولو یو بل عام اساس (چې لا هم ډیر عمومیت نلري) دادی چې ادعا وشي چې ګواکي وصیت کوونکي دماغي تکلیف درلود او یا د وصیت کولو پر وخت تر ناروا فشار لاندې وو.

قانون د بیلا بیلو مقصدونو د پاره د عقلي توان بیلا بیل تعریفونه راوړي. دلته پوښتنه داده چې آیا وصیت کوونکی پوهیده چې د وصیت نامې په نسبت یې څه کول؟ دلته دملکیت د ماهیت پیژندل، د هغو کسانو پیژندل چې ملکیت به تر لاسه کوي یا به ترې بې برخې کېږي او دغه راز د وګړو او هغه جایداد تر منځ په روابطو باندې پوهیدل شامل دی چې پریښودل کېږي. لهذا، که یو څوک حتې د خپل ورځني ژوند عادي کاروبارپر مخ نه وړي، یا مثلا" دداسي واهمې او خیال سره مخامخ وي چې ګواکي خبیثه ارواح دده په لټه کې دي، بیا هم که دده روغتیایي ستونزې لده څخه ددې وس او پوهه وانخلي چې خپل جایداد په منطقي ډول تنظیم کړي، دی ممکن د وصیت کولو توان ولري.

مشکل موارد دهغووصیت کوونکو دي چې پرخپلواولادونو او لمسیانو پدې خاطر په قهر او غضب وي چې دوی یې په روغتونو کي بستري کړیدي، یا یې د زړو د څارني مرکزونوnursing home او یا یې د رواني ناروغیو مرکزونو ته سپارلي دي. که څه هم وصیت کوونکي حقیقتا" څارنې ته اړتیا درلوده، آیا دغه ډول قهر او خفګان معقول اساس لري یا دا صرف یو بیځایه خیال او واهمه ده؟

د ټولې وصیت نامې یا د هغه د یوې برخې په لیکلو کې د ناروا نفوذ د اعمال ادعا ډیره کېږي. د ناروا نفوذ د اعمال احتمال هغه وخت زیاتېږي چې څوک چې له وصیت نامې څخه ګټه اخلي پر وصیت کوونکي باندې د نفوذ او اغیز په لوړ موقعیت کې وي او داسې رابطه یې وي لکه د وکیل او موکل یا ډاکټر او ناروغ او یا داسې څوک وي چې د خپل یو بوډا خپلوان چارې سمبالوي.

دا پوښتنه، چې حقایقو ته ډیره اړتیا لري، پدې کې ده چې آیا وصیت واقعا" د وصیت کوونکي د خوښې محصول دی، یا د نفوذ کوونکي د نفوذ او تاثیر؟

امانت Trust څه شی دی؟

په یو ملکیت کې په غیر معمولي طریقه د حقونو د مجموعې ویشلو ته امانت یا ترست وایي.

لمړی : د ملکیت اداره د هغه د ګټو څخه بیله ده. ملکیت د یو معتمدtrustee پواسطه اداره کېږي، یعني داسې یو څوک چې معمولا" د پانګې اچولو یا سرمایه ګذاری صلاحیت لري، د ملکیت عواید ټولوي ملکیت خرڅولای او یا یې په کرایه ورکولای شي. دی د ملکیت له عوایدو څخه استفاده نه کوي، بلکه ده ته معاش ورکول کېږي. له ترست څخه استفاده کوونکي حق لري د ملکیت څخه هر ډول عایدات چې لاس ته راځي، ترلاسه کړي. دوهم : د استفاده کوونکي حقونه هغه وخت ټاکل کېږي چې کله ترست د

خپل رامنځ ته کوونکيgrantor په ذريعه جوړېږي. د ترست رامنځ ته کوونکی هغه څوک دی چې د ترست اصلي ملکيت يې ترست ته واګذار کړی وي.

د ترست رامنځ ته کوونکي مثلا" کولای شي فيصله وکړي چې د استفاده کوونکي عايد دې د ترسټ له اصلي پانګې څخه نه بلکه د ټرست له عوايدو څخه دې وي، يا يو استفاده کوونکی دې د ټول عمر د پاره عايد ترلاسه کړي او وروسته دې اصلي پانګه يو بل چا ته ورکړل شي. او يا د خيريه چارو د ټرست عوايد دې يو خاص مقصد ته بيل کړل شي. مثلا" د سرطان د علاج د موندلو، يا د بې کورو پيشو ګانو د پاللو اومړولو د پاره دې بيل کړل شي.

لکه څرنګه چې وروستی مثال يې څرګندوي، ځيني ټرستونه د خيريه چارو د پاره وي، خو د کورني جايداد او وصيت نامو په برخه کې شخصي ټرستونه ډير مهم دي. له ټرستونو څخه د ګټو مقاصدو د پاره استفاده کېږي ګګ ژوندي ټرستونه ممکن ملکيت له وصايت څخه بهر وساتي، اشتهار لږ کړي او فيس او حق الزحمه وسپموي، که څه هم د وصيت نامو د قانون په وروستيو رفورمونو کې د ژوندي ټرست فايده کمه شويده. ټرستونه هم د رامنځ ته کوونکي په ژوند کې جوړېږي (inter vivos trusts) او هم د هغه د وصيت سره سم د هغه تر مړينې وروسته جوړېږي چې هغه ته (testamentary trusts) وايي. ټرستونه کولای شي د هغه چا جايداد وساتي چې په خپله يې نشي اداره کولای، يا د جايداد د اداري قانوني اختيار نلري (مثلا" ماشوم وي). اويا د عملي بي وسی په وجه د ملکيت د اداري قدرت نلري (مثلا" په مالي مسايلو هيڅ نه پوهېږي). ښايي د ټرست د استعمال ډيره غالبه بڼه د ټکس او مالياتو د مقاضدو د پاره وي، په تيره بيا د ملکيت په پلان جوړونه کې. د ملکيت د فدرالي ټکس قانون له يو ټاکل شوي حد څخه پر زيات ملکيت باندې مالیه لګوي. فرض کړئ چې دغه حد اوه لکه ډالره دی (چې البته هر کال دغه حد بدلېږي). که چيرې د ښځې او خاوند د هر يوه شتمني شپږ نيم لکه ډالره وي، او ښځه ومري او خپله شتمني خاوند ته پرېږدي، دلته د هغې پر شتمنۍ ټکس نه راځي، ځکه د فدرالي ټکس ټاکلي حد ته نه رسېږي، خو که خاوند هم ورپسې ومري او د ځان او ميرمنې شتمني اولادونو ته پرېږدي، نو دده ملکيت به د ميرمنې د شتمنی په يو ځاي کيدو سره تر اوو لکو ډالرو واوړي او فدرالي ټکس به ورباندې راشي. ټرست د ټکس د ورکولو خخه د ځان ساتلو د پاره استعماليدلی شي. ښځه کولی شي په خپل وصيت نامه کې وليکي چې ددې ملکيت دې په يو ترست کې کښيښودل شي او تر هغه چې يې ميړه ژوندی دی د ترست عوايد دې د اصلي سرمايې د يوې برخې سره ددې ميړه ته ورکړل شي. کله چې يې ميړه وفات شي، د ترست عوايد دې ددې د ماشومانو د پاره ولګول شي، تر څو چې ددې ماشومان د بلوغ او پوخوالي داسې سن ته ورسېږي چې وشي کولای د ترست اصلي پانګه په کار واچوي، هغه وخت دې د ترسټ اصلي سرمايه ددوی تر منځ وويشل شي.

ملکيت څنګه پلورل کېږي؟

شتمني کيدای شي چې د سوغات يا وصيت نامې له لارې بل چاته انتقال شي، خو تر ټولو آسانه لاره يې پلورل دي. خلک هره ورځ شتمني اخلي او پلوري. له سهارنۍ ورځپاڼې رانيولې د کور تر موټر پوري، دا ټول د پلورلو او پيرودلو مالونه دي. زياتره قانوني مسلې چې ددغه معاملاتو په نتيجه کې منځ ته راځي، د قرارداد د قانون په ذريعه اداره کېږي، نه د ملکيت د قانون په ذريعه. دلته مونږ د کورد پلورنې موضوع څيړو، کور د ګڼو خلکو د پاره په اقتصادي لحاظ تر ګردو مهمه معامله ده. مونږ به دلته د کور د پلورنې پر جزييياتو خبرې ونکړو، بلکه دملکيت د حقوقو ځينې ډير مهم موضوعات به چې د ملک او جايداد د تبادلې سره اړه لري شرح او توضيح کړو.

لمړی فکر وکړېچه ولي د کور اخيستل پدې ارزي چې په ځانګري توګه پاملرنه ورته وشي. يو دليل يې په څرګنده توګه هغه زيات مقدار پيسې دي چې د کور د اخيستلو د پاره ورکول کېږي. د يوې کورنۍ د پاره کور د ژوند د بيمې او د تقاعد سره يوځای غالبا" د دوی تر ټولو لويه سرمايه ده. په هغه شيانو کې چې د ډيرو پيسو مسله مطرح وي، قانون هم ډير پيچلی وي. اما د ملک او جايداد خرڅول پدې خاطر هم پيچلی دی چې د ملکيت سره ډير زيات نور حقوق تړلي دي. پداسې حال کې چې دا د شخصي ملکيت يو عام شکل دی، په يو وخت کې يواځې يو شخص د يو ملکيت سره دلچسپي لري او دا شخص معمولا" د ملکيت صاحب دی. حقيقي ملکيت لدې څخه توپير لري. په حقيقي ملکيت کې ممکن څو مختلف کسان په يو ملکيت کې ګټې ولري، تصاحب د مالکيت نښانه نده ګګ يوه ټوټه مځکه ممکن په بيلا بيلو وختونو کې په مختلفو کسانو پلورل شوې وي او د پلورنې حدود يې هم سم معلوم نه وي. دغه راز د دوو ګاونډيو تر منځ ممکن د مځکې حدود دقيق نه وي او مالکيت هم غير روښانه وي. همدا شان د بانک، اجاره کوونکي او د نيکونو منافع په چې د کور د اخيستلو د پاره يې د بيې يوه برخه د مرستې په توګه ورکړيده هم ممکن په ملکيت کې وي. همدا وجه ده چې د ملک او جايداد د تبادلې د پاره ځينې خاص حقوقي او قانوني اصول منځ ته راغلي دي.

راځئ چې د کور د پلورنې اصلي عناصرو ته يوه کتنه وکړو. او بيا هغو دوو عناصرو ته ځير شو چې د ملکيت د حقوقو سره خاص تړاو لري. د ملکيت په انتقال کې هم د ملکيت او هم د قرارداد مفاهيم شامل دي. د قرارداد مسايل اکثره په کافي اندازه را منځ ته کېږي خو د هغه سره د قرارداد د قانون د مسايلو په پرتله چې په نورو زمينو کې منځ ته راځي، يو څه بيل چلند کېږي. رواج، سيمه ايز دودنه باورونه او همکاري تر قانون زيات د ډيرو معاملو او تبادلو د تکميليدو سره مرسته کوي. يواځې هغه وخت چې ستونزې او مشکلات د نورو لارو حل نشي، د معاملو خواوې قانوني سيستم ته مراجعه کوي. د يو کور څښتن او اخيستونکی کولای شي چې د پلورنې معامله په خپله تر سره کړي. خو د ملکيت د تبادلې په اکثرو مواردو کې دلال منځګړيتوب کوي. دلال اکثره وخت له دواړو خواوو سره اړيکي لري، پداسې توګه چې د کور د پلورنکي سره مرسته کوي چې کور خرڅلاو ته برابر کړي، د کور بيه ټاکي او اعلانونه کوي، اما د بلې خوا د اخيستونکي سره هم مرسته کوي تر څو مناسب کور وموميِ. د قرارداد له مخې دلال د پلورنکي استازی وي، نه د اخيستونکي. (په وروستيو کې د اخيستونکي د دلال او يا ګډ

دلال مفکوره چې د دواړو خواوو استازی ویمنځ ته راغلې ده. خو دغه مفکوره نسبتا" عامه نده). د دلالی له قرارداد سره سم دلال مکلفیت لري چې د پلورنکي کو د امکان تر حده په لوړه بیه وپلوري او یا په بل عبارت د پلورونکي ګټې خوندي کړي. اما قانون همدا شان د اخیستونکي په وړاندې د دلال ځانګړي وجایب هم تعریفوي. مثلا" دا د دلال وظیفه ده چې په منصفانه توګه د کور د وضعیت په هکله معلومات ور کړي. کله چې د اخیستونکي پام کور ته واوړي، نو هغه به د کور د اخیستلو د پاره یو وړاندیز وکړي. د سیمه ایزو رواجونو له مخې ټاکل کېږي چې آیا دا وړاندیز تقریري وی اوکه تحریري، آیا د وړاندیز سره یو ځای یو څه پیسې کښیښودل شي او یا راتلونکي خبرې اترې به په څه ډول وي. کله چې پلورونکی او اخیستونکی د بیې په هکله موافقې ته ورسېږي، بیا به د پلورلو او اخیستلو معامله د لیکلي قرارداد پرڅو ته داخله شي. په قرارداد کې به د معاملې ټول شرایط درج وي. مثلا" بیه، د معاملې وروستی نیټه، د معاملې د ختمولو شرایط او نور. اخیستونکی حق لري چې شتمني له نژدې وګوري اود پلورنکي وظیفه ده چې شتمني باید د خپل حق په توګه ثابته کړي. د معاملې د پای نیټه ممکن څو اونی او یا ممکن څو میاشتې وروسته وټاکل شي، تر څو په دې مده کې اخیستونکی د اړتیا وړ کارونو د تر سره کولو مخصوصا" د بانک څخه د قرضې د اخیستلو د پاره موقع ولري. کله چې د انتقالي دورې کارونه تر سره شي، بیا نو وروستی پړاو رارسېږي چې د پلورونکي لخوا د قوالې ورکول او د اخیستونکي لخوا د پیسو ورکول په کې شامل دي.

ددې معاملي دوو عناصرو ته پام وکړئ. لمړی عنصر د معاملې ماهیت دی چې پلورنکی باید د ملکیت منافع اخیستونکي ته انتقال کړي. پلورونکی په دقیقه توګه څه شانتقالوي او څه پیښېږي که داسې پوښتنې منځ ته راشي چې څوک د څه شي مالک دی؟ . دوهم، په اکثرو حالاتو کې پیرودونکی باید له کوم بانک یا د ګروی له کمپنۍ څخه د کور د بیې د ورکولو د پاره پیسې په پور واخلي. نو رهن یا ګرو mortgage د شتمنۍ د ګټې څه ډول دی او دا د اخیستونکي او د بانک د پاره څه مفهوم لري؟

کله چې مځکه وپلورل شي، پلورونکی، اخیستونکي ته قواله چې یو رسمي لیکلی سند دی او د شتمنۍ تسلیمیدل څرګندوي سپاري. (د مځکې په پلورلو یا انتقالولو کې که حتې د انعام او بخشش په توګه هم وي، د قوالې څخه استفاده کېږي) په منځنیو پیړیو کې د مځکو د انتقال د پاره به سند نه ورکول کیده او د مځکې انتقال به په یو مراسمو کې ترسره کیده چې د انګلستان په عامه یا عرفي قانون common law کې livery of seisin یادیده. اخیستونکي او پلورونکي به د شاهدانو په حضور کې د شتمنۍ په ساحه کې سره لیدل. اخیستونکي به د حاضرینو په مخ کې وویل چې خپل ملکیت انتقالوي او په سمبولیک ډول به یې یوه لوټه یا لرګی اخیستونکي ته ورکړ. نن ورځ د قوالې څخه د همدغه رسمي اهدافو دپاره استفاده کېږي. قواله ټولو ته څرګندوي چې یو انتقال صورت موندلی دی او د همدې سند له مخې او نه د شاهدانو له مخې د ملکیت انتقال په رسمي توګه ثبت کېږي. قواله د معاملې دواړې خواوې او شتمني معرفي کوي او د پلورونکي دا اراده څرګندوي چې غوښتي یې دي چې خپل ملکیت بل چا ته انتقال کړي. سند باید د پلورونکي لخوا لاس لیک او اخیستونکي او یا د هغه نماینده ته وسپارل شي. ددې

ضرب المثل اساس چې وايي " امضا شوی، مهر شوی او سپارل شوی "، له همدې ځايه دی. اما اکثرو قضايي حوزو د مهر اړتيا له منځه وړې ده.

د کور مالک چې قواله تر لاسه کوي، د کور د مالکيت او حقيقي تصاحب يا title سند تر لاسه کولو ته اړتيا لري. داحق دملکيت په قانون کې د يوشي د تصاحب رسمي مفهوم ته وايي. پلورونکی بايد اخيستونکي ته يو داسې حق ورکړي چې په بازارکې ارزښت marketable titleګولري. ددغه تعريف بشپړ قانوني مفهوم يو څه پيچلی دی، خو فکر وکړئ چې اخيستونکی د يو شي د ترلاسه کولاو تمه لري او هغه د ملکيت د پوره تصاحب تمه ده گ، يعنې بيله دې چې په ملکيت کې نورې متضادې ګټې شاملې وي. اخيستونکی غواړي چې په ملکيت کې د نورو جنجال نه وي. مثلا" نور وربانديې د مالکيت، اجارې يا گروی ادعا ونلري (encumbrances). دغه راز اخيستونکی غواړي چې د ملکيت د حق د ترلاسه کولو په سند کې ورته هيڅ ډول جنجال پيښ نه شي. چې دې ته (chain of title defects) وايي. يو له هغه دلايلو څخه چې د حقيقي ملکيت د پلورلو د پاره د قانون داسې يوه پيچلې مجموعه منځ ته راغلي ده دادی چې ددې ضمانت کول ډير گران دی چې په يو ملکيت کې به د مالکيت يا گروی او يا د تصاحب په حق کې هيڅ ډول ادعا يا نورې ستونزې نه وي. په هر حال مځکه ممکن د سل گونو کلنو راهيسې پلورل شوې او له يوه څخه بل ته انتقال شوي وي، استفاده ورڅخه شوې، د هغه د پاره پيسې په پور اخيستل شوي، گاونډيو ته د هغه څخه د استفادې اجازه ورکړل شوي وي او داسې نور. ددې اعمالو هر يو ممکن د اوسني ملکيت پر تصاحب باندې اغيز ولري. نو څنګه يو پلورونکی او اخيستونکی اطمينان تر لاسه کولای شي چې پلورونکی اخيستونکي ته د تصاحب داسې سند ورکوي چې اخيستونکی يې غواړي او د هغه بيه تاديه کوي؟

هر ايالت ددغو ستونزو د هوارولو او احتمالي مشکلاتوسره د مقابلې د پاره د ثبتولو قانون لري، چې د هغه له مخې د حکومت لخوا د مځکو سوابق ساتل کېږي. معمولا" ددغو مقرراتو سره سم په هره ولسوالی کې د قوالو ثبت کوونکي او د محکمې د مامورينو يوه اداره شته چې هلته د مځکې د انتقال په اړه قوالې، د اوږدې مدې اجارې، رهن او ګرو او نور اسناد ساتل کېږي ګګ څرنګه چې په ډيرو ايالتونو کې د پيړيو راهيسې د اسنادو د ثبت مقررات شته، نو له هغو سره سم د مځکو د ثبت په کتاب کې د مځکې د ډيرو کلنو تاريخچه پيدا کولی شو. د سوابقو په کتاب کې د هغې قوالې اسناد موجود وي چې د مځکې پلورونکي اوپيرودونکي وربانديې معلومېږي. اسناد مونږ ته د مځکې د پلورنې او پيرودنې د تاريخ او نېټې په شمول نور ډير شيان هم ښيي گ

د ثبتولو مقررات د جايداد د اخيستونکو تر منځ د لمړيتوب ستونزه هم هوارولای شي. داسې به وګڼو چې يو بي وجدانه سړی خپل جايداد په دوو نفرو پلورلی دی. آيا په دغو دوو کسانو کې به کوم يو د جايداد مالک وګرځي؟ په ځينو ايالتونو کې هغه څوک د ملکيت څښتن کېږي چې خپل سند لمړی ثبت کړي، حتې که دغه سړی خبر هم وي چې جايداد تر ده دمخه پر بل چا هم پلورل شوی دی. څرنګه چې دغه سيستم پر محکمو باندې د معامله کوونکو بيروبار ډيروي، نو ځکه ورڅخه ډيره استفاده نه کېږي. د

نورو مقرراتو له مخې چې په عامه توګه ورځخه استفاده کېږي د دوهم اخیستونکي حق هغه وخت پیاوړی بلل کېږي چې هغه د مخکني خرڅلاو څخه هیڅ خبر نه وي. دوهم اخیستونکی هغه وخت هم د لمړیتوب حق لري چې هغه ته تر مخکني اخیستونکي مخکې پدې هکله خه نه وي ویل شوي او کوم سند هم په لاس کې ونلري.

باید ووایو چې د ثبت سیستم د حق د درلودلو د ټولو ستونزو چاره نشي کولای.

لمړی داچه دلته د قوالو د ثبت د دفتر پرته نور اسناد هم شته چې باید وپلټل شي تر څو په ملکیت کې ټولې نورې ګټې څرګندې شي.. مثلا" که د ملکیت مالیه نه وي ورکړل شوې، نو په دغه ملکیت کې حکومت د مالیې ادعا یا lien لري. او د مالیې د ادعا په باره کې معلومات مونږ یواځې د مالیاتو په کتاب کې پیدا کولای شو نه بل چیرته. (lien پر ملکیت باندې داسې یوه ادعا ده چې یواځې هغه وخت مطرح کېږي چې ملکیت خرڅېږي. د خرڅلاو په وخت کې موظف مامور دا پیسې د خرخلاو له پیسو څخه اخلي) نورپرابلمونه ښایي په هیڅ سند کې پیدا نکړو. یو ګاونډی ښایي ارفاقي حق ولري، اما دا حق هغه وخت څرګندېږي چې پخپله ملکیت و پلټل شي ګ

ګد تصاحب د حق د ستونزو د هوارولو د پاره ډول ډول چلندونه موجود دي. دوه مهم ډوله یې یو د تصاحب د حق بیمه او بل د تصاحب د حق لنډیزونه یادولای شو. دواړه د ثبت شوو اسنادو په پلټنه پیل کېږي. حقوقي وکیلان او مسلکي خلاصه کوونکي به د ثبت په عامه دفترونو کې سوابق وګوري او د تصاحب د حق ټوله سلسله به تر لاسه کړي. دوی به همدا شان د مالیې د ادعا اسناد او د نورو بالقوه ستونزو سوابق وڅېړي ګګ دوی به مثلا" دا څارنه هم وکړي چې د کور کوم پخواني څښتن خپل ملکیت دوه ځله پلورلی دی ګ، یا د رهن د پیسو په تادیه کولو کې شاه پاته شویدی او که نه. کله چې د د تصاحب د حق د سوابقو خلاصه ترلاسه شوه د اخیستونکي وکیل کولای شي وټاکي چې آیا د تصاحب حق د بازار نرخ لري، او که یې نلري، څه باید وشي چې مشکلات له منځه ولاړ شي (د مثال په توګه د حکومت مالیه ورکړل شي) ګګ کله چې د تصاحب حق بیمه شي، د تصاحب د حق بیمه کوونکی دټولوهغونواقصو ضمانت کوي چې ښایي د اخیستونکي د تصاحب پرحق منفي اغیزولري او یا حتې ددې سبب وګرځي چې مځکه له لاسه ورکړي ګ

د داسې کسانو شمیر ډیر ندی چې یو کور په نقدو پیسو رانیسي. اکثره کسان د کور د رانیولو د پاره له بانکونو، د ګروی له شرکتونو او یا له نورو پور ورکوونکو موسسو څخه پیسې په پور اخلي. دغه راز دا امکان هم شته چې کور اخیستونکی له خپلو خپلوانو خخه پیسې په پور واخلي. دلته معامله دوه عنصره لري. یو د قرارداد او بل د ملکیت له مخې. څرنګه چې د کورد اخیستلو د پاره پیسې د تحفې په توګه ندي ترلاسه شوي پور ورکوونکي ددې انتظار لري چې خپلې پیسې بیرته تر لاسه کړي. ددې د پاره چې د پور ورکوونکي دا تمه او انتظار پر ځای شي، پور اخیستونکی هغه ته وعده ورکوي چې دا پور به ادا کړي. معمولا" پوراخیستونکی یو کاغذ یا سند امضا کوي چې په هغه کې د قرضې شرایط لیکل شوي او د پور د

ادا کولو ژمنه شوي وي. که پور اخيستونکی د پور د شرايطو مطابق پيسې بيرته ورنکړي (لکه په هره مياشت کې د يو معين مبلغ ورکول)، پور ورکوونکی کولای شي محکمې ته مراجعه وکړي او د پور د ادا کولو د وعدې د ماتولو په خاطر دعوې وکړي. اما دپورورکوونکي دا اقدام چې د پور د اداکولو د ژمنې د نه پرځاي کيدو په خاطر محکمې ته مراجعه کوي، ده ته کوم خاص امنيت نه ورکوي. پور اخيستونکی کولای شي کور خرڅ کړي، د خرڅلاو له لارې لاس ته راغلي پيسې بيځايه خرڅې کړي او بيا به پور ورکوونکي ته غير له يوې وچې دعوې چې د پيسو د لاس ته راوړلو د پاره يې کوي، کوم بل شی په لاس ورنشي. لهذا نو پور ورکوونکي خپل د قرارداد ګټه د ملکيت د ګټې سره تړي. د ملکيت ګټه رهن يا mortgage دنګ. د رهن په سند کې ټول هغه شرايط چې د پور په سند کې دي درج کېږي، لکه د پور د ادا کولو ژمنه، اما اهميت يې پدې کې دی چې د پور د ادا کيدو د تضمين د پاره کور هم په ضمانت کې نيول کېږي. اوس نو که پور اخيستونکی پور ادا نکړي، پور ورکوونکی کولای شي د ملکيت د ګټې څخه په استفاده کور خرڅ کړي او خپلې پيسې تر لاسه کړي. (په ملکيت کې د ضمانتي ګټو څخه د شخصي ملکيت په شمول په نورو برخو کې هم استفاده کيدلای شي. د مثال په توګه کله چې بانک يوې تصدی ته پيسې په پور ورکوي، بانک ښايي د تصدي په موجودي کې يوه ضمانتي ګټه چې د رهن معادل دی واخلي)

رهن په ملکيت کې د همزمانې ګټې يو مثال دی. ترهغه چې د کور خاوند چې (mortgager) يادېږي له قانوني ژمنې سره سم د پور قسطونه ادا کوي، پورورکوونکی mortgagee هيڅ نشي کولاېپه ملکيت کې د خپلې ګټې مطالبه وکړي، خوکه پوراخيستونکی د ژمنې پررعايت قادر نشي نو د پورورکوونکی د ملکيت ګټه مطرح کېږي اوهغه کولای شي په ملکيت کې د خپلې برخې ادعا وکړي گ

په ملکيت کې د نورو همزمانو ګټو په شان، رهن د پور اخيستونکي او پور ورکوونکي د ګټو تر منځ جنجال منځ ته راوړي. فرض کړئ پور اخيستونکي نيم پور ادا کړی وي او د نورو قسطونو په ورکولو کې عاجز پاته شي، آيا پور ورکوونکی کولای شي ددغه عجز په خاطر دده شتمني تصرف کړي؟ که چيرې پور ورکوونکی دا حق ولري چې په داسې مواردو کې د پور اخيستونکي شتمني تر لاسه کړي، نودا به دده د پاره يوه هوايي ګټه وي، ځکه هم يې نيم قسطونه تر لاسه کړي او هم اوس ټول ملکيت.

د وخت په تيريدو سره محکمو او قانون جوړونکو ددې د پاره چې د دواړو خواوو په حقوقو کې تعادل او توازن منځ ته راشي، نوي طرزالعملونه منځ ته راوړي دي. په اکثرو ايالاتو کې که پور ورکوونکی وغواړي د ژمنې د نه پوره کيدلو په صورت کې خپلې ګټې په ملکيت کې ولټوي نو بايد د محکمې له لارې اقدام وکړي. پور اخيستونکی کولای شي د پور د اداکولو له لارې خپل ملکيت وساتي. او که داسې ونشي، محکمه به د محکمې د يو مامور تر نظر لاندې د ملکيت د خرڅيدوحکم صادروکړي. که د ملکيت دپلورنې عوايد د پاته پورتراندازې لږ وي، پور اخيستونکی کولای شي د خپلو پيسو د پوره کيدو د پاره د محکمې د توازن حکم تر لاسه کري، او که د ملکيت د پلورنې پيسې د د پور تر اندازې زياتې وي، تفاوت يې پور اخيستونکي ته ورکول کېږي.

په ملکیت کې د څښتن او کرایه اخیستونکې حقوق کوم دي؟

په کرایه یا په اجاره اخیستل د ملکیت د تصرف یو ډیر عام شکل دی چې د یو اپارتمان د لنډې مودې د کرایي څخه بیا د یو تجارتي ساحي د اوږدې مدې تراجاره کولو پوري ټول په بر کې نیسي. کرایه د ملکیت څخه د ګټې استفادې یو خاص شکل دی چې په هغه کې مالک یا landlord یا lessor کرایه اخیستونکي یا tenant یا lessee ته اجازه ورکوي د ملکیت څخه د یوې ټاکلي مودې د پاره استفاده وکړي. د کرایې د دود سره هر څوک بلد دي، خو د کرایي مفهوم په خاصه توګه د ملکیت د قانون جالب مسایل رابرسیره کوي. د ملکیت د خاوند او کرایه اخیستونکي تر منځ څه ډول اړیکې موجودې دي ګ؟ دغه اړیکي تر کومه حده د قانون پواسطه تنظیم شوي؟ د معاملې خواووې تر کومه حده دا اړیکې د موافقې له لارې ټاکي؟

دمالک او کرایه اخیستونکي قانون دې پوښتنو ته په ځواب کې ځیني تاریخي بدلونونه لیدلي او ځیني مهم بدلولونه یې په وروستیو کې منځ ته راغلي دي. راشئ په دې برخه کې دوه بدلونونه او د هغه اغیر پراوسني قانون باندې وڅیړو، یعني د ملکیت پر بنیاد د کرایې د مفهوم تغیر دې مفهوم ته چې د کرایې سره د قرارداد عناصر او هغه مخ پر زیاتیدو مقررات چې د مالک او کرایه اخیستونکي د اړیکو د تنظیم د پاره منځ ته راغلي یوځای شوي دي.

د انګلستان په قانون کې له پېل څخه کرایه د ملکیت د ګټو انتقال ګڼل کیده. په یاد راوړئ چې د ملکیت سیستم د شتمنۍ پر تصور بنا شوی ووګ لدغه تصور سره سم، کرایه د مالک لخوا د یوې لنډې مدې د پاره د یو ملکیت د منځ ته راوړلو او هغه کرایه اخیستونکي ته د انتقالولو معني درلوده. یعني مالک په عمل کې د څو کلنو د پاره د کرایه اخیستونکي په ګټه د خپل مالکیت څخه لاس اخیسته او په دې توګه به کرایه اخیستونکۍ د ټاکلي مدې د پاره د ملکیت نوی مالک شو، پدې شرط چې د کرایې د ورکولو ژمنه وکړي او ځیني نور محدود مکلفیتونه پر ځای کړي. که څه هم د کرایي یا اجارې اړیکې به د مالک او کرایه اخیستونکي په موافقه کې منځ ته راغلل، خو دا اساسا" د ملکیت یوه اړیکه وه او نه د قرارداد. لهذا، د مالک اساسي وظیفه داوه چې ملکیت د ټاکلي مودې د پاره انتقال کړي، او د کرایه اخیستونکي اساسي وظیفه او مکلفیت داوو چې کرایه ورکړي او د اجارې په پای کې ملکیت بیرته اصلي مالک ته وسپاري. قانون یو څو نورې ژمنې هم پر دواړو خواوو باندې ایښي وې.

دغه ماډل د زراعتي مځکو د عنعنوي اجارې سره شه سمون خوړ، خو د نوي عصر د پاره زوړ شوی وو. د نولسمې پیړۍ په پیل کې د زراعتي مځکو او کروندو د اجارې په پرتله د هستوګنې د ځایونو او تجارتي ملکیتونو په کرایه اخیستل ډیر دود شول. په هستوګن ځایونو، په تیره بیا په ګن میشتو ښاري اپارتمانونو کې کرایه اخیستونکي پر مالک تکیه درلوده تر څو په اپارتمان کې د ژوند شرایط برابر کړي، د نورو کرایه اخیستونکو پر سلوک څارنه وکړي او اوسیدونکو ته د تودو اوبو او مرکز ګرمی خدمات ورسوي. د

هستوګنې په ډیرو تجارتي سیمو کې د کرایه اخیستونکو اختیارات او امکانات ډیر محدود شول. په تجارتي هستوګن ځایونوکې به د کرایي د شرایطو په هکله ډیر دقیق مذاکرات کیدل او دقیق شرطونه به ایښودل کیدل او د کرایه اخیستونکو څخه به داسې ژمنې غوښتل کیدې چې په پخواني قوانینو کې نه وه درج شوي. دې بدلونونو محکمې او پارلمانونه وهڅول چې د مالک او کرایه اخیستونکي پر اړیکو فکر وکړي. ددې بدلونونو بهیر په شپیتمه لسیزه کې بې وزلو ته د قانوني خدماتو د وړاندې کولو په پیل، د مدني حقوقو د نهضت په فعاله کیدو او د نورو ټولنیزو فکتورونو تر څنګ د کورونو د لړوالي د بحران په نتیجه کې ډیر ګړندی شو. په نتیجه کې د کرایې په اړه قانوني نظر د مالکیت د ګټو د خالص انتقال څخه، لږ تر لږه د هستوګنې د ځایونو د کرایې په برخه کې، یوې اړیکې ته چې په هغه کې ډیر د قرارداد جنبې پرتې وي تغیر وموند او قانون د قرارداد محتوې او شاملې ژمنې په جدي توګه تنظیم کړل.

ښایي تر ټولو مهمه ساحه چې د غه فکر تغیر په کې احساس شو د هستوګنې د ځای د شرایطو په اړه د مالک د مکلفیتونو په برخه کې ووګ. د دود له مخې کرایه د ملکیت د ګټې انتقال ګڼل کیده، نو کله چې به مالک کرایه اخیستونکي ته ملکیت ور وسپاره، د ملکیت انتقال بشپړ کیده. مالک به مکلف وو چې مالکیت کرایه اخیستونکي ته وسپاري، خو دا مکلفیت یې نه درلود چې په ملکیت کې د ژوند کولو سالم او مناسب شرایط منځ ته راوړي. نو که به مالک د مرکز ګرمۍ یا د تودو اوبو د جریان غم ونخوړ، دا د کرایه اخیستونکي بد قسمتي ګڼل کیده.

د کرایه اخیستونکي په حقوقو کې تر وروستي انقلاب دمخه، مالک یواځې په یو حالت کې د ملکیت د فعاله ساتلو د پاره ځیني مکلفیتونه درلودل.

ظاهرا" که به مالک د کور دروازې وټړلې او په زوره به یې اپارتمان ته د کرایه اخیستونکي د داخلیدو مخنیوی وکړ، که به مالک کرایه اخیستونکۍ د ملکیت څخه خارج کړ، کرایه اخیستونکۍ کولاي شواي نور ځان د کرایې په شرایطو پوري مقید و نه بولي. د همدې قیاس له مخې، که به مالک داسې یو کار وکړ چې ملکیت به یې د ژوند کولو څخه وویست، په حقیقت کې مالک کرایه اخیستونکۍ په جوړونکي توګه له ملکیت څخه شړلې ووconstructively evicted او کرایه اخیستونکي کولای شواي ملکیت پرېږدي او د کرایې موافقه فسخ کړي. دا د ملکیت پر بنیاد د کرایې د مفهوم سره سمون خوري، یعني چې مالک ندی بریالی شوی د ملکیت لازمه ګټه کرایه اخیستونکي ته انتقال کړي. اما د کرایه اخیستونکي د پاره د جوړونکي شړلو لاره هیڅکله یوه اغیزمنه لاره نه وه. لمړی، باید ملکیت په بشپړه توګه د هستوګنې وړ نه وي او کرایه اخیستونکۍ باید دا خطر ومني چې محکمې به هم په نهایت کې موافقه وکړي چې د کرایه اخیستونکي دا چلند درست وو. دوهم، د کرایه اخیستونکي د پاره آسانه لاره داوه چې د ملکیت څخه ووځي او ځانته بل کور ولټوي، چې دا البته د لویو ښارونو د کورونو په بازار کې آسانه کار ندی.

هغه تر ټولو مهمه قضیه چې د مالک او کرایه اخیستونکي د حقوقو مفهوم ته یې تغیر ورکړ په ۱۹۷۰ کال کې د Javins.v. first national reality corp تر منځ قضیه وه چې د هغه په هکله د امریکا د متحده ایالاتو د کلمبیا د سیمې د مرافعې محکمې پریکړه وه. دا قضیه په حقیقت کې د کرایه اخیستونکو د

حقوقو د زياتولو د پاره د هغوی د وکیلانو یوه مبارزه وه. موضوع داسې وه چې د ملي ملکیتونو شرکت یا first national realty corp. د مالک په توګه یو شمیر کرایه اخیستونکي په دې دلیل له کورونو وایستل چې کرایه یې نه وه ورکړې. کرایه اخیستونکو اعتراف وکړ چې دوی کرایه نده ورکړې خو وې ویل چې د دوی په اپارتمانونو کې د هستوګنې د مقرراتو څخه سرغړونې دوی ته دا حق ورکوي چې د هغه تاوان غوښتنه وکړي چې د کرایي د اندازي معادل دي. محکمې لمړی هغه تغیراتو ته چې په دې حالت کې د ملکیت قانون ورسره مخامخ وو اشاره وکړه او زیاته یې کړه، کرایې ته د ملکیت د انتقال په سترګه کتل په یوه زراعتي ټولنه کې ښایي درست وي، اما داپارتمانونو د اوسیدونکو غوښتنې د یوې کروندې د انتقال سره ډیر توپیر لري. محکمې په خپل حکم کې وویل :

" د امریکا د ښارونو اوسیدونکي که شتمن دي یا بي وزلې، دوی ټول دداسې کورونو په لټه کې دي چې کافي وسایل ولري او یواځي یو چت او څلور دیواله نه غواړي، بلکه په کور کې کافي تودوخه، رڼا، د تنفس د پاره لازمه هوا، محفوظې کړکی او دروازې، مناسبه حفظ الصحه، او مناسبه ځارنه او ساتنه هم غواړي. "

ددې مطابق دا لازمه و بلل شوه چې د کرایې د موافقې سره د یو قرارداد په توګه چلند وشي. د قرارداد په قضیو کې، د مصرف کوونکو ساتنه ددې لارې پراخه شوه چې د مثال په توګه د محصول جوړونکي د هغه د امنیت او موثریت ضمانت وکړګ د هستوګنې د ځایونو کرایه کول هم د همدغه اصل تر کنټرول لاندې راغی. محکمې د ژوند د شرایطو د ضمانت اصل تر اجرا لاندې ونیو. ددې اصل warranty of habitability غوښتنه داوه چې مالک باید اپارتمان د کورونو د مقرراتو مطابق وساتي.

د جاوینز Javins تر قضیې وروسته د هستوګنې په کورونو کې د ژوند کولو د شرایطو تطبیق د اکثرو قضایي حوزو لخوا یا د قضایي پریکړو او یا د قانون له لارې تر اجرا لاندې ونیول شوګ په ځینو ایالاتو کې د کورونو محلي قانون د مالکانو د چلند د پاره د معیار په توګه ټاکل شوي دي، په نورو قضیو کې دا ضمانت ډیر عمومي دی او غوښتنه کوي چې د هستوګنې ځایونه باید د انسانانو د ژوند د پاره مساعد او مناسب وي. ځیني وخت هر کور په دې جمله کې شامل وی، په نورو ځایونو کې بیا یواځې د اپارتمانونو بلاکونه پدې ډله کې راځي. څرنګه چې د ضمانت د اصل اجرا قسما" پدې معنې ده چې کرایه د قرارداد په شان د ملکیت د ګټې د انتقال په توګه پیژندل کېږي، منطقي پوښتنه داده چې دوه خواوې د خپلو اړیکو د شرایطو په تعریف کې څومره آزادي لري. آیا په کرایه کې کرایه اخیستونکی کولای شي داسې موافقه شامله کړي چې په هغه کې د ژوند د شرایطو د ضمانت د اصل څخه صرف نظر شوی وي؟ د معاصرې زماني د قرارداد او ملکیت د اصولو له مخې ددې پوښتنې ځواب معمولا" نه دی. ځکه بیا به د کورونو مالکان وشي کولای د ضمانت د اصل پر اغیز سترګې پټې کړي او په کرایه کې به د ډیرو شیانو څخه انکار وکړي. همدا شان لږ کرایه اخیستونکي به بیا دا پوهه ولري او یا د چنو وهلو توان ولري چې انکار شوي شیان د کرایې د موافقې څخه بیرته وایستل شي.

څرنګه چې دا ضمانت قسما" د قرارداد پر اساس دی، هغه د چاره کولو امکانات چې د کزایه اخیستونکي د پاره وجود لري پراخ شوي دي. په فوق العاده قضیو کې کرایه اخیستونکی کولای شي د جوړونکي شړلو د لارې څخه استفاده وکړي، ملکیت پرېږدي او د کرایې موافقه پای ته ورسوي. اما نورې لارې چارې هم شته. لکه په بل هر قرارداد کې، کرایه اخیستونکی کولای شي د ضمانت د نه رعایه کیدو په صورت کې دعوې وکړي او د پیسو تاوان وغواړي. او یا کرایه اخیستونکی کولای شي کور ترمیم کړي او پیسې یې د کرایې څخه وګرځوي، یعني اپارتمان پداسې توګه ترمیم کري چې د مالک سرغړونه اصلاح کړي او بیا لګول شوي پیسې د کرایې څخه وضع کړي. کرایه اخیستونکی همدا شان کولای شي په دفاعي حالت کې د تاوان د ادعا خخه استفاده وکړي یعني د کرایې د ورکولو څخه ډډه وکړي او که مالک دعوې پر وکړه په دفاع کې دې د ضمانت نقض ته اشاره وکړي، که محکمې و منله چې اپارتمان د هستوګنې وړ ندی، کرایه اخیستونکی کولای شي په اپارتمان کې پاته شي او تر هغه کرایه ورنکړي چې نیمګړتیاوي نه وي ترمیم شوي.

دولت څه وخت کولای شي ستاسو ملکیت واخلي؟

د ملکیت په نظریه کې یو نغښتې موضوع داده چې ملکیت خصوصي دی. ستاسو ملکیت ستاسو دی، تاسو په هغه هرڅه چې غواړی کولای شی. او دولت نشي کولای هغه ستاسو څخه واخلي. اما دا په بشپړه توګه حقیقت نلري. فرض کړئ، دولت په نظر کې لري یوه لویه لاره جوړه کړي چې له بده مرغه ستاسو د ملکیت په شا برخه کې تیرېږي. آیا تاسو کولای شی دا اجازه ورنکړی چې دا لویه لاره تیره شي او ددې سبب وګرځی چې دولت په لوړ خرڅ سره ددې لارې پلان بدل کړي او نورې ستونزې هم ومني؟ نه. که دولت اصرار وکړي کولای شي ستاسو د مخالفت سربیره ستاسو په ملکیت کې دا لویه لاره تیره کړي او ملکیت ستاسو څخه واخلي. اما څرنګه چې دا ستاسو ملکیت دی، دولت باید تاسو ته د هغه بیه درکړي.

بیله دې چې ستاسو څخه ستاسو ملکیت واخلي، دولت دا صلاحیت لري چې د ملکیت څخه ستاسو د استفادې څرنګوالی تنظیم کړي. اما څومره؟

د ډیرو ښاروالیود سیمو د ویش مقررات د هستوګنې په ساحه کې د یو تجارت یا دکان خلاصول منع کوي. د ښارونو د شاوخوا سیمو د کورونو مالکان غوښتنه کوي چې د کور د چمن واښه باید په منظمه توګه غوڅ کړل شي. د تر اوبو لاندې مځکو، ځنګلونو او یا د ساحل د غاړې د ساتنې مقررات ښایي د چاپیریال په داسې حساسو ځایونو کې د جوړونې او ساختمان کارونه په بشپړه توګه منع کړي. آیا د قانون له مخې دولت کولای شي د ملکیتونو څخه استفاده تر دې حده تنظیم کړي؟

راشئ خپل بحث ددولت د هغه ستر توان اوقدرت څخه پیل کړوچه د خصوصي ملکیت په مصادره کولو او محدودولو کې یې لري. دې قابلیت یا توان ته پرملکیت باندې د لوړې حوزې یا قلمرو قدرت یا eminent domain وایي. کله چې دولت پریکړه وکړي چې د یو عامه هدف د پاره شخصي ملکیت ته اړتیا

لري، هغه ملکیت مصادره کولای شي. یعني په عمل کې یې د مالک څخه رانیسي، څه مالک وغواړي هغه خرڅ کړي او که و نه غواړي. د لوړ قلمرو قدرت د دولت سره تړلی یو قدرت دی. دا قدرت نه فدرالي اساسي قانون او نه د ایالتونو اساسي قوانینو په خاصه توګه دولت ته ورکړی. فدرالي او ایالتي دولتونه د دولت د یو اساسي او لازمي برخې په توګه دا قدرت لري چې ملکیت مصادره کړي. د جمهوریت په لمړیو کلنو کې به دولت اکثره شخصي ملکیتونه مصادره کړل بي لدې چې د هغه بیه ورکړي. اما فدرالي او د ایالتونو اساسي قوانینو د دولت دا قدرت یو څه محدود کړیدی. د متحده ایالاتو داساسي قانون پنځمه ضمیمه وایي : " بیله عادلانه معاوضې، نه باید شخصي ملکیت دعامه استفادې د پاره واخیستل شي. " دولت ښایي مځکه مصادره کړي، اما دولت باید د هغه منصفانه بیه ورکړي.

په هغه اندازه چې د دولت د لوړې حوزې قدرت د ډیرې مدې راهیسې په دولت پوري د یو تړلی او نه جلا کیدونکی قدرت په توګه منل شویدی، نو دا څرګندوي چې ملکیت هیڅکله به بشپړه توګه خصوصي ندی. د شتمنۍ په مالکیت کې عامه ګټه نغښتې ده، کله چې عامه ګټه ملکیت ته اړتیا ولري، بیا نو د هغه د نیولوپه لاره کې هیڅ ډول خنډ نشته.

د قانون له نظره د هغه کور د خاوند قضیه چې د کور د شا په انګړ کې یې لویه لاره تیرېږي د مصادره کولو یوه ساده قضیه ده. دولت د مځکې د مصادره کولو فرمان صادروي او هغه اخلي او مالک ته یې د مځکې منصفانه بیه ورکوي. د منصفانه بیې یا معاوضې ټاکل ښایي په یوه قضیه کې ګران کار وي، اما اساسا" پدې معنې ده چې د ملکیت د بازار نرخ ټاکل کېږي. اما نورې قضیې بیا یو څه پیچلي دي. د دولت د لوړ قلمرو د قدرت په استفاده کې باید د نیول شوي ملکیت څخه د عامه مقصد د پاره استفاده وشي. د یوې لویې لارې جوړول البته چې د عام منفعت د پاره وي، اما د دولت د لږ عنعنوي فعالیتونو موضوع څنګه ده؟ یا فرض کړئ دولت نه غواړي یو ملکیت په بیه واخلي، اما مالک یې ادعا کوي چې د دولت مقرراتوددده د ملکیت ارزښت داسې له منځه وړی ، لکه دولت چې مفت دده ملکیت ورڅخه اخیسۍ وي. آیا دولت باید ده ته پیسې ورکړي؟ دې مسایلو ډیر بحثونه را منځ ته کړیدي.

کله چې په شپیتمه لسیزه کې په نیویارک کې دتجارت د جهاني مرکز د ودانۍ د جوړولو د پاره تیاري نیول کیده، هغه عامه اداري چې ددې پروژې د بشپړولو کار یې په غاړه درلود، د څو سوو ټوټو مځکو د مصادره کولو په لټه کې شو چې مالکان یې تجاراو نور خلک وه. آیا د دفترونو د پاره د داسې لویو دوو ودانیو جوړول د عامه ګټې د پاره وو؟ محکمې حکم وکړ چې هو. ځکه د دولت هیله دا وه ټول هغه تجارتي کمپنی چې د نړیوال تجارت سره یې اړیکي درلودې سره یو ځای کړي او دغه بندري سیمې ته چې دا پروژه په کې جوړیده له سره انکشاف ورکړي او دا د خلکو په ګټه وه.

د تجارت جهاني مرکز د یوې عامه موسسې لخوا جوړ شو. اما څه پیښېږي که دولت مځکې واخلي او هغه یو خصوصي شرکت ته ورکړي؟ په اویایمه او اتیایمه لسیزه کې د جنرل موټرز کمپنی په ډیترویت کې د موټرانود بسته کاری د یوې نوي کارخانې د جوړولو وړاندیز وکړ. د ایالت سیمه ایزو چارواکو ددې وړاندیز هرکلی وکړ ځکه دا د دیټرویت په سیمه کې د صنعتي تاسیساتو د جوړولو د پاره یوه ژمنه وه، اما

هغه ځای چې دا کارخانه په کې جوړیده د کارګرانو د هستوګنې یوه محله وه چې پولې تاون Poletown نومیده. د کارخانې د جوړولو د پاره په کار وه چې ددې محلې ۱۴۰۰ کورونه، ۱۵۰ تجارتونه (بیزنسونه) او ۱۶ کلیساوي مصادره شي او ۴۲۰۰ نفره ددې سیمې څخه وایستل شي او محله پدې بهیر کې ورانه شي. کله چې ملکیتونه واخیستل شي، بیا به جنرل موټرز ته وسپارل شي. آیا دا یو د اعتبار وړعامه ګټه ده چې ملکیت مصادره شي او بیا یو خصوصي شرکت ته ورکړل شي؟ د میچیګن محکمې دې پوښتنې ته مثبت ځواب ووایه. د مځکو د نیولو هدف دا ندی چې جنرل موټرز ته ګټه ورسول شي، بلکه هدف دادی چې د جنرل موټرز په نوي کارخانه کې کارګرانو ته د کار د ورکولو له لارې د دیټرویت اقتصاد د رکود له حالت څخه وایستل شي او اقتصادي تحرک منځ ته راشي. که څه هم دې هدف ته د رسیدو یواځنی لاره دا وه چې خصوصي شرکت ته نیول شوي مځکې ورکړل شي، خو دا د دولت په صلاحیت کې وو چې خپل دا کار د عامو خلکو په ګټه وبولي.

په ۱۹۸۴ کال کې د هاوایی د یو ساختماني شرکت او میډکیف په قضیه کې د متحده ایالاتو سترې محکمې پرد موضوع څرګندونې وکړې او د دولت دا پراخ صلاحیت یې تایید کړګ کله چې د نولسمې پیړۍ په نیمایي کې په هاوایي Hawaii کې پر مځکې باندي خصوصي مالکیت منځ ته راغی، ددې ایالت مځکې ډیر ژر د یو څو بډایو کورنیو لاس ته ورغلې. په اتیایمه لسیزه کې لا د هاوایي ۸۰ په سلو کې شخصي مځکې د څلویښتو لویو زمیندارو په لاس کې وې. د مځکې د عادلانه ویش او ددې د پاره چې دمځکو د پاره یو آزاد بازار منځ ته راشي، پارلمان یوه طرحه تصویب کړه چې د هغه پر اساس کرایه اخیستونکو کولای شوای د کرایه شوي مځکې د خپلولو د پاره عریضه وړاندې کړي او د کورونو د چارو د تنظیم اداره کولای شوای دا مځکه د خصوصي مالک څخه واخلي او پر کرایه اخیستونکي یې خرڅه کړي. پدې توګه مځکه د عامه ګټو په مقصد چې د مالکیت پراخ ویش دی، د شخصي مالکانو لاس ته ورځي. محکمې فیصله وکړه چې پارلمان کولای شي وټاکي چې پدې پلان کې یو د پام وړ عامه هدف نغښتې دي او هغه ته د رسیدو معقوله لاره ده.

که څه هم وروستی پریکړه پدې هکله چې څه شی د عامې استفادې د پاره دی، محکمه کوي، خو محکمه د پارلمان قضاوت ته تل حرمت څرګندوي. د یوې مخکني قضیې په اړه محکمې ویيلي وه " کله چې پارلمان د خاصو قانوني محدودیتونو په اړه پریکړه وکړي، عامه ګټه په تقریبا" قاطع توګه تثبیت کېږي " ددې مطابق، ډیر لږ پیښېږي چې د دولت لخوا یو نیول شوی یا مصادره شوی ملکیت د عامې استفادې د پاره و نه بلل شي.

یوه موضوع چې په وروستیو کې ډیر د بحث وړ ګرځیدلې ده داده چې مصادره څه شی ده؟ فرض کړئ دولت نه غواړي یوه ټوټه مځکه رانیسي بلکه یواځې غواړي د هغې څخه استفاده تنظیم کړي. دولت ددې کار د کولو صلاحیت لري او هغه ته د پولیس واک یا police power وایي. د مثال په توګه، یو ایالت په یقیني توګه کولاي شي یو قانون تر اجرا لاندې ونیسي او ووایي چې تاسو نشی کولای د هغه خطر په خاطر چې نورو ته پیښېږي، زهري فضله مواد حتې د خپلې شخصي مځکې لاندې پټ کړی.

اما فرض کړی د هاوايي ايالت پريکړه وکړي چې د لويو مځکو څخه د استفادې يواځنی لاره داده چې دا په کوچنيو ټوتو وويشل شي او هغه اجاره اخيستونکو ته ورکړل شي. پدې صورت کې به د مځکې مالک قانونا" حق ولري شکايت وکړي چې دولت په حقيقت کې دده څخه مځکه اخيستې ده که څه هم ظاهري شکل يې توپير لري، او د دولت څخه به وغوښتل شي چې دا تاوان په منصفانه توګه تلافي کړي. په داسې يوه قضيه کې د مځکې مالک کولای شي د معکوسې مصادرې يا inverse condemnation اقدام وکړي، يعني د عادي اخيستلو regulatory taking څخه شکايت وکړي او د دولت څخه د تلافی غوښتنه وکړي. اکثره قضيې دومره لويې نه وي، اما ليکه بايد چيري وکښل شي؟

سترې محکمې کوښښ وکړ دا ليکه په دوو ډلو قضيو کې وکاږي، يو يې د شلمې پيړۍ د پيل قضيې دي او بل يې د وروستيو وختونو قضيې. د پيړۍ د پيل په مهمو قضيو کې د پنسلوانيا د ډبرو سکرو د کمپنی او ماهون تر منځ قضيه (۱۹۲۲) او د آمبلر د ملکيتونو د کمپنی او د اويکليد د کلي تر منځ قضيه (۱۹۲٦) شاملې دي.

د پنسلوانيا د ډبرو سکرو په قضيه کې د کورونو خاوندانو کورونه پداسې ځای کې اخيستي وه چې هلته د ډبرو سکرو شرکت يواځې د کان په لوړو سطحو کې کيدنې کولې. ځرنګه چې په کان کې کيندنې د مځکې د کښينستوسبب ګرځيد او کورونو ته يې تاوان رساوه، پارلمان يو قانون تصويب کړ چې د هغه پر اساس داسې کيدنې منع شوې وې. شرکت دا مقرره د دولت د پوليس واک تر صلاحيت وړاندې وبلله او دعوې يې وکړه او سترې محکمې هم دا ومنله. محکمې وويل، دلته پارلمان په خپلې مقررې سره د ملکيت د ګټې ارزښت په بشپړه توګه له منځه وړي. پر ډبرو سکرو باندی د شرکت حق هغه وخت ارزښت لري چې په کان کې د کيندلو حق ولري. اوس نو که پارلمان غواړي په کان کې کيندنه منع کړي، دا کار هغه وخت کولای شي چې دا مځکه واخلي او بيه يې ورکړي. د اويکليد Euclid په قضيه کې محکمې برعکس، د لمړي ځل د پاره د سيمو د ويشلو يا zoning عمومي فرمان ومانه. اويکليد د کليويلينډ Cleveland په ملحقاتو کې يوکلی وو چې د سيمو د ويش يا زون جوړولو خاص فرمان يې تصويب کړی ووګ دا فرمان د ملکيت څخه استفاده محدودوله. د مثال په توګه د هستوګنې په سيمه کې يې د تجارتي ودانيو جوړول منع کول. د يوې عمومي مسلې په توګه، محکمې د سيمو د ويش فرمان د پوليس واک څخه د استفادې يوه معتبره طريقه وبلله. د ملکيت څخه د يو چا د استفادې حق محدودول دا معنې نلري چې ګواکې د ملکيت ټول ارزښت له منځه ځي، لکه د پنسلوانيا د ډبرو کان په قضيه کې چې وو. په وروستيو قضيو کې محکمې دا ليکه نوره هم روښانه کړه او وې ويل چې د پنسلوانيا د ډبرو کان په هکله د حکم سره سره، پارلمان کولای شي د ضرورت په وخت کې د يو ملکيت ارزښت په بشپړه توګه له منځه يووسي تر څو د ملکيت څخه د داسې استفادې مخنيوی وشی چې د عامو خلکو په زيان وي، او د پارلمان پريکړې ته به چې څه لازم او ضروری وبولي بشپړه پاملرنه او احترام وشي، لکه د هاوايي د کورونو د ادارې په قضيې او نورو ورته قضيو کې چې شويدی.

د ډیرو کلنو د پاره همدا قانوني وضع وه. د محکې د استفادې تنظیمول د پولیس واک یوه معتبره قانوني طریقه بلل کېږي. که پارلمان پریکړه وکړي چې د عامه زیان د مخنیوي د پاره لازمه ده چې د ملکیت د استفادې بشپړ ارزښت له منځه یووړل شي، دې پریکړې ته به احترام وشي. یواځې هغه وخت د محکې د عصب موضوع منځ ته راځي چې د محکې ټول ارزښت له منځه یووړل شي او په هغه کې کومه عامه ګټه نه وي. اما د اویا لسیزې په پیل کې محافظه کارو فعالانو د اعتراض نارې سورې پورته کړې او دغه د اوږدې مدې مقررات یې تر پوښتنې لاندې راوستل او په ستره محکمه کې د غړو په تبدیلیدو سره، دې اعتراض ته ځواب وویل شو. د محافظه کارو فعالانو دغه هلې ځلې هغه وخت پیل شوې چې محافظه کاران د چاپیریال ساتنې د قانون پرضد اود کور جوړولو اود سیمو د انکشاف نور شرکتونه د سیمو د ویشلو او د محکې څخه د استفادې د نورو مقرراتو پر ضد اعتراض وکړګ لږ وروسته کلیرنس توماس Clearence Thomas سترې محکمې غړی شواو محکمې په ۱۹۹۲کې د لوکاس او دجنوبي کارولینا د ساحلي شورا په قضیه کې فیصله وکړه (Lucas v. South Carolina Coastal Council) او پدې عنعنوي مقرراتو کې بدلون راغی.

د لوکاس په قضیه کې د محکمې د غړو اکثریت یوه مقرره ومنله او هغه یې قاطع وبلله:

کله چې د یو ملکیت مالک د خپل ملکیت د اقتصادي استفادې د ګټو څخه محروم کړل شي، که څه هم دا مقرره د عام زیان د مخنیوي د پاره د پارلمان لخوا منځ ته راغلې وي، دا مقرره د ملکیت غصبول منځ ته راوړي، مګر داچه دا کارد عرفي قانون یا common law د اذیت کولو په عنعنوي کتګوری کې شامل وي. پدې توګه ایالت د یو مالک ملکیت چې په یوه جزیره کې یې دوې ټوټې محکې درلودې پدې خاطر ورڅخه نیولي وي چې د یوې مقررې پر اساس ساحل ته نژدې یې د کورونو جوړول منع کول، تر څو د ساحل د نړیدو او نورو زیانونو مخنیوی وشي. دې پریکړې هغسې چې یې ځینو پوښتنو ته ځواب ووایه، نورې پوښتنې منځ ته راوړې، لکه دا پوښتنه چې مونږ څنګه کولای شو د ملکیت د ګټې غصب تعریف کړو پداسې حال کې چې د سیمو د ویش مقررات چې ځینې انکشافي کارونه منع کوي د اساسي قانون مطابق دی، اما د ساحل د غاړې مقرره چې دلته مطرح ده بیا د اساسي قانون مطابق نده؟ دې پریکړې د محکمې دا تیاري څرګندې کړه چې د غصب نظریه هغه برخې ته چې په عنعنوي توګه د پولیس واک د مقرراتو ساحه ده پراخه کړي.

محکمې همدا شان هغه عنعنوي مقرراتو ته تغیر ورکړ چې ښودل یې د یوې نوي سیمې د انکشاف د پاره باید کوم شرایط تحمیل شي. کله چې د محکې یو خاوند د یوې نوي سیمې د انکشاف د پاره موافقه تر لاسه کوي، دولت په مقابل کې له هغه څخه غواړي د خپلې محکې یوه برخه عامه خلکو ته وقف کړي لکه د موټرانو د پارکولو ځای یا سړکونه. په عنعنوي توګه تر هغه چې د دولت ددې مطالبې او د نوي سیمې د انکشاف تر منځ یوه معقوله رابطه وجود ولري، د حکومت دا اقدام د پولیس واک یو د اعتبار وړ چلند دی او غصب نه ګڼل کېږي. اما په ۱۹۸۷ کې د نولان او د کلیفورنیا د ساحلي کمیسیون تر منځ قضیه Nolan v. California Coastal Commission او په ۱۹۹٤ کې د دولان او د تیګارد ښار Dolan v. City of

Tigard په قضیه کې محکمې فیصله وکړه که د انکشاف د بار او د مطالباتو تر منځ یوه نژدې اړیکه او تناسب وجود ونلري، دا اخیستنه یا غصب دی. د دولان په قضیه کې د مثال په توګه د یوې مغازې خاوند غوښتل خپله مغازه لویه او پراخه کړي او د ساختمان د اجازې غوښتنه یې کړیوه. ښاروالی پدې شرط ده ته د ساختمان اجازه ورکوله چې د مغازې مخې ته یوه مځکه د پیاده رو او بایسکلانو د تیریدو د پاره جلا کړي. محکمې دا شرط بې اعتباره وباله، ځکه ښاروالی نه وه مدلل کړې چې د مغازې د لوییدو په صورت کې به د خلکو تګ راتګ ډیر شي او پدې خاطربه یو پیاده روته اړتیا زیاته وي.

د سیمو ویشل یا Zoning څه ته وایي؟

د مځکې د خاوند د حقوقو د محدودولو د پاره د پولیس واک څه استفاده تر ټولو یوه مهمه لاره ده ګګ ددې واک د استفادې ډیر عام شکل په مځکه کې د سیمو ویش یا د زونونو جوړول دی. په تیرو څو لسیزو کې ښاروالیو داسې مقررات تصویب کړي چې د ځانګړو مضرو کارونو موقعیت یې کنترول کړیدی. د مثال په ډول د ښار په منځ کې یې د مسلخ جوړول منع کړي دي، یا یې د اور د لګیدو د خطرد مخنیوي د پاره د هستوګنې په مزدحمو سیمو کې د لرګیو څخه جوړې شوي ودانۍ منع کړیدي. په شلمه پیړۍ کې دا ځانکړي مقررات د سیمو د ویش په هغو قوانینو کې عام شول چې په ښاروالۍ کې د مځکې د هر ډول استفادې د پاره منځ ته راغلي وو. نن ورځ اکثرو ایالتونو د سیمو ویش یا د زونونو جوړول تر اجرا لاندې نیولي چې دا ښارونو ته ددې صلاحیت ورکوي چې د سیمو د ویشلو لپاره مقررات تصویب کړي او ښاروالیو اکثرا" دا کار کړیدی.

د سیمو ویش په عامه توګه ښاروالی ته د مځکې د استفادې د یو جامع پلان په جوړولو سره پیل کېږي. ترهغه وروسته د پلان سره سم د ښار شورا یا کوم بل ارګان به د استفادې څرنګوالی تثبیت کړي چې د مثال په توګه په هغو کې به یواځې د هستوګنې اجازه وي، یا په بل عبارت، یواځې به د ځانګړو کورنیو د پاره د ځانګړو کورونو اجازه وي. د سیمو د ویشلو قانون به همدا شان د ودانیو لوړوالۍ، د شتمنۍ له کرښې څخه ضروري وروسته والی او داسې نور هم تنظیم کړي.

په تیوري کې د سیمو ویشل یا زون جوړول د مځکې د استفادې د ښه تنظیم، د اذیتونو او مزاحمتونو د مخنیوي اود اقتصادي ګټو د توازن د پاره چې ثبات، وده او انکشاف تامینوي یوه معقوله لار ده. که څه هم دا مقررات په عمومي ډول خبرې کوي خو معمولا" استثناآتو ته اجازه ورکوي، د مثال په ډول مخکښ استفادې ته چې د پلان د دوام سره مطابقت نلري اجازه ورکوي یا د یو بل ډول استفادې یا variance استثنا په هغه صورت کې مني چې د پلان جدي تطبیق ستونزي او سختۍ منځ ته راوړي

یو د هغو مسایلو څخه چې د ډیر بحث وړ دي، د زونونو مستثنې کول exclusionary zoning یا د زونونو څخه داسې استفاده ده چې د یوې خاصې مځکې د استفادې موقعیت نه کړي تنظیم بلکه هغه په بشپړه توګه د ټولنې څخه لیرې او جلا کړي. که یوه ساحه صرفا" د ځانګړو کورنیو د هستوګنې د پاره محدوده

شي، ښاروالي کولای شي چې د کورونو د حد اقل لويوالي د غوښتنې په تحميلولو يا د نورو محدوديتونو د وضع کولو له لارې بې وزلې خلک پدې سيمه کې د ژوند کولو څخه ليري وساتي. څو بيلابيلو ايالتي محکمو فيصله کړيده چې د سيمو د ويش يا زونونو څخه د نورو د ليري ساتلوپه مقصد استفاده کول د ايالتي يا فدرالي اساسي قانون څخه سرغړونه ده. په دې هکله مشهوره قضيه د جنوبي بورلينګټند ولسوالی قضيه د مونت لاورل د ښارپه مقابل کې وه ۱۹۷۵، ۱۹۸۳ ګ

(Southern Burlington NAACP v. Township of Mt. Laurel)، دا قضيه دوه واره د نيوجرسي سترې محکمې ته وړاندې شوه. مونت لاورل د نيوجرسي ايالت په جنوب کې يو د ودې په حال کې ښار وو او سيمې د ويش يا زونونو له مخې په ډيرو لويو مځکو کې د ځانګړو کورنيو د پاره د کورونو جوړولو ته اجازه ورکول کيده. په نتيجه کې، په اقتصادي لحاظ دا ناممکنه وه چې په مونت لارول کې د هغو کسانو د پاره چې د کم عايد خاوندان وه کورونه جوړ شي. د اپارتمانونو ودانی يواځې په کوپراتيفونوپوري اړه درلوده چې هغه يې سپن ږيرو او متقاعدو خلکو ته ورکول او هغه هم په داسې بيه وه چې د متوسط عايد متقاعدينو تر توان لوړ وو. د ايالت د اساسي قانون څخه په استفاده محکمې فيصله وکړه چې مونت لاورل په شان مخ په انکشافه ټولنه بايد دا امکان ولري چې بيلا بيل ډول کورونه او د هغه په جمله کې د کښته عايد د خاوندانو د پاره کورونه جوړ کړي. د نورو موادو تر څنګ د نيوجرسي اساسي قانون هر چاته دا حق تضمينوي چې " ملکيت لاس ته راوړي، ملکيت تصاحب کړي او وې وساتي. " کله چې ايالت خپل د پوليس واک ښاروالی ته ورکوي، ښاروالي نشي کولای ددې واک څخه د زونونو په جوړولو کې پداسې توګه استفاده وکړي، چې يواځې او يواځې سيمه ايزو ګټو ته پاملرنه وکړي. ددې ښار دا هيله چې غواړي پر غير منقولو ملکيتونو باندې د مالياې يا ټکس بار د بې وزلو د شړلو له لارې کښته وساتي، د خلکو د محدودولو د پاره چې کولای شي په ټولنه کې ژوند وکړي د توجيه وړ ندی.

د مونټ لورل په لمړنی قضيه کې سترې محکمې ددې ښار او نورو ښاروالیو په ښه نيت او ايمان چې په عين حالت کې وه باور وکړ چې هغوی به د سيمو د ويش پر مقرراتو له سره غور وکړي او هغه به د قانون د غوښتنو سره مطابق کړي. خو دا باور او اعتماد بيځايه وو، ځکه مونت لارول او نورو د محکمې د حکم څخه سرغړونه وکړه يا يې سترګې پرې پټې کړې. څو کاله وروسته د مونت لاورل په دوهمه قضيه کې محکمې د علاج نورې لارې وړاندې کړې ترڅو د حکم اجرا يقيني کړي. د علاج په دې لارو کې يويې خاصو قاضيانو ته پر قضيو د څارنې او نظارت کولو صلاحيت وو، تر څو کور جوړونکو شرکتونو ته يواځې په هغه صورت کې د نورو پروژو د تطبيق اجازه ورکړي، چې د کښته عايد خلکو د پاره ارزانه کورونه جوړ کړي. همدا شان ښاروالیو ته دستور ورکړل شو چې کور جوړونکو شرکتونو ته اجازهورکړي چې ارزان بيه کورونه جوړ کړي، مګر داچه ښاروالي ثابته کړي چې د داسې کورونو جوړول کوم زيان او خطر منځ ته راوړي. بالاخره پارلمان دې مسلې ته پاملرنه وکړه او د مناسبو کورونو قانون يې تصويب کړ اويوه اداره يې منځ ته راوړه چې په ټول ايالت کې پر دې مسلې څارنه کوي.

۸

له لیونتوب څخه تر بې رحمۍ پورې
جنایي مسوولیت او جنایي قانون (د جزا قانون)

جنایي قانون د حقوقو د نورو برخو په پرتله زمونږ پاملرنه ډیره جلبوي. بیروونکي او هولناکه جنایات، د خشونت او بې رحمیو ډکې کسې او رپورټونه، او ډیر دنیایي ساده کسان د ورځپاڼوپه لمړي مخونو کې د عامو خلګو پاملرنه ځانته را ګرځوي. د جزا یا جنایي قانون یوه ګرمه سیاسي موضوع هم ده چې فوري فردي ابعاد لري. اما، لکه د حقوقو او قانون په نورو برخو کې، دا مسایل هم تر هغه چې په ظاهره ښکاري ډیر پیچلي دي. دا فصل داسې ترتیب شویدی چې تاسو په بل ډول، په پراخ نظر او د بیلا بیلو خواوو څخه پر جنایي مسوولیت فکر وکړی.

جنایي قانون څه شی دی؟

د جنایي قانون موضوع په روښانه توګه، بد سړي ته سزا ورکول دی. ددې د پاره چې جنایي قانون تعریف کړو، مورږ مجبور یو چې هغه د قانون د نورو برخو څخه چې یو څه ورته عمل کوي، جلا کړو او د اصلي جنایي قانون او د هغه پروسې یا بهیر تر منځ چې په هغه کې دا قانون تطبیق کېږي توپیر وکړو.

فرض کړئ، درې ځوانان هلکان، مورږ به هغوی ټام، دیک، او هیري وبولو، د ساعت تیري د پاره د خریداری ځای ته ځي او په کوچنیو جنایي کارونو لاس پوري کوي، یعني په دکانونو کې شیان غلا کوي، پر دیوالو لیکنې کوي او په ګستاخۍ سره نور خلګ په اوږو وهي او نور. آیا دوی جنایات کړیدي؟ فکر وکړئ چې ولې باید د دوی دا رویه جنایي وي او که نه وي نو مورږ هغه څه ډول توصیف کړو.

په دکانو کې شیان پورته کول او غلا کول یقینا" یو جرم دی. د ایالت قانون غلا په عامه توګه د یو شي اخیستل چې په تاسې پوري اړه ونلري تعریفوي. ټام دیک او هیري ددې جرم د پاره تر قانوني تعقیب لاندې نیول کیدای شي. د قانوني تعقیب څخه زمونږ مقصد دادی چې یو دولتي مامور (عموما" د سیمې څارنوال) به په محکمه کې ددوی پر ضد د عوې وکړي او ددوي مسوولیت به ثابت کړي او دوی ته به ددې اعمالو د کولو په خاطر د محکمې لخوا سزا وټاکل شي، چې دا سزا به یا نقدي جریمه وي او یا به هم دوی محبس ته ولېږل شي. اما جنایي تعقیب یواځنی تعقیب ندی چې دلته منځ ته راځي. د دکان خاوند کولاي شي مدني دعوي وکړي ځکه دا کار دمالکیت د اړولو اوغصبولو جرم یا tort of conversion هم دی یعني د یو بل چا د ملکیت اخیستل دی. په مدني اقدام کې د دکان خاوند د مدعي علیه څخه د خپل ورک شوي ملکیت د پاره د پیسو تاوان تر لاسه کوي او نه جریمه.

دوهم، که ټام څورلس کلن وي، د سیمې څارنوال ښایي پریکړه وکړي چې دده پر ضد د یو ځوان هلک په توګه دعوې وکړي. د نوي ځوانانو په مقابل کې عدلي اقدامات جنایي اقدامات ندي. دلته هدف ټام ته سزا ورکول ندی، بلکه دده د اخلاقو او روزنې اصلاح کول دی ; حتې که دی یو دارالتادیب یا یو خاص ښوونځي ته هم ولېږدول شي، قانون هغه ته د یو جنایي سزا په سترګه نه

ګوري. دریم، په عین توګه، که څزګنډه شي چې ډیک یو دماغي ناروغي لري، او دی ددې ناروغی له کبله پر ځان کنټرول له لاسه ورکوي او د مغازو پر ساتونکو یا د کورنۍ پر غړو حملي کوي، څارنوال ښایي غوښتنه وکړي چې دی د عقلي ناروغیو مرکز ته دعلاج د پاره ولېږل شي.. پدې اقدام کې، پوښتنه دا نده چې ډیک یو جرم کړیدی او که نه، بلکه پوښتنه داده چې آیا دی د ځان او نورو د پاره یو خطر دی او که نه؟ حتې پدې حالت کې هم چې دی ښایي په غیر ارادي توګه د آزادۍ څخه محروم شي، دی د یو جرم د ارتکاب مسوول ندی بلل شوی. دا ټول غیر جنایي سزاګاني یا بندیزونه دي، ځکه د جزا قانون یواځي او تل، کله چې دولت د دعوې اقامه کوي او د جرم د پاره داسې سزا چې په قانون کې تعریف شوي وي، ټاکي، د جرم د کولو ارادې یا جنایي مسوولیت ته پاملرنه لري.

څه پیښېږي که هیري ته چې په موټر کې د خریداری مرکز ته ځي، د زیات سرعت په خاطر د جریمې ټکټ ورکړل شي؟ ، آیا دا یو جنایت دی؟ زیات سرعت یوه ګناه ده چې هیري د هغه په خاطر تر تعقیب لاندې راتلای شي، او ده ته د دې ګناه د ارتکاب په خاطر یوه عامه سزا (نقدي جریمه) ورکول کېږي. اما مونږ معمولا" د قانون د نسبتا" کوچنیو تخطي ګانو (قباحت) لکه زیات سرعت او د جدي او سختو تقصیرونو لکه د نشې په حالت کې د موټر چلولو تر منځ توپیر کوو، او یواځي وروستی حالت یو جرم بولو.

اوس فرض کړئ، هیري د مغازې ساتونکې جیل په اوږه وهلې هغه یې پر مځکه غوزاره کړیده او اوس د وهلو په جرم تر تعقیب لاندې دی. جیل په محکمه کې اقرار کوي چې که څه هم دا هیري نه پیژني، خو دا پروا نلري چې دا غوزاره شوه او دا ډیره نده خوږ شوې، او دا فکر کوي چې نوي ځوانان باید وشي کولاي خپل ساعت ښه تیرکړي. آیا پدې توګه هیري برائت مومي؟ نه ; دی بیا هم ښایي محکوم شي. د

هيري سلوک او کردار، لکه ټول نور جرمونه، يو جنايي سلوک دی نه پدې خاطر چې د يو بل چا په مقابل کې غلط سلوک دی، بلکه پدې خاطر چې د عامه ښيګڼو پر ضد دی،

او دولت کولاي شي هغه ته سزا ورکړي که څه هم قرباني هغه ته بي تفاوته وي.

تصور وکړئ چې سيمه ايز څارنوال تصميم ونيسي چې څورلس کلن ټام د يو بالغ سړي په توګه په دکان کې د غلا په جرم تر قانوني تعقيب لاندې ونيسي. (په اکثرو ايالاتو کې څارنوال دا انتخاب لري). په محاکمه کې د مغازې د امنيتي ويديويي کمرې فلم ښکاره کوي چې ټام په حقيقت کې نه غوښتل واکمين Walkman غلا کړي، (واکمين د موزيک يا راديو د اوريدو يوه وسيله ده چې په غوږو کې ايښودل کېږي/ ژ) بلکه، ده د پيسې ورکولو په ځاي کې د دکاندار د غرفې پر يو بغل چې واکمين پر پروت وو تکيه وکړه او بيله دې چې متوجه شي واکمين دده خلتې ته ورولويد.. ټام برائت وموند او ثابته شوه چې ده جرم ندی کړی. ولې؟ په تقريبا" هره قضيه کې، د جزا قانون د تقصير يا مجرميت غوښتنه کوي : يو څوک بايد د جنايت د کولو اراده ولري يالږتر لږه ډير بي احتياطه وي (لکه د نشې په حالت کې يو څوک تر موټر لاندې کول). د جزا د قانون يو مشخص خصوصيت دادی چې په هغه کې د سزا ورکولو د قابليت مفکوره پرته ده. مخکې لدې چې يو چا ته جنايي سزا ورکړل شي، هغه بايد يو خراب او ناوړه عمل کړی وي، يعني يو کار چې په اخلاقي لحاظ د محکوميدو وړ وي. ددې د پاره چې د يو چا عمل د محکوميدو وړ وګرځي، دا کافي نده چې هغه يو اځي يو بد کار وکړي، بلکه دا کار بايد په يو بد نيت او ارادې شوی وي.

کله چې موږ دا ټولې فرضيې سره يو ځاي کړو، وينو چې په حقيقت کې په سيستماتيکه توګه د جزا د قانون د ساحې ټاکل هغسې چې په پيل کې ښکاري آسان کار ندی. د جزا د قانون څخه سرغړونې د دولت لخوا تر قانوني تعقيب لاندې نيول کېږي، اما دولت نور ډول اقدامات هم کوي. د جزا د قانون څخه تخطي د منفي جزايي اقداماتو باعث ګرځي، اما په مدني قضيو، کوچنيو تخطي ګانو او اداري طرزالعملونو کې هم همدا شان ده ، او په جنايي قضيو کې ټولي سزاګاني رسيدونکي ته دومره مضرې هم ندي.

لهذا د جزا د قانون هسته اخلاقي محکوميت او سزا ده چې د سزاورکولو د قابليت پر اساس صورت مومي. جنايت يو ناوړه عمل دی چې د سزا وړ دی، ځکه جنايت کوونکي عام اخلاقي معيارونه تر پښو لاندې کړيدي. حتي دا تعريف هم بشپړ ندی، اما هغه ماهيت څرګندوي چې د جزا قانون د حقوقو د نورو برخو څخه جلا کوي.

دا فرضيې همدا شان ښيي چې په هره جنايي قضيه کې کوم مسايل شامل دي. لمړی، آيا متهم داسې يو عمل کړيدی چې جنايي قانون هغه منع کړی وي؟ د غلا په جنايت کې يو څوک يو ملکيت اخلي چې په ده پوري اړه نلري. ددې د پاره چې ټام په مغازه کې په غلا محکوم شي، څارنوال بايد ثابته کړي چې ټام دا کار کړيدی. که ټام د يو شي سره د مغازې څخه ونه وځي، يا يې د هغه شي پيسې ورکړي وي، بيا يې نو داسې يو کار چې قانون منع کړی وي ندی کړی. دوهم، آيا متهم دا عمل پداسې يو خاص فکري يا

روحي حالت کې کړی چې هغه د سزا وړ وي؟ په غلا کې دا کافي نده چې متهم یواځي د یو بل چا ملکیت واخلي، بلکه دی ددې حقیقت په پوهیدو سره چې ملکیت په بل چا پوري اړه لري دا کار کوي. که ټام پدې باور وي چې د موسیقي ددکان دروازې ته نژدې یو صندوق پروت دی او په هغه کې مفت دیسکونه پراته دي، او دی د هغه صندوق څخه یو دیسک راواخلي او پیسې یې ورنکړي، ده غلا نده کړې. دریم، که متهم په یو خاص روحي حالت کې په جنایت لاس پوري کړي، آیا دی کومه دفاع لري؟ ګد ډیک دماغي ناروغي ښایي دده دفاع وي. څلورم، که متهم کوم منع شوي عمل په یو د تقصیره ډک روحي حالت کې نه وي کړی، آیا دی به بیا هم جنایي مسوولیت ولري؟ فرض کړئ، ټام، ډیک او هیري موافقه کوي چې د شوخۍ او ساعت تیرۍ د پاره مغازو ته ځي او هلته غلا کوي، هیري هیڅ شی نه غلا کوي، آیا دی به پدې خاطر چې د ډلې د غړیتوب سره یې موافقه کړیوه بیا هم مسوول وبلل شي؟

د اصلي جنایي قانون (چې پدې فصل کې وربانديې بحث کوو) او د جنایي طرزالعمل تر منځ (چې په راتلونکي فصل کې به یې وڅیړو) یو بل اساسي توپیر هم شته. د جزا قانون د جنایي مسوولیت عمومي اصول تشریح کوي او تعریفوي چې کوم سلوک او رویه جنایي ده. د جزا قانون داسې پوښتنو ته ځواب ورکوي لکه د قتل او د غیرعمدي وژنې توپیر په څه کې دی او په قانوني لحاظ د لیونتوب حالت کوم دی؟ په جنایي طرزالعمل کې د جنایي سلوک څیړنه او تحقیق او محکمې ته د فیصلې د پاره د وړاندې کولو بهیر شامل دی. څه وخت باید پولیس شکمن سړي ته دده د میرانډا حقوق ولولي؟ د یوې منصفانه محاکمې معني څه ده؟

د جزا اصلي قانون پر دوو برخو ویشل شویدی : د جنایي مسوولیت عمومي اصول او د خاصو جنایاتو تعریف. د جنایي مسوولیت عمومي اصول د خاصو جنایاتو د تعریفونو لاره لنډوي. لمړي، څه وخت د یو چا عمل چې په عادي حالت کې یو جنایي عمل دی ، د عفوه او تبریې وړ دی؟

یو جنایي عمل ښایي تبرئه شي که دا کار د یو بل لوی زیان د مخنیوي د پاره شوی وي. د مثال په توګه دځان څخه دفاع د تبرئې یو اصل ګڼل کېږي. په عین توګه، یو عمل د تبرئې وړ دی که یې کوونکی د هغه په کولو کې ملامتي ونلري. یو څوک چې یو دماغي ناروغي یا تکلیف لري ښایي وغواړي یو بل څوک ووژني خود ملامتیا قابلیت چې د جنایي سلوک د ټاکلو د پاره لازم دی، نلري.

دوهم، څه وخت یو څوک د داسې اعمالو مسوول بلل کېږي چې هغه د یو جنایت مقدماتي کارونه دي یا د جنایت عملیه پر مخ بیایي، اما پخپله د خاصې تخطۍ په عناصرو کې نه راځي؟ یو څوک چې هڅه کوي په جنایت لاس پوري کړي، اما نه بریالۍ کېږي، په عمومي توګه د خپلې دې هڅې مسوول دی، اما مخکې د جنایت تر ارتکاب باید دوی څومره ورنژدې شوي وي؟ په عین شان، که د جنایت کارو یوه ډله د بانک د غلا په توطئه کې ګډون ولري او یو له هغو د غلا په جریان کې پر یو ساتونکي ډزې وکړي، آیا د ډلې ټول غړي ددې قتل مسوول دي؟

د خاصو جنايي اعمالو تعريف د هغو اعمالو اود عامل د روحي حالت په اړه دی چې په جنايت باندې د يو چا د محکوميدو د پاره لازمي دي. د مثال په توګه، د قتل، داوطلبانه غيرعمدي قتل اود غير داوطلبانه غير عمدي قتل توپيرونه په څه کې دی؟

د جزا د قانون د عمومي اصولو منځ ته راوړل او د خاصو تخطيو تعريف يو وخت يواځي د محکمو وظيفه وه. اما په شلمه پيړۍ کې، پارلمانونو د جزا د حقوقو هر اړخيز قوانين پلي کړل. په پنځوسمه او شپيتمه لسيزه کې د امريکا د قانون انستيتوت چې د حقوق پوهانو، قاضيانو او پروفيسرانو يو خصوصي سازمان دی د جزا د قانون يوه نمونه تسويد کړه تر څو ايالتي پارلمانونه د خپل جنايي قوانينو په تصويبيدو کې د هغه څخه استفاده وکړي. دا پروژه ډيره بريالۍ وه ; د ايالتونو د څلورو څخه درې برخو د همدې لارښود ماډل پر بنسټ جنايي قوانين تصويب کړل. هر ايالت په يوډول ددې ماډل څخه خپل قوانينو ته يو څه توپير ورکړ. پارلمانونه د نوي موضوعاتو او انکشافاتو په منځ ته راتلو سره خپل قوانين تل نوي کوي او تکميلوي، اما د جزا د قانون ماډل په عمومي توګه د ايالتونو د جنايي قوانينو په هکله د بحث د پاره يو ډير ګټور اساس جوړوي.

په راتلونکو برخو کې به د جنايي مسوولیت پر عمومي اصولو او د ځينو ډيرو مهمو او ډيرو دلچسپو خاصو تخطيو پر تعريف بحث وشي. اما مخکې لدې چې جزييياتو ته ور داخل شو، تر ټولو دې مهمې مسلې ته پاملرنه وکړئ چې ولي مورِ جنايي قانون ته اړتيا لرو؟

ولې مورِ جنايي قانون ته اړتيا لرو؟

دا بايد روښانه وي. مورِ جنايي قانون ته اړتيا لرو چې جنايت کارو ته سزا ورکړو او د جنايت مخنيوی وکړو. اما هغسې چې مو ددې کتاب په نورو قانوني مفاهيمو کې وليدل، دا داسې آسانه نده ګ

د جزا يا جنايي قانون لمړۍ هدف د هغه سلوک تعريفول دی چې ټولنه يې غلط او نادرست بولي. دا غلط دی چې تاسو خپل ګاونډی ووژنی، کور ته يې اور واچوي او يا يې د کور د چمن د وښو پرې کولو ماشين غلا کړی. هغه اعمال چې جنايي بلل کېږي اکثره (اما نه تل) د نورو د پاره ډير جدي نتيجې او عواقب لري ; قتل او اوراچول ډير زيان رسوي، اما د ګاونډي د کور د وښو د پرې کولو د ماشين غلا ښايي نسبت دې ته چې يو شرکت داسې د وښو د پرې کولو ماشينونه جوړ کړي چې لازم امنيتي وسايل نلري او يومدني ناوړه عمل دی، په ټولنيز لحاظ ښايي لږ بد وي. هغه څه چې جنايي تخطيو ته د نورو ناوړو اعمالو څخه توپير ورکوي دادی چې ديوې طبقې په توګه دا اعمال په خاصه توګه د ټولنيز محکوميت وړ دي. يواځي پدې خاطر چې يو عمل جنايي ندی ددې معنې نلري چې هغه ناوړه او غلط عمل ندی ; مونږ نور ناوړه سلوکونه او اعمال د نورو لارو محکوموو، لکه د تاوان د مسوولیت د تحميلولو له لارې يا دا چې ټولنه يو عمل غندي او نه يې تاييدوي. د جنايي قانون د پاره د يو ناوړه او غلط سلوک محکومول کفايت

نه کوي. جنايي اعمال دومره بد دي چې کله يو څوک په هغه لاس پوري کړي او هغه د نورو بدواعمالو څخه توپيرولري،

متهم نه يواځې د هغه تاوان ورکوي، خلګ په ټولنه کې ورځخه مخ ګرځوي او کرکه ښکاره کوي، بلکه ده ته سزا هم ورکول کېږي. لهذا کله چې فکر کوو چې ولي مورِ جنايي قانون لرو، حقيقي پوښتنه داده چې ولي مورِ جنايي مجازات لرو. ګد جنايي قانون د پاره ددې پوښتنې ځواب ډير زيات مهم دی ; کله چې وپوهېږو ولي يو چاته مجازات ورکوو، دا مورِ ته دا هم ښيي چې چاته، څنګه او څومره مجازات ورکړوګ

د جنايي قانون کارپوهان د جنايت کارو مجازات په دوه ډوله توجيه يا justify کوي، چې يو يې د مفيديت يا ګټورتوب يا utilitarian نظريه او بل يېretributivist يا مجازات د تلافیِ د پاره نظريه ده. د ګټورتوب د نظريې پلويان جنايي قانون ګټور بولي چې په هغه کې جنايت کارو ته سزا ورکول ټولنې ته ګټه رسوي. د تلافیِ د پاره د مجازات ورکولو د نظريې پلويان د جنايي قانون لمړنیِ رول د تلافي د پاره جنايت کاروته د سزا ورکول بولي، يا په بل عبارت، جنايت کارو ته سزا ورکول کېږي ځکه چې دوی د مجازات وړ دي. د ګټورتوب نظريه وايي چې ټولنه بايد په ښه توګه تنظيم شوي وي چې وشي کولاي زيات شمير خلکو ته ډيره ګټه او نيکي ورسوي. د مفيديت د نظريې د پلويانو په عقيده جنايي قانون د ټولنې په ګټه دی ځکه په لمړي ګام کې د جنايت مخنيوی کوي. د جنايت کارو مجازاتول ښايي د مختلفو لارو د جنايت د کيدو مخنيوی وکړي. د يو جنايت کار بندي کول، تر څو چې په محبس کې دی، دده د بل جنايت د کولو مخنيوی کوي. د يو جنايت کار اعدامول د تل د پاره دده د بل جنايت د ارتکاب مخنيوی کوي. (دې ته په عامه توګه مخنيوی restraint يا بې توانه کول incapacitation وايي.) فردي مخنيوی individual deterrence ياخاص ممانعتspecific deterrence پدې معني ده چې کله يو څوک د يو جنايت په خاطر سزا ووينې، دی ښايي بيا په بل جنايت لاس پوري نه کړي .په عامه توګه د سزا تهديد اوګواښ general deterrence خلګ د جنايت د کولو څخه بيروي. د جنايت کارو ساتل په يو محدود او تر فشار لاندې ځای کې په کوم کې چې ددوې معالجه کېږي، مشورې ورکول کېږي او روزل کېږي، ښايي ددې باعث شي چې دوی د جنايت د ژوند څخه ځانونه ګوښه کړي او دوی بيرته احيا او عادي ژوند ته راوګرځوي. او د خلګو خبرتيا د جنايي سزاګانو څخه او د هغه څخه کرکه څرګندول د خلګو احساس د جنايي قانون د سلوک د معيارونو د اهميت په هکله پياوړی کوي.

راشئ د بيرته احيا يا اصلاح rehabilitation څخه يې پيل کړو. جنايي مجازات کولای شي د جنايت کارو د سلوک د بدلولو له لارې د جنايت مخه ونيسي. کله چې يو څوک په يو جنايت محکوم شوي وي، که په محبس کې وي او يا په آزمايښتي توګه له بنده آزاد شوي وي، داسې خلکو ته مشورې، روزنه او اخلاقي مثالونه ورکول کيدای شي او رواني معالجه يې هم کيدای شي، تر څو دا خلګ د جنايت د ژوند څخه ځان ليرې او د قانون د رعايه کولو سلوک غوره کړي. د شلمې پيړیِ په لمړي نيمايي کې د جنايت کارو د اصلاح او بيرته احيا ايديال په جنايي قانون کې ډير مهم او حتې حاکم وو. د اصلاحي هدف د

پاره، جنايي قانون زيادتره جنايت کار ته پاملرنه درلوده او نه جنايت ته. قاضيانو به هڅه کوله هرجنايت کار ته ځانګړي سزا ګاني وټاکي تر څو د جنايت کار د اصلاح اړتياوو ته پاملرنه وشي، په محبسونو کې د بنديانو د پاره د تعليم او زده کړې او اصلاح د پاره زيات امکانات وړاندې کيدل او د بند څخه به بنديان تر دې شعار لاندې چې ګواکي د اسنادو او مشاهداتو له مخې بندي اصلاح شويدی، خوشې کيدل. البته چې بندي خانې هيڅکله د علاج حقيقي مرکزونه نه وه او هغو ته هغه مالي منابع چې د جنايت کارو د اصلاح ايديال ته د رسيدو د پاره ضروري وې هيڅکله ورنکړل شوې.، اما لږ تر لږه دا مفکوره د سيستم يوه مهمه برخه وه.

اصلاح او بيرته احيا د جنايي قانون د هدف په توګه په وروستيو کلنو کې خپل اهميت تر ډيره حده له لاسه ورکړاو دليل يې هم ساده دی. مورږ يو شه احساس نه لرو يعني نه پوهېږو چې څه شي سم کار کوي. په اويا لسيزه کې يو لړ پراخ مطالعات وشول چې پراخه پاملرنه يې جلب کړه. په هغه کې ويل کېږي، ټولې هغه هلي ځلي چې د مجرمينو د اصلاح د پاره شوي دي د جرم د تکرارپر درجې اود جنايت کارو پر چلند يعنې چې د جرم د تکرار د تمايل مخنيوی يې وشي ډير لږ اغيزدرلودلی دی. ځيني د اصلاح پروګرامونه شايي تر ځينو شرايطو لاندې مثبته نتيجه ورکړي، اما مورږ په بشپړه توګه نه پوهېږو چې کوم پروګرام په کوم حالت کې مثبته نتيجه ورکوي، لهذا دداسې يو جنايي مجازات د سيستم منځ ته راوړل چې هدف يې د مجرمينو اصلاح وي په بهترين حالت کې مستبدانه او په بدترين حالت کې نامعقول دی. ددې نظراو د خلګو د مخ په زياتيدو انديښنوپه رښا کې چې مونږبايد د جنايت سره په ټينګه مبارزه وکړو، د جنايت کارو داصلاح کولو مفکوره د جنايي قانون د عيني هدف په توګه مړاوې او ضعيفه شوه.

داسې شکاري چې بې توانه کول incapacitation په جنايت باندې يو څرګند اغيز لري. که مونږ جنايت کاره په بند کې وساتو او دوی ونشي کولاي نور جنايت وکړي، د جنايت اندازه به لږه شي.

ددې مفکورې اساس دادی چې لږ تر لږه يو شمير مجرمين ميل لري په نورو جناياتو لاس پوري کړي. مونږ شايي ونشو کولاي دا ډول مکرره تخطي کوونکي اصلاح کړو، اما که مورږ دا کسان اقلا" د يوې مدې د پاره د ټولنې څخه ليرې کړو، مورږ به د دوی د نورو جرمونو د کولو څخه مخنيوی کړی وي.

د بې توانه کولوستونزه يوه د تجربې ستونزه ده چې د اصلاح کولو د مشکل سره شباهت لري. مورږ به دا غير منصفانه وبولو که ټول جنايت کاره د ډيرو کلنو د پاره په بند کې وساتو، يوائې پدې خاطر چې د هغو يو څو کسه به بيا په مکرره توګه په جنايت لاس پوري کړي. نو بې توانه کول د پيشبيني کولو قابليت ته اړتيا لري تر څو پيشبيني شي چې څوک به احتمالا" جرم تکرار کړي. تر يوې مدې پوري محکمو هڅه کوله ځانګړی قضاوت وکړي ; قاضيانو به د هر يو جنايت کار چاپيريال، تعليماتو، ټولنيزو شرايطو او روحي حالت ته پاملرنه کوله تر څو د مجرم لخوا د جرم د تکرار احتمال وسنجوي او دهغه په رښا کې مناسبه سزا وټاکي. خو په وروستيو کې هڅه کېږي د راتلونکي جنايت پيشبيني په يو پراخ او سيستماتيک چوکات کې وشي چې پدې کې د جنايت طبعت اود مجرم په ماحول کې عيني فکتورونو ته زياته پاملرنه کېږي. اما د اصلاح د اصل په شان دا سيستم هم خپل مشکلات لري. شواهد څرګندوي

چې مونږ په داسې یو ښه موقعیت کې نه یوچه وشو کولاي راتلونکې سلوک پیشبیني کړو. په حقیقت کې زمونږ تمایل تر حد زیات پیشبینۍ ته دی، یعني هغه خلګ چې احتمال لري په راتلونکي کې جنایت ونکړي په غیر لازمه توګه د اوږدو کلنو د پاره په بند کې ساتو.

تقبیح او د ګواښه ډک خبرداری د جنایي سلوک د غلط والي په هکله د خلکو پر شعوراو نظریاتو پیاوړی اغیز لري او د جنایت درجه راکښته کوي. د یو چا عمل جنایت بلل او هغه ته سزا ورکول نسبت اخلاقي وینا ته ډیر اغیزمن دی. دا د قانون څخه د خلکو د رعایه کولو تمایل پیاوړی کوي.

اکثره خلګ غواړي هغه وکړي چې درست او قانوني دي، او د جنایي مجازات څخه د خلکو خبرتیا او پوهه د ښه او قانوني عمل په هکله د خلکو ادراک نور هم تقویه کوي. اکثره خلګ همدا شان غواړي چې په منصفانه توګه ورسره رویه وشي. که دوی احساس کړي چې ډیر کسان قانون ماتوي او څوک څه نه ورته وایي، دوی هم ښایي یوه ورځ پخپله قانون تر پښولاندې کړي. پدې غیرمستقیمه توګه، جنایي طرزالعمل د جنایي پیښو د کمیدو باعث ګرځي.

اصلاح کول، بې توانه کول، او تقبیح او خبرداری ټول خپل پلویان لري، اما د جنایي قانون څخه د ګټورتوب د نظریي اصلي توجیه منع او مخنیوی دی. د منع او مخنیوي څخه مقصد دادي چې خلګ معقول عمل کوي اود خپل عمل بالقوه مصرف او ګټه سنجوي. که ټولنه وغواړي چې خلګ د ځینو اعمالو د کولو څخه منع کړي، نو یواځي په کار ده چې د داسې اعمالو د کولو مصرف لوړ کړي. غلا یو جنایت بلل چې سزا یې بند دی خلګ د غلا کولو څخه بیروي او منع کوي. د داسې سلوک د پاره چې نور هم غلط او نادرست وي، مونږ باید د هغه سزا نوره هم زیاته کړو تر څو د هغه د مخنیوي چانس زیات کړوګ - د جرم د کولو د پاره د نورو خلګو کورونوته د لویدلو د پاره ښایي د پنځه کالو حبس سزا، د داړه ماریۍ د پاره لس کاله حبس او د قتل د پاره د ابد حبس سزا وټاکل شي.

د مجازات ګواښ عمومي مخنیوی یا منع general deterrence ده. اما ځینې خلګ دغه پیام نه اخلي که د مجازات تهدید او بیره یو څوک د بانک د غلا کولو څخه منع نکړي، نو ښایي دی په هغه مده کې چې په بند کې یې تیروي دې ته متوجه شي. او که هغه هم فایده ونکړه، په دوهمه پلا د سزا زیاتیدل به یقینا" د دریمې غلا مخنیوی وکړي. منطق یې دادی چې " په دریم وار ته له منځه ځې " قانون هغه جنایت کارو ته چې درې واره د جدي جنایت د کولو په خاطر محکوم شوي وي، د ابد حبس ټاکي. پدې توګه د جرم یو بالقوه تکرارکوونکي ته پاملرنه خاصه مخنیوي او منع ده.

منع او مخنیوی د جنایي قانون د اساس په توګه یو د مستقیم درک مفهوم لري. که یوه مور خپلو ماشومانو ته ووایي چې که تاسو د جګړې څخه لاس وانخلۍ زه به تاسو خپلې خونې ته ولېږم. دغه د سزا ورکولو ګواښ ښایي کافي وي چې د ماشومانو د سلوک مخنیوی وکړي. که څه هم نړۍ ډیره لویه او پیچلې ده، داسې ښکاري چا دا اصول قوت لري. د جنایي مجازات ګواښ یو د مخنیوي او منع اغیز لري. اما دا اغیز په یو لړ فکتورونو پوري تړلی دی. لمړی، که څه هم جنایي قانون په عمومي توګه د جنایت مخنیوی کوي، د قانون جوړونکو د انتخاب ساحه تر دې پوري چې آیا یو جنایي قانون وجود ولري او که

نه، ډيره تنګه ده. دلته انتخاب پدې کې دی چې آيا يو خاص عمل يا سلوک جنايي وګڼل شي، هغه ته څومره شديده سزا وټاکل شي، او د قانون د اجرا او تطبيق په برخه کې څومره سرمايه ګذاري وشي. دوهم، د ځينو جنايت کارو او ځينو جنايتونو څخه په آسانه مخنيوی نشي کيدلای : روحي ناروغان، مغزي ناروغه کسان، هغه خلګ چې د قهر او غضب په شيبه کې يو عمل کوي، يا د يوې جنايي ډلې غړي چې د بل کار د کولو د پاره کوم امکان او فرصت نلري او بندي کيدو او مجازات ته د خپل ژوند د يو منل شوي برخې په سترګه ګوري، هغه کسان دي چې ددوي د ناوړو اعمالو مخنيوی غير محتمل ښکاري. دريم، احتمال او د سزا سختوالی پر منع او مخنيوي اغيز لري. که فحشا يو جنايي عمل دی اما پوليس هغه ته ديو کوچني تخطي په سترګه ګوري او هيڅکه فاحشې نه بندي کوي، يا که پوليس حقيقتا" قانون تطبيق کړي اما قاضيان د فاحشو د پاره د سزا په توګه يو لږ نقدي جريمه وټاکي، فانون به لږ اغيز ولري.

د مخنيوي په اړه دا مسايل تجربي پوښتنې دي – څه شي اغيزمن دی او کار کوي او کوم يې نه کوي. د مخنيوي په اړه يوه اخلاقي پوښتنه هم شته چې هغه د جنايي قانون د موجوديت د دليل په توګه د ګټورتوب د نظريې زړه ته ځي. د جنايي قانون څخه د ګټورتوب د نظريي هدف د جنايت لږيدل دی، او دا د جنايي سلوک د مخنيوي له لارې کوي. اما مخنيوی بايد همدا شان زمونږ د عدالت د غيرګټورتوب د مفکورو سره هم مطابقت ولري. فرض کړئ، مونږ دا انديښنه لرو چې موټر چلوونکي د لارويو په مقابل کې د احتياط څخه کار نه اخلي. قانون جوړونکي يا پارلمان ښايي يو قانون تصويب کړي چې په هغه کې د موټر چلوونکو څخه وغواړي په څلور لارو کې د نښه شوو لارو مخ ته موټر ودروي او لارويو ته د تيريدو چانس ورکړي. (اکثره ايالتونه داسې يو قانون لري) اما که مونږ حقيقتا" وغواړو چې د موټر چلوونکو د بې احتياطی مخنيوی وکړو، مونږکولای شو د لارويو د پاره د نښه شوو لارو مخې ته د موټر چلوونکو د نه دريدو سزا شل کاله يا ابد حبس وټاکو. دا البته چې ډير زيات شديد دی. نو زمونږ هيله د جرم د مخنيوي د پاره بايد د اعتدال د ساتلو د احساس له مخې وي.

لکه زمونږ فرضي مثال چې يې څرګندوي، که څه هم مخنيوی همدا اوس هم د جنايي قانون د توجيه او تبريې د پاره د ګټورتوب د نظريې د پلويانو لخوا مهم ګڼل کېږي، خو دا هم ټول داستان ندی. بل مهم عنصر يوretributivist برخورد يعني مجازات د تلافی د پاره دی. د مجازات د تلافي د پاره د نظريې پلويان استدلال کوي چې د تلافی د پاره د جنايي قانون سزا يو غچ يا انتقام ندی بلکه عدالت دی. يو څوک د غلط اوناروا عمل مرتکب شوی ، او ناروا عمل ته بايد سزا ورکړل شي. فيلسوف ايمانويل کانټ يو مشهور فرضي مثال ورکړيدی. د يوې جزيري اوسيدونکي تصور کړئ چې د جزيرې د پريښودو په حال کې دي اونورو ځايو ته ځي. که د جزيرې د پريښودو په دغه حالت کې يو څوک قتل وکړي بيا هم بايد سزا وويني. پدې حالت کې د مجازات په تبرئه کولو کې کومه ګټه او مفيديت نشته ; د جزيرې اوسيدونکي به هيڅکله يو بل ونه ويني، لهذا سزا به د راتلونکي جنايت مخنيوی ونکړي. اما دا دعدالت غوښتنه ده چې ټولنه قاتل ته د سزا په ورکولو سره ددې غلط او ناروا عمل جبران وکړي.

مجازات د تلافۍ د پاره د نظريې غوښتنه داده چې مونږ وپوهېږو کوم اعمال بد دي. په ډيرو حالاتو کې مونږ پدې هکله باور لرو ; يوقصدي قتل بيله کوم دليل او معذرت څخه تل يو بد او ناروا عمل دی. مجازات د تلافي د پاره نظريه همدا شان زمونږ څخه غواړي چې مونږ بد اعمال درجه بندي کړو، يعني يو جنايت ته بايد د هغه د شديد والي له مخې سزا وټاکل شي. او دا يو پيچلۍ کار وي. کوم يو ډير بد عمل دی، د خلکو کورونو ته اور اچول او که وسلواله غلا؟ فحشا او که د نشې په حالت کې د موټر چلول؟

پدې ځاي کې د مخنيوي د اصل برخورد د ګټورتوب د نظريي سره او د مجازات د تلافي د نظريي برخورد يو له بل سره متقابل کېږي. منع او مخنيوۍ يو سلوک جنايي بولي او هدف يې د جنايت مخنيوۍ دی. اما د تلافي د اصولو غوښتنه داده چې مخنيوۍ عادلانه وي. د يو موټر چلوونکي د پاره پدې خاطر د اوږدې مدې حبس سزا ټاکل چې د يو لاروي د تيريدو په وخت کې يې موټر ندۍ درولي، ښايي د بد موټر چلولو مخنيوۍ وکړي، اما د تلافي د نظريې له مخې عادلانه ندی ځکه د هغه زيان سره چې مخ يې نيسي هيڅ تناسب نلري. په عين توګه دا به حقيقتا" د جرم مخنيوۍ وکړي که مجازات يواځي جنايت کاره ته نه بلکه دده د کورنۍ ټولو غړو ته هم وټاکل شي، اما دا به د تلافي يو اساسي اصل نقض کړي. هغسې چې جنايي مسوولیت پر هغه چا تحميلېږي چې قانون يې نقض کړی وي، مسوولیت نه بايد تحميل شي مګر دا چې يو چا چې سزا ورکول کېږي، قانون نقض کړی وي. د تلافي د نظريې ځارنه پر مخنيوي باندې ښايي قانون ته احترام زيات کړي او د خلکو په سلوک کې د قانون رعايه کيدل تشويق کړي ; نسبت يو غير عادلانه قانون ته ښايي خلک يو قانون ته چې عادلانه په نظر ورځي زيات اطاعت څرګند کړي.

جنايي عمل څه شی دی؟

هره جنايي تخطي هم جنايي عمل (چې په لاتين کې ورته actus reus وايي) او هم د جرم د ارتکاب په وخت کې د مجرم روحي يا دماغي حالت (mens rea) ته اړتيا لري. د جنايي عمل غوښتنه په آسانه د پوهيدو وړ ده او يواځې په يو څوقضيو کې تردید شويده، اما په جالبه توګه د جنايي قانون اهداف منعکسه کوي. د غوښتنې د عمل عنصر د متهم د اختياري عمل څخه عبارت دی او د جنايت عنصر د هغه زيان څخه عبارت دی چې د عمل په نتيجه کې منځ ته راغلی دی.

عمل د بدن د يوې برخې يو ساده حرکت دی. د مجرم ګوته د ټوپک ماشه کشوي يا په خپل لاس د قرباني د جيب څخه د پيسو بکس راباسي. پدې ځای کې مونږ د عمل د نتايجو يعني د قرباني د قتل يا د پيسو د بکس د ارزښت سره کار نلرو، بلکه مونږ يواځې د متهم پر فيزيکي عمل خبرې کووګ دا کافي ده چې يو عمل وي او متهم هغه په اختياري توګه اجرا کړی وي.

د اختياري عمل عنصر ډير اساسي دی. فرض کړئ جان دو John Doe ډير آرامه ناست دی او يوه منه سپينوي چې په ناڅاپي توګه ورباندې د ميرګي يا epilepsy د ناروغۍ حمله راځي. ددې حملې په وخت

کې دده دلاس یوه عضله چې چاقویې په کې ټینګ نیولې دی په غیر اختیاري توګه ټکان خوري او د جین رو غاړه چې دده ځنګ ته ناسته ده پرې کوي. یا فرض کړئ، یوه شپه ډو Doe د خوب د ځاي څخه پورته کېږي او د خوب او بي هوښۍ په حال کې پر لارې ځي، یوه چاړه را اخلي او خپله میرمنه تر هغه چې مري په وهي. آیا په پورته مثالونو کې ډو په یو جنایي عمل لاس پوري کړیدی؟ قانون وایي نه، ځکه ډو دا کار د هوښیارۍ په حالت کې او په اختیاري توګه ندی کړی.

څنګه د یو اختیاري عمل غوښتنه د جنایي قانون اهداف تر سره کوي؟ کله داسې استدلال کېږي چې مور د غیر اختیاري اعمالو مخنیوی نشو کولای او دا لازمه نده چې داسې اعمالو ته سزا ورکړل شي. د جنایي سزا ګواښ د میرګي ناروغۍ د حملې مخنیوی نشي کولای. اما دا استدلال په دقیقه توګه درست ندی. مور یو څوک چې په خوب کې ګرځي دداسې ګرځیدو څخه نشو منع کولای، اما مور داسې شرایط را منځ ته کولای شو چې هغه په بالقوه خطرناکو حالاتو کې داسې کارونه ونشي کولای ; ښایي د جنایي سزا تهدید ځیني هغه کسان چې په خوب کې ګرځي، دې ته وهڅوي چې د خپل د خوب د خونو دروازې قفل کړي او ټول تیره شیان له خونې لیري وساتي او یا هم د خپل تکلیف د معالجې د پاره هلې ځلې وکړي. اما د اختیاري عمل د پاره تردې مهم دلیل د مجازات د تلافۍ غوښتنه ده. جنایي مجازات پدې خاطر تحمیلېږي چې مجرم په اخلاقي لحاظ یو ناروا کار کړیدی. یواځې هغه وخت چې جنایت کار د زیان د رسولو د پاره پریکړه کړیده، هماغه وخت ده اختیاري عمل کړیدي او دا عادلانه دی چې سزا ورکړل شي.

اختیارد یوې مسلې په توګه په یو څو قضیو کې نسبت په خوب کې تر ګرځیدو زیات رابرسیره کېږي. د ډیرو ایالتونو قوانین د مثال په توګه د مخدره موادو درلودل یا د خلکو کورو ته د لویدو د پاره د وسایلو درلودل د مجازات وړ بولي. حتې که دا قوانین په صراحت سره هم نه وایي، معنې یې داده چې په اختیاري توګه ددې شیانو لاس ته راوړل او د هغه ساتل. که یو څوک ستاسو جیب ته د هیروینو یوه کڅوړه واچوي او پولیس هماغه شیبه دا کڅوړه ستاسو سره موي، تاسو د یو غیر قانوني مخدره مادي د درلودلو مسوول نه یاست، ځکه تاسو دا په اختیاري توګه لاس ته ندی راوړی. اما دا دحکومت په ګټه ده چې وشي کولای خلک ددې موادو د درلودلو په خاطر تر قانوني تعقیب لاندې ونیسي، ځکه د ملکیت ثبوت د هغه د استفادې، رانیولو او یا خرڅولو تر ثبوت آسانه دی. که تاسو مخدره مواد د ځان سره ولری، دا به معقول وي که داسې استنتاج وکړو چې یا تاسو دا مواد په اختیاري توګه لاس ته راوړي او یا تاسو پوهیدلاست چې داسې مواد لری او هغه د کافي وخت د پاره ستاسو په اختیار کې وو او تاسو ددې چانس درلود چې هغه له منځه یوسی، لهذا دا به معقول وي که استنتاج وکړو چې تاسو په اختیاري توګه دا مخدره مواد د ځان سره ساتلي او باید د هغه د درلودلو په خاطر سزا ووینی.

د اختیار غوښتنه داسې هم پوره کیدای شي چې یو مجرم په اختیاري توګه یو څو کارونه او نه ټول هغه اقدامات چې د جرم د تکمیل د پاره لازم دي اجرا کړي. فرض کړئ، د لاری چلوونکی چې ډیر سترې او ستومانه دی د یوې اوږدې ورځې په پای کې بیا هم خپله لاری چلوي او د چلولو په وخت کې

يې خوب وړي او يو لاروی تر موټر لاندې کوي. آيا د لاری چلوونکي د قتل د جنايت مرتکب شويدی؟ د لاروي تر موټر لاندې کول يو اختياري عمل نه وو، اما د سټريا په حالت کې د لارئ چلول اختياري عمل ووګ، لهذا د عمل د موجوديت غوښتنه پر ځای شويده. مسله اوس د قتل درجه ده لاری چلوونکی ښايي ووايي چې يواځې دې د بې احتياطۍ له کبله د قتل مسوول وبلل شي (يعني غير عمدي قتل) ځکه ده اراده نه درلوده چې لاروی تر موټر لاندې کړي، که څه هم ده ښايي د موټر په چلولو کې بې احتياطي کړيوي.

د متحده ايالاتو ستريې محکمې په شپيتمه لسيزه کې په دوو قضيو کې د اختياري عمل نظريه په اساسي قانون کې شامله کړه. يو يې په ۱۹٦۲ کې د کليفورنيا ايالت او رابنسن قضيه او بل يې په ۱۹٦۸ کال کې د پاول او د تکساس د ايالت په قضيه کې ووګ د کليفورنيا ايالت يو قانون تصويب کړ چې په هغه کې په مخدره موادو اعتياد يو جنايي جرم وبلل شو، اما د رابنسن په قضيه کې محکمې فيصله وکړه چې دا قانون د اتمې ضميمې د ظالمانه او غير عادي مجازات د مادې څخه سرغړونه کړيده. يو ايالت نشي کولای د اساسي قانون له نظره يو چا ته چې معتاد وي سزا ورکړي. اعتياد يوه ناروغي ده، او يو څوک چې ددې حالت څخه رنځ وړي، په اختياري توګه عمل نه کوي. اما پاول ددې اصل حدود څرګند کړل. ليروي پاول پدې محکوم شو چې په يو عام ځای کې نشه پروت وو او د ځان د دفاع د پاره يې په الکهلو باندې عادت يوه ناروغي وبلله. محکمې په ځواب کې وويل، دا توپير لري. پاول يو عمل کړي وو، يعني په يو عام ځای کې نشه پروت وو، خو ده ته دده د نشه حالت په خاطرسزا ورنکړل شوه. که څه هم پاول په الکهولو معتاد وو، ده بايد د خپل سلوک د کنټرول د پاره چې دده ددې ناروغی سره اړيکه لري، ځينې اقدامات کړي وای.

که قانون د يو عمل غوښتنه کوي، آيا د عمل نشتوالۍ کافي دی؟ په کال ۱۹٦٤ کې د نيويارک د ښار په يوه بدنامه پيښه کې پر کيټي ګينوويس چې يو ځوانه ښځه وه په ډيره بې رحمئ حمله وشوه او د نيم ساعت په جريان کې ووژل شوه. دا پداسې حال کې وه چې ددې محلې اته ديرش اوسيدونکو د صحنې تماشا کوله او د خپلو اپارتمانونو په کړکيو کې ولاړ او ددې چغې يې اوريدې. يو هم د کيټي ګينوويس مرستې ته رانه غی او حتې پوليس ته يې هم تلفون ونکړ. آيا په جنايي لحاظ دوی د مرستې د نه کولو په خاطر مسوولیت لري؟ قانون وايي نه. ددې موقف د پاره په عنعنوي توګه دوه دليله وړاندې کېږي. يو دليل يې عملي دی. ددې ثبوت ډير ګران دی چې هر تماشا کوونکي د ګينوويس په قتل کې څومره برخه اخيستې ده. بل دليل اصولي دی او د حکومت د غوښتنو څخه د نه په عذابيدو د حق پربنسټ ولاړ دی. حکومت کولای شي تاسو ته د يو زيان د رسولو په خاطر سزا درکړي اما نه بايد پدې خاطر چې تاسو يو ښه کار ندی کړي د جنايي مجازات په افراطي اقدام لاس پوری کړي.

که څه هم د يو ښه کار د نه کولو په صورت کې، په عنعنوي توګه د جنايي مسوولیت پر ضد دلايل منل شوي دي، اما په هيڅ توګه قطعي ندي. لږ تر لږه په جدي او سختو قضيو کې زيان روښانه وی او د ليکو د کښلو مشکلات يې له منځه نه ځي. يو پياوړی لامبو وهوونکی کولای شي يو ماشوم ته چې د

ډوبيدو په حالت کې دی بيله کوم خطر يا بار څخه نجات ورکړي. او حکومت تل دا د خلکو وظيفه او مکلفيت بولي په داسې حالاتو کې عمل وکړي. که تاسو مالیه ورکوی او د هغه ورکولو ته مجبور ياست، آيا دا به يو لوی بار وي که ستاسو څخه د انسانيت په خاطر د يو کار اجرا وغوښتل شي؟

ددې قاعدې د پاره استثنااات شته چې يو څوک د يو عمل د نه اجرا کولو په خاطر مسوول نه بلل کېږي. په ځينو قوانينو کې عمل کول مکلفيت بلل شوي دي. که تاسو خپله مالیه ورنکړی، يا په يوه ترافيکي پيښه کې چې تاسو پخپله په هغه کې برخه لري و نه درېږی او ولاړ شی، دا ښايي عمل نه بلکه د عمل نه کول وبلل شي، اما بيا هم جنايي دی. همدا شان خلک په خپلو خاصو اړيکو کې ددې اړيکود خاصو مسوولیتونو پرځاي کولو ته مکلفيت لري. مور او پلار نشي کولاي پرېږدي چې ماشوم د لوړی مړ شي او بيا د جنايي غفلت د تور په مقابل کې ادعا وکړي چې دوی هيڅ ندي کړي. په "reus " کې چې د " actus reus" يوه برخه ده، يو عمل بايد جنايي طبعت ولري. ددې د پاره چې زيان په کې شامل شي، دا غوښتنه او ضرورت ترعمل او اختيار نوره هم پراخوي. قانون ټولو اعمالو ته سزا نه ورکوي، بلکه يواځې هغو ته چې جنايي وي او يو غلط عمل وي او ټولنې ته زيان ورسوي. په ځينو قضيو کې زيان فوري او مشهود وي. په نوروکې بالقوه وي او نه فوري. يو نشه موټر چلوونکی ښايي په لمړي ځل کې څوک خوږ نه کړي، اما په بالقوه توګه دا خطر په کافي اندازه لوی دی او دا به مفيد او عادلانه وي چې د زيان تر رسيدو دمخه ده ته سزا ورکړل شي.

آيا يو څوک بايد حقيقتا" د جنايت کولو قصد ولري تر څو مسوول وبلل شي؟

يو پخوانی ضرب المثل دی چې وايي " تر څود يو چا فکر مقصر نه وي، يواځې عمل يو څوک نه مقصره کوي " ددې د پاره چې يو څوک د جنايت د کولو مقصر وبلل شي، هغه بايد يو منع شوی عمل اجرا کړي او دا عمل بايد په يو خاص فکري حالت کې وکړي ګګ

د مثال په توګه، فرض کړئ، د ښکاريانو يوه ډله د ښکار د موسم په لمړی ورځ په ځنګله کې د هوسی ښکار کوي. لمړی ښکاري (هغه کين بولو) پداسې حالت کې چې غواړي يوه هوسی وولي، خپل يو ډير بد دښمن ويني (لمړی قرباني) چې هغه هم د ښکار د پاره راغلی دی. کين د هوسی پر ځاي لمړی قرباني په نښه کوي، هغه ولي او وژني يې. پدې وخت کې دوهم ښکاري (آبيل) يوه هوسی په نښه کوي او ډزې پرې کوي، خو هوسی خطا کېږي. دده مرمی په ځنګله کې هوسی ته نژدې تيرېږي او په دوهم قرباني کې مښلي چې په ځنګله کې يې قدم واهه او آبيل هغه نه ليدی اوهغه وژني. د قتل کلاسيک تعريف دادی : " په غير قانوني توګه د يو انسان وژل د يو بد او ناوړه مخکني فکر له مخې " آيا کين او آبيل د قتل مسوول دي؟

کين يو ناروا او منع عمل کړيدی - د يو بل انسان غير قانوني وژنه. (دا عمل غير قانوني دی ځکه دی د پوليس ماموريا عسکر نه وو چې د وظيفې د اجرا په وخت کې يو څوک وژني) دده عمل د جنايت د

فکر عنصر یا ، mens rea، هم لري، یعني د یو بد او ناوړه مخکني فکر له مخې یې عمل کړیدی. هغسې چې مونږ به یې د قتل په بحث کې ووینو، د بد او ناوړه مخکني فکر د پاره شرط ندی چې د وژلو عمل پلان شوی وي.، بلکه یواځې د ارادې موجودیت کفایت کوي، او کین یقینا" د خپل قرباني د وژلو اراده درلوده. پاملرنه وکړئ چې د فکري حالت غوښتنه اراده ده، نه انګیزه. کین دا انګیزه درلوده چې خپل قرباني چې دده بد دښمن وو ووژني، اما دی به بیا هم هغومره مسوول واي که ده قرباني هیڅ نه پیژندلای او یواځې یې د خپل مزاجي حالت یا یوالهامي فکر له مخې او یا یې هم د یوې ښې انګیزې له مخې دا کار کړی وای، همداوجه ده چې ایتانازیا قتل او د سزا وړ بلل کېږي. (ایتانازیا euthanasia هغو سختو او نه ښه کیدونکو ناروغانو ته د وفات کولومرستې ته وایي چې پخپله خوښه د درد او تکلیف څخه د خلاصیدو د پاره د ډاکټر څخه غواړي ددوی سره مرسته وکړي چې وفات شي. ژ)

اما د آبیل سرنوشت به چې حتې نه پوهیده چې قرباني یې هلته دی، څنګه وي؟ ده هم په یو منع عمل لاس پوري کړی او په غیرقانوني توګه یې یو بل انسان وژلی دی، اما دده په قضیه کې هغه فکري حالت چې لازم بلل کېږي وجود نلري. ده د یو بد او ناوړه مخکني فکر له مخې عمل ندی کړی. که څه هم د ناوړه فکرغوښتنه د قتل د پاره یوه بې ساري غوښتنه ده، اما دا غوښتنه چې د یو جنایت سره یو خاص فکري حالت ملګری وي تقریبا" په ټولو جنایاتو کې عام دی.

د جنایي قانون د اهدافو په رڼا کې د مجرمیت یا د سزا د وړتوب د غوښتنې په هکله فکر وکړئ.

دا غوښتنه چې یو څوک ددې د پاره چې جنایت کاره وبلل شي باید یو مقصر فکرولري، د ګټورتوب د نظریې اهدافو ته چې تر ټولو مهم یې مخنیوی دی مرسته نه رسوي. ځینې خلګ استدلال کوي چې قانون نه باید د هغو خلکو مخنیوی وکړي کوم چې اساسا" د کوم غلط کار د کولو قصد نلري. د مثال په توګه، مورِ نشو کولای د آبیل د کار چې نتیجه یې په هیڅ توګه دده اراده نه وه، مخنیوی وکړوګ اما دا هم ډیره درسته نده. حتې که آبیل د خپل قرباني د ویشتلو قصد هم نه درلود، ده ښایي بې احتیاطي کړې وي، او د جنایي مجازات تهدید کولای شي خلک د زیات احتیاط کولو ته تشویق کړي. سربیره پردې، د آبیل قانوني تعقیب په عمومي توګه د جنایت مخنیوی کوي، یعني هر څومره ډیر خلګ چې د قتل په تور تر تعقیب لاندې ونیول شي، په هماغه اندازه احتمال لري چې لږ قتل وشي. او دا چې آبیل د خپل قرباني د وژلو قصد او نیت درلود او که نه، دده قرباني اوس مړ دی او آبیل ته مجازات به اعتدال او موازنه بیرته منځ ته راوړي.

اما دا غیر منصفانه ښکاري چې آبیل ته سزا ورکړل شي ځکه ده د یو بد کار د کولو نیت نه درلود.

جنایي محکومیت یوه جدي مسله ده ځکه دا د جنایتکاری یو داغ دی چې پر یو چا منښلي او سخته سزا یې هم احتمالا" په تعقیب کې ده. مورِ دا داغ او سزا هغو حالاتو ته پرېږدو چې په هغه کې یو مجرم په اخلاقي لحاظ یو غلط او ناروا عمل کړیدی. حتې که یو بیګناه سړي ته هم سزا ورکړل شي، هغه د جنایت مخنیوی کوي. مجازات د تلافی د پاره نظریه د مخنیوي د پاره یو حد ټاکي ; حتې که مورِ یو ګناهکاره ته د مفیدیت یا د تلافي د دلایلو له کبله سزا ورکوو، بیګناه ته سزا ورکول منع دی.

کین قصد درلود چې خپل قرباني ووژني او آبیل به بشپړه توګه بیګناه وو، ځکه دی نه پوهیده چې دده قرباني پدې سیمه کې دی، اما په ډیرو قضیو کې د فکري حالت ټاکل چې د یو چا د جنایت د ثبوت د پاره ضروري ګڼل کېږي، یوډیر پیچلی او مشکل کار دی. د جنایي جرمونو په تعریفونو کې د فکري یا مغزي حالت د تشریح د پاره په عنعنوي توګه یو لړ مبهم او ګډ وډ کلمات او لغاتونه را غلي دي لکه : په بداوناوړه مخکني فکر with malice aforethought، په ارادي توګهwith intent ، په خپل سر او عمدي توګه willfully، د کینې او بدو اندیښنو څخه ډکmaliciously، په بي احتیاطيcarelessly ، او داسې نور. ددې ګدوډۍ او سراسیمه ګۍ د رفع کیدو د پاره ډیرې قضایي حوزې د جزا د قانون د ماډل څخه پیروي کوي. پدې ماډل کې هڅه شویده دا ګډوډي له منځه یوسي او د دماغي یا فکري حالت تعریفونه یې څلورو ته محدود کړیدی. په قصدي توګه یا purposely (چې ځیني وخت په ارادي توګه یا intentionally بلل کېږي)، په پوهې سره knowingly، په بي باکۍ او بې پروایي سره recklessly او د سهل انګاري او غلفت له مخې negligently. یو څو فرضي مثالونه به موږ ته ددې توپیرونه څرګند کړي.

یو څوک هغه وخت قصدي عمل کوي چې " دا دده آګاهانه هدف وي چې داسې یو عمل وکړي چې د یوې نتیجې سبب و ګرځي " کین خپل قرباني په قصدي توګه وواژه، ځکه دا هغه څه وو چې ده غوښتل د ټوپک د فیر له لارې یې تز سره کړي. اما فرض کړئ چې دی خپل دښمن د تماشاچیانو په یوه ډله کې ویني او په ماشینداره وسلې د هغوی په لور ډزې کوي او ټول وژل کېږي. کین په قصدي توګه خپل دښمن وواژه اما په پوهه سره یې نور هم ووژل. په پوهه سره عمل کول پدې معنې ده چې کین په عمل کې باور درلود چې دده عمل به یوه منع شوې نتیجه منځ ته راوړي، یا داچه د خپل سلوک د طبعت او شرایطو په هکله آګاه او پوه وو. که څه هم دا دده آګاهانه هدف نه وو چې تماشاچیان ووژني، ځکه دی په عادي روحي او عقلي حالت کې دی، اما پوهیده چې که دی ددې ډلې لور ته وسله اور کړي، د دوی یو شمیر به ووژل شي. دلته ښایي د قصدي او په پوهې سره تر منځ ډیر توپیر نه وي، اما دا قانون جوړونکو ته ددې امکان ورکوي جنایات تعریف کړي او نسبت هغه چاته چې یواځې پوهېږي چې دده د عمل په نتیجه کې به جنایي زیانونه منځ ته راشي، هغه چا ته زیاته سزا وټاکي چې غواړي یو جنایي عمل اجراکړي.

زمونږ په لمړي فرضي مثال کې، آبیل په یو ځنګله کې د ښکار په یو مشهور ځای کې وو، ده مخکې لدې چې د ټوپک فیر وکړي، په احتیاط سره شاوخوا ته وکتل اما بیا هم و نه پوهید چې قرباني هوسۍ ته نژدې ولاړ دی. فرض کړئ، ده قرباني ولید چې هوسۍ ته نژدې ولاړ دی او پوهیده چې ډیر ښه ښکاري ندی، اما بیا یې هم فیر وکړ، پدې صورت کې ده بي باکي او بي پروایي کړیده. هغه څوک چې د بې پروایي له مخې عمل کوي په آګاهانه توګه داسې مهمو خطرونو ته چې قبلول یې د توجیه او تبریې وړ ندي پاملرنه نه کوي. دی پوهیده چې ښایي د هوسۍ پرځای قرباني وولي او څرنګه چې پوهیده چې ښایي داسې وشي، ده په آګاهانه توګه خطر ته پاملرنه ونکړه، اما څرنګه چې ده په عمل کې باور نه درلود چې داسې به وشي، ده په پوهې سره دا عمل ندی کړی. پدې کار کې خطر زیات وو، ځکه دی ښه

ښکاري نه وو او ددې لوی خطر قبلول د توجیه وړ نه وو، ځکه داسې یو مهم دلیل نه وو چې ولې ده نشواي کولاي د ټوپک د فیرولو د پاره یو لږ انتظار وباسي.

او بالاخره، فرض کړئ، آبیل قرباني چې هوسۍ ته نژدې ولاړ وو ونه لید ځکه چې ده په بیړه یو روښانه ځای ته ولاړ او که څه هم دی باید پوهیدلی وای چې دلته نور ښکاریان هم شته، ده بیا هم مخکې له فیر څخه خپل شاوخوا ته و نه کتل. ده په پوهه او آګاهانه توګه دې خطر ته چې ښایي بل څوک وولي پاملرنه ونکړه او پدې توګه یې بي پروایي وکړه. اما دی باید پدې خطر پوه وای، نو لهذا یې سهل انګاري کړیده.

دا څلورروحي حالتونه د ټولنیزیان او غلط اخلاقي سلوک له نظره په یو تنزلي ترتیب راغلي دي ګ

د مفیدیت د نظریې له مخې د ا ډیره مهمه ده چې د سهل انګارو او غافلو کسانو په نسبت د قصدي قاتلانومخنیوی وشي او هغو ته سخته سزا ورکړل شي، او سهل انګاره قاتلانو ته د بي احتیاطو په پرتله زیاته سزا ورکړل شي. د تلافی د نظریې له مخې، یو څوک چې د یو چا د وژلو نیت لري نسبت هغه چا ته چې د نورو خطر ته پاملرنه نه کوي د ډیر اخلاقي محکومیت وړ دی. او هغه څوک چې نورخلګ د خطز سره مخامخ کوي او هغه ته پاملرنه نه کوي نسبت هغه چا ته چې نه پوهېږي نورخلګ د خطر سره مخامخ کوي د ډیرې ملامتی وړ دي. ددې روحي حالاتو تر منځ توپیر موږ ته اجازه راکوي تعریف کړو چې کوم سلوک نسبت نورو ته ډیر جنایي دی او ډیر جنایي سلوک ته تر نورو شدیده سزا ورکړوګ بیرته به خپل لمړي مثال یعني آبیل ته را وګرځو چې په هغه کې دی د هغه چا په لیدو کې چې ده وویشت حتي بي احتیاطه هم نه وو. ډیر خلګ به ووایي چې آبیل کوم جنایت ندی کړی، ځکه ده ددې نیت نه درلود چې یو ناوړه کار وکړي. فرض کړئ چې آبیل د ښکار ځای ته په موټر کې د تګ په وخت کې د زیات سرعت له کبله درول شوی او په یوه سیمه کې چې د ۵۵ میلو سرعت اجازه ده، دی په ٦۵ میلو کې تللي وي او د جریمې ټکټ ورکړل شوی وي. آبیل محکمې ته ځي او دعوې کوي چې نه پوهیده چې دده د موټر میل میټر خراب وو او لس میله یې لږ ښکاره کړیدي. آیا آبیل کولاي شي په بریالیتوب سره استدلال وکړي چې دی د زیات سرعت په جرم کې هغه د جرم د پاره لازم روحي حالت نه درلود، ځکه ده نه په قصد، نه په پوهې، نه په بي پروایي او نه هم د بې احتیاطی له مخې عمل کړیدی؟

دا د قانون د تعبیر یوه مسله ده. کله چې قانون جوړونکو د ترافیک قوانین وضع کړل، ددوی مقصد د کوم روحي حالت څخه وو؟ په عمومي توګه به مونږ ډیر تخلف نه وي کړی که غیر له داسې جنایاتو لکه قتل، د زیات سرعت په خاطر د یو چا د محکومولو د پاره د څلورو روحي حالتونو څخه د یو ثبوت و نه غوښتل شي. که څه هم د تلافي د نظریې له مخې داچه متهم د موټر د میل میټر خرابوالي ته ندی متوجه شوی، ښایي کوم غلط کار نه وي کړی، او د مفیدیت د نظریې پر اساس خو بیا دا سلوک په هر حال د تایید وړ دی. د څارنوال د پاره به دا ناممکنه وي چې په هره قضیه کې ثابته کړي چې د ترافیکي قانون متخلف پوهیده چې سرعت یې زیات دی، او د موټر میل میټر سم کار کاوه، او یا پوهیده او یا هم باید پوهیدلای وای چې هغه کار نه کوي. ددې مطابق مونږ ښایي آبیل په جدي توګه مسوول وبولو، یا یې

داسې مسوول وبولو چې ګناه نلري، ځکه دلته یو اځي د یوه کوچني تخلف موضوع مطرح ده او نه د یو جدي جنایت.

د جدي جنایي مسوولیت بل شکل نیابتي مسوولیت یا vicarious liability ده ګڅه په هغه کې یو څوک د یو جرم د پاره چې بل چا کړیدی مسوول بلل کېږي. د یو شرکت مالک اکثره د هغو اعمالو د پاره چې دده کارګر یې د کار په ساحه کې کوي په نیابتي توګه مسوولیت لري. که یو مستخدم د غوښو پر قطیو غلط لیبل ومښلوي، پر کوچنیو ماشومانو سګرت خرڅ کړي، یا زهري مواد د درياب اوبو ته ورخوشې کړي، د هغه کارفرما به هم د مستخدم په شان د جرم د پاره جنایي سزا ووینې. (پاملرنه وکړئ، دا حقیقت چې کارفرما په نیابتي توګه مسوول بلل کېږي مستخدم د اصلي مسوولیت څخه نه ژغوري. د قانون د موضوع په حیث به دواړه هم کارفرما او هم مستخدم مسوولیت ولري، اما د یوې عملي موضوع په توګه اکثره کارفرما یواځنۍ څوک دی چې تر تعقیب لاندې نیول کېږي.) په عین توګه د یو موټر مالک د هر هغه ټکټ د پاره چې په غلط ځای کې د پارکیدو له کبله ورکول کېږي مسوولیت لري. داچه ده پخپله موټر هلته پارک کړیدی یا یې ندی کړي، اهمیت نلري. د جدي مسوولیت په شان، نیابتي مسوولیت اکثره د کوچنیو او معمولي تخلفاتو د پاره تحمیلېږي او نه د لویو جرمونو د پاره.

آیایو لوی شرکت د جرم مسوول بلل کیدای شي؟ پخوا د عامه قانون یا common law. په دوران کې ددې پوښتنې ځواب منفي ووګ پخوا به ویل کیده چې لوی شرکت نه روح لري چې لعنت پر وویل شي او نه جسم لري چې په لغته ووهل شي، او لدې کبله انساني خصوصیات نلري، یعني نه جنایي اراده لري او نه هم مجازات کیدلای شي. د وخت په تیریدو سره محکمود لویو شرکتونوجنایي مسوولیت د نیابتي مسوولیت د یو خاص شکل په توګه په رسمیت وپیژند. څرنګه چې په لویو شرکتونو کې صلاحیت ډیر ویشل شوی او پراګنده وی، د ځینو جرمونو د پاره به یواځې ممکن وي چې پخپله لوي شرکت مسوول وبلل شي. نه یوځانګړی کارګریا مستخدم. او دا به منصفانه هم نه وي چې د یو عمل د پاره چې ډیر نور هم په کې لاس لري یو کارګر یا مستخدم مسوول وبلل شي. د یو لوی شرکت مجرم بلل د شرکت لوړ رتبه ریسان تشویقوي چې د خپلوکارګرانو پر اعمالو له نژدې څارنه وکړي. او دا به د لوی شرکت نوم او شهرت ته ډیر زیان ورسوي چې که د شرکت په نامه جنایي اعمال تر سره شي.

فرض کړئ یو متهم استدلال کوي چې ده د حقیقي وضع په هکله چې د جرم روحي عنصر ردوي اشتباه کړیده. قانوني وکیلان اکثره دا اشتباهات د قانون په اشتباه او د حقایقو په اشتباه ویشي. د قانون په هکله اشتباه پدې مشهور ضرب المثل کې داسې خلاصه شویدی " د قانون څخه ناپوهي د بخښنې سبب نشي کرځیدلای " که د یو بار مالک د پوکر (یو خمار دی) یو ویدیویي ماشین په خپل بار کې نصب کړي او پدې باور وي چې دا د ویدیویي لوبو یو عادي ماشین دی او هغه جواز لري، اما په حقیقت کې هغه د خمار یو غیرقانوني ماشین وي، ده د قانون څخه سرغړونه کړیده. د تلافی د نظریې له مخې ده هیڅ کوم غلط کار ندی کړی، دی نه پوهیده چې دده سلوک غلط دی او لهذا نه باید چې سزا ورکړل شي، اما د قانون څخه ناپوهي یا بیخبری ته د یوې دفاع په توګه اجازه ورکول به د ډیرو پیچلو او تقلبي

دفاع ګانو د پاره د سیلاب دروازې پرانیځي اوخلګ به هم بیا نه پوهېږي چې کوم سلوک د قانون ضد دی. لهذا په دې نه پوهیدل چې یو سلوک جنایي دی اساسا" د جرم څخه د بخښنې یاعفوې سبب نشي کیدلای.

فرض کړئ چې اشتباه پخپله د عمل د قانوني توب په هکله نده بلکه د هغو حقایقو په هکله ده چې عمل د قانون ضد کوي. که د اشتباه اغیز داوي چې متهم په هغه لازم روحي حالت کې نه وو چې جرم وکړي یا د جرم د عناصرو څخه سرغړونه وکړي، متهم جرم ندی کړی. که آبیل د ښکار په وخت کې اشتباها" یو څوک وولي چې نصواري بالاپوښ یې درلود او ده د هوسۍ خیال پر کړیوي، آبیل په ارادي توګه قتل ندی کړی، ځکه ده اساسا" د یو انسان د وژلو اراده نه درلوده. پدې ځای کې که څه هم دده فکر نامعقول دی، ده بیا هم جرم ندی کړي، ځکه د جرم د کولو د پاره باید دواړه عنصره یعني هم اراده او هم پوهه وجود ولري. دلته یواځنۍ مسله دده سوبژکتف روحي حالت دی. اما ښایي ده په فکر کولو کې چې پر سړي یې د هوسۍ خیال کړیدي بې احتیاطي کړې وي چې پدې صورت کې به دی د سهل انګاري له کبله په قتل محکوم شي. دده د فکر د معقول توب له مخې ټاکل کیدای شي چې دی حقیقتا" په کوم روحي او فکري حالت کې وو. که آبیل تصدیق کړي چې ده پر هغه چا چې روښانه نارنجي رنګه بالا پوښ یې اغوستی وو د هوسۍ خیال وکړ، منصفه هییت به دده پردې ډول شهادت ډیر شک وکړي، مخصوصا" که ثابته شي چې قرباني د آبیل یو سخت دښمن وو.

څه وخت د ځان څخه دفاع برحق ده؟

کله چې یوڅوک د یو جرم د کولو پخاطر محاکمه کېږي، لمړی څارنوال د قضیې په هکله خپل معلومات وړاندې کوي. کله چې څارنوال د خپل لوري څخه قضیه وړاندې کوي او پر هغه رڼا اچوي، مدعي علیه ددې چانس لري چې مداخله وکړي او د څارنوال د شاهدانو څخه سوال او ځواب وکړي. بیا متهم ته فرصت ورکول کېږي د خپلې خوا څخه پر قضیه رڼا واچوي. په خلاصه توګه، څارنوال وایي" تا دا کار وکړ "، مدعي علیه کولای شي یاووایي" نه " او یا ووایي "هو، اما" څارنوال ته په ځواب کې " نه" ویل اساسا" دا معني لري چې مدعي علیه هغه جرم چې په تورن شویدی ندی کړی. د " هو، اما " ځوابونه توپیر لري. د دفاع وکیل ددې پر ځای چې د څارنوالی ادعا رد او تکذیب کړي، یو لړ نوي حقایق او فکټورونه وړاندې کوي چې هغه متهم تبرئه کوي. جنایي قانون دوه ډوله د " هو، اما " دفاع یا دلایل پیژني چې ولي موږ نه غواړو داسې یو چاته سزا ورکړو چې هغه د جرم ټول عناصر قانع کړي وي، او هغه عبارت دي د توجیه یا مجوزjustification او بخښلواو معاف کولو یا excuses څخه.

جنایي قانون ځکه یو عمل جرم بولي چې دا عمل غلط او ناروا دی، یعني هم د اخلاقي نظره یوه ګناه ده او هم ټولنې ته زیان رسوي.، اما کله بیا د یو جرم کول غلط نه ښکاري. په خاصو شرایطو کې د یو کار کول چې په عادي حالت کې جرم ګڼل کېږي، داسې یو عمل دی چې موږ یې غواړو تحمل یې کړو او

حتې تشويق يې کړو. کله چې داسې يو کار وشي، مونږ وايو چې دا عمل د توجيه او تبرئې وړ دی او مدعي عليه جرم ندی کړی. په عامه توګه د توجيه او تبرئې په مواردو کې د دوو بدو شيانو څخه د يوه د انتخاب مسله ده، او که يو څوک د دوو بدو شيانو څخه هغه چې لږ بد وي انتخاب کړي، دی به ددې کار د پاره په سزا نشي محکوم. په توجيه او تبرئه کې د ځان دفاع، د رسمي امر لاندې عمل کول او نور داسې حالات چې د بدو څخه د يوه بد د انتخاب موضوع مطرح وي شامل دی.

په نورو حالاتو کې يو جنايي عمل د توجيه او تبرئې وړ نه وي، اما بيا هم د قضيې په اړه داسې شيان وجود لري چې پر مدعي عليه باندي د جنايي مسوولیت تحميلول مونږ ناراحته کوي. يعني هغه څه چې متخلف يا مقصر کړيدی درست نه وو، خوهغه خاص شرايط داسې وه چې دده څخه د يوه بهتر کار انتظار نشواي کيدلای. پداسې حالاتو کې متخلف بخښل کېږي. د عفوې يا بخښنې په قضيو کې، دماغي ناروغی، د نشې حالت او جبراو اکراه شامل دي.

ددې د پاره چې وپوهېږو چې څه وخت د ځان دفاع د توجيه او تبرئې وړ ده دې دوو قضيو ته پاملرنه وکړي چې يو ئې د برنهارډ ګيوتس د تر مځکې لاندې ښاري ريل د څارني قصه او بل يې د زيانمنې شوي ښځې قضيه ده.

په تيرو کلنو کې د برنهارډ ګيوتس د ځان د دفاع قضيه تر ټولو زياته پاملرنه جلب کړيده. په ۱۹۸٤ کال کې د کريسميس د جشن مخکې د شنبې ورځې په ماپښين څلور ځوانان – ديريل کېبي، ټروی کانټي، جيمز رامسور او بيري آلن، د نيويارک ښار د مځکې لاندې ښاري ريل ته ننوتل. دا څلور ځوانان د سکې او قوارې له لحاظه په زړه پوري نه معلوميدل. د رامسور او کېبي په لاسو کې پيچ تاوونه وه چې د هغه په ذريعه يې د ويديو د لوبو ماشينونه مات او پيسې يې ورڅخه راويستلې. ګيوتس د څورلسم سړک د ريل په ستيشن کې ريل ته وخوت. دی هم په بشپړه توګه بيګناه نه وو. دده سره يوه ۳۸ ملي متره تفنګچه وه چې تر کمربند لاندې يې پټه کړې وه. ده ددې تفنګچې د ګرځولو رسمي جواز نه درلود. ګيوتس د وهلو ټکولو په يوه قضيه کې درې کاله مخکې خوږ شوي وو او د هغه وخته راهيسې يې په غير قانوني توګه دا تفنګچه د ځان سره ګرځوله. دوه واره مخکې هم پر ده حمله شوې وه چې د همدې تفنګچې په راويستلو سره حمله کوونکي ورڅخه تښتيدلي وه.

په ريل کې کېنټي او آلن، ګيوتس ته ورنژدې شول او ده ته يې وويل " پنځه ډاله راکړه ". ګيوتس محکمې ته وويل، د کېنټي د تبسم کولو څخه وپوهيد چې دوی غواړي دده سره لوبې وکړي. (دا ټولې څرګندونې د ګيوتس د اعتراف څخه اقتباس شوي دي) ګيوتس پوهيده چې يو د دوی څخه هم وسله نلري. اما هغه پخواني وهل ټکولو دی د چپې خولې د پاته کيدو څخه بيرولې وو. کله چې کېنټي بيا دده څخه د پيسو غوښتنه وکړه، ګيوتس ودريد، خپله تفنګچه يې را وکښله او د چپه خوا څخه راستې ته يې څو مرمۍ فير کړې. ده اراده درلوده چې دا ځوانان ووژني، خوږ يې کړي، او د امکان تر سرحده يې د ډيرزيات رنځ او درد سره مخامخ کړي. ده په نوبت د هر ځوان لورې ته ډزې وکړې او د هر يوه د بدن منځني ځايونه يې په نښه کړل. ګداريل کېبي په بل بغل کې آرام ولاړ وو او داسې چم يې کاوه چې ګواکې

د نورو ځوانانو سره یو ځای نه دی، خو ګیوتس بیا هم پر هغه ډزې وکړې. کله چې ګیوتس د دوی پر هر یو فیرونه وکړل، دې ځوانانو ته ورنژدې شو او ددوی وضعیت یې معاینه کړ. ده ولید چې کیبي ډیر ندی ژوبل شوی. ګیوتس ورته وویل، داسې ښکاري چې ته سم پاته یې، دا بل در واخله، او دا وار یې د کیبي شمزی په نښه کړه او بیا یې وویشت.

ګیوتس په خپل اعتراف کې زیاته کړه که ده پر ځان زیات کنټرول درلودای ده به د تفنګچې خوله د کیبي پر تندي ایښې وای او ویشتلی به یې وای. او که دده مرمی نه وای خلاصې شوي، ده به بیا، بیا او بیا پر دوی فیرونه کړي وای.

ګیوتس د قتل کولو د هڅې، د حملې، په بې پروایي سره نور خلګ د خطر سره د مخامخ کولو او په غیر قانوني توګه د وسلې د ګرځولو په اتهام تورن شو، او د ځان د دفاع پر اساس یې د ځان دفاع وکړه. (خلګ او ګیوتس ۱۹۸٦). راشئ لمړی یو لړ فرضي حقایقو ته پاملرنه وکړو. لمړی، فرض کړئ چې یو ددې ځوانانود خپل جیب څخه یوه تفنګچه را کښلی وای او ګیوتس یې په نښه کړی وای او بیا یې ویلي وای، زه غواړم ستا سر در والوزم. ګیوتس ژر عکس العمل ښیي، خپله تفنګچه را کاږي او د حمله کوونکي پر لور فیر کوي او هغه وژني. دلته ګیوتس د جرم ټول عناصر قانع کړي دي یعنې ده په قصدي توګه یو بل انسان وژلی دی. اما پر دې حقایقو بنا به مونږ ووایو چې د ګیوتس عمل د توجیه او تبریې وړ دی، ځکه ده په څرګنده توګه د ځان دفاع وکړه. دا ښایي ګټور وي که مونږ خلکو ته اجازه ورکړو د ځان ساتنه وکړي، ځکه په دې توګه به هرزه کسان و نشي کولاي د مځکې لاندې ښاري ریل په شبکه کې د ریل پر څارونکو حمله وکړي. دا د یو اخلاقي نقطه نظره هم درست ښکاري. ګیوتس د فردي امنیت د درلودلو حق لري او دی باید وشي کولای د تهدید په صورت کې د خپل دې حق ساتنه وکړي.

اما د ګیوتس د قضیې حقایق ډیر زیات پیچلي وه. په قضیه کې لمړی مشکله مسله د هغه معیار ټاکل وو چې د هغه له مخې باید د ګیوتس دځان د دفاع ادعا ارزیابي شوې وای. د ځان په دفاع کې باید ګیوتس باور ولري چې دې څلورو کسانو غوښتل ډیر ژر پر ده حمله وکړي، او ددې د مخنیوي د پاره پر دوی فیر کول لازم وو. آیا مسله د ګیوتس په باور کې ده او یا داچه آیا دده دا باور معقول وو؟ آیا دا کافي ده چې ګیوتس فکر وکړ پر ده باندې حمله کېږي او د هغه یواځنۍ لاره پر حمله کوونکو فیر کول دی، او که مونږ غواړو دده دا فکر او باور ارزیابي کړو او روښانه کړو چې آیا یو معقول سړي به هم عین فکرکړی وای؟ که وروستی حالت ومنو، د ګیوتس تر حد زیات عکس العمل دده د ځان د دفاع ادعا ته اعتبار نه ورکوي.

د جزا د قانون ماډل یا نمونه د روحي حالت په هکله خپل عمومي اصول د تطبیق وړ بولي او د عامل ذهني عقیدې ته پاملرنه کوي. که ګیوتس پدې باور وو چې دده عمل د توجیه او تبرئې وړدی،

او ده په قصدي توګه ددې څلورو کسانو د غیر قانوني وژلو د پاره هڅه نه وي کړې، نو دی د قتل کولو د قصد مسوول نه بلل کېږي. که دده دا باور او عقیده نا معقوله وي، دی ښایي دسهل انګاري له کبله اویا هم حتې د بې پروایي له کبله د قتل مسوول وبلل شي، اما ده هغه اراده چې د قتل کولو قصد

دی او د ډیر جدي جرم د پاره لازم بلل کېږي نه درلوده. د ځان د دفاع پر ضرورت باور، حتې که دا باور نامعقول هم وي، ګیوتس د مجازات وړ نه بولي.

اما د نیویارک قانون بل ډول وو او غوښتنه یې کوله چې د ګیوتس باور او عقیده باید معقول وي. که دا معیار په بشپړه توګه ذهني subjective وای، نو بیا به ښایي ډیر بیریدونکي یا بد خویه عصباني کسان ډیر ژر د ځان د دفاع ادعا وکړي، اما یو عادی سړی به یې ونکړي. د همدې فکر له مخې، جنایي قانون خلکو ته اجازه نه ورکوي ډیر ژر عمل وکړي او هر څوک د عین معیار لاندې ساتي چې هماغه دمعقول سړي معیار دی. د همدې نظریې د تطبیق له مخې محکمې فیصله وکړه چې ګیوتس ته دې د قتل کولو د قصد په خاطر سزا ورکړل شي.

که مونږ غوښتنه وکړو چې د ځان د دفاع په وخت کې باید د یو معقول انسان په توګه عمل وکړو، نو معقول سړی کوم خصوصیات او مشخصات لري؟ په عادي توګه مونږ د یو عامل فیزیکي حالت ته ګورو او نه د هغه روحي حالت ته. یو ضعیف سړی به ښایي پدې باور ولري چې که یو زورور او قوي سړی پر ده حمله وکړي دی باید د مقابلې د پاره د وژونکي قوې څخه استفاده وکړي، اما یو بیریدونکی سړی نشي کولاي په هره حمله کې د ځان د دفاع ادعا وکړي.

د ګیوتس په قضیه کې د معقولیت مسایل ډیر مشخص او برجسته وه. آیا دا مهم دی چې ګیوتس مخکې وهل شوی وو؟ آیا دا مهمه ده چې ګیوتس سپن پوستی او هغه څلور ځوانان ټول تور پوستي وه، او د ښار ډیر سپین پوستي فکر کوي چې ټول تور پوستي ځوانان په بالقوه توګه حمله کوونکي او بدماشان دي؟ منصفه هیئت په څرګنده توګه همدا شان فکر کاوه، ځکه ګیوتس ته یې تقریبا" د ټولو تورونو څخه برائت ورکړ او یواځې یې په غیر قانوني توګه د وسلې د ساتلو مسوول وباله، چې ددې څخه انکارعملا" ناممکن وو. د منصفه هیئت په عقیده ښایي هغوعمومي فکټورونو د ګیوتس عقیده د پوهې وړ او حتي مشخصه کړه. اما آیا مشخص والی معقول دی؟ که ډیر خلک د جرم څخه بیرېږي، آیا جنایي قانون هم باید هغه ته غاړه کښېږدي او یا هڅه وکړي هغه ته شکل ورکړي؟ که دا یوه مشخصه ده چې هر سپین پوستی چې د مځکې لاندې ریل څخه استفاده کوي د تور پوستو ځوانانو څخه بیرېږي، نوآیا قانون باید ووایي چې دا معقول دی چې ددې بیرې پر اساس عمل وشي؟

په یوبل ورته وضعیت کې د یوې وهل شوي ښځې د ځان ددفاع ادعا مطرح ده. دا د ګلادي او ایرنست کیلي د خواشینې واده او وروسته له جنجاله ډک ژوند قضیه ده چې په ۱۹۸٤ کال کې د دولت او کیلې د قضیې په نامه یاده شویده. یوه ورځ وروسته له واده ارنست نشه شو او خپله ښځه یي پر مځکه راوغورځوله او وې وهله. په راتلونکو کلنو کې، هرکله چې ایرنست به نشه شوبیا به د ګلادي وهل او ټکول وه او کله به یې ګلادي ته دا ګواښ هم وکړ چې " که هڅه وکړې ما پرېږدي بیا دې وژنم او د بدن هر غړی به دې جلا جلا پرې کړم ". یو ماپښین ګلادي د خپلې لور انیټا سره یو ځای د خپل میړه لیدو ته چې د یو ملګري په کور کې وو، ولاړه او د خوراکي موادو د پیرودلو د پاره یې پیسې ورځخه وغوښتې. ایرنست په ځواب کې ورته وویل، صبر وکړه چې کور ته ولاړ شو. کله چې دوی د ملکري د کور څخه

ووتل، ایرنست چې نشه وو، د ګلادي څخه پوښتنه وکړه چې د څه د پاره د ملګري کورته راغله؟ او بیا یې ددې کالو ته ورحمله کړه. دواړه پر ځمکه ولویدل او بیا انرست دا تر ستوني ونیوله او خفه یې کړه، په مخ یې ووهله، او پښه یې ورته په غاښ کړه.

پداسې حالت کې چې ګلادي فکرکاوه چې مړه کېږي، د سړک پر سر څو تماشا کوونکو هڅه وکړه دوی سره جلا کړي. لدې بیرې چې ددې کوچنی لور انیټا ښایي د خلکو په منځ کې ورکه شي، ګلادي منډې کړې چې خپله لور ومومي، خو خپل میړه ایرنست یې ولید چې ددې پر لور منډې وهي او غواړي بیا سخته حمله پرې وکړي. دې فکر وکړ چې ښایي ایرنست کومه وسله ترلاسه کړې وي او وبیریده چې ښایي ووژل شي. دې هم د خپل دستکول څخه یوه کوچنی غچي (قیچي) را واخیستله او غوښتل یې ایرنست په وبیروي، خو پر ځای یې په همدغه غچي وواهه او هغه ووژل شو. دا د ګلادي څرګندونې وي چې دې د خپل نظره د پیښو په هکله وکړي. خارنوال بیا د پیښو جریان بل ډول څرګند کړ. د خارنوال د څرګندونو له مخې جګړه اصلا" ګلادي پیل کړه. کله چې تماشا کوونکو دوی سره جلا کړل، دې وویل چې غواړي ایرنست ووژني او ورپسې منډې یې کړې او د خپل د ګواښ د ثبوتولو دپاره یې په قیچي وواهه.

د خپلو څرګندونو د ملاتړ او ددې د پاره چې د څارنوال دلیل رد کړي، ګلادي وغوښتل یوروانشناس د محاکمې غونډې ته راوبولي چې د وهل شوو ښځو د علایمو او مشخصاتو یا د battered woman syndrome په هکله شهادت ورکړي. روانشناسان د مړونو سره د ښځو د خرابو اړیکو یو تصویر منځ ته راوړی چې په هغه کې فیزیکي او احساساتي زورزیاتي ډیرېږي او وروسته له زور او خشونت څخه تیری کوونکي پښېماني څرګندوي او د یوې مدې د پاره آرام وي. هغه ښځې چې تیري پرې کېږي ځان ته لږ احترام لري او پر دې باور پیدا کوي چې مړونه یې کولای شي پر دوی تیری وکړي او حتې دوی ووژني، لهذا ددوی په فکر مقاوت کول یا تښته کومه ګټه نلري. د ګلادي په شان قضیو کې مسله پدې کې ده چې د متخصصینو او کارپوهانو شهادت د وهل شوو ښځو د علایمو په هکله د ځان د دفاع د ادعا دپاره څومره اهمیت لري.

د ځان د دفاع آزمایښت دادی چې مدعي علیه باور لري چې د یوې حملې په مقابل کې د دفاعي زور څخه استفاده ضروري ده اوپه ډیرو قضایي حوزو کې، د مدعي علیه دا عقیده معقوله ده. د روانشناس شهادت د وهلو شوو ښځو د علایمو په هکله به په لمړي ګام کې د ګلادي څرګندونې پر خپل میړه باندې د حملې په وخت کې ددې د روحي حالت په اړه تقویه کړي آیا ګلادي په هغه وخت کې چې دې هغه په چاړه وواهه، حقیقتا" باور درلود چې ایرنست دا وژني؟ د دوی د واده د تیریو ډک تاریخ او هغه احساسات او پوهه چې داسې حالات یې احتمالا" د ګلادي په شان ښځو کې منځ ته راوړي، ددې داستان ته نور هم اعتبار ورکوي. دا همدا شان نورو پوښتنو ته چې ښایي د منصفه هیئت غړي خوشحاله نکړي، ځواب وایي : که پر ګلادي، لکه دا چې وایي، تیری کیدی، ولي دا د ایرنست څخه جلا نشوه؟ منصفه هیئت به ښایي تعجب وکړي که ددې د څرګندونو کومه برخه حقیقت ولري، اما د روانشناس شهادت د علایمو په هکله دې شک ته ځواب وایي او تشریح کوي چې ولي یوه ښځه چې تر تیریو لاندې وي ځان

ډیره بي زوره احساسوي او دا قوت په ځان کې نه ويني چې د میړه سره خپلې اړیکې وشلوي. نن په اکثره قضایي حوزو کې د وهل شوو ښځو د علایمو په هکله د کارپوهانو شهادت ته اجازه ورکول کېږي تر څو لږ تر لږه پدې توګه د مدعي علیه د عقیدې او باور اعتبار روښانه شي.

ددې شهادت څخه د استفادې دوهم مورد د ځان څخه د دفاع پر ضرورت د باور درلودلو معقولیت دی چې ډیر د بحث وړ موضوع ده. دلته د کوم معیار څخه استفاده کېږي، د معقول سړي د معیار یا د وهل شوي معقولې ښځې د معیار څخه؟ محکمې نه غواړي پدې ساحه کې ډیر وړاندې ګام کښېږدي ترڅو د ځان د دفاع د پاره معیار ډیر ځانګړی او فردي شي ; مونږ ښایي د مدعي علیه فیزیکي ضعف ته پاملرنه وکړو اما د هغه احساساتي بیرو او حجب ته پاملرنه و نه کړو. آیا مونږ ډیر لیرې ځو که یو د تیریو څخه د ډک واده ټول تاریخ اوهغه روحي او رواني صدمې چې د هغه په نتیجه کې منځ ته راغلي دي په نظر کې ونیسو؟ پدې کې یو خطر پروت دی، ځکه د تیریو دلایل ښایي د منصفه هیئت پام بلې مسلې ته واړوي. یعنې چې فکر وشي میړه بد سړی وو او ددغه مستحق وو چې ورسره وشول، نه داچه آیا مدعي علیه په خپل دې باور کې چې د ځان دفاع ضروري ده معقول وو او که نه. اما که وغواړو چې معقول سړی د مدعي علیه پر ځاي ودرو او پدې توګه منصفه هیئت پرېږدو چې ددې د سلوک غلط والی ارزیابي کړي، آیا مورږ مجبور نه یو چې بیا د تیریو ټول تاریخ په نظر کې ونیسو؟

د ځان څخه دفاع باید هغه وخت وشي چې یو څوک د یوې آني حملي یا ګواښ سره مخامخ وي. د څو وهلو شوو ښځو قضیو داپوښتنه رامنځ ته کړیده چې دا غوښتنه هم باید تخفیف ومومي. د مثال په توګه، پر جوډي نورمن چې د جان نورمن سره یې واده او پنځه ویشت کاله ژوند کړیدی، تل سخت تیري شوي دي. میړه دا تل په مخ په چپلاخه، په سوک او په لغتو وهلې ده، دایې په خپل سګرټ سوځولي یا یې سره قهوه پرې توی کړیده او یا یې هم د بیر په بوتلونو ویشتلې ده. جان پخپله کار نه کاوه، خو جوډي یې فحشا ته مجبوره کوله، او که به دې مقاومت وکړ، بیا به یې وهله. میړه همدا شان دا د کورنۍ د غړو او دوستانو په مخ کې تحقیر او سپکوله. میړه به دا مجبوروله چې په دهلیز کې د یوې کاسې څخه د سپي خواړه وخوري او په هماغه دهلیز کې بیده شي. دا تیري به هغه وخت کیدل چې جان به نشه وو. خو کله چې نشه به یې والوته بیا به یې پښیماني کوله، تاسف به یې کاوه او حتي مشورې به یې غوښتې.

یوه ورځ جان جوډي بده ووهله اودې پولیس راوغوښت. کله چې پولیسان راغلل، دا نشوه حاضره د خپل میړه څخه رسما" شکایت وکړي، ځکه بیریده چې میړه به دا ووژني. یو ساعت وروسته دې د ځان وژنې قصد وکړ. کله چې امبولانس راورسید، جان په امبولانس کې راغلو کسانو ته وویل، دا پرېږدی مړه شي، خو پولیس په زوره دی لیرې کړ. کله چې په بله ورځ جوډي د روغتون څخه رخصت شوه، دا د روحي روغتیا یو مرکز ته ولاړه او هلته یې د جان څخه د خپلو شکایتونو د رسمي کیدو په هکله خبرې وکړې. کله چې دا د جان سره مخامخ شوه جان ورته وویل، دی به وګوري چې هغوی څنګه راځي او مخکې لدې چې هغوی ده ته نژدې شي، دی به ددې غاړه غوڅه کړي. هغه شپه کله چې دوی غوښتل بیده شي، جان دې ته دسپي خطاب وکړ اودایې مجبوره کړه په دهلیز کې بیده شي. کله چې جان بیده

شو، جوډي د خپل مور کورته ولاړه او د يوې تفنګچې سره بيرته خپل کور ته راغله ګاو جان يې چې بيده وو دري ځايه په سر کې وويشت او مړ يې کړ. کله چې ددې څخه پوښتنه وشوه ولي يې خپل ميړه مړ کړ، دې په ځواب کې وويل :

ځکه چې زه دده څخه بيريدم او زه پوهيدم کله چې دی ويښ شي، بيا به هغه حال وي، هغه شپه چې ده زه د لاريو تم ځاي ته بوتلم زه ډيره وبيريدم چې دی به تر پخوا نور هم بد شي. مايي نور تحمل نه شواي کولای. بله هيڅ لاره نه وه، که څه هم دا محبس ته د تګ معنې لري. نوبيا هم تر دې ژوند ښه وي. دده سره ژوند ترهر دوږخ بدتره وو.

کله چې ددې څخه پوښتنه وشوه چې آيا دې د خپل ميړه پر دې ګواښ چې دا به ووژني ، باور درلود؟ دې وويل، هو. ما باور درلود. ده دا کار کاوه، که ده ددې چانس موندلې وای، زه يې وژلم. که پوهيدلې وای چې نه بندي کېږي، دا کار يې کاوه.

د جوډي نورمن د ځان د دفاع ادعا په هيڅ عادي چوکاټ کې نه ځايېږي. هغه وخت چې دې خپل ميړه وواژه، دا د کوم فوري خطر سره نه وه مخامخ، ځکه ددې ميړه بيده وو. دې کولای شواي د کور څخه ووځي او د يو دوست کورته ولاړه شي، يا پوليس ته ولاړه شي او يا هم يوه بله سرپناه ولټوي. آيا دا کولای شي د خپل سلوک د توضيح او تبرئې د پاره د وهل شوو ښځو د علايمو څخه استفاده وکړي؟

د آني زيان په وخت د ځان د دفاع د تبرئې د پاره معموله غوښتنه هم تيرې کوونکې او هم قرباني دواړه ساتي. يعني قانون قرباني تشويقوي چې که و کولاي شي وتښتي چې نه دی او نه هم تيرې کوونکې په غير لازمه توګه ووژل شي. که قرباني وشي کولاي وتښتي، بايد دا کار وکړي. دا په اخلاقي لحاظ يواځي هغه وخت بيګناه ده چې ونشي کولای وتښتي او د ځان څخه د دفاع په ضروري او آني پيښه کې تيرې کوونکې ووژني. اما د وهل شوو ښځو د علايمو ثبوت ددې سلوک د پاره هم يو نوی توضيح وړاندې کوي. که څه هم چې داسې ښکاري چې مدعي عليه کولاي شي فرار وکړي، اما د هغه ضعف او بيچاره ګې له کبله چې دا په خپلو شرايطو کې ورسره مخامخ ده، دا په روحي لحاظ ددې توان نلري چې وتښتي. که ددې څخه غوښتنه وشي چې انتظار وباسي تر څو ددې ميړه مخکې لدې چې دا دځان دفاع وکړي ددې د وژلو هڅه وکړي، دا به ددې د ميړه د غټ والي، زور او رواني حاکميت له کبله بيا ډير ناوخته وي. لهذا، ددې يواځنې چانس دادی چې مخکې لدې چې هغه عمل وکړي، يا دا ځان پخپله ووژني، يا دوژل کيدو د پاره انتظار وباسي، بايد هغه ووژني.

اما څو محکمو چې دداسې مسلو سره مخامخ شوي دي دا ډول استدلال رد کړيدی. د مثال په توګه په کال ۱۹۸۹ کې د دولت او نورمن په قضيه کې، د شمالي کارولينا د ايالت سترې محکمې د ځان ددفاع ادعا ته د اجازه ورکولو د عواقبو او نتايجو څخه انديښنه څرګنده کړه. د وهلو شوو ښځو په هره قضيه کې د ذهني بيرو په هکله د هر مدعي عليه شهادت چې وايي ميړه به ئې دا ووژني ، په عامه توګه ددې روحي علايمو په هکله د کارپوهانو د شهادت سره يو ځاي کولاي شي مدعي عليه تبرئه کړي. د دې

محکمې په خوله : " د قتل په مقابل کې د ځان دفاع به يوه قانوني د حل لاره شي او ښايي ددې پرابلم د پاره به آسان ترينه او تر ټولو اغيزمنه د حل لار وي"

په کومو نورو حالاتو کې د يو چا جرم تبرئه کيدلاي شي

دوه نور حالتونه هم شته چې په هغه کې ښايي د يو چا جرم تبرئه شي. يو يې ډير عام دی. که پوليس يو د بانک غل ونيسي او وې ټړي آيا ده پريو چا حمله کړيده؟ البته چې نه. د حکومت د واک څخه استفاده دا کار چې په بل حالت کې يو جرم دی، قانوني کوي. فرض کړئ، د پوليس مامور ونشي کولاي غله ته ځان ورسوي او پر ځاي يې په لوړ آواز ووايي ، " دا سړی ودروئ. " که يو بل عادي سړی دا غل ودروي او وې نيسي، آيا هغه حمله کړيده؟ بيا هم نه. د پوليس د مامورينو سره مرسته بايد تشويق شی او په هيڅ توګه غلط عمل ندی. نو دا سړی دفاع هم لري. دا به څنګه وي که يو عادي سړی پداسې حال کې چې پوليس هم نشته په خپل سر عمل وکړي؟ دلته دا عادي خصوصي فرد د ډير خطر سره مخامخ دی. په ځينو قضايي حوزو کې به حتي يو معقول فکر هم دی ونشي ساتلای، که مقابل لوری چې حمله پرې شويده په حقيقت کې کوم جرم نه وي کړی. دا به څنګه وي که تښتيدونکی سړی د بانک غل نه وي بلکه د بانک يو مشتري وي چې د بانک څخه يې راويستلي پيسې په يوه لويه خلته کې اچولي دي او د غلو له بيرې غواړي په منډه ځان هدف ته ورسوي.؟ د پوليس مامور به د خپلې معقولې عقيدې له مخې چې دده لخوا نيول شوي سړی يو غل دی ، تبرئه شي، اما په ځينو قضايي حوزو کې يو خصوصي فرد ښايي تبرئه نه شي. او بالاخره، آيا د پوليس مامور کولاي شي پر تښتيدونکي غله د تفنګچې فير وکړي؟ غله ظاهرا" په يو جدي جنايت لاس پوري کړی، اما آيا دا د وژونکي وسلې څخه استفاده تبرئه کوي؟ په عنعنوي توګه دپوليس لخوا د هر تښتيدونکي شرير او جنايت کاره پر ضد د وژونکي وسلې څخه استفاده د تبرئې وړ ده، اما په وروستيو کې ددې عمل دفاع ګرانه شويده. که مجرم د پوليس پر ضد د وژونکي وسلي څخه استفاده وکړي، پوليس هم کولاي شي هغه ته ورته ځواب ورکړي. اما که مجرم فرار کوي، د پوليس مامور يواځې په هغه صورت کې د وژونکي وسلې څخه استفاده کولای شي چې په معقوله توګه دا عقيده ولري چې مجرم د نورو خلکو ژوند تهديدوي يا خلګ ژوبلوي او نيول يې حتمي دی. لهذا، د پوليس مامور کولاي شي د بانک يو وسله وال غل وولي، اما نه يو عادي غل چې په يو چم يې د بانک مامور د پيسو ورکولو ته مجبوره کړيدی.

د تبرئې په اړه دوهم حالت ډير لږ پيښېږي، اما د جنايي قانون څخه زمونږ پوهه مونږ يو بل حد ته رسوي. د ځان دفاع او د قانون د اجرا د صلاحيت څخه استفاده کول دواړه د تبرئې وړ دي، ځکه عامل د دوو بدو او ناوړو څخه يويې چې تر بل لږ بد دی انتخابوي. دا ښه ندی يو څوک چې پر تاسو حمله کوي ووژل شي، اما تردې چې تاسې ووژل شی بهتر دی. آيا د بدو تر منځ د انتخاب د پاره کوم عام اصول شته

چې د سلوک نور ډولونه تبرئه کړي. دا مسله د جنايي قانون په يوه مشهوره قضيه کې مطرح شويده. چې د ريګينا او د دودلي او ستيفنز تر منځ قضيه وه.

د ۱۸۸٤ کال د جولاي په مياشت کې دودلي، ستيفنز، بروکس او پارکر د يو انګليسي کوچنۍ تفريحي کښتۍ سپرلي وه چې د بحري طوفان سره مخامخ شول او مجبوره شول ځانونه يوې بلې کوچنۍ سر خلاصې کښتۍ ته واچوي چې غير له دوه پاونډه شلغم څخه نه اوبه په کې وه او نه هم خواړه. دودلي، ستيفنز او بروکس ملوانان وه، پارکرچه هلک وو د تفريحي کښتۍ نفرخدمت وو. په لمړيو درې ورځو کې دوی يواځې شلغم وخوړل په څلورمه ورځ دوی يو کوچنۍ کيشپ ونيو. د باران د اوبو پرته دوی اوبه هم نه درلودې او د باران اوبه يې په خپلو کوټونو کې ټولولې. په اتلسمه ورځ پداسې حال کې چې دوی اوه ورځې کوم شی نه وو خوړلی او د پنځو ورځو راهيسې يې اوبه هم نه وه چښلي، دودلي او ستيفنز بروکس ته وړاندیز وکړ چې ددوی د نجات د پاره دې يو د دوی څخه، چې مقصد يې پارکر وو، بايد قرباني شي. بروکس موافقه و نه کړه، اما په بله ورځ، دودلي او ستيفنز، لمړی د بخښنې د پاره يوه دعا وکړه، او بيايې پارکر ته وويل چې ستا وخت پوره شوی او پارکر يې حلال کړ. دا درې ملوانان د پارکر د وينو او بدن د اعضاو د خوړلو له لارې څلور ورځې نور ژوندي پاته شول، او وروسته د يوې تيريدونکي کښتۍ لخوا دوی ته نجات ورکړل شوګ

کله چې دوی بندر ته ستانه شول، دودلي او ستيفنز د پارکر د قتل په اتهام محاکمه شول. که دوی پارکر نه وای وژلی او خوړلی، دوی ښايي مخکې لدې چې نجات وموميږه شوي وای، او پاکر چې د دوی تر ټولو ضعيف وو، ښايي په هر حال تر ټولو دمخه مړ شوی وای. ددغسې ضرورت په حالت کې آيا د دودلي او ستيفنز لخوا د پارکر وژل د تبرئې وړ وو؟

محکمې فيصله وکړه چې دا عمل د تبرئې وړ ندی. لمړی، د ژوند ساتنه يو لوړ ارزښت دی، اما ډيرعالي ارزښت ندي :

" په عمومي توګه د يو چا د ژوند ساتنه يو فرض او مکلفيت دی، اما تر ټولو ساده او ډير عالي مکلفيت ښايي دا وي چې ژوند قرباني شي. په جنګ کې ډير داسې حالات شته چې د يو سړي مکلفيت مړ کيدل او نه ژوندی پاته کيدل دی. وظيفه او مسوولیت د کښتۍ په مسله کې، د کښتۍ د

د کيپټان د کښتۍ د کارکوونکو په مقابل کې، د کارکوونکو د کښتۍ د سپرليو په مقابل، ټول دا مکلفيتونه پر نارينه وو يواخلاقي نياز او فشار تحميلوي. دا د ساتلونياز ندی، بلکه د نورو دپاره د خپل ژوند د قرباني کولو مکلفيت دی، چې د هغه څخه به د هيڅ هيواد نارينه، او هيله ده، په خاصه توګه د انګلستان نارينه ځان ونه ژغوري. "

او دوهم، د احتياج او ضرورت د پاره د يو اصل ټاکل به د سيلاب دروازې پرانيځي :

"دې ته اړتيا نشته چې ددې اصل په منځ ته راوړلو کې چې هلي ځلي ورته کېږي د هغه خرابو عواقبواو خطرونو ته اشاره وکړو. څوک به ددې يو ضرورت قاضي وي؟ د کوم مقياس له مخې د ژوند مقايسوي ارزښت اندازه کيدلای شي؟ د زور، هوشياری يا کوم بل شي د مخې؟ دا ساده ده چې اصول يې ده ته ورپرېږدي چې د ضرورت د ټاکلو له لارې څوک ګټه کوي او هغه به د خپل ژوند د نجات د پاره په قصدي توګه د بل چا د ژوند اخيستل تبرئه کړي. "

آيا دا د دودلي او ستيفنزځخه د ډير انتظار درلودلو معنې لري؟ محکمې فکر وکړ، چې دا انتظار لري : " مونږ تل مجبوره کېږو داسې معيارونه وټاکو چې نشو کولای هغه ته ورسېږو، او داسې مقررات وضع کوو چې مونږ پخپله هغه نشو توجيه کولای "

لهذا، که څه هم هيڅ عادي سړی به پداسې يو حالت کې ددې يوې وسوسې او د نفس د آزمايښت په وړاندې مقاومت ونشي کولای او ښايي هغسې وکړي لکه مدعي عليه چې وکړ، قانون د دوی څخه غواړي په هر حال مقاومت وکړي.

په ځينو معاصرو قضايي حوزو کې د دودلي او ستفنز مقرره له منځه تللې او هغوي د بدو او ناوړو د انتخاب دفاع ته اجازه ورکوي چې په هغه کې " هغه زيان يا بد چې د هغه څخه مخنيوی کېږي، نسبت هغه ته چې قانون منع کړي او هغه جرم بولي ډير لوي او ناوړه وي ګ" (جزايي قانون ماډل)،

يا په هغه ځای کې چې " د فوري عامه يا خصوصي زيان د مخنيوي د پاره اقدام ضروري وي او د هغه شدت او درونداوالي دومره وي چې د ذکاوت او اخلاق د عادي معيارونو له مخې، ددې زيان د مخنيوي هيله او فوريت تر هغه مطلوب چې قانون د يوې پيښې مخنيوی کوي او هغه تعريفوي، ډيراوچت وي ګ" (د نيويارک قانون)

دا معيارونه د تصميم نيولو لوړ مقام په محکمه کې د اقدام کولو ضرورت او د بدو او ناوړو اعمالو نسبي وزن ته متوجه کوي او نه د عمل کوونکي ته. حتي که دودلي او ستيفنز پدې عقيده وي چې دا درست او لازم کار وو چې پارکر وخوري، محکمه ښايي ددوی دا دفاع رد کړي که د مثال په توګه پدې وپوهېږي چې د نجات چانس په هغه وخت کې ډير وو يا داچه دوی د ملوانانو په توګه يو لوړ مکلفيت درلود.

د ناوړو او بدو د دفاع انتخاب همدا شان په نورو قضيو کې هم منځ ته راځي. د مثال په توګه د جان چالز ګرين قضيې ته پاملرنه وکړئ. دی د ميسيوري په ايالت کې بندي وو او بيره يې درلوده چې پر ده باندې به د هم جنس بازی جنسي تجاوز وشي.. پر ده مخکې هم همدا شان حمله شوې وه او بيا ده په تقلبي توګه د ځان وژنې هڅه وکړه تر څو د محبس روغتون ته يوړل شي. ګرين همدا شان ددې حملو او دداسې حملو څخه د خپلې بيرې په هکله د محبس مقاماتو ته هم خبرورکړی وو، هغوی په ځواب کې ورته ويلي وه يا مقابله وکړه او يا هم دې حملو ته تسليم شه، او يا هم د محبس څخه فرار وکړه. د ۱۹٦۷

کال د اپریل دمیاشټې پر څورلسمه د بندیانو یوې ډلې د غرمې د ډوډۍ په وخت کې ده ته وویل چې دوی به نن شپه دده حجرې ته راشي او دی باید تسلیم شي که نه وژني یې. د هماغه ورځې د ماښام پر شپږو بجو دی د محبس څخه وتښتیدګ. کله چې دی د محبس څخه د تښتې په اتهام محاکمه شو، ده د دفاع د پاره خپله تښته یو ضرورت وباله (دولت او ګرین ۱۹۷۱). اکثریت دا دفاع رد کړه، ځکه ده د فوري زیان څخه مخنیوی نه وو کړی او ده کولای شواي مخکې د محبس مقاماتو ته ددې ګواښ په هکله خبر ورکړي. ددې نظر مخالف قاضي د دې ډول انتخاب غیر واقعي توب ته ګوته ونیوله. او وې ویل، که پر ده حمله شوې وای، ده نه فرار او نه یې هم د هغو سره مقابله کولای شوای. او که ده ددې ګواښ په هکله چارواکو ته خبرورکړی وای، دی ډلې به دی یو مخبر بللی او غچ به یې ورڅخه اخیستی وای.

یا د اعتراض کولو قضیو ته پاملرنه وکړئ. د سقط جنین پر ضد د مظاهره کوونکو یوه ډله په زوره د ښځو یو روغتیایي مرکزته ننوتل، ماشینونه یې خراب کړل او د ژوند څخه د ملاتړ شعارونه یې پر دیوالو ومښلول. دجګړې ضد مظاهره کوونکي د جنرل الکتریک شرکت یوې فابریکي ته ننوتل، د توغندیو اجزاوې یې وران کړل او د فابریکې پر صحن یې د انسان وینې تویې کړې. آیا یو ددې ډلو څخه به وشي کولای خپل دا تیرې او تخطي او د ملکیتونو ورانول په لمړي پیښه کې ددې شعار له مخې چې د نازېږیدل شوي ژوند ساتنه ضروري ده او په دوهمه پیښه کې د هستوي جګړې مخنیوی لازمي دی توجیه او تبرئه کړي؟ که څه هم په دواړو قضیو کې دا عمل ضروري بلل شویدی، خو پر مسله په دواړو قضیو کې د قانون جوړونکو یا پارلمان لخوا مخکې له مخکې فیصله شویده او هغه داچه هم سقط جنین کول قانوني عمل دی او هم د هستوي وسلو جوړول. دا ډول قضیې د جنایي مسوولیت او د جنایي قانون د هدف په هکله یو لړ ډیر مهم مسایل را منځ ته کوي. په بعضې قضیو کې قانون ښایي مخنیوی وکړي یعني غیر له هغو لږو متعهدو اعتراض کوونکو څخه چې ډیر د سقط جنین یا هستوي جنګ پر ضد دي نوریې د قانوني عمل څخه وبیروي یا یې مایوسه کړي. اما آیا دا په جدي حالاتو کې واقع بینانه دی؟ آیا دودلي او ستیفنز به د جنایي مجازات له بیرې خپل ژوند قرباني کړي او د پارکر د خوړولو څخه به صرف نظر وکړي، یا ځکه چې یوې محکمې دا کار بد ګڼلی دی؟ ښایي نه. داسې ښکاري چې قانون هم خپل حدود پیژني. دودلي او ستیفنز دواړه د مرګ په سزا محکوم شول، اما دا سزا وروسته په شپږ میاشتې بند تبدیل شو.

د جنایي قانون یوه مهمه وظیفه داده چې وښیي کوم عمل درست او کوم غلط دی او د خلکواخلاقي بافت او جوړښت پیاوړی کړي او دغه قضیې به ترهر بل څه ددغه هدف سره مرسته وکړي.

ولي مجرمینو ته اجازه ورکول کېږي د لیونتوب څخه د دفاع په توګه استفاده وکړي؟

د ډیرو پیړیو راهیسې جنون یا لیونتوب او ناداني د جنایي قانون یوه برخه جوړوي، او کلاسیکې فرضیې داسې ښکاري چې معقولې دي. یو سړی د یو باطل خیال تر اغیز لاندې عمل کوي او خپله میرمنه خفه

کوي، خو ټول وخت فکر کوي چې يو ليمو کښيکاږي. څنګه کيدای شي چې يو څوک چې حتې د خپل عمل په فيزيکي طبعت نه پوهېږي د جنايي نظره ددې عمل مسوول وبلل شي ګ؟

اما په وروستيو کلنو کې د جنون او ليونتوب دفاع، د ډير بحث او جدل موضوع ګرځيدلې ده، ځکه د ليونتوب د دفاع څخه په يو لړ مهمو او مشهورو قضيوکې چې اکثره يې ډيرې عجيبې ښکاري، پراخه استفاده وشوه. جان هينکلي John W. Hinckley Jr. چې د سوء قصد په يوه حمله کې يې د امريکا جمهور ريس رونالډ ريګن او درې نور کسان وويشتل او ټپيان يې کړل، د ليونتوب په دليل بيګناه و بلل شو. جان دو پونت John Du Pont يو متغيرالحاله لوی ميليونر وو چې فکر يې کاوه دی دالای لاما، حضرت عيسي (ع) او يا د رومانوف د کورنۍ (روسي باچاهان) وروستی غړی دی، ديو شولتس Dave Schulz وويشت. ديو شولس د المپيا غېږ ايستونکی او د دو پونت د غېږ ايستولو د شخصي ټيم غړی وو. دوپونت مسوول وګڼل شوخو ورته د عقلي ناروغ خطاب وشوګ

د جنايي عدالت سيستم بايد دداسې خلکو سره چې د عقلي ناروغيو تر اغيز لاندې په ډيرو بيروونکو جناياتو لاس پوري کوي، څه وکړي؟

د مدعي عليه رواني يا عقلي حالت د ډيرو هدفونو د پاره ډير مهم دی. لمړی، يو عقلي يا رواني ناروغ چې ځان او نورو ته جدي خطرپيښوي، بايد په غير اختياري توګه د يو غير جنايي پروسس له لارې چې دمدني ژمنې يا civil commitment په نامه يادېږي د عقلي ناروغيو مرکز ته ولېږدول شي. تر اوسه يو څوک چې د مدني ژمنې له لارې تر کنټرول لاندي وي د جنايي عمل په کولو ندی متهم شوی. (په حقيقت کې، عقلي ناروغي ښايي د غير جنايي سلوک باعث وګرځي) او تر هغه وخته ساتل کېږي چې دده عقلي ناروغي نورو ته خطر پيښوي.

دوهم، يو جنايي مدعي عليه چې د محاکمې په وخت کې عقلا" ناورغه وی ښايي ددې وړ ونه بلل شي چې په محاکمه کې حاضر وي (يعني صلاحيت ونلري incompetent). دلته عقلي ناروغي پخپله د جرم سره اړيکه نلري. په عوض کې يې دا پوښتنه منځ ته راځي چې آيا مدعي عليه کولای شي پر ده باندې د وارد شوي اتهام په معني وپوهېږي او کولای شي په خپله دفاع کې برخه واخلي. مدعي عليه به د محاکمې په وخت کې په اساسي قانون کې د راغلي منصفانه دعوې د حق څخه محروم شي که دی و نه پوهېږي چې څه پيښېږي او يا ونشي کولای د خپل وکيل سره د دفاع په وړاندې کولو کې مرسته وکړي. کله چې يو څوک بي صلاحيته او په محاکمه کې د ګډون کولو څخه معذور وبلل شي، دولت بايد و ټاکي چې آيا احتمالا" دی بيرته ددې صلاحيت خاوند کيدلای شي، يا يې د علاج د پاره امکانات برابر کړي او يا يې هم مدني ژمنې ته د سپارلو د پاره زمينه برابره کړي.

دريم، د دعوې په بل سر کې، يو مدعي عليه چې د قتل په جرم محکوم شوی وي که دعقلي صلاحيت خاوند نه وي ښايي اعدام نشي. محکمو تل دداسې يو چا د اعدامولو څخه ډډه کړيده چې نه پوهېږي چې د جرم له کبله په اعدام محکوم شويدی، او سترې محکمې بيا فيصله کړيده چې دا به اتمه ضميمه نقض کړي. اتمه ضميمه پر يو ليوني باندې د سختو او غير عادي سزاګانو تطبيق منع کوي. ددې موقف

د پاره بیلا بیل دلایل وړاندې شوي دي ، خو غالبا" ټول پدې عقیده دي چې دا غیر منصفانه اوغیر بشري دی چې پر داسې یو چا د مرګ سزا تطبیق شي چې نه پوهېږي ولي وژل کېږي. اما دا بشري غریزه په عین زمان کې د قاعدې خلاف حالت منځ ته راوړي. عقلي ناروغ چې د مرګ پر دندانه ولاړ دی، تر علاج لاندې نیول کېږي تر څو دده عقلي سلامت او صلاحیت بیرته اعاده شي او کله چې دا کار وشو، بیا وژل کېږي.

د لیونتوب د فاع د مدني ژمنې سره توپیر لري، یعنې چې مدعي علیه په محاکمه کې د حاضریدو صلاحیت نلري او نه باید اعدام شي. لیونتوب په جنایي قانون کې یو معذرت دی. یو څوک په قصدي توګه د جنایي قانون خلاف یو عمل کوي، مثلا" هڅه کوي جمهور ریس ووژني. ده د جنایت ټول عناصر پوره کړیدي، یعني د جمهور ریس پر لور یې په ټوپک فیر کړیدی، پوهیده چې دا کار کوي، او پوهیده چې دده ددې عمل په نتیجه کې ښایي جمهور ریس ووژل شي. اما بیا هم دده د دفاع وکیل استدلال کوي چې دی نه باید ددې جنایي عمل مسوول وبلل شي، ځکه دی د جرم د کولو په وخت کې عقلي ناروغ وو. او که دا دلایل په بریالیتوب سره وړاندې شي، لکه د جان هینکلي په قضیه کې چې وشو، دی به په جنایت نشي محکوم او سزا هم نه ورکول کېږي، که څه هم ښایي دی د رواني ارزیابۍ د پاره د رواني ناروغیو مرکز ته ولېږل شي او هغه وخت به د هغه ځای څخه ووځي چې که تصدیق شي چې دی نور چاته خطر نه پیښوي. یو بهیر چې ښایي مدعي علیه د ډیرو کلنو د پاره په رواني مرکز کې وساتي.

ولي جنایت کاران پریښودل کېږي چې دعقلي ناروغی له کبله د مسوولیت څخه خلاص شي؟ د جنایي قانون د اهدافو او د جنایي مجازات په هکله فکر وکړی. د جنایي قانوني یو لوی هدف تلافي،

اخلاقي محکومیت او هغو کسانو ته سزا ورکول دی چې د جدي او ناروا اعمالو د کولو مسوول دي. د جنون یا لیونتوب دفاع د هغو خلکو تر منځ چې د خپلو اعمالو مسوول دي او دهغوچه مسوول ندي توپیر کوي. په یو مشهور عبارت کې ویل کېږي چې د لیونتوب دفاع لیونۍ د بد او ناروغ د شریر څخه جلا کوي. یو رواني ناروغ یو عمل کوي چې په عادي حالت کې یو جرم دی، خو څرنګه چې دی رواني ناروغ دی، دده عمل هغسې چې جنایي قانون یې معمولا" ټاکي، د محکومیت او سزا وړ ندی. دا فاعل ښایي علاج ته اړتیا ولري او که د علاج امکانات نه وي میسر حتې ښایي په بند کې ونیول شي، اما د یو ناروغ په توګه نه د یو جنایت کار په توګه.

د جنایي قانون هدف همداشان د جنایت مخنیوی او د مجرمینو بې توانه کول دی. یو عقلا" ناروغه سړی چې د لیونتوب قانوني تعریف وربانديصدق کوي د خپل د عمل د نتایجو او عواقبو کومه محاسبه چې کیداي شي مخنیوی یې وشي نه کوي ګ، لهذا د جنایي بندیزونو ګواښ کومه ګټه نلري. او څرنګه چې د لیونتوب له کبله د بیګناهۍ د حکم نتیجه داده چې متهم تر هغه وخته پوري چې دی نورو ته خطرناکه ګڼل کېږي باید تر علاج لاندې ونیول شي، متهم هر ډول واک او توان له لاسه ورکوي او تر هغه حده چې لازم دی، نه پریښودل کېږي چې په بل جنایت لاس پوري کړي.

که څه هم په محاکمه کې د متهم د لیونتوب د تثبیتولو د پاره طبي شهادت لازم بلل کېږي، لیونتوب یو قانوني مفهوم دی، نه طبي. د لیونتوب مسله داده چې د جنایي قانون د اهدافو او اصولو په مطابق آیا مدعي علیه پداسې یو عقلي حالت کې وو چې مونږ د هغه په اساس دی دده د اعمالو مسوول وبولوګ د لیونتوب د دفاع په اکثرو قضیو کې، مدعي علیه یو فکري حالت لري چې په جرم کې تعریف شویدی، اما فکري حالت یې دومره ناروښانه او مکدروي چې موږ دا غیر عاقلانه بولوچه هغه جنایي مسوول وبولو. د وخت په تیریدو او مخصوصا" د هینکلي تر حکم وروسته هغه تعریف چې د قانوني لیونتوب د ټاکلو د پاره ورځخه استفاده کیده، تغیر کړیدي. اساسي پوښتنه داده چې آیا موږ کولاي شو د لیونتوب د پاره یو آزمایښت افاده کړو چې هغه دغو اهدافو او اصولو ته ځواب ووایي او د عقلي ناروغی په هکله زمونږ د فکر او تصوراتو سره مطابق وي او پر سلوک باندې ددې ناروغی اغیز څرګندې کړي.

د لیونتوب لمړۍ لویه قضیه په انګلستان کې په کال ۱۸۴۳ کې د مېناټن قضیه وه. دانیل مېناټن د انګلستان د صدراعظم سر رابرت پیلSir Robert Peel خصوصي سکرتر ایدوارد دره منډ Edward Drummond د ټوپک په فیر وواژه. مېناټن بي ځایه خیال کاوه چې صدراعظم پیل دده د وژلو د پاره یوه توطئه جوړه کړیده، لهذا ده بد بخته دره منډ وواژه (دره منډ پدې ورځ د صدراعظم پیل بالاپوښ اغوستې وو) مېناټن فکر کاوه چې پر صدراعظم یې فیر کړیدی. منصفه هیئت مېناټن ته ددغه باطل خیال د درلودلو له کبله برائت ورکړ. (نن ورځ د داسې باطلو خیالونو درلودل د paranoid schizophrenia د روحي ناروغی نتیجه بلل کېږي). هغه لوړه غوغا چې ددې حکم وروسته پورته شوه هغه غوغا او شور ماشور ته ډیره ورته وه چې د هینکلي تر حکم وروسته منځ ته راغله. د لارډانو مجلسHouse of Lords (مشرانو جرګه) پر دې موضوع بحث وکړ او د ملکې د محکمې د قاضیانو څخه یې یوه مشورتي نظریه وغوښته. په هغه مشورتي نظریه کې هغه څه شامل دی چې نن د مېناټن د مقررې په نامه یادېږي :

> د لیونتوب پر اساس په دفاع کولو کې باید په روښانه توګه ثابته وي چې د عمل د کولو په وخت کې متهم د منطق ددې خرابې یعني د عقلي ناروغی لاندي عمل کوي چې د خپل عمل په طبعت او کیفیت نه پوهېږي، او یاپوهېږي چې نه پوهېږي هغه څه چې کوي هغه غلط عمل دی.

د مېناټن مقرره په پراخه توګه ومنل شوه او نن په یو یا بل شکل د امریکا په نیمو قضایي حوزو کې تر اجرا لاندې دی. دا مقرره ادراک او پوهي ته پاملرنه کوي، د پوهي توان، پوهیدلو، او د یو چا د اعمالو په هکله فکر کولو ته. د لمړني غوښتنې په توګه، باید مدعي علیه په یو عقلي ناروغې یا خبط اخته وي. د ناروغې ډول او څرنګوالی ندی تعریف شوی. د ناروغې په نتیجه کې باید مدعي علیه خپل د عمل طبعت درک نکړي او پر دې چې دا عمل غلط دی و نه پوهېږي. یو څوک ښایي و کولاي شي په روشن فکري سویه په یو څه لږ وپوهېږي او د درک او تخمین ژور احساس ولري ; یو څوک ښایي وپوهېږي چې وژل بد عمل دی او وشي کولاي د حقایقو سره یې په اړیکو وپوهېږي، اما بیاهم د وژلو د بدوالي په هکله

احساساتي شعور او معرفت نلري. محکمې معمولا" منصفه هییت ته دا هدایت نه ورکوي چې ددې مفاهیموپر کوم یو باندې غور وکړي، اما معاصر فدرالي قانون دا غوښتنه لري چې مدعي علیه باید د خپلو اعمالو د طبعت درک ونشي کړای.

په عین توګه، د یو عمل پر طبعت او کیفیت باندې د نه پوهیدلو د پاره یا داچه دا عمل غلط دی مختلف تعریفونه کېږي. معمولا" د طبعت او کیفیت څخه مقصد د یو عمل فزیکي نتایج او عواقب دی، یعني مدعي علیه یو انسان خفه کوي او نه دا چې یو لیمو کښیکاږي، او دا خفه کول د هغه انسان د وژل کیدو باعث ګرځي. او غلط پدې معني چې آیا دا عمل د قانون ضد دی او که په اخلاقي لحاظ بد دی.

د میناټن حکم د جنایي قانون د اهدافو په رڼا کې معقول دی. دیو چا د سلوک اوعمل مخنیوی چې نه پوهېږي څه کوي او یا یې عمل غلط دی، نشي کیدلای او لهذا په اخلاقي لحاظ د مجازات وړ ندی. اما د عقلي روغتیا کارپوهان شکایت کوي چې دا سلوک د خلکو د عقلي فعالیت د بهیر په اړه په ډیرو زړو نظریاتو ولاړ دی او یواځې د ادراک او پوهې لږوالي ته پاملرنه کېږي، پداسې حال کې چې دعقلي مرض پیژندنې یا mental pathalogy له مخې عقلي ناروغي اکثره د ناروغ پر ټول شخصیت اغیز لري ګ

د میناټن حکم د یو مهم نظره محدود دی. فرض کړئ جان هینکلي پوهیده چې پر رونالډ ریګن فیر کول به هغه ووژني او پوهیده چې دا عمل په قانوني او اخلاقي لحاظ غلط دی، اما په خپل سر کې یې آوازونه اوریدل چې ده ته یې امر کاوه چې فیر وکړي، داسې یو امر چې هینکلي د خپلې مغزي ناروغۍ له کبله د هغه په وړاندې مقاومت نشواي کولای. د میناټن د حکم یا مقررې له مخې، هینکلي معذور نشي بلل کیدای، ځکه ده د خپل عمل د طبعت او غلط والي درست تخمین وکړ. دې محدودیت ته په ځواب کې ځینو محکمو د مقاومت ناپذیرۍ د تحریک irresistible impulse آزمایښت غوره کړیدی چې د میناټن مقرره تکمیلوي. که مدعي علیه یوه مغزي ناروغي ولري چې دی نه پرېږدي پر خپل سلوک کنټرول ولري، پدې صورت کې نه دده د عمل مخنیوي کیدای شي او نه هم د سزا وړ دی او باید د لیونتوب له کبله بیګناه وبلل شي.

د مقاومت ناپذیرۍ د تحریک آزمایښت په دوو دلیلو په پراخه توګه ندی منل شوي. لمړی، پدې آزمایښت کې هڅه کېږي یوه د جلاوالي لیکه وکښل شي چې کښل یې ډیر ګران دی، یعني یوه لیکه د تحریک یاناڅاپي انګیزي چې د هغه په مقابل کې مقاومت نشي کیدلای اود یو بل ساده تحریک تر منځ چې په مقابل کې یې مقاومت ندی شوی. دوهم، مونږ ښایي ونه غواړو دا لیکه دلته وکاږوګ جنایي مجازات ورکول ښایي د مخنیوۍ یو پیاوړی اغیز ولري او د یو چا تصمیم چې داسې تحریکاتو ته معروض دی پیاوړی کړي.

د میناټن د مقررې لوی سیال د نمونه جزایي قانون Model Penal Code فارمول دی. د جزایي قانون ماډل د میناټن مقرره او د مقاومت ناپذیرۍ د تحریک آزمایښت اصلاح کوي تر څو پر انساني سلوک باندې د عقلي ناروغیو د اغیز د څرګندېدو د پاره زیات شواهد لاس ته راشي. دا قانون وایي :

یو څوک د جنایي سلوک د پاره ندی مسوول که د جنایي عمل د کولو په وخت کې د مغزي ناروغۍ یا تکلیف له کبله ددې توان ونلري چې یا خپل جنایي سلوک او د هغه غلط والي سم درک او تخمین کړي او یا خپل سلوک د قانون د غوښتنو سره مطابق کړي

نمونه جزایي قانون د مقاومت ناپذیری د تحریک د آزمایښت څخه لاس ته راغلي معلومات د ارادې او غوښتنې (یعني هغه توان چې د یو چا پر سلوک کنټرول کوي) په هکله د میناټن د مقررې سره چې پر ادراک (پر خپل سلوک پوهیدل) باندې تاکید کوي، یوځای کوي. او د مغزي ناروغۍ د رول سره یو نرم او د تغیر وړ برخورد کوي، یعنې یو څوک هغه وخت معذور بولي چې مغزي ناروغي د مدعي علیه د توان او طاقت د لرېدو باعث وګرځي، نه داچه هغه د خپلو اعمالو په طبعت او غلط والي هیڅ و نه پوهېږي او یا پر خپلو تحریکاتو هیڅ ډول کنټرول ونلري.

نمونه جزایي قانون همدا شان مغزي ناروغي او نقص تعریفوي تر څو یو بل غیر عادي توب چې د تکراري جنایت کارانو په سلوک یا په نورو اجتماعي ضد سلوکونو کې لیدل کېږي لدې ډلې څخه وایستل شي. ددې مقررې له مخې یو روحي ناروغ چې د ناروغي له کبله په وحشناکه جنایاتو لاس پوري کوي لکه جیفري دامرچه مکررا" به یې خلګ وژل، بیایې مړي په یخچال کې ساتل اود قزبانیانو د بدن غړي به یې خوړل، نشي کولاي د لیونتوب په خاطر ددې جنایت څخه تبرئه شي. دا مقرره پدې خاطرتصویب شوه چې پرې نه ښودل شي چې د جنون یا لیونتوب دفاع د جنایت مفهوم استیلا کړي یا یې تر پښو لاندې کړي. آیا یو تکراري مجرم کولاي شي ادعا وکړي چې دی ددې لازم توان نلري چې خپل سلوک د قانون د غوښتنو سره مطابق کړي او د ثبوت د پاره دا حقیقت وړاندې کړي چې ده د جرم کولو ته دوام ورکړیدی؟ اما د نمونه جزایي قانون مقرره تنقید شویده، ځکه یو حقیقي روحي ناروغ sociopath ښایي په حقیقت کې د سزا ورکولو وړ نه وي، او که ده ته د دفاع اجازه ورکړل شي، کوم شی به له لاسه نه وي تللی، ځکه غیر له جنایاتو د ناروغۍ ځیني نور خاص علایم هم شته.

نمونه جزایي قانون ډیر اغیزمن وو او تر نیمایي زیاتو ایالتونو هغه تصویب کړ، تر څو چې د هینکلي قضیه را منځ ته شوه. دهینکلي قضیې د لیونتوب د دفاع پرموضوع د سره غور تحریک کړګ د امریکا د وکیلانو ټولنې American Bar association او د امریکا د روانشناسانو ټولنې American Psychiatric Association ددې دفاع د محدودیدو غوښتنه وکړه او د امریکا طبي ټولنې یا American Medical Association په بشپړه توګه د هغه د لغوه کیدو غوښتنه وکړه. د څو کالو په تیریدو سره کانګرس او نیمو ایالتونو د جنون یا لیونتوب په هکله خپل موقف ته تغیر ورکړ او اکثرو بیرته دمیناټن د مقررې څخه پیروي وکړه. د لیونتوب له کبله د مسوولیت د نه درلودلو د حکم د هو یا نه کیفیت هم یوڅه جنجالي دی، پدې خاطر محکمو او پارلمانونو ددې د تکمیل د پاره دوه ګامه اخیستي دي. یو مشکل دادی چې یو مدعي علیه چې په څرګنده یې یو جدي جنایت کړیدی او د لیونتوب په خاطر غیر مسوول بلل شویدی، په موقتي توګه د رواني ارزیابۍ او معالجي د پاره ساتل کېږي او ترمحاکمې نسبتا" لنډه مده

وروسته بيرته خوشې کېږي. ميچيګن لمړۍ ايالت وو چې دې ته يې د يو بل آلترناتيف په وړاندې کولو سره ځواب ووايه ګ، چې هغه ته د مسوول اما روحي ناروغ يا guilty but mentally ill حکم وايي، يعنې کله چې منصفه هيئت وپوهېږي چې مدعي عليه د جرم د ارتکاب په وخت کې روحا" ناروغ وو، که څه هم د قانون له مخې د ليوني خطاب نه ورته کېږي. ددې حکم اغيز دادی چې مدعي عليه مسوول دی او برائت نه ورکول کېږي، او قاضي کولاي شي هغه حبس ته ولېږي. دا مقرره وايي چې په محبس کې بايد د مدعي عليه دپاره د مغزي ناروغۍ د علاج خاصه زمينه برابره شي.

د مسوول اما روحا" ناروغ حکم يوه بحث انګيزه مسله ده. پنځلسو ايالتونو هغه تصويب کړيده. د دفاع وکيلان او د روحي روغتيا ځيني کارپوهان پر هغه تنقيد کوي، ځکه دا حکم منصفه هيئت ته په سختو قضيو کې د وتلو آسانه لاره په ګوته کوي. يو مدعي عليه ښايي د جنون د آزمايښت څخه ووځي او پدې توګه د جنايي قانون د معيارونو له مخې غير مسوول وبلل شي، اما منصفه هيئت ښايي وبيرېږي چې که يو خطرناکه مجرم مسوول و نه بلل شي، هغه به آزاد شي. دا فکر چې د يو محکوم شوي اما روحا" ناروغ مجرم سره به د محبس په سيستم کې د يو بل ساده محکوم شوي مجرم په پرتله بل ډول چلند وشي، هم يو خيالي فکر دی. په عمومي توګه د خاص علاج د پاره په قانون کې کومه غوښتنه نشته او روحي ناروغ مجرم غير له هغه عادي طبي درملنې څخه چې ټولو نورو بنديانو ته ورکول کېږي، کوم بل شي نه ترلاسه کوي.

د ليونتوب د دفاع يو بل پرابلم دادی چې دا يواځې د روحي ناروغيو د خاصو او شديدو ډولونو د پاره منځ ته راغلی دی. ډير مجرمين دي چې تر يوه حده مغزي ناروغي لري، اما نه تر هغه حده چې ښه او بد ونه پيژني او يا په بشپړه توګه پر خپل سلوک کنټرول ونلري ګ

آيا مورِ دا ډول روحي ناروغۍ او عيب ته پاملرنه وکړو؟ او که غواړو چې هغه ته پاملرنه وکړو، آيا کار پوه ته اجازه ورکړوچه د مدعي عليه د روحي حالت په هکله په خپل شهادت کې مدعي عليه ليونۍ ونه بولي، بلکه ووايي چې مدعي عليه د خپل عمل د پاره لږ مسوول دی؟

دا مسله ډير د بحث وړ ده. اما محکمو او پارلمانونو څو د حل لارې وړاندې کړيدي. لمړۍ، محکمه کولای شي د مدعي عليه د ګناه يا بيګناهی د ټاکلو په وخت کې د مدعي عليه د مغزي حالت ثبوت ته پاملرنه ونکړي او هغه د مجازات د ټاکلو په وخت کې په نظر کې ونيسي. څرنګه چې قاضي د مجازات په ټاکلو کې د احتياط او بصيرت څخه کار اخلي، يو له هغو فکټورونو څخه چې ښايي يوه سختې سزا ته تخفيف ورکړي دادی چې د مدعي عليه مغزي حالت د جرم د ارتکاب په وخت کې داسې وو چې ده د يو عادي سړي په پرتله لږ د مسوولیت احساس کاوه.

دوهم، د مدعي عليه مغزي حالت ښايي ددې د پاره په نظر کې ونيول شي چې د جرم يو د لازمو مغزي عناصرو څخه ورباندې رد کړل شي. ددې څخه په خاصه توګه د هغه مغزي عناصرو په برخه کې استفاده کېږي چې د خاصې ارادېspecific intent غوښتنه کوي، لکه د لمړي درجې په قتل کې د وژلو اراده، اما ځيني قضايي حوزې دا په هر قتل کې په پراخه توګه تطبيقوي. که يو مدعي عليه پوهيده چې

یو څوک وژني، اما ددې مغزي توانمندي يې نه درلوده چې دا قتل پلان کړي، دی به بیا هم د انسان وژنې مسوول وبلل شي، اما په کښته درجه، لکه غیر عمدي قتل د عمدي قتل پر ځای. د یوې خوا د لږشوي توان دفاع یا diminished capacity defense منصفه هیئت ته ددې امکان ورکوي په هره قضیه کې د مسوولیت د اندازې په تناسب د سزا د ورټوب په هکله ځانګړې قضاوت وکړي. د بلې خوا دا دوی د رواني شهادت د حیرانوونکي ګډوډتیا سره مخامخ کوي. په بل عبارت، دمغزي روغتیا کارپوهان پخپله د نورمال او غیر نورمال سلوک په تشخیص کې مشکلات لري، نو منصفه هیئت ته د مدعي علیه د مغزي حالت د شهادت وړاندې کول به ددې پر ځای چې ددوی سره مرسته وکړي، دوي ښایي نور هم سراسیمه او ګډوډ کړي.

نور څه ډول دفاع وجود لري؟

ددې د پاره چې خپله د دفاع مطالعه بشپړه کړو، د نشې او جبر او اکراه مسایلو ته پاملرنه وکړئ.

نشه داسې یو حالت دی لکه سړی چې په موقتي توګه لیونې وي، اما آیا د هغه څخه د دفاع د پاره استفاده کیدای شي؟ په ډیرو حالاتو کې د هغه څخه د دفاع د پاره استفاده کېږي. فرض کړئ دوک هالیدې پدې خاطر چې بیلي کلانتون یې ویشتلې دی په لمړی درجه قتل تورن دی. په محاکمه کې دوک اقرار کوي چې دی د ویشتلو په وخت کې حاضر وو، غوښتل یې چې بیلي وولي، خو ډیر نشه وو او نه یې شوای کولای چې خپله تفنګچه له پوښه راوباسي، نو ده دا جرم ندی کړی. که منصفه هیئت د دوک بیان ومني، نو دی ظاهرا" بې ګناه دی، ځکه ده دا عمل چې یو منع جرم دی ندی کړی، یعني بیلي یې ندی وژلی. اما فرض کړئ چې د دوک دفاع داسې وي چې ده په حقیقت کې بیلي وویشت، اما دی دومره نشه وو چې نه پوهیده څه یې کول. که منصفه هیئت د دوک دا بیان ومني، آیا دده نشه بیا هم یوه دفاع کیدای شي؟

اکثره محکمې وایي چې دوک یوه دفاع لري، لږتر لږه د لمړۍ درجې قتل د پاره. که دی دومره نشه وو چې نه یې شوای کولای تفګنچه له پوښه را وباسي، دده نشه د جرمي عمل یو عنصر ردوي. که دی دومره نشه وو چې نه پوهیده څه کوي، دده نشه د جرم د روحي عناصرو څخه یو ردوي. د لمړی درجه قتل د پاره باید دوک د بیلي د وژلو اراده ولري. که دی دا اراده ونلري، ده دا جرم ندی کړی، که څه هم دده دلیل دادی چې ده دا اراده نه درلوده ځکه ډیر نشه ووګ جنایي جرمونه داسې تعریف کېږي چې هغه عاملینو ته چې ملامت وي سزا ورکول کېږي. دوک ښایي یو څه مسوول وي چې ولي دومره نشه شوی وو، اما نه تر هغه حده چې د لمړي در جې قتل مسوول وبلل شي.

داچه دوک به په مجموع کې ددې حالت څخه ووځي، پدې اړه لري چې آیا د نشې د پاره کومه بله تخطي هم شته چې د هغه څخه د دفاع د پاره استفاده ونشي. که دوک د آس په غلا متهم وي او دفاع داسې وي چې دی ډیر نشه وو او نه پوهیده هغه آس چې دی پر سپور وو د بل چا وو، دده نشه یوه بشپړه

دفاع ده. اما د بيلي د وژلو په قضيه کې دده نشه ښايي په لمړي درجه قتل کې د ارادې غوښتنه رد کړي، اما دی ښايي بيا هم په يوه لړه درجه د انسان وژنې مسوول وبلل شي چې د هغه د پاره غوښتنه داده چې دوک بې باکه او بې پروا وو.

اما دا ولې داسې ده؟ په بې پروايي او بې باکي کې په آګاهانه توګه يو لوی خطرته چې د توجيه وړ نه وی، پاملرنه نه کول دی ګګ د مثال په توګه د راغونډ شوو خلګو په لور په وحشيانه توګه ډزې کول يوه بې باکي او بې پروايي ده. که دوک ډير نشه وو، دی به ښايي په هغه خطر چې ده منځ ته راوړی وو نه پوهيده. اما اکثره محکمې ليکه همدلته کاږي. حتې که دوک په هغه خطر نه وو خير چې ده د ډزو کولو له لارې منځ راوړی دی، دی پدې (فکر کېږي چې همداسې بايد وي) خطر پوهيده چې دده د نشه کيدو په نتيجه کې منځ ته راځي. د پاليسۍ د يوې موضوع په توګه، داسې اعمالو ته د جنايي سزا د ټاکلو امکان چې د نشې په حالت کې کېږي، ښايي خلګ دې ته تشويق کړي چې د شرابو په چښلو کې افراط ونکړي، او د انصاف د موضوع په توګه، دابه معقول نه وي چې خلګ د هغو خطرونو د پاره مسوول وګڼل شي چې دوی يې د نشې په حالت کې منځ ته راوړي.

اوس، د جبر او اکراه موضوع ته پاملرنه وکړی، فرض کړئ درې وسله وال کسان په يو ټکسي موټر کې کښيني او ټکسي چلوونکي ته ګواښ کوي چې دی به ووژني مګردا چې دوی هغه بانک ته بوځي چې دوی غواړي هغه غلا کړي، اوبايد د بانک د دروازې مخې ته د دوی د مرستې د پاره انتظار وباسي. ټکسي چلوونکي په تخنيکي لحاظ د غلا د جرم ټول عناصر پر ځاي کړل. ده په غلا کې د برخه اخيستلو له لارې، پخپله د غلا جرم وکړ، او ده هغه لازم روحي حالت درلود، که څه هم ده نه غوښتل چې پدې کار کې برخه واخلي، خو ده دا کار په قصد وکړ (پدې معنې چې ده وغوښتل پدې غلا کې ګډون وکړي). اما دی په اخلاقي لحاظ د غلا مسوول نه بلل کېږي. په بل عبارت، داسې ښکاري چې دی به د مسوولیت څخه مبرې وګڼل شي، ځکه ده يو غلط عمل وکړ، يعني د غلو سره يې مرسته وکړه، اما ددې د پاره چې د يو بل ډير غلط عمل څخه چې د غلو لخوا دده وژل وو مخنيوی وکړي.

دغه معذرت ته جبر او اکراه duress وايي. که يو څوک په يو جنايي عمل لاس پوري کړي ځکه په معقوله توګه پدې باور دی چې دا د مرګ د يو آني حملې يا جسمي ژوبلې د مخنيوي د پاره يواځنۍ لاره ده ، دی يو معذرت لري او د جرم د کولو مسوول نه بلل کېږي. قانون دا پيژني چې يو څوک ښايي تر فشار لاندې راشي چې د دوو بدو او ناوړو اعمالو څخه يو انتخاب کړي او هغه چاته سزا نه ورکوي چې د دوو بدو يا ناوړو اعمالو څخه هغه انتخاب کړي چې تر بل لږ بد دی. د يو عمل کوونکي نه بخښل کېږي که دی يو غلط اوناروا کار وکړي، اما مونږ کولای شو دده د عمل د کولو په دلايلو وپوهېږو او هغه وبخښو. دا ښه نه وو چې د تکسي چلوونکي د بانک د غلو سره مرسته وکړه، اما دا به منصفانه نه وي که ووايو چې ده بايد خپل ژوند قرباني کړی وای. ده يواځې پدې خاطر په غلا کې برخه واخيسته چې غلو ده ته ګواښ وکړ چې که دا کار ونکړي، هغوی به دی ووژني. دا داسې يو ګواښ وو چې غله په څرګنده توګه د هغه اجرا ته چمتو وه، اراده يې درلوده او دا کار يې کولای شوای. دا به هيڅ ښه نه وي که مونږ ده ته

په دې خاطر سزا ورکړو، ځکه مونږ نشو کولای د هیڅا د داسې یو کار مخنیوی وکړو. هر څوک به پدې غلا کې برخه واخلي، که څه هم هغه د جنایي سزا معنې ولري، ځکه د جنایي سزا امکان دومره بد ندی لکه دده د فوري وژل کیدو گواښ. او هغه څه چې د تکسي چلوونکي وکړ، غلط وو اما ډیر غلط نه ووگ قضیه به بل ډول وای که د تکسي چلوونکي د غلا په جریان کې تر جبر او اکراه لاندې یو بل څوک ویشتلې وای.

اوس د دولت او توسکانو قضیې ته چې په کال ۱۹۷۷ کې د نیوجرسي په ایالت کې پیښه شوه پاملرنه وکړئ. جوزف توسکانو یو جراح وو چې په تقلبي توګه یې د بیمې څخه د پیسو د اخیستلو د پاره تقلبي طبي راپورونه برابرول. توسکانو د دفاع د پاره جبر او اکراه د دلیل په توګه وړاندې کړگ او زیاته یې کړه چې ده یواځې پدې خاطر دا کار وکړ چې دی د ویلیم لیوناردو لخوا چې ددې پلان طراح وو، تهدید شوی وو. لیوناردو څو واره د توسکانو سره تماس نیولی او بالاخره یې د نا امیدی، شرارت اوتهدید څخه په ډکه فضا کې ده ته وویل ، " ته باید ما ته دا راپورونه او رسیدونه جوړ کړې. په یاد ولره چې ته په وروستیو کې یو نوي ځای ته کډه شوی یې چې د ننوتلو لاره یې ډیره تیاره ده او ته هره ورځ د خپلې میرمنې سره د هغه ځای څخه تیرېږې. کله چې تاسې ددې د ننوتلو د تیارې لارې څخه تیرېږی، ته او ستا میرمن دواړه پر سایو غورځی "

آیا توسکانو به وشي کولاي د جبر او اکراه له لارې د ځان دفاع وکړي؟ عنعنوي مقرره چې لا هم په ډیرو ایالتونو کې تر اجرا لاندې ده، دې پوښتنې ته منفي ځواب ورکوي. د جبراواکراه د بخښنې قاعده د تکسي چلوونکو په شان قضیو د پاره منځ ته راغلې ده او نه د توسکانو د قضیې د پاره. یواځې هغه وخت چې مدعي علیه پدې خاطر عمل وکړي چې د فوري مرګ یا جسمي ژوبلې د خطر سره مخامخ وي او د عادي عزم هر بل خاوند هم دې حالت ته تسلیم شي، دا عمل به وبخښل شي. څرنګه چې توسکانو په فوري ژوبلې نه وو تهدید شوی، دی نه وو مجبورکړل شوی چې د تکسي د چلوونکي په شان په جنایي عمل لاس پوري کړي. ده د مثال په توګه کولای شوای پولیس ته مراجعه وکړي او یا د قانون د ماتولو تر څنګ نور اقدامات وکړي. که قانون دا معیار نه تطبیقوي، په سختو حالاتو کې د قانون اطاعت ته د خلګو د تشویق دپاره چې هغه ته ډیره اړتیا لري هم ډیر څه نه وړاندې کوي ، او دا به د جبر او اکراه د تردید وړ او تقلبي ادعاوو د پاره لاره پرانیځي.

د جزا نمونه قانون Model Penal Code او ځینو قضائي حوزو دې نتیجې ته تغیر ورکړی او مدعي علیه معذور بولي که هغه دداسې تهدید تر فشار لاندې جرم وکړي چې په معقوله توګه هربا ثباته او متین سړی یې تر هغه شرایطو لاندې پر ضد مقاومت ونشي کولاي. لکه په نورو حالاتو کې د جزا نمونه قانون د عنعنوي آزمایښتونو پر ځاي د معقول سړي فیصلې ته اهمیت ورکوي، یعني چې هر بل عادي سړی به دې تهدید ته تسلیم شي او و به بیرېږي چې د ځان د ساتنې د پاره پولیس ته مراجعه وکړي. پدې صورت کې توسکانو هم بخښل کېږي.

آيا يو څوک د يو جرم د پاره چې بشپړ شوي نه وي محکوم کيدای شي؟

اکثرا" يو څوک د هغه جرم د پاره محکوم کېږي چې په هغه کې د جرم د تعريف ټول عناصر موجود وي. قتل، د مثال په توګه، په ارادي توګه د يو چا وژل دی. د وصي يا The Godfather په فلم کې هغه سوء قصد په ياد راوړی چې د دون ويتو کورلييونه Don Vito Corleone پر ژوند باندې وشو. د سالازوSalazzo او تاتاګلياTattaglia کورنۍ چې نوې بډايه شوې وه، دوه د وهلوکسان (بدماشان) درلودل چې پر دون کورلييونه يې پداسې وخت کې چې په بازار کې يې ميوه رانيوله ډزې وکړې. که دون مړ شي، دې دوو وسله والو کسانو قتل کړيدی، خو څرنګه چې هغه مړ نشو، آيا دې دوو د وهلو کسانو يواځې دوهلو او ضرب يو سخت جرم کړيدی؟ او يا داچه دوی د هغه څه د پاره تر تعقيب لاندې ونيول شي چې اراده يې درلوده اما ونشو، يعني د وژلو قصد؟ سربيره پردې، که دون مړ شوی وای، د سالازو او تاتاګليا سرنوشت به څه وای؟ دوی پخپله پر چا فير ندی کړی، اما ددې عملياتو شاته د دوی فکر او پيسې وې. آيا دوی ددغه رول په خاطر يعني چې د جنايت د عملېې د پاره يې مشورې ورکړې او د هغه د اجرا د پاره يې دسيسه جوړه کړيده، محکوم کيدلای شي؟ ددې قضې شامل مسايل د ناقص يا ناتمامه جرم يا inchoate crimes تر نامه لاندې راځي، ، ځکه جنايي عمل بشپړ او مکمل ندی.

د وهلو کسانو د قتل جنايت بشپړ ندی ځکه دون مړ نشو، او د سالازو او د تاتاګليا جنايت هم بشپړ ندی، ځکه دوی په عمل کې څوک ندی وژلی. جنايي قانون درې ناتمامه جرمونو ته سزا ورکوي، د جرم نيت يا قصد attempt، د جرم کولو ته بلنه يا دعوت solicitation، او توطئه conspiracy ته.

جنايي قانون نا تمامه جرمونو ته په دوو ساده دلايلو سزا ورکوي. لمړی، هغه خلګ چې د وژلو په قصد، په مشوره ورکولو او د توطئې په طرح کولو کې برخه اخلي هغومره خطرناک دي لکه هغه کسان چې په عمل کې جرم کوي. د وهلو دوه کسان چې هدف په دقيقه توګه نه ولي، هغه آمرين چې د وژلو پلان جوړوي او هغه منځګړي خلک چې د وهلو کسان استخداموي، ټول هغومره د سزا وړ دي لکه د جرم حقيقي عاملين. هغومره د سزا وړ يو لازم شرط دی، ځکه پدې هکله ډير بحث کېږي چې آيا يو څوک چې يو ناتمامه جرم کوي بايد هغسې سزا وويني لکه هغه مجرم چې جرم يې په بشپړه توګه سرته رسولي وي. د بلې خواپه اخلاقي لحاظ د دوی د محکوميت اندازه يوه ده ; يو ټوپک لرونکی چې فير کوي اما ښه نښه نشي نيولای په اخلاقي لحاظ هغومره مسوولیت لري لکه يو بل چې ښه نښه نيسي.

اما د بلې خوا بيا د دوی د زيان رسولو اندازه توپير لري او قانون معمولا" مجرمينو ته د رسيدلي زيان له مخې او نه د هغوی د ارادې د اندازې له مخې سزا ورکوي. دلته يوه عملي اندښنه هم شته. که ټوپک لرونکی د قتل او دقتل د قصد د پاره يو شان سزا وويني، که دی په لمړی فير کې هدف خطا هم کړي، شايي بيا دا کار پای ته ورسوي.

دوهم، د ناتمامه جناياتو روښانه کول د قانون د اجرا د پاره لازم دی. که د قتل قصد يو جرم نه وای، د پوليس مامور چې ويني د وهلو کسان خپلي تفنګچي راکاږي او دون کورلييونه ته ورنژدې کېږي، نشي کولای تر هغه چې فير و نه شي دا کسان ونيسي. او اکثره جرمونه د بې قربانيو جرمونو په شمول د قصد

یا نیت او د جرم د مشورو د ورکولو په تعقیب باندي اتکا لري. پولیس په معموله توګه فحشا نشي ثابتولای، ځکه دا ډیر ګران دی چې یو فاحشه د یو چا سره د جنسي عملیې په وخت کې ونیول شي، اما د قانون د اجرا مامورین په اصطلاح یو دام اړدي یا د دوې خلګ په بل نامه او جامو کې د فاحشې سره یوې موافقې ته رسېږي چې هغوې بیاد مشوري ورکولو یا جلب او دعوت په خاطر تر تعقیب لاندې ونیول شي.

د ناتمامه جرمونو څخه د قانون د اجرا د یوې وسیلې په توګه استفاده کول ددې برخې یوه اساسي ستونزه ده. د یو چا په عمل کې لکه د قتل یا فحشا د جرم ټول عناصر وجود نلري، اما یو بل څه یې کړیدي چې باید سزا ورکړل شي. اما دا بل څه په دقیقه توګه څه شی دی؟ اوس که دا بل څه ډیر محدود تعریف کړو، ناتمامه جرمونه به خپل اغیز له لاسه ورکړي. او که هغه په وسیع او پراخه توګه تعریف کړو، مونږ به داسې سلوکونه جنایي وبولو چې هغه هیڅ کوم زیان نه رسوي.

د قصد یا نیت د قانون څخه به یې پیل کړو او وبه ګورو چې دا پرابلم څنګه حلولای شو. په جنایي قانون کې قصد د یو عمل د کولود پاره د قصد درلودلو په عامه معني تعریف شوي دي. یو څوک د یو کار د کولو قصد یا نیت کوي اوهڅه کوي هغه کار اجرا کړي. لهذا، د جرم د کولو په قصد کې روحي عنصر د جرم د کولو اراده ده. مشکلات د عمل کولو په عنصر کې منځ ته راځي. اکثره جرمونه د پیښو یوه لړۍ لري چې د جرم د کولو د ارادې په څرګندولو پیل کېږي او بیا د هغه دپاره تیاري نیول کېږي تر څو پخپله عمل اجرا شي. د وصي په فلم کې، د وهلو کسان لمړۍ د دون د وژلو سره موافقه کوي، بیا دون د ډیرو ورځو د پاره تر څارنې لاندې نیسي تر څو د دون په ورځني پروګرام کې داسې یو وخت پیدا کړي چې په هغه کې دی ډیر آسیب پذیره وي، بیا ټوپک لاس ته راوړي، د میوې د خرڅولو د دکان مخې ته انتظار باسي او بیا د دون په راتګ او لیدو سره د موټر څخه راوځي، مرمۍ د ټوپک میل ته ورتیره کړي او بالاخره دهغه پر لور فیر وکړي. ددې کارونو په کوم پړاو کې دوی کافي پرمختګ کړیدی چې وشو کولای هغوی ته د قتل د قصد درلودلو له کبله سزا ورکړو؟ فرض کړئ، پولیس پدې پلان خبر وو، نو د پولیس مامورین مخکې لدې چې دوی ونیسي باید څومره انتظار وباسي تر څو د قتل د قصد د محکومیت د پاره کافي اسناد او دلایل تر لاسه کړي؟

محکمو او پارلمانونو یولړ آزمایښتونه منځ ته راوړي چې د هغه له مخې ټاکل کیدای شي چې څه وخت یو بالقوه مجرم په کافي اندازه عمل کړی او د جرم قصد عملي شوي دی. دا آزمایښتونه یو مهم شی چې هر وخت په قانون کې وجود لري څرګندوي. که دا آزمایښت په نسبتا" روښانه او ساده توګه تطبیق شي، په ډیرو قضیو کې غلطې نتیجې منځ ته راوړي. غلط په دې معنې چې د جنایي سلوک د مخنیوي اړتیا او دا هیله چې یواځې مسوول کس باید سزا ووینې په مناسبه توګه نه اندول کوي. ددې دپاره چې دا کړنلارې متوازنه او اندول شي، دوی یو مبهم او داسې یو آزمایښت کوي چې نتیجه یې نامعلومه پاته کېږي، اما ددې په شان هر بل آزمایښت ډیر مشکل او د تطبیق د پاره د پیشبینۍ وړ ندی. دې څو آزمایښتونو ته پاملرنه وکړئ.

د قصد د پاره یو ډیر زوړ آزمایښت یو مجرم هغه وخت مسوول بولي چې د جرم د پاره تقریبي وروستی عملlast proximate act تر سره کړي. پدې توګه د وهلو کسانو وروسته له هغه چې په خپلو ټوپکونو یې ډزې وکړې، د قتل د قصد په عمل لاس پوري کړګ دا آزمایښت ډیر روښانه اما په بشپړه توګه غیر عملي دی. کله چې د وهلو کسانو خپلې تفنګچې را وایستلې، دوی خپله جنایي اراده څرګنده کړه او په ښکاره توګه یې یو خطر منځ ته راوړ، اما د تقریبي وروستي عمل په آزمایښت کې به دوی تر هغه چې فیر یې نه وي کړی، مسوول و نه ګڼل شي.

ددې چوکاټ په بل سر کې د جزا نمونه قانون، قصد ته هغه وخت سزا ورکوي چې که مدعي علیه یو عمل وکړي چې د پلان شوي عمل د اجرا یعني د جرم د ماموریت د اجرا په لاره کې یو مهم ګام او دا مهم ګام د عامل د جرم د قصد پیاوړی موید وي. پدې صورت کې منصفه هیئت کولای شي ټول حقایق ارزیابي کړي او وټاکي چې مدعي علیه په یوه منظمه توګه د جرم د کولو قصد کړیدی او که نه. اما ددې د پاره د هرې قضیې د حقایقو له مخې یو ځانګړی تصمیم ته چې د پیشبینی وړ ندی اړتیا شته.

یو بل ناتمامه جرم د جرم کولو ته بلل او مشوره ورکول یا solicitation دی. ددې څخه مقصد د جرم د اجرا د پاره د یو بل څوک استخدامول دی. د قصد په شان، که جرم بشپړ شوي وي، بلل او مشوره ورکول د اصلي جرم سره یو ځای کېږي. که د تاتاګلیا کورنی د دون کورلیونه د وژلو د پاره د وهلو کسان وموميي، دوی ټول به په یو ډول په قتل کې مسوولیت ولري. که د وهلو کسان ددې کار د کولو څخه ډډه وکړي، تاتاګلیا به بیا هم جرم ته د بللو او مشورې ورکولو په خاطر مسوول وي.

اکثره ایالاتو هغه جرمونه یا د جرمونو ډلې لکه ډیر شدید جنایت، چې په هغه کې د جنایت کولو ته داشخاصو رابلل اود مشورو د ورکولو جرم منځ ته راځي، مشخص کړیدي. ګددې جرم تعریفول د جرم د قصد د تعریف په شان مشکلات لري. یو څوک چې د یو بل چا څخه غواړي یو جرم وکړي او یا یې د جرم کولو ته تشویق کړي یو خطرناکه سړی دی، او مخکې لدې چې دا جرم وشي، پولیس باید وشي کولای مداخله وکړي او محکمې باید وشي کولای هغه ته سزا ورکړي. اما د یو چا څخه د یو جرم د کولو غوښتنه د هغه زیان سره چې د یو جرم د اجرا په نتیجه کې منځ ته راځي توپیر لري. لهذا که جرم ته د رابللو معیار ډیر پراخ وي، مور په حقیقت کې یو چاته سزا ورکوو چې صرفا" یې د یو جرم په هکله فکر کړیدی یا یې یواځي د جرم په مقدماتي اعمالو کې برخه اخیستې ده.

د جرم قصد او جرم ته رابلل دواړه د تقریبي جرمونو په ډله کې راځي، یعني هغه اعمال چې ډیر خطرناک دي اما لا د یو تعریف شوي جرم په توګه ندي اجرا شوي. اما د جرم قصد او جرم ته بلل دواړه خپل حدود لري، او پارلمانونو دې حدودو ته د جرمونو د نوو ډلو په منځ ته راوړلو ځواب ویيلی دی، چې هدف یې د سلوک جنایي کول دی مخکې لدې چې دا سلوک خپل نتایج منځ ته راوړي. ددې یو مثال په پټه د نورو تعقیبول یا stalking دی. فرض کړئ یو سړی په خپلې پخوانۍ میرمنې په قهر دی او د میرمنې د کور مخ ته په خپل موټر کې ناست دی. هرکله چې هغه کار ته ځي دی یې تعقیبوي، او تل حاضر دی چې وګوري پخوانۍ میرمنه یې د چا سره ملاقات کوي. یو ددې اعمالو څخه جنایي ندی، اما

ښايي د داسې اعمالو سبب شي چې هغه به جنايي وي. پخوانۍ ميرمنه بيرېږي چې ښايي دی حمله پرې وکړي. ځينو پارلمانونو دا ډول تعقيب جرم بللی دی. د مثال په توګه د کليفورنيا ايالت يو قانون هر هغه چاته سزا ورکوي چې د کينې او بدۍ له مخې او په قصدي او مکرره توګه يو بل څوک تعقيب يا اذيت کړي او په ارادي توګه داسې يو د منلو وړ ګواښ منځ ته راوړي چې مقابل لوری د خپل امنيت د پاره د اندیښنې او بيرې سره مخامخ کړي. داسې قوانين د ناتمامه جرمونو ټول مشکلات راسربيره کوي. څومره وختي کولای شو يو چاته مخکې لدې چې هغه په يو صريح جنايي عمل لاس پوري کړي، سزا ورکړو ګ؟ که مونږ ډير انتظار وباسو، ښايي د زيان د مخنيوي د پاره ناوخته شي، او که ډير وختي اقدام وکړو، مونږ ښايي ډيراعمال او حتي بې ضرره اعمال جنايي وبولو.

توطئه دريم ناتمام جرم دی او داسې جرم دی چې څارنوالان ورسره تل مخامخ کېږي. توطئه د يو غير قانوني عمل د کولو په مقصد د دوو يا ډيرو کسانو تر منځ يوه موافقه يا تړون دی. د تاتاګليا د کورنۍ مشران د قتل د پاره دوه کسان استخداموي او پخپله دون کورليونه نه وژني، اما دوی د وهلو د کسانو د اعمالومسوول بلل کيداي شي، ځکه ټول د يوې طرحې برخې دي. په بل پراخ عبارت د تاتاګليا د کورنۍ ټول غړي ښايي د توطئه کوونکو په توګه مسوولیت ولري، ځکه دوی په پراخ جنايي عملياتو کې چې په هغه کې خمار، د مخدره موادو معاملات، فحشا او عمومي بدماشي شامل دي، لاس لري.

توطئه تر قصد او جرم ته د رابللو ډيره پيچلې ده. دا څه معنې چې يو څوک د جرم د کولو سره موافقه کوي او د موافقې خواوې تر کومه حده د نورو اعمالو ته مسوولیت لري؟ آيا د تاتاګليا د کورنۍ ډيرکښته غړی هم په جنايي لحاظ د ټولو هغو جرمونو او خشونت آميزه اعمالو مسوول دی چې د کورنۍ دهر غړي لخوا کېږي؟ توطئې ته د څارنوالانو د روزنتون محبوبه يا معشوقه ويل کېږي او دا په دقيقه توګه د هغه د بالقوه وسعت او پهنا په خاطردی. د توطئې قانون او په محاکمه کې د هغه طرزالعمل، د تعقيب د پاره يو لړ ګټې لري.

لمړۍ، د توطئې اساس موافقه ده. لهذا، توطئه کوونکي کيداي شي د هغو اعمالو په خاطر محکوم شي چې د حقيقي جنايي عمل د نتايجو څخه، چې د جرم د قصد قانون يې غوښتنه کوي، ډير ليري وي. اما يواځې موافقې ته سزا ورکول، دې ته ورته ده چې يوې ارادې ته چې عمل ورسره نه وي سزا ور کړل شي، چې دا کار جنايي قانون هيڅکله نه کوي. اکثرو قضايي حوزو دې ستونزې ته په ځواب کې غير له موافقې څخه، د توطئې د پرمختګ د پاره د يو مشهود عمل د ثبوت غوښتنه کوي.، اما دا د څارنوالانو د پاره يو لوی بار ندی، ځکه دا په هره قضيه کې شته.

دوهم، د نورو ناتمامو جرمو برعکس، توطئه د بشپړ شوي جرم سره نه يو ځای کېږي. که د وهلو کسان بريالي شي، دوی به يواځې په قتل متهم شي اما نه د قتل په قصد هم. اما که د وهلو کسان بريالي شي هر بل څوک چې پدې پلان کې لاس لري هم به په قتل او هم به د قتل کولو په توطئه کولو متهم شي او هر يو به يې په ځانګړي سزا محکوم شي. لهذا د توطئې اغيز دادی چې جرم ته سزا نوره هم زياتوي.

دریم، د توطئې هر ګډون کوونکی د هر هغه د پیشبیني وړ جنایي عمل مسوولیت لري چې د ډلې د نورو غړو لخوا د توطئې د پرمخ وړلو د پاره تر سره کېږي. دا په ډیره دراماتیکه توګه په توطئه کې د هر خاص ګډون کوونکي د مسوولیت ساحه پراخوي. دغه د مسوولیت وسعت څارنوالانو ته ددې امکان ورکوي چې د توطئې د یو شریک سره موافقې ته ورسېږي او هغه ددې خطر د منلو سره سره چې ښایي د ډیرو اعمالو د پاره چې ده په کې برخه نده درلودلې مسوول وبلل شي، بیا هم حاضر شي چې د نورو پرضد شهادت ورکړي.

دا کار تر کومه حده عملي کیدای شي؟ آیا د تاتاګلیا یو د کښتې سویي کارګر چې مخدره مواد خرڅوي، د خمارکولو د یو غیر قانوني مرکز د اعمالو مسوول هم دی چې د کورنۍ د یو بل غړي تر مشرتوب لاندې فعالیت کوي، او یا حتې د دون کورلیونه د قتل مسوول هم دی، ځکه ده موافقه کړیده چې په یوه پراخه جنایي توطئه کې ګډون کوي؟ محکمو تل د داسې پراخو مسوولیتونو د تحمیلولو د منصفانه توب په هکله اندیښنه څرګنده کړیده، اما کانګرس یو قانون تصویب کړچه د فاسدواو د باج اخیستونکو تراغیزلاندې سازمانونو قانون یا په مخففه توګه RICO نومېږي

(Racketeer influenced and corrupt organization act). ددې قانون له مخې د څارنوالانو څخه یواځې غوښتل کېږي وښیي چې هر مدعي علیه په مجموع کې د ټول جنایي فعالیت د پر مخ وړلو د پاره او نه داچه ده د یو خاص جنایي عمل د ارتکاب د پاره توطئه کړیده، پدې توګه د مخدره موادو خرڅوونکی ښایي د جنایي سازمان د ځینو نورو او بې ارتباطو او حتې ناڅرګندو عناصرو د اعمالو د پاره مسوولیت ولري. پدې ځای کې، البته د موافقې فکر چې د توطئې اساس جوړوي د ماتیدو تر حده پراخ کړل شویدی ګ

څلورم، د توطئې قضیه د هر بل جرم د قضیې سره توپیر لري چې په هغه کې د طرزالعمل عادي مقررات د څارنوالی په ګټه نرم او سست شوي دي ګګ ټول توطئه کوونکي یو ځای محاکمه کیدلای شي. دا اغیزمن ښکاري ځکه ډیر اسناد او شواهد به د ټولو پر ضد یو شان وي. اما پدې توګه ډیرې پراخې او پیچلي محاکمې صورت مومي چې دمدعي علیه په ګټه ندي. دا خطر هم شته چې د ملګرتیا له کبله مسوولیت راجع شي، یعني د یوپر ضد د سند یا ثبوت څخه د ټولو د مسوولیت استنباط وشي. د دفاع وکیلان به هم خپل پرابلمونه ولري. که روښانه وي چې یو جنایت شویدی، دا به د هر مدعي علیه په ګته وي چې د ځان د خلاصون د پاره نور متهم کړي او نتیجه به داوي چې په جنایت کې ټول لاس لري. علاوه پردې اجازه نه ورکول کېږي چې آوازې یا شایعات د سند په توګه وړاندې شي، مګر داچه مدعي علیه تهمت آمیزه خبرې وکړي او یو څوک متهم کړي. اما د توطئې په قضیه کې د آوازو او شایعاتوڅخه استفاده چې اصولا" د یو مدعي علیه پر ضد مجاز ده، د ټولو په مقابل کې ورڅخه استفاده کیدلای شي.

یو بل حالت هم شته چې په هغه کې یو څوک د یو جنایت د پاره چې ده ندی کړی مسوول بلل کېږي. دې ته د جرم د شریک یا د جرم د معاون مسوولیت یا accomplice liability ویل کېږي. یعنې کله چې

دجرم شریک په خپله جنایي عمل اجرا نکړي، اما د مجرم سره مرسته وکړي. د جرم د شریک مسوولیت توطئې ته شباهت لري، اما په هغه کې نسبت موافقې ته عمل ته پاملرنه کېږي. هغه موټر چلوونکي چې د وهلو کسان یې د جرم ځاي ته ورسول او وروسته یې ددوی سره مرسته وکړه د جرم د ځاي څخه وتښتي، دون کورلییونه ندی وژلې، اما بیا هم د قتل مسوول دی. د جنایي مسوولیت د اساسي اصولو له مخې، موټر چلوونکي په عملیه کې پدې اراده ګډون کړی چې دا قتل صورت ومومي.

قتل یا انسان وژنه څه شی دی؟

په یو کتاب کې چې تاسو یواځې د حقوقو د علم د مقدماتو سره آشنا کوي، یواځې د یو څو جرمونو تعریف او پر هغو بحث کول ممکن دی. د مثال په توګه د نیوجرسي ایالت په قانون کې تقریبا" ۲۰۰ بیلا بیل جرمونه، د قتل څخه نیولې بیا په عامه بسونو کې د سګرټ تر څکولو پوري تعریف شوي دي. او پارلمانونه لا هم نور جرمونه پدې لست کې شاملوي اود یو خاص ټولنیز پرابلم په خاطر یا د یوې سیاسي غوښتنې پر اساس یو سلوک جنایي بولي. لهذا، مونږ به یو څو داسې جرمونه و څیړو چې ډیر مهم دي او د جنایي قانون عمومي مسایل تشریح کوي. پدې لړ کې به په یو ډیر جدي جنایت چې قتل Homicide یا انسان وژنه ده پیل وکړو.

قتل یا انسان وژنه د پیل د پاره یو ښه ځای دی، نه پدې خاطر چې دا یو جدي جنایت دی بلکه ځکه چې د جنایي قانون په تاریخ کې د قتل د قانون انکشاف او پرمختګ اساسي عملیاتي اصول د مثالونو په ورکولو تشریح کوي او هغه ستونزې څرګندوي چې د جرمونو په تشخیصولو او د هغو تر منځ د جلا والي د لیکو او ددې لیکو د کښلو په کار کې وجود لري. پنځه سوه کاله مخکې د انګلستان په عامه قانون یا common law کې یواځې یو ډول انسان وژنه یعني قتل تعریف شوی وو او د هغه د پاره یوه ځانګړې سزا وه چې هغه مرګ وو. له هغه وخته راهیسې محکمو او پارلمانونو د انسان وژنې ډیر بیلا بیل شکلونه یو له بل څخه جلا کړي او د هر یو د پاره یې د مناسبې سزا اندازه تعریف کړیده. په هر ګام کې دوي باید د جنایي قانون د اهدافو له مخې د جدي اولږ جدي جرمونو تر منځ توپیر وکړي.

لمړی، یوه مقدماتي مسله. د قتل څخه مقصد د یو بشر وژل دی. په یو لړ قضیو کې دا پوښتنه څیړل شویده چې څه وخت د انسان ژوند پیل کېږي او څه وخت پاي ته رسېږي. دا مسله په معاصرو بحثونو کې هره پلا له نوې مطرح کېږي. د عامه قانون حکم داوو، کله چې یو جنین ددې مقصد د پاره په انسان تبدیل شي او ژوندۍ وزېږي، هماغه د ژوند پیل دی. او بیا دا قضیه مطرح شوه چې ددې کار د پاره د مور څخه څومره جلاوالۍ لازم دی. بعضې پارلمانونه د جنین د ودې ورستۍ مرحله پدې تعریف کې شامل بولي، او یا یې د جنین د وژلو د پاره خاص مقررات منځ ته راوړي دي چې (دا البته د سقط جنین په مسله کې د ښځې د تصمیم د ساتنې موضوع ده چې په اساسي قانون کې تضمین شویدی).

د ژوند په بل سر کې، د طبي ټکنالوژۍ پرمختګ دا تصمیم ډیر ګران کړیدي چې آیا مرګ ته نژدې یو انسان لا هم ژوندۍ دی او که نه؟ اکثرو ایالتونو یو تعریف منلی دی چې د مغز د فعالیت د دریدو موضوع ته پاملرنه لري او پدې توګه که یو څوک په ژوره کوما کې پروت وي او د کوما څخه د راوتلو چانس ونلري او پر هغه باندې د هوا د رسولو د ماشین فعالیت قطع شي، دا قتل نه بلل کېږي.

د قتل د درجو د زیاتیدو اندازه په لاندې توګه صورت وموند. لمړی، غیر عمدي قتل د عمدي قتل څخه جلا کړل شو. د قتل عنعنوي تعریف، چې لا هم په ډیرو ایالتونو کې ورڅخه استفاده کېږي د یو انسان وژل د ناوړه مخکني فکرmalice aforethought یعني د نفرت او کینې له مخې دی چې دا عمل مخکې له مخکې پلان شوي وي یعني په عمدي توګه وي. د ناوړه مخکني فکر قانوني تعریف ددې کلماتو د ظاهري معني سره بلکل توپیر لري، او اساسا" د ناوړه او زشت او یا مخکني فکر سره کومه اړیکه نلري. پر ځای یې د قانون د انکشاف سره د فکري حالاتو یو لست د قانون بڼه ونیوله او ددې د پاره چې یو مدعي علیه په قتل محکوم شي د یو خاص فکري حالت موجودیت لازم وبلل شو. په غیر عمدي قتل کې د انسان وژنې هر ډول شامل دی. په بل ګام کې، قتلونه په عامه توګه د درجو له نظره بیل شول یعني لمړۍ در جه قتل او دوهمه درجه قتل. په لمړۍ درجه قتلونو کې اساسا" ارادي قتلونه او په دوهمه در جه کې نور قتلونه شامل دي. بالاخره د اختیاري او غیر اختیاري غیرعمدي قتلونو تر منځ توپیر وشو. د قهر او تحریکیدو په حالت کې غیر عمدي قتل کول د اختیاري غیر عمدي قتل حالت دی او د بې احتیاطي یا بې پروایي له مخې قتل د غیر اختیاري غیر عمدي قتلونو مثال دی.

راشئ د ځینو فرضیو څخه یې پیل کړو چې په ۱۹۹۵ کال کې د اوکلاهوما د ښار د موراح د فیدرالي ودانۍ د الوزولو د پیښې په اړه دي. تیموتي مک وې Timothy McVeigh یو د حکومت ضد تروریست وو چې د جنایت په کولو محکوم شو. د څارنوالۍ د رپورټ له مخې، مک وې په خپل کور کې د یو لوي بم د جوړولو د پاره مواد برابر کړل، تر جوړیدو وروسته یې دا بم په یو کرایي موټر کې ځای پر ځای کړ او دا موټر یې د فدرالي ودانۍ دباندې ودراوه. پدې ورځ د تکساس ایالت د واکو Wacoپه ښار کې د یوې فاجعې کلیزه وه چې په هغه حکومتي امنیتي کسانو د حکومت ضد د یوې مذهبي ډلې د غړو سره جګړه کړیوه او مک وې ددې ډلې سره همدردي درلوده.

لمړۍ، حقایق هغسې چې وړاندې شوي دي را واخلئ او فکر وکړئ چې مک وې غوښتل ددې د پاره چې خپل سیاسي فکر څرګند کړي په لس هاوو حکومتي مامورین ووژني. دا د ناوړه مخکني فکر د لمړۍ ډلې یو ښه مثال دي چې هغه دده اراده وژلو ته څرګندوي. مک وې غوښتل او اراده یې درلوده چې ډیر حکومتي مامورین ووژني، لهذا دا د قتل یو د ډیرو جدي ډولونو څخه دی. پاملرنه وکړئ چې مونږ دده د انګیزې پسې نه ګرځو، یعنې چې ولې ده غوښتل هغوي ووژني، بلکه یواځې دده اراده چې غوښتل یې هغوي ووژني مهمه ده. که یو قاتل د څرګندې انګیزې له مخې عمل وکړي، دی بیا هم د وژلو اراده لري ؛ که یو سړی خپله زړه میرمنه چې د وژونکي ناروغۍ د درد څخه ډیر په عذاب ده په ټوپک وولي، دا

حقیقت چې ده غوښتل چې خپل د میرمنې درد او عذاب پاي ته ورسوي دده د جرم کولو د ارادې په تناسب مهم ندي که څه هم دا ښايي د سزا د ټاکلو د پاره اهمیت ولري.

فرض کړئ مک وې غواړي د موراح د ودانۍ Murrah Buildingپه خرابولو سره یوه سیاسي مظاهره وکړي، اما په خاصه توګه د خلکو د وژل کیدو په برخه کې کوم فکر ونلري. دی موټر چې بم په کې ایښودل شویدی د ودانۍ مخې ته پر سړک دروي. که په ودانۍ کې خلګ ووژل شي، مک وې، د دوو نظریو د یوې له مخې بیا هم د ناوړه او مخکنې فکر له مخې عمل کړیدی. که ده بشپړ باور درلود چې یو شمیر خلګ به ووژل شي، ځکه دی پوهیده چې ده یو بم ایښی دی او هغه به دیوې لویې چاودنې باعث وګرځي، دی هغومره مسوولیت لري، لکه په هغه حالت کې چې ده اساسا" نه غوښتل چې څوک ووژني، اما پوهیده چې دا به پیښه شي. او که دی نه پوهیده چې دا چاودنه به څومره لویه وي او پدې هکله یې کوم فکر هم ونه کړ، پدې صورت کې ده ددې نظره چې ګواکې پوهیده دده عمل به د ځینو دمرګ باعث شي، د چا د وژلو اراده نه درلوده، اما بیا به هم یو مجرم و بلل شي چې په ناوړه مخکنې فکر یې عمل کړیدي او انساني ژوند ته یې هیڅ ډول پاملرنه نده کړې، یعني ډیره بې پروایي یې کړیده چې هغه په عامه قانون کې " د فساد او بې رحمۍ څخه ډک زړه یا depraved heart " بلل شویدی. (همدې ته ورته یو اصل هغه قتل چې په هغه کې قاتل د وژلو اراده نلري بلکه یواځې غواړي خپل قرباني ته سخته بدني ضربه ورکړي یعني سخت یې ټپي کړي، هم قتل بولي ؛ دا ډیره بې پروایي ده چې یو انسان بل څوک ډیرسخت ټپي کړي.) دا هغه لوړ ارزښت څرګندوي چې انساني ژوند ته ورکول کېږي، او همدا شان ښکاره کوي چې مخکې له مخکې د بد او ناوړه فکر او نیت درلودل حقیقتا" د مخکې پلان شوي قتل سره کومه اړیکه نلري.

بیرته خپلې فرضیې ته را ګرځو او د بد او ناوړه مخکنې فکر وروستۍ برخه را اخلو. مک وې خپل بم د کیمیاوي سرې او د موټر د تیلو او ځینو نورو کیمیاوي موادو څخه جوړ کړچه د سرپوش په چاودیدو سره منفجره کېږي. فرض کړئ ده دا چاودیدونکي سرپوښونه د یو ساختماني پروژې څخه غلا کړه. د ساختماني پروژې د یو کارګر دې غلا ته پام کېږي او په تصادفي توګه د یو سرپوښ فیوز ته لاس وروړي او هغه چوي، او کار ګر وژني. د قتل د عادي مقرراتو له مخې، مک وې د مخکنې ناوړه فکر له مخې عمل ندی کړی، ځکه ده دا اراده نه درلوده چې کارګر ووژني او د یو ې ساختماني پروژې څخه غلا پخپله انساني ژوند ته د بې اعتنایي یا بې تفاوتۍ د مسلې سره اړیکه نلري. اما په عنعنوي توګه بیا هم مک وې د شرارت د قتلونو د مقررې له مخېfelony murder rule د قتل مسوول بلل کېږي. یو قتل چې د یو بد او شریر کارپه جریان کې (لکه غلا) کېږي په اتوماتیکه توګه قتل ګڼل کېږي، څه قاتل د وژلو اراده ولري او که یې ونلري. د شریر عمل په جریان کې د قتل د مقررې له مخې دا ډول قتل جدي مسوولیت لري. حتې که مجرم د وژلو اراده و نلري او حتي کومه بې احتیاطي یې هم نه وي کړي، دی بیا هم د قتل مسوول بلل کېږي. ددې مقررې د توجیه او تبریې دلایل دادي چې د مخنیوي یو اضافي اساس د هغو مجرمینو د جرم د پاره منځ ته راځي چې په جدي جنایي اعمالو لاس پوري کوي، او هم د خپل عمل د

عواقبو او نتايجو جدي والي ته متوجه کېږي، که څه هم هغه د قتل د پاره کومه خاصه اراده و نلري. اما محکمې ددې منطق سره چندان موافقه نلري، مخصوصا" چې ددې نظريې څخه داستفادې لمن د لږ مهمو قضيو لورې ته پراخه شويده. فرض کړئ مک وې ددې د پاره چې چاوديدونکي سرپوښونه لاس ته راوړي، په تقلبي توګه يو فدرالي جواز يا لايسنس جوړوي چې د چاوديدونکي موادو د رانيولو په وخت کې بايد پلورونکي ته وښودل شي. کله چې دی دا ساخته ګي يا تقلبي لايسنس پلورونکي ته ښيي، د جوړونکي شرکت د تحويلخانې د کارکوونکي له لاسه دا سرپوښ لوېږي او منفجره کېږي او هغه وژني. که داسې وبولو چې د فدرالي لايسنس جوړول يو شرير عمل دی، آيا مک وې د شرارت د قتل مسوول دی؟ داسې ښکاري چې دا به ډير زيات وي او همدا وجه ده چې اکثره قضايي حوزو اوس د شرارت له مخې د جرم د مقرريې تطبيق يا د شرارت شديدو قضيواويواځې د شرارت خاصو قضيو ته محدود کړی دی لکه د ښځې پر حرمت تجاوز کول، غلا، اختطاف، اور اچول، کورنو ته د غلا په مقصد لويدل.

ځينو قضايي حوزو دا مقرره په بشپړه توګه لغوه کړيده او دا ډول قتلونه د بې احتياطۍ او بې پروايۍ د قتلونو په ډله کې شميري، پدې توګه که د شرارت عمل انساني ژوند ته د بې اعتنايي او بې تفاوتۍ څرګندوی وي، دا وژنه قتل بلل کېږي.

د ارادي قتل څخه تر په قتل د بشپړ اطمينان پورې او د زياتې بې احتياطۍ څخه بيا د شرارت تر قتل پورې هغه چوکاټ دی چې يوه وژنه د قتل په تعريف کې داخلېږي او د مسوولیت اندازه يې د قياس او تشابه له مخې ټاکل کېږي. د زياتې بې احتياطۍ له مخې عمل کول د ارادي عمل سره يو شان ندی، اما بيا هم يو ډير جدي عمل دی، او محکمې هغه د قتل په شان د سزا وړ بولي. اما بل ګام د قتلونو د بيلا بيلو شکلونو تر منځ توپير کول دی. آيا ځيني قتلونه تر نورو ډير جدي دي او او د زياتي او جدي سزا وړ دي؟ په خاصه توګه، آيا د قتل ټولو شکلونو ته بايد د مرګ سزا وټاکل شي، او يا يواځې ډيرو جدي قتلونو ته؟

پخوا به قتل په لمړۍ درجه او دوهمه درجه قتل ويشل کيدل، او يواځې به د لمړۍ درجې قتلونو ته د مرګ سزا ورکول کيده. د پنسلوانيا ايالت د ۱۷۹٤ کال د قانون له مخې په لمړي درجه قتل کې بايد قاتل په خپله خوښه، په ارادي او په شعوري توګه د وژلو پريکړه کړې وي. پدې معنې چې قاتل بايد په ډيره خونسردۍ او شعوري او آګاهانه توګه دا پريکړه کړې وي چې قتل وکړي. د پنسلوانيا قانون د قتل شکلونه چې د قتل د تعريف سره برابر وه مشخص کړي وه : " يعنې ټول هغه قتلونه چې د زهر د ورکولو يا قتل کولو ته د پټيدو له لارې صورت مومي ". د پنسلوانيا په قانون کې همدا شان هغه قتلونه چې د شرارت د شديد عمل په جريان کې به پيښيدل هم د لمړۍ درجې قتل په توګه سزا ټاکله. ټول نور قتلونه په دوهمه درجه قتل کې نيول شوي وه. لهذا ارادي قتلونه چې مخکنۍ فکر يا سنجش به يې نه درلود، د شديدې بې احتياطی له مخې قتلونه او د شرارت د قتل نور شکلونه د دوهمي درجې قتل بلل کيده او د مرګ سزا نه ورکول کيده.

یو څوک چې د زهر د ورکولو له لارې یو بل څوک وژني یا د بل چا د وژلو د پاره ځان پټوي، په څرګنډه توګه خپل پر عمل فکر کړی او هغه یې سنجولی دی، نسبت هغه چا ته چې په ارادي توګه یو څوک وژني اما خاص مخکنی فکر او سنجش یې نه وي کړي، د خاص محکومیت وړ دی. اما کله چې د قتل د قصد او مخکني فکر او سنجش فارمول و منل شو، د هغه د حدودو ټاکل ګران شو.

یوه میرمن چې هیله لري خپل میړه ته زهر ورکړي تر څو د هغه د بیمې څخه پیسې لاس ته راوړي او بیا د خپل محبوب سړي سره واده وکړي، ښایي دا قتل د څو اونیو په اوږدو کې پلان کړي. هغه باید د میړه د وژلو د پاره د زهر مقدار محاسبه کړي، په غیر قانوني توګه دا زهر لاس ته راوري، دا معلومات تر لاسه کړي چې څرنګه د زهر خوند ته تغیر ورکړي، او بیا داسې یو فرصت لاس ته راوړي چې زهر میړه ته ورکړي. پر ځای یې فرض کړئ همدغه ښځه، چې مخکې یې پر دې پلان فکر ندی کړی، د مانښام ډوډی پر میز اږدي او په ناڅاپي توګه فکر کوي چې که په غوښه کې یو څه د موږکانو زهر واچوي، پدې توګه به په آسانۍ سره د خپل میړه له غمه خلاصه شي. آیا دې دلته په قصدي او د مخکني فکر پر اساس عمل کړیدی؟ اکثره محکمې به دې پوښتنې ته د هو مثبت ځواب ووایي. فرض کړئ دا دوډی پر میز اږدي او په ناڅاپي توګه فکر کوي چې که خپل میړه ته هغه د خوړو بل غاب کښږدي، کولای شي هغه مړ کړي، ځکه د بل غاب په خوړو کې یوه مصاله ده چې میړه یې د هغه سره ډیر زیات حساسیت لري. دا قضیه د مخکې پلان شوي او سنجول شوي قتل سره ډیر زیات شباهت لري.

نمونه جزایي کوډ یا Model Penal Code د هغو ستونزو په خاطر چې د لمړۍ در جې او دوهمې درجې قتل په تشخیصولو کې شته، دا توپیر لغوه کړ او پر ځای یې د جرم د تشدید او تخفیف د عواملو یا Aggravating and mitigating factors یو لست وړاندې کړی ترڅو د جرم شدت وټاکل شي. دا د سزا د ټاکلو د پاره لازم بلل کېږي. د تشدید او تخفیف په عواملو کې د جنایت طبعت ته پاملرنه کېږي، یعني چې دا جرم د نقدي ګټې د پاره شوی او یا په ډیر شنیع، ظالمانه او بې رحمانه توګه تر سره شویدی چې د خاصې هرزه ګی او بداخلاقی څرګندوی دی. او یا هم تر داسې شرایطو لاندې شوی دی چې فکر وشی مدعي علیه به د هغه د پاره یوه اخلاقي توجیه او د سزا د تخفیف د پاره یوه بهانه ولري. پدې کوډ code کې همدا شان د مجرم په هکله ځیني واقیعتونو ته پاملرنه کېږي، لکه، آیا مجرم مخکې هم جرم کړیدی، د هغه عمر، او دهغه دا توان چې وشي کولای خپل د عمل په بدوالي اعتراف وکړي او هغه ومني. پدې توګه دا کوډ د جنایي جرمونو د تصفیې او تصحیح لمن لږ نوره هم پراخه کړیده، یعني نه یوائې د جرمونو تر منځ په عمومي توګه توپیر راولي، بلکه د جرم ځانګړي شرایطو او هغو اشخاصو ته چې دا جرمونه کوي هم پاملرنه کوي.

د جنایي قتلونو بل توپیر د عمدي قتل او غیر عمدي قتل تر منځ دی. بعضې وژنې په کافي اندازه شدیدې وي چې باید سزا ورکړل شي اما نه دومره شدید چې هغه عمدي قتل وبلل شي. دا هغه وژنې دي چې بیله کوم مخکني ناوړه فکر او نیت څخه کېږي. هغسې چې مو دمخه ولیدل پدې ډله کې ټول بیلا بیل بد اوډیر ناوړه شدید اعمال شامل دي چې غیر عمدي قتل هم په همدغه ډله کې راځي. په

غيرعمدي قتل کې هم د وژنې بيلال بيل شکلونه شامل دي خو يو توپير يې د اختياري او غير اختياري وژنې تر منځ دی.

د غير عمدي قتل يو مهم ډول چې د اختياري غير عمدي قتل په جمله کې راځي د قهر او غضب په وخت کې د يو انسان وژنه ده يعني چې يو څوک په توده وينه کې د يو چا وژولو ته تحريک شي او نه په سړه وينه کې چې هغه د عمدي قتل شرط دی. د اختياري غير عمدي قتل يو کلاسيک مثال هغه سړی دی چې کله کورته راځي خپله ميرمنه د يو بل سړی سره په بستر کې ويني او د حسادت او قهر او غضب له مخې هغه سړی په تفنګچه ولي. عنعنوي قاضيان پوهېږي چې د ښځې ميړه به د خپلې ميرمنې د بې وفايي څخه څومره ټکان خوړولی وي او يا پر خپل عزت او حرمت باندې ددې تجاوز په نتيجه کې به څومره په قهر شوي وي چې پر ځان به يې هر ډول کنټرول له لاسه ورکړی وي ; که څه هم د فاسق سړي وژل کوم د ستاينې او يا دبخښنې وړ کار ندی، خو لږ تر لږه د پوهيدو وړکار دی او نسبت عمدي قتل ته يې د جنايت اندازه لږ ده، که څه هم پدې عمل کې هم د قتل د کولو اراده وجود لري. دا مثال يو څه زوړ دی ، گ خو بيا هم د اختياري غير عمدي قتل غوښتنې څرګندوي : تحريک بايد دومره وي چې يو معقول سړی پر ځان کنټرول له لاسه ورکړي او د ويني د سړيدو وخت ونلري.

د معقول تحريک مفکوره يوه اندازه د تعجب وړ ده. د معقول انسان څخه د قانون منظور يو نمونه انسان دی ; معقول انسان کامل ندی، اما په ټولو حالاتو کې په خاصه توګه عمل کوي. آيا يو معقول سړی تر دې حده پر ځان کنټرول له لاسه ورکوي چې يو بل څوک ووژني؟ تحريک د جرم د تخفيف د عامل په توګه پيژندل هغه معيار چې قانون ټاکلی او د قانون توان چې د ناوړو اعمالو او سلوکونو مخنيوي وکړي له منځه وړي. ددې منل چې تحريک يو جرم د قتل څخه غير عمدي قتل ته را کښته کوي، اساسا" د انسان ضعف او سست والي ته د پاملرني او هغه ته د تفاهم د څرګندولو معني لري ; په ځينو سختو او شديدو حالاتو کې، د خلګو څخه نشو کولاي دا انتظار ولرو چې د قانون د غوښتنو مطابق عمل وکړي.

اما که پر دغه لاره ولاړ شو، ډير قتلونه ښايي وبخښل شي، همدا وجه ده چې جنايي قانون يواځي معقول تحريک ته پاملرنه لري. دلته مورِ بيا هغه اختلاف وينو چې په ځانګړو شرايطو کې د واقع کيدو او دداسې مقرراتو د منځ ته راوړلو ترمنځ چې هر ډول قضيو ته ځواب ووايي، وجود لري گ

د عامه قانون له مخې، محکمو هڅه کول د معقول تحريک د اشکالويوه ډله منځ ته راوړي. د هغه ميړه چې د خپلې ميرمني بې وفايي يې وليده، يو کلاسيک مثال وو. په نورو ډلو کې په جنګ او وهلو ټکولو کې شامل کسان او د جدي تيري قربانيان شامل وه. په عنعنوي توګه ساده خبرو معقول تحريک منځ ته نه راوړه. د مثال په توګه، يو چا به توهين يا ګواښ وکړ، يا به يې ميرمني ورباندې د بې وفايي تور ولګاوه چې مقابل لوري به په ځواب کې وژنه نه کوله. په وروستيو کې داسې تمايل ښودل کېږي چې په دواړو خواوو کې مسايل ځانګړي شي. که يو څوک د يو ځل د پاره د خپلې ميرمنې د بې وفايي شاهد وګرځي، دا ښايي د معقول تحريک د پاره کافي و نه بلل شي، اما کۀ څو واره ورته د بې وفايي په هکله وويل شي، دا ښايي د معقول تحريک علت وګڼل شي.

همدا اصل د تحریک او هغه ته د ځواب د وخت او زمان په برخه کې هم د تطبیق وړ دی. په توده وینه کې یعني د قهر او غضب په وخت کې وژنه، عمدي قتل غیر عمدي وژنې ته را کښته کوي.

که د وینې د سړیدو د پاره یو څه وخت تیر شوی وي، بیا د جنایت اندازه نشي را کښته کیدای. یو څوک ښایي د جنګ په وخت کې دومره په غضب راشي چې مقابل لوری ووژني، امامعقول سړی د غضب حالت ته داسې دوام نه ورکوي چې درې ورځې وروسته تر جنګ خپل مخالف لوری ووژني.

غیر اختیاري غیرعمدي قتل د انسان وژنې وروستی کټګوري ده. د قتل دپاره ناوړه مخکښ فکرهغه زیاته بې احتیاطي او بې تفاوتي هم ګڼل کېږي چې د انسانانو ژوند د خطر سره مخامخ کوي، لکه پر یو پیاده رو باندې چې د لارویو ډک وي او یو څوک په زیات سرعت موټر وچلوي. د تاوان په قانون کې د عادي غفلت یا بې احتیاطۍ د پاره مدني مسوولیت ټاکل کېږي، لکه یو څوک چې په موټر کې خپل کار ته ځي، یو شي خوري او سړک ته پام نه کوي او د یوې ترافیکې پیښې باعث ګرځي. د شدیدې بې باکۍ او جنایي سهل انګارۍ تر منځ په یو ځای کې د بې باکۍ او جنایي سهل انګارۍ یو بل ډول وجود لري چې هغه غیر اختیاري غیر عمدي قتل بولي. دلته د اختلاف اساسي برخه داده چې آیا جنایي سهل انګاري کافي ده او که بې باکۍ او بې پروایي ته هم اړتیا شته.

توپیر یې د خطر په درکولو او پوهیدلو کې دی. یو څوک چې انساني ژوند د یو لوی او نامعقول خطر سره مخامخ کوي، ښایي پدې خطر خبر نه وي ; هغه یواځې په مخکښ مورد کې په بې باکۍ عمل کړیدی.

ولې د جنسي تجاوز قانون ډیر د بحث وړ دی؟

جنسي تجاوز د جنایي قانون یو له هغو د بحث وړ برخو څخه دی چې په وروستیو کلنو کې یې په مطبوعاتو کې ډیر انعکاس موندلۍ او داسې برخه ده چې په هغه کې ډیر تغیرات او اصلاحات راغلي دي. د جنسي تجاوز لویې قضیې تل د مطبوعاتو او خلګو پاملرنه ځانته را ګرځوي. نارینه، ښځې او جنایي قانون د جنسي سلوک او د نارینه او ښځو د تغیر په حال کې رولونو په وړاندې څرنګه برخورد کوي؟ آیا نه تل د نه معنې لري او که د یوې ښځې څخه د یوه اندازه بې میلۍ او حتې مقاومت کولو انتظار او تمه هم ولرو؟

د جنسي تجاوز قانون ډیر ابعاد لري یعنې د جنایت د عناصرو څخه نیولې ترهغه ډول ثبوت پورې چې په محاکمه کې د وړاندې کولو وړ وي، او هر عنصر یې هم د تغیر په حال کې دی. د هرې بلې قانوني مسلې په شان، په هره خاصه قضیه کې پریکړه د قانون د دقیقو کلماتو او یا د قضایي حوزې د صلاحیت پر محور څرخي. دا په فکر کې وساتئ، خو موږ لمړی دا عمومي پوښتنې څیړو چې دا قانون چیرې وو، اوس چیرته دی او کومې لورې ته به ښایي ولاړ شي.

دا بحث د پنسلوانیا ایالت په یوه قضیه چې ډیره جنجالي او د بحث وړ وه پیل کوو. دا قضیه په ۱۹۹٤ کال کې د کامن ویلت او روبرت بیرکوویتس تر منځ وه. شکایت کوونکې د پوهنتون یوه محصله وه چې تر درس وروسته خپلې خونې ته چې په یوه لیلیه کې وه ولاړه او هلته یې یو ګیلاس مارتیني وچښل، وروسته د لیلیې سالون ته راکښته شوه اود خپل ملګري راتګ ته په انتظار وه. کله چې ددې ملګری را نه غی، دا یوې بلې لیلیې ته ولاړه چې خپل یو بل دوست چې ایرل هاسل نومیده ووینې. دې د هغه دروازه وټکوله، خو چا ځواب ورنکړ. دې د خونې د دروازې لاستې وخړخاوه او وپوهیده چې دروازه خلاصه ده. دا خونې ته ننوتله او وې لیده چې یو څوک په بستر کې بیده دی. شکایت کوونکې فکر وکړ چې دا هاسل دی، خو هغه د هاسل د خونې ملګری بیرکوویتس وو. بیرکوویتس ددې څخه غوښتنه وکړه چې یو لږ پاته شي او دې هم موافقه وکړه. هغه ددې څخه وغوښتل چې دده شا یو لږ وموږي، خو دې انکار وکړ. بیرکوویتس دې ته وویل چې ده ته نژدې پر بستر کښیني، خو دې دا کار هم و نکړ او د خونې پر مځکه کښیناسته.

بیرکوویتس وروسته پخپله ددې څنګ ته ورغی، ددې کمیس یې پورته کړ او سینه بند یې خلاص کړ او ددې د سینو په موږلو یې پیل وکړګ ده وروسته د خپل پتلون ځنځیر هم خلاص کړ او هڅه یې وکړه خپل تناسلي آله د هغې خولې ته ورکړي او هغې انکار وکړګ پدې وخت کې دواړه ودریدل، او بیرکوویتس دروازه قفل کړه. وروسته یې دا د خپل بستر خواته پوري وهله، ده دا د خپل بستر پر لور و نه غورځوله او صرفا" یې پوري وهله. وروسته یې ددې پتلون وکښې او سلتراج یې د یوې پښې څخه وکښې. بیرکوویتس په هیڅ توګه دا بندي یا توقیف نکړه او یواځې پردې پریوت، او دا یې تهدید هم نکړه. وروسته بیرکوویتس خپله تناسلي آله ددې فرج ته ور داخل کړګ شکایت کوونکي د جنسې عملیې په جریان کې نه نه ویل. وروسته تر جنسي عمل بیرکوویتس وویل، فکر کوم چې موږ دواړه ډیر هیجاني وو، خو هغې په ځواب کې ورته وویل، موږ هیجاني نه وو، یواځې ته هیجاني او له حاله وتلې وې.

آیا دا جنسي تجاوز وو؟ د پنسلوانیا ایالت سترې محکمې د عنعنوي قانون له مخې دې ته منفي ځواب ورکړګ د پنسلوانیا د جنسي تجاوز د قانون له مخې جنسي تجاوز هغه وخت منځ ته راځي چې یو سړی غیر له خپلې میرمنې څخه یوه بله ښځه په زور او جبر د جنسي عمل کولو ته مجبوره کړي. د محکمې په عقیده د شکایت کوونکې په شهادت کې نه د زور څخه استفادې ته اشاره شوې وه او نه دا په فیزیکي زور تهدید شویده. بیرکوویتس دا په زور نه وه څملولې اونه یې هم دا په زوره مجبوره کړې وه. دا چې دې د جنسي عمل په وخت کې نه نه ویل، یواځې ددې د رضایت لږوالی څرګندوي، اما دا نه څرګندوي چې بیرکوویتس د زور څخه کار اخیستی دی.

په ۱۹۹۲ کال کې په یو ورته قضیه کې چې د State in the interest of M.T.S په نامه یادېږي د نیوجرسي د ایالت سترې محکمې مخالفت وکړ. د نیوجرسي د محکمې د پاره مهمه مسله رضایت وو او نه زور. بیله موافقې او آزادې اجازې د جنسي دخول عملیه چې د رضایت پرته شوی وي په خپله د فیزیکي زور غوښتنه پر ځای کوي. ددې دوو نتیجو تر منځ توپیر څنګه توضیح کولای شو؟

د پنسلوانیا او نیوجرسي د ایالتونو د قوانینو افادو او کلماتو یو له بله توپیر درلود، اما دا توپیر دومره ډیر هم نه وو چې په نتیجه کې دومره لوی توپیر منځ ته راوړي. ددې توپیر د پوهیدلو لاره داده چې د پنسلوانیا محکمې د جنسي تجاوز د جرم په هکله قانون په عنعنوي مفهوم تطبیق کړ او د نیوجرسي محکمې یو نوی او معاصراصل تطبیق کړګ

په عنعنوي مفهوم سره د جنسي تجاوز په عملیه کې د زوراو یا د زور د تهدید څخه استفاده کېږي. داسې یوه جنسي عملیه چې د خطا ایستنې، تقلب او یا ددا سې ګواښونو له لارې چې خشونت آمیزه نه وي، جنسي تجاوز نه بلل کېږي. که یو سړی یوې ښځې ته خپله ډیره زیاته مینه او محبت څرګندې کړې او راز راز وعدې ورکړي او په نتیجه کې دا جنسي عملیې ته راوبولي، او یا یو ډاکتر یوې ښځې ته ووایي چې جنسي عملیه ددې د وینو د ناروغۍ د علاج د پاره ډیره ضروري ده، دا سلوک به ډیر د کرکې وړ وي، خو که جرم هم وبلل، د جنسي تجاوز جرم ندی. که د یو شرکت ریس خپلې مستخدمې ته ووایي، که زما غوښتنې و نه منې، له کاره به دې وباسم. دا ډول سلوک جنسي اذیت sexual harassment دی او نه جنسي تجاوز.

د جنسي تجاوز تعریف چې پر زور او جبر ولاړ دی د رضایت د نشتوالي د عنصر سره اړیکه لري او دا غوښتنه مطرح کوي چې قرباني باید د برید کوونکي په وړاندې تر وروستي سرحده مقاومت وښیي. اما د مقاومت دا غوښتنه له منځه ځي که دا مقاومت د هغه سخت او شدید ګواښ په وړاندې بې نتیجې وي. که جنسي تجاوز کوونکي د قرباني سر ته تفنګچه نیولې وي، ددې څخه د مقاومت د کولو غوښتنه نه کېږي.

په وروستیو کې د مقاومت غوښتنه تقریبا" له منځه تللې ده، که څه هم د ډیرو ځایو په قوانینو کې لا هم دا غوښتنه کېږي. اوسنۍ غوښتنه اکثره د معقول مقاومت یا جدي مقاومت غوښتنه ده، او نه تر وروستي سرحده پوري. د هاواي ایالت سترې محکمې دا مقرره داسې وړاندې کړه :

> " زمونږ په عقیده شکایت کوونکې باید د خاص حالت او شرایطو په پام کې نیولو سره د فیزیکي مقاومت هڅه وکړي. په هغه عواملو کې چې په نظر کې نیول کېږي د دوو خواوو نسبي فیزیکي توان او قوت، د شکایت کوونکې سن، د شکایت کوونکې فکري او فیزیکي حالت، او د تجاوز کوونکي د زور طبعت او اندازه ده ګ"

بعضې قضایي حوزو د مقاومت مقرره په بشپړه توګه لغوه کړیده او د هغو دلیل ددې کار د پاره ددوی نوی برخورد د جنسي تجاوز د جرم سره دی. یوه محکمه په یو عنعنوي نظر ښایي د مقاومت د ثبوت غوښتنه وکړي، ځکه د قرباني لخوا مقاومت د هغه زور او فشار په مقابل کې دی چې تجاوز کوونکی یې پر قرباني راولي، او په زوره جنسي عمل کول د جنسي تجاوز تعریف دی. اما په یوې نوي نظریه کې د جنسي تجاوز د اساسي مسلې په توګه رضایت ته پاملرنه کېږي او نه زور او خشونت ته. که جنسي تجاوز

پرته له رضایته جنسي عملیه ده، نو د قرباني مقاومت ښایي د رضایت د نه درلودلو علامه وي. که ښځه مقاومت ونکړي دا ښایي د رضایت علامه وبلل شي، اما نه په قطعي توګه ; د بیرکوویتس په شان قضیه کې څارنوالي کولاي شي ثابته کړي چې شکایت کوونکې سره لدې چې فیزیکي مقاومت یې نه دی ښودلی، په عمل کې ددې کار سره رضایت نه درلود.

د جنسي تجاوزد جرم سره ددې دوو برخوردونو اساس هغه پیچلی او متضاد تشخیص او ادراک دی چې د نارینه او ښځود جنسي سلوک په برخه کې وجود لري. مونږ ټول پوهېږو چې قانون پوهې سوزان ایستریچ حقیقي جنسي تجاوز څه بللی دی. " یو بیګانه سړی خپله تفنګچه د قرباني سرته نیسي، هغه په مرګ یا ژوبلولو تهدیدوي او بیا په جنسي عملیې پیل کوي. " اما د جنسي تجاوز اکثره ډولونه ددې نمونې سره توپیر لري، لکه ایستریچ چې یې تشریح کوي : " هلته چې د زور څخه استفاده نده شوې، یا قرباني په فیزیکي لحاظ نده ژوبله شوې، ګواښ په کلماتو ندی افاده شوی، او هلته چې دواړه خواوې یو بل پیژني او د دوی د ناستې ځاي کوم سړک یا چمن ندی بلکه د خوب خونه ده، او هلته چې د دوی لمړنی تماس د اختطاف او تښتونې له لارې ندی ټینګ شوي بلکه یو د بل سره د ملاقات د وعدې په نتیجه کې منځ ته راغلی دی، اوهلته چې ښځه یواځې نه وایي اما مقاومت نه ښکاره کوي ګ" پدې قضیو کې د هغه څه په هکله چې پیښ شوي وي پریکړه کول او هغه جنسي تجاوز بلل د هر چا په تشخیص او ادراک پورې اړه لري. د عنعنوي قانون د برخورد طرز ددې تشخیص او ادراک له مخې دی چې نارینه په جنسي مسایلو کې متجاوزه او ښځې برده باره او متحملې دي. ښځې دا مسوولیت لري چې د نارینه د تحریکولو څخه ډډه وکړي، او که د جنسي عملیې غوښتنه نه لري باید یوبل حالت منځ ته راوړي. د نارینه د جنسي غوښتنو په وړاندې د یوې ښځې مقاومت د عادي جنسي سلوک یوه برخه ده او نه ویل تل د نه معنې نلري. نوی او معاصر قانون پر دې مفکورې ولاړ دی چې ښځه د جنسي خپلواکی حق لري او دا د نارینه مسوولیت دی چې د جنسي عملیې په هکله د ښځې د رضایت څخه ډاډ ولري.

همدا د تشخیص او ادراک اختلاف د جنسي تجاوز د یوې بلې غوښتنې یعني د فکري حالت په برخه کې هم وجود لري. څرنګه چې جنسي تجاوز داسې یوه عملیه ده چې په هغه کې رضایت وجود نلري، آیا تیری کوونکی کولای شي په خپل دې غلط باور چې ګواکې ښځه راضي وه، د ځان دفاع وکړي؟ د ریګینا او مورګن قضیې ته په کال ۱۹۷۵ کې چې د ډیر بحث وړ موضوع وه، پاملرنه وکړئ. مورګن چې د انګلستان د سلطنتي هوایي ځواکونو غړی وو، د هوایي ځواکونو د درې نورو کارکوونکو سره یو ځای یو بار ته ولاړ. کله چې دوی د هغه شپې د پاره کومه ښځه پیدا نکړه، مورګن خپلو ملګرو ته وړاندیز وکړ چې ټول ددې سره کورته راشي او زیاته یې کړه چې ددې میرمنه به حاضره شي د دوی د ټولو سره جنسي عمل وکړي. ده نورو ته وویل چې ددې میرمن ښایي مقاومت وښیي او مبارزه وکړي، ځکه هغه یو څه وسواسي او عقده اي ده اود همدې لارې ددې سره دا کار کېږي. درې د هوایی ځواکونو کارکوونکو، سره لدې چې دې ښځې ډیر سخت مقاومت وښود، ددې سره جنسي عمل او نور جنسي کارونه وکړل. کله چې هغوی خپل کار وکړ، دا ښځه فورا" یو روغتون ته ولاړه او وې ویل چې پر دې جنسي تجاوز شویدی.

که د هوايي ځواکونو کارکوونکو د مورګن خبره منلي وي چې دده ميرمن د بهانې او تزوير له مخې مقاومت ښکاره کوي، آيا دوې د جنسي تجاوز مسوول دي؟ دې امکاناتو ته پاملرنه وکړی. لمړی، که په جنسي تجاوز کې دا غوښتنه کېږي چې مدعي عليه په آګاهانه توګه جنسي عمليه کوي او پوهېږي چې دی دا کار د مقابل لوري د رضايت پرته کوي، پدې صورت کې د هوايي ځواکونو د کارکوونکو دا باور ددوی د پاره يوه ښه دفاع ده، ځکه هغه خاصه اراده چې غوښتنه يې کېږي، وجود نلري. اما ډير کسان دا يو ډير بخښونکی معيار بولي. د ارادې عنصر هغه وخت وجود لري چې مدعي عليه په ډيره بي باکی او حتې سهل انګاری سره د قرباني رضايت نه درلودلو ته پاملرنه ونه کړي. يو معقول ډاډ او باور پدې هکله چې ښځه رضايت لري، ښايي مدعي عليه ته برائت ورکړي- لکه د بيرکوويتس په قضيه کې - اما يو نامعقول باور به دا برائت ورنکړي. د مورګن په قضيه کې، حتې که د هوايي ځواکونو کارکوونکو د خپلې ميرمنې په هکله د ښاغلي مورګن خبرې منلې هم وي، ددوی د پاره دا غلط وو چې دا کار وکړي.

د اشتباه او غلطی مسله قسما" د جنايي قانون څخه د هر چا په برداشت اود جرمونو د خاصو عناصرو په برخه کې چې بايد د څه ډول فکري حالت غوښتنه وشي راسربيره کېږي. اما د يوې عملي موضوع په توګه دا هغه اختلاف څرګندوي چې د جنسي سلوکونو په برخه کې وجود لري او مونږ مخکې هغه ته اشاره وکړه. که يوه محکمه يا منصفه هيئت پدې عقيده وي چې ښځې تل په جنسي عمليه کې تقلبي مقاومت کوي او نه د هو معني لري، پدې صورت کې به دوی د رضايت په هکله د مدعي عليه د اشتباه بخښلو ته اراده څرګندې کړي، يا د قانون له مخې او يا د قضيې د خاصو حقايقو له مخې. اما که د بلې خوا، يو څوک د جنسي خپلواکی په هکله انديښنه ولري، د رضايت د نشتوالي د ثبوت په ارزيابی کې به دهغه معيارتطبيق ډير مناسب وي چې لږ تر لږه د مدعي عليه د معقوليت غوښتنه کوي.

اشتباه پر ماشومو انجونو باندې د جنسي تجاوز په مسله کې statutory rape هم وجود لري. په دې تجاوز کې هغه جنسي سلوک چې د کم سنو انجونو سره کېږي يو جنسي جنايت بلل کېږي، مخصوصا" که مدعي عليه يو زوړ سری وي. که يو بالغ سړی فکر وکړي هغه ښځه چې ده ورسره جنسي عمل کړيدی اتلس کلنه ده، اما هغه څورلس کلنه وي، آيا ده د قانون ضد عمل کړيدی؟ په عنعنوي توګه ددې پوښتنې ځواب هو دی. پر ماشومو انجونو باندې د جنسي تجاوز قانون داسې تيري د شديد مسوولیت اعمال بولي او دا د هغه بيګناه او معصومو انجونو د ساتنې د پاره دی چې لا د سن په لحاظ پدې حالت کې ندي چې د جنسي عملیې سره رضايت وښيي او د انجلی د سن په هکله اشتباه کول يو د اعتبار وړ دفاع نده. په وروستيو کې يو شمير قضايي حوزو دې قانون ته تغير ورکړی تر څو د معقولې اشتباه دفاع ته اجازه ورکړي.

د جنسي سلوک په هکله مختلف تصورات د جنسي تجاوز په قضيو کې د اثبات پر مسايلو هم اغير کړيدی. عنعنوي مفکوره د جنسي تجاوز د شکايتونو په هکله بدګماني څرګندوي او خپله دا بدګماني يې په هغو درو مقرراتو کې څرګندې کړيده چې د داسې شکايتونو تعقيب د ستونزو سره مخامخ کوي

لمړی، د تازه شکایت مقرره وه fresh complaint rule چې د قرباني څخه يې غوښتنه کول چې تر پيښې وروسته ډيرژر پدې هکله خبرورکړي. دوهمه يې د تاييد او اثبات مقرره يا Corroboration rule دی چې وايي مدعي عليه يواځې د قرباني په داسې شهادت چې نه وي تاييد شوی نشي محکوميدلای، او دريم، د قرباني د پخواني جنسي سلوک د تاريخ په هکله د اسنادو او شواهدو وړاندې کول. دا مقررات چې د جنسي تجاوز په برخه کې د غلطو شکايتونو په هکله ژوره بدګماني څرګندوي، ډير د بحث او جنجال وړ دي او اکثره قضايي حوزو هغه لغوه کړيدي.

دريمې مقررې ته په لنډه توګه پاملرنه وکړئ چې د جنسي تجاوز د مخنيوي قوانينو يې ځای نيولی دی. په محاکمه کې د دفاع وکيل ښايي وغواړي د قرباني د جنسي سلوک د تاريخ په هکله دوه ډوله اسناد وړاندې کړي. ددې او د مدعي عليه تر منځ د پخواني جنسي اړيکو، او د قرباني او نورو نارينه وو ترمنځ د پخواني جنسي اړيکو يعنې د دې د عمومي بې عفتۍ په هکله. لمړی يې د رضايت د مسلې د پاره اهميت لري.که دوی پخوا هم جنسي اړيکې درلودلي وي، نو ډير احتمال شته چې د بحث وړ نژديوالۍ به هم د دواړو په رضايت شوي وي. دوهم يې يواځې هغه وخت اهميت لري که يو څوک پدې نظر وي چې يوه ښځه چې پخوا يې جنسي عمل کړيدی ډير امکان لري چې د راتلونکو داسو پيښو سره هم رضايت وښيي. ددې ډول برخورد اغيز دادی چې قرباني محاکمې ته را وکښل شي، او پدې توګه به بيا څوک د جنسي تجاوز په هکله شکايت ونه کړي. همدا وجه ده چې ډيرو قضايي حوزو دا مقررات له منځه وړي دي.

۹

د بیګناه ساتنه
د مجرم آزادول
جنايي طرزالعمل

تاسو ښايي د قانون او حقوق د يوې بلې برخې په پرتله د جنايي طرزالعمل او د جنايي عدالت د سيستم په باره کې په ډيرو شيانو وپوهېږی. د مشهورو او بدنامو جنايت کارانو په هکله خبري رپورټونه او د پوليس عمليات چې جنايي مسايل هره شپه د تلويزيون له لارې د امريکاييانو د کورونو سالونونو ته راوړل کېږي او خلک په خبرېږي. حتې د کوچني ماشومانو هم د ميراندا د خبرتيا متن له ياده زده دی، اما نه پوهېږي چې دوی د متحده ايالاتو د سترې محکمې يوه نظريه تفسيروي چې وايي : "هر هغه څه چې ته يې وايې، دهغه څخه به د قانون په محکمه کې ستا پر ضد استفاده وشي "

جنايي طرزالعمل د حقوقو هغه ساحه ده چې تر ټولو زيات بحث وربانديې کېږي او دا همدا شان يو له ډيرو مهمو برخو څخه ده. د حقوقو نيمايي برخه چې د حقوقو په اعلاميه کې راغلي ده د جنايي طرزالعمل په برخه کې ده، ځکه دا داسې يوه ساحه ده چې په هغه کې د دولت عالي ترين قدرت تمثيلېږي، يعني هغه واک او قدرت چې د يو چا څخه د هغه آزادي او يا ژوند اخلي. پدې فصل کې دا جريان څېړو او وبه ګورو چې دا قدرت څنګه تنظيم شويدی.

جنايي طرزالعمل څه شی دی؟

جنايي طرزالعمل چې جنايي دعوې يا د جنايي عدالت سيستم هم بلل کېږي، هغه ميکانيزم دی که د هغه له لارې د جرمونو په هکله تحقيقات صورت مومي، د جنايت کارانو پر ګناه قضاوت کېږي او د هغوي د پاره سزا ټاکل کېږي. پدې بهير کې پوليس، څارنوالان، د دفاع وکيلان او محکمې، ددوي اجرااات او هغه طرزالعملونه چې دوی ورځخه کار اخلي او هغه قانوني مقررات چې د دوی فعاليت د هغه په چوکاټ کې پر مخ بيول کېږي، ټول شامل دي. په جنايي دعوې کې يو فرد د دولت او دهغه د ټولو منابعو او صلاحيت په مقابل کې ولاړ او د خپل عمل ځواب وايي او يواځې د جنايي دعوې له لارې د دولت ترټولو سخت او جدي سزاګانې، د بند يا د مرګ سزا تطبيق موندلای شي.

جنايي قانون، چې په مخکني فصل کې مو وربانديې بحث وکړ، د جنايي سلوک تعريف کوي او د جنايي سلوک د پاره سزا ټاکي. جنايي طرزالعمل په عمل کې جنايي قانون په کار اچوي ; هغه سزا ګاني چې په جنايي قانون کې تعريف شوي دي، يواځې هغه وخت اغيزمن دي، چې جنايي طرزالعمل دا سزاګاني پر هغو کسانو چې قانون يې نقض او تر پښو لاندې کړيدی، تطبيق کړي. په عين زمان کې، د جنايي طرزالعمل هدف دادی چې جنايي سزاګاني يواځې پر هغو کسانو تطبيق شي چې مقصر او مجرم وي او هغه هم د داسې يو طرزالعمل له لارې چې منصفانه بلل شوي وي. د جنايي دعوې يو هدف دادی چې مقصر ته سزا ورکړي، اما نور اهداف يې بيا دادي چې د بيګناه ساتنه وشي او پاملرنه وشي چې حتي د حکومت د تيريو څخه مجرم هم وژغورل شي.

که څه هم مونږ د جنايي دعوي په هکله خبرې کوو، په هر ايالت او فدرالي محکمو کې نور بيلا بيل سيستمونه هم شته. هر سيستم بيا د څو قانوني اورګانونو تر څارنې لاندې دی. اکثرو ايالتونو د جنايي طرزالعمل د پاره قوانين تصويب کړيدي چې د نورو پخواني اصولنامو، مقرراتو او قضايي پريکړو ځاي چې د جنايي عدالت بهير په کې تعريف شوی دی ونيسي. دا نوي قوانين هر اړخيز مقررات دي چې د دعوې جوړښت د نيول کيدو څخه نيولې بيا تر تميز غوښتنې پوري په کې تنظيم شويدی. ددې قوانينو د تکميل د پاره، د ايالتونو سترو محکمو اکثره د خپل صلاحيت څخه په استفاده سره دجنايي طرزالعمل نوي مقررات منځ ته راوړي چې په هغه کې د جنايي دعوي د پر مخ بيولو څرنګوالۍ نور هم مشخص شوی دی. په عين توګه، په فدرالي محکمو کې جنايي قضيې د هغوقانوني مقرراتو له مخې چې د کانګرس لخوا تصويب شوي او د جنايي طرزالعمل د فدرالي مقرراتو له مخې چې د متحده ايالاتو سترې محکمې منځ ته راوړي دي فيصله کېږي.

اما د يو ډير مهم نقطه نظر څخه د جنايي عدالت ټول ايالتي او فدرالي سيستمونه سره ورته دي. ددوی د ټولو څخه غوښتنه کېږي چې د فدرالي اساسي قانون د غوښتنو مطابق عمل وکړي. فدرالي محکمې البته تل د اساسي قانون د غوښتنو تابع دي، اما د شپيتمې لسيزې راهيسې د جنايي طرزالعمل قانون په اساسي قانون کې نيول شويدی. دا جنايي طرزالعمل په انقلاب کې دوه مهم ګامونه واخيستل شول : سترې محکمې د حقوقو په اعلاميه کې د منصفانه دعوې درج شوي ضمانتونه ايالتونو ته ورکړل، او په دعوې کې يې، دا ضمانتونه نسبت پخوا ته په ډيره پراخه توګه تفسير کړل.

سترې محکمې اساسا" پریکړه کړیوه چې دحقوقو اعلامیه د فدرالي حکومت صلاحیتونه محدودوي، نه د ایالتونو دا. د بیا رغونې ضمیمې مخصوصا" څورلسمي ضمیمې وضعیت ته په بشپړه توګه تغیر ورکړګ پخواني غلامانو ته د تابعیت د حق او د مساوي حقوقو د ورکولو سربیره، څورلسمې ضمیمې په صراحت سره هر ایالت منع کړ چې د قانوني منصفانه دعوې پرته، یو څوک د ژوند، آزادۍ او یا مالکیت د حق څخه او یا هم د قانون د مساویانه ساتنې د حق څخه محروم کړي.

هغه وظیفه چې محکمه ورسره مخامخ شوه دا وه چې وټاکي چې د حقوق د اعلامیې کومې ساتني پدې مبهمو دستورونو کې شاملې دي. د وخت په تیریدو سره محکمې د انتخابي ترکیب یا selective incorporation یو معیار ومانه. څورلسمي ضمیمې د حقوقو په اعلامیه کې درج شوي ټول ضمانتونه یو ځای او متحد نکړل، بلکه په انتخابي توګه یې هغه ساتنې او ضمانتونه چې د اَنګلو امریکایي Anglo-American د دستوري آزادۍ د رژیم د پاره لازم بلل کیدل، یوځای کړل. دا حقیقت چې یو ضمانت یا ساتنه د حقوقو په اعلامیه کې شامله ده پخپله ثابتوي چې همدا دریځ لري. په حقیقت کې، انتخابي ترکیب هم په بشپړه توګه انتخابي ندی. ددې معیار له مخې ټول هغه ضمانتونه او ساتنې چې د حقوقو په اعلامیه کې راغلي دي اساسي او بنیادي ګڼل شوي دي. یواځنۍ استثنې د لوی منصفه هیئت لخوا یو چاته د سزا ورکولو حق دی.

ایالتونو ته د حقوقو د اعلامیې د ضمانتونو ورکول کوم خاص اهمیت نلري مګر داچه دا ضمانتونه پراخه معنې ولري. په ۱۸۸٦ کال کې د بوید او د متحده ایالاتو تر منځ قضیه کې، محکمې خپل دا مکلفیت درک کړ چې په اساسي قانون کې درج شوي ساتني او ضمانتونه لکه څلورمه او پنځمه ضمیمه آزادانه او پراخ تفسیر کړي تر څو د فرد او ملکیت د امنیت ساتنه وشي. د جنایي طرزالعمل د قوانینو د محدود تفسیر نهضت په ۱۹۲۰ کلنو اووروسته په شپیتمه لسیزه کې ډیر ګړندی او پیاوړۍ شو.

ایالتي اساسي قوانینو هم په قضایي طرزالعمل کې یو مخ په زیاتیدو رول لوبولی دی. ایالتي محکمې تل خپل اساسي قوانین داسې تفسیروي چې خپلو اتباعو او جنایي مدعي علیهما ته تر هغو حقوقو چې په فدرالي اساسي قانون کې یې ضمانت شویدی، زیات او پراخ حقوق ورکړي.

اما د جنایي طرزالعمل قوانین او اساسي قانون د جنایي عدالت د بهیر یواځې یو بعد جوړوي. د برخه اخیستونکو اقدامات او د سیمه ایز سیستم فرهنګ هم پدې کې چې دا بهیر په عمل کې باید څنګه کار وکړي، مهم او قاطع رول لوبوي. څوک د پولیس د مامور په توګه انتخاب شویدی؟ دا مامور د یوې ترافیکي پیښې په وخت کې څنګه چلند کوي، او که د کورني دعوې د پاره وغوښتل شي، د مخدره موادو د خرڅوونکو سره، او که د ځوانانو سره مخامخ شي او یا هم دهغو خلکو سره چې تحقیق ورسره کېږي څنګه چلند کوي؟ څارنوالان چې خلک د کوچنیو جرمونو په کولو تورن کوي، یا یې د خوشې کیدو د پاره مالي ضمانت غواړي یا د مجرم د بخښل کیدو په هکله راکړه ورکړه کوي، څنګه دا کارونه پر مخ بیایي؟ قاضیان څوک دي او څنګه قاضي کېږي؟

آیا د عامو ګټو د دفاع اداره په جدي توګه خپل وظایف پر مخ بیایي؟ څنګه تمویل کېږي؟ داسې پوښتنو ته ځواب مونږ ته لږ تر لږ دا مسله روښانه کوي چې دا سیستم څنګه کار کوي لکه د سترې محکمې وروستنۍ پریکړه چې یې کوي. د جنایي طرزالعمل قانون داسې جوړ شوي چې ددې ټولو عاملینو یا پدې بهیر کې د شاملو کسانو سلوک تنظیموي، اما د سلوک د څارنې او کنټرول د پاره د قانون توان محدود دی.

ولې مونږ جنایي طرزالعمل ته اړتیا لرو؟

فرض کړئ چې مونږ دا سې مقررات ولرو چې په هغه کې ځیني سلوکونه جنایي بلل شوي وي، اما پولیس، څارنوالان، محکمې نه وي چې دا مقررات تطبیق کړي. که جنایت کاره د نیول کیدو او تعقیب څخه و نه بېرېږي، دوي به د جنایاتو دکولو څخه ډډه و نکړي او په ټولنه کې به داسې احساس منځ ته راشي چې ګواکې مونږخطا کاره کسانو ته د سزا ورکولو په برخه کې جدي نه یو.

د بلې خوا، فرض کړئ چې مونږ غواړو د جنایت ریښې او جړې را وباسو. مونږ کولای شو یو جنایي بهیر منځ ته راوړو چې هغه د امکان تر سرحده مخ ته ولاړ شي، د جنایاتو په هکله تحقیقات وکړي او جنایت کارو ته سزا ورکړي. پولیس وشي کولای د هرچا تلفوني خبرو ته غوږ ونیسي، هر شکمن سړي پر سړک ودروي او تلاشي یې کړي، هر کور یا اداري ته بیله اجازې ننووزي او هر شکمن د وهلو او ټکولو له لارې اعتراف کولو ته مجبوره کړي. په محکمه کې مدعي علیه ته د دفاع وکیل د ټاکلو اجازه ورنکړي، او یواځې څارنوال قضیه وړاندې کړي، او قاضي هم په ډیرو سطحي دلایلو مدعي علیه محکوم په سزا کړي.

روښانه ده چې یو ددې حالاتو څخه به د تحمل او زغم وړ نه وي. مونږ یو جنایي بهیر ته اړتیا لرو چې د جنایت د کنټرول د پاره د جنایاتو په هکله تحقیقات وکړي، هغه کسان چې د جنایاتو په کولو تورن دي ونیسي او ددوي د تقصیر یا بې ګناهي په هکله قضاوت وکړي. اما دا بهیر باید زمونږ په آزاده ټولنه کې زمونږ د ارزښتونو او دودونو سره مطابق او موافق وي. دغه د هدفونو اختلاف د قانون د محتوې په هکله بحثونه منځ ته راوړي. یعني پولیس، څارنوالانو او محکمو ته باید د څومره پرمختګ اجازه ورکړل شي؟ ددې د پاره چې پردې موضوع فکر وکړو، مونږ دې ته اړتیا لرو چې په تفصیل سره هغه د ارزښتونو اختلاف وڅیړو چې مونږ ته په جنایي طرزالعمل کې په میراث پاته دي.

د جنایي طرزالعمل لمړۍ ارزښت د حقیقت پلټل دي. په جنایي طرزالعمل کې باید هغه کسان چې په جنایاتو یې لاس پوري کړیدي وپیژندل شي، ونیول شي او سزا ورکړل شي، اما هغه کسان چې په جنایاتو یې لاس ندي پوري کړي باید تبرئه شي. د حقیقت پلټنه د جنایي طرزالعمل په هره مرحله کې یو مهم ارزښت دی. دا یقینا" د محاکمې په وروستۍ مرحله کې یعني د ګناه او یا بیګناهي په ټاکلو کې ډیر مهم دي، اما د دعوې د بهیر په لمړني مرحلو کې هم اهمیت لري. پولیس باید په دقیقه توګه وټاکي چې څه

وخت د یو جنایت په هکله د تحقیق یا د یو خاص سړي د نیولو د پاره کافي دلایل شته، او څارنوالان باید وپوهېږي چې څه وخت خپل اتهام د یو چا پر ضد محکمې ته وړاندې کړي.

دا سیسټم دې ته هم اړتیا لري چې حقیقت په اغیزمنه توګه وپلټي. سره لدې چې منابع محدود دي او یقینا" چې اشتباهات هم کېږي، مونږ غواړو چې دا سیسټم د جنایي قانون په تطبیقولو کې په ښه او معقوله توګه کار وکړي. څرنګه چې منابع محدود دي، مونږ نشو کولای یو کامل سیسټم ولرو، اما پولیس باید یوزیات شمیر جنایات حل کړي، او محکمې هم نشي کولای د هغو کسانو په محکومولو کې چې محاکمې ته را بلل کېږي، ډیره اشتباه وکړي.

اغیزمنتوت ته پاملرنه کول حکم کوي چې پولیس او څارنوالان باید د یوې دعوې په پیل کې وټاکي چې کوم تورن کسان احتمالا" په جنایت کې لاس نلري او دا کسان د دعوې د بهیر څخه وباسي. او هر پاته څوک باید ژر او په موثره توګه د وروستي محکومیت د پاره د دعوې بهیر ته داخل کړل شي.

داسې به فکر وکړو چې پولیس، څارنوالان او محکمې د مقصر او بیګناه په جلا کولو کې ډیر ښه دي، نو اکثره تورن شوي کسان چې د دعوې بهیر ته ور شامیلېږي، په حقیقت کې ګناګاره دي. لهذا دا به معقوله وي چې ددې بهیر عاملین پریښودل شي خپل کار د طرزالعملونو له لارې چې د کار د عادي جریان د پاره وجود لري او رسمي ندي پرمخ بوزي. د مثال په توګه، پولیس باید د جنایت په هکله د څېړنو په کولو، د اسنادو او شواهدو په لاس ته راوړلو، یا د شکمنو کسانو څخه د تحقیق په کولو کې د درنو او طاقت فرسا طرزالعملونو یا ډیرو تخنیکي غوښتنو تر بار لاندې رانشي، یعني داسې بارونه چې د حقیقت په موندلو کې د سیسټم توان له منځه وړي.

اما دا سیسټم باید ډیر اغیزمن او موثر هم نه وي. د حقیقت پلټنه یو غیر کامل بهیر دی او کیدای شي چې په اغیزمنه توګه د حقیقت پلټنه یو خطرناکه بهیر وي. منابع محدود دي او د پولیس، تحقیق کوونکو، وکیلانو او قاضیانو د پاره د منابعو محدودیت پدې معنې ده چې اشتباهات به وشي. په حقیقت کې، حتې یو ډیر ښه او په کافي اندازه تمویل شوي سیسټم به هم اشتباه او غلطي وکړي. نو که اشتباه او غلطي کېږي، باید ډیره هڅه وشي چې د بیګناه د محکومیدو څخه ډډه وشي. د بیګناه محکومیدل پدې معني ده چې یو مسوول او ګناه ګاره سړي خوشې کېږي.

لدې نظره، غیر رسمي او عادي طرزالعملونه په خاصه توګه خطرناکه دي. پولیس، څارنوالان او قاضیان د ډیرو جناياتو سره مخامخ کېږي او بیا په هر ځای او هرشي کې جنایت ویني. مونږ د دوي د سلوک د څارنې د پاره مقرراتو ته اړتیا لرو، داسې قاضیانو ته اړتیا لرو چې په ډیر احتیاط دا مقررات تطبیق کړي، او نورو قاضیانو ته اړتیا لرو چې پر دې پریکړو څارنه یا تجدید نظر وکړ ي. دا حالت مونږ دې ته رهنمایي کوي چې د قانوني ساتنې یو مخالف سیسټم منځ ته راوړو چې هغه د اشتباهاتو او تیریو د اصلاح د پاره تطبیق شي، که څه هم دا ساتنې د هغو کسانو د خوشي کیدو باعث هم وګرځي چې په حقیقت کې په جرم کې لاس لري.

دا اختلاف یواځې د حقیقت د پلټنې او اغیزمنتوب تر منځ ندي. د جنایي عدالت په سیسټم کې، دولت د یو فرد په وړاندې د خپل پراخ واک او قدرت څخه استفاده کوي. اما خلک د جنایت د کنټرول ستونزه او پرابلم ندي چې باید د بیروکراتیکو طرزالعملونو له لارې ورسره چلند وشي. د فرد کرامت او حرمت او د هغه موقف د جنایي طرزالعمل اساسي ارزښتونه دي.یو فرد ته جنایي سزا یواځې وروسته له یوې دعوې څخه ټاکل کیداي شي چې په هغه کې دده کرامت او موقف ته درناوي وشي، که څه هم دا بهیر ډیر ورو او طاقت فرسا وي او احتمالا" ددې فرد په برخه کې د محکمې لخوا اشتباه هم وشي.

ددې د پاره چې د یو چا د غلط یا اشتباهي محکومیت څخه مخنیوی وشي او د فرد حرمت ته درناوی وشي، مونږ د بیګناهۍ یوه فرضیه لرو. دا ښایي د حقایقو له مخې درست وي چې یو څوک چې د هغه څخه پولیس تحقیقات کړي، بندي شوی او د څارنوال لخوا متهم شوي دي، احتمالا" ګناګاره وي، اما د قانون له نظره دا احتمال اهمیت نلري. برعکس تورن شوی نفر د دعوې په ټول بهیر کې، تر هغه دمه چې دده محکومیت اعلانېږي، په قانوني لحاظ بیګناه ګڼل کېږي. دا د دولت د پاره یو درونده بار دی چې دا فرضیه رعایه کوي او باید ددې کار په کولو کې د ټولو مقرراتو پیروي وکړي.

مخالف بهیر او د بیګناهۍ اصل د یو بل هدف د پاره دی. مونږ حق لرو په جنایي دعوې کې د دولت د ستر قدرت د غلطې استفادې څخه وبیرېږو، او په خاصه توګه دا اندیښنه هم شته چې دا قدرت به په غیر مساوي توګه تطبیق شي. پولیس، څارنوالان او محکمې پدې برخه کې چې څنګه ددې قدرت څخه استفاده وکړي د زیات احتیاط او بصیرت څخه کار اخلي، اما د امریکا تاریخ د داسې پیښو څخه ډک دی چې په هغه کې ددې قدرت څخه د مسکینانو، اقلیتونو او نورو ډلو په زیان او ضرر استفاده شویده.

څرنګه په جنایي طرزالعمل کې دا مختلف اهداف اندول کوو؟ آیا غواړو چې دا د یو روان بهیر شکل ولري او یا د ستونزو او موانعو د هوارولو یو بهیر وي؟ ددې اهدافو تر منځ اختلاف پدې اړه چې مونږ باید څه ډول جنایي طرزالعمل ولرو ، هغسې چې زمونږ د قوانینو مجموعه یې منځ ته راوړیده، هر ډول استدلال هم منځ ته راوړي.

په عمومي توګه ددې سیسټم د برخه اخیستونکو او د جنایي طرزالعمل د علماوو تر منځ پدې هکله چې مسایل ډیر ګډوډ دي موافقه وجود لري. دې اختلاف د قوانینو یوه مجموعه منځ ته راوړیده چې متناقض دي او د پیشبینۍ وړ ندي. پدې فصل کې، هغسې چې تاسو پوهېږی چې مقررات باید څنګه وي، دې ته پاملرنه وکړئ چې په جنایي طرزالعمل کې د اهدافو د اختلاف په موجودیت کې، آیا دا به اساسا" ممکن وي چې روښانه مقررات ولرو.

په جنایي دعوې کې کوم ګامونه اخیستل کېږي؟

دمخه تر دې چې د جنایي طرزالعمل جزییات وڅیړو، لمړی به په بیړه د دعوې مختلفو مراحلو ته پاملرنه وکړو. د دعوې بهیر په مختلفو ایالتونو او په فدرالي سیسټم کې یو د بل خخه توپیر لري، او په

سیستم کې هره قضیه په عین توګه پر مخ نه ځي.، اما ددغه تشریح او تعریف څخه تاسو د یوې قضیې د پر مخ بیولو د لارې تخمین کولای شی.

جنایي دعوې، البته د یو جرم په کیدو یا په دقیقه توګه د چارواکو لخوا پر یو چا د یو جرم د کولو په شک پیل کېږي. د 11-7 په نامه د خوراکي موادو د خرڅولو یوه مغازه غلا شویده، یا د پولیس مامورپخپله د پیښې په ځای کې حاضر دی او ددې جرم شاهد ګرځي او یا په عامه توګه، قرباني (چې دلته د مغازې مالک) دی پولیس ته ددې پیښې په هکله خبر ورکوي. د پولیس د پاره لمړۍ ګام دادی چې د جنایت په هکله تحقیقات وکړي : د بالقوه شاهدانو څخه پوښتنې وکړي، په مغازه کې د امنیتي ویدیویي کمرې فلم وګوري، د جرم د ځای څخه نور اسناد او شواهد لاس ته راوړي، او دا جرم د نورو ورته پیښو سره مقایسه کړي. په تحقیقاتو کې ښایي یو شکمن سړي ته پاملرنه وشي. راشئ هغه بوګسيBuggsy وبولو. پولیس ښایي وغواړي د هغه څخه د جرم په هکله پوښتنې وکړي. پولیس ښایي دی پر سړک ودروي، یا یې کورته ولاړ شي اود هغه څخه د تحقیق کولو په مقصد هغه په موقتي توګه توقیف کړي.

که د 11-7 مغازې ته یو وسله وال غل ورلویدلی وي، او یا نور داسې دلایل وجود ولري چې فکر وشي بوګسي ښایي وسله ولري، پولیس ښایي په ډیره بیړه دی را وځملوي، دده څخه کالي وکاږي تر څو ډاډ تر لاسه کړي چې ده وسله نده پټه کړې او د پولیسانو ژوند د خطر سره نه مخامخ کوي. د پولیس سره دا ډول مخامخ کیدل ښایي ډیر ځورونکی، نابللې او خفه کوونکي وي، اما پولیس د شکمنو کسانوتر نیولو او حبسولو مخکې د دا ډول چلند اجازه لري.

په نورو قضیو کې ښایي تحقیقات نور هم پیچلي وي. په قتل کې، د مثال په توګه د جنایت په ځای کې علمي تحقیقات ښایي ډیر پراخ او مفصل وي او پر قرباني باندې د عدلي طب معاینات تر سره شي. د باخبرو کسانو څخه پوښتنې وشي، د قرباني سره تلفوني او نور تماسونه وڅېړل شي او د پیچلو جنایي پیښو د تحقیقاتو د پاره د قرباني پر بدن نور ډول عملیات وشي.

له همدې ځای څخه وروسته به یو لړ نور تحقیقات هم وشي تر څو وټاکل شي چې آیا پر بوګسي په رسمي توګه جنایي دعوې کیداي شي او که نه؟ کله چې دی دې بهیر ته ورداخل شو، آیا بیا به وشي کولای د هغه څخه بیرته ووځي؟ (تر هغه چې بوګسي پدې سیستم کې پاتې کېږي، دده د جرم په هکله تحقیقات به ښایي نور هم دوام وکړي ؛ پولیس او څارنوالان ښایي نور اسناد او شواهد لاس ته راوړي چې په محاکمه کې دده پر ضد استفاده ورڅخه وکړي)

کله چې د تحقیق مامور وپوهید او پدې باور شو چې بوګسي د 11-7 په مغازه کې غلا کړیده، بوګسي به بندي کړي. بوګسي توقیف ته بیول کېږي. (په کوچني جرمونو کې مجرم نه توقیف کېږي). په توقیف کې د مجرم نوم او دده په اړه نور معلومات ثبت کېږي، د ګوتو نشان او عکس یې اخیستل کېږي، تلاشي کېږي او بیا دروازه ورپسې قفل کېږي. (بیا هم په کوچنیو جرمونو کې مجرم خوشې کېږي او هغه ته ویل کېږي چې باید په معین وخت کې د قاضي حضور ته حاضر شي).

په بل ګام کې باید وټاکل شي چې آیا بوګسي په رسمي توګه د جنایت په کولو متهم شي، او که هو، په کوم جنایت. اتهام په معموله توګه د شکایت په پاڼه کې ثبت کېږي. پدې سند کې تشریح کېږي چې بوګسي د کوم جرم په کولو متهم دی او ددې اتهام د پاره کوم حقایق وجود لري. د اتهام د واردولو پریکړه معمولا" د پولیسو یو لوړ پوړی مامور، یا څارنوال او یا هم دواړه کوي. هغه څوک چې د اتهام د واردولو پریکړه کوي ښایي پر بوګسي اتهام وارد نکړي، او یا هم د یو لړ دلایلو له مخې هغه په یو بل جرم متهم کړي. دی ښایي پریکړه وکړي چې موضوع د یوې بلې لارې سره حل کیدای شي. که بوګسي د مثال په توګه یو ماشوم وي چې په 11-7 مغازه کې یې د خوږو شیانو یوه خلته غلا کړې وي، پولیس ښایي هغه د هغه مور او پلار ته خوشې کړي او هغو ته یو جدي نصیحت وکړي. او یا د پولیسو دا لوړ پوړی مامور فیصله وکړي چې د هغه پولیس اتهام چې بوګسي یې بندي کړیدي، درست ندي. دا پدې اړه لري چې د بوګسي سره څه ډول وسله وه، او څومره غلا یې کړیده، د همدې تناسب له مخې پر ده باندې اتهام ښایي زیات او ښایي هم لږ شي.

کله چې بوګسي متهم شي، دده موقف د یو نیول شوي نفر څخه مدعي علیه ته تغیر مومي او پاملرنه د پولیسو د ماموریت څخه د محکمې سیستم ته ور اوړي. لږ وروسته له هغه چې اتهام په رسمي توګه وارد شو، مدعي علیه د قاضي حضورته راغوښتل کېږي (اکثره د کښتې محکمې قاضي ته) اکثره قضایي حوزو د مدعي علیه د توقیف د پاره یو زماني حد ټاکلی دی (چې اکثره ٢٤ ساعته دی) او بیا باید د قاضي حضور ته حاضر شي. په لمړني کتنې کې به قاضي بوګسي ته دده پر ضد د وارد شوي اتهام په هکله معلومات ورکړي او دی به دده په اساسي حقوقو خبر کړي لکه دا حق چې باید چپ پاته شي او د حقوقي مشورې حق لري. که بوګسي مسکین وي او هیڅ پیسې ونلري، قاضي به دده د دفاع د پاره د یو مفت وکیل د پیدا کولو هڅه وکړي. قاضي به دده د خوشې کیدو د پاره د ضمانت د ورکولو اندازه وټاکي. د ضمانت د پیسو اندازه، د جرم د جدي والي، د بوګسي د سوابقو، او ددې خطر د احتمال د اندازې له مخې ټاکل کېږي چې ښایي بوګسي د محاکمې غونډې ته حاضر نشي. که مدعي علیه ونشي کولای ضمانت ورکړي، دی به د محاکمې د پیل په هیله په بند کې پاته شي. په ډیرو قضیو کې قاضیان د خپلې پوهې او انسان پیژندنې له مخې مدعي علیه خوشي کوي او ضمانت ورڅخه نه غواړي.

د قاضي په حضور کې تر لمړني حاضریدو وروسته، د شرارت په قضیه کې یو مدعي علیه ښایي د مقدماتي اوریدلو مستحق وي. د قانون څخه په کوچنیو تخطي ګانو کې (یعني کوچنیو جرمونو کې) مقدماتي اوریدل یا ځینې نور منځنې اقدامات معمولا" لازم نه ګڼل کېږي. مقدماتي اوریدنه د اتهام په هکله د قاضي لخوا لمړنۍ خپلواکه څېړنه او کره کتنه ده چې باید وټاکي چې آیا ددې د پاره احتمالي او د منلو وړ علت شته چې مدعي علیه به په دغه جنایت چې په هغه تورن شوی دی لاس پوري کړي وي. څارنوال شاهدان را بولي تر څو د قضیې اساسي عنصرونه روښانه شي، د بوګسي د دفاع وکیل کولای شي ددې شاهدانو څخه پوښتنې وکړي او حتې د دفاع دپاره نور شاهدان راوغواړي، که څه هم د عملي د لایلو له مخې ددې فرصت څخه ډیر لږ استفاده کېږي. که قاضي پریکړه وکړه چې د مدعي علیه د

توقیف د پاره کافي علتونه شته، قضیه په جریان کې لوېږي، که نه قضیه ښایي رد شي، مګر داچه څارنوال وشي کولای خپل اتهام داسې لږ کړي چې موجود شواهد د هغه ملاتړ وکړي.

په عنعنوي توګه د شرارت پر تورونو باندي ستر منصفه هیئت grand jury کره کتنه یا له سره غور کوي او پریکړه کوي چې آیا د مدعي علیه د تورن کولو او تعقیب د پاره کافي دلایل وجود لري او که نه. څارنوال هم کولای شي مخکې لدې چې پر مدعي علیه اتهام څرګند کړي د ستر منصفه هیئت څخه د یو تحقیقاتي ارګان په توګه استفاده وکړي. ستر منصفه هیئت، لکه محاکمه یا کوچنۍ منصفه هیئت کولاي شي عامي او غیر مسلکي خلک د پریکړو دکولو د پاره جنایي دعوې ته را وبولي. د ستر منصفه هیئت فعالیت پټ او مخفي وي او یواځې څارنوال اسناد او شواهد وړاندې کوي. دهغو شاهدانو د پاره چې د ستر منصفه هیئت په حضور کې شهادت ورکوي دا اجازه نشته چې څوک ددوي سره د شهادت ورکولو په جریان کې مرسته وکړي یا مشوره ورکړي. په نتیجه کې، د ستر منصفه هیئت تاریخي وظیفه چې د څارنوال لخوا پر جوړې شوې صورت دعوي کره کتنه کوي او هغه قضیې چې د هغه د پاره کافي دلایل نشته ردوي تر ډیره حده له منځه تللي ده.، او هغسې چې ویل کېږي یو لایق او د صلاحیت خاوند څارنوال کولاي شي یو سترمنصفه هیئت هر ډول پریکړې ته چې وغواړي قناعت ورکړي، مثلا" ورځخه وغواړي د خوک د غوښو پر سینډویچ تور ولګوي. په اکثرو قضایي حوزو کې نور دا غوښتنه نه کېږي چې ستر منصفه هیئت دې پر لګول شوو تورونو له سره غور وکړي.

که ستر منصفه هیئت یو څوک متهم وبولي، ادعا لیک په محکمه کې ترتیب کېږي. که ستر منصفه هیئت پر یوې ادعا غور او کره کتنه نه وي کړي، څارنوال یو ورته سند تر تیبوي چې هغه ته معلومات یا information وایي (که ستر منصفه هیئت اتهام پر ځاي وبولي او ادعا لیک وړاندي کړي هغه ته indictment وایي. ژ). د شکایت په شان، په ادعا لیک او معلومات په دواړو کې د مدعي علیه پر ضد تور او اتهام او د هغه په اړه حقایق لیکل کېږي. بوګسي محکمې ته را بلل کېږي او د اتهام لیک یا معلومات پر اساس احضار کېږي. په احضار کې، ده ته بیا د اتهام په هکله معلومات ورکول کېږي او ور څخه غوښتل کېږي چې یا مسوولیت ومني او یا د بیګناهي غوښتنه وکړي. دلته (کله مخکې، کله وروسته) د راکړې ورکړې غوښتنه پیل کېږي. بوګسي ښایي ددې وعدې په بدل کې چې ده ته به لږه سزا وټاکل شي، فیصله وکړي چې مسوولیت ومني.

یو مدعي علیه چې د بیګناهۍ غوښتنه کوي د محاکمې په انتظار وي. اما مخکې د محاکمې د پیل څخه د دفاع وکیل ښایي محکمې ته د طرزالعمل له مخې ځینې مهم وړاندیزونه وکړي. د طرزالعمل په اقداماتو کې به دی د تور د لګولو یا اتهام د واردولو په بهیر کې ځینو اشتباهاتو او نواقصو ته ګوته ونیسي. ډیر مهم اقدام د څارنوالۍ د اتهام جزییات لاس ته راوړل او یا د اسنادو او شواهدو مخنیوی کول دي. بوګسي حق لري وپوهېږي چې څارنوال مخکې د محاکمې د پیل څخه دده د عمل په هکله څه ډول اسناد تر لاسه کړي او آیا هغه دده په ګټه او که په ضرر دي، ترڅو دده دفاع وکیل لازمه آماده ګي ولري. که د اسنادو د ټولولو په جریان کې کوم نقص وجود ولري، لکه د بوګسي څخه یو تحقیق بیله دې

چې ده ته دده د اساسي حقوقو په هکله چې اساسي قانون تضمین کړیدي په کافي اندازه معلومات ورکړل شوي وي، پدې صورت کې د دفاع وکیل کولاي شي یو اقدام وکړي او پرې نږدي چې دا سند د محاکمې په جریان کې وښودل شي.

د جنایي دعوې مهمه او رسمي برخه محاکمه ده. مدعي علیه د شرارت او د جدي وران کاریو په قضیو کې داحق لري چې منصفه هیئت پر قضیه قضاوت وکړي، اما ددې حق څخه صرف نظر کیدلای شي او بیا د قضیې په هکله قاضي قضاوت کوي، چې دې ته د مسند محاکمه یا bench trial

وایي. که مدعي علیه ته برائت ورکړل شي، قضیه پای ته رسیدلې ده. که محکوم شي، قاضي یا منصفه هیئت د مقرراتو له مخې دده د پاره سزا ټاکي، چې دا سزا بیا پر مدعي علیه تطبیق کېږي.

د محاکمې پای د داستان پای ندی. مدعي علیه کولای شي لوړي محکمې ته مراجعه وکړي یعني د مرافعه محکمې څخه وغواړي د محاکمې د بهیر او فیصلې پر اشتباهاتو له سره غور وکړي. (که مدعي علیه بري الذمه شي یعنې بیګناهي یې ثابته شي، څارنوالي نشي کولاي مرافعه طلبه شي، ځکه اساسي قانون د دوه واره حقوقي جنجال اجازه نه ورکوي.) که په محاکمه کې اشتباه شوي وي او دا اشتباه څرګنده شي، مدعي علیه د نوي محاکمې مستحق ګرځي. حتې که د مرافعه غوښتنې عادي جریان پای ته هم رسیدلی وي، محکوم شوی مدعي علیه کولاي شي تر محکومیت وروسته هم جبران لاس ته راوړي. مدعي علیه اکثره، حتي پداسې وخت کې چې قضیه لا په ایالتي محاکمه کې وي، فدرالي محکمې ته عرض کوي او په محاکمه کې د اساسي قانون د ضد اشتباهاتو ادعا کوي.

څه وخت پولیس کولای شي تلاشي وکړي او شیان ضبط کړي؟

د پولیس د عنعنوي تحقیقاتي تخنیکونو، لکه د شکمن مجرم درول او د هغه د ځان، جیبونو، موټرانو یا نورو شیانو د لټولو سربیره، د لټولو او ضبط قانون د پولیس پر نورو تحقیقاتي تخنیکونو لکه د تلفوني خبرو د اوریدلو، نورو الکتروني څارنو، د تجارتي اسنادو او ارقامو د پلټنو او آزمویلو، یا د فاضله موادو په بیلرونو کې د اسنادو د راټولولو اوداسې نورو پر بهیر څارنه کوي. که د جنایي طرزالعمل هدف د حقیقت مینډل او د جنایاتو حلول دي، نو پولیس ته هم پراخ واک او صلاحیت ورکول کېږي چې لټونې او پلټنې وکړي او شیان ضبط کړي. اما دوی ته دا صلاحیت ورکول په عین زمان کې د خلکو پر ملکیت، محرمانه ژوند او فردي امنیت باندي یو ډول تیری دی. همدا وجه ده چې د پولیس دا توان او صلاحیت چې په دې ډول فعالیتونو کې برخه ولري، د متحده ایالاتو د اساسي قانون په څلورمه ضمیمه کې تنظیم شویدی. چې وایي :

د خلکو دا حق چې ددوی شخصیت، کورونه، اسناد او نور مال او شتمني باید د هر ډول

نامعقولو پلټنو او ضبطونو په مقابل کې خوندي وي او نه بايد تيرې ورباندې وشي، او پدې اړه بايد کوم حکم يا امر صادر نشي، مگر چې يو احتمالي علت وجود لري او ددې علت څخه په قسم او يا د يو چا په تاييد، ملاټر شوي وي او په خاصه توګه يې يو ځای مشخص کړی وي چې هغه بايد ولټول شي او هلته شيان ضبط کړل شي.

څلورمه ضميمه داسې لټونو او ضبطولو ته اجازه ورکوي چې يواځې د پوليس لخوا نه بلکه د دولت د يو مامور لخوا وي. د يو عامه ښوونځي سر ښوونکې چې غواړي د يو زده کوونکي بسته ولټوي يا د خوراکې او دارو د ادارې د غوښو مفتش چې غواړي په يوه لويه قصابۍ کې د غوښو د بسته بندۍ کولو کار تفتيش کړي د څلورمې ضميمې مطابق کار کوي، که څه هم د نامعقولو لټونو د معيار ټاکل د هغو پيښو سره لکه پوليس چې يو څوک پر سړک دروي فرق لري. په مقابل کې، د اساسي قانون ضمانتونه يواځې د حکومتي مامورينو په مقابل کې د افرادو ساتنه کوي. يو خصوصي کارفرما چې غواړي د خپلو کارکوونکوپر بريښنا ليک يا E-mail څارنه وکړي، يا يوه مغازه چې د جامو د آزمويلو په خونو کې امنيتي کمرې نصبوي، د اساسي قانون د محدوديتونو سره ندی مخامخ. (په ځينو قضيو کې د عامه حقوقو د محرمانه توب حق يا right of privacy يوه اندازه ساتنه کوي).

د قانون پدې ساحه کې لمړی پوښتنه داده چې لټول او ضبط څه شی دی؟ لمړی به لټونه يا تلاشي وڅيړو. آيا دا لټونه ده که د پوليس مامور د هينداري څخه ستاسو د موټر دننه ته وګوري چې آيا د موټر په خاکستردانۍ کې د چرسو د څکولو کومې نښانې شته او که نه؟ او که پوليس ستاسو د فاضله موادو په کڅوړه يا ټيم کې وګوري؟ او که يو روزل شوی سپی ستاسو بکسونه بوی کړي؟ او يا هم ستاسو تلفوني خبروته غوږ ونيول شي چې آيا تاسو د چرسو په باره کې خبرې کوی او که نه؟ د لټولو پوښتنه ډيره مهمه ده ځکه څلورم تعديل يا څلورمه ضميمه يواځې هغه وخت حفاظت او ساتنه کوي چې پلټنه او ضبط شوی وي. که دا يواځې پلټنه وي، محکمه به ډير ژر دا پوښتنه را منځ ته کړي چې آيا د څلورمې ضميمې نورې غوښتنې په نظر کې نيول شوي دي او که نه

اساسا" سترې محکمې فيصله کړي ده چې يواځې پر هغو ساحو فيزيکي تجاوز چې په څلورمه ضميمه کې ياد شوي دي لکه، افراد، کورونه، کاغذونه او اسناد او شتمني په لټونه کې راځي. د

کاتس او متحده ايالاتو د ۱۹٦۷ کال په دعوې کې محکمې ددې ساتنې ساحه پراخه کړه تر څو د يو معقول محرمانه ژوند توقع پدې ساحه کې شامل شي يعني د لټونې اندازه او طريقه داسې وي چې د يو خاص ډول فيزيکي تجاوز ضرورت منځ ته رانشي.

د محرمانه ژوند د انتظاردرلودلو د معيار له مخې، پر ځينو قضيو فيصله کول آسانه دی. يو څوک چې پر سړک روان دی او په ښکاره د چرسو سګرټۍ څکوي، نورو ته خپل غير قانوني عمل څرګندوي، که د پوليس مامور دده دا عمل وګوري او مشاهده يې کړي، دا پلټنه نده. يو څوک چې په خپل کور کې د ټرلو دروازو شاته او پداسې حال کې چې د دروازو مخ ته يې پردې هم کش کړيدي اوچرس څکوي، په معقوله

توګه د محرمانه توب انتظار لري او پوليس نشي کولای دده د کور د قفل تر سوري وګوري او يا يې کورته ور ننوځي چې يو جرمي عمل کشف کړي.

غير لدې آسانو قضيو، د محرمانه توب د انتظار تعريفول يوځه له شکه ډک دی او د ډيرو محکمو فيصلې هم پدې هکله حيرانونکي دي. د مثال په توګه د يو کور د دننې ساتنه کېږي، اما د کور د شا دمځکې يا باغ ساتنه د هوايي عکاسۍ په مقابل کې چې د چرسو د بوټو د لټولو په مقصد کېږي نه کېږي، ځکه هر څوک چې ددې کور پر سر پرواز وکړي په آساني سره د چرسو بوټې ليدلای شي.

که يو څوک خپل ملکيت پرېږدي، په دې صورت کې د محرمانه توب انتظار هم له منځه ځي. همدا موضوع د فاضله موادو د کڅوړې يا بيلر په مورد کې هم صدق کوي، که هغه د سړک پر غاړه د فاضله موادو د ټولولو د موټر د پاره درول شوی وي. د سترې محکمې د فيصلې له مخې هيڅوک نشي کولای د محرمانه توب انتظار ولري که يې خپل د بانک د کارډ رسيدونه، عاشقانه ليکونه، يا د شخصي ژوند نور داسې شيان د فاضله موادو په بيلر کې غورځولي وي. او بالاخره، د بانک څخه د يو چا د بانکې اعتبار او يا د تلفون د شرکت څخه د يو چا د تلفون د اسنادو لاس ته راوړل يوه پلټنه نه ګڼل کېږي، ځکه دا معلومات د بانک او يا د تلفون د شرکت په لاس کې دي او دا انتظار نشي کيدلای چې دا معلومات به پټ او خصوصي وساتل شي.

حتې که يوه پلټنه شوي هم وي، دا پدې معنې نده چې پوليس څلورمه ضميمه تر پښو لاندې کړيده. په ياد ولرئ چې دا ضميمه دوې خپلواکې مادې لري. لمړی ماده نامعقوله پلټنه منع کوي او په دوهمه ماده کې غوښتنه کېږي چې د پلټنې دستور بايد د پلټنې د پاره د احتمالي علت د غوښتنې مطابق وي. هغه څه چې څلورمه ضميمه يې موږ ته نه وايي دادی چې کوم يو ددې مادو څخه لمړيتوب لري.

د يوې اوږدې مدې د پاره محکمې د پلټنې د دستور غوښتنه لمړی بلله. پوليس ددې د پاره چې د لټولو حکم يا دستور تر لاسه کړي بايد احتمالي علت وښيي چې ګواکې پدې پلټنه کې به د جرم اسناد او شواهد لاس ته راوړي چې هغه به په يو منظم طرزالعمل کې قضايي مقام ته وړاندې کړي. د حکم غوښتنه د پوليس پر فعاليت يوه مهمه څارنه ده چې په جدي توګه د فردي آزادۍ ساتنه کوي ګګ البته چې ځيني وخت د حکم لاس ته راوړل ډير عملي نه وي، مخصوصا" پداسې وخت کې چې د اسنادو او شواهدو د پيدا کولو د پاره بايد ډير ژر عمل وشي، ځکه دا اسناد او شواهد يا له منځه ځي او يا له منځه وړل کېږي. همدا وجه ده چې ځيني لټونې او پلټنې بيله حکمه هم صورت مومي، اما دا يواځې په خاصو حالاتو کې چې پلټنه نا معقول اساس ونلري تر سره کېږي.

محکمې د څلورمې ضميمې سره يو بل ډول برخورد هم لري چې هغه د غوښتنو نظم معکوس کوي. ددې نظره، د څلورمې ضميمې حکم دادی چې پلټنې بايد نامعقولې نه وي. يوه پلټنه به د يو لړ دلايلو له مخې نا معقوله وي، يو له هغو څخه به داوي چې پلټنه د حکم يا دستورپه تعقيب نده شوې. د دستور ماده وايي چې د يو معتبر حکم د اخيستلو د پاره کومو شيانو ته اړتيا شته، اما د نا معقولو پلټنو د اصل

څخه چې بیله حکمه شوي وي صرف نظر نه کوي. پر ځای یې باید محکمه یو عمومي معیار د بیله حکمه پلټنو د معقولیت د ارزیابۍ د پاره منځ ته راوړي.

دا ډیر اغوا کوونکۍ دی چې لمړی تیوري د جنایي طرزالعمل د چلند سره چې د حقوقو ساتنې ته پاملرنه لري، سازګاره او موافق وبولو، او دوهمه تیوري د هغه څه سره چې پولیس ته اجازه ورکوي خپل کار وکړي. د حکم د غوښتنې تفوق او لوړوالۍ به ښایي داسې توجیه شي چې حالات ډیر محدود کړل شي تر څو پولیس وشي کولاي پلټنه وکړي، پداسې حال کې چې معقولیت یو ډیر انعطاف پذیره او د تطبیق وړ معیار دی. اما پدې موضوع کې قانون داسې چلند نلري. پر ځای یې د ارزښتونو تضاد چې د جنایي طرزالعمل اساس جوړوي په هر یوه نظریه کې څرګندۍ شوی دي. د حکم د غوښتنې استثناآت زیات شوي، او د معقولیت معیارونه لایتناهي ندي.

د دستور یا حکم په غوښتنه به پیل وکړوګ د دستور یا حکم غوښتنه هغه صلاحیت دی چې قاضي یا یو بل قضایي مامورېې پولیس ته ورکوي چې د جرم په اړه یو څوک یا یو ځاي ولټوي او د جرم اسناد لاس ته راوړي. د حکم تقاضا دا پریکړه چې آیا پلټنه لازمه ده، د هغه چا څخه چې د هغه وظیفه د پلټنې کول دی جلا کوي. یو خپلواک قضایي مامور کولای شي په ډیره خونسردی د یو احتمالي جرم په هکله اسناد مطالعه کړي او پریکړه وکړي چې آیا دا پلټنه د اساسي قانون د معیارونو سره مطابقت لري او که نه. اما پولیس ته د حکم د ورکولو بهیر په عمل کې په ډیرو قضایي حوزو کې په ډیره متناقضه توګه پر مخ ځي. قاضي یواځې څو دقیقې د حکم د غوښتنې په اړه وړاندې شوي اسنادو ته ګوري، او اکثره هم پولیس ته دا حکم ورکول کېږي. پولیس حتې د تلفون له لارې ددې حکم غوښتنه کوي او یواځې د قضیې په اړه حقایق قضایي مامور ته وایي. آیا پداسې یو وضعیت کې د حکم غوښتنه حقیقتا" کولاي شي په اغیزمنه توګه د پولیس سلوک کنترول کړي؟ هو، تر یوه حده بیا هم دا کار کېږي. د پولیس همدا پوهه چې دا غوښتننه باید د قاضي څخه وشي، پخپله د پولیس او څارنوالانو پر سلوک اغیر لري او دې ته یې متوجه کوي چې باید د قانوني معیارونو ساتنه وکړي.

د لوړ پوړي قضایي مامور مهمه وظیفه ددې حکم په ورکولو کې داده چې پریکړه وکړي چې آیا داسي یو احتمالي علت شته چې باور وشي چې د یو ځاي په لټولوکې به هغسې چې پولیس وایي، د یو جرم په هکله اسناد تر لاسه شي. دا چې دا علت باید څومره محتمل وي، پولیس ته د اجازې په ورکولو سره چې په هوشیارۍ او بصیرت سره د جنایت پر ضد مبارزه وکړي او د خلکو د محرمانه ژوند د هغو ګټو د ساتنې ترمنځ چې په څلورمه ضمیمه کې راغلی دی موازنه او اندول راولي. د مثال په توګه د وارن د محکمې په دوره کې، په دوو قضیو کې سترې محکمې فیصله وکړه چې، په عادي حالت کې چې په هغه کې پولیس داسې معلومات وړاندې کړي چې د حکم پر اساس یې د مخبر یا خبر رسوونکي څخه تر لاسه کړی وي، قضایي مامور ته باید د خبر رسونکي د اعتبار اود اعتماد د وړتوب په هلکه په کافي اندازه حقایق وړاندې شي اوځرګندې شي چې خبررسونکي د کومو حقایقو پر بنا فکر کړیدي، تر څو قضایي مامور ددغه معلوماتو پر بنسټ په آګاهانه توګه وټاکي چې آیا احتمالي علت وجود لري او که نه. (په

۱۹٦٤ کال کې د تکساس او اګویلار تر منځ قضیه) او (په ۱۹٦۹ کې د متحده ایالاتو او سپینیلي تر منځ قضیه). په ۱۹۸۳ کال کې د ایلینویس او ګیتس په قضیه کې محکمې په څرګنډه توګه ددې آزمویني څخه لاس واخیست. که حالاتو ته هر اړخیزه کتنه وکړو، قضایي مامور کولاي شواي په سلیم عقل دا قضاوت وکړي چې احتمالي علت وجود درلود او د پلټنې حکم باید صادر شوی وای، حتې که قضایي مامور د نا پیژندل شوي خبر رسوونکي د رپورټ د اعتبارپه هکله باورهم نه درلود او نه هم د خبررسونکي ددې معلوماتو اساس څرګند وو.

حتې ددې نظر په اساس چې د څلورمې ضمیمې د حکم ماده مقدم بولي، ځینې پلټنې حکم ته اړتیا نلري. او د دوهم نظر له مخې چې د څلورمې ضمیمې د معقولیت ماده مقدم بولي، البته چې پلټنې بیله حکم څخه کیدای شي، پدې شرط چې معقول وي. د معقولیت نشانه د احتمالي علت موجودیت دی، یعني دا باور چې د جرم اسناد به لاس ته راشي. په عمومي توګه ویلای شو چې بیله حکمه پلټنې اعتبار لري که د حکم لاس ته راوړل د جنایت د مخنیوي هدف د ستونزو سره مخامخ کړي، او یا که د محرمانه توب اصل ته چې څلورمه ضمیمه یې ساتنه کوي د پلټنې په نتیجه کې په جدي توګه تاوان و نه رسېږي. اما په عمومي توګه پدې مسله کې ډیر بحثونه کېږي چې پولیس ته باید څومره واک ورکړل شي.

دداسې شیانو د ضبط استثنې ته پاملرنه وکړي چې په ساده نظر لیدل کېږي. که د پولیس یو مامور په قانوني توګه یو کور ته ننوځي او یا یو موټر ودروي او د مثال په توګه په ناڅاپي توګه وویني چې پر مځکه د مخدره موادو یوه خلته پرته ده. دی باید دا خلته ضبط کړي که څه هم حکم یې ندې تر لاسه کړی او احتمالي علت هم ونلري چې وپوهېږي دا مواد به دلته وي. که د پولیس یو مامور د یو عمل د اجرا په وخت کې ونشي کولاي د جرم اسناد چې دده پاملرنه جلبوي، ضبط کړي، د قانون هدف به نه وي تر سره شوی. اما دا استثنې پولیس په دوو دلیلو اغوا کوي. د خلکو درول، د حکم تر لاسه کول، اویا په یوه بهانه پلټنه کول پدې هیله چې په ساده کتنې به داسې شیان وویني چې فکر کوي وجود به ولري، اما د هغه د پاره احتمالي علت نشته، او بیا په غلطه شهادت ورکړي چې دا شیان په ساده کتنې موندل شوي دي، پداسې حال کې چې هغه د پلټنې د صلاحیت څخه په وړاندې عمل کې تر لاسه شوي وي.

دلمړي اغوا په برخه کې ، ستري محکمې د ساده کتنې استثنې ته یواځې هغه وخت اجازه ورکړه چې د جرم د اسنادو کشف په غیر عمدي او تصادفي توګه وشي. اما وروسته محکمې دا غوښتنه بیرته رد کړه ; محکمې وویل، کله چې د پولیس مامور په قانوني توګه کومه پلټنه کوي، نور به نو د محرمانه توب د ساتنې پر ګټه زیات تجاوز نه وي شوی که پولیس ته اجازه ورکړل شي داسې شیان او اسناد ضبط کړي چې د پلټنې په بهیر کې په ساده کتنه پیدا کېږي. او محکمه کولای شي د عیني معیارونو له مخې د پلټنې معقولیت ارزیابي کړي (یعني چې دا شیان په ساده کتنې پیدا شوي او که نه)، دا نو نور د پولیس د مامور په ارادې پوري اړه نلري. دوهمه اغوا لا هم وجود لري، او ځینې د دفاع وکیلان وایي چې د پولیس مامورین تل په غلطه شهادت ورکوي چې پیدا شوي شیان او اسناد یې د ساده کتنې په وخت کې تر لاسه کړیدي.

محکمه د معقولیت د ارزیابۍ د پاره د عیني معیارونو څخه په مخ په زیاتیدونکې توګه استفاده کوي، ځکه دا پولیس ته د خپل فعالیت د کولو د اجازې او په څلورمه ضمیمه کې د خوندي شوو آزادیو تر منځ د اندول او موازنې د ساتلو د پاره یو ښه اساس جوړوي. د مثال په توګه، که پولیس احتمالي علت ولري او باور وکړي چې یو جرم شویدی، دی ښایي هغه څوک ودروي چې جرم یې کړیدی. ; د څلورمې ضمیمې له مخې ددې سړي نیول معقول دی. اما فرض کړئ، جرم یواځې یو کوچنی ترافیکي تیری دی ، اما په دې بهانه د موټر چلوونکی درول کېږي او پولیس غواړي په حقیقت کې دده په موټر کې د مخدره موادو د یوې معاملي اسناد ولټوي چې د موټر تور پوستي چلوونکي د لوړ جنایت په یوه سیمه کې کړیدی.؟ پدې حالت کې د نامعقولیت ګواښ حقیقي دی، اما محکمه تر هغه چې احتمالي علت وجود ولري دې ته اجازه ورکوي، حتې که د یو کوچني ترافیکي تیري احتمالي علت یواځې د پولیس د شهادت له مخې څرګند وي، د موټر د چلوونکي درول معقول دی.

په یو خاص حالت کې، پولیس د پلټنې اوضبط د پاره نه د حکم لاس ته راوړلو او نه هم احتمالي علت ته اړتیا لري. دا د درولو او خیز وهلو یا stop and frisk حالت دی چې په هغه کې د پولیس مامور یو څوک د لندې مدې د پاره نیسي تر څو د هغه سره د یو شکمن فعالیت په باره کې خبرې وکړي او پدې ترڅ کې د هغه څخه کالي وکاږي تر څو ډاډ تر لاسه کړي چې هغه وسله نلري چې وشي کولای د پولیس مامور ورباندې تهدید کړي. په ۱۹٦۸ کال کې د تیري او اوهایو د ایالت تر منځ په قضیه کې محکمې دا ومنله چې " د پولیس مامور ښایي په یو خاص حالت کې په یوه خاصه توګه د یو احتمالي جنایي سلوک د تحقیق په غرض یو چاته ورنژدې شي او بیا ښایي په احتیاط سره د شکمن سړي سربیرن کالي ولټوي چې مبادا وسله ونلري چې د هغه څخه پر ده باندې د حملې د پاره استفاده ونشي "

هغه خاص حالات کوم دي چې د یو چا د درولو اجازه ورکوي؟ اصلي هدف دادی چې پولیس پریښودل شي خپل کار ته دوام ورکړي، اما پولیس ددې اجبار څخه چې باید په بصیرت سره عمل وکړي ژغورل کېږي. ددې د پاره چې یو ځانګړی فرد د جنایي عمل په خاطر ودرول شي، ددې کار د پاره باید د حقایقو یو اساس وجود ولري، اما داچه عیني اساس د څه شي څخه جوړ دی، روښانه ندی او محکمې تل د پولیس د مامور قضاوت ته پاملرنه کوي.

او بالاخره، د پولیس او افرادو تر منځ ځیني مقابلې کېږي چې د تیري د درولو سطحې ته نه رسېږي او لهذا د څلورمې ضمیمې اندیښنه وجود نلري. د تیري په قضیه کې محکمې موازنه او اندول وساته چې وي ویل " څه وخت د پولیسو یو مامور، د فیزیکي زوراو یا د خپل واک د څرګندولو د لارې د یو فرد آزادي محدودوي " د محکمې په نظر، کله چې پولیس یو بس موټر ته خیژي او غواړي چې د هر سپرلي ټکټ او د هویت کارت و ګوري او یا د هغو بکسونه او بستې ولټوي، او یا هم کله چې پولیس د یو ځوان په لټه کې وي چې د پولیس د موټر په لیدلو سره په ډیره وارخطایي تښتیدلی وي، کوم ضبط ندی شوی.

پر ځان باندې د اتهام لګولومعافیت په څه کې دی؟

د اساسي قانون پنځمه ضميمه قسما" وايي " هيڅوک نه بايد په يوه جنايي قضيه کې مجبور کړل شي د ځان پر ضد شهادت ورکړي. " دا پر ځان باندې د اتهام لګولو څخه معافيت زمونږ د عدلي سيستم د پاره ډير اساسي اهميت لري. زمونږ د اتهام لګولو په سيستم کې، دا د څارنوالۍ وظيفه ده چې د خپلو هلو ځلو له لارې خپله ادعا ثابته کړي، نه د تورن شوي طرف څخه د پوښتنو او تحقيق له لارې. که مدعي عليه مجبور کړل شي چې خبرې وکړي، دی به د هغه څه سره مخامخ شي چې هغه ته " پر ځان د اتهام، په ناحقه د قسم خوړلو او تحقير او سپکاوۍ ظالمانه درې اړخيزه وايي گ" او مجبوره به شي چې پر جنايت د اعتراف کولو، درواغ ويلو اوپه ناحقه د قسم خوړلو په خاطر د سزا ليدلو، يا چپ پاته کيدلواو محکمې ته د بي احترامۍاو سپکاوی په خاطر د سزا د ليدلو تر منځ يو انتخاب کړي. دا کار زمونږ د عادلانه لوبې، د فرد او دولت تر منځ د اندول، او د انساني کرامت د مفکورې مخالف دی. دا معافيت يا مصونيت همدا شان د فرد محرمانه توب ساتي او د پوليس د خاصو هلو ځلو په هکله چې د اعتراف د لاس ته راوړلو په کار کې ور څخه استفاده کوي، شک او بدګماني څرګندوي.

اما دا مصونيت يو نرخ هم لري. په ډيرو قضيو کې اعتراف يا بل معلومات چې د مدعي عليه څخه لاس ته راځي او هغه مونږ بل سند او شاهد ته رهنمايي کوي، د مدعي عليه د ګناه د ثابتولو يواځنۍ د تاييد وړ لاره ده. په داسې قضيو کې چې هيڅ شاهد وجود نلري او ډيرې لږې فيزيکي نښانې شته، يواځې د شکمن سړي څخه د جدي تحقيق له لارې د جرم د ثبوت دلايل لاس ته راتلای شي. لدې کبله د مدعي عليه شهادت له پامه غورځول پدې معنې ده چې ډير جرمونه به بي سزا پاته شي.

دا به د يو فرد د پاره څه معنې ولري که په يو جنايي جريان کې مجبوره کړل شي د خپل ځان پر ضد شهادت ورکړي؟ دا معافيت يواځې د مدعي عليه د شهادت په اړه دی، نه د نورو اسنادو او شواهدو په اړه. تر هغه چې د يو طرزالعمل له مخې عمل کېږي، څارنوال کولای شي يو مدعي عليه مجبوره کړي چې په يوه ليکه کې څرګند شي، د خپل برغ يا د لاس د ليکنې او حتې د خپلو وينو يوه نمونه وسپاري او دا ښايي د ځان د متهم کولو معنې ولري. څارنوالي همدا شان کولای شي دداسې سوابقو پر لاس ته راوړلو ټينګار وکړي چې هغه د نورو هدفونو د پاره ترتيب شوي دی، لکه د مالیې د ورکولو څخه د سرغړونې په قضيه کې د تجارتي سوابقو اسناد.

په دقيقه توګه د پنځمې ضميمې د عبارت د کلماتو لوستل ښايي يواځې حکومت ته اجازه ورنکړي چې مدعي عليه په محاکمه کې د شهادت ورکولو ته مجبوره کړي، اما د حکومت لخوا هر بل ډول اجبار ته اجازه ورکوي چې د مدعي عليه پر ضد اسناد او شواهد منځ راوړي. اما سترې محکمې تل دا معافيت ډير پراخ تعبير کړيدی. دا به هغه پاليسي چې دمعافيت شاته په نظر کې نيول شويده ټول له منځه ولاړه شي که پوليس په زوره يو څوک اعتراف کولو ته مجبوره کړي او يا څارنوال لوی منصفه هيئت شهادت ورکولو ته مجبوره کړي او بيا د همدې اسنادو څخه په محاکمه کې استفاده وکړي.

پاملرنه وکړئ چې څه پیښېږي کله چې څارنوال د لوی منصفه هیئت څخه د اسنادو د ټولولو د پاره استفاده کوي او بیا یو د هغو کسانو څخه چې تحقیق ورڅخه شوی د شاهد په توګه راغواړي. دا شاهد مجبوره دی د شهادت د ورکولو د پاره حاضر شي که نه د جنایي سزا سره به مخامخ شي. که دا شاهد محاکمې ته حاضر نشي او یا هغو پوښتنو ته چې ورڅخه کېږي ځواب و نه وایي، دی به محکمې ته د سپکاوی او بي احترامی په تور بند ته ولېږل شي. که په غلطه شهادت ورکړي، په هغه صورت کې به د ناحقه قسم خوړلو په تور تر تحقیق لاندې ونیول شي. او که وغواړي د دواړو څخه ډډه وکړي او د حقیقت له مخې شهادت ادا کړي او دده د شهادت څخه وروسته په محاکمه کې دده پر ضد استفاده وشي، نو دی په عمل کې مجبوره کړل شویدی د ځان پر ضد شهادت ورکړي. دلته د اجباري شهادت څخه استفاده کول اهمیت لري نه دا چې دا شهادت چیري ادا شویدی.

څارنوال کولای شي په لوی منصفه هیئت یا بل ځای کې د ځان پر ضد د اتهام لګولو د معافیت د استفادې څخه مخنیوی وکړي، اما یواځې په هغه صورت کې چې تضمین ورکړي چې دده د شهادت څخه به په جنایي تعقیب کې استفاده ونکړي. دا داسې کیدای شي چې هغه چا ته چې شهادت ورکوي د تعقیبیدو څخه مصونیت ورکړل شي. دا مصونیت په دوه ډوله دی. د مصونیت یاimmunity څخه استفاده کول پدې معنې دی چې څارنوالي نشي کولای په محاکمه کې د شاهد د شهادت یا نورو اسنادو څخه چې ددې شهادت په نتیجه کې لاسته راځي استفاده وکړي. که څارنوال د شاهدپه مقابل کې کوم سند په لاس کې ولري، دا سند د شاهد د شهادت په نتیجه کې لاس ته ندی راغلی، او ددې سند څخه استفاده کیدای شي. معاملاتي مصونیت یا transactional immunity پدې معنې ده چې څارنوالي ښایي شاهد د داسې یو جرم په خاطر چې د شاهد په شهادت کې وربانديې خبرې شوي تر تعقیب لاندې ونه نیسي، که څه هم څارنوال په خپلواکه توګه د شاهد د ګناه اسناد او شواهد کشف کړي.

یوه بله عامه او د بحث وړ مسله داده چې څنګه د ځان پر ضد د تور لګولو د معافیت څخه د رسمي قضایي بهیر دباندې مخصوصا" د پولیس د تحقیقاتو په وخت کې استفاده کېږي. په ډیرو قضیو کې ، د مدعي علیه څخه تر ټولو مهمې پوښتنې د محکمې په تالار یا د لوی منصفه هییت په حضور کې نه، بلکه د پولیسو په ماموریت کې کېږي. سترې محکمې دا منلې ده چې د پولیس په ماموریت کې د یو شکمن څخه تحقیق په کافي اندازه بیروونکی او د خوفه ډک دی او دا ګواښ منځ ته راوړي چې پر ځان د اتهام لګولو معافیت به له منځه یوسي.

په ۱۹٦٤ کال کې د میراندا او د اریزونا د ایالت تر منځ قضیه کې وروسته له هغه چې د شکمنو کسانو په تحقیق کې د پولیس چال چلند او د پولیس د چلونو او روحیاتي فشارونومسله وڅېړل شوه او دا باور پیاوړی شو چې پولیس د داسې چلونو څخه کار اخلي نو محکمه دې نتیجې ته ورسیده چې په توقیف کې د پولیسو تحقیقات او پوښتنې کول پر فردي آزادی باندې یو لوی بار او د افرادو پر ضعف یو تجارت کول دی. محکمې زیاته کړه، لازمه بلل کېږي چې د ساتنې د لارو چارو څخه استفاده وشي او هغه اجبار چې د توقیف په شاوخواه کې په میراث پاته دی له منځه یووړل شي. ددې ساتندویه لارو چارو څخه باید په

هره قضیه کې استفاده وشي چې په هغه کې ډیر معروف شوی د میراندا خبرتیا هم شامله ده. لمړی، مخکې لدې چې د یو شکمن چا څخه په توقیف کې پوښتنې وشي، ده ته باید معلومات ورکړل شي چې دی د چپ پاته کیدو حق لري او هر څه چې ووایي، د هغه څخه په محکمه کې دده پر ضد استفاده کیدای شي. او دی دا حق لري چې د خپلې قضیې په هکله د یو وکیل سره مشوره وکړي او دده څخه تحقیق باید دده د دفاع وکیل په حضور کې وشي. او که دی د وکیل د نیولو مالي توان ونلري، دده د پاره به یو وکیل وټاکل شي چې دده د حقوقو دفاع وکړي. دوهم، که شکمن په یو وخت کې، د تحقیق څخه مخکې او یا د تحقیق په جریان کې په یوه توګه څرګنده کړي چې غواړي چپ پاته شي، تحقیقات باید ودرول شي. او که دی ووایي چې یو د دفاع وکیل غواړي، تحقیقات باید ترهغه چې یو وکیل حاضرېږي، ودرول شي.

که څه هم محکمې وړاندیز وکړ چې د شکمن مجرم د حقوقو د اغیزمنې ساتنې د پاره باید نور طرزالعملونه منځ ته راشي تر څو د میراندا د ساتنې ځای ونیسي، خو تر اوسه کوم بل طرزالعمل ندی تصویب شوی او میراندا یواځنۍ اساس پاته دی چې نن د تحقیقاتو پر بهیر او کړنلارې څارنه کوي.

جالبه داده ، پداسې حال کې چې پولیس په خپلو کړنلارو کې دا په آسانۍ سره د تطبیق وړ خبرتیاوې منلي دي، د اعترافاتو پیښې ندي لږ شوي. لهذا دا پریکړه د بحث وړ پاته ده، ځکه په ځینو قضیو کې، ددې غوښتنو څخه په پیروی کې د پولیس نیمګړتیا ددې باعث ګرځي چې دا اعترافات د جرم د اسنادو له جملې څخه وایستل شي.

د میراندا تر اصل لاندې پر ځان د اتهام لګولو معافیت هغه وخت اهمیت پیدا کوي چې پولیس په توقیف کې تحقیقات پر مخ بیایي custodial interrogation. توقیف پدې معنې چې شکمن څوک په جدي توګه د عمل د آزادی څخه محروم کېږي، پداسې حال کې چې په رسمي توګه په بند کې ندی نیول شوي، او دا د خوف او بیرې حالت منځ ته راوړي. لهذا، کله چې د تحقیق کسان د یو شکمن سړی څخه د هغه په کور یا دفتر کې پوښتنې کوي، هغه په توقیف کې ندی، مګر داچه یو شی په وضعیت کې په خاصه توګه بیروونکی وي. د کور په سالون کې پوښتنې کول بیرونکی ندی، اما که د پولیسو څلور مامورین د شپې په څلورو بجو د چا د خوب خونې ته ننوځي او پوښتنې پیل کړي، پدې کې د اجبار عناصر لیدل کېږي. که پولیس یو شکمن سړي ته ووایي چې د پولیسو ماموریت ته راشي او په خاصه توګه ورته ووایي چې دی بندي ندی، نو دی په توقیف کې ندی. اما که پولیس دی د پولیس په موټر کې ماموریت ته بوځي او ورته ونه وایي چې د بیرته تلو آزادي لري، دی تر اجبار لاندې راغلی دی، که څه هم په بند کې ندی نیول شوی.

دا پوښتنه چې تحقیقات د کومو شیانو څخه تشکیل شوی، هم کولای شي سختې قضیې منځ ته راوړي. روښانه ده کله چې د پولیسو مامورین د یو شکمن سړي څخه پوښتنې کوي، دا تحقیقات دی. علاوه پردې، د میراندا د خبرتیا اراده داده چې د اساسي قانون ضد اجبار څخه مخنیوی وکړي، نو د پولیس له لورې د نورو کلماتو استعمال یا بل ډول چلند غوره کول چې هغوی باید په وپوهېږي، امکان

لري چې د شکمن سړي لخوا پر ځان د اتهام لګولوځواب منځ ته راوړي، چې دا هم بايد تحقيق وبلل شي. او د معافيت لمن دومره پراخول به معتبره اسناد او شواهد له منځه يوسي. د مثال په توګه، ځيني وخت پوليس د متهم په مخ کې د بل چا سره خبرې کوي، خو هدف يې متهم اعتراف کولو ته هڅول يا تشويقول وي. په ۱۹۸۰ کال کې د اينيس او روډ آيلنډ په قضيه کې، مدعي عليه د قتل اود ټوپک سره د غلا په تور ونيول شو. کله چې پوليسانو دی په خپل موټر کې ماموريت ته بيوه، دوی په خپل منځ کې دا خبره کوله چې د ټوپک پيدا کول ډير مهم دی، ځکه امکان لري د معيوبو ماشومانو ښوونځي ته نژدې يو معيوب ماشوم دا ټوپک پيدا کړي او ځان ورباندې ژوبل کړي. مدعي عليه په خپل اختيار پوليس ته د ټوپک ځای وروښود، او محکمې فيصله وکړه چې ددې خبرو او اسنادو څخه د مدعي عليه پر ضد استفاده کيدای شي، ځکه پوليس دده څخه تحقيق ندی کړی. د بلې خوا په ۱۹۷۷ کال کې د بريور او ويليمز په دعوې کې دا مسلۀ څيړل کيده چې د شپږمې ضميمې د مشورې د حق د پاره د تحقيق اهداف څه دی. کله چې ويليمز د قتل په تور ونيول شو، د پوليس په موټر کې د داوون پورت څخه تر ديس موينس پورې په يو سفر کې، د پوليس يو مامور وويل، څرنګه چې هوا مخ په خرابيدو ده، د قرباني د بدن پيدا کول او هغه د عيسوي دين مطابق خاورو ته سپارل به ډير ګران وي. ويليمز وروسته پخپله پوليس ته د بدن د پيدا کولو ځاي وښود. دلته محکمې فيصله وکړه چې پدې قضيه کې تحقيقات شوي دي، ځکه د پوليس د مامور خبرې په مستقيمه توګه ويليمز ته په خطاب کې وې او هغه پدې مشهور وو چې ډير ديندارہ ووګ

څه پيښېږي که پوليس د مدعي عليه پر حقوقو تيرى وکړي؟

د اساسي قانون د څلورمې، پنځمې او شپږمې ضميمو ساتنې پخپله نه اجرا کېږي. که څه هم د مثال په توګه څلورمه ضميمه نامعقولې پلټنې او ضبظونه منع کوي، اما مونږ ته نه وايي چې څه به پيښه شي که نامعقولې پلټنې صورت وموميږ. پدې ساحه کې د ستزې محکمې د پريکړو په هکله زيات بحثونه پر همدې مسلې شوي چې که په اساسي قانون کې پر تضمين شوو حقوقو تيرى وشي، د هغه بايد څه ډول علاج او چاره وشي. دا موضوع په ۱۹۱٤ کال کې د ويکس او متحده ايالاتو تر منځ قضيه کې پيل شوه، او محکمې دا اخراجي حکم منځ ته راوړ، چې وايي، هغه اسناد او شواهد چې د اساسي قانون ضد د حکومت لخوا موندل کېږي نه بايد ورڅخه د مدعي عليه پر ضد چې پر حقوقو يې تيرى شويدی، استفاده وشي. که پوليس پر ځان د اتهام لګولو اسناد د يوې غير قانوني پلټنې په جريان کې وموميږ او د ميراندا د اصل مخالف يو اعتراف لاس ته راوړي، ددې اسنادو يا اعتراف څخه نه بايد د مدعي عليه د محکوميدو د پاره استفاده وشي.

پر اخراجي حکم يا مقررې باندې سخت تنقيدونه شوي دي، ځکه داسې ښکاري چې دا مقرره د قانون د اجرا اهداف له منځه وړي او هغسې چې د سترې محکمې قاضي کاردوزو وليکل، آيا دا مفهوم لري چې

مجرم آزاد وګرځي ځکه چې د پوليس مامور اشتباه کړيده؟ اخراجي مقرره د ګناګارپه ګټه ده او هغه ته ددې امکان ورکوي چې د اساسي قانون حقوقو ته په مراجعه سره د خپل جرم اسناد له منځه يوسي، تر دې حده چې محاکمې ته د جرم د دلايلو او سنادو د وړاندې کيدو څخه مخنيوی کېږي او پدې توګه د حقيقت پلټنه او د جنايي مجازات تطبيقول پر بل مخ را اړوي.

د اخراجي مقررې د پاره يو لړ دلايل وجود لري. که محکمې په غير قانوني توګه د اسنادو او شواهدو لاس ته راوړلو ته اجازه ورکړي، په حقيقت کې به محکمې د پوليس د اساسي قانون د ضد چال چلند تاييد وکړي. هغسې چې قاضي کلارک په ۱۹٦۱ کال کې د ماپ او اوهايو د ايالت د دعوې په اړه د قاضي کاردوزو د څرګندونو په تاييد وليکل : " جنايت کار به که وغواړي آزاد وګرځي، اما دا قانون دی چې دی آزاد پرېږدي. د خپل قانون څخه د نه رعايه کولو په اندازه، هيڅ بل شي يو دولت دومره ژر نه ورانوي ". د ماپ د قضيې حکم د ټولو ايالتونو د څارنوالیو د پاره د منلو وړ شوه او محکمې هم ددې مقررې د مخنيوي کوونکې اغيز منطق ورسره علاوه کړ. له هغه وخته راهيسې تل پر دې منطق ډير تاکيد کېږي. دا مقرره پوليس نه پرېږدي چې په غير قانوني توګه پلټنې وکړي او يا په غير قانوني توګه د مجرم څخه اعتراف تر لاسه کړي، ځکه دا کار کومه ګټه نلري او هغه اسناد چې ددې لارې لاس ته راځي د مدعي عليه د محکومولو د پاره د استفادې وړ ندي.

د ماپ د قضيې راهيسې د اخراجي مقررې او په خاصه توګه د هغه د مخنيوي کوونکي اغيز په هکله ډير بحثونه شوي دي. آيا دا مقرره يو د مخنيوی پياوړی اغيز لري، او آيا د پوليس د اساسي قانون ضد سلوک مخنيوی تر هغه قيمت چې د قانون د تطبيق د پاره يې لري زيات او مهم دي؟ ددې مقررې پلويان وايي چې د مخنيوی له لارې، دا مقرره چې ويل کېږي د ګناهګاره ملاتړ کوي په حقيقت کې د بيګناه ساتنه کوي. دا مقرره په يوه ځانګړي قضيه کې يواځې د پوليس د غير قانوني اعمالود مخنيوي ساتونکی هم ندي بلکه تر هغه اوچت رول لوبوي، او هغه داچه هغه د پوليس ټولو مامورينو ته خبرداری ورکوي او د پوليس ماموريتونه تشويقوي چې خپل د روزنې او څارنې په چارو کې سه والی راولي. په نتيجه کې، زمونږ ټولو پر هغو حقوقو چې په اساسي قانون کې تضمين شوي دي د برید او تجاوز اندازه لږه شويده. ددې مخنيوی قيمت هم ډير لوړ او زيات ندي.

اما تنقيد کوونکي وايي چې دې مقررې ته اساسا" اړتيا نشته. د ميرانډا د خبرتيا په شان په غير قانوني توګه د لاس ته راغلو اسنادو ردول او اخراجول ښايي په يوه دوره کې چې پوليسوپه خپل سلوک کې د خلکو حقوقو ته لږه پاملرنه ښودله، ښايي يوه وقايوي يا د مخنيوی ګټوره لاره وه، اما نن ورځ د خلکو لويه انديښنه د جنايت پر ضد د مبارزې ضرورت دي. د لاس ته راغلو اسنادو په پام کې نه نيول يا هغه د اسنادو او شواهدو د جملې څخه خارجول په بې موجبه توګه جنايت کار ته د بخښش د ورکولو معني لري او د قانون د تطبيق اداري تخريبوي. تردې حده چې د پوليس غير قانوني سلوک او چال چلند منځ ته راځي. ددې کار مخنيوی د نورو لارو کيداي شي، يعني د پوليس پر ضد د تاوان د قانون يا د مدني

حقوقو د یو اقدام له لارې، پدې توګه به د بیګناه او ګناګاره د دواړو د اساسي حقوقو ساتنه وشي، یعني هغوی کولای شي پر پولیس دعوې وکړي او د یوې غیر قانوني پلټنې په خاطر تاوان یا جبران خساره تر لاسه کړي.

اما د مقررې پلویان ددې ډول علاج اغیزمنتوب تر پوښتنې لاندې نیسي. د اساسي قانون د حقوقو څخه په یوه عادي سرغړونه کې به قرباني د دعوې د کولو د پاره چنداني انګیزه ونلري. که پولیس، د مثال په توګه په یو عمومي ترافیکي کنټرول کې موټران ودروي، په غیر قانوني توګه یې ولټوي، د خلکو د زحمت، اذیت او قهر باعث وګرځي، ددې کار پر ضد به لږ خلک حاضر شي په محکمه کې دعوې وکړي، ځکه تاوان د دعوې کولو په زحمت نه ارزي. نورې جدي سرغړونې چې ورنه جنایي اسناد منځ ته راځي په تیوري یا نظریه کې لوی زیانونه منځ ته راوړي، اما دا به ګران وي چې تیوري په عمل کې تطبیق شي. منصفه هیئتونه به ددې څخه ملاتړ ونکړي چې یو محکوم شوی مجرم د پولیس د یو مامور پر ضد دعوې وکړي او د رسیدلي زیان تاوان وغواړي.

د اخراجي مقررې پر سر د نظر اختلاف د محکمې په پریکړو کې هم انعکاس موندلی دي. یوه پیښه د زهز جني درختې د میوې نظریه ده چې په کال ۱۹۲۰ کې د سیلور ترون لمبر د شرکت او د متحده ایالاتو په دعوې کې رامنځ ته شوه. فدرالي مامورینو په غیر قانوني توګه د مدعي علیه څخه پر ځان د اتهام لګولو اسناد تر لاسه کړل. وروسته له هغه چې محکمې دستور ورکړ چې دا اسناد باید بیرته ورکړل شي، څارنوال د لوي منصفه هیئت څخه وغوښتل چې مدعي علیه بیرته احضار کړي او عین اسناد ورڅخه تر لاسه کړي. سترې محکمې دا احضار بې اعتباره وباله، ځکه دا د یو غیر قانوني ضبط په نتیجه کې لاس ته راغلي اسناد وه. د سترې محکمې قاضي فیلیکس فرانکفورتر په یوه ښایسته او شاعرانه ژبه هغه ته د زهرجني درختې د میوې نوم ورکړ، پدې معنې چې د یو غیر قانوني پلټنې لاس ته راوړنه د سند په توګه نشي وړاندې کیداي.دا نظریه د اخراج مقرره نوره هم پراخوي او د پولیس څخه غواړي د غیر قانوني پلټنو څخه پدې هیله چې په هغه کې به د جرم په اړه نوي لارې پرانیستل شي او وروسته به دا اسناد په قانوني توګه تر لاسه شي، ډډه وکړي. اما محکمې په عین زمان کې دا نظریه محدوده کړې هم ده. کله چې د میوې (یعني د ترلاسه شوو اسنادو) او اصلي غیر قانوني پلټنې تر منځ اړیکه ډیره نږدې او ناڅرګنده وي، کله چې ددې حاصل په هکله معلومات د یوې خپلواکې منبع څخه تر لاسه شوی وي، او یا داچه دا اسناد او معلومات به حتې بیله کوم غیر قانوني عملیاتو څخه هم لاس ته راغلي واي. داسې اسناد محکمې ته وړاندې کیدلای شي.

یو بل انکشاف د محاکمې د بهیر په هکله دي چې په هغه کې اخراجي مقرره د تطبیق وړ ده. ظاهرا"، دا مقرره هغه په غیر قانوني توګه د اسنادو لاس ته راوړل منع کوي چې څارنوال په محاکمه کې ورڅخه استفاده کوي. د مخنیوي د حد اکثر اغیز د لاس ته راوړلو د پاره باید پولیس په هیڅ توګه پرې نه ښودل شي چې ددې سند څخه استفاده وکړي. اما دا کار ندی شوي. پر ځای یې محکمې د غیر قانوني اسنادو د اخراج د مقررې د مخنیوي د اغیز زیاتوالی غیر له محاکمې څخه په نورو برخو کې لکه د

حقیقت د پلټنې د نرخ یا د جنایت کارو د محکومیت د موضوع سره اړوند کړیدي..له همدې کبله محکمې فیصله کړیده چې د غیر قانوني اسنادو او شواهدو څخه د لوې منصفه هییت په صورت دعوې کې چې په محاکمه کې د مدعي علیه شهادت تر پوښتنې لاندې نیسي، د سزا د ټاکلو په اوریدنه کې، د محکمې لخوا د یو چا د توقیفیدو د حکم په موضوع کې چې د محکومیت څخه ناراضه وي او یا د غیر قانوني لارو څخه پر لاس ته راغلو پیسو باندې د مالیاتو د وضع کولو په موضوع کې د اساس په توګه استفاده کیدلای شي.

دریم انکشاف چې ډیر مهم دي د اخراجي مقررې څخه د ښه نیت استثنې ده. ددې مقررې اصلي هدف دادي چې د پولیس د اساسي قانون ضد چال چلند او سلوک څخه مخنیوی وکړي، او محکمې فیصله کړیده چې دا مقرره به دا اغیز ونلري که پولیس په ارادي او قصدي توګه د مدعي علیه پر حقوقو چې په اساسي قانون کي تضمین شوي دي تیری نه وي کړي. که په پولیس یوه غیر قانوني پلټنه وکړي اما د ښه نیت له مخې باور ولري چې دا عمل د اساسي قانون له مخې مجاز دي، جنایي بهیر نه باید د لاس ته راغلو اسنادو د استفادې څخه محروم کړل شي، که څه هم دا اسناد په غیر قانوني توګه لاس ته راغلي وي. فرض کړئ د پولیس یو مامور د ترافیکي قانون څخه د یوې سرغړونې په خاطر یو موټرچلوونکی دروي او بیا د خپل د څارنې د موټر په کمپیوټر کې ویني چې د موټرد چلوونکی د بندي کیدو حکم صادر شوی. د پولیسو مامور دا موټر چلوونکی بندي کوي، دی او موټر یې لټوي او په موټر کې چرس پیدا کوي. د بندي کیدو حکم بیرته لغوه شویدی، خو د یو میرزایي اشتباه له مخې دغه معلومات لا د پولیس کمپیوتر ته ندی رسیدلی. په موټر کې د چرس پیدا کول د یوې غیر قانوني پلټنې نتیجه ده، ځکه پلټنه د بندي کیدو د یو معتبر حکم له مخې نه دی شوی، اما محکمې فیصله وکړه چې دا باید د اسنادو له جملي څخه خارج نه کړل شي، ځکه چې د پولیسو مامور د ښه نیت له مخې عمل کړی او د خپل کمپیوټر پر سیستم یې تکیه کړیده.

د ښه نیت استثنې پر اخراجي مقررې باندې له ډیرو لارو یرغل کوي. دا پولیس دې ته نه هڅوي په هغو قضیو کې چې حکم تر لاسه کوي د احتیاط څخه کارواخلي، او قضایي مامورین دې ته نه هڅوي د حکم د ورکولو اساس په دقیقه توګه وڅیړي. په دواړو قضیو کې د حکم په تطبیقولو کې د پولیس د مامور ښه نیت د اشتباه علاج کوي. په هغو قضیو کې چې بیله حکمه څیړنې کېږي، بیا هم اخراجي مقرره توږي او خوري یې. د ښه نیت استثنې پولیس تشویقوي چې اشتباه وکړي او دا اشتباه تل پر اساسي حقوقو باندې د تیري په برخه کې وي، ځکه دا استثنې اجازه ورکوي د هغو اسنادو څخه چې د ښه نیت د تیریو له لارې لاس ته راغلي وي استفاده وشي.

د مدعي علیه د استدعا معامله څه شی ده؟

د تلويزيون په پروګرامونو کې محاکمې ښودل کېږي چې په هغه کې څارنوال او د دفاع وکيل يو د بل سره جګړه کوي چې دا د جنايي بهير اساسي او مرکزي برخه ده. په حقيقت کې د جنايي قضيو په ۹۰ تر ۹۵ په سلو کې، کله چې مدعي عليه د استدعا تر معاملې وروسته ځان مقصر يا ګناګاره وبولي، د دعوې بهير بيله محاکمې مخ ته بيول کېږي. استدعا کول يوه معامله ده، يعني د مدعي عليه (د دفاع وکيل له لارې) او څارنوال تر منځ يوه موافقه ده، چې مدعي عليه ځان مقصر، ګناګاره يا مسوول بولي او په مقابل کې څارنوال پر مدعي عليه باندې د اتهاماتو شدت او جدي والی لږوي، د مدعي عليه پر ضد د ځينو موجودو تورونو څخه صرف نظر کوي، نوي تورونه نه وربانديې لګوي او مرسته کوي چې مدعي عليه ته يوه نرمه سزا وټاکل شي.

فرض کړئ چې د مخدره موادو پر ضد په يو عملياتو کې سارا چې د کوکاييno لس خلټې او يو ټوپک ورسره دي ونيول شي. دا هڅه کوي د عملياتو د ساحې څخه وتښتي او د پوليس د مامور سره فيزيکي مقابله کوي. څارنوال سارا د مخدره موادو په درلودلو پدې اراده چې هغه نورو خلکو ته توزيع کړي (ځکه د کوکاييno مقدار ډير زيات دی)، په غير قانوني توګه د وسلې په درلودلو، د نيول کيدو په وخت کې د مقاومت په ښودلو، پر پوليس د حملې کولو او سړک ته د يوې خلتي کوکاييno د غورځولو چې شاوخوا په چټله کړي، تورن کوي. دا د څارنوالۍ خاص سلوک دی، يعني څارنوال هڅه کوي هر د تصور وړ تور پر مدعي عليه ولګوي، تر څو د استدعا د معاملې په وخت کې په ښه موقف کې و اوسي. اوس نو، د محکوميت د احتمال په نظر کې نيولو سره، د سارا د دفاع وکيل د استدعا د موافقې په هکله د څارنوال سره خبرې پيل کوي. ددې موافقې په مقابل کې چې سارا ځان ګناګاره وبولي، څارنوال موافقه کوي چې د کوکاينود توزيع د تور څخه صرف نظر وکړي او هغه يواځې د کوکاييno په درلودلو تورن کوي. څارنوال همدا شان د وسلې د درلودلو، د پوليس پر مامور د حملې او د سړک د چټلولو د تور څخه هم صرف نظر کوي او قاضي ته وړانديز کوي چې د محبس پر ځاي سارا د مخدره موادو د اعتياد څخه د خلاصون يو مرکز ته ولږي. سربيره پردې، که څه هم څارنوال اسناد لري چې سارا د مخدره موادو د خرڅولو په نورو معاملو کې هم لاس لري، بيا هم د هغو قضيو په اړه پر سارا تور نه لګوي.

پدې ساده فرضي مثال کې مورِ وينو چې ولې د استدعا معامله د جنايي سيستم يوه مهمه برخه ده.

د څارنوال د پاره د سارا قضيه يوه ورځنۍ عادي قضيه ده، او دی د ډيرو داسې قضيو سره مخامخ دی او نشي کولای هغه ټول محاکمې ته را وبولي. حتې که دی دا کار وهم شي کولای، هغه قاضي چې دی يې مخې ته ولاړ دي هم نشي کولای پر ټولو دغو قضيو غور وکړي. محکمې چې د بودجې د کمښت سره مخامخ دي، بايد پر ډيرو زياتو قضيو غور وکړي. برعلاوه، که څه هم د سارا قضيه يوه ستره او جدي قضيه ښکاري، اما پر هيڅ قضيې باندې باور نشته. لهذا استدعا معامله څارنوال پدې قضيه کې په يو موثر او يقيني موقعيت کې راولي.

د استدعا معامله د سارا په ګټه هم ده. که دا د هغو تورونو له مخې چې څارنوال ددې پر ضد لګولي دي، محکومه شي ددې بيره شته چې ددې د بند مده به ډيره اوږده وي. دا نده مهمه چې دا پخپله په

محاکمه کې خپل چانس څومره مثبت ويني (د ډيرو مدعي عليهم د پاره دا چانس ښه نه وي)، که سارا دعوي بايلي دا به د سختې سزا سره مخامخ شي. د تورونو د جدي توب او جنايي سابقې په پام کې نيولو سره، د هر تور لړيدل ښايي په خاصه توګه ددې د پاره اهميت ولري. که دې مخکې هم کوم جرم کړي وي، د دريمې پلا د پاره د شرارت د جرم له مخې محکوميدل به دا د "درې حملې او ته له منځه ځې " د قانون له مخې په اجباري سزا محکومه کړي، نو که دا د يو جنحه يا کوچني جرم مسوولیت ومني، دا کولاي شي د اجباري سزا څخه ځان وژغوري. که دا ونشي کولاي ضمانت ورکړي، دا ددې اړتيا نلري چې د محاکمې په انتظار څو مياشتې په محبس کې تيرې کړي. پدې توګه دا د جنايي دعوې سره د مخامخ کيدو د ټولو بحثونو او نورو جنجالونو څخه ځان ژغورلای شي.

په بعضې قضيو کې په خاصه توګه د سپين کالر white collar crimes په قضيو کې (يعني داسې قضيې چې په هغه کې د حکومت يا خصوصي شرکتونو لوړ پوړي چارواکي او د ټولنې د لوړې طبقې کسان لاس ولري. ژ)، مدعي عليه ددې د پاره چې په معامله کې خپل د تعهداتو برخه پر ځاي کړي، د مسوولیت منلو ته اړتيا نلري. پر ځای يې هغه د تورونو پر ضد اعتراض نه کوي چې دې ته nolo contendre وايي، پدې معنې چې مدعي عليه د لګول شوو تورونو پر ضد اعتراض نه کوي يعني نه يې ردوي، اما پر خپله ګناه اعتراف هم نه کوي. دا ډول استدعا عين اغيز لري لکه مدعي عليه چې په قضيه کې ځان ګناګاره وبولي. محکمه هم د هغه سره هغسې چلند کوي لکه د تقصير او ګناه د منلوپه استدعا کې او هغه شان يې محکموي، اما د دعوې په بهير کې يې يو ډير مهم توپير ليدل کېږي. د ګناه دمنلو د استدعا برعکس، د اعتراض نه کولو يا nolo contendre څخه د يو اعتراف په توګه په مدني دعوې کې د مدعي عليه پر ضد استفاده نشي کيدلاي. کله چې د مثال په توګه حکومت يو شرکت د انحصار ضد قانون يا antitrust څخه د سرغړونې په خاطر تر جنايي تعقيب لاندې نيسي، دا شرکت ښايي د اعتراض نه کولو يا nolo contendre سره موافقه وکړي ترڅو په مدني محکمو کې د هغو تاجرانو او مستهلکينو په وړاندې چې زيان وررسيدلی دي، د خپل مسوولیت څخه مخنيوی وکړي.

پر محکمو باندې د کار فشار ډير زيات دي او جنايي دعوې د اوږدې مدې د پاره ځنډول کېږي، څارنوالان هم د ډيرو قضيو سره مخامخ دي چې بايد رسيدګي ورته وکړي، مدعي عليه نه غواړي د محاکمې د پاره زيات انتظار وباسي، او قاضيان هم خوشحاله کېږي چې قضيې د امکان تر حده د محاکمې له سيستم څخه وايستل شي. د استدعا معامله دې ټولو ستونزو ته يو ځواب ګڼل کېږي. اما د استدعا معامله په تيره يوه پيړی کې د جنايي عدالت د سيستم يوه مهمه برخه ګرځيدلې ده، او دا په عامه توګه د کوچنيو ښارونواو کليوالي سيمواوهم د لويو ښارونوپه محاکموکې صورت مومي

د استدعا معامله چې د جنايي عدالت د سيستم يوه مهمه او مرکزي برخه جوړوي، يو ناوړه او نا مناسبه اړخ هم لري. آيا د عدالت کول د يوه زاړه موټر د بيې د ټاکلو پر سر د چنو وهلو سره توپير نلري؟ دا ټول بهير قانون ته د بې احترامی کولو تخم پاشي او دا ډير عملي عواقب هم لري. تنقيد کوونکي وايي چې د استدعا معامله غير عادلانه نتيجي منځ ته راوړي، دا سې نتيجې چې کله ډير نرم او کله ډير شديد

وي. د جرم قربانيان او د جنايت د مخنيوي پلويان شکايت کوي چې د استدعا معامله جنايت کاران په ډيره آساني سره خوشې کوي، مدعي عليهم ته د سزا تخفيف ورکول کېږي نه پدې خاطر چې هغوي د خپل عمل څخه پښيماني څرګندوي او مسوولیت مني، بلکه پدې خاطر چې هغوي د سيستم سره مرسته کوي. په عين زمان کې د استدعا معامله پر هغو مدعي عليهم باندې چې بيګناه دي يا لږ تر لږه د هغه اتهام له مخې چې پر دوی راغلي دي د محکوميت وړ ندي، فشار راځي ځانونه ګناګاره وښولي. ددې کار کول د جنايي عدالت د سيستم څخه د ژر وتلو، او د نرمې سزا د منلو معنې لري، ځکه قاضيان هغه مدعي عليهم ته چې د محاکمې د دايريدو د پاره پر خپل حق ټينګار کوي سختې سزاوې ټاکي او پدې توګه په محاکمه کې د بايلولو د خطر څخه ځان ژغوري. او څرنګه چې دا بهير ډير څرګند او روښانه ندي، د محکمو دا توان چې د پوليسو او څارنوالانو پر سلوک او چال چلند څارنه وکړي له منځه وړي.

د استدعا معامله پلويان هم لري. دوي استدلال کوي که اکثره مدعي عليهم ګناګاره دي، که په ټولو تورونو کې په بشپړه توګه ګناګاره نه وي، لږ تر لږه يو څه ګناه خو لري. د استدعا په معامله کې دا ډاډ تر لاسه کېږي چې ګناګاره به سزا وويني او هغه کسان چې په قضيه ښه خبر دي لکه څارنوال او د دفاع وکيل کولای شي د بيلابيلو اړخونو په پام کې نيولو سره د يوې مناسبې سزا د ټاکلو په هکله موافقې ته ورسېږي. او څرنګه چې د اجباري محکوميتونو سلوک په خاصه توګه عموميت موندلي دي، د استدعا معامله د بصيرت لازم عنصر ته په پاملرنې سره هڅه کوي سزا د جنايت سره متناسب کړي. او د يوې عملې موضوع په توګه، که ټولې قضيې محاکمې ته ولېږل شي، د جنايي عدالت سيستم به په ټپه ودرېږي.

دا سې ښکاري چې د استدعا د معاملې په هکله کوم بحثونه چې کېږي، ټول همدلته پاته کېږي.

سترې محکمې نه يواځې د استدعا د معاملې سيستم تاييد کړي، بلکه په ۱۹۷۱ کال کې يې د سانتو بيلو او نيويارک په قضيه کې د هغه ستاينه هم کړيده :

" د څارنوال او متهم تر منځ د جنايي تورونو ويش، چې کله د استدعا معامله هم ورته وايي ، د عدالت د تطبيق يوه لازمي برخه ده چې د هغه مناسب تطبيق بايد تشويق کړل شي."

اساسي قانون تر يوه حده د استدعا د معاملې عملي چوکات تنظيم کړيدی. لمړی، شپږمه ضميمه دا حق تضمينوي چې د مدعي عليه څخه بايد د دفاع وکيل نمايندګي وکړي. دا حق هم د استدعا د معاملې په مرحله کې او هم په محاکمه کې د تطبيق وړ دي. که مدعي عليه په خپل دې حق سترګې پټې نکړي، هغه بايد اجازه ولري چې دده وکيل دده د پاره معامله وکړي، او که د دفاع د وکيل د ټاکلو وس او توان ونلري، بايد د محکمې لخوا د دفاع وکيل ورته وټاکل شي. سربيره پردې بايد د مدعي عليه سره د اغيزمني مشورې د ورکولو په برخه کې مرسته وشي. دا چې دا څه معنې لري، روښانه نده. ددې د پاره

چې ثابته شي چې مشوره اغيزمنه نه وه، مدعي عليه بايد ثابته کړي چې ده به د جرم ګناه نه واى منلې، که مشوره ورکوونکي اشتباه نه واى کړي.

دوهم، مدعي عليه د ګناه منلو ته نشي مجبوره کيدلاى، اما د توپيرونو په ښودلو سره چې وکيلان د هغه سره ډيره مينه لري، مدعي عليه د مسوولیت منلو ته اغوا کېږي.اغوا البته د استدعا د معاملې د پاره ډير مهم دى، اما پوښتنه پدې کې ده چې څه وخت اغوا په اجبار بدلېږي. اساسا" تر هغه وخته پورې چې مدعي عليه د څو بديلونو څخه د يو د انتخاب چانس لري، که هر څومره په رړه پورې هم نه وي، ، هغه مجبور ندى د ګناه او مسوولیت بار په غاړه ومني. د مثال په توګه که څارنوال د يو بانکي چک د جعل په قضيه کې مدعي عليه ته ګواښ وکړي چې د عادتي جرم د قانون له مخې به چې سزا يې د ابد بند دى دعوي وکړي، اما پر ځاى يې مدعي عليه ته وړانديز کوي چې د مسوولیت د منلو په صورت کې به ده ته د پنځه کاله حبس د سزا غوښتنه وکړي. پدې حالت کې د قانون له مخې مدعي عليه اغوا شويدى اما مجبوره کړل شوى ندى.

دريم، د مدعي عليه استدعا بايد د هوښيارۍ له مخې او داوطلبانه وي. دا پدې معنې نده چې مدعي عليه بايد يو ښه انتخاب وکړي، بلکه هغه بايد د خپل انتخاب د اساس او نتايجو په هکله با خبره او پوه وي يعني هم د هغو تورونو څخه چې دده پرضد لګول شوي او هم د هغو حقوقو په هکله چې دى سترګې پرې پټوي، معلومات ولري. د هوښيارۍ او داوطلبانه غوښتنه هغه وخت پر ځاي کېږي چې قاضي او مدعي عليه په کتبي توګه په يوه فورمه کې د سوال او ځواب په توګه موافقې ته رسېږي. په دې کې قاضي پوښتنه کوي چې آيا مدعي عليه پوهېږي چې مسله څه ده او مدعي عليه په لنډه توګه خپل تاييد څرګندوي. په ځينو قضايي حوزو کې کله چې دا تبادله د ټولې پېښې اساس جوړوي، په دې سوال او ځواب کې دا پوښتنه هم شامله ده چې آيا مدعي عليه يوائې پدې خاطر ګناه او مسوولیت قبلوي چې ګناه يې کړيده، او نه پدې خاطر چې د ګناه د منلو په صورت کې کومه وعده ورسره شويده.

څلورم، د مدعي عليه د استدعا د پاره بايد يو اساس چې پر حقايقو بنا وي هم وجود ولري. اما، عجيبه داده، ددې د پاره چې محکمه د ګناه او مسوولیت د منلو استدعا ومني، حتمي نده چې مدعي عليه ګناهګاره وي.. په ۱۹۷۰ کال کې د نارت کارولينا د ايالت او اَلفورډ په قضيه کې، اَلفورډ د استدعا معامله وکړه، پدې توګه چې ده د دوهمې درجې قتل ګناه په غاړه واخيسته، تر څو ځان د مرګ د احتمالي سزا څخه وژغوري. اما کله چې محکمې ته احضار شو ده اقرار وکړ چې ګناه نلري اودا تقصير صرفا" پدې خاطرمني چې د مرګ د سزا څخه ځان وژغوري. اما څرنګه چې داسې اسناد موجود وه چې دده د محکوميت ملاتړ يې کاوه، ده ته اجازه ورکړل شوه چې جرم ومني پداسې حال کې چې ده ګناه او تقصير رداوه.

او بالاخره، لږ تر لږه معامله قسما" معامله ده. څارنوال او مدعي عليه دواړه بايد منځ ته راغلې معاملې ته وفاداره پاته شي. که څارنوال وعده کړې وي چې د مدعي عليه لخوا د جرم د منلو په صورت کې به ده ته د يوې ټاکل شوي سزا غوښتنه وکړي، دى بايد دا کار وکړي. په عين توګه مدعي عليه هم غير

لدې چې ګناه يې منلې ده يوه بله وعده هم کړيده، يعني د دوهم مدعي عليه پر ضد شهادت ورکول. دی هم بايد خپله دا وعده پر ځای کړي. که قاضي پخپله د استدعا په مذاکراتو کې برخه اخيستې وي، هغه مکلف ندی حاصل شوي تفاهم او يا د څارنوال مذاکراتو ته پاملرنه وکړي. اما په اکثرو حالاتو کې که قاضي حاصل شوي موافقې ته پاملرنه ونه کړي، مدعي عليه ته اجازه ورکول کېږي خپله استدعا بيرته واخلي او محاکمې ته حاضر شي.

ولي مونږ منصفه هيئتونه لرو؟

په هغو هيوادونو کې چې د عنعنوي قانون يا common law څخه پيروي کوي منصفه هيئت د جنايي دعوې يوه مهمه مشخصه ده. د جنايي دعوې د پيل څخه دوه ډوله منصفه هييتونه وجود لري. لوی منصفه هييت پر مدعي عليه تور او اتهام لګوي. په محاکمه کې منصفه هيئت يا کوچنۍ منصفه هيئت د ګناه او تقصير په هکله پريکړه کوي.

(لوی منصفه هيئت يا grand jury لوی دی او کوچنۍ منصفه هيئت يا jury petit د فرانسوي کلمې څخه اخيستل شوی او د کوچني معني لري ځکه ددې منصفه هيئت شمير لږ دی. په تاريخي لحاظ لوی منصفه هيئت ۲۳ غړي لري او د محاکمې کوچنۍ منصفه هيئت ۱۲ غړي لري.)

د انګلستان په قانون کې د اوه سوه کالو او د امريکا په قانون کې د منځ ته راتک راهيسې منصفه هيئت په جنايي دعواوو کې د تصميم نيولو ارګان دی. هغه وخت چې امريکا يوه مستعمره وه، د منصفه هيئت اهميت په خاصه توګه ډير زيات وو، ځکه منصفه هيئت د سلطنتي قاضيانو د تحميلي پريکړو په مقابل کې د استعمار کوونکو د آزادیو ساتندوی وو. په ۱۹٦۸ کال کې سترې محکمې د دونکان او لويزيانا د ايالت په قضيه کې د منصفه هيئت تاريخي رول او وظايف داسې شرح کړ.

> هغو چې زمونږ اساسي قوانين وليکل د تاريخ او د خپلو تجربو له مخې پوهيدل او دا يې لازمي بلله چې بايد د بې اساسو جنايي اتهاماتو په مقابل کې د ساتنې د پاره چې ځينو د خپلو د ښمنانو د له منځه وړلو د پاره پر هغو لګول، او د هغو قاضيانو په مقابل کې چې د لوړو مقاماتو هر امر ته تسليم وه او هغه يې عملي کول.... تورن شوي کس ته ددې حق ورکول چې د يو منصفه هيئت لخوا دده پر قضيه قضاوت وشي، ده ته د فاسدو او تر حد زيات ليوالو څارنوالانو او د ډيرو شکايت کوونکو، تنګ نظره او غير عادي قاضيانو په مقابل کې يو فوق العاده دفاع او ساتنه وه. تردې وړاندې، د منصفه هيئت د محاکمې مقررات په فدرالي او ايالتي اساسي قوانينو کې د رسمي قدرت د تطبيق په اړه يوه اساسي پريکړه ده، يعني چې نه غواړي چې د يو فرد پر ژوند او آزادی باندې د تصميم نيولو بشپړ صلاحيت يو قاضي يا د قاضيانو يوې ډلې ته وسپارل شي. د بې له کنټروله اوبې څارنې صلاحيت څخه بيره چې زمونږ د فدرالي او ايالتي حکومتونو په

نورو برخو کې وجود لري، په جنايي قانون کې هم پدې تاکيد او اصرارانعکاس وموند چې ټولنه باید د ګناه او بيګناهۍ په ټاکلو کې برخه ولري.

په وروستيو کې، د منصفه هيئت پر رول انتقادونه کېږي. دا تنقيدونه قسما" پدې خاطر دي چې منصفه هيئت خپل تاريخي رول او وظيفه سر ته رسوي، اما تنقيد کوونکي پدې عقيده دي چې دا رول او وظيفه نور زمونږ د معاصرې ټولنې د شرايطو سره موافق ندي. دوی وايي چې د منصفه هيئت حکمان د ځان سره د ټولنې احساسات د محکمې دربار ته راوړي. ددې نظر له مخې، د حکم يا Jurorرول دا ندی چې د مدعي عليه د آزادیو ساتنه وکړي، بلکه غواړي بيله اشتباه او تعصب څخه په حقايقو خبر شي. او دا داسې يوه وظيفه ده چې د يو مسلکي قاضي په تناسب، حکم ورته لازمه پوهه او چمتووالی نلري. دا تنقيدونه د حکم د رول په هکله يو جنجال را منځ ته کړيدی. په منصفه هيئت کې حکمان د حقايقو پلټونکي دي او پدې کار کې دوی بايد بيطرفه، خپلواک او آفاقي وي. په عين زمان کې منصفه هيئت په محکمه کې د ټولنې د وجدان استازی دی. د ټولنې د فکر او نظرياتو په راوړلو سره، منصفه هيئت ښايي د حقايقو د ټاکلو او په بيطرفانه توګه د قانون د تطبيق پر ځای، يو بل کار وکړي.

ددې جنجال يو جدي مثال هغه بحث دی چې د منصفه هيئت د لغوه کولو په باره کې وشوګ په محاکمه کې، قاضي منصفه هيئت ته د مربوط يا مناسب قانون په اړه هدايت ورکوي، او منصفه هيئت د قضيې په اړه حقايق څيړي اود حقايقو پر بنا هغه اړونده قانون چې ورته د قاضي لخوا توصيه شويدی تطبيقوي. اما څرنګه چې د منصفه هيئت لخوا مدعي عليه ته د برائت ورکولو فيصله د تجديد نظر وړ نده، منصفه هيئت که وغواړي، کولای شي د قانون د تطبيق څخه ډډه وکړي، مدعي عليه ته برائت ورکړي، اويا مدعي عليه محکوم کړي اما د قاضي د هدايتو مخالف لږه سزا ورته وټاکي. که منصفه هيئت يو قانون غير عادلانه، ډير شديد او يا د ټولنې د ارزښتونو د باندې وبولي، کولای شي په دې توګه قانون فسخ کړي.

د ټولو تنقيدونو سربيره چې پر منصفه هيئت باندې کېږي، د اجتماعي علومو شواهد دا څرګندوي چې په اکثرو قضيو کې منصفه هيئت خپله وظيفه په ښه توګه سرته رسولې، يا لږ تر لږه هغومره ښه کار کوي لکه يو قاضي چې يې کوي. په اکثرو قضيو کې، کله چې د قاضيانوڅخه پوښتنه وشي چې کومي نتيجي ته رسيدلي او څرنګه حکم به صادر کړي، دا حکمونه ډير زيات د منصفه هيئت حکم ته ورته وي. په هغو قضيو کې چې د دوی تر منځ توپير وجود لري، قاضيان ښايي ډير وغواړي چې مدعي عليه محکوم شي، او دا قسما" پدې خاطر دی چې دوی په دايمي توګه د جنايي عدالت د سيستم سره مخامخ دي او دوی دې نتيجي ته رسيدلي دي چې اکثره مدعي عليهم په حقيقت کې کناهګاره وي. منصفه هيئت زيادتره نورو عواملو ته لکه د مدعي عليه ښو سوابقو، د ځان د دفاع په قضيوکې انساني ضعف او د قرباني سلوک او کرکټر ته پاملرنه کوي.

د حکمیت یا منصفه هیئت د سیستم ځینې خصوصیات ثابت پاته دي، اما ځینې نور یې د وخت په تیریدو سره تغیر موندلی دی. د منصفه هیئت دوه ثابت خصوصیته دادي چې لمړی په هره جدي قضیه کې د مدعي علیه د پاره منصفه هیئت شته او دوهم د هغه د حکم قاطعیت دی. که په قضیه کې د مدعي علیه د پاره د لږ تر لږه شپږ میاشتو یا زیات بند سزا وجود ولري، مدعي علیه ته باید د منصفه هیئت د محاکمې حق ورکړل شي. د منصفه هیئت د لوی صلاحیت منبع د هغه د حکم قاطعیت او نهایي توب دی. په یوه مدني قضیه کې، دواړه طرفه کولاي شي د محکمې حکم و نه مني او لوړې محکمې ته مراجعه وکړي. په جنایي قضیه کې مدعي علیه کولای شي د یوې اشتباه په خاطر چې د محاکمې په بهیر کې شوې وي، د حکم پر ضد لوړې محکمې ته مراجعه وکړي، اما که مدعي علیه ته برائت ورکړل شوی وي، څارنوال نشي کولای ددې حکم پر ضد د مرافعې غوښتنه وکړي. د منصفه هیئت هغه دوه خصوصیته چې تغیر یې موندلی دی یو د هغه شمیر او بل د پریکړې غوښتنه ده. پدې معنې چې په تاریخي لحاظ باید منصفه هییت د دولس نفرو څخه جوړ وي او حکمان باید د رایې په اکثریت پریکړه وکړي. سترې محکمې فیصله وکړه چې دا دوه شرطه د اساسي قانون غوښتنه نده. یو ایالت، لکه څرنګه چې بعضو دا کار کړیدی، کولاي شي د جنایي قضیو د پاره، چې د قتل قضیه نه وي، یو شپږ کسیز منصفه هیئت وټاکي، اومنصفه هیئت اجازه لري چې د رایو تر اکثریت په لږ رایو فیصله وکړي.

څرنګه چې د منصفه هیئت تاریخي هدفونه په جنایي دعوي کې د ټولنیزې برخې اخیستنې د عنصر داخلول او د یو بیغرضه او بې تعصبه تصمیم نیوونکي په توګه د تیریو مخنیول دی، نو منصفه هیئت باید په عمومي توګه د ټولنې نماینده وي او باید بیطرفه وي. د منصفه هیئت د حکمانو د انتخاب د پاره لمړی یو لوی لست جوړېږي. دا د هر قضائي حوزې په تعامل پوري اړه لري. دا لست د رایه ورکوونکو د نومونو د ثبت د لست له مخې، د تلفون د رهنما، د مالیې د ورکوونکو د نومونو د لست او یا موټر چلولو د لایسنس د خاوندانو د لست له مخې جوړېږي. په ځینو قضائي حوزو کې لا هم د مهم سړي د سیستم یا key man system څخه استفاده کېږي چې په هغه کې د سیاسي مشرانو او نورو ټولنیزو شخصیتونو څخه غوښتنه کېږي داسې مسوول کسان چې د منصفه هیئت د خدماتو د پاره مناسب وي معرفي کړي. د هغو کسانو د پاره چې نومونه یې په لست کې وي فورمې لېږل کېږي تر څو د حکمیت د پاره خپل وړتوب څرګند کړي. (د مثال په توګه هغه کسان چې په انګلیسي ژبه نه پوهېږي، یا داسې مهم وظایف لري لکه د طب ډاکټران، یا د اطفاییې کارکوونکي او نور ددې ډلې څخه ویستل کېږي.) او یا هم په لست کې شامل کسان د خدمت د پاره راغوښتل کېږي. هرځومره بالقوه حکمان چې په کار وي د یوې ورځې یا یوې هفتې د پاره راغوښتل کېږي، چې د همدغه کسانو له منځ څخه د منصفه هیئت غړي ټاکل کېږي.

څرنکه چې هر حکم نشي کولای استازی یا نماینده واوسي، د استازیتوب آزمایښت د ټول منصفه هیئت په برخه کې کېږي. د اساسي قانون شپږمه ضمیمه د بالقوه حکمانو په برخه کې په منصفانه توګه د ټولنې د هر ې برخې څخه د حکم د انتخاب حق تضمینوي. د یوې سیمې د اوسیدونکود یوې غیر

مهمې یا غیر مشخصې ډلې د کسانو نومونه چې په لست کې راغلي وي، نه باید بیله کوم معقول دلیل څخه ددې لست څخه و ایستل شي. ددې غوښتنې پر اساس، هغه مقررات چې د هغه په نتیجه کې د مثال په توګه په سیستماتیک ډول د قومي اقلیتونو یا ښځو د غړیتوب مخنیوی شوی وي، بې اعتباره شوي دي.

ناپیلتوب یا بیطرفي د ټول منصفه هیئت د لست په نسبت زیادتره د حکم خصوصیت دی. ناپیلتوب د جنایي عدالت د سیستم غوښتنه او د مدعي علیه یو حق دی. اما هغومره چې د ناپیلتوب په هکله څیړنه کېږي، په هماغه اندازه څارنوال او د دفاع وکیل هم هڅه کوي هغه څه لاس ته راوړي چې د دوی هر یو یې غواړي یعني طرف لرونکی منصفه هیئت، یعني داسې یو منصفه هیئت چې چمتو وي د دوی د قضیې څخه ملاتړ وکړي. کله چې د منصفه هیئت د پاره حکمان وټاکل شوه، د دوی د هر یو څخه voir dire یعنې پوښتنې کېږي. د هر حکم څخه د دعوې د خواوو او وکیلانو د پیژندو، د قضیې د حقایقو یا د جرم د پیښیدو د عواملو، تجربو او نورو داسې شیانو په باره کې چې د دوی پر طرفدار دریځ دلالت وکړي پوښتنې کېږي. په بعضې قضایي حوزو کې قاضي پخپله د voir dire عملیه پر ځای کوي او د حکمانو څخه پوښتنې کوي، په نورو کې د هر طرف د دفاع وکیل ته اجازه ورکول کېږي دا پوښتنې د قاضي تر څارنې او نظارت لاندې وکړي. کله چې د دفاع وکیلان دا پوښتنې کوي، دوی ددې فرصت څخه په استفاده کولو سره هڅه کوي د داسې ماهرانه پوښتنو له لارې چې اعتماد منځ ته راوړي پر حکمانو خپل اغیر ټینګ کړي. دا ډول اعتماد بیا پر قضیه خپله سایه اچوي. په ځانګړي توګه دا ډول پوښتنې د هر ځانګړي قضیې د حقایقو په هکله وي او ډیر ژر پای ته رسېږي. د لویو او مهمو قضیو د پاره د منصفه هیئت ټاکل ښایي ورځې او یا هفتې دوام ومومي.، ځکه د دفاع وکیلان غواړي د حکمانو په نظریاتو او عقایدو کې حتې په کوچنیو توپیرونو هم وپوهېږي. دا مخصوصا" په لویو قضیو کې صدق کوي چې په هغه کې وکیلان د حکمانو د پاره خپل مشاورین، روانشناسان او نور کارپوهان لري چې هغوی بیا وکیلانو ته د وضعیت دقیق تحلیل کوي، د نمونه حکمانو مشخصات تشریح کوي، د پوښتنې د پاره سوالونه ورکوي او د حکمانو ځوابونه او حتي حرکات ارزیابي کوي.

د voir dire د پوښتنو په نتیجه کې، څارنوال او د دفاع وکیلان پر حکمانو اعتراض کوي او حتې هغوی د منصفه هیئت څخه باسي. ځینې اعتراضونه د مقصد د پاره کېږي، چې په هغه کې وکیل قاضي ته وایي، چې د ځینو حقایقو پر اساس دی داسې فکر کوي چې فلانی بالقوه حکم ښایي ونشي کولای بیطرفه حکم وکړي. (د مثال په توګه، که حکم د قضیې د حقایقو په هکله شخصي معلومات ولري). همدا شان هره خوا یو لړ قاطع او بې چون او چرا اعتراضونه هم لري چې د هغه څخه په استفاده کولو سره بیله دې چې دلیل یې څرګند کړي یو حکم د منصفه هیئت څخه باسي. اما یو د دفاع وکیل ښایي د قاطع اعتراض څخه په یو ناروا دلیل استفاده و نکړي، د مثال په توګه یو څارنوال به په یوه قضیه کې چې په هغه کې یو افریقایي امریکایي یعني تور پوستی امریکایي مدعي علیه دی، په سیستماتیکه توګه ټول افریقایي امریکاییان د منصفه هیئت څخه و نه باسي.

د پوښتنې یا voir dire بهیر په هغو قضیو کې چې په هغه کې د مرګ سزا ټاکل کیدای شي، یو مشخص شکل غوره کوي. سترې محکمې فیصله کړیده، په یو منصفه هیئت کې چې د هغه څخه ټول هغه کسان ویستل شوي وي چې د مرګ د سزا په هکله وجداني وسواس او بیره لري پدې معني ده چې په منصفانه توګه د ټولنې د ټولو برخو څخه منځ ته نده راغلې. ډیر احتمال لري چې داسې یو منصفه هیئت به دې ته چمتو وي مدعي علیه محکوم کړي او هغه ته د مرګ سزا وټاکي. اما یو منصفه هیئت کولای شي د مرګ سزا وټاکي او یا دداسې کسانو څخه جوړه وي چې د محکومیت حکم او یا د مرګ سزا راوګرځوي. که د یو حکم نظر د مرګ د سزا په هکله داسې وي چې دده د پاره د مرګ د سزا ټاکل ګران وي، دی ښایي پدې علت د منصفه هیئت څخه وویستل شي. ددې نتیجه به داوي چې منصفه هیئت به د حقیقي نماینده منصفه هیئتونو په پرتله مدعي علیه محکوم او هغه ته به د مرګ سزا وټاکي، اما د سترې محکمې په عقیده دا د اساسي قانون ضد ندی.

څرنګه چې د منصفه هیئت څخه غوښتنه کېږي یواځې د هغو اسنادو او شواهدو له مخې پر قضیې حکم وکړي چې محکمې ته وړاندې کېږي، د قضیې په هکله تبلیغ او اشتهار چې مخکې یا وروسته تر محاکمې کېږي د مدعي علیه د منصفانه محاکمې حق د ستونزو سره مخامخ کوي. محکمه کولای شي د ضرورت په وخت کې د وکیلانو څخه وغواړي مطبوعاتو ته د محاکمې په هکله د اعلامیو د ورکولو څخه ډډه وکړي، اما لمړی ضمیمه مطبوعاتو ته ددې حق ورکړیدی چې خبرونه خپاره کړي. د ځینو محدودو قضیو په استثنې، محکمه نشي کولای د محاکمې د بهیر دروازه د خلکو پر مخ وټړي او یا مطبوعات پرې نږدي د جنایي محاکمې په هکله خبرونه خپاره کړي.

(استثنې هغه وخت منځ ته راځي چې دولت د محاکمې د جریان په پټ ساتلو کې یوه خاصه ګټه ولري او یا په یو بل ډول د مطبوعاتو د رپورټونو مخنیوی وکړي ګ، لکه هغه ماشومانو ته په خصوصي توګه د شهادت ورکولو اجازه چې په خپله د جنسي تجاوز قربانیان وي، یا په لویو قضیو کې د منصفه هیئت د غړو د نومونو افشا کیدل ګ) محکمې باید د منصفانه محاکمې حق د مطبوعاتو د رپورټ ورکولو د حق سره اندول کړي.

په جدي قضیوکې دا موازنه یا اندول د محاکمې ځاي ته د تغیرورکولو له لارې لاس ته راتلای شي

که په یوه سیمه کې ډیر بالقوه حکمان د تلویزیون رپورټونه وګوري، هغه ښایي د قضیې په اړه د دوی نظر ته تغیر ورکړي، پدې صورت کې محاکمه یو بل هیواد ته انتقال موندلای شي. ځیني وخت د محاکمې د ځاي بدلول برعکس نتیجه ورکوي او نسبت وکیلانو، د محکمې کارکوونکو او شاهدانو ته، حکمان د ستونزو او زحمت سره مخامخ کوي. نو ددې پر ځاي چې محاکمه بل هیواد ته نقل شي، د یو بل ځاي څخه منصفه هیئت ټاکل کېږي.

په لږو جدی قضیوکې د زیان رسوونکي اشتهارمخنیوی د حکمانو سره د خبرواوپوښتنویا voir dire

او د محاکمې په جریان کې د مخنیوي کوونکو اقداماتو له لارې کېږي. پوښتنه پدې کې ده چې آیا حکمان کولای شي هر هغه څه چې یې اوریدلي دی یوې خواته پرېږدي او یواځې محکمې ته وړاندې شوي

اسناد او شواهد په پام کې ونیسي. سترې محکمې فیصله کړیده چې حتې که یو حکم د مدعي علیه د ګناه په هکله یوه عقیده هم ولري، دا حتمي نده چې دا حکم بې صلاحیته و بلل شي، پدې شرط چې دی وشي کولای پر قضیه باندې د حکم کولو په وخت کې خپل پخواني عقاید یوې خواته پرېږدي. کله چې محاکمه پیل کېږي قاضي ټولو حکمانو ته چې د قضیې په اړه یې د مطبوعاتو تبلیغات او رپورتونه اوریدلي دي نصحیت کوي چې په خپل کار او فیصله کې هغه ټول اوریدلي معلومات له خپل فکر خخه وباسي. په نورو حالاتو کې د قاضي د هداياتو په شان، دا کارددې عقیدې پر بنا کېږي چې حکمان به د قاضي خبرو ته غوږ ونیسي او وبه شي کولای د قضیې په هکله خپل پخوانی فکر او عقیده پرېږدي. قاضي به حکمانو ته امر وکړي چې نور د قضیې په هکله خبرونو او رپورتونو ته غوږ و نه نیسي او په غیر عادي حالاتو کې ښایي قاضي امر وکړي چې د منصفه هیئت غړي یا حکمان په یو خاص ځای کې و ساتل شي لکه په یو هوټل کې د محکمې د کارکوونکوتر څارنې لاندې چې و نشي کولای خبري رپورتونه واوري، چې دا د حکمانو د پاره یو لوی زبړ دی. د حکمانو جلا ساتل یواځې د هغو قضیو د پاره دی چې د زیان خطر ډیر زیات وي.

متخاصمه دعوې څه شی ده؟

کله چې د منصفه هیئت غړي وټاکل شول، محاکمه پیل کېږي. د محاکمې څخه مقصد د حقیقت پلټنه ده، اما قانون پر دې پلټنې محدودیتونه وضع کوي او په محکمه کې ددې پلټنې د پاره هر چا ته یو جلا رول ورکوي. جنایي محاکمه د ټول جنایي عدالت د سیستم د څرګندې ونکي په توګه، یوه د سیالۍ متخاصمه دعوې ده چې په هغه کې مخالفې خواوي مختلف هدفونه لري، او ددې هدفونو د لاس ته راوړلو وسایل د قانون د مقرراتو او مسلکي اخلاقو له کبله محدود دي.

د څارنوال یا مدعي العموم څخه به یې پیل کړو. د څارنوال وظیفه په څرګنده توګه د مدعي علیه دمحکومیت لاس ته راوړل دی. د ماهیت له نظره دا د څارنوال د پاره یو شخصي بریالیتوب ندی. څارنوال د حکومت وکیل دی او د مدعي علیه په محکومیدو سره ده د حکومت د ګټو د پاره خدمت کړیدی. دا خدمت، مجرم ته سزا ورکول او په راتلونکي کې د جنایت مخنیوی دی.

اما څرنګه چې څارنوال د حکومت وکیل دی، دده وظیفه یواځې د مجرم محکومولو ته محدوده نده. د حکومت وظیفه د عدالت تامینول دی او دا د څارنوال وظیفه هم ده. د عدالت تامینول دا معني لري چې څارنوال باید هڅه وکړي یواځې هغه کسان محکوم شي چې ګناګاره دي، او نه هغه کسان چې د هغوی د محکومیت حکم تر لاسه کیدای شي. دا ددې معنې هم لري چې د څارنوال څخه غوښتنه کېږي چې قانون ته احترام ولري. پدې کې ټول هغه قوانین هم شامل دي چې د محکومیت د حکم لاس ته راوړل د ستونزو سره مخامخ کوي.

البته د کار د فشار او د جګړې د تودوخي تر اغیز لاندې، خارنوال په لمړي ګام کې لمړي هدف ته زیاته پاملرنه لري یعنې د محکومیت د حکم تر لاسه کول، او د دوهم یعنې د عدالت د تامینولو په ضرر. دا قسما" په انساني طبعت پوري اړه لري، اما په عین زمان کې د جنایي دعوي دوه خصوصیته څرګندوي ګ

لمړی، څارنوالان په سیستم کې د مکررو لوبغاړو په توګه داسې فکر کوي چې ټول مدعي علیهم په حقیقت کې ګناګاره دي. دوهم، د څارنوالانو انګیزه د محکومیت لاس ته راوړل دی. په اکثرو قضایي حوزو کې د ولسوالیو څارنوالان انتخاب کېږي، او دا په انتخاباتي مبارزه کې تر دې چې کاندید ځان د مدعي علیه د حقوقو ساتندوی اود بې ګناهو د قضیو د ردولو پلوي وښیي، ډیره آسانه ده چې کاندید ځان د جنایت پر ضد په مبارزه کې او د مجرم د محکومیدو په کار کې ډیر جدي وښیي. څارنوالان د همدغه اجبار لاندې دي او پر دوی باندې د مجرمینو د محکومیدو د اندازې له مخې قضاوت کېږي.

په محاکمه کې د دفاع وکیل یو جلا رول لري. د دفاع وکیل د خپل مشتري د ګټوساتونکی دی چې د حکومت څخه ثبوت غواړي، یعني غوښتنه کوي چې د مدعي علیه پر ضد قضیه کې باید له معقول شک څخه وړاندې دثبوت دلایل وړاندې شي (د معقول شک په باره کې به لږ وروسته خبرې وکړو)

پدې کار کې د دفاع وکیل د دولت پر اسنادو او شواهدو حمله کوي، د هغه د شاهدانو اعتبار تر پوښتنې لاندې راولي او په مقابل کې یې نور اسناد وړاندې کوي او یو بل داستان وایي یا لږ تر لږه د حکومت ادعا د شک او شبهې سره مخامخ کوي. د دفاع وکیل همدا شان د مدعي علیه د حقوقو څخه دفاع کوي. د حقوقو د اعلامیې د ساتنې مفهوم هم د دفاع وکیل په موجودیت کې پروت دی، ځکه د دفاع وکیل د همدې دپاره دی چې دا ساتنې عملي شي. که حکومت غواړي مدعي علیه محکوم کړي، دا کار باید د قانون مطابق وکړي.

خلګ په عمومي توګه پوهېږي چې څارنوالان څه کوي، اما د دفاع وکیل په رول پوهیدل یو لږ ګران کار دی. په سیستم کې تقریبا" هر مدعي علیه بیله شکه ګناګاره دی. لدې کبله که د مدعي العموم جمیز کونین د کتاب عنوان " تاسو څنګه ددې خلکو څخه دفاع کولای شی؟ " اقتباس کړو، د هغه ځواب هغه کلیشه ده چې د ارزښتونو په اختلاف کې وجود لري او هغه د جنایي طرزالعمل اساس جوړوي. اما لکه اکثره کلیشې ، دا کلیشه ډیره دقیقه ده. د جنایي عدالت په سیستم کې یو فرد د دولت د قدرت سره مخامخ کېږي. زمونږ د حکومتي جوړښت یو اساسي اصل دادی چې لوی قدرت ناوړه استفادې ته معروض دی. همدا وجه ده چې کانګرس په عادي توګه د جمهور ریس د تصویب پرته یو قانون نشي تصویبولای، او ولي د طرزالعمل او اساسي حقوق چې په ډیر زحمت او استادی منځ ته راغلي دي د جنایي مدعي علیه ساتنه کوي. د دفاع د وکیل رول دادی چې د دولت د قدرت پر تطبیق څارنه او د مدعي علیه د حقوقو پر ساتنې مراقبت وکړي. دا به ښه او راحت وي که مورږ وشو کولای یواځي د بیګناه خلکو حقوق وساتو، اما مورږ دا کار نشو کولای، لهذا د متخاصم یا رقابتي دعوې څخه استفاده کوو چې په هغه کې د دفاع وکیل ته واک ورکول کېږي چې د هر مدعي علیه د حقوقو څخه دفاع وکړي.

آیا پدې ډول سیستم کې هم د تیریو امکان شته؟ بیله شکه چې شته. د دفاع وکیلان کیداي شي تر حد زیات شوقمن وي اومخ ته ولاړ شي، او د مدعي علیه د حقوقو د ساتني ټول حقوق دا تقریبا" تضمینوي چې ځینې ګناګاره مدعي علیهم به ځان د مسوولیته خلاص کړي او آزاد به شي. خو بالاخره مونږ باید پریکړه وکړو چې آیا دا تیري د هغه تر ښیګنې زیات دي او آیا دا سیستم د اصلاح وړ دی او که باید له منځه یووړل شي؟

دې دوو لارو ته پاملرنه وکړئ چې په هغه کې د متخاصم یا رقابتي د عوې سیستم د دولت د قدرت د تیریو په مقابل کې د مدعي علیه د ګټو د ساتنې په برخه کې د محدودیت سره مخامخ دی. د تلویزیون په فلم کې مورږ وینو چې د محاکمې په جریان کې په ناڅاپي توګه یو نوی شاهد څرګندېږي یا یو هوښیاراو چالاکه وکیل په ډیر مهارت د خپل رقیب په مقابل کې د یو نوي تاکتیک څخه استفاده کوي. په حقیقي ژوند کې د کشف د مقرراتو له کبله د داسې ناڅاپي فرصتونوامکان ډیر محدود دی ګ

سترې محکمې فیصله کړیده چې د اساسي قانون له مخې څارنوال مکلف دی چې اسناد او شواهد د دفاع وکیل ته وښیي، مخصوصا" هغه اسناد چې هغه احتمالا" مدعي علیه تبرئه کوي. برعکس، د مدعي علیه دا معافیت چې ځان پخپله مجرم او ګناګاره و نه بولي، محکمې ته ددې امکان نه ورکوي چې د مدعي علیه څخه د ځان د متهم کولو اسناد وغواړي. اود قدرت عدم توازن داسې دی چې دا منصفانه ښکاري چې د څارنوال څخه د زیاتو معلوماتو د وړاندې کولو غوښتنه وشي.

د ساتنې دوهمه وسیله د څارنوال مکلفیت دی چې د معقول شک په وړاندې د مدعي علیه جرم ثابت کړي. د منصفه هیئت د تبرئې حکم دا معنې نلري چې مدعي علیه بې ګناه دی، او مدعي علیه هیڅکله دا بار په غاړه نلري چې خپله بیګناهي ثابته کړي. دا بار د څارنوال پر غاړه دی، او که څارنوال ونشي کولای جرم ثابت کړي، مدعي علیه ته د برائت ورکولو غوښتنه کېږي.

د دفاع وکیل کولای شي د محاکمې د ستراتیژی په توګه هڅه وکړي منصفه هیئت ته قناعت ورکړي چې مدعي علیه بیګناه دی، اما دا هم په عین توګه مناسب دی که دی د څارنوال د ادعاو په هکله په کافي اندازه شک را منځ ته کړي او دا احساس ژوندی کړي چې څارنوال خپل مکلفیت ندی تر سره کړی یعني جرم یې ندی ثابت کړی.

د قانون په نورو برخو کې د ثبوت تر بار د معقول شک معیار ډیر لوړ دی. په مدني قضیو کې، دا معیار د اسنادو ښه والی او مزیت یا preponderance of the evidence دی ، او یواځنۍ معنې یې داده چې منصفه هیئت دې نتیجې ته رسېږي چې ووایي، امکان لري داسې وي نه داچه ووایي داسې نده.

معقول شک د جرم په هکله یو شک دی او داشک وروسته له هغه چې منصفه هیئت د قضیې پر ټولو اسنادو او شواهدو په جدي توګه غور وکړي بیا هم پاته شي. دا له ډیرې مدې راهیسې په جنایي قضیو کې د محکومیت معیار دی، او سترې محکمې فیصله کړیده چې دا د منصفانه دعوې یو عنصر دی چې اساسي قانون یې غوښتنه کوي. په یوه قضیه کې د جنایي سزا د ټاکلو د پاره باید بشپړ باور وجود ولري چې مدعي علیه جرم کړیدی.

سربيره پردې، د جنايي عدالت په سيستم کې د توازن د نشتوالي له کبله يعنې چې دولت په خپل ټول وزن سره د يو فرد په مقابل کې درېږي، د معقول شک معيار د حکومت د فشار او تيريو په مقابل کې د مدعي عليه ساتنه کوي.

مجرم څنګه محکوم کېږي؟

کله چې مدعي عليه متهم شي، يا پر خپل جنايت اعتراف وکړي، محکومیدل هغه بهير دی چې په هغه کې دده د پاره د سزا اندازه ټاکل کېږي. د جنایاتو د تعريف څخه نيولې بيا د جنايي طرزالعمل تر بيلا بيلو مرحلو پوري، محکومیدل وروستنۍ مرحله ده. په حقيقت کې دا ټول فعاليتونه ددې د پاره کېږي چې ګناګاره ته سزا ورکړل شي او محکومول هغه ګام دی چې د مجرم د پاره سزا ټاکي.

د محکومولو لمړۍ ګام مقننه دی. قاضيان اجازه لري يواځې هغه سزاګانې وټاکي چې په قانون کې راغلي وي. پارلمان دا ټاکي چې په څه ډول قضيو کې څه ډول سزاوې ورکړل شي، اود سزاوو د تطبيق طرزالعمل هم پارلمان ټاکي. فدرالي اساسي قانون د پارلمان توان د سزا ګانو په ټاکلو کې محدودوي. يو محدوديت د اساسي قانون اتمې ضميمې وضع کړی چې وايي سزاګاني نه بايد ظالمانه او غير عادي وي. په اکثره قضايي پريکړو کې چې په هغه کې د ظالمانه او غير عادي سزا ګانو اصل ته پاملرنه کېږي د مرګ د سزا په هکله ده. اما د محکوميت په نورو مسايلو کې هم دې اصل ته پاملرنه کېږي. د مثال په توګه دا به ډير ظالمانه او غير عادي وي که پارلمان د يو جرم د پاره د شلاقو د وهلو سزا وټاکي. ځينې استدلال کوي چې د اتمې ضميمې غوښتنه داده چې سزا بايد د جرم سره تناسب ولري، يعنې حتې که په ځينو حالاتو کې د شلاقو وهل مجاز هم وي، دا به د چاپيريال د چټلولو د جرم د پاره يوه ظالمانه او د اساسي قانون ضد سزا وي. پر محکوميت باندی د اساسي قانون دوهم محدوديت د مساوي ساتنې ماده ده. پارلمان بايد د محکوميت په طرح کې روښانه توپير وکړي (د مثال په توګه د چاپيريال د چټلولو د جرم په پرتله قتل يو ډير جدي جرم دی)، اما پارلمان بايد داسې يو توپير ونکړي چې د مساوي ساتنې د مادې خلاف يو تبعيض وکړي. (د مثال په توګه، تور پوستو مدعي عليهم ته د سپين پوستو مدعي عليهم په پرتله سخته سزا وټاکي) ګ

د اساسي قانون ددې پراخو محدوديتونو په چوکاټ کې، پارلمان بيا هم د هغو سزا ګانو د ټاکلو په برخه کې چې بايد تطبيق شي پراخه آزادي لري. تر ټولو شديده سزا البته د مرګ سزا ده چې لږ ټاکل کېږي او حتې تر هغه هم لږ تطبيقېږي. حبس او په امتحاني توګه يو مجرم تر ځينو محدوديتونو لاندې راوستل معمولې سزاګانې دي. د بيلابيلو جرمونو، جنايت کارانو او قضايي حوزو موجوديت ددې امکان نه ورکوي چې په عمومي توګه اطلاق وکړو، اما ۷۰ په سلو کې د شرارت مجرمين تل د حبس په سزا محکوم شوي او ۳۰ په سلو کې نور يې په امتحاني توګه تر محدوديتونو لاندې راغلي دي. په هغو جرمونو کې چې جدي ندي، د امتحاني محدوديتونو د ټاکلو اندازه لوړه ده د يو کوچني جرم يا د لمړي ځل مجرم د پاره،

په ټولنیزو برخو کې د جزایي کارکولو یا د نورو مشغولیتونو په پروګرامونو کې د برخه اخیستلو سزا عامه ده.

هغه مجرمین چې په امتحاني توګه تر محدودیتونو لاندې را ځي، هغو ته په عین زمان کې د حبس سزا هم ټاکل کېږي، اما ددې سزا تطبیق تر هغه چې مجرم په امتحاني دوره کې دی، ځنډول کېږي

په امتحاني دوره کې باید مجرم په معموله توګه یو لړ غوښتنو ته ځواب ووایي، لکه ځانته د کار پیدا کول، په مرتبه توګه د امتحاني دورې مامور ته راپور ورکول، او د نورو جنجالونو څخه ځان لیرې ساتل. که مجرم دا شرطونه پر ځای نکړي او یا د هغو څخه سرغړونه وکړي، امتحاني دوره پاې ته رسېږي او د حبس سزا د تطبیق د پاره محبس ته لېږل کېږي.

تر وروستیو پوري د مجرم د محکومولو خاص طرزالعمل د قاضي څخه غوښتل د هغو د پام وړ حدودو په چوکات کې چې پارلمان ټاکلی دی، د بصیرت څخه کار واخلي. د مثال په توګه مقررات وایي چې د غلا د پاره د پنځو څخه تر پنځلسو کلنو پوري د حبس سزا ټاکل کېږي. قاضي ته به د امتحاني محدودیتونود مامور لخوا رپورت وړاندې شو چې په هغه کې به د مجرم په هکله مهم معلومات درج وه، لکه د مجرم جنایي سوابق، د کورني ژوند او کار سابقه او د مجرم روحي جوړښت او حالت. په ډیر وروستیو کې، پارلمانونو او محکمو پر قرباني باندې د جرم د اغیز رپورت ته اجازه ورکوي یا یې غوښتنه کوي، چې په هغه کې د جنایت قرباني یا د هغه کورنی محکمې ته د هغه اغیز په هکله معلومات ورکوي چې جنایت پر دوی کړیدي او ښایي د جرم په هکله نور داسې جزییات وړاندې کړي چې د محاکمې په بهیر کې لاس ته نه وي راغلي. ددغه نوومعلوماتو ترکیب د هغه انتباهاتو سره چې د محاکمې په بهیر کې منځ ته راغلي دي، قاضي ته ددې امکان ورکوي چې د ټاکلو حدودو په چوکاټ کې سزا وټاکي او دا امکان هم شته چې هغه سزا و ځنډوي او مجرم تر امتحاني محدودیتونو لاندې ونیسي.

لا هم دعنعنوي نمونې یا ماډل څخه پراخه استفاده کېږي، اما د شلمې پیړۍ د اویا لسیزې په پای کې هراړخیزې هلې ځلې پیل شوې چې د سیسټم جوړښت نوی شي او د سزا په ټاکلو کې د قاضي د زیات واک او صلاحیت مخنیوی وشي. دا هلې ځلې ددې مفکورې پر اساس پیل شوې چې قاضیان د خپل صلاحیت څخه پداسې توګه استفاده کوي چې د سزا ګانو تر منځ ډیر فرق او توپیر وجود لري چې دا په سیسټم کې استبداد منځ ته راوړي. دوه قاضیان به دوه ورته مجرمین په مختلفو توګو محکوم کړي، ځکه یو قاضي نسبت بل ته ډیر نرم دی اولږ سزا ټاکي او یا هم د سزا په ټاکلو کې پرنورو عواملو ټینګار کوي. یو لړ نوي اقدامات تر اجرا لاندې ونیول شول تر څو د قاضیانو دا صلاحیت محدود شي او سختې سزاګانې وټاکل شي ګ

لمړی اقدام د محکومولو د لارښود څخه استفاده کول وو. د محکومولو د لارښود هدف دادی چې د محاکمې د قاضي څخه د حکم کولو صلاحیت واخیستل شي او هغه د حکم کولو کمیسیون ته چې د پارلمان لخوا منځ ته راغلی دی وسپارل شي. د حکم کولو کمیسیون یو لړ لارښوونې منځ ته راوړي دي چې د محاکمې قاضي باید د حکم په کولو کې هغه په نظر کې ونیسي. پدې لارښوونو کې احتمالي حکم یا

presumptive sentence شامل دی، یعني یو حکم چې فکر کېږي د جرم د شدت سره چې مدعي علیه د هغه په کولو متهم دی متناسب وي، او په هغه کې د مدعي علیه خصوصیات، یعني دده دجنایي سوابقو په پام کې ونیول شامل دی. د محاکمې د قاضي صلاحیت ښایي محدود وي چې وشي کولای د احتمالي حکم د چوکات څخه ووځي، اما که دا کار وکړي، دی باید د خپل نظر په هکله یوه اعلامیه خپره کړي او روښانه کړي چې ولې؟ او د قاضي پر دې کار په لوړه محکمه کې تجدید نظر هم کیدای شي. د حکم لارښود د حکمونو تر منځ د اختلاف اندازه را کښته کوي، اما ډیر قاضیان شکایت کوي چې پدې توګه قاضیان نه پریښودل کېږي چې په ځانګړي توګه مجرم ته د جرم په تناسب مناسبه سزا وټاکي.

اوس به وګورو چې د حکم لارښوونو سیسټم ته څومره تغیر ورکړیدی او دا د حکم د فدرالي لارښوونو په یو مثال کې چې په عمل کې یو د پرمختللي سیسټمونو څخه دی، روښانه کووګ فرض کړئ ایډي سوټن د غلو د ډلې غړی دی چې د بانک په غلا متهم دی. لمړی، قاضي د غلا د پاره د تخطي د اساس په توګه ۲۰ نمرې ورکوي. بیا قاضي ددې خاص جرم خصوصیات په نظر کې نیسي او هغه ته دوې نمرې ورکوي، ځکه دا یو بانک وو او یوه نمره هم ددې د پاره ورکوي چې غلا شوي پیسې د لس زره ډالره څخه تر پنځوس زره ډالره پوري دي. بیا قاضي دا ټول موازنه کوي او دوې نمرې ورڅخه لرې، ځکه ایډي په غلا کې یو کوچنۍ رول لوبولۍ او یواځې یې د غلو د تښتیدو موټر چلولۍ دی، چې پدې توګه دده د نمرو شمیر یوویشت نمرو ته رسېږي.

څرنګه چې ایډي پخوا هم په پنځلس میاشتو حبس محکوم شوي دي، ده ته دده د جنایي سابقې پر اساس درې نمرې ورکول کېږي. اوس نو که د تخطي د سطحې اندازه دده د جنایي سابقې سره یو ځای کړو او بیا د حکم جدول ته وګورو ده ته د ٤١ څخه تر ٥١ میاشتو پوري د حبس سزا ورکول کېږي. قاضي کولای شي دده د پاره ددې حد اکثر او حد اقل تر منځ په یو ځای کې سزا وټاکي. قاضي کولای شي ددې حدودو څخه په معقوله توګه دباندې ووځي، پدې شرط چې که د مثال په توګه ایډي خپل د جرم شریکان افشا کړي وي او د تحقیقاتو د بهیر او د مجرمینو د تعقیب په کار کې یې د پام وړ مرسته کړې وي. څرنګه چې ایډي د جدول له مخې په " Zone D " کې دی، دی باید د سزا حد اقل ٤١ میاشتې په بند کې تیرې کړي. که د نمرو شمیر لږ وي، په هغه صورت کې امتحاني محدودیتونه وضع کیدلای شي.

د حکم د صلاحیت د محدودولو او د سختو سزاګانود ټاکلو بل اقدام په خاصو حالاتو کې د اجباري سزا ګانو ټاکل دی. ددې ډیر څرګند مثال د " درې حملې او ته له منځه ځې " قانون دی. ددې قانون له مخې قاضي د تکراري مجرمینو سره په چلند کې صلاحیت نلري. کله چې یو مدعي علیه د دریم وار د پاره د یوخاص او جدي جنایت د کولو په خاطر محکوم شي، مدعي علیه باید د اوږدې مدې په بند محکوم شي، په ځینو ایالاتو کې په ابد بند بیله دې امکان څخه چې سزا یې کمه یا و بخښل شي

د درې حملو د قانون هدف د مجرمینو لخوا د جرم د تکرار مخنیوی دی او په دوهمه او دریمه پلا یې سزا نوره هم زیاتېږي، ترڅو څرګنده شي چې ډیر جدي جنایت کارانو یعني تکراري مجرمینو ته سخته سزا ورکول کېږي او په راتلونکي کې د دوی د نورو جرمونو مخنیوی کېږي. هغسې چې ځینې وخت

پېښېږي، د درې حملو قانون هم غير ارادي نتيجي درلودلي دي. څرنګه چې دا قانون په خپل تعريف کې ډير جامع دی، ځيني مجرمين چې ددې قانون له مخې محکوم شوي دي، هغسې چې ددې قانون تسويد کوونکو تصور کړی وو، د ټولنې د پاره کوم لوي تهديد او ګواښ نه پېښوي. لکه دکليفورنيا په يوه قضيه کې چې مدعي عليه په خپل دريم جرم کې يوه پيسا pizza غلا کړې وه.

سربيره پردې د مجرم دا بيره چې د دې قانون له مخې به محکوم شي، ښايي دده پر سلوک او رويې اغيز ولري او بيا و نه غواړي د لمړي يا دوهم شرارت جرم د پاره د استدعا معامله وکړي. او په دريم جرم کې ښايي د خپل نيول کيدو د مخنيوي د پاره د زيات خشونت څخه کار واخلي. د درې حملو او نورو اجباري سزا ګانو قوانين ددې باعث ګرځيدلي چې په محبسونو کې د بنديانو شمير ډير زيات شي. په ځينو ځايونو کې چې محبسونه د بنديانو ډير ډک شوي او دا د اساسي قانون پر خلاف دی، غوښتنه کېږي چې نور بنديان مخکې له وخته خوشې شي، چې په دې ډله کې ډير خطرناکه مجرمين له بنده خوشې کېږي.

د پاملرنې وړ ده چې ډير مدعي عليهم تر ټاکلي مدې لږ وخت په بند کې پاته کېږي، يعني تر نيمي يا دوه پر درې برخو څخه لږ وخت په بند کې تيروي. د يو مبهم او نامعلوم جزايي سيستم لاندې د محبس چارواکي پدې برخه کې چې څه وخت يو بندي د حبس د مدې د بشپړيدو مخکې خوشې شي د پام وړ صلاحيت لري. په اکثرو ايالاتو کې په بند کې د بندي د ښه سلوک او رويې قاعده هم شته چې د هغه له مخې د بنديانو د حبس مده د محبس د چارواکو په امر کمېږي، يعني که يو بندي په محبس کې ښه سلوک کړی وی، په تعليمي، د کار يا په نورواصلاحي پروګرامونو کې يې ګډون کړی وي، د حبس مده يې کمېږي. دا رويه د محبس د چارواکو د پاره ډيره مهمه ده ځکه دا هم په محبس کې د موسساتي نظم د ساتلو سره مرسته کوي او هم بنديان دې ته هڅوي چې خپل سلوک اصلاح کړي.

د مرګ سزا څنګه ټاکل کېږي؟

د مرګ سزا د جنايي طرزالعمل تر ټولو د جنجال ډکه او د بحث وړ برخه ده. پدې بحث کې چې آيا دولت يو څوک د مرګ په سزا محکوم کړي، د جنايي کنټرول، عدالت، انصاف او حقوقو ټول دلايل راغونډ شوي دي. د مرګ د سزا پلويان پدې هکله د انجيل پر دې اصل چې د سترګې په مقابل کې دې سترګه او د غاښ په مقابل کې دې غاښ واخيستل شي ، استناد کوي، او د مرګ د سزا امکان ته د سختو او شديدو جناياتو د مخنيوي د اغيزمنې لارې په سترګه ګوري. مخالفين د مرګ سزا يو دبربريت د عصر سزا بولي چې د نن عصر په شرايطو کې ځای نلري او په هر بل غربي هيواد کې له منځه تللی او د جنايت پر پېښې ډير لږ حقيقي اغيز لري.

د مرګ د سزا بحث ډير پېچلی دی او د جنايي طرزالعمل پدې لنډه څېړنه کې يواځې د هغه شدت ته پام راګرځول شوی دی. دا داسې يو بحث دی چې د شعارونو تر اغيز لاندی دی. دا برخه مونږ ته

ښيي چې دا مسله څومره پيچلې او مغلقه ده. په حقيقت کې دلته دوې مسلې مطرح دي : آيا اساسا" يو څوک د مرګ په سزا محکوم شي او که هو، څنګه دا سزا په منصفانه توګه تطبيق شي؟

دا بحث چې آيا مونږ د مرګ سزا ولرو، دوې برخې لري. لمړۍ برخه يې دمرګ د سزا د اخلاقي اصل په هکله دی : بيله دې چې ټولنيزو عواقبو او نتايجو ته پاملرنه وکړو، آيا د مرګ سزا په اخلاقي لحاظ د توجيه او تبرئې وړ دی؟ په دوهمه برخه کې په مستقيمه توګه د هغه نتايجو ته پاملرنه کېږي. آيا د مرګ سزا د مهمو ټولنيزو اهدافو د پاره ده، او په خاصه توګه د جنايت مخنيوی کوي؟

د مرګ د سزا پلويان استدلال کوي چې د يو چا وژل چې بل څوک يې وژلی دی عادلانه دی. دا عادلانه دی، ځکه دده جنايت د تر ټولو سختې سزا وړ دی. سربيره پردې يو جنايت ته مناسبه او وړ سزا ورکول د جنايي قانون يوه منل شوې وظيفه ده. د مرګ سزا يوه تلافي ده او نه غچ اخيستل يا انتقام. دولت د جنايت کار مجرمتوب او د سزا وړ توب ارزيابي کوي او هغو ته سزا ورکوي چې د سزا وړ وي.

تنقيد کوونکي په ځواب کې وايي چې د جنايت کارو د اعدامولو اود عدالت د کولو تر منځ کومه لازمه اړيکه وجود نلري. اکثره هغه کسان چې د مرګ په سزا محکوم شوي دي يقينا" مجرمين او خطرناکه وه او د سزا او توقيف وړ وه، اما د دوی اکثريت د هغه حساب کوونکي قاتل په ډله کې نه وه شامل چې د اعدام وړ دي. پر ځای يې ددې کسانو اکثريت د ډيرې خرابي روزنې او تربيې محصول دي، داسې کسان دي چې د عادي خوړو څخه محروم دي، تر دې حده د محروميت سره مخامخ دي چې دوی په پتالوژيکه توګه د ټولنې پر ضد شوي دي. سربيره پردې دا هم نده روښانه چې اعدامول د تلافی د پاره لازمه ده، مونږ د غلو لاسونه نه پرې کوو ياهغه کسان چې پر ښځو جنسي تجاوز کوي نه خصي کوو، نو ولې بيا قاتلان اعداموو؟

د مرګ د سزا پلويان استدلال کوي چې د مرګ سزا پر هغه ارزښت ټينګار کوي چې ټولنې انساني ژوند ته ورکړيدی او خپله تر ټولو سخته سزا يې هغه کسانو ته ساتلې ده چې د نورو ژوند يې ورځخه اخيستی دی. تنقيد کوونکي په ځواب کې وايي چې د مرګ سزا زمونږ احترام او پاملرنه ژوند ته راکښته کوي، مونږ بې رحمه کوي او وژلو ته مو هڅوي. دوی وايي که د مرګ سزا لغوه شي، آيا دا به ددې نښه نه وي چې ټول انساني ژوند ډير با ارزښته دی؟

اخلاقي دليل د سياسي دليل سره تړل شويدی. ښايي لږ خلګ د مرګ د سزا په طرفداری استدلال وکړي، ولو هم هغه په اخلاقي لحاظ د توجيه وړ وي، او د هغه څخه کوم ښه هم لاس ته رانشي ګ

د مرګ د سزا پلويان وايي ، مخنيوی د جنايي پروسس يوه مهمه وظيفه ده، او د مرګ د سزا ګواښ وروستی مخنيوی کوونکی دی.

تنقيدکوونکي په ځواب کې وايي چې د مرګ سزا دومره مخنيوی کوونکی هم ندی. ډير کسان چې قتل کوي د الکهلو او مخدره موادو تر اغيز لاندې دا کار کوي، دوی روحي ناروغان دي، يا پداسې يو احساساتي حالت کې دي چې نشي کولای د خپل عمل څخه لاس واخلي او په سړه سينه د خپل عمل د

نتایجو او عواقبو په هکله فکر وکړي. نور قاتلان بیا لکه ډیر نور مجرمین فکر کوي چې هیڅکله به و نه نیول شي، او که وهم نیول شي، بیا به هم د حد اکثر سزا څخه ځان وژغوري.

د مرګ د سزا مخنیوی کوونکی اغیر یوه تجربي پوښتنه ده چې ځواب یې ګران دی.

په څو بیلا بیلو تحقیقاتو کې، د مثال په توګه، د انسان وژني اندازه په ګاونډي ایالتونو کې د مرګ د سزا په شمول او بې له هغې، او یا د انسان وژنې اندازه په یو ایالت کې د مرګ د سزا د جاري کیدو مخکې او وروسته مقایسه شوي دي. هغسې چې انتظار کیده د داسې یوې تودې مسلې په هکله چې ډیر بحثونه ورباندې کېږي، د دقیقو ارقامو لاس ته راوړل ګران کار دی. ددې تحقیقاتو نتیجې هم یو له بله توپیر درلود. ځینې دا نشمندان دې نتیجې ته رسیدلي دي چې په هر اعدام سره د اوو نورو قتلونو مخنیوی کېږي، اما نور بیا دې نتیجې ته رسیدلي د ي چې د مرګ سزا پر خلکو د بې رحمۍ د زیاتیدو او وحشي کیدو اغیز لري، چې دا په حقیقت کې د قتل د کولو اندازه زیاتوي

پدې ځای کې، مونږ یواځې دې نتیجې ته رسېږو چې داسې قانع کوونکي شواهد نشته چې وښیي د مرګ سزا د جنایت مخنیوی کوونکی اغیز لري.

یوه مسله چې د مرګ د سزا د اخلاقي جنبې یا مخنیوي کوونکې اغیز د دلایلو څخه ګام وړاندې اېږدي داده چې آیا د مرګ سزا په منصفانه او قاطعانه توګه تطبیقېږي؟ د جنایت کارانو یو نسبتا" لږ شمیر چې قتل کوي د مرګ په سزا محکومېږي، یعني په سلو کې یو نفر. او د هغو د ډلې څخه بیا دا سزا پر ډیرو لږو حقیقتا" تطبیقېږي. د مشورو اغیزمنتوب، اقتصادي منابع او فردي خصوصیات ټول پردې موضوع چې څوک د مرګ په سزا محکوم شي او څوک حقیقتا" ووژل شي، تاثیر لري. ډیر ربړونکي بیا نژادي تعصب او تنګ نظري ده. د جورجیا په ایالت کې د اعدامونو په هکله یوه څېړنه ددې باعث وګرځید چې د متحده ایالاتو ستره محکمه په موقتي توګه د مرګ د سزا تطبیق وځنډوي. دې څېړنې څرګنده کړه هغه مدعي علیه چې یو سپین پوستی وژنې، نسبت هغه ته چې یو تورپوستی وژني، یوولس واره زیات ددې چانس لري چې د مرګ په سزا محکوم شي.

د مرګ د سزا پلویان په ځواب کې وایي چې بي نظمي او بي ثباتي او تبعیض پرابلمونه دي، اما اصلي پرابلم پدې کې دی چې د اعدام اندازه ډیره لږ ده او نه ډیره. د نژادي تعصب په مسله کې، د مثال په توګه، مسله پدې کې نده چې د سپین پوستو د قاتلانو زیات شمیر اعدامېږي، بلکه پدې کې ده چې د تورپوستوقاتلان اکثره نه اعدامېږي.علاج یې دادی چې د مرګ د سزاپه تطبیق کې زیاتوالی راشي، نه داچه دا سزا لغوه شي.

دا چې د مرګ د سزا تطبیق یو عاقلانه ټولنیز سیاست دی او که نه، ستره محکمه هغه د اساسي قانون مطابق بولي او د ایالتونو د څلورو برخو څخه په درې برخو کې د مرګ سزا شته. اساسي پوښتنه چې د اساسي قانون پوښتنه ده داده چې آیا د مرګ سزا د اتمې ضمیمې څخه چې ظالمانه او غیر عادي سزاګانې منع کوي یوه سرغړونه ده او که نه؟ ددې معیار تطبیق د اساسي حقوقو یوه جالبه موضوع ده. د مرګ سزا په ۱۷۹۱ کال کې د حقوقو د اعلامیېbill of rights د تصویبیدو په وخت کې هم تطبیق کیده،

نو څرنګه به هغه د اساسي قانون د ضمیمې څخه سرغړونه وي چې هغه خلکو پخپله دا ضمیمه تسوید، تصویب او تطبیق کړیده؟ .ددې پوښتنې ځواب د سترې محکمې لخوا د اتمې ضمیمې په اړه د یوې مهمې قضیې په وخت کې چې په ۱۹۱۰ کال کې د ویمز او متحده ایالاتو تر منځ وه، ورکړل شو. محکمې په ټرلو لاسونو یا پښو د سخت کار د کولو سزا لغوه کړه. د سترې محکمې قاضي جوزف مک کینا ولیکل، زمان د ځان سره بدلونونه، نوي شرایط او نوي هدفونه منځ ته راوړي. په همدې وجه یو اصل ددې د پاره چې ژوندی پاته شي، باید نسبت هغه فتنې او شیطاني فکر ته چې د هغه د منځ ته راتلو باعث ګرځیدلی دی (یعنې چې د هغه پر ضد منځ ته راغلی دی)، د پراخ تطبیق توان او استعداد ولري.او هغسې چې د سترې محکمې قاضي ایرل وارن وروسته وویل، دا اصل یعنې د ظالمانه او غیر عادي سزاګانو منع باید خپله معنې او مفهوم د هغو منځ ته راتلونکو معیارونو د ښیګڼو او سپیڅلتوب څخه وموي چې د یوې رسیدلې ټولنې د پرمختګ ښکارندوی دی.

دلته یوه بله ګډوډي او بې قاعده توب هم شته. د مرګ سزا د پارلمان لخوا چې د ټولنې نماینده ګي کوي تجویز شویده. نو څنګه بیا دا د ښیګڼو او سپیڅلتوب د معاصرو معیارونو څخه سرغړونه کولای شي؟ ځواب البته دادی چې د اکثریت اراده (یا، په ریالستي توګه د وکیلانو د اکثریت اراده) د ټولنې د معیارونو په برخه کې قاطع او نهایي نده. زمونږ په قانوني سیستم کې، محکمې پر قوانینو باندې د قضایي تجدید نظر صلاحیت لري او په دقیقه توګه په قضیو کې د هغه اکثریت فیصلې څیړي چې د هغو اقدامات د اساسي قانون تر حدودو وړاندې تللي وي.

په اساسي قانون کې د مرګ د سزا مسله د شلمې پیړۍ په شپیتو کلنو کې په ستره محکمه کې د یو لړ قضیو په اړه د حقوق پوهانو او وکیلانو په یوه مبارزه کې د دفاع د وکیلانو په مشرۍ چې د قانوني دفاع د ټولنې یا Legal Defense Fund سره نژدې وه، مطرح شوه. ډیره مهمه قضیه په ۱۹۷۲ کال کې د فورمن او جورجیا د ایالت تر منځ وه، چې په هغه کې درې کسان د مرګ په سزا محکوم شوي وه او په غیر مستقیمه توګه تر ٦۰۰ زیات بندیان د مرګ د سزا په لیکه کې انتظار وه. د محکمې په تاریخ کې دا لمړۍ ځل وو چې محکمې په یوه واحده قضیه کې خپل عقاید په ډیر تفصیل سره خپاره کړل. پنځه قاضیانو د مرګ ټاکل شوې سزا بې اعتباره وبلله، او څلورو ددې نظر سره مخالفت وکړ. نهو قاضیانو هر یو په ځانګړي توګه خپل نظریات په لیکلي توګه وړاندې کړل. دوو قاضیانو یعني برینان او مارشال د مرګ سزا یوه ډیره ظالمانه او غیر عادي سزا وبلله، (او لکه تر بحث لاندې قضیو کې چې څرګنده شوې وه) ددې سزا د تطبیق استبدادي عواملو ته یې پاملرنه وکړه، یعني ظالمانه توب او د مرګ د سزا د مخنیوي نه کوونکي اغیز ته. درې نورو په دې اکثریت کې ددې سزا د تطبیق خودسرانه توب او اجبار ته پاملرنه وکړه. مخالفو قاضیانو پدې هکله مخالفت ونکړ چې د مرګ سزا د ځینو جهاتو څخه د کرکې وړ سزا ده، اما دوی وړاندیز وکړ چې محکمه باید د ښیګڼو او سپیڅلتوب د منځ ته راتلونکو معیارونو په اړه د پارلمان قضاوت ته غاړه کښېږدي

څرنګه چې د فورمن په قضيه کې ددې قاضيانو د اکثريت درې نفرو د مرګ د سزا اجبار او خودسرانه توب ته، لکه په عمل کې چې تطبيقېږي، پاملرنه وکړه، ايالتي پارلمانونو خپل د سزا قوانين له سره وليکل او هغه ته يې د محکمې د نظرياتو سره انطباق ورکړ. ددې استبداد او خودسرۍ د علاج د پاره د يوې لارې وړانديز وشو چې د قتل د يو خاص شکل په ټولو قضيو کې دې د مرګ سزا اجباري شي، لکه د مثال په توګه ټول هغه قتلونه چې په بند کې د هغو بنديانو لخوا کېږي چې د ابد په حبس محکوم وي. اما محکمې په پاى کې د اجباري محکوميت نظر رد کړ او وې ويل، څرنګه چې هر څوک يو ځانګړې فرد دى، د اساسي قانون غوښتنه داده چې بايد د جرم او مدعي عليه په اړه فردي او ځانګړو عواملو ته خاصه پاملرنه وشي. د خودسرانه توب پرابلم ته يو بل علاج دادى چې د تصميم نيوونکي واک ته لارښوونه وشي او محکمې هم دا لاره غوره بللې ده. اکثره هغه ايالتونه چې د مرګ سزا لري، منصفه هيئت ته اجازه ورکوي چې دا سزا وټاکي، او د منصفه هيئت د اختيار او واک د لارښوونې د پاره لمړۍ ګام دادى چې محاکمه پر دوو ښاخو وويشل شي. د محاکمې په لمړي مرحله کې منصفه هيئت د مدعي عليه د ګناه او تقصير په هکله حکم کوي. که مدعي عليه مقصر وبلل شي، نور اضافي اسناد د محاکمې په دوهمه مرحله کې وړاندې کېږي او د هغه په نتيجه کې منصفه هيئت پريکړه کوي چې آيا مدعي عليه ته د مرګ سزا وټاکل شي او که نه. څرنګه چې محاکمه په دوو ښاخو ويشل شويده، منصفه هيئت د محکومولو په مرحله کې کولاى شي جرم ته د شدت ورکولو يا تخفيف ورکولو د عواملو داسې اسنادو ته پاملرنه وکړي چې د سزا په ټاکلو کې اهميت لري، چې دا د مدعي عليه د تقصير يا ګناه د ټاکلو په مرحله کې جواز نلري. دا ډيره مهمه ده، ځکه محکمې فيصله کړيده چې منصفه هيئت ته بايد اجازه ورکړل شي ټول هغه عوامل او فکتورونه په نظر کې ونيسي چې د مدعي عليه ګناه او تقصير ته تخفيف ورکوي، تر څو په آزاده توګه پريکړه وکړي چې د مرګ سزا مناسبه سزا نده.

محکمې همدا شان ټولې هغه قضيې چې هغه ته د مرګ سزا ټاکل کيداى شي، سره نژدې کړيدي. په ځينو حالاتو کې دا سزا د جرم سره بې تناسبه وي، يعنې، دا سزا به، د مثال په توګه د هغه مدعي عليه د پاره و نه ټاکل شي، که هغه يواځې د جرم شريک وي. په نورو حالاتو کې د مدعي عليه وضعيت د مرګ د سزا څخه مخنيوى کوي. د مثال په توګه، محکمې فيصله کړيده چې د يو پنځلس کلن هلک يا يو ليوني اعداموله به ظالمانه او غير عادي سزا وي. اما دا محدوديت ډير ندى پراخ شوى، ځکه محکمې فيصله کړيده چې دا د اساسي قانون پر ضد نده که يو شپاړس کلن هلک يا يو عقلي معيوب سړى اعدام شي.

ولې داسې ښکاري چې جنايي مرافعه غوښتنه زيات وخت غواړي؟

په مرافعه غوښتنه کې، لکه د جنايي بهير په نورو برخو کې، مونږ بايد مختلف هدفونه اندول کړو. د محاکمې قاضيان کولاى شي اشتباه وکړي، او کله چې دا اشتباه د مدعي عليه د حقوقو په ضرر وي، مونږ غواړو دا اشتباه اصلاح کړو که نه بيا هغه حقوق چې اساسي قانون تضمين کړيدي ښايي تر پښو لاندې

شي او يو بيګناه کس محاکمې ته را وبلل شي. اما کافي کافي دی او قطعيت هم مهم دی. هغسې چې مونږ نه غواړو په نامحدوده توګه زياتې پيسې پر تحقيقاتو او د محاکمې پر بهير خرڅې کړو تر څو وپوهېږو چې اشتباه نده شوې، هماغسې په يوه مرحله کې کله چې د مدعي عليه پر قضيې د مرافعې محکمې لخوا يو، دوه يا درې واره غور شوی وي، نو مونږ هم دې نتيجې ته رسېږو چې د مدعي عليه پر قضيې دومره غور شوی لکه دی چې يې مستحق دی.

پاملرنه وکړئ چې زمونږ دا بحث د هغه مدعي عليه په برخه کې دی چې د خپل محکوميت په هکله د غور په خاطر لوړې محکمې ته مراجعه کوي. په مدني قضيو کې، د دعوې هر خوا ښايي د يوې نامناسبې يا ناسازګارې فيصلې د تغير د پاره د مرافعې غوښتنه وکړي او په جنايي قضيو کې مدعي عليه تل کولای شي د خپل محکوميت پر ضد، يا په محاکمه کې د يوې اشتباه په خاطر د مرافعې غوښتنه وکړي. په پنځمه ضميمه کې د دوه ګونې مخاطري ماده يا double jeopardy clause حکومت ته اجازه نه ورکوي يو ځوک په مکرره توګه د يو جرم په خاطر تر تعقيب لاندې ونيسي او سره له دې چې هغه څو واره برائت موندلی دی، بيا هم تعقيب شي تر څو بالاخره د جرم په خاطر په سزا محکوم شي. همدا وجه ده چې څارنوالي په عمومي توګه نشي کولاي د برائت په مقابل کې د مرافعې غوښتنه وکړي. اما ددې مادې ساحه تر دې هم پراخه ده. د دوه ګونې مخاطرې ماده هغه وخت خپل تطبيق مومي چې منصفه هيئت ته غړي وټاکل شي، بيا نو څارنوالي نشي کولای پدې خاطر چې د محاکمې جريان ښه پر مخ نه ځي د هغه د قطع کيدو پريکړه وکړي او بيا دا بهير د بل منصفه هيئت سره پر مخ بوزي. دا همدا شان څارنوالي ته اجازه نه ورکوي چې په قضيه کې د حقايقو د څرګندېدو څخه د يو بل جرم او تخطي د پاره استفاده وکړي، يعني چې د يو جرم د ثبوت څخه د يو بل جرم د ثابتولو د پاره استفاده وشي. د مثال په توګه، که يو موټر چلوونکي پدې خاطر چې د نشې په حالت کې يې موټر چلولی دی محکوم شي، هغه بيا وروسته پدې خاطر تر تعقيب لاندې نشي نيول کيدای چې د ده د بې احتياطي په نتيجه کې يو سړی هغه وخت وژل شويدی چې دده څخه د نشې په حالت کې موټر پياده رو ته واووښت. پدې قضيه کې ثبوت د نشې په حالت کې د موټر چلولو د بې احتياطی د پاره دی. دولت کولای شي دواړه اتهامه په عين وخت کې وارد کړي، اما يو په بل پسې تعقيب دوه ګونه مخاطره منځ ته راوړي. لاکن د دوه ګونې مخاطرې ماده د ايالتي او فدرالي محکمو لخوا تعقيب نه منع کوي، که په جرم کې د دواړو حقوقي حوزو قوانين تر پښو لاندې شوی وي. د بانک غل ښايي د ايالتي قانون له مخې د غلا په تور او د فدرالي قانون له مخې د بانک د غلا په تور چې يو فدرالي جرم دی تر تعقيب لاندې ونيول شي.

مدعي عليه په دوه ډوله کولای شي د خپل محکوميت يا په محاکمه کې د اشتباه د کيدو پر ضد اعتراض وکړي. مرافعه غوښتنه يا appeal د يوې بلې محکمې څخه چې په سيستم کې تر ابتداييه يا لمړني محکمې لوړه وي په محاکمه کې پر شوي اشتباه باندې د مستقيم تجديد نظر غوښتنه ده.

موازي اعتراض يا collateral challenge د محاکمې پر پريکړې يوه حمله ده، او هغسې چې د نامه (موازي) څخه يې څرګندېږي دا يو عادي تجديد نظر ندی. موازي اعتراض معمولا" هغه وخت کېږي چې

د مرافعه غوښتنې ټولې هلې ځلې پای ته رسيدلي وي. د مدعي عليه د مرافعه غوښتنې پر بې پايه التما س او تقاضا باندې تنقيد په حقيقت کې د موازي اعتراض تنقيدول دی.

لمړی، مرافعه غوښتنه. په تقريبا" هره قضيه کې مدعي عليه ددې حق لري چې يو ې لوړې محکمې ته د هغه اشتباهاتو د سمون او اصلاح د پاره مراجعه وکړي چې په لمړي محکمه يا د محاکمې په محکمه کې شوي وي. او دا معقول دی. دابه ډيره بې انصافي وي که د محاکمې قاضي په نامناسبه توګه منصفه هيئت ته اسناد وړاندې کړي او يا منصفه هيئت ته د قانون په اړه غلط هدايت ورکړي او بيا هيڅ لاره نه وي چې مدعي عليه وشي کولای دا اشتباه اصلاح کړي. دتجديد نظر د لمړی مرحلې پرته، مرافعه غوښتنه د تجديد نظر کوونکې محکمې صلاحيت دی. په يو خاص ايالتي سيستم کې د مثال په توګه، مدعي عليه دا حق لري چې د يو منځنې مرافعې محکمې څخه د تجديد نظر اوله سره غور غوښتنه وکړي، اما د ايالت ستره محکمه دا صلاحيت لري چې پريکړه وکړي چې آيا يوه قضيه د غور د پاره قبلوي او که نه. د متحده ايالاتو ستره محکمه تر هرې بلې محکمې څخه زيات ددې صلاحيت څخه استفاده کوي. اکثره هغه کسان چې غواړي قضيه يې سترې محکمې ته وړاندې شي بايد د محکمې د موافقې د فرمان يا writ of certiorari د ترلاسه کولو د پاره عريضه وکړي او د محکمې څخه پر قضيې باندې د غور کولو موافقه ترلاسه کړي.

فرض کړئ محکوم شوی مدعي عليه د مرافعه محکمې پاملرنه يوې اشتباه ته راوګرځوي چې په کښته محکمه کې شويده، اود مرافعې محکمه د اشتباه په موندلو سره د کښتې محکمې حکم فسخ کړي او د نوي محاکمې د پيل امر وکړي. څرنګه چې هيڅ يوه محاکمه هم بشپړه نده، مدعي عليه کولای شي د دوهمې، دريمې او حتې څلورمې پلا د پاره په اصطلاح پر دې منې غابنې ولګوي. محکوميت هيڅکله د تجديد نظر په مقابل کې نشي دريدلای. محکمو ددې وضعيت د مخنيوي د پاره دوې نظريې وړاندې کړيدي. يو داچه پر څه شي له سره غور يا تجديد نظر کېږي، او بله يې دا تجديد نظر څنګه کېږي.

لمړی نظريه وايي چې د مرافعې محکمه به هغه وخت پر يوې مسلې تجديد نظر وکړي چې مدعي عليه دا مسله په محاکمه کې مطرح کړې وي. ددې منطق ساده دی. دا به ډير نامعقول وي که يومدعي عليه په لمړي ګام کې خپله مسله په محاکمه کې مطرح نه کړي او محکمې ته د اشتباه د اصلاح امکان ورنکړي او وروسته د نوې محاکمې زحمت او لګښت پر ځان قبول کړي. د مثال په توګه، يو مدعي عليه نشي کولای پدې دليل د مرافعې غوښتنه وکړي چې دی د هغو اسنادوڅخه په استفادې سره په جرم محکوم شو چې په غير قانوني توګه يې لاس ته راوړي وه او بيا دده د دفاع د وکيل د هلو ځلو په نتيجه کې دا اسناد د محاکمې د اسنادو له ډلې څخه ليرې کړل شول.

اما په قانون کې هره مقرره خپله استثنې لري. د اعتراض د نه څرګندولو د مقررې استثنې د ساده اشتباه مقرره ده. د مرافعې محکمه تل کولای شي ساده اشتباهات يا په محاکمه کې داسې غلطۍ چې اساسي حقوقو ته زيان رسوي اصلاح کړي، که څه هم مدعي عليه دا مسله په کښته محکمه کې نه وي مطرح کړې.

دوهمه نظريه وايي چې هره خطا يا اشتباه د حکم د فسخ کيدو علت نشي کيدلای. دلته مقرره پخپله د کلمي په مفهوم سره داده " که زيان نه وي رسيدلی کومه خرابي نده شوې ". د بې زيانه خطا د مقررې له مخې يواځې لويې خطاوې او اشتباه ګانې د محکوميت د فسخ کيدو علت ګرځيدلی شي. کله چې د يوې اشتباه څخه شکايت د مدعي عليه د هغو حقوقو په هکله نه وي چې په اساسي قانون کې تضمين شوي دي، بيا دا پوښتنه منځ ته راځي چې دې خطا د مدعي عليه په محکوميدو کې څومره رول لوبولی دی. د مثال په توګه، که قاضي په قضيه کې د يوې خاصې برخې په هکله ناجايزه اسناد ورکړي ، اما د هماغه خاصې برخې په هکله نورهم داسې ډير اسناد او شواهد وي چې هغه ثابتوي، په هغه صورت کې د قاضي دا خطا د نورو شيانواواسنادو په تناسب بې ضرره دی.

ښايي يو څوک فکر وکړي په حکم کې خطا يا اشتباه به چې د مدعي عليه پرهغو حقوقوباندې تيرې ګڼل کېږي چې په اساسي قانون کې ضمانت شوي دی، هغه به د حکم د فسخ کيدو باعث وګرځي. څرنګه پر يو اساسي حق تيرې بې ضرره ګڼل کيدلای شي، په خپل اغير کې پر مدعي عليه باندې؟ او که د اساسي قانون څخه د سرغړونې په مخنيوي کې د هغه پرمخنيوي کوونکي اغيز باندې؟ اما سترې محکمې په حکم کې د اساسي حقوقو داسې اشتباهات تشخيص کړيدي چې نسبت هغو ته چې بايد فورا" فسخ شي بې ضرره دي. ددې مسلې په هکله د سترې محکمې داوسني فکر له مخې اکثره اشتباهات په لمړي ډله کې راځي. د مثال په توګه، که د مشورې د حق څخه په سرغړونه د يو چا څخه اعتراف اخيستل شوی وي اوهغه اعتراف بيا د سند په توګه محاکمې ته وړاندې شوی وي، په دې برخه کې داشتباه د بې ضررتوب معيارتطبيق کېږي.

د مرافعه غوښتنې بهير بايد د اکثرو اشتباهاتو د اصلاح د پاره کافي وي ، اما د پيړيو راهيسي يو بل الترناتيف هم شته. د محکوميت پر ضد د اعتراض د پاره دا الترناتيف د توقيف شوي سړي د احضار حکم يا writ of habeas corpus دی. " Habeas corpus " په لاتين کې د جسد ستاسو سره دی معنې لري. محکمه اساسا" په حکم کې يو حکومتي مامور ته چې يو څوک يې په توقيف کې ساتلې دی دستور ورکوي " ددې سړي بدن ستاسو سره دی او هغه محکمې ته حاضر کړئ "ګ د توقيف شوي سړي احضار چې د لوی حکم ياGreat writ په نامه يادېږي د يو چا د محکوميت پر قانوني توب باندې د څېړنې يو هر هړ اخير او عام طرزالعمل دی. يو محکوم شوی بندي، چې عملا" په بند کې ساتل کېږي، کولای شي فدرالي محکمې ته عريضه وکړي او محکمې ته د احضارکيدو غوښتنه وکړي. دا عريضه بايد هغه فدرالي يا ايالتي مقام ته چې دی يې بندي کړيدی وړاندې شي او ادعا وکړي چې دده په حبس کې نيول د هغه قانوني اشتباه په خاطر چې د محاکمې په جريان کې شويدی او دده د بندي کيدو باعث ګرځيدلی دی، قانوني ندی.

د توقيف شوي سړي احضار يوه پياوړې د حل لاره ده او يو لړ اساسي اصول څرګندوي. يو فرد ته يواځې د قانون او مخصوصا" د اساسي قانون مطابق جنايي سزا ټاکل کيدای شي او دا غوښتنه دومره مهمه ده چې د هغه د پاره د عادي مرافعه غوښتنې ترڅنګ يوه بله قضايي د حل لاره هم شته ګ

اما پدې کې هم یو جنجال شته. که یو مدعي علیه د خپل محکومیت پر ضد د اعتراض د پاره د توقیف شوي سړي د احضار د اصل څخه استفاده وکړي، آیا کولاي شي ددې لارې څخه څو واره استفاده وکړي او یو په بل پسې همدې یوې اشتباه ته ګوته ونیسي، که څه هم په مستقیمه مرافعه غوښتنې کې دې اشتباه ته پاملرنه نه وي شوې؟ محکمو او پارلمانونو هڅه کړیده هغه حقوق چې د توقیف شوي فرد د احضار اصل یې ساتنه کوي، ددې هیلې سره چې یو د پای حد باید وجود ولري د جنایت کارانو د مجازات د عملي اندیښنو سره انډول کړي.

د ۱۹۷۰ لسیزي راهیسې دا انډول د توقیف شوي فرد د احضار د حق د محدودیدو په ګټه تغیر موندلی دی. لمړی، د موجود قانون له مخې د اساسي قانون ځیني سرغړونې باید د توقیف شوي کس د احضار په جریان کې په هیڅ توګه مطرح نشي. څلورمه ضمیمه په خاصه توګه وایي، دیومدعي علیه محکومول د غیر قانوني لاس ته راغلو اسنادو له مخې منع دی او مدعي علیه د ایالت په محاکمه کې باید ددې فرصت و لري چې په منصفانه او بشپړه توګه د ادعا ګانو پر ضد اعتراض وکړي. محکمو ویلي دي، که مدعي علیه په محاکمه کې دا فرصت ولري، نو د څلورمې ضمیمې اهداف به چې د پولیس د غیر قانوني چال چلند د هر ډول اغیز د مخنیوي د پاره هم منځ ته راغلي وي، د محاکمې په جریان کې احساس شوي وي، نو دې ته ضرورت نشته چې مدعي علیه ته اجازه ورکړل شي عین ادعاوې بیا مطرح کړي.

دوهم، مخکې لدې چې د احضار له اصل څخه استفاده وشي، مدعي علیه باید دټولو نورو موجود لارو څخه استفاده کړې وي. که د مدعي علیه حق په څرګنډه توګه تر پښو لاندې شوی وي، هغه باید لمړۍ خپله مسله ایالتي محکمې ته وړاندې کړي. ددې قاعدې یواځنۍ استثنا هغه وخت ده چې مدعي علیه وشي کولاي دلیل وښیي چې ولې یې خپله ادعا مطرح نکړه او په نتیجه کې دده په ضرر حکم صادر شو او یا داچه د عدالت بهیر بې لارې شوی وي. اما د پاملرنې وړ ده چې حتې که مدعي علیه په هغو اتهاماتو کې چې د هغه پر اساس محکوم شوی دی د خپلې بیګناهۍ د ثبوت د پاره هڅه هم وکړي، محکمه به هغه ته اجازه ورنکړي چې محکمې ته داحضارکیدوعریضه وړاندې کړي

دریم، د بندي شوي نفر د احضار فدرالي قانون محکمو ته اجازه ورکوي که پرمسلې باندې پر مخکني عریضو غور شوی وي، د بیا غور عریضه و نه مني، ځکه عدالت باید یو پاي ولري او دا ددې هدف په ګټه نده. دا قانون همدا شان محکمو ته اجازه ورکوي دا ډول غوښتنې دداسې عریضو څخه د ناوړه استفادې په دلیل رد کړي. که د مدعي علیه د احضار عریضه یو وار منل شوې وي، محکمه کولاي شي د هغه نورې عریضې رد کړي که څه هم مدعي علیه نور دلایل وړاندې کړي، تر هغه چې مدعي علیه وشي کولای ثابته کړي چې نه یې شواي کولای دا مسله مخکې وړاندې کړي او اوس کولاي شي هغه ضرر چې د حکم په نتیجه کې منځ ته راغلي دی ثابت کړي.

نتيجه

ددې کتاب په لوستلو سره، تاسو د امریکا د قانون د اساسي اصولو او مسایلو سره آشنا شواست. قاضیان ، حقوقي وکیلان او د حقوقو محصیلین هره ورځ دهمدې اصولو او مفاهیمو څخه استفاده کوي. راشئ و ګورو چې آیا تاسو به د خپلې دې پوهې څخه په استفاده سره وشی کولای هغه څه وکړی چې یو قاضي یې د یوې قضیې په فیصله کولو کې کوي یا یو وکیل یې د خپل موکل د پاره کوي او یا یو د حقوقو محصل یې د خپل وروستي امتحان د پاره کوي.

د نن ورځې په ورځپاڼه کې دا سې یو رپورټ ولولئ چې د قانون سره اړه ولري. ددې کار کول باید آسانه وي ځکه تاسې اوس پوهېږی چې قانوني مسایل په هر ځای کې شته، نو تاسې هم هغه وکړئ چې قاضیان، وکیلان او د حقوقو محصیلین یې کوي. په یوه موضوع کې مسایل تشخیص کړئ، د دواړو خواوو دلایلو ته پاملرنه وکړئ او بیا نتیجه ګیري وکړئ چې مسایل باید څنګه حل او فیصله شي.

دلته څو پوښتنې وړاندې کوو چې تاسو فکر پرې وکړئ :

- د قانون کومه برخه یا کومې برخې مهمې دي؟ آیا د اساسي قانون مسله مطرح ده او که مسله د خصوصي حقوقو موضوع ده؟ آیا د طرزالعمل موضوع ده اوکه د اساسي حق؟

- کوم اصول او مقررات د تطبیق وړدي. د موضوع سره کوم خاص حقوقي نظریات اړیکه لري. کوم عمومي اصول، نظریات یا کړنلارې د تطبیق وړ دي.؟
- آیا ستاسو مسله د هغو قضیو سره چې په کتاب کې بحث پر وشو شباهت لري؟ د موضوع په اړه حقایق تر کومه حده ورته یا توپیر لري؟ آیا دا ورته والي یا توپیرونه څرګندوي چې د هغو اصولو او مقرراتو پر بنا چې تاسو تشخیص کړیدي مسله څنګه باید حل شي؟
- په قضیه کې کوم شیان حقیقتا" د خل لري؟ په هغه کې کومې اقتصادي، ټولنیزې یا سیاسي ګټې پرتې دي؟ او که مسله په یو یا بل شکل حل شي څوک به د هغه څخه ګټه واخلي او د چا به په ضرر وي؟
- د قضیې د یو ډول حل د پاره، د مقرراتو، اصولو، صلاحیتونو او حقایقوڅخه په استفاده کې چې تاسو تشخیص کړیدي، بهترین دلیل کوم دی؟ او که تاسو وغواړی قضیه په یو بل ډول حل کړی، د هغه د پاره به ستاسو بهترین دلیل کوم وي؟
- ستاسو په فکر به عادلانه نتیجه څه وي؟ آیا دا به د موجودو قوانینو تغیر ته اړتیا ولري؟ دداسې تغیر نتایج او عواقب به څه وي؟

ستاسو وروستي امتحان څنګه تیر شو؟ آیا تاسو وشو کولای د هغه څه څخه استفاده وکړی چې پدې کتاب کې مو زده کړه؟ آیا تاسو د پوښتنې بیلا بیلې خواوې وڅیړلې؟ آیا داسې ښکاره کیده چې ځواب ورکول آسانه نه وو؟ آیا تاسو کولاي شوای خپل دانصاف او عدالت احساس په ښه توګه افاده کړی؟ که داسې وو، نو مبارک مو شه او قانون ته ښه راغلاست.

پای